بسم الله الرحمن الرحيم

صفوة التفاسير

پښتو

تألیف

محمد علي الصابوني

په مکه مکرمه کښې د پاچا عبدالعزیز پوهنتون

د شرعیاتو او اسلامي زده کړو استاذ

ژباړونکی

مولوي شمس الله کمال زاده

المکتبة المعروفیة

کوټه لاهور پاکستان

Scanned by CamScanner

Scanned with CamScanner

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat .com

تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ و دعوت
تمام فنون		

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام
Maktaba Tul Ishaat.com

صفوة التفاسير

څلورم ټوک

د قرآن کریم هغه تفسیر چې د مأثور او معقول ټولګه اوله خورا معتبرو تفسیرونو څخه لکه: طبري، کشاف، قرطبي، اُلوسي، ابن کثیر، بحر محیط اونورو څخه یې غور چاڼ شوي او په روانو اونویو اسلوبو چې بیان اولغوي اړخونو ته پکښې پاملرنه شوي لیکل شوي دي۔

مؤلف

محمد علي الصابوني

په مکه مکرمه کښې د پاچا عبدالعزیز پوهنتون
د شرعیاتو او اسلامي زده کړو استاذ

ژباړونکي:

مولوي شمس الله کمال زاده

سرپرست
عبدالوالي صاحب

المکتبة المعروفیة
(کوئټه) کاسي روډ شالدره کوئټه پاکستان
(لاهور) هادیه حلیمه سنټر غزني سټریټ اُردو بازار لاهور

:03337907394-03353132868
Ph:03159807152-03337907398
E-mail:maktabamaroofia786@gmail.com
http://www.facebook.com/maktabamarofia

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

دچاپ ټول حقوق له مکتبه معروفیه سره محفوظ دي

دکتاب پیژندنه

دکتاب نوم: ---------- پښتو صفوه التفاسیر

تالیف: ---------- الشیخ محمد علي الصابوني رحمه الله

پښتو ژباړه: ---------- مولوي شمس الله کمال زاده

دکمپوزچاري: ---------- مرحوم انجنیر عبدالله کل (ریان)
اوزیاته برخه مولوي عبد البصیر

خپرونکي اداره: ---------- المکتبة المعروفیة (کوټه) (لاهور)

دچاپ شمیر: ---------- ۸۰۰ توکه

دچاپ کال: ---------- ۱۴۴۰ هجري قمري دمحرم الحرام میاشت

دکتاب ترلاسه کولو پته ---------- المکتبة المعروفیة (کوټه) (لاهور)

:03337907394-03353132868
Ph:03159807152-03337907398
E-mail:maktabamaroofia786@gmail.com
http://www.facebook.com/maktabamarofia

المکتبة المعروفیة
(کوټه) کاسي روډ شاهده کوټه پاکستان
(لاهور) هادیه حلیمه سنټر غزني سټریټ اردو بازار لاهور

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

📚 کفایت دینی کتب خانہ 📚

بسم الله الرحمن الرحيم

📚 کفایت دینی کتب خانہ 📚
په دې چینل کې اسلامی کتابونه نشرکیږي
دحنفي مذهب په ړناکې
لکه تفاسیر شریف اوفقه شریفه اوفتاوی؟
او داسي نورکتابونه لکه.
صرف اونحو
اوم
رابطہ نمبر
کفایت اللہ ٹیلی گرام واٹس ایپ نمبر +923247442395
ٹیلی گرام چینل 👇

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

اللہ تعالیٰ فرمایا:

﴿وَلَقَدْ صَرَّفْنَا فِي هَٰذَا الْقُرْآنِ لِلنَّاسِ مِن كُلِّ مَثَلٍ ۚ وَكَانَ الْإِنسَانُ أَكْثَرَ شَيْءٍ جَدَلًا ﴿٥٤﴾ وَمَا مَنَعَ النَّاسَ
أَن يُؤْمِنُوا إِذْ جَاءَهُمُ الْهُدَىٰ وَيَسْتَغْفِرُوا رَبَّهُمْ إِلَّا أَن تَأْتِيَهُمْ سُنَّةُ الْأَوَّلِينَ أَوْ يَأْتِيَهُمُ الْعَذَابُ قُبُلًا ﴿٥٥﴾ وَمَا نُرْسِلُ
الْمُرْسَلِينَ إِلَّا مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ ۚ وَيُجَادِلُ الَّذِينَ كَفَرُوا بِالْبَاطِلِ لِيُدْحِضُوا بِهِ الْحَقَّ ۖ وَاتَّخَذُوا آيَاتِي وَمَا أُنذِرُوا هُزُوًا
﴿٥٦﴾ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن ذُكِّرَ بِآيَاتِ رَبِّهِ فَأَعْرَضَ عَنْهَا وَنَسِيَ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ ۚ إِنَّا جَعَلْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَن يَفْقَهُوهُ وَفِي
آذَانِهِمْ وَقْرًا ۖ وَإِن تَدْعُهُمْ إِلَى الْهُدَىٰ فَلَن يَهْتَدُوا إِذًا أَبَدًا ﴿٥٧﴾ وَرَبُّكَ الْغَفُورُ ذُو الرَّحْمَةِ ۖ لَوْ يُؤَاخِذُهُم بِمَا
كَسَبُوا لَعَجَّلَ لَهُمُ الْعَذَابَ ۚ بَل لَّهُم مَّوْعِدٌ لَّن يَجِدُوا مِن دُونِهِ مَوْئِلًا ﴿٥٨﴾ وَتِلْكَ الْقُرَىٰ أَهْلَكْنَاهُمْ لَمَّا
ظَلَمُوا وَجَعَلْنَا لِمَهْلِكِهِم مَّوْعِدًا ﴿٥٩﴾ وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِفَتَاهُ لَا أَبْرَحُ حَتَّىٰ أَبْلُغَ مَجْمَعَ الْبَحْرَيْنِ أَوْ
أَمْضِيَ حُقُبًا ﴿٦٠﴾ فَلَمَّا بَلَغَا مَجْمَعَ بَيْنِهِمَا نَسِيَا حُوتَهُمَا فَاتَّخَذَ سَبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ سَرَبًا ﴿٦١﴾ فَلَمَّا جَاوَزَا قَالَ لِفَتَاهُ
آتِنَا غَدَاءَنَا لَقَدْ لَقِينَا مِن سَفَرِنَا هَٰذَا نَصَبًا ﴿٦٢﴾ قَالَ أَرَأَيْتَ إِذْ أَوَيْنَا إِلَى الصَّخْرَةِ فَإِنِّي نَسِيتُ الْحُوتَ وَمَا أَنسَانِيهُ
إِلَّا الشَّيْطَانُ أَنْ أَذْكُرَهُ ۚ وَاتَّخَذَ سَبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ عَجَبًا ﴿٦٣﴾ قَالَ ذَٰلِكَ مَا كُنَّا نَبْغِ ۚ فَارْتَدَّا عَلَىٰ آثَارِهِمَا قَصَصًا ﴿٦٤﴾
فَوَجَدَا عَبْدًا مِّنْ عِبَادِنَا آتَيْنَاهُ رَحْمَةً مِّنْ عِندِنَا وَعَلَّمْنَاهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا ﴿٦٥﴾ قَالَ لَهُ مُوسَىٰ هَلْ أَتَّبِعُكَ عَلَىٰ أَن
تُعَلِّمَنِ مِمَّا عُلِّمْتَ رُشْدًا ﴿٦٦﴾ قَالَ إِنَّكَ لَن تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا ﴿٦٧﴾ وَكَيْفَ تَصْبِرُ عَلَىٰ مَا لَمْ تُحِطْ بِهِ خُبْرًا ﴿٦٨﴾ قَالَ
سَتَجِدُنِي إِن شَاءَ اللَّهُ صَابِرًا وَلَا أَعْصِي لَكَ أَمْرًا ﴿٦٩﴾ قَالَ فَإِنِ اتَّبَعْتَنِي فَلَا تَسْأَلْنِي عَن شَيْءٍ حَتَّىٰ أُحْدِثَ لَكَ مِنْهُ ذِكْرًا
﴿٧٠﴾ فَانطَلَقَا حَتَّىٰ إِذَا رَكِبَا فِي السَّفِينَةِ خَرَقَهَا ۖ قَالَ أَخَرَقْتَهَا لِتُغْرِقَ أَهْلَهَا لَقَدْ جِئْتَ شَيْئًا إِمْرًا ﴿٧١﴾ قَالَ أَلَمْ أَقُلْ إِنَّكَ
لَن تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا ﴿٧٢﴾ قَالَ لَا تُؤَاخِذْنِي بِمَا نَسِيتُ وَلَا تُرْهِقْنِي مِنْ أَمْرِي عُسْرًا ﴿٧٣﴾ فَانطَلَقَا حَتَّىٰ إِذَا لَقِيَا غُلَامًا فَقَتَلَهُ
قَالَ أَقَتَلْتَ نَفْسًا زَاكِيَةً بِغَيْرِ نَفْسٍ لَّقَدْ جِئْتَ شَيْئًا نُّكْرًا ﴿٧٤﴾ ۞ قَالَ أَلَمْ أَقُل لَّكَ إِنَّكَ لَن تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا ﴿٧٥﴾ قَالَ
إِن سَأَلْتُكَ عَن شَيْءٍ بَعْدَهَا فَلَا تُصَاحِبْنِي ۖ قَدْ بَلَغْتَ مِن لَّدُنِّي عُذْرًا ﴿٧٦﴾ فَانطَلَقَا حَتَّىٰ إِذَا أَتَيَا أَهْلَ قَرْيَةٍ اسْتَطْعَمَا أَهْلَهَا
فَأَبَوْا أَن يُضَيِّفُوهُمَا فَوَجَدَا فِيهَا جِدَارًا يُرِيدُ أَن يَنقَضَّ فَأَقَامَهُ ۖ قَالَ لَوْ شِئْتَ لَتَّخَذْتَ عَلَيْهِ أَجْرًا ﴿٧٧﴾ قَالَ هَٰذَا
فِرَاقُ بَيْنِي وَبَيْنِكَ ۚ سَأُنَبِّئُكَ بِتَأْوِيلِ مَا لَمْ تَسْتَطِع عَّلَيْهِ صَبْرًا ﴿٧٨﴾ أَمَّا السَّفِينَةُ فَكَانَتْ لِمَسَاكِينَ يَعْمَلُونَ فِي الْبَحْرِ
فَأَرَدتُّ أَنْ أَعِيبَهَا وَكَانَ وَرَاءَهُم مَّلِكٌ يَأْخُذُ كُلَّ سَفِينَةٍ غَصْبًا ﴿٧٩﴾ وَأَمَّا الْغُلَامُ فَكَانَ أَبَوَاهُ مُؤْمِنَيْنِ فَخَشِينَا أَن يُرْهِقَهُمَا
طُغْيَانًا وَكُفْرًا ﴿٨٠﴾ فَأَرَدْنَا أَن يُبْدِلَهُمَا رَبُّهُمَا خَيْرًا مِّنْهُ زَكَاةً وَأَقْرَبَ رُحْمًا ﴿٨١﴾ وَأَمَّا الْجِدَارُ فَكَانَ لِغُلَامَيْنِ يَتِيمَيْنِ فِي

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

ٱلْمَدِينَةِ وَكَانَ تَحْتَهُۥ كَنزٌ لَّهُمَا وَكَانَ أَبُوهُمَا صَٰلِحًا فَأَرَادَ رَبُّكَ أَن يَبْلُغَآ أَشُدَّهُمَا وَيَسْتَخْرِجَا كَنزَهُمَا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ ۚ وَمَا فَعَلْتُهُۥ عَنْ أَمْرِى ۚ ذَٰلِكَ تَأْوِيلُ مَا لَمْ تَسْطِع عَّلَيْهِ صَبْرًا ﴿٨٢﴾ ﴾ الكهف: ٥٤ ـ ٨٢

مناسبت اوتړاو:

کله چي الله تعالی ددووباغونومثال یادکړ ورپسې یې ددنیادژوندانه مثال چي تېرایستونکي منافع اوبنایست پکې دی راوړ او دغومثالونو سره دپنداخیستلواوعبرت لپاره الله تعالی دخلکو پام راړوي اوله دې وروسته دموسی اوخضرعلیه السلام کیسه راوړي هغه چي په غیبي چارواوعجائبو مشتمله ده.

لغتونه:

(قبلا) مخامخ (مونلا) پناهگاه ابن قتیبه وایي (وأل فلان) معناداچي پناه یې یووړه (حقبا) دحقبه جمع اوهغه کال ته وایي دلته یې مراداوږده زمانه ده (سربا) داوبوپه تل کي لاري ته وایي (نصا) ستړیااو تکلیف (امرا) سترامر (نکرا) ډېربدکار.

تفسیر:

﴿ وَلَقَدْ صَرَّفْنَا فِى هَٰذَا ٱلْقُرْءَانِ لِلنَّاسِ مِن كُلِّ مَثَلٍ ﴾ اوخامخاپه تحقیق مکرربیان کړی دی موږ په دې قرآن کي خلکوته (مثال له جنسه) دهرقسم مثل (له جهته دعبرته) ﴿ وَكَانَ ٱلْإِنسَٰنُ أَكْثَرَ شَىْءٍ جَدَلًا ﴾ اودی انسان زیات له هرشي څخه له جهته دجگړې(دخصومته په باطل کي چي نه حق ته غاړه ایږدي اونه هم پنداوعبرت نصیحت اوري)﴿ وَمَا مَنَعَ ٱلنَّاسَ أَن يُؤْمِنُوٓا۟ إِذْ جَآءَهُمُ ٱلْهُدَىٰ ﴾ اوندی منع کړي داخلک له دې نه چي ایمان راوړي کله چي راغی دوی ته هدایت (دالله له جانبه) ﴿ وَيَسْتَغْفِرُوا۟ رَبَّهُمْ ﴾ او(له دې نه) چي ببښنه وغواړي له ربه خپله ﴿ إِلَّآ أَن تَأْتِيَهُمْ سُنَّةُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴾ مگر(دې خبري) چي راشي دوی ته هغه طریقه دړومبنیو(خلکوچي هلاکت دی) ﴿ أَوْ يَأْتِيَهُمُ ٱلْعَذَابُ قُبُلًا ﴾ اویاراشي دوی ته عذاب مخامخ (څرگندا وبنکاره دآیت شریف معناداده چي دوی له ایمان راوړلو اواستغفارکولو څخه بل شي نه دي منع کړي مگردې چي دوی غواړي هغه عذاب چي ورسره وعده شوی دی مخامخ ووینې لکه چي دوی به ویل ﴿ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِّنَ ٱلسَّمَآءِ أَوِ ٱئْتِنَا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴾[1] ﴿ وَمَا نُرْسِلُ ٱلْمُرْسَلِينَ إِلَّا مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ ﴾ اونه لېږو موږ رسولان مگرزېری ورکونکي (مؤمنانوته په جنت سره) اووېرونکي (کفاروته په جحیم سره) ﴿ وَيُجَٰدِلُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِٱلْبَٰطِلِ لِيُدْحِضُوا۟ بِهِ ٱلْحَقَّ ﴾ او جگړې کوي هغه کسان چي کافران شوي دي په باطله سره دپاره ددې چي ورک اولېږي کړي په دې سره حق (نودوی چي کله معجزې او کله عاجل عذاب غواړي ددې لپاره نه چي دایمان راوړلو اراده لري بلکه ملنډې اواستهزاء گاني کوي).

---

[1] دغه دمعناخلاصه ده چي ابن کثیرغوره کړي ده المختصر ٢ / ٤٢٥

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

﴿ وَٱتَّخَذُوٓاْ ءَايَٰتِي وَمَآ أُنذِرُواْ هُزُوًا ﴾ اونيولي يې دي آيتونه (دقرآن ځما او هغه شيان چي (پرې) وبرولی شوي وودوی مسخره (ملنډي) ﴿ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن ذُكِّرَ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِۦ فَأَعْرَضَ عَنْهَا ﴾ اوڅوک دی ډېرظالم له هغه چاچي پندورکړی شوی دی ده ته په آياتونو درب دده(قرآن) خودی ځان ورباندي ړوندا وکوڼ واچوي فکرپکي نه کوي او پند ورڅخه نه اخلي يعني نشته بل لوی ظالم ترده ﴿ وَنَسِيَ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ ﴾ اوهېرکړي هغه عملونه چي وړاندي لېږلي لاسونودده (چي جرائم ګناهونه اوبدافعال دي دهغوی عاقبت نه سنجوي ﴿ إِنَّا جَعَلْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَن يَفْقَهُوهُ ﴾ بېشکه موږ ګرزولي دي په زړونوددوی پردې دپاره ددې چي پوه نشي (په قرآن اواسرارويې اوپه پنداخيستلو په احکامواومواعظويې ﴿ وَإِن تَدْعُهُمْ إِلَى ٱلْهُدَىٰ فَلَن يَهْتَدُوٓاْ إِذًا أَبَدًا ﴾ (اوګرزولی مودی) په غوږونو ددوی کونډوالی (دانتفاع اوپوهېدلو) اوکه ته راوبولې دوی دسمي لاري خواته پس له سره به هدايت نه مومي دوی په دغه وخت کي هيڅېري ؛ ځکه چي دوی نه اوري په سماع دمنلو اونه پوهېږي ورباندي دهدايت لپاره هغه زړونه نلري چي ورته خلاص پرانستي وي اودايمان راوړلو لپاره مستعدوي داکسان دچارپايانوپه شان دي استعدادنلري ﴿ وَرَبُّكَ ٱلْغَفُورُ ذُو ٱلرَّحْمَةِ ﴾ اورب ستاډېر ښښونکی څښتن د رحمت دی) يعني ای محمده ستاپروردګارزيات ښښونکی اودوېړ رحمت خاوند دی چي په بندګانو پېرزوينه کوي سره ددوی له عصيا ن اوګناهونو (ژر يې نه تباه کوي) ﴿ لَوْ يُؤَاخِذُهُم بِمَا كَسَبُواْ لَعَجَّلَ لَهُمُ ٱلْعَذَابَ ﴾ اوکه نيولي وای (الله دغه کفارپه دنياکي) په سبب دګناهونو چي دوی يې کوي نوخامخاژربه يې دوی ته عذاب رالېږلی وای (په دنياکي هم) خوالله مهلت ورکوي اوهغه عذاب چي دوی يې عجالتا غوښتنه کوي ځني تاخيرکوي اودغه هم دالله رحمت دی اودالله سنت داسي دی چي ظالم ته مهلت ورکوي خويومخ ايزه يې نه پرېږدي (يمهله ولايهمله) ﴿ بَل لَّهُم مَّوْعِدٌ لَّن يَجِدُواْ مِن دُونِهِۦ مَوْئِلًا ﴾ بلکه شته دوی ته وخت دوعدې (په قيامت کي) چي له سره به پيدانکړي دوی غيرله الله ځای دپناه تېښتي ﴿ وَتِلْكَ ٱلْقُرَىٰٓ أَهْلَكْنَٰهُمْ لَمَّا ظَلَمُواْ ﴾ اودغه (اهل د)کليو(چي دی) هلاک کړل موږ دوی هرکله چي ظلم يې غوره کړ(لکه دصالح عليه السلام ، شعيب عليه السلام اودلوط عليه السلام قومونه ﴿ وَجَعَلْنَا لِمَهْلِكِهِم مَّوْعِدًا ﴾ اومقرره کړي موده ددوی د هلاک لپاره يوه ټاکلی نېټه (نوآيادغه معاندين مکذبين عبرت نه اخلي؟ په آيت شريف کي دقريشو کفارولپاره وعيداوتهديددی ابن کثيروايې چي: معنا داچي : ای مشرکانو دړومبنيوامتونو له عاقبت څخه ووېرېږئ چي تاسوته به هم هغه هلاکت ورسېږي چي دوی ته رسېدلي ووځکه تاسو دډېر سترپيغمبرتکذيب وکړنوتاسوترهغوی په الله ګران نه ياست نو زماله عذاب اواخطارڅخه ووېرېږئ (١)

﴿ وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِفَتَىٰهُ لَآ أَبْرَحُ حَتَّىٰٓ أَبْلُغَ مَجْمَعَ ٱلْبَحْرَيْنِ ﴾ او(ياد کړه) هغه وخت چي موسی خپل

(١) مختصرابن کثير٢ / ٤٣٢

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

زلمي (يوشع بن نون) (خادم) ته وويل چي : تل به ځم ترهغه پوري چي ورسېږم ځای د يوځای کېدلو ددواړو سنيدونو ؛(بحرفارس اوبحر روم) دغه په دې سورت کي دريمه کيسه ده(١)﴿ أَوْ أَمْضِيَ حُقُبًا ﴾يابه ګرځم ډېره زمانه (ترڅوهلته ورسېږم) ﴿ فَلَمَّا بَلَغَا مَجْمَعَ بَيْنِهِمَا نَسِيَا حُوتَهُمَا ﴾بياکله چي ورسېدل ځای ديوځای کېدوپه مابين ددواړو سيندونوکي نوهېرکړ دواړوماهی خپل (يعني حضرت يوشع دغه دماهي عجيبه کيسه هېره کړه چي موسی عليه السلام ته يې ووايې ؛ روايت کېږي چي الله تعالی موسی عليه السلام ته امروکړچي له ځانه سره ورېت (کباب)کړی ماهی واخلي چېري چي دغه ماهی ځني ورک شي نوهلته به هغه صالح بنده بيامومي ﴿ فَاتَّخَذَ سَبِيلَهُۥ فِي ٱلْبَحْرِ سَرَبًا ﴾نوونيوله دې (ماهي) لياره خپله په سيندکي (په شان د) سرنګ (تونل) مفسرين کرام وايې چي : ماهی وريت (کباب) شوی په زنبيل کي ايښی وواوله هغه راوغورځېدوپه اوبوکي هسي روان شو چي ابولکه کوڅه ياطاق غوندي ورته جوړشو چي اوبه ودرېدې اوهغه پکي روان وو اودغه دالهي آياتوڅخه يو آيت (نښاني) وه چي موسی عليه السلام ته يې ورونښودله ﴿ فَلَمَّا جَاوَزَا قَالَ لِفَتَىٰهُ ءَاتِنَا غَدَآءَنَا ﴾نوکله چي(له مجمع البحرين څخه) تېرشول وويل : (موسی) خپل زلمي ته راوړه موږته سبانهاری (خوراک) زموږ ﴿ لَقَدْ لَقِينَا مِن سَفَرِنَا هَٰذَا نَصَبًا ﴾په تحقيق پېښه شوه موږته له دغه سفره زموږ ډېره سختي (اودوی له هغې لويې تيږي څخه يوه شپه اوڅه موده دورځي سفرکړی وو ﴿ قَالَ أَرَءَيْتَ إِذْ أَوَيْنَآ إِلَى ٱلصَّخْرَةِ فَإِنِّي نَسِيتُ ٱلْحُوتَ ﴾ وويل: (زلمي) آياتاوليد(خبرشوې) کله چي ځای ونيو موږ هغي لويې تيږي ته (چي دچينې سره وه) نوبېشکه ماهېرکړ(بيان دحال د) ماهي؟ (کله چي ته هلته ويده شوې عجيبه پېښه وشوه ماهی له زنبيل څخه رابهرشوپه اوبوکي يوتونل ورته پرانستل شواوله ماڅخه کله چي ته راويښ شوې دغه کيسه هېره شوه ﴿ وَمَآ أَنسَىٰنِيهُ إِلَّا ٱلشَّيْطَٰنُ أَنْ أَذْكُرَهُۥ ﴾هېره نکړه له مانه دغه پېښه مګرشيطان (چي تاته يې ووايم) ﴿ وَٱتَّخَذَ سَبِيلَهُۥ فِي ٱلْبَحْرِ عَجَبًا ﴾ونيوله دغه (ماهي) خپله لاره په بحرکي ډېره عجيبه (زلمی له دې پېښي ليدلوڅخه ډېرپه تعجب کي شوځکه چي کباب کړی شوی ماهی څرنګه بياژوندی اوپه بحرکي روان شي﴿ قَالَ ذَٰلِكَ مَا كُنَّا نَبْغِ ﴾ وويل :(موسی) همدغه (ورکول دماهي) هغه څه دي چي موږ يې طلب کاووڅکه دغه دهغه صالح سړي دموندلوننبه اوعلامه ده ﴿ فَٱرْتَدَّا عَلَىٰٓ ءَاثَارِهِمَا قَصَصًا ﴾پس بيرته دواړه راوګرزېدل په هغوخپلو پلو قدم په قدم (چي له لاري څخه ونه وزي)﴿ فَوَجَدَا عَبْدًا مِّنْ عِبَادِنَآ ﴾نوومونډل دوی دواړو يوبنده (صالح خضرعليه السلام) له بندګانوزموږ. په حديث شريف کي راځي چي خضرعليه السلام يې له هغي غټي تيږي سره پيداکړچي هلته ورڅخه ماهی ورک شوی وو خضرعليه السلام په خپله جامه کي ځان نغښتی پرځمکه ستوني ستغ پروت ووموسی عليه السلام

---

(١) همداسي طبري له قتاده څخه رانقل کړي ١٥/ ٣٧١

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

سلام ور واچاوو هغه سر ورته راپورته کړ او ورته يې وويل: (وأنى بارضک السلام(١)) ﴿ ءَاتَيْنَٰهُ رَحْمَةً مِّنْ عِندِنَا ﴾ چې موږ ده ته له خپله نزده رحمت ورکړی وو (چې هغه کرامات وودده په لاس به څرګندېدل (٢)) ﴿ وَعَلَّمْنَٰهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا ﴾ او ورښودلی وو موږ ده ته له خپله جانبه يولوی علم (چې زموږ له توفيق څخه بغيريې نه شوی زده کولای او دغه غيبي علم وو. علماء کرام وايې چې: دغه رباني علم دی چې دتقوی او اخلاص ثمره ده او (علم لدُني) يې بولي الله يې هغه چاته ورکوي چې په اخلاص يې عبادت وکړي دغه په کسب او محنت زيار پسې اړه نلري الله يې هغه چاته وربښي چې دقرب او نژدې والي ځانګړتياوي لري نو په ولايت او کرامت يې نازوي ﴿ قَالَ لَهُۥ مُوسَىٰ هَلْ أَتَّبِعُكَ عَلَىٰٓ أَن تُعَلِّمَنِ مِمَّا عُلِّمْتَ رُشْدًا ﴾ وويل: دغه (خضر) ته موسى چې آيازه ستاتابع شم؟ په دې شرط چې ته ماته وښيې له هغه علم چې تاته ښودلی شوي ده ښه لاره (درشد اوصواب) يعني آيا ماته اجازه راکوې چې ستا ملګرتيا وکړم او ستاله علمه څخه پخپل ژوندانه کې بهرمند شم؟ مفسرين کرام وايې چې دغه هسې مخاطبه ده چې تواضع او پسته ژبه پکې کارول شوي ده دغه ديوسترنبي عليه السلام اُسلوب دی نوښايې چې هرڅوک له خپله استاذه سره همداسې دادب او تعظيم رويه وکړي ﴿ قَالَ إِنَّكَ لَن تَسْتَطِيعَ مَعِىَ صَبْرًا ﴾ نو وويل: (خضرموسى ته) چې بېشکه ته له سره به ونکړی شې طاقت له ماسره دصبر (چې زماکارونه ووينې) ابن عباس رضى الله عنه وايې: ته به زما په کړنو صبرونکړی شې ځکه زه دالله په حُبني علم غيب پوهېږم ﴿ وَكَيْفَ تَصْبِرُ عَلَىٰ مَا لَمْ تُحِطْ بِهِۦ خُبْرًا ﴾ او څرنګه به ته صبرو کړې په هغه کارچې تانه وي کړی احاطه په هغه کارله جهته دعلم (او پوهې) يعني ظاهريې ناروا او باطن يې تاته معلوم نه وي ﴿ قَالَ سَتَجِدُنِىٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ صَابِرًا وَلَآ أَعْصِى لَكَ أَمْرًا ﴾ وويل: (موسى خضرته) چې انشآء الله ژربه ماومومې صبرکونکی اوزه به ستادهيڅ يوحکم نافرماني نه کوم ﴿ قَالَ فَإِنِ ٱتَّبَعْتَنِى فَلَا تَسْـَٔلْنِى عَن شَىْءٍ حَتَّىٰٓ أُحْدِثَ لَكَ مِنْهُ ذِكْرًا ﴾ نو وويل: (خضرموسى ته) پس که ته زمامتابعت کوې پس له مانه دهيڅ څېزپوښتنه مکوه ترهغه چې زه شروع وکړم تاته دهغه دبيان خضرعليه السلام وربانديې شرط کړو چې له هيڅ څېزڅخه به پوښتنه نه کوې ترڅوچې پخپله يې دی ورته اسرار اورازونه وښيې اوموسى عليه السلام هم لکه چې څرنګه دمتعلم ادب ايجابوي دغه شرط ومانه ﴿ فَٱنطَلَقَا حَتَّىٰٓ إِذَا رَكِبَا فِى ٱلسَّفِينَةِ خَرَقَهَآ ﴾ (پس دواړه روان شول ترهغه پوري چې سپاره شول په بېړۍ کې (اوبلې غاړې ته نژدې شول) نوسورۍ کړه (خضر) هغه کښتۍ) يعني موسى او خضرعليهما السلام روان وودبحرغاړه يې اخيستې وه چې يوه بېړۍ راغله او خضرعليه السلام يې وپېژاندنو دواړه يې بې له

---

(١) حديث به انشآء الله مفصل راشي.

(٢) داخبره سمه ده چې خضرعليه السلام نبي نه دی اوله صالحانو بندګانو څخه دی دالله له هغو اولياوو مقربينو څخه دی چې دده په لاس يې دغه کرامات ښکاره کړي غيبي شيان يې وربښودلي چې خلګوته دعبادت بهتري ورزده کړي.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

باړې (کرايې) سپاره کړل او بيا خضر (عليه السلام) په تبرباندې دهغې بېړۍ تخته له بېخه وايستله ﴿ قَالَ أَخَرَقْتَهَا لِتُغْرِقَ أَهْلَهَا لَقَدْ جِئْتَ شَيْئًا إِمْرًا ﴾ وويل: (ده ته موسى) آيا سورۍ دې کړه (دا بېړۍ) لپاره ددې چې غرق کړې اهل ددې خامخا په تحقيق يو درونډ کاردې وکړ) روايت کېږي چې کله موسى عليه السلام دا وليدنو خپله جامه يې راواخيسته او په سورې ځای کې يې دننه کړه بيا يې خضر ته وويل: هغه خلکو چې موږ يې بې له مزدورې راپورې ايستلو تاولى ددوى بېړۍ ورانه کړه تا ډېر بدکار وکړ؟! ﴿ قَالَ أَلَمْ أَقُلْ إِنَّكَ لَن تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا ﴾ وويل: (خضر موسى ته) آيا مانه وو ويلې چې: بېشکه ته به له سره ونکړی شې له ما سره طاقت دصبر؟ (په آرامې اونرمې سره يې دشرط مخالفت ورپه يادکړ) ﴿ قَالَ لَا تُؤَاخِذْنِي بِمَا نَسِيتُ ﴾ وويل: (موسى خضر ته) مه نيسه ما په هغه کارچې هېرکړی مې وو (هغه ستاوصيت) ﴿ وَلَا تُرْهِقْنِي مِنْ أَمْرِي عُسْرًا ﴾ (او مه غورځوه ماته پدې کارزما اشکال) يعنې له ما سره پخپله ملګرتياکې له مشقت او تکلف څخه کارمه اخله بلکه راسره آسانتياکوه ﴿ فَانطَلَقَا حَتَّىٰ إِذَا لَقِيَا غُلَامًا فَقَتَلَهُ ﴾ پس بيا روان شول ترهغه پورې چې پريوهلک پېښ شول پس (خضر) هغه مړکړ) يعنې خضرعليه السلام دده عذر ومانو اوله بېړۍ څخه رابښکته شول، پياده روان ووچې يوښايسته هلک يې وليدچې له نورو هلکانوسره لوبې کوي نوخضرعليه السلام هغه راونيو اوسرې په لاس ځنې غوڅ کړ اوپه ځمکه يې وويشت) ﴿ قَالَ أَقَتَلْتَ نَفْسًا زَكِيَّةً بِغَيْرِ نَفْسٍ ﴾ وويل: (موسى خضر ته) آيا مړدې کړيونفس پاک بې ګناه؟ غيرله عوضه دنفسه) يعنې چې هيڅ ګناه يې نه وه کړې اونه يې بل څوک وژلی ووچې تاورباندې قصاص کړی وای) ﴿ لَّقَدْ جِئْتَ شَيْئًا نُّكْرًا ﴾ په تحقيق رادې وو (ودې کړ) يوکارنامعقوله (چې سړی ورباندې چُپ نشې پاتې کېدلای؛ داخلې دموسى عليه السلام هېرنه وو اوپه قصدې توګه يې ورته دبدکار بدګڼل څرګندول وعده يې هم په يادوه نوځکه يې وويل: نامعقوله (مخالف له شرعې کاردې وکړ اوداترهغه رومبی کلمې چې (امرًا) ووبليغه اوهيبت ناکه ده. قرطبي وايې: کله چې موسى عليه السلام خضرته وويل چې: ﴿ أَقَتَلْتَ نَفْسًا زَكِيَّةً ﴾ نوخضر عليه السلام ته قهر ورغی اودماشوم چپ (ګس) وزريې له غوښې څخه لوڅ کړچې هلته ليکلې وو (کافردی هيڅلکه به په الله ايمان نه راوړي (١)) ﴿ قَالَ أَلَمْ أَقُل لَّكَ إِنَّكَ لَن تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا ﴾ وويل: (خضرموسى ته) آيا ماتاته نه وو ويلې چې: بېشکه ته له سره به ونکړای شې طاقت دصبرله ماسره) يعنې ماتاته ويلې وو چې يقيناً به ته زمادکارونو په ليدلو له ماسره طاقت دصبرونلرې؛ مفسرين کرام وايې: لومړی ځل يې دده عزت وکړاومخاطب يې ونه ګرزاووچې دخطاب (کاف) يې راوړی دی اوکله چې يې دوهم ځل مخالفت وکړنويې د (لک) خطاب ورته وکړځکه چې عذريې پاتې نشو اودلته موسى عليه السلام له ځانه سره فکرکوي چې دوه ځلې يې له وعدې څخه

(١) القرطبي ١١/ ٢٢

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

مخالفت وکړ نويې پرځان لاره وتړله او دغه يې دځان لپاره وروستی وار (فرصت) وباله چې: ﴿ قَالَ إِن سَأَلْتُكَ عَن شَيْءٍ بَعْدَهَا فَلَا تُصَٰحِبْنِي ﴾ نوويل: (موسی) که چېرې تاوپوښتم دځه (منکر) شي (چې له تاصادرشي) وروسته له دې سواله بيا له ماسره ملګرتيا مکوه ﴿ قَدْ بَلَغْتَ مِن لَّدُنِّي عُذْرًا ﴾ په تحقيق ته ورسېدې زماله طرفه عذرته (چې درې ځلې مې ستا مخالفت وکړاووعده مې ماته شوه) ﴿ فَٱنطَلَقَا حَتَّىٰٓ إِذَآ أَتَيَآ أَهْلَ قَرْيَةٍ ٱسْتَطْعَمَآ أَهْلَهَا فَأَبَوْا۟ أَن يُضَيِّفُوهُمَا ﴾ بيا دواړه روان شول ترهغه پورې کله چې راغلل اهل ديوه کلي ته نوددې کليوالو څخه يې ډوډۍ وغوښته پس منع راوړه هغو(خلګو) له دې نه چې مېلمستياورکړي دوی دواړو ته ؛ ابن عباس رضی الله عنه وايې چې : دغه د انطاکيې خلګ وو خورابخيلان وونه يې چاته ډوډۍ ورکوله اونه مېلمستيا ﴿ فَوَجَدَا فِيهَا جِدَارًا يُرِيدُ أَن يَنقَضَّ ﴾ بيادوی دواړو وموند دېوال په هغه کلي کې چې په نړېدو وو ﴿ فَأَقَامَهُۥ ﴾ پس سم کړ(خضر) هغه دېوال (په يوډول ترميم سره چې په لاس يې مسح کړاوهغه سم سيخ ودريدو او يوروايت داچې ويې نړاوو، له سره يې بيرته ودان کړ دواړه روايتونه له ابن عباس رضی الله عنه څخه راغلي دي ﴿ قَالَ لَوْ شِئْتَ لَتَّخَذْتَ عَلَيْهِ أَجْرًا ﴾(وويل (موسی خضرته) که تاداجر اخيستلو اراده کړې وای نوخامخابه دې (ددې دېوال په جوړولو) مزدورې اخيستې وه) چې بيابه مود ډوډۍ رانيولولپاره هغه ټکې پيسې په کارکړې وی يعنې موسی عليه السلام دغه کارله دغوخلګو سره نامناسبه وګاڼه (چې دوی دومره سپېڼانه وکړه يوه مړۍ ډوډۍ يې رانکړه اوتادېوال ورته وړيا ودان کړ؟) ﴿ قَالَ هَٰذَا فِرَاقُ بَيْنِي وَبَيْنِكَ ﴾ وويل: (خضرموسی ته) دازمااوستاترمينځ دبېلتون وخت دی (لکه چې تاوعده کړې وه) ﴿ سَأُنَبِّئُكَ بِتَأْوِيلِ مَا لَمْ تَسْتَطِع عَّلَيْهِ صَبْرًا ﴾ اوس به ژرتاخبرکړم (ای موسی) په غرض دهغه کارچې ونکړی شو تاطاقت په هغه باندې دصبر(اوماته دې ناروا ويل) په حديث شريف کې راځي: الله دې په موسی عليه السلام ورحمېږې زمازړه ووچې يوڅه صبرې لاکړی وای څوالله ددوی دواړو کيسه موږته ويلې وای اوکه يې وخت ورسره نورتېرکړی وای عجائبات به يې ليدلې وو(١) ﴿ أَمَّا ٱلسَّفِينَةُ فَكَانَتْ لِمَسَٰكِينَ يَعْمَلُونَ فِي ٱلْبَحْرِ ﴾هرچې هغه بېړۍ وه (چې ماسورۍ کړه) نووه لپاره دهغوعاجزانوچې په سيند کې به يې (ورباندې) کارکاوو) دغه خوهغه بيان دی چې موسی عليه السلام ورباندې صبرنشوای کولای نوخضرعليه السلام ورته وايې چې : داډېرېږوزله کسان وو دظالمانو مخنيوی يې نشوای کولای ﴿ فَأَرَدتُّ أَنْ أَعِيبَهَا ﴾ نوماوغوښتل چې (هغه) عيبې کړم (چې ظالم پاچايې بېکار او غصب نکړي ﴿ وَكَانَ وَرَآءَهُم مَّلِكٌ يَأْخُذُ كُلَّ سَفِينَةٍ غَصْبًا ﴾حال داچې وو له وروسته ددوی نه يوپاچا (ظالم کافر) چې اخيسته به يې هره يوه بېړۍ په زور سره (کومه چې

(١) دغه ديو حديث ټوټه ده چې شيخان يې روايت کوي.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

عيب جنه به نه وه) ﴿ وَأَمَّا ٱلْغُلَٰمُ فَكَانَ أَبَوَاهُ مُؤْمِنَيْنِ ﴾اوهرچي هلک وو (کوم چي ماوواژه هغه کافر اوفاجر وو) پس وو موراوپلاردده مؤمنان؛ په حديث شريف کي راځي هغه غلام چي خضرعليه السلام وواژه کافرپيدا شوی وواوکه لوی شوی وای مور اوپلار به يې هم کافران کړي اوپه طغيان کي غورزولي واي(١)﴿ فَخَشِينَآ أَن يُرْهِقَهُمَا طُغْيَٰنًا وَكُفْرًا ﴾پس ووېرېدو مور له دې چي وبه رسوي (مکلف به کړي دغه هلک) دوی په سرکښي اوطغيان کفر(که ژوندی پاتي شي) ﴿ فَأَرَدْنَآ أَن يُبْدِلَهُمَا رَبُّهُمَا خَيْرًا مِّنْهُ زَكَوٰةً وَأَقْرَبَ رُحْمًا ﴾نو وموغوښتل چي بدل ورکړي دوی ته رب ددوی غوره له دې هلک څخه په پاکي اودېرنژدې به وي له جهته دمهرباني (په مور اوپلارله پاره د نېکي کولو) ﴿ وَأَمَّا ٱلْجِدَارُ فَكَانَ لِغُلَٰمَيْنِ يَتِيمَيْنِ فِى ٱلْمَدِينَةِ وَكَانَ تَحْتَهُۥ كَنزٌ لَّهُمَا ﴾اوهرچي هغه دېوال (نړېدونکی چي جوړمي کړ)پس وودهغو دوو هلکانويتيمانوپه (هغه) ښارکي او وولاندي له هغه (دېوال)خزانه ددغو دواړو (دسروسپينوزرو)﴿ وَكَانَ أَبُوهُمَا صَٰلِحًا ﴾اووپلارددوی صالح (پرهېزګاره نوالله ددوی لپاره دپلارپه صلاح باندي ددوی خزانه خوندي وساتله (٢) مفسرين کرام وايې چي: د پلرونو صُلحيت اولاد ته ګټه رسوي اوددوی تقوی داولادونو لپاره هم ګټه وره وي ﴿ فَأَرَادَ رَبُّكَ أَن يَبْلُغَآ أَشُدَّهُمَا وَيَسْتَخْرِجَا كَنزَهُمَا ﴾نواراده وکړه رب دتاچي ورسېږي (دغه دواړه)قوت د(ځلميتوب) خپلو ته اوبيايې راوباسي هغه (خښي شوي)خزانې خپلي ﴿ رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ ﴾له جهته درحم مهرباني له جانبه درب دتا(په سبب دصُلحيت دپلار ددوی) ﴿ وَمَا فَعَلْتُهُۥ عَنْ أَمْرِى ﴾اوندي کړي مادغه تېراعمال (چي تاوليدل) له خپله ځانه (چي کښتۍ مي سورۍ کړه، هلک مي وواژه اودېوال مي سم جوړکړدامي پخپل حکم اوفکرنه دي کړي بلکه دالله په امراوالهام مي ترسره کړي دي ﴿ ذَٰلِكَ تَأْوِيلُ مَا لَمْ تَسْطِع عَّلَيْهِ صَبْرًا ﴾دغه (درې واړه) جوابونه دهغو پېښو چي تاپرهغه باندي دصبرکولو طاقت نه شوای کولاې (او له ماسره دي اختلاف کاوو ترپخواله دي چي زه تاته دهغوپه هکله معلومات درکړم.

بلاغت:

١- دطباق صنعت چي د﴿ مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ ﴾ترمينځ او﴿ نَسِيتُ ﴾ اود﴿ أَذْكُرَهُۥ ﴾ترمينځ راغلی دی.

٢- مرتب لف اونشرچي: ﴿ أَمَّا ٱلسَّفِينَةُ ﴾﴿ وَأَمَّا ٱلْغُلَٰمُ ﴾﴿ وَأَمَّا ٱلْجِدَارُ ﴾نولومړی دبېړۍ بيا د هلک او وروسته ددېوال تفصيل په لف اونشرمرتب سره راغلي چي دغه له بديعي محسناتو څخه دي.

---

(١) رواه مسلم.

(٢) چاويلي چي دغه يي اووم پلاروو اودلفظ ظاهرڅخه ښکاري چي هغه يې سکنی پلاروو.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

٣ - پدې کلام کې چې الله فرمايې: ﴿كُلَّ سَفِينَةٍ﴾ ايجاز بالحذف راغلی چې دلته (صالحة) کلمه ورسره شته او پدې باندې ﴿أَعِيبَهَا﴾ دلالت کوي او همداسې د (کافر) لفظ له ﴿وَأَمَّا ٱلْغُلَٰمُ﴾ څخه حذف شوی ځکه چې ﴿فَكَانَ أَبَوَاهُ مُؤْمِنَيْنِ﴾ وربانديې دلالت کوي.

٤ - تغليب چې په ﴿أَبَوَاهُ﴾ کې شته او مراد مور او پلار دواړه دي.

٥ - استعاره چې فرمايې: ﴿يُرِيدُ أَن يَنقَضَّ﴾ ځکه چې اراده خو د عاقلانو صفت وي او دهغې نسبت د ديوال ته مجازي دی.

٦ - تنکير د تفخيم لپاره لکه چې فرمايې: ﴿عَبْدًا مِّنْ عِبَادِنَآ﴾ او اضافت د تشريف لپاره راغلی دی.

٧ - سجع او مراعات د آيتونو د پيل لکه: ﴿عَجَبًا ,نَصَبًا ,سَرَبًا﴾.

٨ - د ادب ښوونه چې فرمايې: ﴿فَأَرَدتُّ أَنْ أَعِيبَهَا﴾ او هلته فرمايې ﴿فَأَرَادَ رَبُّكَ﴾ چې دلته يې هغه څه چې په ظاهري توګه شر معلومېده ځان ته يې نسبت وکړ او د خير نسبت يې الله ته وکړ او د ددې لپاره چې بندګان په دې وپوهېږي له الله جل وعلا سره ادب کول پکار دي.

د موسی او خضر عليهما السلام کيسه لکه چې په صحيحينو کې راغلې ده.

أبی ابن کعب روايت کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: يوه ورځ حضرت موسی عليه السلام په بني اسرائيلو کې خطبه ايراد کړه نو چاورځخه پوښتنه وکړه چې ترټولو سترعالم څوک دی؟ ده ورته وويل: زه يم نو الله تعالی ته دغه خبره غوره نه وه (چې سمدلاسه يې ځواب ورکړ او الله ته يې د علم حواله ورنکړه بهتره خوَداوه چې ويلي يې وای: (الله أعلم) يعني الله ښه خبردار دی چې سترعالم به په خلکو کې څوک وي؟) الله تعالی ورته وحی وکړه چې په مجمع البحرين کې زما يو بنده ترتا لوړ عالم دی موسی عليه السلام عرض وکړ چې ای ربه! څرنګه به زه له هغه سره ووينم او ملګری شم؟ پرودګار ورته وويل: چې ماهی به په زنبيل کې درسره واخلې هرچېرې چې دغه ماهی درڅخه ورک شو هلته به هغه بنده بيامومې موسی عليه السلام او ورسره بل ځلمی (يوشع بن نون) روان شول ترڅو هغه ستري تيږې ته راورسېدل او سرونه يې کښېښودل، ويده شول (يوشع بن نون ورته کتل چې) ماهی په زنبيل کې سره وخوځېدو او له زنبيل څخه راوښوئېدو په سيند کې ولوېدو او د سرنګ په شان ورته په اوبو کې لاره پرانيستل شوه چې الله پاک اوبه ورته ودرولې او ديوسوپ يا يوتونل غوندې ودرېدې کله چې موسی عليه السلام راويښ شو نو د ملګري هېرشول چې د ماهي کيسه ورته ووايې پاتې ورځ او ګرده شپه يې مزل وکړ څو سهار شو موسی عليه السلام زلمي ته وويل: سباناری راوړه له دې سفر څخه ستړی شوم (وايې چې موسی عليه السلام ترهغه پورې ستړيانه احساسوله څو چې له هغه ځايه تېرشو کوم چې الله ورته امر کړی وو) نو ملګري يې ورته وويل: ﴿أَرَءَيْتَ إِذْ أَوَيْنَآ إِلَى ٱلصَّخْرَةِ فَإِنِّى نَسِيتُ ٱلْحُوتَ وَمَآ أَنسَىٰنِيهُ إِلَّا ٱلشَّيْطَٰنُ أَنْ أَذْكُرَهُۥ وَٱتَّخَذَ سَبِيلَهُۥ فِى ٱلْبَحْرِ عَجَبًا﴾ ويل يې چې د ماهي لپاره سرنګ او د موسی او ملګري

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

لپاره يې دتعجب وړوه موسى عليه السلام ورته وويل: ﴿ ذَٰلِكَ مَا كُنَّا نَبْغِ فَٱرْتَدَّا عَلَىٰٓ ءَاثَارِهِمَا قَصَصًا ﴾ويل يې دا هغه ځاى دى چې موږ غوښتل دواړه پرخپلو پلونو باندې راروان شول څوتيږې ته راورسېدل نوهلته يې خضرعليه السلام چې سرترپايه يې په څادرکې ځان نغښتى پروت دى وليدموسى عليه السلام سلام ورواچاوو خضرعليه السلام ورته وويل: (وأنى بارضک السلام) (١) ته څوک يې ؟ موسى عليه السلام ورته وويل: زه موسى يم خضرورڅخه پوښتنه وکړه چې آيادبني اسرائيلوموسى يې ده ورته ويل: هو راغلى يم چې له هغه پوهې څخه چې تاته درکول شوي ماته هم رازده کړې ﴿ قَالَ إِنَّكَ لَن تَسْتَطِيعَ مَعِىَ صَبْرًا ﴾اى موسى الله ماته داسې علم راکړى چې ته ورباندې نه پوهېږې اوتاته الله جل جلاله بيا داسې علم درکړى چې زه ورباندې نه پوهېږم موسى عليه السلام ورته وويل: ﴿ قَالَ سَتَجِدُنِىٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ صَابِرًا وَلَآ أَعْصِى لَكَ أَمْرًا ﴾خضرورته وويل: ﴿ قَالَ فَإِنِ ٱتَّبَعْتَنِى فَلَا تَسْـَٔلْنِى عَن شَىْءٍ حَتَّىٰٓ أُحْدِثَ لَكَ مِنْهُ ذِكْرًا ﴾نودواړه دسيند په غاړه روان شول يوه بېړۍ تېرېدله دوى ورسره خبره وکړه چې پورې يې باسې هغوى خضرعليه السلام وپېژانده نو وړيا، پرته له کرايې څخه يې سپاره کړل کله چې په بېړۍ کې سپاره شول نوهماغه ووچې خضرعليه السلام دبېړۍ يوه تخته په تبرګې وايستله نوموسى عليه السلام ورته وويل: دغو خلګوموږ بې باړې اوکرايې سپاره کړو اوتابيا دهغوى بدله داورکړه چې کښتۍ دې ورسورۍ کړه ﴿ لِتُغْرِقَ أَهْلَهَا لَقَدْ جِئْتَ شَيْـًٔا إِمْرًا ﴾رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايل: چې لومړى له موسى عليه السلام څخه په هېره اونسيان يادونه وشوه اويوه چرچنه راغله دبېړۍ په څوکه کښېناستله اوپه درياب يې منښوکه ډوبه کړه خضرعليه السلام موسى عليه السلام ته وويل: زماا و ستاعلم دالله جل جلاله علم ته همدومره دئ لکه: چې دغې چرچنې له دې دريابه اوبه راواخيستې اوبياله بېړۍ راکوزشول دوى په ساحل باندې روان ووچې خضرعليه السلام يوماشوم وليد له نورو ماشومانوسره يې لوبې کولې نوخضرعليه السلام يې سرونيو اوغوڅ يې کړهغه يې وواژو موسى عليه السلام ورته وويل: ﴿ أَقَتَلْتَ نَفْسًا زَكِيَّةًۢ بِغَيْرِ نَفْسٍ لَّقَدْ جِئْتَ شَيْـًٔا نُّكْرًا ﴿٧٤﴾ ۞ قَالَ أَلَمْ أَقُل لَّكَ إِنَّكَ لَن تَسْتَطِيعَ مَعِىَ صَبْرًا ﴿٧٥﴾ ﴾سفيان وايې چې دغه تررومبنۍ سخته ده﴿ قَالَ إِن سَأَلْتُكَ عَن شَىْءٍۭ بَعْدَهَا فَلَا تُصَٰحِبْنِىٓ قَدْ بَلَغْتَ مِن لَّدُنِّى عُذْرًا ﴿٧٦﴾ فَٱنطَلَقَا حَتَّىٰٓ إِذَآ أَتَيَآ أَهْلَ قَرْيَةٍ ٱسْتَطْعَمَآ أَهْلَهَا فَأَبَوْا۟ أَن يُضَيِّفُوهُمَا فَوَجَدَا فِيهَا جِدَارًا يُرِيدُ أَن يَنقَضَّ فَأَقَامَهُۥ ﴾نوخضرعليه السلام په لاس ورته اشاره وکړه هغه دېوال سم جوړشوموسى عليه السلام ورته وويل: موږدوى ته راغلوډوډۍ يې رانکړه اومېلمانه يې نکړو: ﴿ قَالَ لَوْ شِئْتَ لَتَّخَذْتَ عَلَيْهِ

(١) يعني له کومه پدې خمکه کې سلام واچول شوچې دلته په سلام څوک نه پوهېږي

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

أَجْرًا ﴾ خضر عليه السلام وويل: ﴿ هَٰذَا فِرَاقُ بَيْنِي وَبَيْنِكَ ۚ سَأُنَبِّئُكَ بِتَأْوِيلِ مَا لَمْ تَسْتَطِع عَّلَيْهِ صَبْرًا ﴾ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: الله دي په موسى (عليه السلام) رحم وکړي زړه مي غواړي چي صبريې کړی وای ترڅو الله موږته ددوی دواړو کيسه کړي وای. رواه الشيخان.

تنبيه:

علامه قرطبي وايي چي: داولياء الله کرامات لکه چي آيتونه اواحاديث متواتره ورباندي دلالت کوي ثابت دي اوله هغه څخه پرته له منکرمبتدع اوفاسق ګمراه څخه بل څوک انکارنه کوي آيتونه دادي په کوموکي چي دمريمي (عليها السلام) په هکله هغومهوو چي دژمي به وې په دوبي کي ورته راتلوخبر ورکوي اوداچي دهغې په لاس وچه خرماونه وخوځول شوه اومهوه يې وکړه هغه خو نبي نه وه اوهمداسي دخضر(عليه السلام) په لاس دبېړۍ سوری کېدل ، دماشوم وژل اوددېوال سمول دهغه کرامات څرګندوي. القرطبي ١١/ ٢٨

الله تعالى فرمايي:

﴿ وَيَسْـَٔلُونَكَ عَن ذِى ٱلْقَرْنَيْنِ ۖ قُلْ سَأَتْلُوا۟ عَلَيْكُم مِّنْهُ ذِكْرًا ﴿٨٣﴾ إِنَّا مَكَّنَّا لَهُۥ فِى ٱلْأَرْضِ وَءَاتَيْنَٰهُ مِن كُلِّ شَىْءٍ سَبَبًا ﴿٨٤﴾ فَأَتْبَعَ سَبَبًا ﴿٨٥﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ مَغْرِبَ ٱلشَّمْسِ وَجَدَهَا تَغْرُبُ فِى عَيْنٍ حَمِئَةٍ وَوَجَدَ عِندَهَا قَوْمًا ۗ قُلْنَا يَٰذَا ٱلْقَرْنَيْنِ إِمَّآ أَن تُعَذِّبَ وَإِمَّآ أَن تَتَّخِذَ فِيهِمْ حُسْنًا ﴿٨٦﴾ قَالَ أَمَّا مَن ظَلَمَ فَسَوْفَ نُعَذِّبُهُۥ ثُمَّ يُرَدُّ إِلَىٰ رَبِّهِۦ فَيُعَذِّبُهُۥ عَذَابًا نُّكْرًا ﴿٨٧﴾ وَأَمَّا مَنْ ءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحًا فَلَهُۥ جَزَآءً ٱلْحُسْنَىٰ ۖ وَسَنَقُولُ لَهُۥ مِنْ أَمْرِنَا يُسْرًا ﴿٨٨﴾ ثُمَّ أَتْبَعَ سَبَبًا ﴿٨٩﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ مَطْلِعَ ٱلشَّمْسِ وَجَدَهَا تَطْلُعُ عَلَىٰ قَوْمٍ لَّمْ نَجْعَل لَّهُم مِّن دُونِهَا سِتْرًا ﴿٩٠﴾ كَذَٰلِكَ ۖ وَقَدْ أَحَطْنَا بِمَا لَدَيْهِ خُبْرًا ﴿٩١﴾ ثُمَّ أَتْبَعَ سَبَبًا ﴿٩٢﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ بَيْنَ ٱلسَّدَّيْنِ وَجَدَ مِن دُونِهِمَا قَوْمًا لَّا يَكَادُونَ يَفْقَهُونَ قَوْلًا ﴿٩٣﴾ قَالُوا۟ يَٰذَا ٱلْقَرْنَيْنِ إِنَّ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مُفْسِدُونَ فِى ٱلْأَرْضِ فَهَلْ نَجْعَلُ لَكَ خَرْجًا عَلَىٰٓ أَن تَجْعَلَ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمْ سَدًّا ﴿٩٤﴾ قَالَ مَا مَكَّنِّى فِيهِ رَبِّى خَيْرٌ فَأَعِينُونِى بِقُوَّةٍ أَجْعَلْ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ رَدْمًا ﴿٩٥﴾ ءَاتُونِى زُبَرَ ٱلْحَدِيدِ ۖ حَتَّىٰٓ إِذَا سَاوَىٰ بَيْنَ ٱلصَّدَفَيْنِ قَالَ ٱنفُخُوا۟ ۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَعَلَهُۥ نَارًا قَالَ ءَاتُونِىٓ أُفْرِغْ عَلَيْهِ قِطْرًا ﴿٩٦﴾ فَمَا ٱسْطَٰعُوٓا۟ أَن يَظْهَرُوهُ وَمَا ٱسْتَطَٰعُوا۟ لَهُۥ نَقْبًا ﴿٩٧﴾ قَالَ هَٰذَا رَحْمَةٌ مِّن رَّبِّى ۖ فَإِذَا جَآءَ وَعْدُ رَبِّى جَعَلَهُۥ دَكَّآءَ ۖ وَكَانَ وَعْدُ رَبِّى حَقًّا ﴿٩٨﴾ ۞ وَتَرَكْنَا بَعْضَهُمْ يَوْمَئِذٍ يَمُوجُ فِى بَعْضٍ ۖ وَنُفِخَ فِى ٱلصُّورِ فَجَمَعْنَٰهُمْ جَمْعًا ﴿٩٩﴾ وَعَرَضْنَا جَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ لِّلْكَٰفِرِينَ عَرْضًا ﴿١٠٠﴾ ٱلَّذِينَ كَانَتْ أَعْيُنُهُمْ فِى غِطَآءٍ عَن ذِكْرِى وَكَانُوا۟ لَا يَسْتَطِيعُونَ سَمْعًا ﴿١٠١﴾ أَفَحَسِبَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ أَن يَتَّخِذُوا۟ عِبَادِى مِن دُونِىٓ أَوْلِيَآءَ ۚ إِنَّآ أَعْتَدْنَا جَهَنَّمَ لِلْكَٰفِرِينَ نُزُلًا ﴿١٠٢﴾ قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُم بِٱلْأَخْسَرِينَ أَعْمَٰلًا ﴿١٠٣﴾ ٱلَّذِينَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَهُمْ يَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ يُحْسِنُونَ صُنْعًا ﴿١٠٤﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمْ وَلِقَآئِهِۦ فَحَبِطَتْ أَعْمَٰلُهُمْ فَلَا نُقِيمُ لَهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ وَزْنًا ﴿١٠٥﴾ ذَٰلِكَ جَزَآؤُهُمْ جَهَنَّمُ بِمَا كَفَرُوا۟ وَٱتَّخَذُوٓا۟ ءَايَٰتِى وَرُسُلِى هُزُوًا ﴿١٠٦﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ كَانَتْ لَهُمْ جَنَّٰتُ ٱلْفِرْدَوْسِ نُزُلًا ﴿١٠٧﴾ خَٰلِدِينَ فِيهَا لَا يَبْغُونَ عَنْهَا حِوَلًا ﴿١٠٨﴾ قُل لَّوْ كَانَ ٱلْبَحْرُ مِدَادًا لِّكَلِمَٰتِ رَبِّى لَنَفِدَ ٱلْبَحْرُ قَبْلَ أَن تَنفَدَ كَلِمَٰتُ رَبِّى وَلَوْ جِئْنَا بِمِثْلِهِۦ مَدَدًا ﴿١٠٩﴾

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

قُلْ إِنَّمَآ أَنَا۠ بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوحَىٰٓ إِلَيَّ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ فَمَن كَانَ يَرْجُواْ لِقَآءَ رَبِّهِۦ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَٰلِحًا وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِۦٓ أَحَدًۢا ﴿١١٠﴾ الكهف: ٨٣ ـ ١١٠

مناسبت او تړاو:

کله چې الله تعالی دخضر(علیه السلام) کیسه یاده کړه ورپسې یې دذوالقرنین کیسه اودهغه درې واړه سفرونه چې لویدیز، ختیزاوسدّین ته وو راوړل اوبیاداچې دیأجوج اوماجوج په وړاندې یې سدّ تیارکړاودغه په سورت کې څلورمه کیسه ده چې ټولې یې له عقیدې اوایمان سره اړیکې لري اوهمدغه دمبارک سورت اساسي موخه اوهدف دی.

لغتونه:

(ذوالقرنین) دغه سکندرمقدوني دی(١) چې دحکمت خاوندصالح پاچاوو ځکه یې ذوالقرنین بولي چې دځمکې ختیزاو لویدیز یې په پاچهي کې شامل ووهغه مسلمان اوعادل وو(حمئة) ډېره توره ختمه (سَدًّا) بند اوحاجز(ردما) ستربندچې یوپه بل پوړ په پوړ جوړشوی او خورامحکم اوټینګ وي نو(ردم) تر(سد) لوی اوستردی (زبرالحدید) دزبرة جمع او زبرة یوې ټوټې ته وایې (الصدفین) دغره اړخونه ابوعبیده وایې چې صدف هره ستره اولوړه بنابلل کېږي (قطرًا) وېلي شوي زیړ (نقبا) سوري اودرزونه (دکّاء) له ځمکې سره برابر ازهري وایې: ددې کلمې معناچې (دککته) دادی چې (د ققته) میده مي کړ (موج) ګډوډ کېږي (الفردوس) فراء وایې چې فردوس هغه باغ ته وایې چې انګورپکې وي اوثعلب وایې چې هرهغه باغ چې دېوالونه لري هغه ته فردوس وایه شي.

دنزول سبب یې:

أ- قتاده وایې چې: یهودانوله رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه دذوالقرنین په هکله وپوښتل نو الله داآیتونه نازل کړل ﴿ وَيَسْـَٔلُونَكَ عَن ذِى ٱلْقَرْنَيْنِ ﴾(٢)

ب - مجاهدوایې چې یو سړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او ورته ویل یی :زه صله رحمی پالم خیراتونه کوم او دا هر څه دالله درضا لپاره کوم خو خلک می ستایی اوصفتونه می کوی ماته هم دغه خوند راکوی او وربانذی خوشحاله کیږم رسول الله صلی الله علیه وسلم پټه خوله شو نوالله داآیتونه نازل کړل ﴿ فَمَن كَانَ يَرْجُواْ لِقَآءَ رَبِّهِۦ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَٰلِحًا وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِۦٓ أَحَدًۢا ﴾(٣)

تفسیر:﴿ وَيَسْـَٔلُونَكَ عَن ذِى ٱلْقَرْنَيْنِ ﴾اوپوښتنه کوي (یهودان ای محمده!) له تانه د(کیسې) دذوالقرنین(چې څه ډول وه؟) ﴿ قُلْ سَأَتْلُواْ عَلَيْكُم مِّنْهُ ذِكْرًا ﴾ووایه (ای محمده دوی ته!) اوس به زه

---

(١) دې ته ترجیح ورکول شوي چې دغه دیمن له مسلمانوپاچهانو څخه یودی.
(٢) اسباب النزول ١٧٢
(٣) القرطبي ١١/ ٧٠

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

ولولم پرتاسي له ده څه احوال د (قرآنکريم اووحی څخه) ﴿ إِنَّا مَكَّنَّا لَهُۥ فِى ٱلْأَرْضِ وَءَاتَيْنَٰهُ مِن كُلِّ شَىْءٍ سَبَبًا ﴾ بېشکه چي موږ ده قدرت ورکړی وو ده ته په ځمکه کي او ورکړی وو موږ ده ته له هرڅېز څخه (هغه محتاج اليه) يوه لاره رسونکي مقصودته (چي ورته مودعلم اوقدرت اسباب ورکړي وو مفسرين وايې چي: ذوالقرنين يوناني اسکندردی چي مشرق اومغرب ته يې دپاچهي قلمرو غزېدلی ووځکه يې ذوالقرنين بولي هغه ته الله په ځمکه کي قدرت ورکړی وو او هغه مسلمان وو په ښه توګه اوعدالت سره يې دپاچهي چاري پرمخ بېولې اودده دسلطنت موده دحضرت عيسی اومحمدصلی الله عليهما السلام ترمينځ وه. روايت کېږي چي څلورتنودګردي ځمکي پاچهي کړي چي دوه مؤمنان اودوه کافران وو مؤمنان سليمان اوذوالقرنين وو کافران بيانمرود اوبخت نصروو(١) ﴿ فَأَتْبَعَ سَبَبًا ﴾ پس نيوله ده لاره (هغه چي ويې رساووليديزته) ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ مَغْرِبَ ٱلشَّمْسِ ﴾ ترهغه پوري چي ورسېدوځای دپرېوتلو دلمرته ﴿ وَجَدَهَا تَغْرُبُ فِى عَيْنٍ حَمِئَةٍ ﴾ (ويې مونده دغه (لمر) ته چي ډوبېدوپه (لويه) چينه کي له توروختو) يعني ويې موندل چي لمرپه اوبواوختوکي لوېږي لکه چي ده وليدل خوحقيقتاً هسي نه ووځکه لمرخوراستردي اوامکان نلري په کومه چينه کي پټ شي. امام رازي وايې: کله چي ذی القرنين پوري لويديزته ورسېدونوهيڅ آبادي اوتعمېرات نور پاتي نشول نو ويې ليدل چي لمرلکه چي په کومه چينه کي ولوېدو که څه هم په حقيقت کي خوداسي نه ده اودالکه چي په سيندکي سفرکونکی چي کنه دلمرلوېدونظاره کوي داسي انګېري چي ګواکي لمرپه همدې درياب کي غوپه شوخوپه حقيقت کي لمرتردرياب هاخوالوېږي ﴿ وَوَجَدَ عِندَهَا قَوْمًا ﴾ او ويې مونده هغه ته نژدې يوقوم (چي له ختني چينې سره نژدې هستوګن وو ﴿ قُلْنَا يَٰذَا ٱلْقَرْنَيْنِ إِمَّآ أَن تُعَذِّبَ وَإِمَّآ أَن تَتَّخِذَ فِيهِمْ حُسْنًا ﴾ وويل: موږ (په الهام سره) ای ذوالقرنينه ! ياخوپه عذاب کړه دغه خلک (په وژلو) ياونيسه په دوی کي ښه لاره (دعوت ورکړه چي ايمان راوړي اوبياورسره ښه وکړه. مفسرين کرام وايې چي: دغه خلک کافران وونوالله ذوالقرنين ته اختيارورکړچي يايې ووژنه اويابلنه ورکړه ورسره ښه وکړه ﴿ قَالَ أَمَّا مَن ظَلَمَ فَسَوْفَ نُعَذِّبُهُۥ ﴾ نوويل (ذوالقرنين) هرهغه څوک چي ظلم يې وکړ (په ايمان نه راوړلواوپه کفريې اصرار وکړ) پس ژربه په عذاب کړو دوی (په وژلوسره) ﴿ ثُمَّ يُرَدُّ إِلَىٰ رَبِّهِۦ فَيُعَذِّبُهُۥ عَذَابًا نُّكْرًا ﴾ بيابه بوتلی شي (طرف د) رب خپل ته پس په عذاب به کړي دی په عذاب لوی سره (ددوزخ په اورکي) ﴿ وَأَمَّا مَنْ ءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحًا فَلَهُۥ جَزَآءً ٱلْحُسْنَىٰ ﴾ اوهرهغه چي ايمان يې راووړاوصالح عمل يې وکړپس ده ته ده جزاء ښکه (دجنت اونعمتونو) ﴿ وَسَنَقُولُ لَهُۥ مِنْ أَمْرِنَا يُسْرًا ﴾ (اوژردی چي وبه وايوده ته له کاره خپله آسانه) يعني ده ته به په دنياکي هم سخت کارونه نه ورسپارو بلکه په آسانه اوتروس لاندي کارونوبه يې مکلف کوو دغه عادل باچادوی ته په نېکي بلنه ورکول غوره کړل څوک چي ايمان يې راوړی هغه لره به جنت وي نرمه اوپسته معامله به

---

(١) البحر ٦/ ١٥٧

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

ورسره کېږي اوڅوک چي په کفردوام غوره کړي هغه ته به په دنیاکي هم عذاب ورکول کېږي اوپه آخرت کي هم ﴿ ثُمَّ أَتْبَعَ سَبَبًا حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ مَطْلِعَ ٱلشَّمْسِ ﴾بیایې (په لښکر) بله لاره ونیوله ترهغه پوري چي ورسېدو ځای دراختلودلمرته(دکتونکي په ګمان) ﴿ وَجَدَهَا تَطْلُعُ عَلَىٰ قَوْمٍ لَّمْ نَجْعَل لَّهُم مِّن دُونِهَا سِتْرًا ﴾نوویې موندهغه لمرچي راخوت په یوه قوم باندي چي نه وه ګرزولی موږ دوی ته له لاندي ددې (لمر) کومه پرده (لباس) یعني لمریې ولیدچي په داسي خلګو راخېژي چي نه لباس لري اونه هم هستوګنځی کله چي به لمر راوخوت دوی به په ځمکني سمڅوکي ننوتل اوچي لمربه پرېووت بیابه راووتلو اودژوندژواک لپاره به یې هلي ځلي کولې . قتاده وایې چي ذوالقرنین روان ووښارونه اوهیوادونه یې فتح کول خزانې یې راټولولې اوخلګ یې چي ایمان به یې نه راووړ وژل آن تردې چي دلمرختیزته ورسېدونوهلته یې بربنډلغړخلګ ولیدل چي دخوراک یې هیڅ نلرل مګرهغه چي لمربه پاخه کړي (مېوې دانې) وې چي کله به لمرولوېدوله خپلوځایونو به رابهرشول اودمعاش موندلوپه لټه کي به وو اوداسي ویل شوي چي هغه (زنجي) تېروو(١) ﴿ كَذَٰلِكَ وَقَدْ أَحَطْنَا بِمَا لَدَيْهِ خُبْرًا ﴾همداسي (یې له ختیز اوسېدونکوسره معامله وکړه لکه چي له لوېدیزوالوسره یې کړي وه چاچي به ایمان راووړهغه به یې پرېښود اوچاچي به په کفراصرار(دوام) کاوو هغه یې واژو) اوپه تحقیق احاطه کړي وه (علم د) موږپه هغه شي باندي چي له ده څخه وو(له اسباب ,لښکرو,عظمت اودېروخلګوڅخه دبل چاعلم اوپوهه نه ور رسېدله ﴿ ثُمَّ أَتْبَعَ سَبَبًا ﴾بیاونیوله ده بله لاره دشمال په لوریې مخه کړه چېري چي آسمان څک غرونه دي) ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ بَيْنَ ٱلسَّدَّيْنِ ﴾ترهغه پوري چي ورسېدومینځ ددواړو بندونوغرونو) ته (سّد) ستربندته وایې چي دغه دترک دښارونو ، ارمېنیااوآذربایجان ته نژدې وو. طبري وایې (سد) هغه حاجزته وایې چي ددوڅیزونو ترمینځ وي اودلته دغه دوه غرونه ووچي رابندکړي یې ووهغه چي ددوی ترمینځ وو نوذوالقرنین دیاجوج اوماجوج په وړاندي دغه بندتینګ کړچي له خلګوڅخه دیاجوج اوماجوج شردفع کړي ﴿ وَجَدَ مِن دُونِهِمَا قَوْمًا لَّا يَكَادُونَ يَفْقَهُونَ قَوْلًا ﴾نو ویې مونده وړاندي ددغودواړو (غرونو) داسي قوم چي نه وونژدې (اکثرددوی) چي وپوهېږي په خبره د(ذوالقرنین) باندي (یوازي دوی پخپله ژبه ګړېدلای شوای دبل چاپه ژبه نه پوهېدل مګرپه ډېره سختي. مفسرین کرام وایې: دوی ځکه نه پوهېدل چي نادره ژبه یې وه اودپوهي خاوندان نه ووخلګ یې نه وولیدلي، له چاسره یې راشه درشه نه وه نودده خبره یې دترجمان په ذریعه اوریدله ﴿ قَالُوا۟ يَٰذَا ٱلْقَرْنَيْنِ إِنَّ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مُفْسِدُونَ فِى ٱلْأَرْضِ ﴾وویل: دغو(ترجمانانو) بېشکه چي یاجوج اوماجوج (دوه قبیلې بنیادمان دي ځیني یې ډېرغټ اوځیني ډېر واړه اوناموزه دي(٢) فسادکونکي دي په ځمکه کي (خلګ وژني ، لوټ اوتالان کوي اونورډېرد شر کارونه کوي. مفسرین کرام وایې چي: دوی سړي خواره اودبشرغوښي به یې خوړلې په پسرلي کي به

(١) زادالمسیر ٥ / ١٨٧ – الطبري ١٢ / ١٤

(٢) ددې روایت له علي اوابن عباس رضی الله عنهم څخه شوی دی.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

راوتل نونه به يې لامده وانبه پرېښودل بلکه هغه به يې خوړل اونه به يې وچ پرېښودل له ځانه سره به يې وړل ﴿ فَهَلْ نَجْعَلُ لَكَ خَرْجًا ﴾ پس آيا مقرر کړو تالره څه خرڅ او محصول ؟ (لکه مالیه) ﴿ عَلَىٰٓ أَن تَجْعَلَ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمْ سَدًّا ﴾ لپاره ددې کارچې ته جوړکړې په مينځ زموږ اومينځ ددوی کي يودېوال (اوموږ يې له شرنه وژغورې په البحرالمحيط کي وايې چي دغه ددوی له لوري يوه استدعاء ده چي په نېک ادب محصول ورکولوته تياردي ﴿ قَالَ مَا مَكَّنِّي فِيهِ رَبِّي خَيْرٌ فَأَعِينُونِي بِقُوَّةٍ ﴾ وويل: (ذوالقرنين) هغه چي اقتدار راکړی دی ماته په هغه (شي) کي رب زماد برغوره دی پس مرسته وکړئ تاسي له ماسره په محنت زيارکي (دسړو) ﴿ أَجْعَلْ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ رَدْمًا ﴾ چي جوړکړم په مينځ دتاسواوددوی کي يوپرېږ دېوال (محکم) دغه دده شهامت اومېړانه وه چي ددوی څخه يې مال اخيستل ونه منل اويوازي دخلکود محنت اودزياريې ورڅخه غوښتنه وکړه ﴿ ءَاتُونِي زُبَرَ ٱلْحَدِيدِ ﴾ راواخلئ تاسي ماته تختې داوسپنو (او هلته يې راته کښېږدئ) ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا سَاوَىٰ بَيْنَ ٱلصَّدَفَيْنِ ﴾ ترهغو پوري (يې ايښودلې چي) برابرشودا دېوال په مينځ ددوڅوکوکي (دغرونو) ﴿ قَالَ ٱنفُخُوا۟ حَتَّىٰٓ إِذَا جَعَلَهُۥ نَارًا ﴾ نوويل (ذوالقرنين) چي پوکړئ (په بنيو(منافيخو) سره په دغوتختوچي په مينځ کي يې سکاره اچول شوی نوپويې کړل) ترڅوچي ويې ګرځوله دغه اوسپنه (سور) اور(له ډېرګرموالي) ﴿ قَالَ ءَاتُونِيٓ أُفْرِغْ عَلَيْهِ قِطْرًا ﴾ وويل: (ذوالقرنين) راوړي ماته چي توئې کړم په دوې (دېوال) زېړ(ويلي شوي) امام رازي وايې چي کله يې داوسپني تختې ورته راوړي ځيني يې په ځينودپاسه کښېښودلې ترڅويې ددواړو غرونو څوکوته ورسولې بيا يې دپوکونکي آلاتوپه ذريعه ور وپوکل ترڅوچي لکه اورغوندي وګرزېدې پسي يې ويلي شوي زېړ ورباندي توئې کړل چي يوله بله ونښتلې اوښوی دېوال ځني جوړشو(١) ﴿ فَمَا ٱسْطَٰعُوٓا۟ أَن يَظْهَرُوهُ وَمَا ٱسْتَطَٰعُوا۟ لَهُۥ نَقْبًا ﴾ پس طاقت به نه وي ددوی چي پرې وخېژي (له جهته دلوړوالي اوښويوالي اونه به طاقت وي ددوی دغه غره ته دسوري کولو(له جهته دپرېړوالي)په همدغه لوړدېوال ذوالقرنين وکولای شوچي دياجوج ماجوج لاره ډب کړي ﴿ قَالَ هَٰذَا رَحْمَةٌ مِّن رَّبِّي ﴾ وويل: (ذوالقرنين) دغه (بشپړېدل دسد) زمادرب له لوري رحمت دی (په بندګانوخپلو) ﴿ فَإِذَا جَآءَ وَعْدُ رَبِّي جَعَلَهُۥ دَكَّآءَ وَكَانَ وَعْدُ رَبِّي حَقًّا ﴾ نوهرکله چي راغله وعده درب زما(په راتلوددغويا جوج اوماجوج چي قيامت ته به نژدې وي) نووبه ګرځوي (داسد) برابرهوار له ځمکي سره اوزما درب وعده حقه ده اودقيامت راتله ارومرودي پرهمدغه ځای دذوالقرنين کيسه پای ته ورسېده او وروسته دقيامت دورځي له کړاوونو اوخواريو څخه الله جل جلاله داسي يادونه کوي ﴿ وَتَرَكْنَا بَعْضَهُمْ يَوْمَئِذٍ يَمُوجُ فِي بَعْضٍ ﴾ اوپرې به ږدوموږځيني ددوی په دغه ورځ (دقيامت) چي څپې به وهي (له ډېره ازدحامه اوننوزي به) په ځينونوروکي (لکه ددرياب څپې غوندي) ﴿ وَنُفِخَ فِي ٱلصُّورِ فَجَمَعْنَٰهُمْ

(١) التفسير الكبير ٢١ / ١٧٢

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

جَمْعًا ﴾ او پوبه کړی شي په صور شپېلۍ کي پس راجمع به کړو موږ دغه (مخلوقات) ټول (لپاره دجزاء په) يوه ميدان کي چي هيڅوک به هم پرې نږدو) ﴿ وَعَرَضْنَا جَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ لِّلْكَٰفِرِينَ عَرْضًا ﴾ اوراوړاندي به کړو جهنم (ښکاره) په دغه ورځي کي دکافرانو په وړاندي (اوښکاره) کولوسره (ترڅويې ووينې سره له هغو وېرونکو کړاوونو) ﴿ ٱلَّذِينَ كَانَتْ أَعْيُنُهُمْ فِى غِطَآءٍ عَن ذِكْرِى ﴾ هغه کافران چي وې سترګي د (دزړه) ددوی په پرده کي (له غفلته) دياده زما (يعني دالله دقدرت اووحدانيت له دلائلو ړانده وي اونه ورته ګوري نه پکي سوچ کوي ﴿ وَكَانُوا۟ لَا يَسْتَطِيعُونَ سَمْعًا ﴾ اوودوی چي نه توانېدل په اورېدو (دکلام دحق له جهته دتاريکي د زړونو ددوی. ابوالسعودوايې چي همدغه ددوی داعراض تمثيل دی چي نه يې اورېدونکي دلائل اورېدل اونه يې ليدونکي نښانې کتلې ګواکي ړانده اوکانړه وو (١) ﴿ أَفَحَسِبَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ أَن يَتَّخِذُوا۟ عِبَادِى مِن دُونِىٓ أَوْلِيَآءَ ﴾ آياګمان کوي هغه کسان چي کافران شوي دي ددې چي نيسي دوی بندګان زما (لکه ملائک، عزيراومسيح بن مريم) پرته له ماڅخه دوستان (معبودان چي دوی ته به ګټه ورسوي اوزماعذاب به ورڅخه دفع کړي ؟ قرطبي وايې چي: داستفهام ځواب محذوف اوهغه دادی چي آياګمان کوي چي دوی ته دغه آلهه ګټه رسوي اوزه به دوی نه په عذابوم ؟ استفهام دتوبيخ او انکار لپاره دی ﴿ إِنَّآ أَعْتَدْنَا جَهَنَّمَ لِلْكَٰفِرِينَ نُزُلًا ﴾ (بلکه) بېشکه موږ تيار کړی دی دوزخ لپاره دکافرانو مېلمستيا ؛ بيضاوي وايې چي: پدې کي تهکم نغښتی اوددې تنبيه ده چي پدې پسي وروسته دجهنم عذاب دی (٢) ﴿ قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُم بِٱلْأَخْسَرِينَ أَعْمَٰلًا ﴾ ووايه (ای محمده ! دوی ته) آياخبرکړو تاسي په ډېروسختوزيانکارانو باندي له جهته دعمله؟ ﴿ ٱلَّذِينَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ﴾ دوی هغه کسان دي چي ورک دي منډي اوزيارد دوی په دغه ژوندون ددنياکي (ځکه له کفرسره طاعت ګټه نه لري. ضحاک وايې چي دوی هم دغه قسيسان اورهبانان دي چي عبادت کوي اوګمان لري چي دابه ورته ګټه رسوي خوهغه له دوی څخه نه منل کېږي ﴿ وَهُمْ يَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ يُحْسِنُونَ صُنْعًا ﴾ حال داچي دوی ګمان کوي چي بېشکه دوی ښه کارکوي ﴿ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمْ وَلِقَآئِهِۦ فَحَبِطَتْ أَعْمَٰلُهُمْ ﴾ دغه کسان (چي پورته يادشول) هغه دي چي کافران شوي دي په آيتونو (دقرآن) درب خپل اوپه ملاقات ددغه الله په آخرت کي) پس خراب شول عملونه ددوی ﴿ فَلَا نُقِيمُ لَهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ وَزْنًا ﴾ پس وبه نه درووولپاره ددوی په ورځ دقيامت کي تله) يعني ددوی لپاره په نزد دالله هيڅ قدر اومنزلت په قيامت کي نشته په حديث شريف کي راځي چي: دقيامت په ورځ به غټ، اوږد ډېرخوراک اوڅښاک خاوندراوستل شي مګردالله په وړاندي به دغوماشي دوزر تول نلري (٣) ﴿ ذَٰلِكَ جَزَآؤُهُمْ جَهَنَّمُ بِمَا كَفَرُوا۟ وَٱتَّخَذُوٓا۟ ءَايَٰتِى وَرُسُلِى هُزُوًا ﴾ (داخبره ده چي اعمال ددوی ابته شول) جزاء

---

(١) ابوالسعود ٣ / ٢٢٧

(٢) البيضاوي ٢ / ١٣

(٣) دغه حديث الحافظ په الفتح کي راوړی دی ٨ / ٣٢٤

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

ددوی دی دوزخ په سبب ددې چې دوی کافران شوي وواونیولي دوی آیتونه اوپیغمبران زمامسخره

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ ﴾ بېشکه هغه کسان چې ایمان بې راوړی دی اوکړي یې دي ښه عملونه

﴿ كَانَتْ لَهُمْ جَنَّٰتُ ٱلْفِرْدَوْسِ نُزُلًا ﴾ شته دوی ته جنتونه دفردوس (غوره) بهترځای دهستوګني (مېلمستیا)

﴿ خَٰلِدِينَ فِيهَا لَا يَبْغُونَ عَنْهَا حِوَلًا ﴾ چې تل به وي په دغو(جنتونو) کې نه به غواړي دوی له دغو(جنتونو)

څخه ګرزېدل (وتل) ابن رواحه وایې چې: په جنت الفردوس کې به له وتلو اوګرزېدلو څخه نه وېرېږي ﴿ قُل

لَّوْ كَانَ ٱلْبَحْرُ مِدَادًا لِّكَلِمَٰتِ رَبِّى ﴾ (دغه دالله دپراخ علم اوپوهې لپاره تمثیل دی) ووایه (ای محمده دوی ته)

که شې (اوبه د) بحرسیاهي دپاره (دلیکلو) دکلماتودرب زما(اوحکمتونو عجائباتویې) ﴿ لَنَفِدَ ٱلْبَحْرُ

قَبْلَ أَن تَنفَدَ كَلِمَٰتُ رَبِّى ﴾ نوخامخاتمام به شي بحرپخواله هغه نه چې تمام شي کلمات درب زما(ځکه چې

معلومات دالله غیرمتناهي دي لکه چې علم دالله رب العزت غیرمتناهي دی ﴿ وَلَوْ جِئْنَا بِمِثْلِهِۦ مَدَدًا ﴾ او

اګرکه راوړوپه مثل ددغه بحر(نوربحاراو زیات کړو) مددګار(ځکه دالله کلام لایتناهي دی ﴿ قُلْ إِنَّمَآ أَنَا

بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوحَىٰٓ إِلَىَّ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ ﴾ ووایه (ای محمده!) بېشکه همداخبره ده چې زه یم یوبشرسړی

ستاسي په شان چې وحی راځي ماته چې بېشکه همداخبره ده چې معبودستاسي یومعبوددی (شریک

نلري) ﴿ فَمَن كَانَ يَرْجُواْ لِقَآءَ رَبِّهِۦ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَٰلِحًا ﴾ پس هرڅوک چې وي امیدلري د(اخروي) ملاقات درب

خپل نوښایې چې تل صالح عمل وکړي (که څوک ثواب غواړي اودالله له عذابه وېرېږي) ﴿ وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ

رَبِّهِۦٓ أَحَدًۢا ﴾ (اونه شریکوي په عبادت درب خپل کې هیڅوک) یعني ریاکاري دي نه کوي اوپخپل عمل

کې دي دالله له رضاپرته دبل هیڅ شي طمع نه لري ځکه الله هغه عملونه نه مني کوم چې خاص دالله جل

جلاله درضا اوخوښي لپاره په اخلاص نه وي ترسره شوي.

بلاغت:

پدې آیتونوکې چې دبدیع اوبیان کومي ښکلاوي شته لنډیزیې په لاندي ډول دی:

١- دطباق صنعت چې د ﴿ مَغْرِبَ... مَطْلِعَ ﴾ ترمینځ راغلی دی.

٢- بلیغه تشبیه چې الله فرمایې ﴿ جَعَلَهُۥ نَارًا ﴾ یعني لکه اورپه حرارت اوسوروالي کې دتشبیه

ادات اودشبه وجه یې حذف کړه نوبلیغه تشبیه یې لولو.

٣- پدې کلام کې چې الله تعالی فرمایې: ﴿ يَمُوجُ فِى بَعْضٍ ﴾ دوی یې دزیاتوالي له وجهې چې یوپه بل

کې ګډېږي دبحرله څپوسره مشابه کړل اود(موج) لفظ یې ورته استعاره راوړ نوله دې کبله دې ته په

نامه تبعیه استعاره وایې.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

۴ – بله استعاره دالله جل جلاله پدې کلام کي چي ﴿كَانَتْ أَعْيُنُهُمْ فِي غِطَآءٍ عَن ذِكْرِي﴾ يعني کتل به يې خوپندې وربانديې نه اخيستل اودکائناتوآيات يې ليدل خوايمان يې وربانديې نه راوړ حقيقتًا خوددوی په سترګو پردې نه وې بلکه دتمثيل په توګه يې راوړی دی.

۵ – ناقص جناس لکه: ﴿يَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ يُحْسِنُونَ﴾ چي پکي دځينوتوروتغييردی اودې ته جناس تصحيف هم وايي.

۶ – استفهام چي توبيخ اوتقريع افاده کوي لکه چي: ﴿أَفَحَسِبَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ﴾.

۷ – لطيفه مقابله چي فرمايي: ﴿وَأَمَّا مَنْ ءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحًا فَلَهُۥ جَزَآءً ٱلْحُسْنَىٰ﴾ ددې په مقابل کي چي: ﴿أَمَّا مَن ظَلَمَ فَسَوْفَ نُعَذِّبُهُۥ﴾.

لطيفه:

دهرځله په قرآنکريم کي د(حبط) لفظ راځي اوداپه اصل کي هغه وخت کوم چي بوده زهرجن وانبه وخوري اوګېده يې وپرسېږي اوومري دهغه لپاره ويل کېږي همدغه ترټولومناسبه کلمه ده دهغه چالپاره چي عملونه کوي ګېده يې پرسوي دوی ګمان کوي چي داګټوردي اوچاغښت (څربښت) راولي مګردهغوی انجام هلاکت اوخواري وي.

دالله جل جلاله په مرسته دالکهف سورت بشپړشو.

***

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

دمريم سورت مكي دی اواته نوي آيتونه لري

دسورت په وړاندي:

* دمريم سورت مكي اومقصديې توحيددی اوداچي دالله تعالی تنزيه كوي اوپه بعث اوجزاء دايمان راوړلوحكم فرمايې دسورت محور په توحيداوايمان بالله راڅرخي اوبيادلاره موندونكواو گمراهانوبېلي بېلي لاري ښيي.

* پدې سورت كي دځينوانبياء كرامو كيسې راغلي چي دحضرت زكرياعليه السلام په كيسه پيلېږي وروسته دهغه دزوی چي الله تعالی په سپين ږيرتوب كي په داسي حال كي چي ښځه يې شنډه وه وركړ اودانبيې چي الله تعالی په هرڅه قادردی اودمظلوم دعا اوري ځكه يې دزكرياعليه السلام ددعااستجابت وكړ اوپوهيالی زوی يې ورباندي ولوراوو.

* په سورت كي ددې نه هم بل سترعجيب امردادی چي الله (عذرآء) مريمي رضی الله عنهاته زوی وركړپداسي حال كي چي مېړه يې نه درلود همدغه دالهي حكمت غوښتنه وه چي دغسي معجزه د حضرت عيسی عليه السلام په ميلاد يوازي له موره بې پلاره زېږېدلوڅرگنده كړي ترڅوتل ترتله دواحدقهارذات دعظمت اولويې ښكارندوی وي.

* سورت دابراهيم عليه السلام كيسه له خپله پلاره سره را اخلي اوبيا په انبياوو عليهم السلام لكه اسحاق ، يعقوب ، موسی ، هارون، اسماعيل ، ادريس اونوح عليهم السلام باندي ثناوايې دسورت دوه په درې برخي نژدې دهمدې نبيانوپه هكله خبري كوي اومقصد په دې كي درسالت وحدت دی چي گرده نبيان دالله توحيدته دخلگو دبلني لپاره راغلي دي اوددې لپاره چي خلگ له شرک اوبت پرستي څخه راوگرزوي.

* په سورت كي دقيامت دورځي ځني مشاهدراځي هغه چي وېرونكي بوږنونكي دي كله چي كافران ددوزخ په خواوشاپه زنگنونولوېږي ترڅودوزخ ته ور وغورځول شي اوددوزخ ازوغه اوشومه شي.

* په پای كي سورت دالله جل جلاله په تنزيه اوتقديس بيان راوړي چي الله له زويه ، سياله، مثله اوشريكه پاک دی اودگمراهانوپه گمراهي باندي خاوري اړوي پدې هكله ښكاره دليل اوروښانه بيان فرمايې.

تسميه اونومول يې:

ځكه دې سورت ته سورت مريم وايې چي ددغي ستري معجزې تخليدوفرمايې چي بې پلاره فرزندوزېږي اوبيا په زانگوكي خبري وكړي اونوري ډېري هغه پېښي چي له دې مقدس ميلاد سره رادبره شوي دي.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

الله تعالى فرمايي:

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ كٓهيعٓصٓ ﴿١﴾ ذِكْرُ رَحْمَتِ رَبِّكَ عَبْدَهُۥ زَكَرِيَّآ ﴿٢﴾ إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُۥ نِدَآءً خَفِيًّا ﴿٣﴾ قَالَ رَبِّ إِنِّى وَهَنَ
ٱلْعَظْمُ مِنِّى وَٱشْتَعَلَ ٱلرَّأْسُ شَيْبًا وَلَمْ أَكُنۢ بِدُعَآئِكَ رَبِّ شَقِيًّا ﴿٤﴾ وَإِنِّى خِفْتُ ٱلْمَوَٰلِىَ مِن وَرَآءِى
وَكَانَتِ ٱمْرَأَتِى عَاقِرًا فَهَبْ لِى مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا ﴿٥﴾ يَرِثُنِى وَيَرِثُ مِنْ ءَالِ يَعْقُوبَ ۖ وَٱجْعَلْهُ رَبِّ رَضِيًّا ﴿٦﴾
يَٰزَكَرِيَّآ إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَٰمٍ ٱسْمُهُۥ يَحْيَىٰ لَمْ نَجْعَل لَّهُۥ مِن قَبْلُ سَمِيًّا ﴿٧﴾ قَالَ رَبِّ أَنَّىٰ يَكُونُ لِى غُلَٰمٌ
وَكَانَتِ ٱمْرَأَتِى عَاقِرًا وَقَدْ بَلَغْتُ مِنَ ٱلْكِبَرِ عِتِيًّا ﴿٨﴾ قَالَ كَذَٰلِكَ قَالَ رَبُّكَ هُوَ عَلَىَّ هَيِّنٌ وَقَدْ
خَلَقْتُكَ مِن قَبْلُ وَلَمْ تَكُ شَيْـًٔا ﴿٩﴾ قَالَ رَبِّ ٱجْعَل لِّىٓ ءَايَةً ۚ قَالَ ءَايَتُكَ أَلَّا تُكَلِّمَ ٱلنَّاسَ ثَلَٰثَ لَيَالٍ
سَوِيًّا ﴿١٠﴾ فَخَرَجَ عَلَىٰ قَوْمِهِۦ مِنَ ٱلْمِحْرَابِ فَأَوْحَىٰٓ إِلَيْهِمْ أَن سَبِّحُوا۟ بُكْرَةً وَعَشِيًّا ﴿١١﴾ يَٰيَحْيَىٰ خُذِ ٱلْكِتَٰبَ بِقُوَّةٍ ۖ
وَءَاتَيْنَٰهُ ٱلْحُكْمَ صَبِيًّا ﴿١٢﴾ وَحَنَانًا مِّن لَّدُنَّا وَزَكَوٰةً ۖ وَكَانَ تَقِيًّا ﴿١٣﴾ وَبَرًّۢا بِوَٰلِدَيْهِ وَلَمْ يَكُن جَبَّارًا عَصِيًّا ﴿١٤﴾ وَسَلَٰمٌ
عَلَيْهِ يَوْمَ وُلِدَ وَيَوْمَ يَمُوتُ وَيَوْمَ يُبْعَثُ حَيًّا ﴿١٥﴾ وَٱذْكُرْ فِى ٱلْكِتَٰبِ مَرْيَمَ إِذِ ٱنتَبَذَتْ مِنْ أَهْلِهَا مَكَانًا شَرْقِيًّا ﴿١٦﴾
فَٱتَّخَذَتْ مِن دُونِهِمْ حِجَابًا فَأَرْسَلْنَآ إِلَيْهَا رُوحَنَا فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرًا سَوِيًّا ﴿١٧﴾ قَالَتْ إِنِّىٓ أَعُوذُ بِٱلرَّحْمَٰنِ مِنكَ إِن كُنتَ
تَقِيًّا ﴿١٨﴾ قَالَ إِنَّمَآ أَنَا۠ رَسُولُ رَبِّكِ لِأَهَبَ لَكِ غُلَٰمًا زَكِيًّا ﴿١٩﴾ قَالَتْ أَنَّىٰ يَكُونُ لِى غُلَٰمٌ وَلَمْ يَمْسَسْنِى بَشَرٌ وَلَمْ
أَكُ بَغِيًّا ﴿٢٠﴾ قَالَ كَذَٰلِكِ قَالَ رَبُّكِ هُوَ عَلَىَّ هَيِّنٌ ۖ وَلِنَجْعَلَهُۥٓ ءَايَةً لِّلنَّاسِ وَرَحْمَةً مِّنَّا ۚ وَكَانَ أَمْرًا مَّقْضِيًّا
﴿٢١﴾ ۞ فَحَمَلَتْهُ فَٱنتَبَذَتْ بِهِۦ مَكَانًا قَصِيًّا ﴿٢٢﴾ فَأَجَآءَهَا ٱلْمَخَاضُ إِلَىٰ جِذْعِ ٱلنَّخْلَةِ ۖ قَالَتْ يَٰلَيْتَنِى مِتُّ قَبْلَ هَٰذَا
وَكُنتُ نَسْيًا مَّنسِيًّا ﴿٢٣﴾ فَنَادَىٰهَا مِن تَحْتِهَآ أَلَّا تَحْزَنِى قَدْ جَعَلَ رَبُّكِ تَحْتَكِ سَرِيًّا ﴿٢٤﴾ وَهُزِّىٓ إِلَيْكِ بِجِذْعِ ٱلنَّخْلَةِ
تُسَٰقِطْ عَلَيْكِ رُطَبًا جَنِيًّا ﴿٢٥﴾ فَكُلِى وَٱشْرَبِى وَقَرِّى عَيْنًا ۖ فَإِمَّا تَرَيِنَّ مِنَ ٱلْبَشَرِ أَحَدًا ۙ فَقُولِىٓ إِنِّى نَذَرْتُ لِلرَّحْمَٰنِ صَوْمًا
فَلَنْ أُكَلِّمَ ٱلْيَوْمَ إِنسِيًّا ﴿٢٦﴾ فَأَتَتْ بِهِۦ قَوْمَهَا تَحْمِلُهُۥ ۖ قَالُوا۟ يَٰمَرْيَمُ لَقَدْ جِئْتِ شَيْـًٔا فَرِيًّا ﴿٢٧﴾ يَٰٓأُخْتَ هَٰرُونَ مَا
كَانَ أَبُوكِ ٱمْرَأَ سَوْءٍ وَمَا كَانَتْ أُمُّكِ بَغِيًّا ﴿٢٨﴾ فَأَشَارَتْ إِلَيْهِ ۖ قَالُوا۟ كَيْفَ نُكَلِّمُ مَن كَانَ فِى ٱلْمَهْدِ صَبِيًّا ﴿٢٩﴾ قَالَ
إِنِّى عَبْدُ ٱللَّهِ ءَاتَىٰنِىَ ٱلْكِتَٰبَ وَجَعَلَنِى نَبِيًّا ﴿٣٠﴾ وَجَعَلَنِى مُبَارَكًا أَيْنَ مَا كُنتُ وَأَوْصَٰنِى بِٱلصَّلَوٰةِ وَٱلزَّكَوٰةِ مَا دُمْتُ حَيًّا
﴿٣١﴾ وَبَرًّۢا بِوَٰلِدَتِى وَلَمْ يَجْعَلْنِى جَبَّارًا شَقِيًّا ﴿٣٢﴾ وَٱلسَّلَٰمُ عَلَىَّ يَوْمَ وُلِدتُّ وَيَوْمَ أَمُوتُ وَيَوْمَ أُبْعَثُ حَيًّا ﴿٣٣﴾ ذَٰلِكَ
عِيسَى ٱبْنُ مَرْيَمَ ۚ قَوْلَ ٱلْحَقِّ ٱلَّذِى فِيهِ يَمْتَرُونَ ﴿٣٤﴾ مَا كَانَ لِلَّهِ أَن يَتَّخِذَ مِن وَلَدٍ ۖ سُبْحَٰنَهُۥٓ ۚ إِذَا قَضَىٰٓ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ
كُن فَيَكُونُ ﴿٣٥﴾ وَإِنَّ ٱللَّهَ رَبِّى وَرَبُّكُمْ فَٱعْبُدُوهُ ۚ هَٰذَا صِرَٰطٌ مُّسْتَقِيمٌ ﴿٣٦﴾ فَٱخْتَلَفَ ٱلْأَحْزَابُ مِنۢ بَيْنِهِمْ ۖ فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِن

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

مَّشْهَدِ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿٣٧﴾ أَسْمِعْ بِهِمْ وَأَبْصِرْ يَوْمَ يَأْتُونَنَا لَٰكِنِ الظَّالِمُونَ الْيَوْمَ فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿٣٨﴾ وَأَنذِرْهُمْ يَوْمَ الْحَسْرَةِ إِذْ قُضِيَ الْأَمْرُ وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ وَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٣٩﴾ إِنَّا نَحْنُ نَرِثُ الْأَرْضَ وَمَنْ عَلَيْهَا وَإِلَيْنَا يُرْجَعُونَ ﴿٤٠﴾ ﴾ مريم: ١ ـ ٤٠

لغتونه:

(وهن) ضعف او کمزورتیاته وايي (اشتعل) داورلمبې خپرېدل(عاقرا) هغه مېرمن چي دبوډا توب له امله اويا له سره اولادنشي راوړلای (عتيا) په بوډاتوب کي سرحدته رسېدلی اووچ والي ته وايي (حنانا) شفقت ، رحمت اومحبت ته وايي اصل يې له (حنين الناقة على ولدها) څخه اخيستل شوی او ويل کېږي (حنانيک) هغه ته چي دمهرباني غوښتنه کوي (التبلت) ليري اوګوښه شوه (سويا) مستوى الخلقة برابر(المخاض) دزېږېدلودوخت دردونه (سريا) نهراو وياله (لښتی) څکه چي اوبه پکي رواني وي سريان لري (فريا) سترامر اومهمه لويه خبره.

تفسير:

﴿ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ﴾شروع په نامه دالله چي خورامهربان ډېررحم والادی

﴿ كٓهيعٓصٓ ﴾مقطعات حروف دي چي دقرآنکريم په اعجازدلالت کوي (١)﴿ ذِكْرُ رَحْمَتِ رَبِّكَ عَبْدَهُ زَكَرِيَّا ﴾ذکردمهرباني درب ستادی په خپل بنده زکرياباندي (هغه څوک چي پرتايې کيسه لولو(ای محمده !) ﴿ إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُ نِدَاءً خَفِيًّا ﴾کله چي غږ(دعا) يې وکړه خپل رب ته غږ(دعا) ورو(چي په زوره نه اورېدل کېده مفسرين کرام وايې چي ورودعاکول اخلاص ته نژدې اوله رياڅخه ليري ده ﴿ قَالَ رَبِّ إِنِّي وَهَنَ الْعَظْمُ مِنِّي ﴾وويل: (زکرياپخپله دعاکي په عجزسره) ای زماربه بېشکه زه چي يم سست شوي دي ټول هډوکي له ماڅخه (اودبوډاتوب په سبب مي توان طاقت بايللی دی) ﴿ وَاشْتَعَلَ الرَّأْسُ شَيْبًا ﴾(اوشغلې وهي سرزماله جهته دسپين والي) يعني سپين ږيرتوب داسي زماپه سرکي خپور شوی لکه چي اورپه خاشاک کي ولګېږي ﴿ وَلَمْ أَكُنْ بِدُعَائِكَ رَبِّ شَقِيًّا ﴾(حال داچي هيچېري نه يم پاتي شوی په دعازماله تانه اي زما ربه محروم نااُميده) يعني ای الله تاخوزه په احسان اوفضل روږدی کړی يم هروخت دي زماسوال منلی همداذعاهم لکه دپخواپه شان راته ومنه بيضاوي وايې چي دغه دپخوانيودعاګانوپه واسطه توسل دی اوالله پاک هغه په دعاقبلولوعادت کړی اودمنلواُميديې ورکړی وواودکريم ذات عادت خوادوي چي چاته طمع ورکړي بيايې نه محروموي (٢)﴿ وَإِنِّي خِفْتُ الْمَوَالِيَ مِن وَرَائِي ﴾(اوبېشکه زه وېرېږم له دې خپلوانو(خپلو) وروسته (له مرګه) زما) يعني زه له تربورونوڅخه وېرېږم چي زماله مړيني وروسته به دين ضائع کړي اودعلم اونبوت مېراث به په ښه توګه

---

(١) وګوره هغه تفصيل چي دالبقره سورته په پيل کي موليکلی دی.

(٢) البيضاوي ٢/ ١٤

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

خوندي نکړای شي ﴿ وَكَانَتِ ٱمْرَأَتِي عَاقِرًا ﴾ اوده ښځه زماشنده (چي له زوړوالي اويا له لومړۍ ورځي نه ،نه ښېرازه کېږي چي اولادراوړي) ﴿ فَهَبْ لِي مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا ﴾ نو وبښه ماته له خپله طرفه يو متولي (صالح زوی) ﴿ يَرِثُنِي وَيَرِثُ مِنْ ءَالِ يَعْقُوبَ ﴾ چي ميراث يوسي له ماڅخه (ديني امور) او ميراث يوسي (دده له اجدادو) آل ديعقوب نه دعلم اونبوت) بيضاوي وايې چي مرادله ميراث وړلو څخه علم اوشريعت دی ځکه له انبياووعليهم السلام څخه مال په ميراث نه دی وړل شوی (١) ﴿ وَٱجْعَلْهُ رَبِّ رَضِيًّا ﴾ او وګرزوې دی ای زماربه غوره کړی شوی (ستاپه نزد) امام رازي وايې چي: زکريا عليه السلام دزوی دغوښتلوتردعادرې څيزونه وړاندي بيان کړل يوداچي ډېرناتوان اوضعيف دی دويم داچي الله يې هيڅکله دعانه ده رده کړي اودريم داچي مقصدله دعاڅخه يې ددين منفعت دی اوبيايې دزوی غوښتنه وکړه اوپدې کي ددعالپاره يوبل تاکيددی چي هغه يوازي دالله په قوت باندي تکيه کړي اوله ظاهري اسبابوڅخه بېزاره دی (٢) ﴿ يَٰزَكَرِيَّآ إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَٰمٍ ٱسْمُهُۥ يَحْيَىٰ ﴾ ای زکريا بېشکه موږزېری درکووتاته په يوداسي هلک چي نوم يې يحيی دی) يعني موږتاته دپرښتوپه وسيله زېری درکوولکه چي په آل عمران کي راغلي وو ﴿ فَنَادَتْهُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ وَهُوَ قَآئِمٌ يُصَلِّي فِي ٱلْمِحْرَابِ أَنَّ ٱللَّهَ يُبَشِّرُكَ بِيَحْيَىٰ ﴾ آل عمران: ٣٩ ترپايه ﴿ لَمْ نَجْعَل لَّهُۥ مِن قَبْلُ سَمِيًّا ﴾ نه مودی ګرزولی ترپخواله ده په دغه نامه (بل همنامه) هودايوداسي نادرنوم دی چي الله ورباندي ايښی دی اووالدينوته يې دهغه نومول ندي پرې ايښي مجاهدوايې چي معنايې داده چي دده غوندي يې په فضل اوکمال کي بل سيال نشته ﴿ قَالَ رَبِّ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي غُلَٰمٌ ﴾ وويل: (زکريا) ای ربه زماڅرنګه به وي مالره هلک؟ دغه استفهام دتعجب اوخوښي لپاره دی ﴿ وَكَانَتِ ٱمْرَأَتِي عَاقِرًا وَقَدْ بَلَغْتُ مِنَ ٱلْكِبَرِ عِتِيًّا ﴾ (اوښځه زماشنده ده اوپه تحقيق زه رسېدلی يم له ډېره زوړوالي ډېر ضعف ته) يعني زمانښځه په ځواني کي هم داولادراوړلو نه وه اوس به څنګه اولادراوړي چي بوډۍ ده؟!! اوزه هم دعمروروستي سرحدته رسېدلی يم. مفسرين کرام وايې چی دده عمرداوخت (١٢٠) يوسل اوشل کاله وواومېرمن يې د(٩٨) کالووه نوويې غوښتل چي مطمئن شي اوپدې وپوهېږي چي په څه وسيله به الله جل جلاله ده ته اولاد ورکوي ﴿ قَالَ كَذَٰلِكَ قَالَ رَبُّكَ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ ﴾ وفرمايل: (الله کار) هم داسي دی (زه له دووبوډاګانو اولادپيداکوم) فرمايلي دي رب ستاچي داکارپرماآسان دی ﴿ وَقَدْ خَلَقْتُكَ مِن قَبْلُ وَلَمْ تَكُ شَيْـًٔا ﴾ اوپه تحقيق ته مي پيداکړی يې پخواله دې نه اونه وې ته هيڅ څيز(همداسي به يحيی له تاسي دواړو څخه پيداکړم. مفسرين کرام وايې چي په خلقت کي آسانه اوسخت دالله لپاره هډونشته دخلقت وسيله دزاړه. اوواړه جليل اوحقيرلپاره همدايوه

---

(١) البيضاوي لومړی مرجع

(٢) التفسير الكبير ٢١/١٨١

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

وسيله ده چي (كُن فيكون) (آل عمران ٤٧) بلكه آسانه ده د خلكو په اعتبار بېشكه هغه څوك چي له عدم څخه پيدا ينبت كولای شي نوله دووبوډاګانو څخه هم په پيدا كولو قادر دی ﴿ قَالَ رَبِّ ٱجْعَل لِّيٓ ءَايَةً ﴾ وويل: (زكرياله ډېري خوشحالي) ای ربه زما وګرزوه ماته يوه نښه (په قرارنيولو دولد په رحم دموركي) ﴿ قَالَ ءَايَتُكَ أَلَّا تُكَلِّمَ ٱلنَّاسَ ثَلَٰثَ لَيَالٍ سَوِيًّا ﴾ وفرمايل: (الله) چي دانښه ده چي ته به خبري نشې كولای له خلكو سره درې شپې (اوورځي پرله پسې) پداسي حال كي چي جوړ اوروغ به اوسې هيڅ ګونګتيا اوبله ناروغي به نلرې. ابن عباس رضی الله عنه وايې چي ژبه يې بې له كومي ناروغي بنده شوه اوابن زيد وايې چي ژبه يې هسي ګونګه شوه چي له خلكو سره يې خبري نشوای كولای خوله دې سره سره تسبيح به يې ويل اودتورات تلاوت به يې كاووترهغو پوري لا انجيل نه وونازل شوی څكه دعيسی عليه السلام له ولادت څخه مخكښي موده وه او كه به يې غوښتل چي له خلكو سره خبري اتري وكړي نه يې شوای كولای (١) ﴿ فَخَرَجَ عَلَىٰ قَوْمِهِۦ مِنَ ٱلْمِحْرَابِ فَأَوْحَىٰٓ إِلَيْهِمْ أَن سَبِّحُوا۟ بُكْرَةً وَعَشِيًّا ﴾ پس ووت (زكريا) پرخپل قوم له خپل محراب دحجرې، معبد) څخه دوی ته يې داسي اشاره وكه چي تسبيح واياست په سبابېګاه كي؛ اوله خلكو سره يې خبري په اشاره وې لكه چي په آل عمران كي راغلي: ﴿ قَالَ رَبِّ ٱجْعَل لِّيٓ ءَايَةً قَالَ ءَايَتُكَ أَلَّا تُكَلِّمَ ٱلنَّاسَ ثَلَٰثَةَ أَيَّامٍ إِلَّا رَمْزًا ﴾ (آل عمران ٤١) ﴿ يَٰيَحْيَىٰ خُذِ ٱلْكِتَٰبَ بِقُوَّةٍ ﴾ (ای يحيی واخله دغه كتاب (تورات) په قوت (اوجديت اواجتهاد) سره) دلته په كلام كي حذف راغلی هغه داچي كله يحيی عليه السلام وزېږېدو بيالوی شو دبلوغ مرحلې ته ورسېدونو الله ورته وويل: ای يحيی واخله دغه كتاب په قوت سره ﴿ وَءَاتَيْنَٰهُ ٱلْحُكْمَ صَبِيًّا ﴾ او ورکړی وو موږ دغه يحيی ته حكمت (اوفهم فراست) په هلكتوب كي (روايت كېږي چي يوځلي هلكانو يحيی عليه السلام ته وويل: راځه چي سره لوبي وكړو ا) ده ورته وويل: موږ ددې لپاره نه يو پيدا شوي چي لوبي وكړو اوچا بيا ويلي چي نبوت الله تعالی په وړكتوب كي ورکړی وو خواول قول ډېرښكندښكاري. طبري وايې چي: دحكم معناداچي موږ ده ته دكتاب الله فهم دهلكتوب په وخت كي لاورکړی وو پخواله دې نه چي دسړيتوب مرحلې ته ورسېږي (٢) ﴿ وَحَنَانًا مِّن لَّدُنَّا وَزَكَوٰةً ﴾ او (داموځكه وكړل چي پرمور اوپلاريې) رحمت وي زموږ له نزده اوپاكي (موورکړي وه يحيی ته له ګناهونو اوبدوخويونو څخه ﴿ وَكَانَ تَقِيًّا ﴾ او وو يحيی پرهېزګار (چي هيڅكله يې ګناه نه وه كړي اونه يې هم چېري دګناه اراده كړي وه ابن عباس رضی الله عنهما وايې: معناداچي پاكيزه وو هيڅ وخت يې ګناه نه وه كړي ﴿ وَبَرًّۢا بِوَٰلِدَيْهِ ﴾ اونيكوكار وو پرمور اوپلاريې ﴿ وَلَمْ يَكُن جَبَّارًا عَصِيًّا ﴾ اونه وو سركښه نافرمانه) (له ربه خپله) ﴿ وَسَلَٰمٌ عَلَيْهِ يَوْمَ وُلِدَ وَيَوْمَ

---

(١) الطبري ١٢/ ٥٢

(٢) الطبري ١٢/ ٥٥

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

يَمُوتُ وَيَوْمَ يُبْعَثُ حَيًّا ﴾ او سلام دي وي پر دغه (يحي له جانبه دالله) په هغه ورځ چي پيدا کړی شوی دی او په هغه ورځ چي مري به دی او په هغه ورځ چي پورته کړی شي دی ژوندی (له قبره. ابن عطيه وايي چي: الله تعالی په ټولو هغو ځايونو کي چي انسان خوراړ او محتاج وي د يحيى عليه السلام سلامتيا اولاس نيوی وکړ(١) ﴿ وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ مَرْيَمَ ﴾ او ياد کړه په کتاب کي (کيسه د) مريمي دغه دوهمه کيسه ده اوله لومړنی څخه ډېره عجيبه ده ځکه چي دغه د پېغلي ښځي د اولاد زاوړلو ده هغه چي مېړه نه لري او دهغي بوډی تر اولاد راوړلو دغه ډېره نادره ده ځکه هغي خو بوډا خاوند درلود معنا داچي ای محمده !(صلی الله عليه وسلم) د مريمي عجيبه او غريبه کيسه چي الله په بشپړ قدرت دلالت کوي ياده کړه ﴿ إِذِ انْتَبَذَتْ مِنْ أَهْلِهَا مَكَانًا شَرْقِيًّا ﴾ کله چي په څنګ شوه (لاړه) له خپلي کورنی هغه ځای ته چي (د بيت المقدس) شرقي (لوری) وو (د عبادت لپاره) ﴿ فَاتَّخَذَتْ مِنْ دُونِهِمْ حِجَابًا ﴾ پس ونيوله (ولګوله) دې د دوی له طرفه پرده ﴿ فَأَرْسَلْنَا إِلَيْهَا رُوحَنَا فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرًا سَوِيًّا ﴾ نو ولېږه موږ دې ته روح خپل شکل يې جوړ کړ دې ته د کامل سړي (نوراني زلمي) ابن عباس رضی الله عنهما وايي چي: حضرت جبريل (عليه السلام) د يو ښايسته زلمي په بڼه چي ګاړګوتي (مجعد) وېښتان يې درلودل مستوی الخلقة ځوان وو راغی(٢) مفسرين کرام وايي: ځکه د انسان په بڼه او څېره ورته راغی تر څو يې له خبرو څخه کرکه ونکړي او خبرو ته يې په آرامه (الفت) غوږ ونيسي که چېري د پرښتي په صورت ورته راغلی وای نو به يې ځيني نفرت کړی وو او خبري به يې نشوای اورېدلای او د دې په پاک لمني باندي دغه ښه شاهدي ورکوي چي هغي د داسي ښائسته ښکلي بشر څخه په الله پناه وغوښتله او ويې ويل:(٣) ﴿ قَالَتْ إِنِّي أَعُوذُ بِالرَّحْمَٰنِ مِنْكَ إِنْ كُنْتَ تَقِيًّا ﴾ (وويل (مريمي دغه زلمي ته) بېشکه زه پناه غواړم په رحمان له تا څخه که يې ته پرهېزګار) يعني کله چي يې وليد وو پرېږدله چي ګواکي هغه د دې په هکله ناسمه اراده لري نو يې دغه ويناوکړه او ځواب د شرط محذوف دی يعني که ته وېرېږې له الله نو له ما څخه په ډډه شه او مه مي ځوروه ﴿ قَالَ إِنَّمَا أَنَا رَسُولُ رَبِّكِ لِأَهَبَ لَكِ غُلَامًا زَكِيًّا ﴾ وويل: (جبريل) بېشکه همدا خبره ده چي زه رالېږلی شوی يم درب ستا د پاره د دې چي وبښم تاته (په امر درب ستا) يو هلک صالح (له ګناهونو پاک) يعني کله چي جبريل عليه السلام د دې وېرېدلی حالت وليد دوېري د هيسته کولو لپاره يې ورته وويل: چي زه يو رالېږلي شوي پرښته يم چي الله تاته يو له ګناهونو پاک فرزند درکړي ﴿ قَالَتْ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي غُلَامٌ وَلَمْ يَمْسَسْنِي بَشَرٌ وَلَمْ أَكُ بَغِيًّا ﴾ وويل: (مريمي له ډېره تعجبه چي په څه ډول) څرنګه به پيداشي ماته زوی حال داچي نه دی رسېدلی ماته هيڅ بشر (مېړه نلرم) او نه ومه زه هيچېري بدکاره ﴿ قَالَ كَذَٰلِكِ قَالَ رَبُّكِ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ ﴾

---

(١) القرطبی ١١/ ٨٨

(٢) زاد المسير ٥/ ٢١٧

(٣) البحر ٦/ ١٨٠

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

نوويل جبريل مريمي ته كار) هم داسي دی (لكه چي ته وايې) فرمايلی دی رب ستادغه (كار) پرماباندي آسان دی (دغه بې پلاره زوی دركول په الله باندي سهل اوآسان دی) ﴿ وَلِنَجْعَلَهُۥٓ ءَايَةً لِّلنَّاسِ وَرَحْمَةً مِّنَّا ﴾اوچي وګرزوومو دغه هلک لويه) علامه دليل (په عجيبه قدرت زموږ) لپاره دخلكواورحمت له (طرفه) زموږ(ددوی لپاره دنبي په رااستولوچي دوی سمي لاري ته رهبري كړي) ﴿ وَكَانَ أَمْرًا مَّقْضِيًّا ﴾اودی (وجود دده) يوكارمقرر كړی شوی (په ازلي علم دالله كي چي هيڅ تغير اوتبديل پكي راتلونكي نه دی ﴿ فَحَمَلَتْهُ فَٱنتَبَذَتْ بِهِۦ مَكَانًا قَصِيًّا ﴾پس (مريمه) حامله شوه په دغه (عيسی) سره نوپه څنګ شوه سره له دغه (عيسی) يوليري ځای ته دلته دحضرت جبريل اومريمي خبري اتري پای ته ورسېدې. مفسرين كرام وايې چي: پرښتې يې په ګرېوان كي وپوكل نوهغه حامله شوه اوبياكوم ليري ځای ته ولاړه ځكه هغه وېرېدله چي ددی خپلوان به دبې پلاره ماشوم په زېږېدلو دې ته پېغور وركړي ﴿ فَأَجَآءَهَا ٱلْمَخَاضُ إِلَىٰ جِذْعِ ٱلنَّخْلَةِ ﴾پس راوسته (مريمه) درددلنګېدو بېخ تنه دوني دخرماته (ترڅودولادت په وخت كي ورباندي تكيه وكړي) ﴿ قَالَتْ يَٰلَيْتَنِى مِتُّ قَبْلَ هَٰذَا وَكُنتُ نَسْيًا مَّنسِيًّا ﴾وويل: (مريمي) كاشكي چي زه مړه وای ترپخواله دې حاله اووای زه هېره شوي بېخي له زړونوڅخه وتلي يعني زه يوداسي ناڅيزه شي وای چي نه چاپېژاندای اونه يې يادولای. ابن كثير وايې: چي داپدې وپوهېدله چي ددغه ماشوم په زېږېدلوبه ازمويله كېږي نويې دمرګ هيله وكړه ځكه هغې ته معلومه وه چي خلک به ددې خبره په رښتياونه مني وروسته له هغه چي داعابده زاهده وه ولي بدنامه اورسواشوه ؟نوځكه يې له سختي پرېشاني دغه خبره له خولې ووته (١)﴿ فَنَادَىٰهَا مِن تَحْتِهَآ أَلَّا تَحْزَنِى ﴾پس ﴾پس غږ وكړ(پرښتې) دغي (مريمي) ته له لاندي طرفه ددې (خرما) چي مه خفه كېږه (په دې كار) ﴿ قَدْ جَعَلَ رَبُّكِ تَحْتَكِ سَرِيًّا ﴾په تحقيق ګرزولی دی رب دتالاندي (له قدمو) دتالښتی (داوبوچي ستاپه وړاندي بهېږي. ابن عباس رضی الله عنهماوايې چي: جبريل عليه السلام په پښه ځمكه ووهله نودخوږو اوبوچينه راڅرګنده شوه اودلښتي په شكل روانه شوه ﴿ وَهُزِّىٓ إِلَيْكِ بِجِذْعِ ٱلنَّخْلَةِ تُسَٰقِطْ عَلَيْكِ رُطَبًا جَنِيًّا ﴾(اووڅنډه خپل ځان ته بېخ (دوچي) خرماچي راتوی كاندي پرتاخرما پخې لمدې تازه) مفسرين كرام وايې چي هغې ته يې دوچي خرماد خوځولو امروكړ ددې لپاره چي ووينې يوه بله ننبه وروسته له هغه چي دخوږو اوبوچينه يې ورروليدله چي په لښتي كي يې اوبه رواني شوې ددې به ورباندي دردونه تسكين شي اودابه ورته معلومه شي چي همدغه الله جل جلاله دې ته كرامت وركړ ﴿ فَكُلِى وَٱشْرَبِى ﴾پس خوره دا(خرما) اوڅښه (دااوبه خوږې خوندوري) ﴿ وَقَرِّى عَيْنًا ﴾اويخي كړه ستركي خپلي (په عيسی اوخوشحاله شه) ﴿ فَإِمَّا تَرَيِنَّ مِنَ ٱلْبَشَرِ أَحَدًا ﴾پس كه وليدتاله خلكوڅخه يو څوک (اودرڅخه يې

(١) مختصرابن كثير٢/ ٤٤٨

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

دزېږېدلي ماشوم پوښتنه وکړه ﴿ فَقُولِيٓ إِنِّي نَذَرْتُ لِلرَّحْمَٰنِ صَوْمًا ﴾ نو ووايه بېشکه چي يم نذر کړي مي ده پرځان رحمان ته روژه ﴿ فَلَنْ أُكَلِّمَ ٱلْيَوْمَ إِنسِيًّا ﴾ پس له سره به خبري ونکړم نن ورځ له هيڅ يو انسان سره (الله تعالى ورته امروکړچي خبري دي ونکړي ترڅوله دې څخه يې عيسى عليه السلام کفايت وکړي اودابه څرګنده معجزه وي ﴿ فَأَتَتْ بِهِۦ قَوْمَهَا تَحْمِلُهُۥ ﴾ (پس راغله (مريمه) سره له دغه (عيسى) قوم خپل ته چي هغه (عيسى) يې (په غيږکي) اخيستى وو) يعني کله چي هغه له نفاس څخه پاکه شوه نوعيسى عليه السلام يې په لاسونوکي رااخيستى وو ﴿ قَالُواْ يَٰمَرْيَمُ لَقَدْ جِئْتِ شَيْـًٔا فَرِيًّا ﴾ نوويل دوى (لکه چي يې عيسى وليدله دې سره) اى مريمي اپه تحقيق راوړى دى تايوڅيزمخالف له عادته (ډېرېد) ﴿ يَٰٓأُخْتَ هَٰرُونَ مَا كَانَ أَبُوكِ ٱمْرَأَ سَوْءٍ وَمَا كَانَتْ أُمُّكِ بَغِيًّا ﴾ اى دهارون خوري ستاپلاردبدي سړى نه وواونه دي موربدعمله وه (نوله تاولي داسي کار وشو؟ ته خودداسي کورنۍ څخه وې چي په صلاح اوعبادت مشهوره وه. دهارون خوريې وبلله يعني اى مريمي ته خوپه صلاح اوعبادت کي هارون ته ورته وې قتاده وايې چي: هارون په بني اسرائيلوکي په صلاح سره مشهورسړى وو نودوى هم مريمه دهغه سره مشابه کړه(١) اوداهغه هارون چي د موسى عليه السلام ورور وونه دى څکه ددوى ترمينځ تريوزرلازيات کلونه تېرشوي دي همدارنګه سهيلي وايې چي هارون په بني اسرائيلوکي يوعابدسړى وو نومريمه يې له هغه سره په زيار اواجتهاد کي مشابه وګڼله اودغه هارون هغه دموسى عليهما السلام ورور نه دى څکه ددوى ترمينځ خوراډېره زمانه تېره شوي وه (٢) ﴿ فَأَشَارَتْ إِلَيْهِ قَالُواْ كَيْفَ نُكَلِّمُ مَن كَانَ فِي ٱلْمَهْدِ صَبِيًّا ﴾ نو اشاره وکړه مريمي هغه ته (غږ يې ورته ونکړ اوپه اشاره يې وپوهول چي له عيسى سره وغږېږئ اوڅني وپوښتئ) نوويل (دوى) څرنګه موږله هغه چاسره خبري وکړو؟ چي هغه په ځانګوکي وړوکى (ماشوم) دى (چي دمور تى روي) امام رازي وايې چي: عيسى عليه السلام دمورتى رودل اوکله چي يې دغه خبري واورېدې تى يې پرېښود اوپردوى يې مخ راواړاوو، ورسره خبري يې پيل کړې اوبيايې نوري خبري ترهغو (پوري نه کولې څو چي هغه وخت ته ورسېدوچي ماشومان هم هغه وخت خبري کولاى شي (٣) ﴿ قَالَ إِنِّي عَبْدُ ٱللَّهِ ءَاتَىٰنِيَ ٱلْكِتَٰبَ وَجَعَلَنِي نَبِيًّا ﴾ (وويل (عيسى) چي بېشکه زه دالله بنده يم راکړى يې دى ماته کتاب اوزه يې نبي ګرزولى يم) يعني عيسى عليه السلام کله چي دوى ته خبري کولې ورته يې وويل: زه دالله بنده يم په خپل قدرت يې بې پلاره پيدا کړى يم عبوديت يې څکه ړومبى يادکړچي دهغو کسانو ترديد وکړي چي دده دربوبيت دمقام دعوى يې وکړي بل يې وويل چي: الله فيصله کړي ده چي ماته انجيل کتاب راکړي اوپيغمبري مي وګرزوي داچي دماضي په لفظ يې تعبيروفرمايوددې لپاره چي تحقق افاده کړي څکه کوم حکم چي الله پاک په ازل کي فرمايلى دى ارو

---

(١) الطبري ١٢ / ٧٧

(٢) مختصرابن کثير ٢ / ٤٥٠

(٣) التفسيرالکبير ٢١ / ٢٠٨

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

مروهغه کېدونکی دی ﴿ وَجَعَلَنِي مُبَارَكًا أَيْنَ مَا كُنتُ ﴾ اوزه الله برکتناک ګزرولی یم چي پرهرځای کي اوسېږم ﴿ وَأَوْصَنِي بِالصَّلَوٰةِ وَالزَّكَوٰةِ مَا دُمْتُ حَيًّا ﴾ تاکیدي حکم یې فرمایلی دی ماته په لمانځه او زکات سره ترڅوچي زه ژوندی یم ﴿ وَبَرًّا بِوَالِدَتِي ﴾ او (ګرزولی یې یم الله) نېکي کونکی له خپلي مور سره ﴿ وَلَمْ يَجْعَلْنِي جَبَّارًا شَقِيًّا ﴾ اونه یې یم ګرزولی سرکښ اوبدبخته (په هیچاباندي په خپل ژوندکي) ﴿ وَالسَّلَامُ عَلَيَّ يَوْمَ وُلِدتُّ وَيَوْمَ أَمُوتُ وَيَوْمَ أُبْعَثُ حَيًّا ﴾ اوسلام دي وي پرماپه هغه ورځ چي (له موره) زېږېدلی شوی یم اوهغه ورځ چي مرم اوپه هغه ورځ چي پورته به کړی شم ژوندی (داهغه وینا ده چي حضرت عیسی علیه السلام دتي رودونکی ماشوم په حالت کي کړي وه همداسي هغه دبندګۍ اعلان کوي اوداخرګندوي چي نه خوپخپله اله دی اونه هم داله زوی اونه ددریودریم لکه چي نصرانیان ګمان کوي بلکه هغه بنده دی ژوندی کېږي اومري دنوربشرپه شان یې الله پیدا ایښت فرمایلی دی چي یوازي له موره او بې پلاره زېږېدلی دی څوچي د الله په سترقدرت یوه نښه وي څکه نو سمدستي الله فرمایي: ﴿ ذَٰلِكَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ قَوْلَ الْحَقِّ الَّذِي فِيهِ يَمْتَرُونَ ﴾ (دغه (موصوف) عیسی د مریمي زوی دی (فرمایلي ده الله) خبره حقه رښتیاهغه چي په دې کي سره خلک جګړې کوي) یعني دغه دعیسی بن مریم په باب حقه خبره ده نه هغه چي نصاری یې په ابن الله سره موصوف کوي اویایې یهودیان ابن زنابولي اودده په شان کي یوله بله جګړې کوي ﴿ مَا كَانَ لِلَّهِ أَن يَتَّخِذَ مِن وَلَدٍ ﴾ نه ښایي الله داچي ونیسي ولد (هیڅوک اونه جائزه ده) ﴿ سُبْحَانَهُ إِذَا قَضَىٰ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُن فَيَكُونُ ﴾ پاکي ده ده ته (له نیولودولد) هرکله چي وکړي دی حکم دیوکارپس بېشکه هم داخبره ده چي وایې هغه ته (موجود) شه پس هغه موجودشي (هیڅ تکلیف اومحنت کولوته اړنه دی نوڅرنګه به هغه چي داسي بې پرواوي زوی ته اړتیاولري مفسرین کرام وایې چي: دغه لکه درومبني لپاره چي دلیل وي اوهغه داچي دزوی نیول خودهغه چاکاروي چي اړتیالري اوپه هیڅ شي قادرنه وي اوڅوک چي قادراوغني وي هغه چي یو څیزته ﴿ كُن ﴾ ووایې اوهغه سمدستي ﴿ فَيَكُونُ ﴾ شي نوبیا هغه دې ته اړنه دی چي زوی ونیسي اویا مېرمن ولري اوکوم مخلوق چي د ﴿ كُن ﴾ په کلمه یې پیداکوي هغه ته بیازوی نه ویل کېږي بلکه بنده یې وي اوپدې کي ددوی لپاره تبکیت اوملزم کول دي ﴿ وَإِنَّ اللَّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ ﴾ او وویل: (عیسی) بېشکه الله زمااوستاسي رب دی پس تاسي دالله عبادت کوئ همدغه صافه برابره لاره ده) یعني اوله هغوخبرو څخه چي عیسی علیه السلام خپل قوم ته په ځانګوکي وکړې یوداهم ووچي دوی ته یې خبر ورکړالله ددوی اودده پرودرګار (پالونکی) دی اودوی ته یې امر وکړچي یوازي دالله عبادت دي وکړي داهغه دین دی چي سم صاف برابراوهیڅ کږوالی پکي نشته ﴿ فَاخْتَلَفَ الْأَحْزَابُ مِن بَيْنِهِمْ ﴾ نوبیاخلاف وکړو (اهل کتابو) له مینځ ددغو (خلکو ځیني ګمان کوي چي دي دالله زوی او ځیني

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

بیاوایې چې هغه له زنازېږېدلی دی) معاذ الله ﴿ فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ كَفَرُوا مِن مَّشْهَدِ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴾ نو هلاکت (خرابي) دی لپاره دهغو کسانو چې کافران شوي دي له حاضرېدودهغې ډېرې لويې ورځې (دحساب اوجزا) ﴿ أَسْمِعْ بِهِمْ وَأَبْصِرْ يَوْمَ يَأْتُونَنَا ﴾ (څه ډېرښه اورېدونکي به وي دوی اوڅه ډېرښه لیدونکي به وي دوی په هغې ورځې کې چې دوی به موږته راشي ﴿ لَكِنِ الظَّالِمُونَ الْيَوْمَ فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴾ لاکن ظالمان نن ورځ په ښکاره ګمراهي کې دي (لیرې اوپه غفلت کې دي له څرګنده حق څخه) ﴿ وَأَنذِرْهُمْ يَوْمَ الْحَسْرَةِ ﴾ اوته دوی ووېروه له ورځې دحسرته (چې ګناهکاربه هم حسرت اوارمان کوي چې ولې یې ښه عمل ندی کړی ؟ اومقصربه هم آرمان کوي چې ولې مې زیاته نېکي نه ده کړې ﴿ إِذْ قُضِيَ الْأَمْرُ وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ وَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴾ کله چې کارفیصله کړی شي (څوک جنت ته اوڅوک دوزخ ته لاړشي) حال داچې دوی په دنیوي غفلت کې دي اودوی (په بعث اونشور) ایمان نه راوړي ﴿ إِنَّا نَحْنُ نَرِثُ الْأَرْضَ وَمَنْ عَلَيْهَا ﴾ بېشکه موږ وارث کېږو دځمکې اودهغه چاچې پردغه ځمکه دي (له خزانو او بشرڅخه) ﴿ وَإِلَيْنَا يُرْجَعُونَ ﴾ اوخاص موږ ته به دوی راوستل شي (لپاره دحساب اوجزاء).

بلاغت:

١ - دکنایې صنعت چې فرمایې ﴿ وَهَنَ الْعَظْمُ مِنِّي ﴾ چې دوجوددناتواني اودقوت دتللواوضعف راتللوڅخه کنایه راغلي.

٢ - استعاره چې فرمایې: ﴿ وَاشْتَعَلَ الرَّأْسُ شَيْبًا ﴾ دسپین ږیرتوب خپراوی یې داور دخپرېدلو سره چې په خس او خاشاک کې بل شي تشبیه کړی اودخپرېدلولپاره یې اشتعال (بلیدل) استعاره کړی له هغه څخه یې اشتعل مشتق کړچې دانتشاراوخپراوي په معناده نودې ته تبعیه استعاره ویل کېږي.

٣ - دطباق صنعت د ﴿ وُلِدَ ... يَمُوتُ ﴾ ترمینځ.

٤ - اشتقاقي جناس لکه: ﴿ نَادَىٰ ... نِدَاءً ﴾.

٥ - لطیفه کنایه پدې کلام کې چې: ﴿ وَلَمْ يَمْسَسْنِي بَشَرٌ ﴾ چې دغه کنایه ده له زوجې معاشرت اوکوروالي څخه.

٦ - دتعجب صیغه لکه: ﴿ أَسْمِعْ بِهِمْ وَأَبْصِرْ ﴾.

٧ - سجع چې پدې فواصلوکې لکه: ﴿ سَوِيًّا ... بَغِيًّا ... صَبِيًّا ... نَبِيًّا ﴾ کې راغلي اودغه له بدیعي محسناتوڅخه ګڼل کېږي.

تنبیه:

دقیامت په ورځ به آرمانونه ډېرزیات وي آن تردې چې ته به وادایوازي دحسرت ورځ ده بل هیڅ شی پکې نه ځائېږي په صحیح مسلم کې له ابي سعید خدري ﷺ څخه روایت راځي چې رسول الله صلی الله

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

علیه وسلم وفرمایل: کله چي دقیامت په ورځ جنتیان جنت ته اودوزخیان دوزخ ته داخل شي نومرګ دیوګډ(پسه) په شان راوستل شي اودجنت اودوزخ په مینځ کي ودرول شي اوجنتیانوته به وویل شي چي: آیاداپېژنئ هغوی به غاړي را اوږدې کړي، وبه ګوري اووبه وایې هودغه مرګ دی اوبیابه دوزخیانوته وویل شي چي: آیاداپېژنئ هغوی به هم سرونه راأوچت کړي اووبه ویني بیابه ووایې هو دغه مرګ دی نوبه هغه حلال کړی شي اوداسي به وویل شي: ای جنتیانو! تل ترتله به په جنت کي یاست اومرګ نورنشته، ای دوزخیانوتل ترتله به په دوزخ کي یاست نورمرګ نشته اوبیایې داآیت تلاوت کړ:

﴿ وَأَنذِرْهُمْ يَوْمَ الْحَسْرَةِ ﴾ دآیت ترپایه.

***

الله تعالی فرمایي:

﴿ وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّهُ كَانَ صِدِّيقًا نَّبِيًّا ﴿٤١﴾ إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ يَا أَبَتِ لِمَ تَعْبُدُ مَا لَا يَسْمَعُ وَلَا يُبْصِرُ وَلَا يُغْنِي
عَنكَ شَيْئًا ﴿٤٢﴾ يَا أَبَتِ إِنِّي قَدْ جَاءَنِي مِنَ الْعِلْمِ مَا لَمْ يَأْتِكَ فَاتَّبِعْنِي أَهْدِكَ صِرَاطًا سَوِيًّا ﴿٤٣﴾ يَا أَبَتِ لَا تَعْبُدِ
الشَّيْطَانَ إِنَّ الشَّيْطَانَ كَانَ لِلرَّحْمَٰنِ عَصِيًّا ﴿٤٤﴾ يَا أَبَتِ إِنِّي أَخَافُ أَن يَمَسَّكَ عَذَابٌ مِّنَ الرَّحْمَٰنِ فَتَكُونَ لِلشَّيْطَانِ
وَلِيًّا ﴿٤٥﴾ قَالَ أَرَاغِبٌ أَنتَ عَنْ آلِهَتِي يَا إِبْرَاهِيمُ لَئِن لَّمْ تَنتَهِ لَأَرْجُمَنَّكَ وَاهْجُرْنِي مَلِيًّا ﴿٤٦﴾ قَالَ سَلَامٌ عَلَيْكَ
سَأَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّي إِنَّهُ كَانَ بِي حَفِيًّا ﴿٤٧﴾ وَأَعْتَزِلُكُمْ وَمَا تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ وَأَدْعُو رَبِّي عَسَىٰ أَلَّا أَكُونَ
بِدُعَاءِ رَبِّي شَقِيًّا ﴿٤٨﴾ فَلَمَّا اعْتَزَلَهُمْ وَمَا يَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ وَهَبْنَا لَهُ إِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَكُلًّا جَعَلْنَا نَبِيًّا ﴿٤٩﴾ وَوَهَبْنَا
لَهُم مِّن رَّحْمَتِنَا وَجَعَلْنَا لَهُمْ لِسَانَ صِدْقٍ عَلِيًّا ﴿٥٠﴾ وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ مُوسَىٰ إِنَّهُ كَانَ مُخْلَصًا وَكَانَ رَسُولًا نَّبِيًّا ﴿٥١﴾
وَنَادَيْنَاهُ مِن جَانِبِ الطُّورِ الْأَيْمَنِ وَقَرَّبْنَاهُ نَجِيًّا ﴿٥٢﴾ وَوَهَبْنَا لَهُ مِن رَّحْمَتِنَا أَخَاهُ هَارُونَ نَبِيًّا ﴿٥٣﴾ وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِسْمَاعِيلَ إِنَّهُ
كَانَ صَادِقَ الْوَعْدِ وَكَانَ رَسُولًا نَّبِيًّا ﴿٥٤﴾ وَكَانَ يَأْمُرُ أَهْلَهُ بِالصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ وَكَانَ عِندَ رَبِّهِ مَرْضِيًّا ﴿٥٥﴾ وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ
إِدْرِيسَ إِنَّهُ كَانَ صِدِّيقًا نَّبِيًّا ﴿٥٦﴾ وَرَفَعْنَاهُ مَكَانًا عَلِيًّا ﴿٥٧﴾ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِم مِّنَ النَّبِيِّينَ مِن ذُرِّيَّةِ آدَمَ وَمِمَّنْ
حَمَلْنَا مَعَ نُوحٍ وَمِن ذُرِّيَّةِ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْرَائِيلَ وَمِمَّنْ هَدَيْنَا وَاجْتَبَيْنَا إِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُ الرَّحْمَٰنِ خَرُّوا سُجَّدًا وَبُكِيًّا ۩ ﴿٥٨﴾
۞ فَخَلَفَ مِن بَعْدِهِمْ خَلْفٌ أَضَاعُوا الصَّلَاةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوَاتِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا ﴿٥٩﴾ إِلَّا مَن تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا
فَأُولَٰئِكَ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُونَ شَيْئًا ﴿٦٠﴾ جَنَّاتِ عَدْنٍ الَّتِي وَعَدَ الرَّحْمَٰنُ عِبَادَهُ بِالْغَيْبِ إِنَّهُ كَانَ وَعْدُهُ مَأْتِيًّا ﴿٦١﴾ لَا
يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا إِلَّا سَلَامًا وَلَهُمْ رِزْقُهُمْ فِيهَا بُكْرَةً وَعَشِيًّا ﴿٦٢﴾ تِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِي نُورِثُ مِنْ عِبَادِنَا مَن كَانَ تَقِيًّا ﴿٦٣﴾ وَمَا
نَتَنَزَّلُ إِلَّا بِأَمْرِ رَبِّكَ لَهُ مَا بَيْنَ أَيْدِينَا وَمَا خَلْفَنَا وَمَا بَيْنَ ذَٰلِكَ وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا ﴿٦٤﴾ رَّبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ
وَمَا بَيْنَهُمَا فَاعْبُدْهُ وَاصْطَبِرْ لِعِبَادَتِهِ هَلْ تَعْلَمُ لَهُ سَمِيًّا ﴿٦٥﴾ ﴾ مریم: ٤١ ـ ٦٥

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

مناسبت اوتړاو:

کله چي الله تعالی دحضرت مريمي کيسه ياده کړه اودعيسی عليه السلام په هکله يې دنصرانيانو اختلاف وښود چي هغوی حضرت عيسی بغيرله الله څخه په عبادت کولو غوره کړنو ورپسې يې دابراهيم عليه السلام کيسه راوړه هغه چي بتان يې کونډي کپر، ګوډ اومات کړل ترڅوالله خلګوته وښيې چي حضرت ابراهيم عليه السلام څرنګه دالله په توحيد ټينګ ولاړوو اوپه ګمراهي کي هغه دواړه ډلي سره برابري دي څوک چي دبشرعبادت کوي اويادحجر , نصرانيانودمسيح عليه السلام عبادت کاوو اودعربومشرکان بيادبتانوعبادت کوي.

لغتونه:

(صِدِيقًا) دمبالغې صيغه ده اومعنايې ډېرربښتياګوی دی (ملګا) ډېروخت ويل کېږي: (أمليت لفلان فی الأمر) يعني فلاني ته مي په کارکي زښته ډېروخت ورکړ(حفګا) په نېکي اولطف کي يکتاته وايې (خَلْفٌ) دلام په سکون سره دهغه چالپاره استعمالېږي چي دخپل سلف له وروسته شرارت پيل کړي اوپه فتح (زبر) سره هغه چاته وايې چي دخپل سلف نه وروسته دخيرکارونه کوي داسي وايې: (جعلک الله خيرخلف لخيرسلف) الله دي نېک خليفه دخپل نېک سلف لپاره وګرزوه (غګا) شراوضلال ته وايې دلغت علماء وايې چي هرشردعربوپه نزد(غَيّ) اوهرخير(رشاد) دی.

دنزول سبب يې:

ابن عباس رضی الله عنهماوايې: رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ای جبرائيله ولی تردې زيات نه راځې کوم چي اوس راځې؟ نوداآيت نازل شو: ﴿ وَمَا نَتَنَزَّلُ إِلَّا بِأَمْرِ رَبِّكَ ﴾.

تفسير:

﴿ وَٱذْكُرْ فِي ٱلْكِتَٰبِ إِبْرَٰهِيمَ ﴾اويادکړه (ای محمده) په کتاب (عزيز) کي (کيسه دخليل الرحمن) ابراهيم ﴿ إِنَّهُۥ كَانَ صِدِّيقًا نَّبِيًّا ﴾بېشکه دغه (ابراهيم)وودېرربښتينی نبي؛ مقصددلته دعربوتنبيه کول دي چي دوی ګمان کوي هغه ته منسوب دي خوبياهم دوی دبتانوعبادت کوي ابراهيم خوله نبوت سره صِديقيت هم لاره اودحُنفاووامام ، دتوحيدراوړونکی ووکوم چي خاتم المرسلين هم دغه توحيدته بلنه کوي ﴿ إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ يَٰٓأَبَتِ لِمَ تَعْبُدُ مَا لَا يَسْمَعُ وَلَا يُبْصِرُ وَلَا يُغْنِي عَنكَ شَيْـًٔا ﴾کله چي وويل: (ابراهيم) خپل پلارته ای پلاره دڅه لپاره ته دهغه څيزعبادت کوې چي نه ويني ، نه اوري اونه له تاڅخه هيڅ څيزدفع کوي ؟ په داسي غږسره يې ورته ناري کړې چي تلطف پکي نغښتی وو ترڅويې دايمان اوهدايت لوري ته راکاږي ﴿ يَٰٓأَبَتِ إِنِّي قَدْ جَآءَنِي مِنَ ٱلْعِلْمِ مَا لَمْ يَأْتِكَ فَٱتَّبِعْنِيٓ أَهْدِكَ صِرَٰطًا سَوِيًّا ﴾ای پلاره زمابېشکه زه چي يم ماته راغلی له علمه هغه قدرچي تاته ندی راغلی نوزمامتابعت وکړه چي وښيم تاته لاره سمه برابره؟ بيايې نصيحت تکرارکړ اوډېره پسته ژبه يې وکاروله پلاريې پدې چي دبُتانوعبادت کوي په جهل اوناپوهي تورن نکړبلکه هسي وړانديز يې ورته وکړچي ماته دالله په هکله اودقدسي صفاتوپه هکله داسي معلومات شته چي تاسره نشته نوزمانصيحت واوره اومتابعت مي وکړه چي سمه سيخه دنجات

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

اوخلاصون لاره دروښيم چي دالله دين دی اوهيڅ کړوالی پکي نشته ﴿ يَٰٓأَبَتِ لَا تَعْبُدِ ٱلشَّيْطَٰنَ إِنَّ ٱلشَّيْطَٰنَ كَانَ لِلرَّحْمَٰنِ عَصِيًّا ﴾ای زماپلاره دشيطان عبادت مکوه (چي امريې دکفراود بُتانو (عبادت په هکله مني) بېشکه شيطان له رحمان څخه ډېرنافرمانه دی ؛ (هرڅوک چي دشيطان عبادت وکړي نوهغه هم دالله څخه سرغړونکی شي. قرطبي وايې چي: دلته يې له طاعت څخه په عبادت ځکه تعبيروفرمايوچي کوم څوک ديوچاخبره دمعصيت په هکله مني نوهغه يې عبادت کوي (١)﴿ يَٰٓأَبَتِ إِنِّيٓ أَخَافُ أَن يَمَسَّكَ عَذَابٌ مِّنَ ٱلرَّحْمَٰنِ فَتَكُونَ لِلشَّيْطَٰنِ وَلِيًّا ﴾ای پلاره زمابېشکه زه چي يم وېرېږم له دې نه چي وبه رسېږي تاته عذاب له رحمان څخه پس شې به ته شيطان ته دوست پدې کي له بدعاقبت څخه تحذيراو وېرونه ده يعني په کفربه ومرې اودردناک عذاب به درکول شي اوله شيطان سره به تل ترتله په اورکي ملګری شې. امام رازي وايې چي په لفظ د﴿ يَٰٓأَبَتِ ﴾کي چي هرځلي خطاب ورته کړي دغه يې له هغه سره دزيات محبت اوبې کچي رغبت له وجهي دی چی نه غواړي پلاريې په اعذاب کي اخته شي اوحضرت ابراهيم عليه السلام په خورابنکلي اندازکي ترتيب کړچي لومړی يې دبُتانودعبادت په بطلان وپوهاوو، ورپسې هغه استدلال ته راوبالواوله ړانده تقليدڅخه يې راوګرزاوو اوبيايې ورته يادونه وکړه چي عقلادشيطان طاعت ناروادی اوپه پای کي يې له ادب اونرمي سره جوخت وعيدورته ووايوچي ﴿ إِنِّيٓ أَخَافُ ﴾داتول پدې دلالت کوي چي په ژوره توګه يې زړه دپلارپه مصالحوپسي تعلق لرل اودغه دپلاروالي حقوقوته دده پاملرنه وه(٢)﴿ قَالَ أَرَاغِبٌ أَنتَ عَنْ ءَالِهَتِي يَٰٓإِبْرَٰهِيمُ ﴾وويل: (آزرپلاردابراهيم) آيامخ ګرزېدونکی يې ته له (عبادته د) معبودانو زماای ابراهيمه! دغه استفهام اودتعجب معناپکي نغښتي ده چي دبُتانودعبادت له څنګ کولوڅخه انکارافاده کوي يعني ددغو بُتانودعبادت ترک خودعقل خاوندان نه کوي بيضاوي وايې چي: دابراهيم (عليه السلام) پلارده دنرم اوله لطف نه ډک ارشادپه سختي اوتُندی سره ځواب ورکړاوپه نامه يې ورته نارې کړې په هسي ډول يې متقابلايادنکړلکه چي هغه به ورته ويل ﴿ يَٰٓأَبَتِ ﴾په/ځواب کي يې ورته ونه ويل چي: (يابُنَيَّ) همدارنګه خبريې مقدم اوپه انکاري همزه يې پيل (مصدر)کړچي يوازی له مخ ګرزولو څخه انکاردی لکه چي دغه انکار هوښيارسړی بېخي نه کوي اوبيايي داسي تهديدکړچي : ﴿ لَئِن لَّمْ تَنتَهِ لَأَرْجُمَنَّكَ ﴾که منع نه شوې ته (زمادخدايانوله عيب اوکنځلو) نوخامخابه تاپه تيږو وولم ﴿ وَٱهْجُرْنِي مَلِيًّا ﴾اوپرې مي ږده ډېروخت (له مانه لري شه چي ضررمي درته ونه رسېږي . سدي وايې چي: په همداسي ناپوهي سره (آزر) دسمي لاري بلنه ځواب کړه اوپدې ډول ناتراشه ځواب يې دادب اوتهذيب دوينامقابله وکړه پدې ډول دايمان اوکفرترمينځ هروخت ډغري وي همدارنګه دهغه زړه حال وي چي

(١) القرطبي ١١/ ١١١

(٢) تفسيرکبير ٢١/ ٢٣٢

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

ايمان پرېولی وي او هغه زړه چي طغيان لړلی وي ﴿ قَالَ سَلَٰمٌ عَلَيْكَ سَأَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّيٓ ﴾ وويل: (ابراهيم) سلام (دي وي زماله خوازه به ځور ونه رسوم) تاته ژربه تاته له خپله ربه مغفرت وغواړم (چي تاته هدايت وکړي او ګناهونه دروبښي ﴿ إِنَّهُۥ كَانَ بِي حَفِيًّا ﴾ بېشکه چي الله پرماډېر مهربان دی (ماته خورازياته پاملرنه کوي) ﴿ وَأَعْتَزِلُكُمْ وَمَا تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ ﴾ او په څنګ به شم له تاسي او له هغه څه چي تاسي عبادت کوي (او ستاسو له هيوادنه به لاړشم) ﴿ وَأَدْعُوا۟ رَبِّي عَسَىٰٓ أَلَّآ أَكُونَ بِدُعَآءِ رَبِّي شَقِيًّا ﴾ او عبادت به کوم (يوازي) درب خپل اُميدلرم ددې چي زه نشم په عبادت درب خپل کي بدبخته ، اوپدې کي ددوی دشقاوت لوري ته دبتانوپه عبادت کولوکي تعريض دی اوهمداډول ابراهيم خپل پلار اوتېردبُتانوعبادت ته پرې ښوداوپخپله يې ورڅخه هجرت وکړاوالله جل جلاله هغه يوازي نه پرېښودبلکه ذوذات اونسل يې ورعطاکړاوغوره معاوضې يې ورکړې ﴿ فَلَمَّا ٱعْتَزَلَهُمْ وَمَا يَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَهَبْنَا لَهُۥٓ إِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ ﴾ (کله چي په څنګ شو (ابراهيم) له دوی نه په هجرت سره او له هغه څيزه (چي دوی يې) پرته له الله عبادت کاوو نووبښل موږ ده ته (ځوی) اسحاق او (لمسی) يعقوب) يعني کله چي ابراهيم عليه السلام دشام هيواد ته هجرت وکړاوله پلاره اوقوم څخه په څنګ شونوالله جل جلاله تردې ښه اوغوره ملګري ورکړل ترڅويې دپردېسي اوغُربت له ځورولوڅخه همدغه پاکيزه اولادونه چي اسحاق اودهغه زوی يعقوب دی وژغوري دوی دانبياووعليهم السلام دوې ونې (شجرې) وې چي له نسله يې دبني اسرائيلوانبياء راغلي دي. ابن کثيروايې: معنايې داده چي له ذوذاته دده څخه انبياء زېږېدلي اودده په ژوندېې د هغوی په نبوت سترګي يخي شوي دي ځکه فرمايې: ﴿ وَكُلًّا جَعَلْنَا نَبِيًّا ﴾ اوهريو (له دوی دواړو) موږنبي ګرزولی وو ﴿ وَوَهَبْنَا لَهُم مِّن رَّحْمَتِنَا ﴾ او ښبلی وو موږ دوی (ټولو) ته له رحمته خپله (ټول دنيوي اواُخروي خيراو ښېګڼه، مال اولاد، علم او عمل) ﴿ وَجَعَلْنَا لَهُمْ لِسَانَ صِدْقٍ عَلِيًّا ﴾ (اوګرزولي وه موږدوی ته ژبه دصدق ډېره پورته مشهوره) يعني ددوی لپاره موپه خلګوکي دنېکي يادګزرولی چي دټولو اديانواوملتونوخلګ يې ثناوايې ځکه هغوی ډېر ښه ښايسته خويونه درلودل همداسبب دی چي ترقيامته پوري به په ابراهيم اوآل دده باندي درود وايه شي. طبري وايې: معناداچي دوی ته موږ که ثنا اوذکرجميل وربښلی دی (١) ﴿ وَٱذْكُرْ فِي ٱلْكِتَٰبِ مُوسَىٰٓ ﴾ اويادکړه (ای محمده خپل قوم ته په قرآن کي (قصه) دموسی ﴿ إِنَّهُۥ كَانَ مُخْلَصًا وَكَانَ رَسُولًا نَّبِيًّا ﴾ (بېشکه چي دی ووخالص کړی شوی (دالله له طرفه) او وودی رسول نبي) يعني الله هغه دځان لپاره چاڼ کړی وو اودګردوخلګوله مينځه يې دکلام لپاره غوره کړی ووله ستروپيغمبرانو اوله اوچتوانبياووڅخه وو لوی الله ده ته دوه صفتونه يوځای ورکړي وو اوڅرنګه چي د ﴿ كَانَ ﴾ لفظ يې مکرراوړی ترڅوددغه عظيم

(١) الطبري ١٢ / ٩٣

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

الشان نبي دقدر څرګندونه وکړي ﴿ وَنَٰدَيْنَٰهُ مِن جَانِبِ ٱلطُّورِ ٱلْأَيْمَنِ ﴾ اونداکړي وه موږ دغه (موسی) تدله جانبه د(غره) طورچي (دموسی) ښي طرف ته وو(کله چي مو ور سره بلاواسطې خبري کولې) ﴿ وَقَرَّبْنَٰهُ نَجِيًّا ﴾ او رانژدې کړی وو موږ دی حال داچي له موږسره يې درازخبري کولې ؛ ابن عباس رضی الله عنه وايې چي موسی(عليه السلام) له ملکوت څخه دومره نږدې شوچي پردې پورته شوې آن تردې چي دغيبي اقلاموغږونه يې هم اورېدل(١) زمخشري وايې چي : له هغه چاسره يې تشبيه کړچي کوم غټ خلک يې ځان ته ورنژدې کړي چي ورسره درازخبري وکړي څکه بې دپرښتې له واسطې يې ورسره خبري وکړې ﴿ وَوَهَبْنَا لَهُۥ مِن رَّحْمَتِنَآ أَخَاهُ هَٰرُونَ نَبِيًّا ﴾ اوبښلی وومو ږ دغه (موسی) ته له خپله رحمته ورور دده هارون حال داچي نبي وو ، دده (موسی) دعامومنلي وه کله چي ويل يې: ﴿ وَٱجْعَل لِّى وَزِيرًا مِّنْ أَهْلِى ﴿٢٩﴾ هَٰرُونَ أَخِى ﴿٣٠﴾ ﴾ طه: ٢٩ - ٣٠ دده دملاتړلپاره مو ورسره مرستندوی اومټ ګرزولی وو ﴿ وَٱذْكُرْ فِى ٱلْكِتَٰبِ إِسْمَٰعِيلَ ﴾ اويادکړه (ای محمده!) په قرآن کي (خپل جد) اسماعيل (دامت لپاره چي هغه دټولوعربوپلاردی) ﴿ إِنَّهُۥ كَانَ صَادِقَ ٱلْوَعْدِ وَكَانَ رَسُولًا نَّبِيًّا ﴾ بېشکه چي دی وو رښتينی په وعده کي اورسول اونبي وو) يعني کله چي به يې وعده وکړه ارومروبه يې ورباندي وفاکوله. مفسرين کرام وايې چي دوعدې په رښتنولي يې وستايوکه څه هم دغه په نوروانبياوو کي هم وه دغه يې دتشريف اوتکريم له مخي توصيف دی بل داچي ده دوعدې ترسره کولوپه لاره کي دومره زيات تکاليف ګالل چي نورو نه ووګاللي همدغه دده دصبرژمنه اووعده وه چي ځان يې دذبح کولولپاره تسليم کړځکه الله ورباندي ثناوويله ﴿ وَكَانَ رَسُولًا نَّبِيًّا ﴾ الله ده لره رسالت اونبوت يوځای ورکړي وو. ابن کثيروايې چي: په دې آيت شريف کي داسماعيل عليه السلام بزرګي په اسحاق عليه السلام چي ورور يې ده څرګندېږي ځکه هغه يوازي په نبوت سره ستايل شوی دی اوبل داچي د اسماعيل (عليه السلام) له نسله خاتم الانبياء محمدمصطفی صلی الله عليه وسلم راغلی دی ﴿ وَكَانَ يَأْمُرُ أَهْلَهُۥ بِٱلصَّلَوٰةِ وَٱلزَّكَوٰةِ ﴾ او وودی چي حکم به يې کاوواهل خپل ته په لمانځه (چي ددين ستني ده) اوپه زکات سره (چي دټولني نېکمرغي ورباندي تأمينېږي) ﴿ وَكَانَ عِندَ رَبِّهِۦ مَرْضِيًّا ﴾ او وودی په نزد درب خپل غوره کړی شوی. امام رازي وايې چي دغه دثناوروستنی پوړی ده ځکه څوک چي دالله په نزدپسندېده وي نوهغه په ټولو طاعاتوکي په لوړو درجاتوبريالی دی(٢) ﴿ وَٱذْكُرْ فِى ٱلْكِتَٰبِ إِدْرِيسَ إِنَّهُۥ كَانَ صِدِّيقًا نَّبِيًّا ﴾ او يادکړه (ای محمده خپل اُمت ته) په قرآن کي (کيلبه) دادريس بېشکه چي دی وو ډېررښتونی نبي (په ټولو احوالوکي. مفسرين کرام وايې چي: ادريس (عليه السلام) دنوح عليه السلام نيکه اوله آدم عليه السلام نه وروسته لومړنی پيغمبردی هغه لومړنی تن ووچي په قلم يې خط وليکل اوګنډلي جامې يې واغوستې ترده له مخه کسانوبه

(١) البحر٦/ ١٩٩

(٢) الفخرالزاري٢١/ ٢٣٢

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

پوستوکي اغوستل الله جل جلاله په ده باندي دېرش صحيفې رانازلي کړي دي﴿ وَرَفَعْنَٰهُ مَكَانًا عَلِيًّا ﴾اومورږده لره پورته کړی دی (یاداوقدرده) دېراوچت ځای (نبوت) ته (اودالله قرب ته) ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ أَنْعَمَ ٱللَّهُ عَلَيْهِم مِّنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ ﴾دغه (مخکښي مذکورانبیاء چي لس تنه دي لومړی یې زکریا او وروستی یې ادریس دی) هغه کسان دي چي انعام کړی دی الله پردوی له انبیاووځخه ﴿ مِن ذُرِّيَّةِ ءَادَمَ وَمِمَّنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوحٍ ﴾له اولادې دآدم (لکه ادریس) اوله اولادې دهغوکسانوچي بارکړي وو مورږله نوح سره په بېړۍ کي (لکه ابراهیم چي دسام بن نوح زوی دی)﴿ وَمِن ذُرِّيَّةِ إِبْرَٰهِيمَ ﴾اوله اولادې دابراهیم (لکه اسماعیل، اسحاق او یعقوب)علیهم السلام﴿ وَإِسْرَٰٓءِيلَ ﴾اوله اولاده داسرائیل (یعقوب) لکه موسی، هارون، زکریا، یحیي اوعیسی علیهم السلام ﴿ وَمِمَّنْ هَدَيْنَا وَٱجْتَبَيْنَآ ﴾اوله هغه چانه چي مورږ ورته لیار ښودلي وه (دایمان) اوغوره کړی موو ولپاره دنبوت اووحی ﴿ إِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتُ ٱلرَّحْمَٰنِ خَرُّوا۟ سُجَّدًا وَبُكِيًّا ﴾(هرکله چي پردوی به ولوستل شول آیتونه درحمان نولویدل به (په ځمکه) سجده کونکي او ژړېدونکي) یعني کله چي به یې دالله کلام واورېدونو به دالله له وېري په سجده پرېوتل اوژړل به یې ځکه دوی ډېره لوړه مرتبه لرله الله ته خورا نژدې وو. قرطبي وایې چي په آیت کي داافاده شته چي دالله آیتونه په زړونوکي اغیزه کوي ﴿ فَخَلَفَ مِنۢ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ أَضَاعُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَٱتَّبَعُوا۟ ٱلشَّهَوَٰتِ ﴾پس پیداشول له دوی نه (داسي بد) خلیفه ګان چي دوی ضائع کړلمونځ اومتابعت یې وکړدشهواتو(نفسي خواهشاتو) ﴿ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا ﴾پس ژربه یوځای شي دوی له بدعاقبت خپل سره ؛ ابن عباس رضی الله عنه وایې چي (غیّ)په دوزخ کي یوه کنده ده اودجهنم ټولي کندي ددغي له اوره ځخه پناه غواړي ﴿ إِلَّا مَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحًا ﴾مګرهغه چي چاتوبه وایستله اوایمان یې راوړ اونېک عمل یې وکړ﴿ فَأُوْلَٰٓئِكَ يَدْخُلُونَ ٱلْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُونَ شَيْـًٔا ﴾پس دغه کسان به په جنت کي ننوزي اوپردوی به هیڅ قدرظلم ونکړی شي (چي داعمالوجزایې ورنکړی شي)﴿ جَنَّٰتِ عَدْنٍ ٱلَّتِى وَعَدَ ٱلرَّحْمَٰنُ عِبَادَهُۥ بِٱلْغَيْبِ ﴾جنتونه دتل اوسېدلو هغوته چي رحمن یې وعده کړي ده له خپلوبندګانوسره په غیب باندي (چي داجنتونه یې ندي لیدلي) یعني داهغه دتل اوسېدلو جنتونه دي چي دوی ورباندي په غیبوایمان راوړی لیدلی یې نه دی خودالله په وعده یې باوردی ﴿ إِنَّهُۥ كَانَ وَعْدُهُۥ مَأْتِيًّا ﴾بېشکه شان دادی چي ده وعده دده (چي جنت دی) خامخا راځي به (خلاف په کي نشته) ﴿ لَّا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا إِلَّا سَلَٰمًا ﴾نه به اوري دغه (جنتیان) په دغه (جنت)کي چتي خبره مګر (اوري به) سلام (دپرښتوچي پردوی به یې د تعظیم اواحترام لپاره اچوي دلته استثناء منقطع ده)﴿ وَلَهُمْ رِزْقُهُمْ فِيهَا بُكْرَةً وَعَشِيًّا ﴾اوده دوی ته روزي ددوی په دغه (جنت) کي سبااو بېګاه (له خوراکونو اوځښاکونوځخه چي

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

هيڅ تکليف اوربړ به نه ګالي اونه به يې روزي انقطاع مومي ﴿ تِلْكَ ٱلْجَنَّةُ ٱلَّتِى نُورِثُ مِنْ عِبَادِنَا مَن كَانَ تَقِيًّا ﴾ دغه (مذکور) هغه جنت دی چي په ميراث ورکوو موږ له خپلو بندګانو هغه چاته چي پرهېزګاروي ﴿ وَمَا نَتَنَزَّلُ إِلَّا بِأَمْرِ رَبِّكَ ﴾ (اوو ويل (جبريل) نه نازلېږو (موږ پرښتې) مګر ستادرب په حکم) داهغه خبره ده چي حضرت جبريل (عليه السلام) رسول الله صلى الله عليه وسلم ته هغه وخت وکړه چي څه وخت نه وو راغلی اومعناداچي موږ دنياته پرته دالله له حکم اواذن څخه نه راځو ﴿ لَهُۥ مَا بَيْنَ أَيْدِينَا وَمَا خَلْفَنَا وَمَا بَيْنَ ذَٰلِكَ ﴾ خاص الله ته دی (علم د) هرهغه څيزچي زموږ په مخکي دی (له دنيانه) اوهر هغه څيزچي له موږنه وروسته دی (لکه دآخرت) اوهرهغه څيزچي په مينځ ددغه (ماضي او مستقبل) کي دی ﴿ وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا ﴾ اونه دی رب ستاهېرونکی (له اعمالود بندګانو) ﴿ رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا فَٱعْبُدْهُ ﴾ الله رب د آسمانونواوځمکي دی اودهغوشيانودی چي ددوی په مينځ کي دي نودده عبادت کوه (يوازي) ﴿ وَٱصْطَبِرْ لِعِبَٰدَتِهِۦ ﴾ اوصبرکوه په عبادت ددغه الله (کي په تکليفونوباندي) ﴿ هَلْ تَعْلَمُ لَهُۥ سَمِيًّا ﴾ آياته پېژني ده ته کوم همنامی (ساری اوسيال) ؟ !.

بلاغت:

پدې آيتونوکي چي دبلاغت ،بديع اوبيان کومي ښکلاوي شته لنډون يې دادی:

١-لطيفه کنايه لکه چي فرمايي: ﴿ وَجَعَلْنَا لَهُمْ لِسَانَ صِدْقٍ عَلِيًّا ﴾ له جميل ذکراونېکي ثناڅخه يې په رښتوني ژبه سره تعبير وفرمايل څکه ثناخوپه ژبه وي اودا داسي دی لکه چي له انعام څخه په لاس تعبيرکول کېږي.

٢ - استعاره چي فرمايې : ﴿ وَرَفَعْنَٰهُ مَكَانًا عَلِيًّا ﴾ سترمکانت اومرتبه يې له لوړمقام سره مشابه کړه اوداستعارې په ډول يې څرګندکړ.

٣ - دمبالغې صنعت چي په ﴿ صِدِّيقًا نَّبِيًّا ﴾ کي راغلی دی.

٤ - په بعيدسره اشاره کول چي دمرتبې لوړوالی افاده کړي لکه چي فرمايې: ﴿ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ أَنْعَمَ ٱللَّهُ عَلَيْهِم ﴾ دلته چي کومه دليري والي معناپه دې کلام کي نغښتي هغه ددوی د فضيلت په هکله ددوی ليري والی ښيي.

٥ - کله چي الله تعالی فرمايې: ﴿ فَخَلَفَ مِنۢ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ ﴾ دلته ناقص جناس اودشکل اوحرکاتوپه تغييرسره موندل کېږي.

٦-دطباق صنعت لکه چي ﴿ لَهُۥ مَا بَيْنَ أَيْدِينَا وَمَا خَلْفَنَا ﴾ اود ﴿ بُكْرَةً وَعَشِيًّا ﴾ ترمينځ راغلی دی.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

٧- ښايسته سجع لکه په : ﴿ عَلِيًّا ....حَفِيًّا ....نَبِيًّا ﴾ کي راغلي ده.

کټه او فائده:

دابراهيم عليه السلام په دې ويناکي چي(أبت) تلطف اواستدعاء ده دلته (تا) دتکلم له ياڅخه عوض راغلي چي اصل (ياأبى) ووځکه نوله ياسره يوځای نشي راتلای.

تنبيه:

امام سيوطي په تحبيرکي راوړي چي : ابراهيم عليه السلام يوسل اوپنځه اوياکاله ژوندوکړ دده اوآدم عليه السلام ترمينځ دوزره کاله اودده اونوح عليه السلام ترمينځ يوزرکاله وو اوله دوی څخه دانبياوو، ونه (شجره) غزېدلي ده.

***

الله تعالى فرمايي:

﴿ وَيَقُولُ ٱلْإِنسَٰنُ أَءِذَا مَا مِتُّ لَسَوْفَ أُخْرَجُ حَيًّا ﴿٦٦﴾ أَوَلَا يَذْكُرُ ٱلْإِنسَٰنُ أَنَّا خَلَقْنَٰهُ مِن قَبْلُ وَلَمْ يَكُ شَيْـًٔا
﴿٦٧﴾ فَوَرَبِّكَ لَنَحْشُرَنَّهُمْ وَٱلشَّيَٰطِينَ ثُمَّ لَنُحْضِرَنَّهُمْ حَوْلَ جَهَنَّمَ جِثِيًّا ﴿٦٨﴾ ثُمَّ لَنَنزِعَنَّ مِن كُلِّ شِيعَةٍ أَيُّهُمْ أَشَدُّ
عَلَى ٱلرَّحْمَٰنِ عِتِيًّا ﴿٦٩﴾ ثُمَّ لَنَحْنُ أَعْلَمُ بِٱلَّذِينَ هُمْ أَوْلَىٰ بِهَا صِلِيًّا ﴿٧٠﴾ وَإِن مِّنكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ حَتْمًا مَّقْضِيًّا
﴿٧١﴾ ثُمَّ نُنَجِّى ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوا۟ وَّنَذَرُ ٱلظَّٰلِمِينَ فِيهَا جِثِيًّا ﴿٧٢﴾ وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٍ قَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لِلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟
أَىُّ ٱلْفَرِيقَيْنِ خَيْرٌ مَّقَامًا وَأَحْسَنُ نَدِيًّا ﴿٧٣﴾ وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّن قَرْنٍ هُمْ أَحْسَنُ أَثَٰثًا وَرِءْيًا ﴿٧٤﴾ قُلْ مَن كَانَ فِى
ٱلضَّلَٰلَةِ فَلْيَمْدُدْ لَهُ ٱلرَّحْمَٰنُ مَدًّا ۚ حَتَّىٰٓ إِذَا رَأَوْا۟ مَا يُوعَدُونَ إِمَّا ٱلْعَذَابَ وَإِمَّا ٱلسَّاعَةَ ۚ فَسَيَعْلَمُونَ مَنْ هُوَ شَرٌّ مَّكَانًا
وَأَضْعَفُ جُندًا ﴿٧٥﴾ وَيَزِيدُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ٱهْتَدَوْا۟ هُدًى ۗ وَٱلْبَٰقِيَٰتُ ٱلصَّٰلِحَٰتُ خَيْرٌ عِندَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَخَيْرٌ مَّرَدًّا ﴿٧٦﴾
أَفَرَءَيْتَ ٱلَّذِى كَفَرَ بِـَٔايَٰتِنَا وَقَالَ لَأُوتَيَنَّ مَالًا وَوَلَدًا ﴿٧٧﴾ أَطَّلَعَ ٱلْغَيْبَ أَمِ ٱتَّخَذَ عِندَ ٱلرَّحْمَٰنِ عَهْدًا ﴿٧٨﴾ كَلَّا ۚ
سَنَكْتُبُ مَا يَقُولُ وَنَمُدُّ لَهُۥ مِنَ ٱلْعَذَابِ مَدًّا ﴿٧٩﴾ وَنَرِثُهُۥ مَا يَقُولُ وَيَأْتِينَا فَرْدًا ﴿٨٠﴾ وَٱتَّخَذُوا۟ مِن دُونِ ٱللَّهِ ءَالِهَةً
لِّيَكُونُوا۟ لَهُمْ عِزًّا ﴿٨١﴾ كَلَّا ۚ سَيَكْفُرُونَ بِعِبَادَتِهِمْ وَيَكُونُونَ عَلَيْهِمْ ضِدًّا ﴿٨٢﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّآ أَرْسَلْنَا ٱلشَّيَٰطِينَ عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ
تَؤُزُّهُمْ أَزًّا ﴿٨٣﴾ فَلَا تَعْجَلْ عَلَيْهِمْ ۖ إِنَّمَا نَعُدُّ لَهُمْ عَدًّا ﴿٨٤﴾ يَوْمَ نَحْشُرُ ٱلْمُتَّقِينَ إِلَى ٱلرَّحْمَٰنِ وَفْدًا ﴿٨٥﴾ وَنَسُوقُ
ٱلْمُجْرِمِينَ إِلَىٰ جَهَنَّمَ وِرْدًا ﴿٨٦﴾ لَّا يَمْلِكُونَ ٱلشَّفَٰعَةَ إِلَّا مَنِ ٱتَّخَذَ عِندَ ٱلرَّحْمَٰنِ عَهْدًا ﴿٨٧﴾ وَقَالُوا۟ ٱتَّخَذَ ٱلرَّحْمَٰنُ
وَلَدًا ﴿٨٨﴾ لَّقَدْ جِئْتُمْ شَيْـًٔا إِدًّا ﴿٨٩﴾ تَكَادُ ٱلسَّمَٰوَٰتُ يَتَفَطَّرْنَ مِنْهُ وَتَنشَقُّ ٱلْأَرْضُ وَتَخِرُّ ٱلْجِبَالُ هَدًّا ﴿٩٠﴾ أَن
دَعَوْا۟ لِلرَّحْمَٰنِ وَلَدًا ﴿٩١﴾ وَمَا يَنۢبَغِى لِلرَّحْمَٰنِ أَن يَتَّخِذَ وَلَدًا ﴿٩٢﴾ إِن كُلُّ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ إِلَّآ ءَاتِى ٱلرَّحْمَٰنِ
عَبْدًا ﴿٩٣﴾ لَّقَدْ أَحْصَىٰهُمْ وَعَدَّهُمْ عَدًّا ﴿٩٤﴾ وَكُلُّهُمْ ءَاتِيهِ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ فَرْدًا ﴿٩٥﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

ٱلصَّٰلِحَٰتِ سَيَجْعَلُ لَهُمُ ٱلرَّحْمَٰنُ وُدًّا ﴿٩٦﴾ فَإِنَّمَا يَسَّرْنَٰهُ بِلِسَانِكَ لِتُبَشِّرَ بِهِ ٱلْمُتَّقِينَ وَتُنذِرَ بِهِۦ قَوْمًا لُّدًّا ﴿٩٧﴾ وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّن قَرْنٍ هَلْ تُحِسُّ مِنْهُم مِّنْ أَحَدٍ أَوْ تَسْمَعُ لَهُمْ رِكْزًۢا ﴿٩٨﴾ ﴾مريم: ٦٦ - ٩٨

مناسبت اوتړاو:

کله چې الله جل جلاله دځينو انبياو وعليهم السلام کيسې دپنداوعبرت لپاره يادې کړې اوبنسټيز مقصدورڅخه پدې سورت کې دالله جل جلاله دقدرت څرګندونه اوداچې احياء اوفناداالله په واک کې ده اودقيامت ورځ ارومرو راتلونکې ده نودلته الله تعالی دځينومکذبينوشکونه اوشبهې راوړې چې دوی دبعث اونشورپه هکله شکمن ووخوالله ددوی دغه تردید په څرګندو دلائلو اوکوټلې برهانونوسره ردوي اوپه پای کې سورت دنېکمرغه اوبدمرغه خلګوعاقبت اوبرخه ليک بيانوي.

لغتونه:

(جثيا) په ځنګنونو ناست ته وايې اودادهغه وېرېدونکې ناسته ده چې له سخت هول اوهيبت څخه خوار، ذليل اوترهېدلی ناست وي (عتيا) سرغړوني اوله حق څخه تمردته وايې (ندي) نادي اودقوم داجتماع اومشورې ځای ته ويل کېږي. جوهري وايې چې (ندی) مجلس اودخبروځای ته وايه شي کله چې خلک ورڅخه تيت اوپرک شي بيا(نادي) او(ندي) نه بلل کېږي (١) (اثاثا)دکورسامان (رئيا) ښکلي منظر(تزهم)(أز)تېرايستلواوپارولوته وايې دلغت پوهان وايې چې: أز، هز، اواستفزازدرې سره نژدې اومطلب يې په خپل ټول توان سره راپارول اوتهيج دی ځکه نودچيلم خوځښت اوايشېدلوته (أزيز المرجل) وايې (وفدا) دوافدجمع اوهغه مېلمانه ته چې له عزت اومکرمت سره راځي وايې (وردا) پلي، تږي امام رازي وايې چې: (ورد) تږي ته وايې ځکه څوک چې اوبوته راځي هغه تږی وي (٢) (إدّا) سخت بد جوهري وايې چې (اد) ځوراسترا ومهم له فضاعت څخه ډک امراوچاري ته وايې (ركزا) کرار اوآرام ته ويل کېږي.

دنزول سبب يې:

خباب بن ارت رضی الله عنه وايې چې زه پښ (آهنګر) وم زماپه عاص بن وائل پورباندي وودهغه دغوښتلولپاره ورته راغلم راته ويل يې زمادي په الله سوګندوي که به يې درکړم ترڅوچې په محمد (صلی الله عليه وسلم) باندي کافرشوی نه يې ماورته وويل: زمادي په الله سوګندوي که به ورباندي کافرشم چې ته زماپه وړاندي مړ شې اوبيارا ژوندی شې (اوداخومحال دی) هغه راته وويل: که چېرې زه مړشوم اوبيا راپاڅېدلم اوماهمدغه مهال مال اودولت درلودبيابه يې درکړم نوالله جل جلاله دآيتونه نازل کړل ﴿ أَفَرَءَيْتَ ٱلَّذِى كَفَرَ بِـَٔايَٰتِنَا وَقَالَ لَأُوتَيَنَّ مَالًا وَوَلَدًا ﴾(٣).

---

(١) الصحاح للجوهري

(٢) التفسير الكبير ٢١/ ٢٥٢

(٣) بخاري اومسلم اسباب النزول وګورئ ص: ١٧٣

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

تفسير:

﴿ وَيَقُولُ ٱلْإِنسَٰنُ أَءِذَا مَا مِتُّ لَسَوْفَ أُخْرَجُ حَيًّا ﴾ اووايي انسان (هغه كافرچي له بعثه منكروي) آيا كله چي زه مرشم نوخامخا ژربه راوايستلی شم (له ځمكي) ژوندی ؟ دغه داستبعاد اوانكارپه توګه وايي چي آياكله چي زه خاوري ايرې شم بيابه له قبره ژوندی راپاځم؟ ابن كثيروايي چي هغه تعجب كوي اوله مرګه وروسته راژوندی كېدل ليري اومستبعدبولي (١) د(لسوف) په كلمه كي لام دانكار د مبالغې لپاره راغلی دی اوداهغه انكاردی چي منشاء يې دانسان له غفلت څخه ده هغه غفلت چي له لومړني پيدا ايښت څخه يې لري چي څرنګه وو اوڅوك وو؟ اوكه په يادېې ولري نوبيابه وپوهېږي چي بيرته راپاځېدل ترلومړني پيدا ايښت خوراآسانه دی ﴿ أَوَلَا يَذْكُرُ ٱلْإِنسَٰنُ أَنَّا خَلَقْنَٰهُ مِن قَبْلُ وَلَمْ يَكُ شَيْـًٔا ﴾ آيانه يادوي (دغه منكر) انسان (داخبره) چي بېشكه موږدي پخواله دې پيداكړي وواوهغه هيڅ شی نه وو(بلكه عدم وو)نوهغه ذات چي له عدم څخه په خلقت قادروي هغه به په اعاده ولي قادرنه وي ؟ ځيني علماوو ويلي دي كه ګردخلك دبعث په هكله ديودليل په راوړلوسره راغونډ شي په داسي لنډ ګنډ ډول به يې رانه وړي لكه چي دلته راغلی ځكه پدې كي خوشك نشته چي: دوهم ځل اعاده تر لومړي ځل ايجادخوراآسانه ده(٢) اوددې مثال دالله داقول هم دی چي: ﴿ فَوَرَبِّكَ لَنَحْشُرَنَّهُمْ وَٱلشَّيَٰطِينَ ﴾ پس ستاپه رب قسم دی (ای محمده!)چي خامخاراجمع به كړو موږ هرومرو دوی اوشيطانان(هغه چي دوی يې ګمراه كړي وو) مفسرين كرام وايي چي: هركافربه له شيطان سره په ځنځېرتړلی را حاضرولی شي ﴿ ثُمَّ لَنُحْضِرَنَّهُمْ حَوْلَ جَهَنَّمَ جِثِيًّا ﴾ بيابه خامخارا حاضركړوموږ هرومرو دوی چاپېرله دوزخه په ګونډوپراته (له زياته هيبته او وېري ولاړېدلای به نشي ځكه سختي اودهشت به نيولي وي ﴿ ثُمَّ لَنَنزِعَنَّ مِن كُلِّ شِيعَةٍ أَيُّهُمْ أَشَدُّ عَلَى ٱلرَّحْمَٰنِ عِتِيًّا ﴾ بيابه خامخاوباسو له هري ډلي نه هغه ددوی چي ډېرسخت دی په رحمان ذات باندي له جهته دسركښي ؛ اومقصددادی چي له دغو مجرمينوڅخه به هغه مخكښ ددوی وارپه وارپه دوزخ كي غورځول كېږي كوم چي ډېر سرغړونكی وي هغه به لومړی اوورپسې به بيابل بدمعاش اوزړه ور ددوی ور اچول كېږي ابن مسعودوايي چي هر څوك ډېرمجرم وي هغه به لومړی ورغورځول كېږي ﴿ ثُمَّ لَنَحْنُ أَعْلَمُ بِٱلَّذِينَ هُمْ أَوْلَىٰ بِهَا صِلِيًّا ﴾ بيا خامخا موږ ښه عالم يو پرهغوكسانوچي دوی ښه لائق دی له دغه دوزخ سره دغورزولو سوځولو، داخلولو (او هغوی چي د زيات عذاب وړ اومستحق دي نوبه پرهغوی پيل كوو ﴿ وَإِن مِّنكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا ﴾ اونشته هيڅوك له تاسي مګرچي دی وارد ېدونكی نتوتونكی دی دغه ته (مؤمن دتېرېدلو لپاره اوكافرپكي د لوېدلو لپاره) ﴿ كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ حَتْمًا مَّقْضِيًّا ﴾ دی دغه (عبور) ورود

---

(١) المختصر ٢/ ٤٦٠

(٢) الفخرالرازي ٢١/ ٢٤١

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

(على النار) په رب ستايقيني حكم پرې کړل شوی[1] (چي خلاف يې ممکن نه دی) ﴿ ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِينَ اتَّقَوا ﴾ بيابه نجات ورکړو (له دوزخ څخه) هغو کسانوته چي پرهېزګاري يې کړي ده وروسته له تېرېدلودتولونه ﴿ وَنَذَرُ الظَّالِمِينَ فِيهَا جِثِيًّا ﴾ اوپرې به ږدوظالمان په دوزخ کي پرګونډوپرېوتلي. بيضاوي وايې چي: په آيت شريف کي دادليل شته چي مقصدله ورودڅخه خواوشاددوزخ په ګونډو کېدل دي وروسته به بيالله مؤمنانوته نجات ورکړي اوجنت ته به لاړشي اوفجاربه په خپل شکل هماغسي پاتي شي ﴿ وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ ﴾ اوکله چي ولوستل شي پردوی آيتونه (دقرآن) زموږپدې حال کي چي ښکاره واضح وي (اعجاز او معاني دهغوی) ﴿ قَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا أَيُّ الْفَرِيقَيْنِ خَيْرٌ مَقَامًا وَأَحْسَنُ نَدِيًّا ﴾ وايې: هغه کسان چي کافران شوي دي هغوکسانوته چي ايمان يې راوړی دی چي کوم يوله دغو دواړوفرقوڅخه بهتره غوره دي له جهته دمقامه اوډېرښه دی له جهته دمجلسه) يعني کافران اوسرغړونکي فاسقان به بېوزله مؤمنانوته وايې چي له موږاوتاسودواړو ډلوڅخه موږ ښه اوغوره يوکه تاسي ؟ زموږعيش اوعشرت اوقصرونه اوښکلې اودهستوګنځي اوخبروځايونه خوتر تاسوډېرښه دي. بيضاوي وايې چي: کله به مشرکينو قرآني آيات واورېدل اوله معارضې څخه به يې عاجزشول نوبه يې په دنياوي ژونداو ښکلا ويارل او پدې به يې دليل نيول چي موږبه په آخرت کي هم ترتاسوغوره يوڅکه ددوی نظرکوتاه وو[2] الله تعالی وفرمايل ﴿ وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّن قَرْنٍ هُمْ أَحْسَنُ أَثَاثًا وَرِئْيًا ﴾ اوڅومره (ډېر) هلاک کړي دي موږپخواله دوی نه له (اهل د) زمانې چي هغوی ښه ووله جهته دسامانونواوډول سينګاراومنظرې ؛ نوهمداسي به هم دوی هلاک کړم دوی دي پخپلونعمتونواوسامانونونه تېروزي ﴿ قُلْ مَن كَانَ فِي الضَّلَالَةِ فَلْيَمْدُدْ لَهُ الرَّحْمَٰنُ مَدًّا ﴾ (ووايه (ای محمده !دوی ته) هرڅوک چي په ګمراهي کي وي پس اوږدوي (زياتوي) ده ته رحمان په زياتولو (دمال اوعمر) سره) يعني ای محمده دغوګمان کونکو مشرکانوته ووايه له موږ اوتاسونه څوک چي) په ګمراهي کي دی الله ورته درازوالی اومهلت ورکوي اوپه همدغه نود تهديد اووعيد وروستی پړاودی ﴿ حَتَّىٰ إِذَا رَأَوْا مَا يُوعَدُونَ إِمَّا الْعَذَابَ وَإِمَّا السَّاعَةَ ﴾ تر هغه پوري چي وګوري دوی هرهغه شی چي وعده ورسره کړل شوي وي (دهغه) ياعذاب (په دنيا کي په قتل اوبند) او ياقيامت چي دآخرت عذاب اوکړاوونه اوسختي دي ﴿ فَسَيَعْلَمُونَ مَنْ هُوَ شَرٌّ مَّكَانًا وَأَضْعَفُ جُندًا ﴾ نوژربه پوه شي (دوی په هغه وخت کي چي) څوک دی هغه ډېربدله جهته دځای اوډېرضعيف له جهته دپوځ (اوملګرو مرستندويانو

---

(١) علماء کرام دورود په معناکي اختلاف لري عبدالله بن عباس رضی الله عنه وايې چي له ورودڅخه مراددخول دی ګواکي هيڅ بر اوفاجربه پاتي نشي څوپدې دوزخ کي نه ننوزي نوبيابه په مؤمنانوسوړاوسلام شي لکه چي په ابراهيم (عليه السلام) شوی وو ابن مسعوداوقتاده وايې چي مرادله ورودڅخه تېرېدل دي چي په صراط دپاسه به تېرېږي ښايې چي دغه ترټولوسم تعبيردی. أجارنالله من نارجهنم – الله مودي د دوزخ له اوره وژغوري.

(٢) البيضاوي ٢-١٩

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

آیاکفاردي اوکه مؤمنان؟ اوداددوی دهغي ویناپه مقابله کي چي دوی به ویل ﴿ خَيْرٌ مَّقَامًا وَأَحْسَنُ نَدِيًّا ﴾ ﴿ وَيَزِيدُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ٱهْتَدَوْا۟ هُدًى ﴾ اوزیاتوي الله (په دنیاکي) هغو کسانوته چي سمه صافه لاره یې موندلي وي هدایت ، ثبات اویقین (ایمان) ﴿ وَٱلْبَٰقِيَٰتُ ٱلصَّٰلِحَٰتُ خَيْرٌ عِندَ رَبِّكَ ثَوَابًا ﴾ اوباقي (تلپاتي دجزاء په اعتبار) نېک عملونه غوره دي په نزددرب ستاله جهته د ثوابه ﴿ وَخَيْرٌ مَّرَدًّا ﴾ اوغوره بهتر دی له جهته دبیرته ورتللو؛ ځکه ددنیانعمتونه زائل اودآخرت تلپاتي اودائم دي ﴿ أَفَرَءَيْتَ ٱلَّذِى كَفَرَ بِـَٔايَٰتِنَا وَقَالَ لَأُوتَيَنَّ مَالًا وَوَلَدًا ﴾ آیاپس لیدلی دی تاهغه څوک چي کفریې غوره کړی دی په آیتونو زموږ اووایې خامخاراکول کېږي (په آخرت کي) ماته مال اواولاد) دغه آیت د(عاص بن وائل) په هکله رانازل شوی (١) استفهام دتعجب لپاره دی یعني تعجب وکړه ای محمده له حاله دهغه کافره چي زموږ په آیاتوایمان نلري اوګمان کوي چي الله به په آخرت کي هم ورته مال اوزوی اولوربښي ﴿ أَطَّلَعَ ٱلْغَيْبَ أَمِ ٱتَّخَذَ عِندَ ٱلرَّحْمَٰنِ عَهْدًا ﴾ آیاخبرشوي دي دغه کافرپه غیب؟ یا اخیستي ده د رحمن په نزدوعده (چي په یقین اوباورسره خبره کوي ؟ ﴿ كَلَّا ۚ سَنَكْتُبُ مَا يَقُولُ ﴾ نه دی داسي (چي دی وایې) موږلیکوهغه چي دی وایې ﴿ كَلَّا ﴾ دردع توری دی اوزجر ورکاوه شي یعني دغه فاجردي له دغي ویناخوله ونیسي موږ دده وینالیکو ﴿ وَنَمُدُّ لَهُۥ مِنَ ٱلْعَذَابِ مَدًّا ﴾ (اووبه غځوو ده ته له عذابه په غځولو) یعني ده ته به عذاب زیات اواوږد کړو اودابه دده د سرغړوني او استهزاء جزآء وي ده ته به پرځای دمال اواولاد عذاب ورزیات کړو ﴿ وَنَرِثُهُۥ مَا يَقُولُ وَيَأْتِينَا فَرْدًا ﴾ او په میراث به اخلو (له ده په مرګ سره) هغه (مال اولاد) چي (دی بې دځان) وایې او راځي موږته یواځي (چي نه به ورسره مال اودولت، نه اولادونه اونه هم مرستندوی اوسند وي) ﴿ وَٱتَّخَذُوا۟ مِن دُونِ ٱللَّهِ ءَالِهَةً لِّيَكُونُوا۟ لَهُمْ عِزًّا ﴾ اونیولي دي کفاروغیرله الله نه (باطل) معبودان ددې لپاره چي دوی ته د عزت سبب شي ﴿ كَلَّا ۚ سَيَكْفُرُونَ بِعِبَادَتِهِمْ وَيَكُونُونَ عَلَيْهِمْ ضِدًّا ﴾ نه ده داسي (لکه چي دوی بې ګني) بلکه ژربه منکرشي (دغه معبودان) په عبادت ددوی اوشي به دغه (معبودان) پردغو (عابدانو) خپلو دښمنان (په قیامت کي) ﴿ أَلَمْ تَرَ أَنَّآ أَرْسَلْنَا ٱلشَّيَٰطِينَ عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ تَؤُزُّهُمْ أَزًّا ﴾ آیانه ګورې ، نه یې خبر (ای محمده !) بېشکه موږ لېږلي مسلط کړي مودي شیطانان پرکافرانوباندي چي اوچتوي تېزوي دوی په تېزولوباندي (په ګناه کولو) امام رازي وایې: یعني په ګناه کولوبې تېرباسي اوهڅوي یې وسوسې اوسوچونه وراچوي ترڅودګناه مرتکب شي (٢) ﴿ فَلَا تَعْجَلْ

---

(١) اسباب النزول وګورئ.
(٢) التفسیرالکبیر٢١ / ٢٥٢

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

عَلَيْهِمْ ۖ إِنَّمَا نَعُدُّ لَهُمْ عَدًّا ﴾پس تلوارمه کوه پردوی (په ژرهلاکت یې)بېشکه همداخبره ده چي شمېرو موږدوی ته (ورځي دعمرد دوی) په شمارولوسره یعني ددوی یوځو ورځي اوانفاس پاتي دي بیابه سخت عذاب وروَوینو. عبدالله ابن عباس رضی الله عنه وایې چي ددوی ساګاني همداسي په دنیاکي شمېرولکه چي کلونه یې شمېرو (۱) ﴿يَوْمَ نَحْشُرُ ٱلْمُتَّقِينَ إِلَى ٱلرَّحْمَٰنِ وَفْدًا ﴾(یادکړه هغه ورځ چي جمع به کړو پرهېزګاران سواره مېلمانه بللي شوي) یعني کله چي پرهېزګاران په اوښانوسپاره له عزت اومکرمت سره خپل پروردګارته لکه چي عزتمن مېلمانه پاچهانوته وردرومي راشي اودکرم اوانعام سترګي په لاره وي ﴿ وَنَسُوقُ ٱلْمُجْرِمِينَ إِلَىٰ جَهَنَّمَ وِرْدًا ﴾اوشړو(په سختي سره) مجرمان (طرف د) دوزخ ته (دحیواناتوپه شان) پلي (پیاده) تږي (لکه اوښان) په حدیث شریف کي راځي دآخرت په ورځ به خلک په درې ډوله راپاڅېږي (راټولېږي) یوه ډله هغه چي وېرېدونکي ﷺ.هیله من دي ، بله ډله هغه چي دوه به په یوه اوښ سپاره وي درې به په اوښ سپاره وي ، څلوربه په اوښ سپاره وي (آن چي) لس به په اوښ سپاره وي نورپاتي به اورته کشول کېږي چي قیلوله کوي هم به اور ورسره وي اوکه شپه تېروي هم به اور ورسره ملګری وي (۲)﴿ لَّا يَمْلِكُونَ ٱلشَّفَٰعَةَ ﴾نه مالکان کېږي دشفاعت (دهیچا نه دوی دچا شفاعت کولای شي اونه نورڅوک ددوی شفاعت کوي ﴿ إِلَّا مَنِ ٱتَّخَذَ عِندَ ٱلرَّحْمَٰنِ عَهْدًا ﴾مګرهغه څوک چي اخیستی یې دی په نزددرحمن وعده (په شفاعت مجازوي) دلته استثناء منقطع دی یعني هغه څوک چي مؤمن وي اودنېک عمل خاوندوي هغه د شفاعت مالک دی . ابن عباس رضی الله عنهما وایې چي: دعهدمعنادشهادت کلمه ده چي : (أشهدان لااله الاالله) ﴿ وَقَالُوا۟ ٱتَّخَذَ ٱلرَّحْمَٰنُ وَلَدًا ﴾اووایې (یهوداونصاراوهغه چي په ملائکودالله دلونوګمان کوي) نیولی دی رحمن ولد(زوی لور) ﴿ لَّقَدْ جِئْتُمْ شَيْـًٔا إِدًّا ﴾خامخاراتله کړي دي تاسي په یوشي لوی سره له حیثیته دګناه یعني اې مشرکانو دخوراشنیع ویناکونکي یاست چي ﴿ تَكَادُ ٱلسَّمَٰوَٰتُ يَتَفَطَّرْنَ مِنْهُ ﴾ نژدې دی چي آسمانونه وچوي له دې (نسبته) ﴿ وَتَنشَقُّ ٱلْأَرْضُ وَتَخِرُّ ٱلْجِبَالُ هَدًّا ﴾او (نژدې دی) چي توټې توټې شي ځمکه او ولوېږي غرونه ذرې ذرې ﴿ أَن دَعَوْا۟ لِلرَّحْمَٰنِ وَلَدًا ﴾(له جهته د دې چي بولي دوی رحمان ته ولد(زوی او لور) ﴿ وَمَا يَنۢبَغِى لِلرَّحْمَٰنِ أَن يَتَّخِذَ وَلَدًا ﴾ او داولد(نیول له الله سره نه ښایي) ځکه ولدخوهمجنس والی غواړي اوداړتیاله مخي وي اوالله پاک خوله سیال اومثال نه پاک اوله احتیاج اواړتیاڅخه منزه دی ﴿ إِن كُلُّ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ إِلَّآ ءَاتِى ٱلرَّحْمَٰنِ عَبْدًا ﴾نه دي ټول هغه (ګرد شیان) چي پدې آسمانواوځمکه کي دي مګررحمان ته راتلونکي دي په دغه حال کي چي بنده وي هریوددوی .

---

(۱) القرطبي ۱۱/ ۱۵۰
(۲) أخرجه الشيخان.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

﴿ لَّقَدْ أَحْصَىٰهُمْ وَعَدَّهُمْ عَدًّا ﴾خامخا په تحقيق احاطه کړي ده (الله) دوی لره (په علم خپل هيڅ چاره يې ورڅخه پټه نه ده) اوشمېرلي دي الله دوی ټول (من حيث الاشخاص والانفاس والافعال) په شمېر لوسره ﴿ وَكُلُّهُمْ ءَاتِيهِ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ فَرْدًا ﴾اوداټول چي دي راتلونکي دي دغه (الله) ته په ورځ دقيامت کي يوازي (بې له ماله اومرستندويه اوساتونکي څارندويه) ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ سَيَجْعَلُ لَهُمُ ٱلرَّحْمَٰنُ وُدًّا ﴾بېشکه هغه کسان چي ايمان يې راوړی دی او کړي يې دي ښه (عملونه) ژربه وګرزوي دوی ته رحمان دوستي) کله چي الله دمجرمينوحال ذکر کړ ورپسې يې د مؤمنانوبيان وفرمايوچي الله به ددې صالحانوبندګانوپه زړونوکي مينه اومحبت وا چوي. ربيع وايې معناداچي الله به يې محبوب وګني اودنوروپه زړونوکي به ې هم مينه ور واچوي ﴿ فَإِنَّمَا يَسَّرْنَٰهُ بِلِسَانِكَ لِتُبَشِّرَ بِهِ ٱلْمُتَّقِينَ وَتُنذِرَ بِهِۦ قَوْمًا لُّدًّا ﴾پس بېشکه همدا خبره ده چي آسان کړی دی موږ دغه (قرآن)ستاپه ژبه (چي عربي دی) دپاره ددې چي زېری ورکړې په دې سره پرهېزګارانو (مؤمنانو) ته اوچي ووېروې پدې سره جګړه کونکی قوم (معاندين جګړه ماران) ﴿ وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّن قَرْنٍ ﴾اوڅومره ډېرهلاک کړي دي موږپخواله دوی نه (اهل د) زمانې (چي دوی د خپلو انبياوو تکذيب کاوو(کم) دلته دتکثيرلپاره راغلی دی ﴿ هَلْ تُحِسُّ مِنْهُم مِّنْ أَحَدٍ أَوْ تَسْمَعُ لَهُمْ رِكْزًۢا ﴾(آيامحسوسوې ته (مومې،وينې) له دوی نه يوتن ياوورې له دوی نه کوم نرم غږهم) معنا دا چي دوی هسي يومخ ايزه هلاک شول چي ټول پوپنا اودځمکي مخ څني خلاص شونولکه چي هغوی موهلاک کړل همداسي به دغه مشرکان هم هلاک کړم.

بلاغت:

پدې آيتونوکي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته لنډيزيې دادی:

١- ذکردعام اواراده دخاص لکه چي فرمايې: ﴿ وَيَقُولُ ٱلْإِنسَٰنُ ﴾مرادله انسان څخه کافردی ځکه هغه له نشور اوله بعث څخه منکردی.

٢- دطباق صنعت چي د ﴿مِتُّ ..حَيًّا ﴾او ﴿لِتُبَشِّرَ..وَتُنذِرَ ﴾ترمينځ دی.

٣- دتوبيخ اوانکارلپاره استفهام لکه ﴿أَوَلَا يَذْكُرُ ٱلْإِنسَٰنُ ﴾؟.

٤- لطيفه مقابله لکه دمتقينواومجرمينواوابرارواشرارو ترمينځ چي فرمايې: ﴿ يَوْمَ نَحْشُرُ ٱلْمُتَّقِينَ إِلَى ٱلرَّحْمَٰنِ وَفْدًا ﴾ ﴿ وَنَسُوقُ ٱلْمُجْرِمِينَ إِلَىٰ جَهَنَّمَ وِرْدًا ﴾.

٥- غيرتام جناس لکه: ﴿وَفْدًا...وِرْدًا ﴾چي دوهم توری يې توپيرلري.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

٦ - مرتب لف اونشرلکه پدې کلام کي چي﴿ شَرٌّ مَّكَانًا وَأَضْعَفُ جُندًا ﴾چي لومړی يې ﴿ خَيْرٌ مَّقَامًا ﴾اودوهم يې ﴿ وَأَحْسَنُ نَدِيًّا ﴾ته راجع کړی دی اوهمداسي د ﴿ خَيْرٌ شَرٌّ ﴾ترمينځ طباق هم راغلی دی.

٧ - عقلی مجازچي فرمايې : ﴿سَنَكْتُبُ مَا يَقُولُ ﴾يعني موږپرښتوته دليکلوحکم ورکوو دلته ديوڅيزاسناد خپل سبب ته دی.

٨ -ښايسته سجع لکه په ﴿ عَبْدًا ....عَدًّا ....فَرْدًا ....وُدًّا ﴾کي چي دغه بديعي محسنات ګڼل کېږي.

فائده:

امام مسلم په خپل صحيح کي له ابوهريرة رضی الله عنه څخه روايت راوړی چي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: چي کله الله تعالی يوبنده محبوب وګڼي نوجبريل (عليه السلام) راوبولي ورته فرمايي چي ماته فلاني سړی محبوب دی ته هم ورسره مينه لره جبريل (عليه السلام) ته محبوب شي اوبيادآسمان په خلګو کي هسي غږ وکړي چي فلان سړی دالله محبوب دی تاسي هم ورسره محبت وکړئ نودآسمان مخلوق ټول ورسره محبت پيل کړي (دحديث ترپايه) اوهم دغه دالله جل جلاله ددې قول مصداق دی چي فرمايي ﴿ سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمَٰنُ وُدًّا ﴾.

لطيفه:

روايت کېږي چي مأمون يوه ورځ دغه آيت لوست چي: ﴿ فَلَا تَعْجَلْ عَلَيْهِمْ إِنَّمَا نَعُدُّ لَهُمْ عَدًّا ﴾اود ده په مجلس کي يوه ډله فقهاناست ووچي ابن سماک هم پکې وو نومأمون ورته اشاره وکړه چي نصيحت دي وکړي هغه وويل چي: کله ساه ګاني په شماروي اومرستندوی يې ناچاروي ژوندبه يې ژرتمام شي اودی به خواروي.

دالله جل جلاله په مرسته دمريم سورت بشپړشو.

***

دطه سورت مکي دی اويوسل اوپنځه دېرش آيتونه لري

دسورت په وړاندي:

دطه سورت دنورومکي سورتونوپه شان موخي اواهداف په ګوته کوي مقصديې ددين دبنسټونو ټينګول دي چي توحيد ،نبوت اوبعث نشورپيانوي.

* پدې سورت کي درسول الله صلی الله عليه وسلم دشخصيت دملاتړڅرګندونه اودهغه دروح تقويت کېږي ترڅوپه هغه څه غمجن نشي چي له مشرکانوڅخه کړاوونه ، دوکې ، ملنډي اوډول ډول تورونه ورته رسېږي اوسورت پيغمبرخپلي اساسي دندي ته متوجه کوي کومه چي تبليغ اوارشاددی ،ياهم دمشرکانوانذاراومؤمنانوته بشارت ورکول دي اودادده کارنه دی چي خلګ په جبري توګه په ايمان وپسولي (سينګارکړي).

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

* په سورت کي ځيني داسي دانبياووکيسې راځي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ډاډينه ورکړي اوپاکيزه زړه يې مطمئن کړي نودموسى عليه السلام او ورور يې هارون عليه السلام کيسه په تفصيلي توګه راوړي چي له يوجابراوسرغړونکي فرعون سره يې مقابله ده اونژدې ګردسورت پدې هکله دی اوپه ځانګړي توګه دحضرت موسى مناجات چي له خپل پرودګارسره يې درلوديا هغه چي الله جل جلاله دی په پيغمبري غوره کاوواويايې له فرعون سره مقابله وه، ياهم داچي له کوډګرانوسره يې سيالي لرله نوځکه ددې کيسې په ترڅ کي دالله جل جلاله مرسته اوپاملرنه چي له خپل نبي اوکليم سره يې درلوده څلېږي اوهمداسي د الله ددښمنانودهلاکت اومجرمينو دتباهي يادونه کېږي

* په دې سورت کي په ځغلنده نظردآدم عليه السلام کيسه هم راځي چي دالله تعالى رحمت دهغه عليه السلام په ګناه خپرېږي اوبيادآدم داولادونودهدايت ذريعه دانبياوو رااستول چي مبشرين او منذرين وي ښيي چي بنيادمانوته اختيار ورکول شوی چي يوه لاره سمه دشراويا خيرغوره کړي دسورت په ځينوارخونوکي دقيامت ځيني مشاهد په داسي عباراتوسره راځي چي کائنات اوزړونه لړزوي اوپه خلکوباندي حيرانتيا اوترهه راولي چي فرمايي: ﴿ وَخَشَعَتِ ٱلْأَصْوَاتُ لِلرَّحْمَٰنِ فَلَا تَسْمَعُ إِلَّا هَمْسًا ﴾.

* سورت دمحشردورځي صحنه ستايي کله چي عادلانه حساب ترسره کېږي طاعت کونکي مؤمنان جنت ته درومي اوسرغړونکي بيادوزخ ته اوداالله هغه ژمنه اووعده ده چي هيڅکله پکي خلاف نه راځي کومه چي فرمايلي يې دي: الله به مؤمنانوته ثواب اومجرمانوته عذاب ورکوي.

په پای کي سورت هغه الهي لارښووني درسول الله لپاره بيانوي کومي چي الله خپل استازي ته دصبر، زغم مارېينه کوي ترڅوچي دالله مرسته راشي.

تسميه اونومول يې:

دغه سورت ته ځکه (طه) وايې چي دغه درسول الله صلى الله عليه وسلم له نومونوڅخه يونوم دی اودهغه دخوشامندي اوتطيب القلب لپاره يي په دغه نامه سورت ونوماووچي دزړه آرام اواطمينان بياتر لاسه کړي ځکه له دښمنانوڅخه يې زيات کړاوونه وګالل همداسبب دی چي په لومړي پيل کي رسول الله ته په نرمي اوپسته لهجه غږکوي فرمايي: ﴿ طه ۝١ مَآ أَنزَلْنَا عَلَيْكَ ٱلْقُرْءَانَ لِتَشْقَىٰٓ ﴾.

الله تعالى فرمايي:

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ طه ۝١ مَآ أَنزَلْنَا عَلَيْكَ ٱلْقُرْءَانَ لِتَشْقَىٰٓ ۝٢ إِلَّا تَذْكِرَةً لِّمَن يَخْشَىٰ ۝٣ تَنزِيلًا مِّمَّنْ خَلَقَ ٱلْأَرْضَ وَٱلسَّمَٰوَٰتِ ٱلْعُلَى ۝٤ ٱلرَّحْمَٰنُ عَلَى ٱلْعَرْشِ ٱسْتَوَىٰ ۝٥ لَهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَمَا تَحْتَ ٱلثَّرَىٰ ۝٦ وَإِن تَجْهَرْ بِٱلْقَوْلِ فَإِنَّهُۥ يَعْلَمُ ٱلسِّرَّ وَأَخْفَى ۝٧ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ لَهُ ٱلْأَسْمَآءُ ٱلْحُسْنَىٰ ۝٨ وَهَلْ أَتَىٰكَ حَدِيثُ مُوسَىٰٓ ۝٩ إِذْ رَءَا نَارًا فَقَالَ لِأَهْلِهِ ٱمْكُثُوٓا۟ إِنِّىٓ ءَانَسْتُ نَارًا لَّعَلِّىٓ ءَاتِيكُم مِّنْهَا بِقَبَسٍ أَوْ أَجِدُ عَلَى ٱلنَّارِ هُدًى ۝١٠ فَلَمَّآ أَتَىٰهَا نُودِىَ يَٰمُوسَىٰٓ ۝١١ إِنِّىٓ أَنَا۠ رَبُّكَ فَٱخْلَعْ نَعْلَيْكَ ۖ إِنَّكَ بِٱلْوَادِ ٱلْمُقَدَّسِ طُوًى ۝١٢ وَأَنَا ٱخْتَرْتُكَ فَٱسْتَمِعْ لِمَا يُوحَىٰٓ ۝١٣

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

إِنَّنِيٓ أَنَا ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعْبُدْنِي وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِذِكْرِيٓ ﴿١٤﴾ إِنَّ ٱلسَّاعَةَ ءَاتِيَةٌ أَكَادُ أُخْفِيهَا لِتُجْزَىٰ كُلُّ نَفْسٍۭ
بِمَا تَسْعَىٰ ﴿١٥﴾ فَلَا يَصُدَّنَّكَ عَنْهَا مَن لَّا يُؤْمِنُ بِهَا وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ فَتَرْدَىٰ ﴿١٦﴾ وَمَا تِلْكَ بِيَمِينِكَ يَٰمُوسَىٰ ﴿١٧﴾
قَالَ هِيَ عَصَايَ أَتَوَكَّؤُا۟ عَلَيْهَا وَأَهُشُّ بِهَا عَلَىٰ غَنَمِي وَلِيَ فِيهَا مَـَٔارِبُ أُخْرَىٰ ﴿١٨﴾ قَالَ أَلْقِهَا يَٰمُوسَىٰ ﴿١٩﴾ فَأَلْقَىٰهَا
فَإِذَا هِيَ حَيَّةٌ تَسْعَىٰ ﴿٢٠﴾ قَالَ خُذْهَا وَلَا تَخَفْ ۖ سَنُعِيدُهَا سِيرَتَهَا ٱلْأُولَىٰ ﴿٢١﴾ وَٱضْمُمْ يَدَكَ إِلَىٰ جَنَاحِكَ تَخْرُجْ
بَيْضَآءَ مِنْ غَيْرِ سُوٓءٍ ءَايَةً أُخْرَىٰ ﴿٢٢﴾ لِنُرِيَكَ مِنْ ءَايَٰتِنَا ٱلْكُبْرَى ﴿٢٣﴾ ٱذْهَبْ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ إِنَّهُۥ طَغَىٰ ﴿٢٤﴾ قَالَ رَبِّ ٱشْرَحْ لِي
صَدْرِي ﴿٢٥﴾ وَيَسِّرْ لِيٓ أَمْرِي ﴿٢٦﴾ وَٱحْلُلْ عُقْدَةً مِّن لِّسَانِي ﴿٢٧﴾ يَفْقَهُوا۟ قَوْلِي ﴿٢٨﴾ وَٱجْعَل لِّي وَزِيرًا مِّنْ أَهْلِي ﴿٢٩﴾ هَٰرُونَ أَخِي ﴿٣٠﴾
ٱشْدُدْ بِهِۦٓ أَزْرِي ﴿٣١﴾ وَأَشْرِكْهُ فِيٓ أَمْرِي ﴿٣٢﴾ كَيْ نُسَبِّحَكَ كَثِيرًا ﴿٣٣﴾ وَنَذْكُرَكَ كَثِيرًا ﴿٣٤﴾ إِنَّكَ كُنتَ بِنَا بَصِيرًا ﴿٣٥﴾ قَالَ قَدْ
أُوتِيتَ سُؤْلَكَ يَٰمُوسَىٰ ﴿٣٦﴾ وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلَيْكَ مَرَّةً أُخْرَىٰٓ ﴿٣٧﴾ إِذْ أَوْحَيْنَآ إِلَىٰٓ أُمِّكَ مَا يُوحَىٰٓ ﴿٣٨﴾ أَنِ ٱقْذِفِيهِ فِي ٱلتَّابُوتِ
فَٱقْذِفِيهِ فِي ٱلْيَمِّ فَلْيُلْقِهِ ٱلْيَمُّ بِٱلسَّاحِلِ يَأْخُذْهُ عَدُوٌّ لِّي وَعَدُوٌّ لَّهُۥ ۚ وَأَلْقَيْتُ عَلَيْكَ مَحَبَّةً مِّنِّي وَلِتُصْنَعَ عَلَىٰ عَيْنِيٓ ﴿٣٩﴾ إِذْ
تَمْشِيٓ أُخْتُكَ فَتَقُولُ هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَىٰ مَن يَكْفُلُهُۥ ۖ فَرَجَعْنَٰكَ إِلَىٰٓ أُمِّكَ كَيْ تَقَرَّ عَيْنُهَا وَلَا تَحْزَنَ ۚ وَقَتَلْتَ نَفْسًا فَنَجَّيْنَٰكَ
مِنَ ٱلْغَمِّ وَفَتَنَّٰكَ فُتُونًا ۚ فَلَبِثْتَ سِنِينَ فِيٓ أَهْلِ مَدْيَنَ ثُمَّ جِئْتَ عَلَىٰ قَدَرٍ يَٰمُوسَىٰ ﴿٤٠﴾ ﴾ طه: ١ - ٤٠

لغتونه:

(بقبس) قبس داورشغلې ته وايې (المقدس) پاک اومبارک (طوى) دکندي (خوړ) نوم دی(فتردى) وبه لوېږې هلاک به شې (أهش) راخنډم دونوپاڼې (مآرب) حاجتونه (اړتياوې) (جناحک) وزرستا اړخونه اودانسان وزردانسان څنګونه اومتې دي چې دمرغه له وزروسره مشابه دي (أزرى) قوت زمالکه چې دقرآن بل ځای آيت دی ﴿ فَآزَرَهُۥ فَٱسْتَغْلَظَ ﴾(اليمّ) بحر(تقرّعينها) چې خوشحاله شي په وصال يې سترګې ددې

تفسير:

﴿ طه مَآ أَنزَلْنَا عَلَيْكَ ٱلْقُرْءَانَ لِتَشْقَىٰٓ ﴾(ندی نازل کړی موږپرتاباندي قرآن ددې دپاره چې پخپل ځان مشقت محنت بارکړې) طه ، مقطعات حروف اوتوري دي چی دقرآنکريم اعجازته اشاره کوي (١) ابن عباس رضی الله عنه وايې چې: معنايې ده ياسړيه ! روايت کېږي چې کله په رسول الله صلی الله عليه وسلم باندي قرآنکريم نازل شو نوده اوملګروبه يې لمونځ کاووقيام به يې اوږدکړ چې قريشوبه ويل: دغه قرآن په محمدباندي ددې لپاره نازل شوی چې هغه په تکليف کړي نوپورتني آيت نازل شو(٢)﴿ إِلَّا تَذْكِرَةً لِّمَن يَخْشَىٰ ﴾مګرپند لپاره دهغه چاچې وېرېږي (له الله) ؛ اوهغه مؤمن مسلمان دی چې دايمان په ځلامنوروي.﴿ تَنزِيلًا مِّمَّنْ خَلَقَ ٱلْأَرْضَ وَٱلسَّمَٰوَٰتِ ٱلْعُلَى ﴾(نازل شويدی) (په نازلېدلوله طرفه د(هغه) الله چې

---

(١) دسورة البقرة پيل وګورئ! .

(٢) دغه دضحاک وينادهاوزادالمسيروګوره ٥ / ٣٦٨

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

پیداکړي یې ده ځمکه اوآسمانونه لوړلوړ) په آیت شریف کي دالله له عظمت ، جبروت اوجلال څخه اخبار راغلی دی یعني هغه دځمکي ، کائناتواولوړوآسمانونوپنځونکي اوخالق رانازل کړی دی په البحرکي وایې چي دآسمانونو ستایل په لوړوالي دالله په سترقدرت اوعظمت دلیل دی ځکه له الله پرته دبل هیچادداسي لوړوآسمانونوپیداکول په توان کي نه راځي (١)﴿ ٱلرَّحْمَٰنُ عَلَى ٱلْعَرْشِ ٱسْتَوَىٰ ﴾(دغه دځمکي اوآسمانونوخالق چي دجمال اوکمال په صفاتوموصوف رحمن دی) پرعرش باندي استوآء فرمایلي ده؛ داسي استواء چي دالله له جلال سره ښایي بې له تجسیم ، تشبیه ,تعطیل اوتمثیل نه لکه چي دسلفومذهب دی (٢)﴿ لَهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَمَا تَحْتَ ٱلثَّرَىٰ ﴾خاص الله لره دي هغه شیان چي په آسمانونوکي دي اوهغه چي په ځمکه کي دي اوهغه شیان چي په مینځ ددوی کي دي اوهغه چي له لمدې ځمکي څخه لاندي دي (له کانونواوخزانوڅخه داټول دالله ملکیت اودده ترتصرف لاندي دي) ﴿ وَإِن تَجْهَرْ بِٱلْقَوْلِ فَإِنَّهُۥ يَعْلَمُ ٱلسِّرَّ وَأَخْفَى ﴾اوکه جهرکوې په ویناسره (ای محمده !) نوبېشکه دغه (الله) عالم دی په پټه خبره اوپه ډېرپټه ؛ یعني الله جل جلاله ته په زوره اوپټه وینا دواړه برابردي الله په پټه اوترپټه لاهاخواباندي هم لکه وسوسه ښه پوهېږي مقصدله دې آیت شریف څخه درسول الله صلی الله علیه وسلم تسلیت اوډاډینه ده چي الله جل جلاله له ده سره دی هرڅه اوري او له سره به یې یوازي نه پرېږدي نوکه یې په لوړآوازبولې اوکه ټیټ اواز الله ته خوکراراوترکرارهم زیات پټ کلام ښکاره دی اوکله چي زړه دالله جل جلاله په دومره نزدېکت خبرشي چي الله دبنده په ټولو پټورازونو خبردی نوتسلیت اوآرامي ورته راځي اوویاړي ﴿ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ لَهُ ٱلْأَسْمَآءُ ٱلْحُسْنَىٰ ﴾(الله (چي دی) نشته بل معبودبرحق مګریوازي هم دی دی خاص هم ده لره شته نومونه نېک(چي نهایته ښکلي دي . په حدیث شریف کي راځي: دالله نه نوي نومونه دي څوک چي یې وګني (وشمېري) جنت ته به داخل شي (٣)﴿ وَهَلْ أَتَىٰكَ حَدِيثُ مُوسَىٰٓ ﴾اوآیاراغلي ده تاته کیسه دموسی؟ استفهام دتقریرلپاره دی اوغرض تشویق دی یعني ای محمده ! آیاتاته دموسی علیه السلام عجیبه کیسه رسېدلي ده؟ ﴿ إِذْ رَءَا نَارًا فَقَالَ لِأَهْلِهِ ٱمْكُثُوٓا۟ إِنِّىٓ ءَانَسْتُ نَارًا ﴾کله چي ولید (موسی) اورنووې ویل: اهل خپل (مېرمني) ته واوسئ (تاسي دلته) بېشکه ماولیدیواور) ابن عباس رضی الله عنه وایې چي داهغه مهال ووچي دشعیب (علیه السلام) موده یې بشپړه کړه اوله مدین څخه دمصرپه لور ولېږدېدونودژمي تکه توره شپه وه لاره یې ورکه کړي وه ډېري یې سره وهلې اورځیني نه بلېدوپه همدې ترڅ کي یې دلاري له لیري چپ (کیڼ) لورته اور ولیدګمان یې کاووچي دغه به اوروي هغه دالله جل شانه نور وو ﴿ لَّعَلِّىٓ ءَاتِيكُم مِّنْهَا بِقَبَسٍ أَوْ أَجِدُ عَلَى ٱلنَّارِ هُدًى ﴾ښایي مالره چي زه له هغه اوره راوړم تاسي ته کومه لګولي لمبه (چي تاوده شئ) یا پیدا کړم زه

---

(١) البحر٦ / ٢٣٢

(٢) دسلف صالحینووینا وي په الاعراف اوالرعد سورت کي ولوله.

(٣) أخرجه الترمذی .

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

په اورباندي لاربنونکی (چي لیاره راوښیي) ﴿ فَلَمَّآ أَتَىٰهَا نُودِيَ يَٰمُوسَىٰٓ إِنِّيٓ أَنَا۠ رَبُّكَ فَٱخۡلَعۡ نَعۡلَيۡكَۖ ﴾ (پس کله چي راغی هغه (اورته) نوغږورته وکړای شوچي ای موسی !(۱) بېشکه زه چي یم ستا رب یم پس وباسه (له دواړوپښو) پنې خپلي) یعني کله چي داورځای ته راغی که ګوري تک سپین اورپه زرغونه ونه کي بلېږي اوپروردګار یې موسی ته ناري کړې چي ای موسی زه ستاپروردګار درسره خبري کوم دادب له مخي پنې دي له پښو وباسه اورامخ ته شه ﴿ إِنَّكَ بِٱلۡوَادِ ٱلۡمُقَدَّسِ طُوًى ﴾ بېشکه ته چي یې دطوی په پاکه کنده کي یې ﴿ وَأَنَا ٱخۡتَرۡتُكَ فَٱسۡتَمِعۡ لِمَا يُوحَىٰٓ ﴾ اوما غوره کړی یې ته په رسالت پس غوږ کېږده ته هغه حکم ته چي وحی کېږي (تاته) یعني ماته دنبوت لپاره غوره کړی یې نوڅه چي درته وحی کوم ورته غوږکېږده امام رازي وایې چي: پدې کي خورازیات هیبت اوجلال دی لکه چي ورته وایې: تاته خوراسترمهم کاراوچاره درکړل شوه پاڅه اودهغه لپاره په بشپړعقل اوخاطر تیارشه(۲) ﴿ إِنَّنِيٓ أَنَا ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعۡبُدۡنِي ﴾ بېشکه زه چي یم هم دازه الله یم نشته لائق دعبادت بل هیڅوک مګرهم دازه یم پس زماعبادت کوه (یوازي) ﴿ وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِذِكۡرِيٓ ﴾ اوسم دروه (اداکوه) لمونځ زمادیادوني لپاره. دمجاهدوینادہ وایې: کله چي لمونځ وکړي الله یې یادشي ځکه لمونځ په اذکارومشتمل دی (۳) صاوي وایې چي لمونځ یې ځکه ځانګړی کړکه څه هم په نوروعباداتوکي ذکر راتو ځکه چي شان یې ستراوذکرپکي شامل دی چي زړه ژبه اوګرد اندامونه په ذکر اخته وي اوله توحیدڅخه وروسته دټولو ارکانوافضل همدالمونځ دی (۴) ﴿ إِنَّ ٱلسَّاعَةَ ءَاتِيَةٌ أَكَادُ أُخۡفِيهَا ﴾ (بېشکه قیامت راتلونکی دی زه اراده لرم چي پټ کړم دغه (وخت دراتلود قیامت) یعني قیامت خامخا راتلونکی دی زه غواړم چي هغه له ځانه هم پټ کړم نوتاسوبه ورباندي څرنګه خبرکړم (۵) مبردوایې چي: دغه دعربو له دودسره سم ویلی شوی دی چي به کله دیوڅیزپه بېخي پټولواصرارکاوونوبه یې ویل چي: زه یې له ځانه هم پټوم یعني هیڅوک نه ورباندي خبروم ﴿ لِتُجۡزَىٰ كُلُّ نَفۡسِۭ بِمَا تَسۡعَىٰ ﴾ لپاره د دې چي جزاورکول شي هرنفس ته په هغوعملونوچي کوي یې (له خیراو شرڅخه) مفسرین کرام وایې چي: دقیامت اومرګ دپټولوحکمت دادی چي الله فیصله کړي چي دقیامت په راتلواودزنکندن په شیبوکي توبه نه منل کېږي نوکه خلګ

---

(۱) شهید سید قطب الله دي په خپل رحمت کي ونغاړي اوقاتلان دي الله له رحمته وشړي په دې ځای کي لیکي: کله چي دغه مشهدیوڅوک تصورکړي موسی علیه السلام په دښته بېدیاکي چي هره خواتکه توره شپه خوره ده اوتاریکي ټول کائنات پټ کړي ووچوپه چوپتیاده ، زړه چوي اوبدن لړزېږي موسی داورپه لټه کي دطورپه لوري درومي اوناڅاپه دده خواوشا ګرد موجودات اوخپل وجود ددغي علوي نداسره هم غږي کېږي چي فرمایې: ﴿ إِنِّيٓ أَنَا۠ رَبُّكَ فَٱخۡلَعۡ نَعۡلَيۡكَۖ إِنَّكَ بِٱلۡوَادِ ٱلۡمُقَدَّسِ طُوًى ﴾ الظلال ۵ / ۲۷

(۲) الرازي ۲۲ / ۱۹

(۳) نفس المرجع .

(۴) حاشیة الصاوي علی الجلالین .

(۵) دغه دمجاهدوینادہ ابن عباس هم داسي وایې اوطبري غوره کړي ده اودا ارجح دی په دې ځای کي نورتفسیرونه هم راغلي چي ضعیف معلومېږي. البحرالمحیط ۲ / ۲۳۲

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

دقيامت اومرگ راتگ وپېژني گناهونه به کوي ترڅوبيا د قيامت ، يامرگ ترراتلوڅوشيبي مخکي توبه وباسي نوبه له عذاب څخه ځانونه خلاص کړي خوالله دا پټ کړي دي چي خلگ تل ترتله په وېره کي وي اوتيارسئ اوسي چي مرگ اوقيامت ورته راتلونکی دی ښايي نابېره راشي ﴿ فَلَا يَصُدَّنَّكَ عَنْهَا مَن لَّا يُؤْمِنُ بِهَا ﴾ پس نه دي بندوي نه دي منع کوي تاخامخا (ای موسی)له باورکولوپه دې) هغه څوک چي په هغه ايمان نلري ﴿ وَاتَّبَعَ هَوَاهُ فَتَرْدَىٰ ﴾ اومتابعت کوي دخواهشاتوخپلو(که منع راوړي) پس ته به هلاک شې (ځکه له آخرت څخه غفلت دهلاکت مستلزم دی ﴿ وَمَا تِلْكَ بِيَمِينِكَ يَا مُوسَىٰ ﴾ اودغه په ښي لاس کي دي څه شی دی ای موسی(آيالکړه نه ده؟ مقصدله استفهام څخه تقريراو راوينبول بيدارول دي چي اوس به عجيبه يوڅه پېښېدونکي وي چي له وچي کلکي لکړي څخه به ښامارجوړېږي اودموسی لپاره به دالهي قدرت ښوونه اوڅرگند ه معجزه وي . ابن کثيروايې چي: دغه استفهام يې دتقريرپه ډول وفرمايوچي آيادغه په ښي لاس کي دي هغه لکړه نه ده چي ته يې ښه پېژني نواوس به ژر ووينې چي موږڅه شی ورڅخه جوړوو؟ (١)﴿ قَالَ هِيَ عَصَايَ أَتَوَكَّأُ عَلَيْهَا ﴾نوويل موسی دازما(همساده چي پرې تکيه کوم (دتللوپه وخت کي)﴿ وَأَهُشُّ بِهَا عَلَىٰ غَنَمِي ﴾اوڅنډم په دې سره (پاڼي دونو) پرگډو پسوزما(چي ويې خوري) ﴿ وَلِيَ فِيهَا مَآرِبُ أُخْرَىٰ ﴾اودي ماته په دغه همسا کي نورډېرمطالب اومنافع (له دې نه پرته هم. مفسرين کرام وايې: داکافي ووچي ويلي يې وای دغه زمالکړه ده خوکلام يې اوږدکړځکه دغه ځای داوږدولودخبرو ووچي له خپله پروردگارسره يې بلاواسطه خبري کولې نويې په ځواب کي وغوښتل زياتوالی راوړي ترڅودخطاب په زياتوالي خوند واخلي دحبيب خبري خوږې خوندوري اودستوماني ليري کونکي هوسايې راولي ﴿ قَالَ أَلْقِهَا يَا مُوسَىٰ ﴾ بياوفرمايل: (الله) چي ای موسی دغه (همسا) وغورځوه !(چي ووينې څه ترې جوړېږي؟ ﴿ فَأَلْقَاهَا فَإِذَا هِيَ حَيَّةٌ تَسْعَىٰ ﴾پس وغورځوله دا(همسا) پس ناڅاپه دامار وو ژوندی چي منډي يې وهلې (خورا تېزي) ابن عباس رضی الله عنه وايې چي دغه همسانربنامار وگرزېده چي ډېري اوونږ يې خوړلې او کله چي موسی عليه السلام وليدله چي هرڅه ترستوني تېروي نوځني ووېرېدواوپه تېښ ته ځني روان شو(٢) مفسرين کرام وايې چي کله يې دغه هېښونکي پېښه وليدله نوهغه څه سره مخ شوچي د داسي ليدلوپه وخت کي بشرورسره مخامخ کېږي اووېرېږي په تېره بياچي داسي عجيب وېرونکي حيرانونکي چاره وي چي عقل يې دليدلوپه وخت کي کارپرېږدي اودا چي دمناجات په وخت کي يې داسي معجزه ورونبودله ددې لپاره چي ورسره روږدی شي اوبيابه د فرعون په وړاندي دغورځولوپه وخت کي له دې څخه نه وېرېږي ﴿ قَالَ خُذْهَا وَلَا تَخَفْ ﴾بياوفرمايل: (الله موسی ته) ونيسه دا (همسا) اومه وېرېږه (ترې) !.

---

(١) المختصر٢/٤٧٢

(٢) القرطبي١١/١٩٠

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

﴿ سَنُعِيدُهَا سِيرَتَهَا ٱلْأُولَىٰ ﴾ژربه وګرزوو موږ دغه همساهمغه رومبني شکل خپل ته (چي لکړه او نوبي ونيوله اولکړه شوه) ﴿ وَٱضْمُمْ يَدَكَ إِلَىٰ جَنَاحِكَ تَخْرُجْ بَيْضَآءَ مِنْ غَيْرِ سُوٓءٍ ﴾اوپيوست کړه لاس خپل تخرګ خپل ته حال داچي راوبه وزي تک سپين بې له عيبه يعني ښى لاس دي په تخرګ کي دننه کړه چي لکه دلمرغوندي روښانه راوزي بې له دې چي کوم عيب يابرګ والى ولري. ابن کثيروايې چي کله به يې لاس په ګرېوان کي دننه کړاوبيابه يې بهر راويوست لکه د سپوږمۍ توته غوندي به ځلېدو نه به پکې کوم عيب اونه مشقت وو(١)﴿ ءَايَةً أُخْرَىٰ ﴾ حال داچي دغه بله معجزه ده (پرته له لکړي دوهمه ده) ﴿ لِنُرِيَكَ مِنْ ءَايَٰتِنَا ٱلْكُبْرَى ﴾لپاره ددې چي وښيو تاته ځيني له هغومعجزاتوچي ډېري لويي دي ؛ الله جل جلاله دوې معجزې ورونبودلې چي عصا او لاس وو اودغه ځيني دهغومعجزاتووې چي الله تعالى دده تائيدورباندي فرمايلى وواوبيايې دکفراوطغيان مخکښ فرعون ته دمخامخ کېدوامرورکړچي ﴿ ٱذْهَبْ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ إِنَّهُۥ طَغَىٰ ﴾لاړشه فرعون ته(سره له دغو معجزاتو) بېشکه چي هغه باغي شوى دى (له حده يې تجاوزکړى اودالوهيت دعوى يې کړي ده ﴿ قَالَ رَبِّ ٱشْرَحْ لِى صَدْرِى وَيَسِّرْ لِىٓ أَمْرِى ﴾وويل (موسى) اى زماربه زماسينه پرانيزه ارته کړه (په نور دايمان اونبوت) مالره اوآسان کړه ماته دغه مهم امرزما(چي تبليغ دى اودعرت دى اوتا ور باندي کمارلى يم) ﴿ وَٱحْلُلْ عُقْدَةً مِّن لِّسَانِى يَفْقَهُوا۟ قَوْلِى ﴾اوپرانيزه غوټه زماله ژبي چي خلک زماپه خبرو وپوهېږي ؛ مفسرين کرام وايې چي: موسى عليه السلام په ماشومتوب کي دفرعون په کورکي ژوند کاوويوه ورځ فرعون هغه په خپله غيږکى کښېناوو نوموسى عليه السلام دفرعون ږېره په لاس کي ونيوله اوهغه يې راکش کړه فرعون قصد وکړ چي هغه ووژني خوآسيه (رضي الله عنها) دده مېرمنې ورته وويل: چي داوړوکى دى نه پوهېږي اوزه به ددې سپيناوى درته وکړم (ده ته ستاد ږېري ملغلري ښې ښکاره شوې) که نه ده ته به ملغلري او سکروټي يوځاى وړاندي کړو که چېري يې له سکروټوځخه د ملغلرو غوراوى وکړنوبيا پوهېږي اوکه چېري يې سکروټوته لاس واچاوو نوبياوړوکى اوناپوه دى همداسي يې ده ته دوه سکروټي اودوه ملغلري وړاندي کړې هغه سکروټي ور واخيستلې اوپه خوله کي يې کښېښودې له دې کبله يې ژبه وسوځېده اوبيابه يې خبري سمي نشواى کولاى (٢)﴿ وَٱجْعَل لِّى وَزِيرًا مِّنْ أَهْلِى هَٰرُونَ أَخِى ٱشْدُدْ بِهِۦٓ أَزْرِى ﴾ او وګرزوه ماته يووزير (مرستندوى) له اهله زماهارون چي زما وروردى قوي کړه په ده سره زماملا ﴿ وَأَشْرِكْهُ فِىٓ أَمْرِى ﴾اوګډکړه دغه (هارون) (عليه السلام) له ماسره) په کارزماکي (چي نبوت او درسالت تبليغ دى) ﴿ كَىْ نُسَبِّحَكَ كَثِيرًا وَنَذْكُرَكَ كَثِيرًا ﴾ (دپاره ددې چي تسبيح ووايوستاډېره او يادووتاپه ذکرثناډېره) يعني ستاپه تنزيه له

---

(١) المحتصر٢ / ٤٧٣

(٢) طبرى وګوره.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

لايليق څخه يوله بله مرسته كوواوتاپه دعا او ثنا ډېر ياد كړو ﴿ إِنَّكَ كُنتَ بِنَا بَصِيرًا ﴾(بېشكه ته چي يې په (احوالو) زموږ ښه خبردار ليدونكى يې ؛ موسى عليه السلام له پروردګاره وغوښتل چي دخپل ورورپه ملګرتيايې ملا ورتينګه كړي ځكه هغه دژبي فصاحت اودزړه ثبات درلوداوموسى عليه السلام ته دفرعون جبر، تكبراوطغيان څرګندوو ﴿ قَالَ قَدْ أُوتِيتَ سُؤْلَكَ يَٰمُوسَىٰ ﴾(الله)وويل: په تحقيق دركړى شوي ده تاته غوښتنه ستا(اى موسى ؛ وروسته الله خپل ستر نعمتونه چي ده ته يې وركړي بيانوي فرمايي: ﴿ وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلَيْكَ مَرَّةً أُخْرَىٰ ﴾اوخامخاپه تحقيق موږ (احسان كړى ووپرتا يوبل كرت(پخواله دې نه) دا ﴿ إِذْ أَوْحَيْنَا إِلَىٰ أُمِّكَ مَا يُوحَىٰ ﴾كله چي موږ ستامورته (الهامًا) وحى كړي وه دغه چي اوس اور. اوه شي (اوستادنجات سبب شو) ﴿ أَنِ اقْذِفِيهِ فِي التَّابُوتِ فَاقْذِفِيهِ فِي الْيَمِّ ﴾چي وغورځوه دغه (موسى) په تابوت (صندوق) كي (بيا) وغورځوه دغه تابوت په (نيل) سيندكي (بياڅه وشو؟ اودچالاس ته به ورځي ؟) ﴿ فَلْيُلْقِهِ الْيَمُّ بِالسَّاحِلِ يَأْخُذْهُ عَدُوٌّ لِّي وَعَدُوٌّ لَّهُ ﴾ پس ودي غورځوي هغه صندوق لره سيند په غاړه خپله چي واخلي دغه (موسى) دښمن زما اودده (چي فرعون دى په البحركي وايې چي ﴿فَلْيُلْقِهِ ﴾امراومعنايې خبردى دامرپه صيغه ځكه راغى چي مبالغه پكې ده ځكه امرتر ټولوافعالوپرېكنده اولازم دى(١) ﴿ وَأَلْقَيْتُ عَلَيْكَ مَحَبَّةً مِّنِّي ﴾اواچولى مي ووپرتا مينه زماله لوري (چي نورېياټول خلك درسره مينه كوي (آن تردې چي فرعون هم درسره مينه كوله . ابن عباس رضى الله عنه وايې : الله خپل محبوب وګاڼه اوټولوخلكوته يې محبوب كړ ﴿ وَلِتُصْنَعَ عَلَىٰ عَيْنِي ﴾ اولپاره ددې چي ستاروزنه زماپه ليدوسره وشي ﴿ إِذْ تَمْشِي أُخْتُكَ فَتَقُولُ هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَىٰ مَن يَكْفُلُهُ ﴾ كله چي تله خورستا(دپلټني لپاره) پس وې ويل چي آيادلالت وكړم زه تاسي ته په هغه چاچي دده تربيت وكړي . مفسرين كرام وايې : كله چي دفرعون اهل هغه واخيست نوهغه دهيچاتى نه رودل ځكه الله مراضعې پردوى حرامي كړي وې اومورېې خوراپرېشانه پاتي وه اودموسى دلاري ځارني لپاره يې خپله لوروګومارله اوكله چي دفرعون كره ورغله اوحالت يې همداسي وليدنويې ورته وويل: زه يوه امينه فاضله ښځه دروښيم چي ددغه ماشوم دتي رودلوضمانت په خپله غاړه واخلي؟ اودده تكفل وكړي نوهغوى ورته ويل : ورشه رايې وله اودموسى عليه السلام موريې راوستله اوكله چي يې تى ورته را بهركړسمدستي يې په خوله كي ونيواودفرعون مېرمن خورازياته خوشحاله شوه هغې ته يې وويل: له موږ سره په قصركي اوسه مګردموسى مور ونه منله ويل يې زه نشم كولاى خپل كوراو اولادخوشى كړم خوزه به دغه راسره يوسم اوهروخت چي غواړئ تاسي ته به يې حاضروم نويې ورته وويل : ډېرښه دي وكړل اوپوره احسان يي ورباندي ولوراوو اوداداالله هغه ويناده چي : ﴿ فَرَجَعْنَاكَ إِلَىٰ أُمِّكَ كَيْ تَقَرَّ عَيْنُهَا وَلَا تَحْزَنَ ﴾پس بيرته موږته راوستې خپلي مورته ددې لپاره چي يخي (رنې) شي سترګي د دې اوخفه

١- البحر المحيط ٦-٢٤

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

نشي (ستاپه فراق) ﴿ وَقَتَلْتَ نَفْسًا فَنَجَّيْنَاكَ مِنَ الْغَمِّ ﴾ اومرکړی ووتایو (قبطي) سړی پس تا ته مو نجات درکړله غمه (دقتل اودفرعون له شرخخه مووژغورلې په صحیح مسلم کي راځي چي (دغه قتل د ده په خطاوو ﴿ وَفَتَنَّاكَ فُتُونًا ﴾ اوومي ازمویلې ته په (ډول ډول) ازموینې سره ﴿ فَلَبِثْتَ سِنِينَ فِي أَهْلِ مَدْيَنَ ﴾ پس واوسېدې ته څوکاله په اهل دمدین کي (له شعیب سره) ﴿ ثُمَّ جِئْتَ عَلَىٰ قَدَرٍ يَا مُوسَىٰ ﴾ بیا راغلې ته په هغه مقدار (موعداووخت) چي ما اندازه کړی وو یاموسی) لپاره درسالت او نبوت).

بلاغت:

پدې آیتونوکي چي دبدیع اوبیان کومي ښکلاوي دي لنډیزیې دادی:

١- تشویق اوداورېدلولپاره هڅونه چي فرمایې: ﴿ وَهَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ مُوسَىٰ ﴾.

٢- دطباق صنعت کله چي راځي: ﴿ قَالَ هِيَ عَصَايَ أَتَوَكَّأُ عَلَيْهَا وَأَهُشُّ بِهَا عَلَىٰ غَنَمِي ﴾ ځکه په ځواب کي خویوازي همداکافي ووچي ویلي یې وای ﴿ هِيَ عَصَايَ ﴾ خوځواب یې په خطاب باندي دتلذذ اوخونداخیستلولپاره پراخ او وېرکړ.

٣- پدې کلام کي چي فرمایې ﴿ وَاضْمُمْ يَدَكَ إِلَىٰ جَنَاحِكَ ﴾ اصلاخوجناح دمرغه وزر ته وایې اوبیایې دانسان دارخ اوتخرګ لپاره استعاره کړځکه ارخ دکوځرو اووزروپرځای وي نودواړه ځنګونه یې دوه وزرونه داستعارې په ډول ونومول

٤- داحتراس صنعت اوداهغه صنعت دی چي یوځیزپه داسي توګه راوړل اوبیان شي چي دغیر مقصدتوهم رفع کړي لکه دالله تعالی داویناچي: ﴿ بَيْضَاءَ مِنْ غَيْرِ سُوءٍ ﴾ که یوازي بیضاء یې فرمایلي وای نوبه ددې توهم کېدوچي له (برص) اوبرګ والي څخه ښایې سپین وي ځکه یې په ﴿ مِنْ غَيْرِ سُوءٍ ﴾ باندي دهغه احتراس وفرمایو.

٥- تمثیلي استعاره چي فرمایې: ﴿ وَلِتُصْنَعَ عَلَىٰ عَيْنِي ﴾ دایوهسي تمثیل دی چي نهایت زیات حفظ اوډېره پاملرنه پکي څرګندېږي ځکه دیوځیزساتونکی اوڅارونکی دډېري مودې لپاره هغه ته ګوري نودغه مثال یې دهغه چاغوندي راووړچي دسترګوپه وړاندي یې یوشی جوړېږي

٦- ښکلي سجع چي کلام ته جمال اوښکلا وربښي لکه دآیتونوپای چي: ﴿ لِتُشْقَىٰ .... يَخْشَىٰ .... وَأَخْفَىٰ .... تَسْعَىٰ ﴾ اونوردي.

فائده:

وایې چي هیڅ ورور دبل ورورلپاره داسي ګټه نه ده رسولي لکه چي موسی دخپل ورور هارون لپاره ورسوله له الله څخه یې وغوښتل چي دده وزیریې وټاکي اوپه رسالت یې ونازوي الله یې غوښتنه ومنله اومرسل نبي یې غوره کړ.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

تنبيه:

الله تعالى په موسى عليه السلام دځينو انعاماتو يادونه وکړه او شپږيې په ګوته کړل.

١ - دهغه مورته دا الهام چې صندوق جوړ او هغه پکې کېږدي ، نيل ته يې وغورځوي چې دفرعون په کورکې وروزل شي ﴿ إِذْ أَوْحَيْنَآ إِلَىٰٓ أُمِّكَ مَا يُوحَىٰٓ أَنِ ٱقْذِفِيهِ فِى ٱلتَّابُوتِ ﴾.

٢ - دمحبت او مينې اچول په هغه چې هرڅوک يې ووينې مينه به يې ورسره پيدا کېږي چې فرمايي: ﴿ وَأَلْقَيْتُ عَلَيْكَ مَحَبَّةً مِّنِّى ﴾.

٣ - دالله ساتنه او پاملرنه په حفظ او رعايت سره چې: ﴿ وَلِتُصْنَعَ عَلَىٰ عَيْنِىٓ ﴾.

٤ - خپلې مورته بيرته راستنول سره له انعامونو او عزتونو چې فرمايي: ﴿ فَرَجَعْنَٰكَ إِلَىٰٓ أُمِّكَ كَىْ تَقَرَّ عَيْنُهَا ﴾.

٥ - دموسى عليه السلام ژغورنه وروسته له هغه چې قبطي يې وواژه ﴿ فَنَجَّيْنَٰكَ مِنَ ٱلْغَمِّ ﴾.

٦ - دالله جل جلاله ورسره مخامخ خبرې کله چې له مدين څخه راستون شو او په رسالت باندې يې ونازاوه چې الله فرمايي: ﴿ ثُمَّ جِئْتَ عَلَىٰ قَدَرٍ يَٰمُوسَىٰ ﴾.

***

الله تعالى فرمايي:

﴿ وَٱصْطَنَعْتُكَ لِنَفْسِى ﴿٤١﴾ ٱذْهَبْ أَنتَ وَأَخُوكَ بِـَٔايَٰتِى وَلَا تَنِيَا فِى ذِكْرِى ﴿٤٢﴾ ٱذْهَبَآ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ إِنَّهُۥ طَغَىٰ ﴿٤٣﴾
فَقُولَا لَهُۥ قَوْلًا لَّيِّنًا لَّعَلَّهُۥ يَتَذَكَّرُ أَوْ يَخْشَىٰ ﴿٤٤﴾ قَالَا رَبَّنَآ إِنَّنَا نَخَافُ أَن يَفْرُطَ عَلَيْنَآ أَوْ أَن يَطْغَىٰ ﴿٤٥﴾ قَالَ لَا تَخَافَآ ۖ إِنَّنِى
مَعَكُمَآ أَسْمَعُ وَأَرَىٰ ﴿٤٦﴾ فَأْتِيَاهُ فَقُولَآ إِنَّا رَسُولَا رَبِّكَ فَأَرْسِلْ مَعَنَا بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ وَلَا تُعَذِّبْهُمْ ۖ قَدْ جِئْنَٰكَ بِـَٔايَةٍ
مِّن رَّبِّكَ ۖ وَٱلسَّلَٰمُ عَلَىٰ مَنِ ٱتَّبَعَ ٱلْهُدَىٰٓ ﴿٤٧﴾ إِنَّا قَدْ أُوحِىَ إِلَيْنَآ أَنَّ ٱلْعَذَابَ عَلَىٰ مَن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴿٤٨﴾ قَالَ فَمَن
رَّبُّكُمَا يَٰمُوسَىٰ ﴿٤٩﴾ قَالَ رَبُّنَا ٱلَّذِىٓ أَعْطَىٰ كُلَّ شَىْءٍ خَلْقَهُۥ ثُمَّ هَدَىٰ ﴿٥٠﴾ قَالَ فَمَا بَالُ ٱلْقُرُونِ ٱلْأُولَىٰ ﴿٥١﴾ قَالَ عِلْمُهَا عِندَ
رَبِّى فِى كِتَٰبٍ ۖ لَّا يَضِلُّ رَبِّى وَلَا يَنسَى ﴿٥٢﴾ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَرْضَ مَهْدًا وَسَلَكَ لَكُمْ فِيهَا سُبُلًا وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً
فَأَخْرَجْنَا بِهِۦٓ أَزْوَٰجًا مِّن نَّبَاتٍ شَتَّىٰ ﴿٥٣﴾ كُلُوا۟ وَٱرْعَوْا۟ أَنْعَٰمَكُمْ ۗ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّأُو۟لِى ٱلنُّهَىٰ ﴿٥٤﴾ ۞ مِنْهَا خَلَقْنَٰكُمْ وَفِيهَا
نُعِيدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرَىٰ ﴿٥٥﴾ وَلَقَدْ أَرَيْنَٰهُ ءَايَٰتِنَا كُلَّهَا فَكَذَّبَ وَأَبَىٰ ﴿٥٦﴾ قَالَ أَجِئْتَنَا لِتُخْرِجَنَا مِنْ أَرْضِنَا
بِسِحْرِكَ يَٰمُوسَىٰ ﴿٥٧﴾ فَلَنَأْتِيَنَّكَ بِسِحْرٍ مِّثْلِهِۦ فَٱجْعَلْ بَيْنَنَا وَبَيْنَكَ مَوْعِدًا لَّا نُخْلِفُهُۥ نَحْنُ وَلَآ أَنتَ مَكَانًا سُوًى
﴿٥٨﴾ قَالَ مَوْعِدُكُمْ يَوْمُ ٱلزِّينَةِ وَأَن يُحْشَرَ ٱلنَّاسُ ضُحًى ﴿٥٩﴾ فَتَوَلَّىٰ فِرْعَوْنُ فَجَمَعَ كَيْدَهُۥ ثُمَّ أَتَىٰ ﴿٦٠﴾ قَالَ لَهُم
مُّوسَىٰ وَيْلَكُمْ لَا تَفْتَرُوا۟ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا فَيُسْحِتَكُم بِعَذَابٍ ۖ وَقَدْ خَابَ مَنِ ٱفْتَرَىٰ ﴿٦١﴾ فَتَنَٰزَعُوٓا۟ أَمْرَهُم بَيْنَهُمْ وَأَسَرُّوا۟

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

ٱلنَّجْوَىٰ ﴿٦٢﴾ قَالُوٓا۟ إِنْ هَٰذَٰنِ لَسَٰحِرَٰنِ يُرِيدَانِ أَن يُخْرِجَاكُم مِّنْ أَرْضِكُم بِسِحْرِهِمَا وَيَذْهَبَا بِطَرِيقَتِكُمُ ٱلْمُثْلَىٰ ﴿٦٣﴾ فَأَجْمِعُوا۟
كَيْدَكُمْ ثُمَّ ٱئْتُوا۟ صَفًّا ۚ وَقَدْ أَفْلَحَ ٱلْيَوْمَ مَنِ ٱسْتَعْلَىٰ ﴿٦٤﴾ قَالُوا۟ يَٰمُوسَىٰٓ إِمَّآ أَن تُلْقِىَ وَإِمَّآ أَن نَّكُونَ أَوَّلَ مَنْ أَلْقَىٰ ﴿٦٥﴾
قَالَ بَلْ أَلْقُوا۟ ۖ فَإِذَا حِبَالُهُمْ وَعِصِيُّهُمْ يُخَيَّلُ إِلَيْهِ مِن سِحْرِهِمْ أَنَّهَا تَسْعَىٰ ﴿٦٦﴾ فَأَوْجَسَ فِى نَفْسِهِۦ خِيفَةً مُّوسَىٰ ﴿٦٧﴾ قُلْنَا لَا تَخَفْ
إِنَّكَ أَنتَ ٱلْأَعْلَىٰ ﴿٦٨﴾ وَأَلْقِ مَا فِى يَمِينِكَ تَلْقَفْ مَا صَنَعُوٓا۟ ۖ إِنَّمَا صَنَعُوا۟ كَيْدُ سَٰحِرٍ ۖ وَلَا يُفْلِحُ ٱلسَّاحِرُ حَيْثُ أَتَىٰ ﴿٦٩﴾ فَأُلْقِىَ
ٱلسَّحَرَةُ سُجَّدًا قَالُوٓا۟ ءَامَنَّا بِرَبِّ هَٰرُونَ وَمُوسَىٰ ﴿٧٠﴾ قَالَ ءَامَنتُمْ لَهُۥ قَبْلَ أَنْ ءَاذَنَ لَكُمْ ۖ إِنَّهُۥ لَكَبِيرُكُمُ ٱلَّذِى عَلَّمَكُمُ ٱلسِّحْرَ ۖ
فَلَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُم مِّنْ خِلَٰفٍ وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ فِى جُذُوعِ ٱلنَّخْلِ وَلَتَعْلَمُنَّ أَيُّنَآ أَشَدُّ عَذَابًا وَأَبْقَىٰ ﴿٧١﴾ قَالُوا۟ لَن
نُّؤْثِرَكَ عَلَىٰ مَا جَآءَنَا مِنَ ٱلْبَيِّنَٰتِ وَٱلَّذِى فَطَرَنَا ۖ فَٱقْضِ مَآ أَنتَ قَاضٍ ۖ إِنَّمَا تَقْضِى هَٰذِهِ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَآ ﴿٧٢﴾ إِنَّآ ءَامَنَّا بِرَبِّنَا
لِيَغْفِرَ لَنَا خَطَٰيَٰنَا وَمَآ أَكْرَهْتَنَا عَلَيْهِ مِنَ ٱلسِّحْرِ ۗ وَٱللَّهُ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰٓ ﴿٧٣﴾ إِنَّهُۥ مَن يَأْتِ رَبَّهُۥ مُجْرِمًا فَإِنَّ لَهُۥ جَهَنَّمَ لَا يَمُوتُ فِيهَا
وَلَا يَحْيَىٰ ﴿٧٤﴾ وَمَن يَأْتِهِۦ مُؤْمِنًا قَدْ عَمِلَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَأُو۟لَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱلدَّرَجَٰتُ ٱلْعُلَىٰ ﴿٧٥﴾ جَنَّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ
خَٰلِدِينَ فِيهَا ۚ وَذَٰلِكَ جَزَآءُ مَن تَزَكَّىٰ ﴿٧٦﴾ ﴾ طه: ٤١ - ٧٦

مناسبت او تړاو:

کله چې الله دخپل هغه نعمت یادونه وکړه چې دموسی علیه السلام دعابې ومنله نودلته یې دهغه غوراوی اورسالت بیان کړ اوورته یې مارېینه وکړه چې له خپله وروره سره فرعون ته لاړشه اوالله ته یې راوبوله بیایې هغه ماجراء ذکرکړه چې ددوی ترمینځ وه اوپایله یې داچې کوډګرانوایمان راوړالله ته سرپه سجده پرېوتل.

لغتونه:

(اصطفیتک) غوره اوچاڼ مي کړې ته داصطناع اصلي معنایوچاته دخیررسول دي (تنیا) له (ونی) څخه اخیستل شوی کمزوري اوسُستیاته وایې (یفرط) تلواره کوې زموږعذاب ته اوله همدې کلمې څخه (فارط) اخیستل شوی چې هغه چاته وایې ترنورورومبی اوبوته درومي (یسحتکم) له بېخه ایستلو او اصل یې دوېښتانوپه بېخ خرېیلوته ویل کېږي، بیاپه هلاکت اوله منځه تللوکي استعمال شواو(سحت) حرام مال ته څکه وایې چې انسان په هلاکت کي غورځوي (النجوی) پټې خبري کول (اوجس) پټ په زړه کي وېرېدلوته وایې.

تفسیر:

﴿ وَٱصْطَنَعْتُكَ لِنَفْسِى ٱذْهَبْ أَنتَ وَأَخُوكَ بِـَٔايَٰتِى ﴾ اوجوړکړی (غوره کړی) مي یې دخپل ځان لپاره (په رسالت اووحی) لاړشه ته (ای موسی) اوستا ورورپه معجزاتوزما؟. مفسرین کرام وایې چې مراد دلته له معجزوڅخه یدبیضااوعصادي چې الله موسی علیه السلام ته ورکړي وو ﴿ وَلَا تَنِيَا فِى ذِكْرِى ﴾ اوزماپه یادکي سستي مه کوئ. ابن کثیروایې: معناداچې دالله له یاداوتسبیح څخه مه سُستېږئ بلکه دفرعون سره دمخامخ کېدوپه وخت کي الله یادوئ چې ستاسولپاره مرسته اوقوت وي اود فرعون دماتي لپاره

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

وسله وي(١) ﴿ ٱذْهَبَآ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ إِنَّهُۥ طَغَىٰ ﴾ لاړشئ (تاسي دواړه) فرعون ته بېشکه چي دی باغي شوی دی په دعوی دالوهیت سره (اودسرغړوني وروستي حدته رسېدلی دی) ﴿ فَقُولَا لَهُۥ قَوْلًا لَّيِّنًا لَّعَلَّهُۥ يَتَذَكَّرُ أَوْ يَخْشَىٰ ﴾ پس ده ته ووایاست خبر پسته ښائېږي چي دی پندواخلي ، یاووېرېږي (د الله عظمت ورپه یادشي اوله عذابه یې ووېرېږي نوبه له طغیانه راوګرزي ﴿ قَالَا رَبَّنَآ إِنَّنَا نَخَافُ أَن يَفْرُطَ عَلَيْنَآ أَوْ أَن يَطْغَىٰ ﴾ وویل: (دواړو ورونو) موسی اوهارون) ای زموږ ربه بېشکه موږ وېرېږو چي تلوار به وکړي زموږ په عقوبت سره اویابه لانافرمان شي له موږ اوله حدڅخه به (موږ ته په بدویلوکي) تجاوزوکړي ﴿ قَالَ لَا تَخَافَآ إِنَّنِى مَعَكُمَآ أَسْمَعُ وَأَرَىٰ ﴾ وفرمایل: (الله) مه وېرېږئ تاسي دواړه بېشکه زه له تاسي سره یم (په مرسته اوملتیا) آورم اووینم (دده خواب چي تاسو ته یې کړي اوهغه چي پر تاسوڅه کوي) ﴿ فَأْتِيَاهُ فَقُولَآ إِنَّا رَسُولَا رَبِّكَ ﴾ پس ورشئ (تاسي دواړه) دده ته اوورته ووایاست چي بېشکه موږ ستادرب استازي یو؛ دلته د ﴿ رَبِّكَ ﴾ لفظ ځانګړتیا ددې لپاره ده چي ورته وښیي هغه (فرعون) بنده دی مملوک دی اوهغه خودالوهیت دعوی کړي وه ﴿ فَأَرْسِلْ مَعَنَا بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ وَلَا تُعَذِّبْهُمْ ﴾ نوولېږه (ای فرعونه) له موږسره بني اسرائیل اودوی مه په عذابوه (په سختیوتکالیفوسره خوشي یې کړه چي له موږسره لاړشي ﴿ قَدْ جِئْنَٰكَ بِـَٔايَةٍ مِّن رَّبِّكَ ﴾ په تحقیق موږ تاته سره له معجزې ستادرب له لوري راغلي یو(چي زموږپه رښتنولي دلالت کوي) ﴿ وَٱلسَّلَٰمُ عَلَىٰ مَنِ ٱتَّبَعَ ٱلْهُدَىٰٓ ﴾ اوسلامتي ده (له عذابه په هغه چاچي دسمي صافي لاري متابعت وکړي (په الله ایمان راوړي مفسرین کرام وایې چي په دغه سلام سره تحیه مرادنه وه ځکه دغه دخطاب پیل نه وو بلکه مقصد دالله له عذابه اوغضبه سلامتیا وه ﴿ إِنَّا قَدْ أُوحِىَ إِلَيْنَآ أَنَّ ٱلْعَذَابَ عَلَىٰ مَن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴾ بېشکه موږچي یوپه تحقیق وحی کړی شوي ته موږته چي بېشکه عذاب په هغه چادی چي تکذیب کوي (دنبیانو) اومخ اړوي(له ایمانه) ﴿ قَالَ فَمَن رَّبُّكُمَا يَٰمُوسَىٰ ﴾ نو وویل: (فرعون) پس څوک دی رب ستاسوای موسی؟ (زه یې نه پېژنم هسي یې ونه ویل: چي زمارب څوک دی ؟ داهم دزیات طغیان اوجبروت له مخي بلکه موسی اوهارون ته یې درب نسبت وکړچي ﴿ رَّبُّكُمَا ﴾ یې وویل ﴿ قَالَ رَبُّنَا ٱلَّذِىٓ أَعْطَىٰ كُلَّ شَىْءٍ خَلْقَهُۥ ثُمَّ هَدَىٰ ﴾ وویل: (موسی) زموږرب هغه ذات دی چي ورکړی یې دی هرڅیزته (له مخلوقاتو صورت شکل دده ، بیایې لیاره هم ورښودلي ده (لپاره دمنافعواومصلحتونو دده؛ داهسي ځواب دی چي نهایت ښکلی ډول بلاغت اوبیان پکي اداء شوی دی چي ډېرلنډاوګردو موجوداتوته شامل دی اوپه تحقیق سره الله سترګي ته هسي هیئت ورکړی چي دهغې له لیدلوسره موافق دي غوږونوته هسي چي له اورېدلوسره برابردی او همداسي لاس، پښې ، پوزه . ژبه

(١) المختصر ٢ / ٤٨٢

اونورتول غړي. زمخشري وايې چې خيراوبرکت پدې ځواب که څوک يې په سوچ اوغورانصاف سره وګوري څومره لنډاوبشپړراوړل شوی دی؟ ﴿ قَالَ فَمَا بَالُ ٱلْقُرُونِ ٱلْأُولَىٰ ﴾ وويل: (فرعون) پس څه حال وود پخوانيو خلګو(چې هلاک شوي دي؟ ولې راونه پاڅېدل اوحساب، کتاب ورسره ونشو؟ که چېرې ستاخبرې حق وي ابن کثيروايې: چې کله موسی عليه السلام ورته وويل: چې رب مې هغه څوک دی چې دی رااستولی هغه ذات دی چې پيداکونکی، روزي رسان اوتقديرورسره دی نوفرعون په تېروامتونو دليل نيول پيل کړل لکه چې وايې دهغوی څه حال وو که ستاخبره وي؟ هغوی خوستادرب عبادت نه کاوودبل چاعبادت يې کاوو(١) ﴿ قَالَ عِلْمُهَا عِندَ رَبِّي فِي كِتَابٍ لَّا يَضِلُّ رَبِّي وَلَا يَنسَى ﴾ وويل: (موسی) چې علم دهغوی په نزد درب زمادی په کتاب(لوح محفوظ) کې چې نه يې ورک کوي زمارب اونه يې هېروي؛ بياموسي عليه السلام دالله په وجودباندي ددلائلوتېرولواودقدرت آثاروبيانولوپيل کوي ﴿ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَرْضَ مَهْدًا ﴾ هغه الله چې ګرزولي يې ده تاسي ته ځمکه فرش (تاسو ورباندي اوسی دغه يې يورحمت دی) ﴿ وَسَلَكَ لَكُمْ فِيهَا سُبُلًا ﴾ اوروانې کړې يې دي په دې کې لاري (چې تاسوورباندي دخپلواړتياوولپاره درومئ) ﴿ وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً ﴾ اونازلي کړي يې دي (له لوري) دآسمانه اوبه (خوږې) ﴿ فَأَخْرَجْنَا بِهِۦٓ أَزْوَٰجًا مِّن نَّبَاتٍ شَتَّىٰ ﴾ پس راباسومو پدې اوبو سره هرهډول له ګياووڅخه رنګ په رنګ (مختلف خوندونه شکلونه، بويونه اونورې دلته يې له غيبت څخه تکلم ته التفات فرمايلی دی چې دالله په عظمت تنبيه راشي ﴿ كُلُوا۟ وَٱرْعَوْا۟ أَنْعَٰمَكُمْ ﴾ وخورئ تاسي اوڅروئ پکې چارپايان خپل؛ امردرواوالي اواباحت لپاره دی اودانعام څرګندول يې مقصددي ﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّأُو۟لِي ٱلنُّهَىٰ ﴾ بېشکه (پدې مذکور شيانوکې) خامخا (څرګنداوښکاره) دلائل دي دپاره دخاوندانودعقل (سليم په وجود اووحدانيت د الله باندي) ﴿ مِنْهَا خَلَقْنَٰكُمْ وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ ﴾ خاص له دې (ځمکې) څخه موږتاسي پيداکړي يې (ای خلګو!) اوپه همدې ځمکه کې تاسوننه باسو(وروسته له مرګه ترڅوخاورې شی ﴿ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرَىٰ ﴾ اوله دې (ځمکې) څخه راباسو تاسي بل کرت (لپاره دحساب اوبعث وروسته الله دفرعون دسرغړونې يادونه هسې فرمايې ﴿ وَلَقَدْ أَرَيْنَٰهُ ءَايَٰتِنَا كُلَّهَا فَكَذَّبَ وَأَبَىٰ ﴾ اوقسم دی په تحقيق ورښودلې دې موږدغه (فرعون) ته معجزې ټولې (چې دموسی په نبوت يې دلالت کاوولکه عصا، يد، طوفان، جراد اونورې ګردې) نوتکذيب يې وکړاومنع يې راوړه (له ايمانه) يعنې سره له څرګندوالې دمعجزاتودوی هغه سحروګڼلې اوله ايمان راوړلويې منع وکړه ځکه چې سرغړونه اواستکباريې درلود ﴿ قَالَ أَجِئْتَنَا لِتُخْرِجَنَا مِنْ أَرْضِنَا بِسِحْرِكَ يَٰمُوسَىٰ ﴾ وويل: (فرعون) آياته موږ ته راغلی يې ددې لپاره چې موږوباسې له ځمکې زموږ(مصرنه) پخپل سحرسره ای موسی؟ ﴿ فَلَنَأْتِيَنَّكَ

(١) المختصر ٢/ ٤٨٣

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

بِسِحْرِ مِثْلِهِۦ ﴾ پس خامخارابه وړو هرومروتاته سحرپه شان ددې (کوډو چي خلکوته معلومه شي ته پيغمبر نه بلکه کوډګرېي ﴿ فَٱجْعَلْ بَيْنَنَا وَبَيْنَكَ مَوْعِدًا ﴾ پس مقررکړه په مينځ زموږ اوستاکي يوه وعده (داجتماع) ﴿ لَّا نُخْلِفُهُۥ نَحْنُ وَلَآ أَنتَ مَكَانًا سُوًى ﴾ چي نه به کوومخالفت له هغه موږاونه ته (اووي به) په يوځاى هوارکي يعني وي به په معين زمان ، مکان کي) (١) ﴿ قَالَ مَوْعِدُكُمْ يَوْمُ ٱلزِّينَةِ وَأَن يُحْشَرَ ٱلنَّاسُ ضُحًى ﴾ وويل: (موسى) وخت دوعدې دتاسي ورځ دجشن (دتاسو) ده اوداچي راټول به کړى شي خلک په وخت دځاښت کي) يعني داجتماع ورځ به ددوى داخترونودکوم اختر ورځ وي مفسرين کرام وايې چي: دغه ورځ يې دمبارزې لپاره ځکه وټاکله چي دګردوخلکوپه وړاندي حق پرباطل برى ومومي اودغه خبرپه ګوټ ګوټ کي خپورشي اوچي معجزه يې خلک دسرپه سترګوويني ﴿ فَتَوَلَّىٰ فِرْعَوْنُ فَجَمَعَ كَيْدَهُۥ ثُمَّ أَتَىٰ ﴾ پس مخ وګرزاووفرعون (خپلو مشرانوته) پس را ټول يې کړل (اسباب آلات) دمکر، فريب خپل بيارا غى (سره له جادوګرانواوخپلو(اتباعوموعدته) چي دالله دنورشغله ووژني. ابن عباس رضى الله عنه وايې: دوه اوياتنه ساحران ورسره ووله هريوه سره رسى اولکړي وې ﴿ قَالَ لَهُم مُّوسَىٰ وَيْلَكُمْ لَا تَفْتَرُوا۟ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا فَيُسْحِتَكُم بِعَذَابٍ ﴾ وويل: (موسى) دغو(ساحرانو) ته (نازل کړى دى الله) پرتاسي هلاکت په الله باندي دروغ مه تړئ پس الله به تاسي په عذاب هلاک کړي ﴿ وَقَدْ خَابَ مَنِ ٱفْتَرَىٰ ﴾ اوپه تحقيق نااُميده (خراب) شوهرهغه څوک چي دروغ يې وتړل په الله باندي دوى ته يې لومړى نصيحت اواخطار واورول چي ښايي دصواب لوري ته رامات اوهدايت يې په برخه شي اوکله چي ساحرانوداواوريدل نوددوى په زړونوکي دموسى عليه السلام هيبت پرېوت اوهک پک حيران شول څکه يې دده په هکله اختلاف وکړچي الله فرمايې ﴿ فَتَنَٰزَعُوٓا۟ أَمْرَهُم بَيْنَهُمْ وَأَسَرُّوا۟ ٱلنَّجْوَىٰ ﴾ (پس يوله بله سره جګړه وکړه دغو(ساحرانو) په کارخپل په خپلومينځونوکي اوپټ يې وساتودغه راز) يعني دوى په خپلومينځونو کي سره په شخړه شوځينوويل چي دغه خبري خودساحر(کوډګر) نه دي خوله خلکوځخه يې دغه راز پټ کړ اوکرارکرايې په ګوښه کي مناقشه کوله يوله بل سره يې حال وايو ﴿ قَالُوٓا۟ إِنْ هَٰذَٰنِ لَسَٰحِرَٰنِ يُرِيدَانِ أَن يُخْرِجَاكُم مِّنْ أَرْضِكُم بِسِحْرِهِمَا ﴾ (وويل: (جادوګرانو) دادواړه خامخاساحران دي اراده لري دوى دواړه چي وباسي تاسي له خپلي ځمکي په خپل سحرددوى دواړو) يعني دوى وروسته له مناظرو اوډېرو مشورو هم دغه غوټه کړه چي دوى غواړي دمصرپه ځمکه قبضه وکړي اوتاسي وباسي ﴿ وَيَذْهَبَا بِطَرِيقَتِكُمُ ٱلْمُثْلَىٰ ﴾ (اوبوزي (محوه کړي) دوى دواړه دغه (لاره) د(دين) دتاسي چي ډېره غوره) ده ترټولوادیانواومذهبونو؛ زمخشري وايې چى داسي برېښي دوى په پټه کي سره مشوره وکړه اوپدې

(١) دغه ابن کثيرپه خپل تفسيرکي غوره کړي اوطبري وايې چي مرادهغه هوارمکان دى چي دواړه ډلوته يې واټن مسافه يوه وي.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

يې سره اتفاق شوچي دغه دوه کوډګران دي ددې لپاره يې دغه چټيات اواپلتي وويلې چي مبادا موسى اوهارون بريالي نشي اوخلک ددوی متابعت ونکړي ﴿ فَأَجْمِعُوا كَيْدَكُمْ ثُمَّ ائْتُوا صَفًّا ﴾ پس راجمع کړئ تاسي (اسباب دسحراو) مکرخپل بيارائئ(دمعارضې ميدان ته) صف صف (ترڅودکتونکوپه سترګوکي موهيبت ولوېږي ﴿ وَقَدْ أَفْلَحَ الْيَوْمَ مَنِ اسْتَعْلَى ﴾ او په تحقيق بريالی شو نن هغه څوک چي بريالی شو؛ مفسرين کرام وايې چي دوی له بريالیتوب څخه هغه څه مقصد ووکوم چي فرعون ورسره دسترونعمتونو ژمنه کړي وه چي دوی به ځان ته نژدې کوي او د عزت خاوندان به جوړېږي لکه چي الله جل جلاله فرمايې ﴿ فَلَمَّا جَاءَ السَّحَرَةُ قَالُوا لِفِرْعَوْنَ أَئِنَّ لَنَا لَأَجْرًا إِن كُنَّا نَحْنُ الْغَالِبِينَ قَالَ نَعَمْ وَإِنَّكُمْ إِذًا لَّمِنَ الْمُقَرَّبِينَ ﴾ الشعراء ٤٢-٤١ ﴿ قَالُوا يَا مُوسَى إِمَّا أَن تُلْقِيَ وَإِمَّا أَن نَّكُونَ أَوَّلَ مَنْ أَلْقَى ﴾ وويل: (کوډګرانو) ای موسى !يابه ته غورځوې (لومړی همساخپله) اويابه شو موږ اول دهغه چاچي غورځوي (همساخپله) ده ته يې اختيارورکړځکه باوريې درلودهغه به بريالي کېږي اويقين يې لاره چي په دغه ډګرکي له هغه سره هيڅوک سيالي نشي کولای ﴿ قَالَ بَلْ أَلْقُوا ﴾ وويل: (موسى) بلکه وغورځوئ تاسي رومبی؛ ابوالسعودوايې چي دغه مقابلتاددوی دادب په وړاندي خوراښکلی ادب دی ځکه په قطعي توګه يې دوی ته وويل: تاسويې وغورځوئ بل داچي ددوی په کوډويې پروانه کوله ترڅودوی هغه اسباب ښکاره کړي چي له دوی سره شته اوټول توان په کارواچوئ بيابه دالله جل جلاله سلطان او قدرت معلوم شي چي پرحق باندي باطل مغلوب اووهي (١) ﴿ فَإِذَا حِبَالُهُمْ وَعِصِيُّهُمْ يُخَيَّلُ إِلَيْهِ مِن سِحْرِهِمْ أَنَّهَا تَسْعَى ﴾ پس ناڅاپه (دغه وخت) هغه پړي اوهمساګاني ددوی ددوی په خيال کي راوستی کېدې دغه (موسى ته) له وجي (دسحره ددغو(کوډګرانو) داسي چي دغه بېشکه (ماران دي) چي منډي وهي (او ځغلي) دلته په کلام کي حذف راغلی چي معناور باندي دلالت کوي يعني ويې غورځولې هغه لکړي اورسۍ نوموسى عليه السلام ګمان کاووچي دغه ماران دي اوپه ګېډوځغلي آن تردې چي ځني وبېرېدواولالهاندشو ﴿ فَأَوْجَسَ فِي نَفْسِهِ خِيفَةً مُّوسَى ﴾ بيا وموندله په نفس خپل کي وېره موسى؛ او دغه ويره دبشري طبيعت له مخي وه ځکه يوډېرهولناک منظريې وليد ﴿ قُلْنَا لَا تَخَفْ إِنَّكَ أَنتَ الْأَعْلَى ﴾ ومو ويل: (موسى ته) مه وېرېږه ! بېشکه ته چي يې همداته ډېر غالب يې (٢) ﴿ وَأَلْقِ مَا فِي يَمِينِكَ تَلْقَفْ مَا صَنَعُوا ﴾ اووغورځوه هغه شی چي په ښي لاس کي دي دی چي له حلق څخه ښکته تېرکړي هغه څه چي دوی جوړکړي دي ﴿ إِنَّمَا صَنَعُوا كَيْدُ سَاحِرٍ ﴾ بېشکه هغه شی چي دوی جوړکړی دی دساحرمکردی مداريتوب دی ﴿ وَلَا يُفْلِحُ السَّاحِرُ حَيْثُ أَتَى ﴾ اوبری نه مومي کوډګر هرچېرته چي راشي (ځکه دروغجن اوګمراه کونکی

---

(١) ابوالسعود ٣ / ٣١٣

(٢) الله پاک په همدغه سخته ګړی کي وحی وکړه په دې ويناسره.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

تېرايستونکی دی) ﴿ فَأُلْقِيَ ٱلسَّحَرَةُ سُجَّدًا قَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِرَبِّ هَٰرُونَ وَمُوسَىٰ ﴾ پس (نسکور) وغورځول شول کوډګران پداسي حال کي چي سجده کونکي وو (الله رب العلمين ته نو) ويې ويل: ايمان موراوړی دی په رب دهارون او(رب د) موسی؛ ابن کثيروايې چي: کله موسی عليه السلام لکړه وغورځوله ستربنامارشو چي پښې اوغاړه يې لرله سراوغاښونه يې درلودل نوپه دغورسيواولکړو پسې شوچي هيڅ کوم څېزيې نه پرېښودچي خوړلی يې نه وي خلکوپه رنوسترګوورته کتل اوچي کوډګرانودغه حالت وليدنوپه علم اليقين سره وپوهېدل چي دغه کوډي نه دي دغه حقيقت دی هيڅ شک اوشبه پکي نشته نوپدې وخت کي په سجده پرېوتل معجزه ښکاره شوه دليل څرګندشواوکوډي ماتي اوباطلي شوې ابن عباس رضی الله عنه وايې چي: دورځي په پيل کي کوډګران وواوپه پای کي يې نېکان شهيدان (١) ﴿ قَالَ ءَامَنتُمْ لَهُۥ قَبْلَ أَنْ ءَاذَنَ لَكُمْ ﴾ وويل: (فرعون) چي تاسودده تصديق وکړ پخواله هغه چي زه اجازه درکړم تاسوته (دتصديق دده) ﴿ إِنَّهُۥ لَكَبِيرُكُمُ ٱلَّذِى عَلَّمَكُمُ ٱلسِّحْرَ ﴾ بېشکه چي دی خامخاستاسي مشردی هغه چي تاسي ته يې جادو در ښودلی دی؛ نوتاسي ورسره لاس يوکړی دی چي له مانه پاچهي واخلئ. قرطبي وايې: چي فرعون دغه ويناددې لپاره وکړه چي خلک تېرباسي ترڅو يې متابعت ونکړي اوايمان رانه وړي لکه ددوی ايمان (٢)نو يې تهديدکړل ويې ويل: ﴿ فَلَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُم مِّنْ خِلَٰفٍ ﴾ نواوس به پرې کړم زه خامخا لاسونه دتاسي اوپښې دتاسي له خلافه (ښی لاس او کينه پښه (ياکيڼ لاس اوښی پښه) ﴿ وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ فِى جُذُوعِ ٱلنَّخْلِ ﴾ اوخامخابه ځوړندکړم تاسي په تنو دخرماووکي (اووبه مووژنم په سخته وژنه سره ﴿ وَلَتَعْلَمُنَّ أَيُّنَآ أَشَدُّ عَذَابًا وَأَبْقَىٰ ﴾ (اوخامخامعلوم به کړی تاسي هرومروچي کوم يوله موږنه ډېرسخت دی له جهته دعذابه اوبقاء دهغه (زه که موسی؟) ﴿ قَالُواْ لَن نُّؤْثِرَكَ عَلَىٰ مَا جَآءَنَا مِنَ ٱلْبَيِّنَٰتِ ﴾ وويل: (کوډګرانو) له سره به تاغوره نکړو(په هدايت اوايمان راوړلو) په هغه چي موږته راغلي دي له ښکاره معجزوڅخه(که څه هم پدې لاره کي هلاک شو) ﴿ وَٱلَّذِى فَطَرَنَا ﴾ اوقسم په هغه ذات چي موږيې پيداکړي يو ﴿ فَٱقْضِ مَآ أَنتَ قَاضٍ ﴾ پس وکړه ته هغه کار چي ته يې کونکی يې ﴿ إِنَّمَا تَقْضِى هَٰذِهِ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَآ ﴾ بېشکه همداخبره چي حکم به ورکړې ته پدې ژوندانه د دنياکي (ستاامريوازي دلته چلېږي اوموږتل ترتله نعمتونه غوره کړي دي عکرمة وايې چي: کله دوی الله تعالی ته سجده وکړه نوخپل هستوګنځی يې په جنت کي بياوليدل څکه يې هغه څه وويل چی ويې ويل (٣) ﴿ إِنَّآ ءَامَنَّا بِرَبِّنَا لِيَغْفِرَ لَنَا خَطَٰيَٰنَا ﴾ بېشکه موږپخپل رب ايمان راوړی دی چي موږته زموږ ګناهونه وبښي (کوم چي کفراومعاصي دي ﴿ وَمَآ أَكْرَهْتَنَا عَلَيْهِ مِنَ ٱلسِّحْرِ ﴾ اوهغه چي تامجبوره کړي يو موږپه کولود(هغه

(١) المختصر٢ / ٤٨٢

(٢) القرطبي١١ / ٢٢٤

(٣) القرطبي١١ / ٢٢٥

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

شي) له سحره (چي دالله دنورشغله مړه کړو) ﴿ وَٱللَّهُ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰٓ ﴾ اوالله غوره دی (له جهته دثواب ورکولو) اودپرباقي پاتي کېدونکی دی (عذاب دده دغه دهغې خبري ځواب دی چي ویلي یې وو ﴿ إِنَّهُۥ مَن يَأْتِ رَبَّهُۥ مُجْرِمًا فَإِنَّ لَهُۥ جَهَنَّمَ ﴾ (بېشکه شان دادی هرڅوک چي راشي رب خپل ته کافرپس بېشکه شته ده ته جهنم دوزخ) دغه دساحرانودوینا بشپړونکي (تتمه) ده چي فرعون ته یې دنصیحت په توګه ویل ﴿ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيَىٰ ﴾ چي نه به مري په دې دوزخ کي (چي هوساشي) اونه به ژوند کوي دژوندپه څېرژوندخوندور اوآرام ﴿ وَمَن يَأْتِهِۦ مُؤْمِنًا قَدْ عَمِلَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ ﴾ اوهرڅوک چي راشي دغه (الله) ته (په قیامت کي) پدې حال کي چي مؤمن وي چي په تحقیق کړي یې وي ښه عملونه (په دنیا کي اوله بدواعمالوبې ځان ژغورلی وي) ﴿ فَأُو۟لَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱلدَّرَجَٰتُ ٱلْعُلَىٰ ﴾ پس دغه مؤمنان چي دي شته دوی ته درجې ډېري اوچتي (په نزد دالله) ﴿ جَنَّٰتُ عَدْنٍ ﴾ (چي هغه مرتبې) جنتونه دي د(تل) هستوګني یعني دغه اوچتي درجې اوبېغمه پاکیزه داوسېدلو ځایونه دتل هستوګني جنتونه دي ﴿ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا ﴾ چي بهېږي (له لاندي دمانېیواو ونو) ددوی ویالې (څلورډوله چي دشرابو، شاتو، شیدو اواوبوبه وي) همېشه به وي په دغوجنتونو کي (هیڅکله به ځني ایستل کېږي نه) ﴿ وَذَٰلِكَ جَزَآءُ مَن تَزَكَّىٰ ﴾ اودغه (درجې اوجنتونه ثوابونه) جزاء دهغه چادي چي ځان یې پاک کړی وي (له ګناهونو او کفرڅخه. په حدیث شریف کي راځي چي جنت سل درجې لري په مینځ دهردوو درجوکي لکه دآسمان او ځمکي غوندي مسافه ده فردوس ترټولو غوره دی کله چي تاسوله الله څخه د(جنت) غوښتنه کوئ نوفردوس ځني غواړئ(١)

بلاغت:

پدې آیتونوکي چي دبدیع اوبیان کومي ښکلاوي شته دادي:

١-استعاره چي فرمایي ﴿ وَٱصْطَنَعْتُكَ لِنَفْسِى ﴾ دلته یې هغه دنزدېکت اوغوراوي بخششونه دهغه چاله حال سره مشابه کولي خوک چي پاچاپې دعزت اوکرامت وړګني ځکه په هغه کي همداسي ستایلي صفتونه خوبونه وي نوهله یې پاچادخان لپاره غوره کړي اوخپل ستراموراوچاري وروسپاري د(اصطنع) کلمه یې ددې لپاره استعاره راوړه اوپدې کي تبعیه استعاره ده.

٢-لطیفه مقابله چي فرمایي: ﴿ مِنْهَا خَلَقْنَٰكُمْ وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ ﴾ چي دلته یې (منها) او(فیها) مقابله کړي همداسي یې (خلق) او(اعاده) هم مقابله ده اودغه له بدیعي محسناتو څخه ګڼل کېږي.

---

(١) رواه احمد والترمذی

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

٣ - ايجاز بالحذف چي فرمايي: ﴿بَلْ أَلْقُوا فَإِذَا حِبَالُهُمْ﴾ دلته يې (فألقوا) حذف کړه ځکه معنا ورباندي دلالت کوي او همداسي ﴿فَأُلْقِيَ السَّحَرَةُ سُجَّدًا﴾ وروسته له هغه چي ويې فرمايل: ﴿وَأَلْقِ مَا فِي يَمِينِكَ﴾ چي دلته اوږد کلام حذف شوی چي هغه دادی: موسی عليه السلام لکړه وغورځوله نو دکوډګرانو هرڅه يې ترستوني تېرکړل نو بياکوډګران په سجده پرېوتل او دلته يې چي حذف ښه اېسي وجه يې داده چي معنا ورباندي دلالت کوي او دغه ته ايجاز بالحذف وايي.

٤ - د طباق صنعت لکه ﴿يَمُوتُ..... يَحْيَىٰ﴾ او ﴿نُعِيدُكُمْ..... نُخْرِجُكُمْ﴾.

٥ - د مقابلې صنعت لکه د ﴿مَن يَأْتِ رَبَّهُ مُجْرِمًا﴾ او د ﴿وَمَن يَأْتِهِ مُؤْمِنًا قَدْ عَمِلَ الصَّالِحَاتِ﴾ ترمينځ او د مقابلې پېژند ګلوي داده چي دوې معناګاني او يا زياتي راوړل شي بيايې په مقابله کي نوری راوړی دغه مقابله ګڼل کېږي.

٦ - ښکلي سجع چي له ځانه جوړه شي (متکلفه) نه وي لکه ﴿ضُحًى.... أَفْتَرَىٰ.... يَحْيَىٰ.... تَزَكَّىٰ﴾ او نور.

٧ - مؤکدات لکه چي الله تعالی فرمايي: ﴿إِنَّكَ أَنتَ الْأَعْلَىٰ﴾ دغه خبريې په څو تاکيدا تو سره ټينګ کړی لکه ﴿إِنَّ﴾ چي تاکيد افاده کوي د ضمير تکرار چي ﴿أَنتَ﴾ او د خبر تعريف چي ﴿الْأَعْلَىٰ﴾ همدا راز د (علو) لفظ چي پرغلبه باندي دلالت کوي د تفضيل صيغه لکه د (الاعلی) د قرآنکريم ښکلاوي بې اندازې دي دا څومره بليغ او په زړه پوري بيان دی او دغه ګردد علم معاني له خصائصو ګڼل کېږي.

تنبيه:

په آيتونو کي دهغه څه يادونه نده شوي چي فرعون په ساحرانو باندي اجراء او ترسره هم کړل کوم چي تهديدې ورکړی وو خو مفسرين کرامو ليکلي چي فرعون ددوی لاسونه او پښې غوڅي کړې او بيايې په دارکړل دوی په ايمان ووژل شول ځکه نو ابن عباس رضی الله عنه وايي چي هغوی دورځي په پيل کي کوډګران او په پای کي بيانېکان ابرار شهيدان شول.

***

الله تعالی فرمايي:

﴿وَلَقَدْ أَوْحَيْنَا إِلَىٰ مُوسَىٰ أَنْ أَسْرِ بِعِبَادِي فَاضْرِبْ لَهُمْ طَرِيقًا فِي الْبَحْرِ يَبَسًا لَّا تَخَافُ دَرَكًا وَلَا تَخْشَىٰ ﴿٧٧﴾
فَأَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ بِجُنُودِهِ فَغَشِيَهُم مِّنَ الْيَمِّ مَا غَشِيَهُمْ ﴿٧٨﴾ وَأَضَلَّ فِرْعَوْنُ قَوْمَهُ وَمَا هَدَىٰ ﴿٧٩﴾ يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ قَدْ أَنجَيْنَاكُم مِّنْ
عَدُوِّكُمْ وَوَاعَدْنَاكُمْ جَانِبَ الطُّورِ الْأَيْمَنَ وَنَزَّلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوَىٰ ﴿٨٠﴾ كُلُوا مِن طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ وَلَا تَطْغَوْا فِيهِ
فَيَحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبِي وَمَن يَحْلِلْ عَلَيْهِ غَضَبِي فَقَدْ هَوَىٰ ﴿٨١﴾ وَإِنِّي لَغَفَّارٌ لِّمَن تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا ثُمَّ اهْتَدَىٰ ﴿٨٢﴾
۞ وَمَا أَعْجَلَكَ عَن قَوْمِكَ يَا مُوسَىٰ ﴿٨٣﴾ قَالَ هُمْ أُولَاءِ عَلَىٰ أَثَرِي وَعَجِلْتُ إِلَيْكَ رَبِّ لِتَرْضَىٰ ﴿٨٤﴾ قَالَ فَإِنَّا قَدْ فَتَنَّا
قَوْمَكَ مِن بَعْدِكَ وَأَضَلَّهُمُ السَّامِرِيُّ ﴿٨٥﴾ فَرَجَعَ مُوسَىٰ إِلَىٰ قَوْمِهِ غَضْبَانَ أَسِفًا قَالَ يَا قَوْمِ أَلَمْ يَعِدْكُمْ رَبُّكُمْ وَعْدًا

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

حَسَنًا أَفَطَالَ عَلَيْكُمُ ٱلْعَهْدُ أَمْ أَرَدتُّمْ أَن يَحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبٌ مِّن رَّبِّكُمْ فَأَخْلَفْتُم مَّوْعِدِى ﴿٨٦﴾ قَالُوا مَآ أَخْلَفْنَا
مَوْعِدَكَ بِمَلْكِنَا وَلَٰكِنَّا حُمِّلْنَآ أَوْزَارًا مِّن زِينَةِ ٱلْقَوْمِ فَقَذَفْنَٰهَا فَكَذَٰلِكَ أَلْقَى ٱلسَّامِرِىُّ ﴿٨٧﴾ فَأَخْرَجَ لَهُمْ عِجْلًا جَسَدًا لَّهُۥ
خُوَارٌ فَقَالُوا هَٰذَآ إِلَٰهُكُمْ وَإِلَٰهُ مُوسَىٰ فَنَسِىَ ﴿٨٨﴾ أَفَلَا يَرَوْنَ أَلَّا يَرْجِعُ إِلَيْهِمْ قَوْلًا وَلَا يَمْلِكُ لَهُمْ ضَرًّا وَلَا نَفْعًا ﴿٨٩﴾
وَلَقَدْ قَالَ لَهُمْ هَٰرُونُ مِن قَبْلُ يَٰقَوْمِ إِنَّمَا فُتِنتُم بِهِۦ وَإِنَّ رَبَّكُمُ ٱلرَّحْمَٰنُ فَٱتَّبِعُونِى وَأَطِيعُوٓا۟ أَمْرِى ﴿٩٠﴾ قَالُوا۟ لَن نَّبْرَحَ عَلَيْهِ
عَٰكِفِينَ حَتَّىٰ يَرْجِعَ إِلَيْنَا مُوسَىٰ ﴿٩١﴾ قَالَ يَٰهَٰرُونُ مَا مَنَعَكَ إِذْ رَأَيْتَهُمْ ضَلُّوٓا۟ ﴿٩٢﴾ أَلَّا تَتَّبِعَنِ ۖ أَفَعَصَيْتَ أَمْرِى ﴿٩٣﴾ قَالَ
يَبْنَؤُمَّ لَا تَأْخُذْ بِلِحْيَتِى وَلَا بِرَأْسِىٓ ۖ إِنِّى خَشِيتُ أَن تَقُولَ فَرَّقْتَ بَيْنَ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ وَلَمْ تَرْقُبْ قَوْلِى ﴿٩٤﴾ قَالَ فَمَا
خَطْبُكَ يَٰسَٰمِرِىُّ ﴿٩٥﴾ قَالَ بَصُرْتُ بِمَا لَمْ يَبْصُرُوا۟ بِهِۦ فَقَبَضْتُ قَبْضَةً مِّنْ أَثَرِ ٱلرَّسُولِ فَنَبَذْتُهَا
وَكَذَٰلِكَ سَوَّلَتْ لِى نَفْسِى ﴿٩٦﴾ قَالَ فَٱذْهَبْ فَإِنَّ لَكَ فِى ٱلْحَيَوٰةِ أَن تَقُولَ لَا مِسَاسَ ۖ وَإِنَّ لَكَ مَوْعِدًا لَّن
تُخْلَفَهُۥ ۖ وَٱنظُرْ إِلَىٰٓ إِلَٰهِكَ ٱلَّذِى ظَلْتَ عَلَيْهِ عَاكِفًا ۖ لَّنُحَرِّقَنَّهُۥ ثُمَّ لَنَنسِفَنَّهُۥ فِى ٱلْيَمِّ نَسْفًا ﴿٩٧﴾ إِنَّمَآ إِلَٰهُكُمُ
ٱللَّهُ ٱلَّذِى لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ وَسِعَ كُلَّ شَىْءٍ عِلْمًا ﴿٩٨﴾ ﴾ طه: ٧٧ - ٩٨

مناسبت اوتراو:

لاتراوسه آیتونه دموسی علیه السلام اوفرعون کیسه بیانوي اودلته آیتونه دې پلوته اشاره کوي چې څرنګه الله موسی علیه السلام اوقوم ته یې پاملرنه وکړه دوی یې وژغورل اودښمن یې هلاک کړدوی ته دخپلو ستروا ولویوغټوانعامونوذکول ورپه یادوي اوداچې دوی ته یې وصیت کړی چې دالله شکرپر ځای کړي اوله دې څخه یې ووېرول چې دالله دغضب څخه دي خپل ځان وژغوري کفردي نه کوي بیایې ددوی هغه انحطاط وښود کله چې یې د(خوسي) ګلګي عبادت پیل کړاودلته یې دتېروآیتونوتفصیلي خبري راونغښتلې.

لغتونه:

(درکا) نژدې کېدل (تطغوا) طغیان اوله حد څخه تجاوزته وایې (هوی) دجهنم کندي ته ولوېدوپه اصل کي (هوی) له لوړ څخه څوړته رالوېدلوته وایې اودلته مراددوزخ بېخ (هاویة) دی(بملکنا) زموږ په توان اوقدرت کي اومقصد ځني هغه چاره چې موږ یې له خپله لوري په واک کي لروله خپله لوري (اوزارًا) درانه ، ګناه ته ځکه (وزر) وایې چې کله په انسان بارشي نوهغه درنوي (خوار) دغوایي رمبارې (یابن أم) ای زمادموري زویه دغه لفظ دمقابل لوري مهرباني ته را اړول دي (سولت) ښایسته اوښکلي کړه.

تفسیر:

﴿ وَلَقَدْ أَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنْ أَسْرِ بِعِبَادِى ﴾ اوخامخاپه تحقیق موږ موسی ته داسي وحی کړي وه چې دې یې (له مصره) وباسه بندګان زما) کله چې فرعون پخپل طغیان کي غوپه وو ﴿ فَٱضْرِبْ لَهُمْ طَرِيقًا فِى ٱلْبَحْرِ يَبَسًا ﴾ پس جوړ کړه دوی ته (په وهلودهمساخپلي) وچه لاره په دریاب کي (چې ورباندي درومی)

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

﴿ لَّا تَخَافُ دَرَكًا وَلَا تَخْشَىٰ ﴾نه به وېرېږي ته په تعقيب (دنيولوله فرعون څخه) اونه به وېرېږي له
ډوبېدلو(په بحركي) ﴿ فَأَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ بِجُنُودِهِۦ فَغَشِيَهُم مِّنَ ٱلْيَمِّ مَا غَشِيَهُمْ ﴾(پس راغی ورپسې فرعون سره
له لښكروده پس لاندي كړل دوی له سيندڅخه هغه څېزچي لاندي يې كړل) يعني فرعون سره له
خپلولښكروپسي راورسېدواوهغه هيبت اودهشت ورباندي وغورېدوچي له الله پرته بل چاته يې
حقيقت څرګندنه وودغه تعبيرهمدا تهويل اوهيبت افاده كوي ﴿ وَأَضَلَّ فِرْعَوْنُ قَوْمَهُۥ وَمَا هَدَىٰ ﴾اوفرعون
خپل قوم ګمراه كړاو(ورته يې) ونه ښوده سمه لاره (دنجات اونېكمرغي پدې كي په فرعون باندي تهكم
دی چي هغه به ويل: ﴿ وَمَآ أَهْدِيكُمْ إِلَّا سَبِيلَ ٱلرَّشَادِ ﴾غافر٢٩ ﴿ يَٰبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ قَدْ أَنجَيْنَٰكُم مِّنْ عَدُوِّكُمْ ﴾
(وفرمايل الله) چي ای بني اسرائيلوپه تحقيق موږتاسي ته نجات دركړستاسي له دښمنه) دغه خطاب
بني اسرائيلوته هغه وخت دی كله چي له سيندڅخه روغ رمټ رابهرشول اوفرعون سره له لښكروپكي
ډوب شواومعنايې داچي ای بني اسرائيلوزماهغه سترنعمت درپه يادكړئ كله چي د فرعون اودهغه له
سخت عذاب څخه مو نجات دركړ ﴿ وَوَٰعَدْنَٰكُمْ جَانِبَ ٱلطُّورِ ٱلْأَيْمَنَ ﴾اومورږله تاسي سره وعده كړي ده (په
واسطه دموسی) جانب دطورچي ښی جانب دی (دمناجات له موسی سره اووربانديي تورات نازلول ؛
اوداچي وعده يې دوی ته نسبت وكړداپدې چي ګټه اومنفعت يې دوی ته راجع دی او دتورات په نزول
كي ددوی دُنيوي اواُخروي نېكمرغي نغښتي ده ﴿ وَنَزَّلْنَا عَلَيْكُمُ ٱلْمَنَّ وَٱلسَّلْوَىٰ ﴾او مورږ پرتاسونازل كړل
(ترنجبين) من اوسلوی (وريت شوي مړه ځان) يعني كله چي تاسودتيه په دښته بيدياكي لالهاندوی
مورږدرباندي (من) چي لكه شات دغسي څېزدی نازل كړاوبل مو(سلوی) درته راواستاووچي
ترګردومرغانويې خوږې غوښي درلودې اودغه زمورږله لوري پرتاسواحسان ووپه دغه ترتيب كي بېخي
زياته ښكلاترسترګوكېږي ځكه لومړی يې دنجات اوژغورني نعمت وروښود ورپسې دښي نعمت اوبيا
دنيوي نعمتونه ﴿ كُلُوا۟ مِن طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقْنَٰكُمْ ﴾خورئ تاسي له پاكېزه شيانو چي مورږتاسي ته روزي در
كړي ده ﴿ وَلَا تَطْغَوْا۟ فِيهِ فَيَحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبِى ﴾اوتجاوزمه كوئ (په پراخي اوعافيت كي) پس راكوز به
شي پرتاسوزماغضب ﴿ وَمَن يَحْلِلْ عَلَيْهِ غَضَبِى فَقَدْ هَوَىٰ ﴾اوهرڅوك چي لازم راكوزشي ور باندي زما
غضب نوپه تحقيق سخت وغورځېدو(په هاويه كي هلاك اوبدمرغه شو) ﴿ وَإِنِّى لَغَفَّارٌ لِّمَن تَابَ وَءَامَنَ
وَعَمِلَ صَٰلِحًا ثُمَّ ٱهْتَدَىٰ ﴾اوخامخازه هرومرو ښه مغفرت كونكی يم هغه چاته چي توبه يې وايسته (له
شركه) اوايمان يې راووړاونېك عملونه يې ترسره كړل بيا(مستقيم اوثابت) پاتي شوپه هدايت (او
ايمان) په آيت كي دهغه چالپاره چي په عصيان كي لوېدلی وي د راوتلوترغيب دی اوداچي هغه دي
ناهيلی نشي ﴿ وَمَآ أَعْجَلَكَ عَن قَوْمِكَ يَٰمُوسَىٰ ﴾اوڅه شي را ګړندی كړې ته ای موسی له قومه خپله؛
زمخشري وايې چي: موسی عليه السلام له نقيبانوسره وعده تاكلي وه چي كوه طورته به ځي بيا هغه

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

رومبی دالله دکلام داورېدولوپه شوق دطورغره ته ورسېدو (١) ﴿ قَالَ هُمْ أُولَآءِ عَلَىٰٓ أَثَرِى وَعَجِلْتُ إِلَيْكَ رَبِّ لِتَرْضَىٰ ﴾وویل: (موسی) دوی دغه دي (راروان دي) راپسې له ماوروسته (ډېرنژدې) اوما جلتي وکړه تاته (په راتلوکي) ای زماربه ددې لپاره چي ته راڅخه خوښ شې موسی علیه السلام لومړی معذرت وړاندي کړاوبیایې سبب بیان کړچي هغه ترقوم دمخه څکه راغی چي ستادمناجات اشتیاق یې درلود اوچي ته ځني خوښ شې ﴿ قَالَ فَإِنَّا قَدْ فَتَنَّا قَوْمَكَ مِنۢ بَعْدِكَ ﴾وفرمایل(الله) پس بېشکه موږچي یوپه تحقیق وموازمویوقوم ستا وروسته (له راتلو) ستایعنی هغوی مودخوسکي (ګلګي) په عبادت کولوامتحان کړل﴿ وَأَضَلَّهُمُ ٱلسَّامِرِىُّ ﴾ اوسامري دوي ګمراه کړل ، داسي چي سامري کوډګر یومنافق اودهغې ډلي خلګوڅخه وو چي دغوایانوعبادت یې کاوو،دوی ته یې سخوندرکی جوړکړ. مفسرین کرام وایې چي موسی علیه السلام دالله مناجات ته راتونویې هارون علیه السلام خپل ورور بني اسرائیلوته خلیفه وټاکو او دا مارېینه یې ورته وکړه چي دالله طاعت اوعبادت ته دي وهڅوي اودموسی علیه السلام دغیاب څخه په ګټه اخیستلوسامري زېورات (ګانې) راغونډي کړې اوخوسی یې ځني جوړکړ دوی یې دهغه عبادت ته راوبلل اودوی هم دغسي وکړل اوداهغه ابتلاء وه چي دموسی له وتلوشل ورځي وروسته ورکړل شوه ﴿ فَرَجَعَ مُوسَىٰٓ إِلَىٰ قَوْمِهِۦ غَضْبَٰنَ أَسِفًا ﴾(او پس راوګرزېدوموسی خپل قوم ته ډېرغضبناک خوراغمجن) یعني موسی علیه السلام له طورڅخه وروسته له هغه چي څلوېښت ورځي یې بشپړي کړې او تورات راووړپه داسي حال کي چي سخت خواشینی اوغمجن پدې ووچي ولي یې قوم د(ګلګي) عبادت پیل کړی راستون شو ﴿ قَالَ يَٰقَوْمِ أَلَمْ يَعِدْكُمْ رَبُّكُمْ وَعْدًا حَسَنًا ﴾وویل(موسی) ای زماقومه آیاوعده نه وه کړي له تاسي سره رب ستاسي وعده نېکه وعده (چي تورات درکوي هغه چي به پکي نوراوهدایت وي استفهام دتوبیخ لپاره دی ﴿ أَفَطَالَ عَلَيْكُمُ ٱلْعَهْدُ أَمْ أَرَدتُّمْ أَن يَحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبٌ مِّن رَّبِّكُمْ فَأَخْلَفْتُم مَّوْعِدِى ﴾آیاپس اوږده شوه پرتاسي زمانه(چي وعده موهېره کړه) اوکه اراده کړي وه تاسوچي لازم راکوزشي په تاسي غضب قهرله جانبه درب ستاسي پس خلافه کړه تاسي زماوعده؟ ابوحیان وایې چي دوی له موسی علیه السلام سره وعده کړي وه چي دالله ددین اودموسی دسنت پیروي به کوي اوهیڅکله به دالله دامرمخالفت نه کوي خوله دې څخه یې څرګندمخالفت دسخوندرپه عبادت کولوپیل کړ(٢)﴿ قَالُوا۟ مَآ أَخْلَفْنَا مَوْعِدَكَ بِمَلْكِنَا ﴾وویل: (بني اسرائیلو) چي نه مودی کړی خلاف دوعدې ستاپخپل اختیار سره (بلکه موږدبل چاپه تحریک اولمسون داسي کړي دي (لېکن) موږبارکړی شوي یوپه پېټو له ګانو اوکالیودقوم د(قبطیانو) پس وموغورځولې هغه ګانې(په اورکي (دسامري په حکم) مجاهد وایې چي داهغه ګانې وې چي دفرعون له

---

(١) الکشاف ٣ / ٨٩

(٢) البحر ٦ / ٣٢٨

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

آل څخه يې په خواست (استعاره) اخيستي وې ﴿ وَلَٰكِنَّا حُمِّلْنَآ أَوْزَارًا مِّن زِينَةِ ٱلْقَوْمِ فَقَذَفْنَٰهَا ﴾ وليکن موږ بارکړی شوي يو په پېټوله ګانو اوکالیودقوم (د قبطیانو) پس وموغورځولې هغه ګانې (په اورکي دسامري په حکم) ﴿ فَكَذَٰلِكَ أَلْقَى ٱلسَّامِرِيُّ ﴾ اوهمداسي وغورځولې ګانې (په اورکي) سامري چي کومي له ده سره دقوم ګانې وې. مفسرين کرام وايې چي بني اسرائيلوله قبطيانو څخه په استعاره ګانې غوښتي وې پخواله دې چي له مصرڅخه ووزي بياکله چي موسى عليه السلام په په راستنېدلوکي وخنډېدو نوسامري دوی ته وويل: چي موسى له دې کبله وخنډېدوچي له تاسوسره ګانې دي نودوی راغونډي کړې اوسامري ته يې وسپارلې هغه په اورکي وغورځولې او ګلګی (سخوندر) يې ځني ورته جوړکړ او بيايې دجبريل (عليه السلام) دآس دپښويوموتی خاوره ورباندي وغورځوله نوهغه به رمباړي وهلې(١) او همدغه دالله ويناده چي فرمايې: ﴿ فَأَخْرَجَ لَهُمْ عِجْلًا جَسَدًا لَّهُۥ خُوَارٌ ﴾ نوراويوست دوی ته له دغه خندق څخه سامري) يوخسی چي جسدووچي وده ته غږ دخسي (٢) (سا پکي نه وه) ﴿ فَقَالُوا۟ هَٰذَآ إِلَٰهُكُمْ وَإِلَٰهُ مُوسَىٰ فَنَسِىَ ﴾ نوورويل: (سامري اوتابعانويې) دغه د تاسي خدای دی اودموسی خدای دی پس هېر کړی دی ده (خپل خدای دلته اوطورته يې په لټه پسي تللی دی. قتاده وايې: معنايې داده چي موسى خپل خدای همدلته له تاسوسره هېرکړی نودوی يې عبادت پيل کړی الله جل جلاله ددوی ددغه سخيف عقل تردیدهسي کوي فرمايې: ﴿ أَفَلَا يَرَوْنَ أَلَّا يَرْجِعُ إِلَيْهِمْ قَوْلًا وَلَا يَمْلِكُ لَهُمْ ضَرًّا وَلَا نَفْعًا ﴾ آيانه ګوري دوی بېشکه شان دادی چي بيرته نه ګرزوي دوی ته خبره اونه دوی ته مالک دی دضرردفع کولو ياګټي راوړلواستفهام دلته دتوبيخ اوترتني لپاره دی ﴿ وَلَقَدْ قَالَ لَهُمْ هَٰرُونُ مِن قَبْلُ يَٰقَوْمِ إِنَّمَا فُتِنتُم بِهِۦ ﴾ او خامخاپه تحقيق وويل: دوی ته هارون پخوا (له راتلودموسی نه دنصيحت په توګه) ای زما قومه بېشکه همداخبره ده چي ازمويلی شوي ياست تاسي په (عبادت د) خوسي ﴿ وَإِنَّ رَبَّكُمُ ٱلرَّحْمَٰنُ فَٱتَّبِعُونِى وَأَطِيعُوٓا۟ أَمْرِى ﴾ او بېشکه رب ستاسي هم دارحمن دی نه (بل څوک) نومتابعت وکړئ ځما او اطاعت وکړئ زمادحکم (چي دګلګي عبادت مه کوئ) ﴿ قَالُوا۟ لَن نَّبْرَحَ عَلَيْهِ عَٰكِفِينَ حَتَّىٰ يَرْجِعَ إِلَيْنَا مُوسَىٰ ﴾ وويل: (بني اسرائيلو) چي همېشه به اوسو په (عبادت د) خسي محکم ولاړترهغه پوري چي موسى موږته بيرته راشي (له کوه طوره بيابه وګورو)(٣) ﴿ قَالَ يَٰهَٰرُونُ مَا مَنَعَكَ إِذْ رَأَيْتَهُمْ ضَلُّوٓا۟ أَلَّا تَتَّبِعَنِ ﴾ وويل: موسى (پس له

---

(١) دغه دابن عباس، قتاده اومجاهدويناده کذافی الطبري ١٢/ ٢٠٠

(٢) امام رازي وايې چي ځيني خلک وايې هغه ژوندی وواوغږيې کاووواوچابياويلي چي ژوندی خونه وومګرداسي سوری يې پکي جوړکړی ووچي دباداوهواپه چلېدوبه يې غږکاوو.

(٣) سيدقطب رحمه الله وايې چي:بني اسرائيلودسروزروسخوندرته کتل اوهغه پروردګاريې هېرکړکوم چي دوی يې له ذلت اوخواری څخه ژغورلي وودوی په سروزروباندي په بې فکري اوناپوهي راتول شول اوويل يې ﴿ هَٰذَآ إِلَٰهُكُمْ وَإِلَٰهُ مُوسَىٰ فَنَسِىَ ﴾ دغه ستاسواودموسی اله دی هغه يې په غره کي لټوي دالله دموندلولاره يې ورکه کړي ده اوداهسي خبره ده چي دوی خپل پيغمبرپه ناپوهي تورن کړچي نه دی لاره موندلای شي اونه الله لاره ورته ښيي اودغه سخوندر ژوندی نه وو چي ددوی

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

راتګه دطوردغره نه) ای هارونه څه شي منع کړی وې ته کله چي تاولیدل چي دوی ګمراهان شول له دې چي زمامتابعت دي ونکړ(په جهادسره) په کلام کي حذف راغلی هغه داچي کله موسی علیه السلام د طور له غره نه راستون شودوی یې ولیدل چي دسخوندرعبادت کوي نوله سخته قهره اوغصې یې هارون علیه السلام دسردوېښتوڅخه ونیواوځان ته یې راکاږل ورته یې داسي ویل چي: ای هارونه اکله چي دې ولیدل دوی کافران شول نوڅرنګه دي زمامتابعت ونکړچي دوی ته زجرورکړې اودغه ګمراهي ته بدووایې ﴿ أَفَعَصَيْتَ أَمْرِي ﴾ آیاپس نافرماني وکړه تازماله حکمه؟ زما وصیت او امردي پرېښود؟ مفسرین کرام وایې چي دده امرهغه وصیت ووچي الله ترې حکایت کوي چي ﴿ وَقَالَ مُوسَىٰ لِأَخِيهِ هَٰرُونَ اخْلُفْنِي فِي قَوْمِي وَأَصْلِحْ وَلَا تَتَّبِعْ سَبِيلَ الْمُفْسِدِينَ ﴾ ﴿ قَالَ يَبْنَؤُمَّ لَا تَأْخُذْ بِلِحْيَتِي وَلَا بِرَأْسِيٓ ﴾ وویل: (هارون) ای زمادمورزویه مه نیسه ږیره زما اونه (وېښتان د) سرزما؛ ابن عباس رضی الله عنه وایې چي دهارون (علیه السلام) دسروېښتان یې په ښي لاس اودږیري یې په کیڼ لاس له ډېري خواشینۍ اوقهرڅخه نیولي وواوداهغه غضب اوقهرووچي د الله جل جلاله په باب یې هغه په سراخیستی وو﴿ إِنِّي خَشِيتُ أَن تَقُولَ فَرَّقْتَ بَيْنَ بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴾ (بېشکه زه ووېرېدم له دې نه چي وبه وایې ته (راته) چي بېلتون دي واچاووپه مینځ دبني اسرائیلوکي) یعني زه پدې وېرېدلم که چېري دوی په زوراوجبرسره رامنع کړم نوته به وایي ددوی ترمینځ دجګړې اورتابل کړی دی ﴿ وَلَمْ تَرْقُبْ قَوْلِي ﴾ او ودي نه کتل زماخبري ته) یعني زماترراتګه دي انتظارونکړڅکه ما وګڼله چي ستاتر راتلوڅه ونکړم اوته پخپله یې چاره وکړې. ابن عباس رضی الله عنه وایې چي هارون علیه السلام دموسی علیه السلام منونکی وو﴿ قَالَ فَمَا خَطْبُكَ يَٰسَٰمِرِيُّ ﴾ وویل: (موسی) پس څه وو ستاکارای سامري؟(یعني څه څېزداسي کولوته وهڅولې؟) ﴿ قَالَ بَصُرْتُ بِمَا لَمْ يَبْصُرُوا۟ بِهِۦ ﴾ (وویل(سامري) چي نظرغورځولی وومابه هغه شي باندي چي نظرنه وو غورځولی دوی په هغه شي باندي) یعني ماولید چي جبریل (علیه السلام) تاته دحیات (ژوند) په آس سپور راغی زماپه زړه کي راوګرزېدوچي ددغه آس دپښو یو موټی خاوره واخلم بیاچي مي په هرشي واچوله هغه به ژوندی شي ﴿ فَقَبَضْتُ قَبْضَةً مِّنْ أَثَرِ الرَّسُولِ فَنَبَذْتُهَا ﴾پس واخیستله مایوموټی (خاوره) له قدمه (دآس د) رسول (جبریل) پس ومي غورځوله (داخاوره)په (خوله ددې) خسي کي (اوهغه په غرېدوشو) ﴿ وَكَذَٰلِكَ سَوَّلَتْ لِي نَفْسِي ﴾او همداسي ښایسته کړی ماته (داکار نفس زما)﴿ قَالَ فَاذْهَبْ فَإِنَّ لَكَ فِي الْحَيَوٰةِ أَن تَقُولَ لَا مِسَاسَ ﴾ وویل: (موسی) پس څه (له موږلیري شه) پس بېشکه شته تاته په دغه ژوندون کي دا (جزاء) چي وبه وایې (هرچاته چي ویې وینې) چي مه لګېږه (په ما) یعني ستاعقوبت په دنیاکي دادی چي نه به بل څوک لاس

غږ واوري بلکه ترحیوانیت لاهم په ښکته پوړی کي وو هارون علیه السلام خوورته نصیحت وکړمګردوی لکه غوړ، لوښی نصیحت ورباندي اثرنه کاوو، غاړه یې ترې غړوله

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

دروړي اونه به ته چاته لاس وروړي اوپه آخرت کي ﴿ وَإِنَّ لَكَ مَوْعِدًا لَّن تُخْلَفَهُۥ ﴾ اوبېشکه شته تاته (په آخرت کي) وعده (دعذاب) چي له سره به خلاف ونکړی شي له تاسره له هغي وعدې څخه ﴿ وَٱنظُرْ إِلَىٰٓ إِلَٰهِكَ ٱلَّذِى ظَلْتَ عَلَيْهِ عَاكِفًا ﴾ وګوره خپل معبودته دي هغه چي وې ته په عبادت دهغه کي محکم ولاړ (چي خسی) دی ﴿ لَّنُحَرِّقَنَّهُۥ ثُمَّ لَنَنسِفَنَّهُۥ فِى ٱلْيَمِّ نَسْفًا ﴾ خامخا سوځوومو ړ هرو مروهغه بيابه بې بادوو تارپه تارکووپه سيندکي په تارپه تارکولوسره (چي هيڅ اثريې لاپاتي نشي) ﴿ إِنَّمَآ إِلَٰهُكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِى لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ﴾ بېشکه همداخبره ده چي معبود (برحق) ستاسي الله دی چي نشته بل معبود دعبادت وړمګرهمدی دی ﴿ وَسِعَ كُلَّ شَىْءٍ عِلْمًا ﴾ محيط دی په هرڅيزله جهته د علم ،هيڅ څيزپه ځمکه اوآسمان کي له الله جل جلاله څخه پټ اوالونيانه دی.

بلاغت:

پدې آيتونوکي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته لنډيزيې دادی:

١-تهويل لکه: ﴿ فَغَشِيَهُم مِّنَ ٱلْيَمِّ مَا غَشِيَهُمْ ﴾ .

٢-طباق لکه: ﴿ وَأَضَلَّ...وَمَا هَدَىٰ ﴾ .

٣-استعاره لکه چي فرمايې: ﴿ فَقَدْ هَوَىٰ ﴾ چي دلته يې د(هوی) لفظ چي معنايې ده له لوړڅخه ښکته راغورځېدل دهلاکت لپاره استعاره کړي ده.

٤-طباق لکه: ﴿ ضَرًّا وَلَا نَفْعًا ﴾ .

٥-دمبالغې صيغه لکه چي فرمايې: ﴿ وَإِنِّى لَغَفَّارٌ ﴾ يعني دهرښونکی دګناهونو.

٦-ايجازبالحذف لکه چي په دهروځايونوکي راغلی اوتفسيرڅېړلی دی.

٧-سجع چي متکلفه نه بلکه خوندوره اوخوږه وي لکه چي ﴿ أَمْرِى...قَوْلِى...نَفْسِى ﴾ اويادا چي ﴿ نَفْعًا...عِلْمًا...نَسْفًا ﴾ ترپايه پوري

تنبيه:

بني اسرائيلوچي دګلکي (سخوندرکي) عبادت دسامزي په هڅونه پيل کړڅکه چي ددوی په زړونوکي پخوالادبُت پرستي ريښې غزېدلي وې اوکله چي الله جل جلاله دوی دفرعون له طغيانه وژغورل نوله موسی عليه السلام څخه بې وغوښتل چي دوی ته دي يوبُت جوړکړي چي دوی بې عبادت وکړي الله دغه پېښه هسي بيانوي: ﴿ وَجَٰوَزْنَا بِبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ٱلْبَحْرَ فَأَتَوْا۟ عَلَىٰ قَوْمٍ يَعْكُفُونَ عَلَىٰٓ أَصْنَامٍ لَّهُمْ قَالُوا۟ يَٰمُوسَى ٱجْعَل لَّنَآ إِلَٰهًا كَمَا لَهُمْ ءَالِهَةٌ قَالَ إِنَّكُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُونَ ﴾ (الاعراف١٣٨) نوپه دې کي تعجب کول نه دی پکارچي دوی دي دسروزرو سخوندرچي غرکوي په عبادت کولو راټول شي !!

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

الله تعالى فرمايي:

﴿كَذَٰلِكَ نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنبَاءِ مَا قَدْ سَبَقَ ۚ وَقَدْ آتَيْنَاكَ مِن لَّدُنَّا ذِكْرًا ﴿٩٩﴾ مَّنْ أَعْرَضَ عَنْهُ فَإِنَّهُ يَحْمِلُ يَوْمَ
الْقِيَامَةِ وِزْرًا ﴿١٠٠﴾ خَالِدِينَ فِيهِ ۖ وَسَاءَ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حِمْلًا ﴿١٠١﴾ يَوْمَ يُنفَخُ فِي الصُّورِ ۚ وَنَحْشُرُ الْمُجْرِمِينَ يَوْمَئِذٍ زُرْقًا ﴿١٠٢﴾
يَتَخَافَتُونَ بَيْنَهُمْ إِن لَّبِثْتُمْ إِلَّا عَشْرًا ﴿١٠٣﴾ نَّحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَقُولُونَ إِذْ يَقُولُ أَمْثَلُهُمْ طَرِيقَةً إِن لَّبِثْتُمْ إِلَّا يَوْمًا ﴿١٠٤﴾
وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْجِبَالِ فَقُلْ يَنسِفُهَا رَبِّي نَسْفًا ﴿١٠٥﴾ فَيَذَرُهَا قَاعًا صَفْصَفًا ﴿١٠٦﴾ لَّا تَرَىٰ فِيهَا عِوَجًا وَلَا أَمْتًا ﴿١٠٧﴾
يَوْمَئِذٍ يَتَّبِعُونَ الدَّاعِيَ لَا عِوَجَ لَهُ ۖ وَخَشَعَتِ الْأَصْوَاتُ لِلرَّحْمَٰنِ فَلَا تَسْمَعُ إِلَّا هَمْسًا ﴿١٠٨﴾ يَوْمَئِذٍ لَّا تَنفَعُ الشَّفَاعَةُ إِلَّا
مَنْ أَذِنَ لَهُ الرَّحْمَٰنُ وَرَضِيَ لَهُ قَوْلًا ﴿١٠٩﴾ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيطُونَ بِهِ عِلْمًا ﴿١١٠﴾ ۞ وَعَنَتِ الْوُجُوهُ
لِلْحَيِّ الْقَيُّومِ ۖ وَقَدْ خَابَ مَنْ حَمَلَ ظُلْمًا ﴿١١١﴾ وَمَن يَعْمَلْ مِنَ الصَّالِحَاتِ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَا يَخَافُ ظُلْمًا وَلَا هَضْمًا ﴿١١٢﴾
وَكَذَٰلِكَ أَنزَلْنَاهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا وَصَرَّفْنَا فِيهِ مِنَ الْوَعِيدِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ أَوْ يُحْدِثُ لَهُمْ ذِكْرًا ﴿١١٣﴾ فَتَعَالَى اللَّهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ ۗ وَلَا
تَعْجَلْ بِالْقُرْآنِ مِن قَبْلِ أَن يُقْضَىٰ إِلَيْكَ وَحْيُهُ ۖ وَقُل رَّبِّ زِدْنِي عِلْمًا ﴿١١٤﴾ وَلَقَدْ عَهِدْنَا إِلَىٰ آدَمَ مِن قَبْلُ فَنَسِيَ
وَلَمْ نَجِدْ لَهُ عَزْمًا ﴿١١٥﴾ وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ أَبَىٰ ﴿١١٦﴾ فَقُلْنَا يَا آدَمُ إِنَّ
هَٰذَا عَدُوٌّ لَّكَ وَلِزَوْجِكَ فَلَا يُخْرِجَنَّكُمَا مِنَ الْجَنَّةِ فَتَشْقَىٰ ﴿١١٧﴾ إِنَّ لَكَ أَلَّا تَجُوعَ فِيهَا وَلَا تَعْرَىٰ ﴿١١٨﴾ وَأَنَّكَ لَا تَظْمَأُ
فِيهَا وَلَا تَضْحَىٰ ﴿١١٩﴾ فَوَسْوَسَ إِلَيْهِ الشَّيْطَانُ قَالَ يَا آدَمُ هَلْ أَدُلُّكَ عَلَىٰ شَجَرَةِ الْخُلْدِ وَمُلْكٍ لَّا يَبْلَىٰ ﴿١٢٠﴾
فَأَكَلَا مِنْهَا فَبَدَتْ لَهُمَا سَوْآتُهُمَا وَطَفِقَا يَخْصِفَانِ عَلَيْهِمَا مِن وَرَقِ الْجَنَّةِ ۚ وَعَصَىٰ آدَمُ رَبَّهُ فَغَوَىٰ ﴿١٢١﴾ ثُمَّ اجْتَبَاهُ
رَبُّهُ فَتَابَ عَلَيْهِ وَهَدَىٰ ﴿١٢٢﴾ قَالَ اهْبِطَا مِنْهَا جَمِيعًا ۖ بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ۖ فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُم مِّنِّي هُدًى فَمَنِ
اتَّبَعَ هُدَايَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا يَشْقَىٰ ﴿١٢٣﴾ وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنكًا وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ
أَعْمَىٰ ﴿١٢٤﴾ قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرْتَنِي أَعْمَىٰ وَقَدْ كُنتُ بَصِيرًا ﴿١٢٥﴾ قَالَ كَذَٰلِكَ أَتَتْكَ آيَاتُنَا فَنَسِيتَهَا ۖ وَكَذَٰلِكَ الْيَوْمَ تُنسَىٰ ﴿١٢٦﴾
وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي مَنْ أَسْرَفَ وَلَمْ يُؤْمِن بِآيَاتِ رَبِّهِ ۚ وَلَعَذَابُ الْآخِرَةِ أَشَدُّ وَأَبْقَىٰ ﴿١٢٧﴾ أَفَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ كَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّنَ
الْقُرُونِ يَمْشُونَ فِي مَسَاكِنِهِمْ ۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّأُولِي النُّهَىٰ ﴿١٢٨﴾ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ لَكَانَ لِزَامًا وَأَجَلٌ مُّسَمًّى
﴿١٢٩﴾ فَاصْبِرْ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوبِهَا ۖ وَمِنْ آنَاءِ اللَّيْلِ فَسَبِّحْ وَأَطْرَافَ النَّهَارِ
لَعَلَّكَ تَرْضَىٰ ﴿١٣٠﴾ وَلَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعْنَا بِهِ أَزْوَاجًا مِّنْهُمْ زَهْرَةَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا لِنَفْتِنَهُمْ فِيهِ ۚ وَرِزْقُ رَبِّكَ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰ
﴿١٣١﴾ وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلَاةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا ۖ لَا نَسْأَلُكَ رِزْقًا ۖ نَّحْنُ نَرْزُقُكَ ۗ وَالْعَاقِبَةُ لِلتَّقْوَىٰ ﴿١٣٢﴾ وَقَالُوا لَوْلَا يَأْتِينَا بِآيَةٍ
مِّن رَّبِّهِ ۚ أَوَلَمْ تَأْتِهِم بَيِّنَةُ مَا فِي الصُّحُفِ الْأُولَىٰ ﴿١٣٣﴾ وَلَوْ أَنَّا أَهْلَكْنَاهُم بِعَذَابٍ مِّن قَبْلِهِ لَقَالُوا رَبَّنَا لَوْلَا أَرْسَلْتَ

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

إِلَيْنَا رَسُولًا فَنَتَّبِعَ ءَايَٰتِكَ مِن قَبْلِ أَن نَّذِلَّ وَنَخْزَىٰ ﴿١٣٤﴾ قُلْ كُلٌّ مُّتَرَبِّصٌ فَتَرَبَّصُوا۟ فَسَتَعْلَمُونَ مَنْ أَصْحَٰبُ ٱلصِّرَٰطِ ٱلسَّوِىِّ وَمَنِ ٱهْتَدَىٰ ﴿١٣٥﴾ ﴾ طه: ٩٩ ـ ١٣٥

مناسبت او تړاو:

کله چي الله تعالی دموسی علیه السلام کیسه په تفصیل سره ذکرکړه ورپسې یې زیاته کړه چي دغه کیسې الهي وحی دي او که چېري الله ورته وحی کړي نه وای محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ددغو عجیبه اخبارواوپېښو معلومات نه وو نودغه درسول الله درسالت په رښتنولي لوی دلیل اوبرهان دی.

لغتونه:

(قاعا) هغه ښوی ځمکه چي پکي نباتات اوودانی نه وي (صفصفا) برابره ځمکه لکه چي په برابري کي یوصف وي (أمتا) (أمت) هغه لوړځای ته لکه غونډۍ اویالوړه تپه وایې (همسا) کراراوآرام غږ(عنت) ذلیل خاضع شول اوایل وګرزېدل؛ أمیة وایې : (لعزته تعنوالوجوه وتسجد) یعني دالله دعزت په وړاندي مخونه اېل اوتابع ګرزي اوسجده کوي (هضما) نقص ته ویل کېږي ویل کېږي چي حق یې هضم کړیعني ناقص یې ورته وسپارودظلم اوهضم ترمینځ توپیردادی چي ظلم بېخي نه ورکولواوهضم یوڅه نه ورکولوته وایې (١) (تضحی) لمرته پداسي توګه چي تودوخه یې احساس اوګرمي یې وشي پاتي کېدلو ته وایې (ضنکا) تنګسیااوشدت ته وایې (سوآتما) عورات ددوی دواړو (فتربصوا) انتظار وکړئ (الصراط السوی) برابره غوره لاره.

تفسیر:

﴿كَذَٰلِكَ نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنۢبَآءِ مَا قَدْ سَبَقَ﴾ (همداسي (لکه دموسی کیسه) کیسې کوو پرتا(تاته) له اخبارودهغواموروچي په تحقیق په خواتېرشوي دي) یعني لکه دغه دموسی علیه السلام کیسه له فرعون سره چي پکي غریب اوعجیب توکي دي تاته دپخوانیوامتونوکیسې کوو. ﴿وَقَدْ ءَاتَيْنَٰكَ مِن لَّدُنَّا ذِكْرًا﴾ (اوپه تحقیق موږتاته ذکردرکړی دی خاص له جانبه خپله) یعني موږتاته قرآنکریم درکړی چي تلاوت کېږي اوپه څرګندومعجزاتو مشتمل دی. په البحرالمحیط کي وایې چي الله پاک دهغه احسان یادونه کوي چي ده ته یې هسي پندورکړی چي په کیسواواخبارومشتمل اودعلیه السلام په معجزاتودلالت کونکی دی (٢)﴿مَّنْ أَعْرَضَ عَنْهُ فَإِنَّهُۥ يَحْمِلُ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ وِزْرًا﴾ هرڅوک چي مخ وګرزوي له دغه (قرآنه ورباندي ایمان نه راوړي) پس بېشکه دی به بارکړي (په ځان خپل) په ورځ دقیامت کي لوی بار(درنه ګناه چي په دوزخ کي به یې وغورځوي) ﴿خَٰلِدِينَ فِيهِ ۖ وَسَآءَ لَهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ حِمْلًا﴾ چي تل به وي په دغه (عذاب دلوی بار) کي اوبددی دوی ته په ورځ دقیامت کي له جهته دبارولو؛ ګناه یې له بارسره

---

(١) القرطبي ١١ / ٢٤٩

(٢) البحرالمحیط ٢ / ٣٧

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

مشابه کړه څکه چي دروندوالی لري ﴿ يَوْمَ يُنفَخُ فِي ٱلصُّورِ ۚ وَنَحْشُرُ ٱلْمُجْرِمِينَ يَوْمَئِذٍ زُرْقًا ﴾ په هغه ورځ کي چي وپوکل شي (دوهم ځلي) په صورشپېلۍ) کي اوراجمع به کړو مجرمان (کافران) په دغه ورځ شين سترګي (تورمخونه) قرطبي وايي ددوی خلقت به هغه ورځ واوښتی(مشوه) شي اوتکي شنې سترګي، تورمخونه به يې وګرزي(١)﴿ يَتَخَٰفَتُونَ بَيْنَهُمْ إِن لَّبِثْتُمْ إِلَّا عَشْرًا ﴾ چي ورو وروپتي خبري به کوي پخپل مينځ کي (داسي به يوبل ته وايي چي) درنګ نه دی کړی تاسي مګرلس ورځي (په دنياکي). ابوالسعودوايي چي دوی به دشدت په ليدلوددنيادژوندموده خورا لږوګڼي(٢)﴿ نَّحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَقُولُونَ إِذْ يَقُولُ أَمْثَلُهُمْ طَرِيقَةً إِن لَّبِثْتُمْ إِلَّا يَوْمًا ﴾ موږ ښه عالمان يوپه هغو اقوالوچي دوی يې وايي کله چي ووايي هغه ډېرکامل څيرک له حيثه دروش (فکر اوعمل)چي څنډنه دی کړی تاسي (په دنياکي) مګريوه ورځ ﴿ وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْجِبَالِ فَقُلْ يَنسِفُهَا رَبِّي نَسْفًا ﴾ اوپوښتنه کوي له تانه له (احواله د) غرونو(چي ددوی به دقيامت په ورځ څه حال وي ؟) پس ووايه دوی ته چي تارپه تاراوتيت پرک به يې کړي دغه غرونه (دغبار په شان) رب زما(اولکه شګي بادبه يې په هرلوري الوزوي) ﴿ فَيَذَرُهَا قَاعًا صَفْصَفًا ﴾ پس پرې به ږدي داځمکه هوارداګ ﴿ لَّا تَرَىٰ فِيهَا عِوَجًا وَلَآ أَمْتًا ﴾ چي نه به وينې ته پدغه (ځمکه) کي ښکته والی اونه اوچت والی ﴿ يَوْمَئِذٍ يَتَّبِعُونَ ٱلدَّاعِيَ لَا عِوَجَ لَهُۥ ﴾ په دغه ورځ (دقيامت) کي به متابعت وکړي (دامخلوق دبلني) دبلونکي نه به وي کوږوالی (انحراف) له دغي (بلني دبلونکي څخه چي دمحشرڅګرته به يې بيايي)﴿ وَخَشَعَتِ ٱلْأَصْوَاتُ لِلرَّحْمَٰنِ فَلَا تَسْمَعُ إِلَّا هَمْسًا ﴾ اوچپ به شي غږونه (له ډېره هيبته) دپاره درحمن(جل وعلی) پس نه به اورې ته مګرکښهار دقدمونو(چي دمحشرځمکي ته به خلګ درومي) دغه معنادابن عباس رضی الله عنه څخه روايت شويده (٣)﴿ يَوْمَئِذٍ لَّا تَنفَعُ ٱلشَّفَٰعَةُ إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ ٱلرَّحْمَٰنُ وَرَضِيَ لَهُۥ قَوْلًا ﴾ پدغه ورځ (دقيامت کي نه رسوي فائده شفاعت (هيچاته) مګرهغه چاته چي رحمن دهغه په حق کي اذن کړی دی اوراضي دی الله له دغه (مشفوع) څخه له حيثيته د وينا(چي دتوحيد کلمه ده) دغه هم دابن عباس ضی الله عنه تفسير دی ﴿ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيطُونَ بِهِۦ عِلْمًا ﴾ پوهېږي الله په هغوڅېزونو چی ددوی په وړاندي دي اوپه هرهغه څېزچي پسي شاددوی دي (يعني دنيوي اواُخروي اُمور) اونه به شي احاطه کولای دوی (په معلوماتو) ددغه (الله) له جهته دپوهي(٤)﴿ وَعَنَتِ ٱلْوُجُوهُ لِلْحَيِّ ٱلْقَيُّومِ ﴾ اوذليل شول مخونه (دخلګو) هغه تل ژوندي قائم تدبيروالادعالموته (هغه واحد، قهار،

---

(١) القرطبي ١١ / ٢٤٤

(٢) ابوالسعود ٣ / ٣٢٤

(٣) الطبري ١٦ / ٢١٤

(٤) اوچابياويلي چي احاطه نشي کولای دوی په معرفت دذات دالله تعالی شانه څکه دالله حقيقت پرته له الله بل چاته معلوم نه دی اوهمدغه يي په التسهيل کي غوره شوي خبره ګڼلی ده.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

جبارالسماوات والارض الذي لايموت ذات ته زمخشري وايې چي: مرادله مخونوڅخه د ګنهګارانو مخونه دي کله چي دقيامت ورځ ووينې اوخپله بدمرغي او محروميت وګوري نومخونه به يې ذليل شي داسي لکه چي دبنديانومخونه وي لکه چي الله فرمايې ﴿ فَلَمَّا رَأَوْهُ زُلْفَةً سِيئَتْ وُجُوهُ الَّذِينَ كَفَرُوا وَقِيلَ هَذَا الَّذِي كُنتُم بِهِ تَدَّعُونَ ﴾ (الملک٢٧) ﴿ وَقَدْ خَابَ مَنْ حَمَلَ ظُلْمًا ﴾ اوپه تحقيق نااميده شو هرهغه څوک چي باردظلم يې پورته کړ.يعني هغه څوک چي مشرک شوهغه په خسران کي دی اوپه مراد ونه رسيدومطلوب يې ونه مونده ﴿ وَمَن يَعْمَلْ مِنَ الصَّالِحَاتِ وَهُوَ مُؤْمِنٌ ﴾ اوهرڅوک چي وکړي له ښو عملونو حال داچي دی مؤمن وي ﴿ فَلَا يَخَافُ ظُلْمًا وَلَا هَضْمًا ﴾ پس نه وېرېږي دی (په آخرت کي) له ظلم اوله نقصانه(په حسناتودده کي) ﴿ وَكَذَٰلِكَ أَنزَلْنَاهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا ﴾ او همداسي (لکه په کيسو مشتمل آيتونه) نازل کړی دی موږدغه قرآن په عربي ژبه (پرتاای محمده! ترڅودوی وپوهېږي چي دغه په فصاحت اوبلاغت کي دبشرله توان څخه بهردی﴿ وَصَرَّفْنَا فِيهِ مِنَ الْوَعِيدِ ﴾ اوبيا بيارا وړي دي موږپه دې قرآن کي له آيتونودوعيد(مکرر) ﴿ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ أَوْ يُحْدِثُ لَهُمْ ذِكْرًا ﴾ لپاره ددې چي دوی پرهېز وکړي يا پيداکړي دغه قرآن دوی ته پند(په زړونوکي چي داوامروامتثال يې وکړي اوله نواهيوڅخه يې اجتناب وکړي) ﴿ فَتَعَالَى اللَّهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ ﴾ (نولوی اوچت دی الله چي حق پادشاه (دپاچهانو) دی) يعني لوړدی ددې برحق ذات سلطان په هرجبارباندي کوم چي مشرکان يې دده له مخلوق څخه ورباندي ستايې ﴿ وَلَا تَعْجَلْ بِالْقُرْآنِ مِن قَبْلِ أَن يُقْضَىٰ إِلَيْكَ وَحْيُهُ ﴾ (اوتلوارمه کوه (ای محمده! په (لوستلود) قرآن پخواله هغه چي پوره کړه شي تاته وحی دده) يعني کله چي جبريل تاته قرآن لولي ته له هغه سره په لوستلوکي تلوارمه کړه بلکه صبروکړه اوله هغه څخه يې واوره ترڅوهغه يې له تلاوت څخه فارغ شي بيايې ته لوله. ابن عباس رضی الله عنه وايې چي: رسول الله صلی الله عليه وسلم به ددې لپاره چي دقرآن په يادولوکي يې خوراحرص درلودنوپه چټکي سره به يې پخواتردې چي جبريل (عليه السلام) يې له لوستلوفارغ شي قرآن لوست چي ترې هېرنشي نوالله ځني منع کړ. قرطبي وايې چي دالکه دالله جل جلاله هغه ويناچي فرمايې: ﴿ لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ ﴾ (١) ﴿ وَقُل رَّبِّ زِدْنِي عِلْمًا ﴾ اووايه (ای محمده!) ای زماربه زيات کړه ماله جهته دعلمه) يعني له الله څخه دګټور علم دزياتوالي غوښتنه وکړه طبري وايې ورته يې امروکړ چي دعلمي فوائدوڅخه چي په کومونه پوهېږی دهغوی غوښتنه وکړئ (٢)﴿ وَلَقَدْ عَهِدْنَا إِلَىٰ آدَمَ مِن قَبْلُ ﴾ اوخامخاپه تحقيق حکم کړی وو موږآدم ته پخواله دې نه (چي له درختي دي خوراک نه کوي) ﴿ فَنَسِيَ وَلَمْ نَجِدْ لَهُ عَزْمًا ﴾ پس هغه (حکم يې) هېرکړاوومونه مونده ده ته استقامت (صبرله

---

(١) القرطبي١١/ ٢٥٠ سورة القيامة .
(٢) الطبري١٢/ ٢٢٠

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

هغه ممنوع عنه څخه) ﴿ وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَٰٓئِكَةِ ٱسْجُدُوا۟ لِءَادَمَ فَسَجَدُوٓا۟ إِلَّآ إِبْلِيسَ أَبَىٰ ﴾ اويادکړه هغه وخت چي موږ پرښتوته وويل چي(تعظيما) سجده وکړئ آدم ته پس سجده وکړه (ټولو) مګر(سجدهٔ ونکړه) ابليس منع يې راوړه (له امره دالله تعالى. صاوي وايې چي دغه کيسه يې دقرآنکريم په اوو (٧) سورتونوکي مکرر راوړي ده چي بندګانوته دالهي اوامرودامتثال روزنه ورکړي اوله نواهيوڅخه داجتناب زده کړه ورته وښيي همداسي دابليس دښمني چي ددوی له پلارآدم سره يې درلوده ورپه ګوته کړي(١)﴿ فَقُلْنَا يَٰٓـَٔادَمُ إِنَّ هَٰذَا عَدُوٌّ لَّكَ وَلِزَوْجِكَ ﴾ پس وويل موږ ای آدمه بېشکه دا(ابليس) دښمن ستااو(دښمن) دښځي ستا دی) يعني موږهغه وپوهاوو چي داستا او دحواء لپاره سخت زبردست دښمن دی ﴿ فَلَا يُخْرِجَنَّكُمَا مِنَ ٱلْجَنَّةِ فَتَشْقَىٰٓ ﴾ (پس (خبردار) ودي نه باسي خامخا تاسي له جنته پس په مشقت کي به پرېوزی) يعني تاسي دهغه مه منئ که نه هغه به ستاسي دايستلو سبب شي اوچي دلته يې يوازي دآدم (عليه السلام) مشقت وښودد غه دفواصلودمراعات لپاره بل داچي دده شقاپه عين حال کي دحوآء شقا(بدمرغی) هم ده. ابن کثير وايې: معناداچي پام کوه چي له جنته دي دوتلوزيارونکړي بيابه په مشقت کي ولوېږې دروزي په لاسته راوړلوبه ستړی ستومان شې دلته په جنت کي خوپه بې تکليفه اوبې کړاوه پراخ عيش اوعشرت کي اوسې (٢)﴿ إِنَّ لَكَ أَلَّا تَجُوعَ فِيهَا وَلَا تَعْرَىٰ ﴾ بېشکه مقرردی تاته چي نه به وږي کېږئ په دې (جنت) کي اونه به بربنډ کېږی ﴿ وَأَنَّكَ لَا تَظْمَؤُا۟ فِيهَا وَلَا تَضْحَىٰ ﴾ اوبېشکه ته به نه تږی کېږې په دغه جنت کي اونه به دي ګرمي کېږي (څکه جنت دارالسرور دی ستړيا، ستوماني اوتکليف يخني، ګرمي، تنده او لوږه نلري ﴿ فَوَسْوَسَ إِلَيْهِ ٱلشَّيْطَٰنُ ﴾ پس وسوسه واچوله دغه (آدم) ته شيطان (داسي چي) ﴿ قَالَ يَٰٓـَٔادَمُ هَلْ أَدُلُّكَ عَلَىٰ شَجَرَةِ ٱلْخُلْدِ وَمُلْكٍ لَّا يَبْلَىٰ ﴾ ورته ويې ويل: ای آدمه آيا(دروښيم) دلالت وکړم تاته په ونه دتل ژوندي پاتي کېدلواوپه نه زائل کېدونکي پاچهي باندي؟ دايوهسي فريب اوچل ووچي په ظاهره يې دنصيحت بڼه لرله اولعين بياچېري دنصيحت په غم کي وو؟) ﴿ فَأَكَلَا مِنْهَا فَبَدَتْ لَهُمَا سَوْءَٰتُهُمَا ﴾ پس وخوړله دوی دواړوله (مېوې د) دغي وني (منهي عنها) څخه پس دوی ته ښکاره شول عورات ددوی؛ ابن عباس رضی الله عنه وايې چي: الله جل جلاله هغه نور ورڅخه واخيست په کوم سره چي ددوی عورات پټ وو نويې شرمګاوي ښکاره شوې ﴿ وَطَفِقَا يَخْصِفَانِ عَلَيْهِمَا مِن وَرَقِ ٱلْجَنَّةِ ﴾ اوشروع وکړه دواړوچي ننښلولې پوري کولې يې پرځانونوپوري له پاڼو(دوني د) جنت (لپاره د عورت پټولو) ﴿ وَعَصَىٰٓ ءَادَمُ رَبَّهُۥ فَغَوَىٰ ﴾ اونافرماني وکړه آدم (له حکم) درب خپل (په خوراک له وني څخه) پس چپ شو(له مطلوبه دخلوده په جنت کي) څکه چي ددښمن په ويناتېروتل شو. ابوالسعودوايې چي: تعبيرپه عصيان اوغوايت باندي سره له وړوکوالي دزلت دتعظيم ښښه او د اولاد

(١) حاشية الصاوي على الجلالين ٣ / ٦٦
(٢) المختصر ٢ / ٤٩٦

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

لپاره يې دزيات زجرڅرګندونه ده (١)﴿ ثُمَّ اجْتَبَاهُ رَبُّهُ فَتَابَ عَلَيْهِ وَهَدَىٰ ﴾ بياغوره کړدغه (آدم) لره رب دده پس رجوع وکړه الله په آدم په قبول دتوبې سره اوهدايت يې ورته وکړ(دتوبې ،ثبات اودطاعت په اسبابو دمنګولو لګولو) ﴿ قَالَ اهْبِطَا مِنْهَا جَمِيعًا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ﴾ (وويل: (الله) چي کوزشئ دواړه له دغه جنته ټول ځيني دتاسي دځينونورو دښمنان يې) يعني له جنته ځمکي ته کوزشئ چي ځيني او لاده ستاسي دځينونورو سره دمعاش په کسب يا دطبيعتونو داختلاف اورغبتونو دبېل والي په سبب يودبل دښمنان دي. زمخشري وايې: څرنګه چي آدم اوحوآء دبشراصل اومورا وپلاردي نولکه چي دوی پخپله ټول بشريت وي ځکه ورته خطاب وکړی شو(٢)﴿ فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُم مِّنِّي هُدًى ﴾ پس که راغی زماله لوري تاسي ته هدايت (چي کتابونه اورسولان دي) ﴿ فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَايَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا يَشْقَىٰ ﴾ پس هغه چاچي زمادهدايت متابعت وکړپس هغه به نه ګمراه کېږي (په دنياکي) اونه به بدبخت شي (په عقباکي) ابن عباس رضی الله عنه وايې چي: الله جل جلاله دهغه چاضمانت کړي څوک چي قرآن لولی اوپه حکمونويې عمل کوي ددې چي هغه به په دنياکي ګمراه نشي اوپه آخرت کي به له بدمرغي وژغورل شي اوبيايې داآيت تلاوت کړ(٣)﴿ وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنكًا ﴾ اوهرچا چي زماله ذکره (پنده) مخ وګرزاوو پس بېشکه ده ته تنګ معېشت دی په دنياکي (که څه هم په ظاهري توګه په نعمت کي وي) ﴿ وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَىٰ ﴾ اوپورته به کړو دی (په آخرت) په ورځي د قيامت کي روند؛ ابن کثيروايې: چي که څوک دالله له حکمته څنګ وکړي اوهغه په شعوري توګه هېر کړي نودهغه ژوند په دنياکي تريخ وي آرام نلري سينه يې تنګه وي ګمراهي ورباندي خپره وي که څه هم له ظاهري پلوه په ناز اونعمت کي لوبېږي چي غواړي هغه خوري اوچي زړه يې غواړي هغه اغوندي اوچېري يې چي زړه وي هلته اوسي خوزړه يې په اضطراب کي لالهانداو ترهوره وي اوچابياويلي چي معناداچي قبربه ورباندي داسي تنګ شي چي پښتئ به يې له پښتيوسره تېري اوبېري کړي(٤)﴿ قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرْتَنِي أَعْمَىٰ وَقَدْ كُنتُ بَصِيرًا ﴾ وبه وايې دغه (روند کافر) ای زماربه ولي دي زه روندراپاڅولم حال داچي په تحقيق زه په دنياکي بېناوم ﴿ قَالَ كَذَٰلِكَ أَتَتْكَ آيَاتُنَا فَنَسِيتَهَا وَكَذَٰلِكَ الْيَوْمَ تُنسَىٰ ﴾ وفرمايل: (الله) همداسي وولکه (چي ته وايې) خو راغلي ووتاته زموږآيتونه پس تاهغه هېرکړل اوپه مثل دهغو(هېرولوستا) نن ورځ به هېرکړل شې ته (په عذاب کي) ﴿ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي مَنْ أَسْرَفَ وَلَمْ يُؤْمِن بِآيَاتِ رَبِّهِ ﴾ اوپه مثل دهمدې جزاورکولو (زموږ کفارو ته) جزاورکوو موږهغه ته چي له حده ووت (په شهوتونو کي ډوب شو) اوايمان

---

(١) ابوالسعود ٣ / ٣٢٧

(٢) الکشاف ٣ / ٩٣

(٣) القرطبي ١١ / ٢٥٨

(٤) المختصر ٢ / ٤٩٧

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

يې رانه وورپه آيتونو درب خپل ﴿ وَلَعَذَابُ ٱلْآخِرَةِ أَشَدُّ وَأَبْقَىٰٓ ﴾ او خامخا عذاب دآخرت ډېرسخت دی او ډېر تلپاتي دی (هيڅ تېرېده نلري) ﴿ أَفَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ كَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّنَ ٱلْقُرُونِ ﴾ آيا پس ندی ښکاره شوی (دغو کفارودمکې ته) چې موږ ډېرهلاک کړي دي په خواله دوی نه اهل دزمانو (پخوانيوچې دخپلو پيغمبرانوتکذيب يې کاوو ﴿ يَمْشُونَ فِي مَسَٰكِنِهِمْ ﴾ چې ځي تېرېږي دوی په (تشو) کليوځايونو ددوی (لکه دعاد اوثمودهستوګنځي چې دهغوی دهلاکت نښې ويني آياولي عبرت اوپندترې نه اخلي؟ ﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّأُوْلِي ٱلنُّهَىٰ ﴾ بېشکه په دغه (اهلاک دمنکرينو) کي خامخاډېردلائل (دعبرت دي) خاوندانودعقلونوته ﴿ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ لَكَانَ لِزَامًا وَأَجَلٌ مُّسَمًّى ﴾ اوکه چېري هغه وينانه وای چې پخواويلي شوي ده (له طرفه) درب ستا (په تأخيردعذاب) نوخامخاووبه دغه (هلاک) لازم (له دوی سره) اوکه نه وای نېټه معلومه دعمرددوی (نوبه په دنياکي معذب کېدل) فرآء وايې چې: په آيت کي روستی ړومبی راغلی هغه داچې که چېري ويناوتاکلي موده نه وای نوبه ارومروعذاب پردوی لازم وو (په دنياکي) اودتقديم تاخيرسبب يې داچې دآيتونوپيل يوشاني وي ﴿ فَٱصْبِرْ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ ﴾ پس صبرکوه (ای محمده) په هغوخبرو چې دوی يې وايې (يعني دغه ستا دتېرمکذبين چې څه وايې په هغوصبرکوه) ﴿ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ ٱلشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوبِهَا ﴾ او تسبيح وايه سره له حمد، ثنادرب خپل (لمونځ کوه) پخوادلمرله ختلو (دسهارلمونځ) اوترپخواله ډوبېدلودلمر (دما سپښين اونمازديګرلمونځ) ﴿ وَمِنْ ءَانَآيِٕ ٱلَّيْلِ فَسَبِّحْ وَأَطْرَافَ ٱلنَّهَارِ ﴾ اوپه ځينو اوقاتوله ساعتونودشپې پس تسبيح وايه (لمونځ کوه د، ماښام اوماسخوتن) اوپه دواړو څنګو دورځي کي) يعني لمونځ کوه په ساعتونودشپې اوپيل دورځي کي ﴿ لَعَلَّكَ تَرْضَىٰ ﴾ ښايې چې ته به راضي شې (يعني الله به هغه څه درکړي چې ته به ورباندي خوښ شې. قرطبي وايې چې اکثره مفسرين وايې چې دغه پنځولمنځونوته اشاره کوي چې ﴿ قَبْلَ طُلُوعِ ٱلشَّمْسِ ﴾ دسهارلمونځ ﴿ وَقَبْلَ غُرُوبِهَا ﴾ د مازديګرلمونځ ﴿ وَمِنْ ءَانَآيِٕ ٱلَّيْلِ ﴾ دماخوستن لمونځ ﴿ وَأَطْرَافَ ٱلنَّهَارِ ﴾ دماښام اوماسپښين لمونځ ځکه ظهرپه آخر لومړی څنګ دورځي کي اوپرېوتل دلمرپه آخرڅنګ دوروستی برخي دورځي دي (١) ﴿ وَلَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعْنَا بِهِۦٓ أَزْوَٰجًا مِّنْهُمْ ﴾ اومه اوږدوه (نظرد) سترګوخپلو (مه يې اړوه) هغه څېزته چې نفع ورکړي ده موږپه هغه سره چې قسماقسم دي دغو (کفارو) ته ﴿ زَهْرَةَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ﴾ ښايست دژوندانه ددنيا ﴿ لِنَفْتِنَهُمْ فِيهِ ﴾ ددې لپاره چې وازمايوپه دې (نعمتونو) کي (ترڅودخپل کفر له امله دعذاب وړشي) ﴿ وَرِزْقُ رَبِّكَ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰ ﴾ اورزق روزي درب دتاډېرغوره اوتلپاتي دي (له دغو فاني نعمتونوڅخه) مفسرين کرام وايې چې خطاب

---

(١) القرطبي ١١/ ٣٢١

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

رسول الله صلى الله عليه وسلم ته دی اومراد ځني امت دی ځکه رسول الله صلى الله عليه وسلم ترټولوزاهدترين ذات ووچي ددنياپه هکله يې هيڅ رغبت نه درلود اوټوله توجه يې دهغه څه په لوروه چي له الله سره دي ﴿ وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلَوٰةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا ﴾ اوامر(حکم) کوه په اهل (بيت) خپل (امت خپل) په کولودلمانځه (سره له خشوع اوادابو) اوته هم پرې کلک ولاړاوسه ﴿ لَا نَسْئَلُكَ رِزْقًا نَّحْنُ نَرْزُقُكَ ﴾ (موږله تاڅخه روزي نه غواړو(بلکه) موږ روزي درکوو تاته) يعني ته پدې مکلف نه يې چي دځان اواهل لپاره روزي وګټې بلکه موږستا اواهل لپاره دروزي تکفل کوو﴿ وَالْعَٰقِبَةُ لِلتَّقْوَىٰ ﴾ اوښه خاتمه دعاقبت د پرهېزګاري خاوندانولره ده. ابن کثيروايې چي: محمودعاقبت چي جنت دی هغه چالره دی چي پرهېزګاران (متقيان) وي(١)﴿ وَقَالُوا لَوْلَا يَأْتِينَا بِآيَةٍ مِّن رَّبِّهِ ﴾اووايې (کفارمشرکان) ولي نه راوړي (محمد) موږته يوه معجزه (له طرفه) درب خپل؟(چي دده په رښتنولي دلالت وکړي) ﴿ أَوَلَمْ تَأْتِهِم بَيِّنَةُ مَا فِي الصُّحُفِ الْأُولَىٰ ﴾ (آيادوی ته ندی راغلی مصدق دليل برهان دهغه شي چي په پخوانيوکتابونوکي وو؟) يعني آيادوی درسول الله صلى الله عليه وسلم په معجز قرآن باندي بسنه (کفايت) نه کوي هغه چي د پخوانيوامتونوپه خبرونومشتمل دی؟ استفهام دتوبيخ اوتقريع لپاره دی په البحرکي وايې چي: مشرکانووړانديزکاووچي ددوی د خوښي معجزې ورته راوړل شي اودغه ددوی دسرغړوني شاهدوونو ورته داسي ځواب وويل شوچي آيادغه قرآن چي په پخوانيوکتابونوکي دده په هکله بشارت اوزېری ورکړل شوی وودمعجزې په توګه کافي نه دی ؟ چي داترټولومعجزاتوخوراستره اوتلپاتي معجزه ده ځکه دقيامت ترورځي به پاتي وي(٢)﴿ وَلَوْ أَنَّا أَهْلَكْنَاهُم بِعَذَابٍ مِّن قَبْلِهِ ﴾ (اوکه چېري موږدوی پخواپه عذاب سره هلاک کړي وای) يعني که چېري دغه دمکې کفارپخوادقرآن له نزوله اودمحمدصلى الله عليه وسلم تربعثته موږهلاک کړي وای نو ﴿ لَقَالُوا رَبَّنَا لَوْلَا أَرْسَلْتَ إِلَيْنَا رَسُولًا ﴾ خامخابه دوی ويلي وو: ای زموږ ربه ! ولي دي موږته پيغمبرنه راولېږو(چي موږ ورباندي ايمان راوړی وای متابعت موکړی وای) ﴿ فَنَتَّبِعَ آيَاتِكَ مِن قَبْلِ أَن نَّذِلَّ وَنَخْزَىٰ ﴾ نوچي متابعت کړی وای موږستادآيتونوپخواله هغه چي موږذليل شرمنده شوي وای (دخلګو په وړاندي. مفسرين کرام وايې چي دالله جل جلاله مقصددادی چي وروسته دانبياوو تر راتلو اودکتابونوترنازلېدوهيچاته حجت اوعذرنه دی پاتي ﴿ قُلْ كُلٌّ مُّتَرَبِّصٌ ﴾. ووايه ای محمده دوی ته) چي هريو(له موږاوتاسو) انتظارکونکی دی (چي مرسته به چاته وي اوڅوک به له کړاوونو سره لاس اوګرېوان شي) ﴿ فَتَرَبَّصُوا ﴾ پس تاسي انتظارکوئ د(عاقبت اوپايلي) ﴿ فَسَتَعْلَمُونَ مَنْ أَصْحَابُ الصِّرَاطِ السَّوِيِّ وَمَنِ اهْتَدَىٰ ﴾ پس ژربه

---

(١) المختصر٢/٥٠٠

(٢) البحرالمحيط٦/٢٩٢

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

پوه شی تاسي چي څوک دي خاوندان دسمي لاري ؟ (آیامو ږ یو ، که تاسو ؟) اوکوم یودی چي په سمه صافه لاره درومي (اوڅوک په ګمراهي کي لوبېږي) مو ږکه تاسي؟). قرطبي وايې چي : پدې کي دوېروني اوتهدیدولو: ډول نغښتی دی هغه چي دامبارک سورت ورباندي پای ته رسېدلی دی(١)

بلاغت:

پدې مبارکو آیتونوکي چي دفصاحت په هکله دبدیع اوبیان کومي ښکلاوي شته دادي:

١-دتشبیه صنعت چي فرمايې ﴿كَذَٰلِكَ نَقُصُّ عَلَيْكَ﴾ دغه مرسله مجمله تشبیه ده.

٢-استعاره چي پدې کلام کي ده﴿ وَسَآءَ لَهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ حِمْلًا ﴾ دلته يې ګناه له درانه پېټي سره دتصریحي استعارې په توګه تشبیه کړي ده.

٣-کنایه چي فرمايې: ﴿ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ﴾ چي دغه له دنیوي اواخروي چاروڅخه عبارت دي.

٤-دطباق صنعت لکه ﴿أَعْمَىٰ.... بَصِيرًا ﴾ .

٥-تمثیلي تشبیه لکه: ﴿زَهْرَةَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا﴾ ددنیادنعمتونومثال يې په ګل راوړ هغه چي ښکلی اغلی منظر لري خوبیامړاوی شي او ورژېږي همداسي ددنیانعمتونه دي.

٦-وعیداوتهدیدلکه: ﴿فَتَرَبَّصُوٓا۟ ﴾ .

٧-اشتقاقي جناس چي وايې: ﴿أَرْسَلْتَ إِلَيْنَا رَسُولًا ﴾ .

٨-لطیفه سجع چي تکلف ورته لاره نلري لکه: ﴿ ظُلْمًا... هَضْمًا... عِلْمًا ﴾ او ﴿ فَتَشْقَىٰٓ... تَعْرَىٰ ...تَرْضَىٰ ﴾ ترپایه پوري.

لطیفه:

ناصروايې چي په آیت شریف کي یوښایسته رازپروت دی چي هغه ته (قطع النظیرعن النظیر) وايې اوداپدې چي تنده يې له لوږي څخه وشلوله او(ضحو) يې له (کسوة) څخه ګوښه کړه پداسي حال کي چي ددوی ترمینځ تناسب شته اومقصدله دې څخه دِدغونعمتونودشمېرګڼل اوراټولول دي اوکه هریويې له خپله هم شکله سره یوځای راوړي وای نوبه داسي انګېرل کېدل چي داټول یونعمت دی اوبل رازپه آیت کي داهم دی چي دفواصلوتناسب خوندي پاتي شوی که چېري يې تنده له لوږي سره یوځای راوړي وای دآیتونوپیل به تیت اوپرک شوی وو.

فائده اوګټه:

دهغه چاپه حکایت کي وايې چي ﴿ عَشْرًا ﴾او﴿ يَوْمًا ﴾ او ﴿ سَاعَةً ﴾ ددوی حقیقي اختلاف مرادنه دی چي دوی څومره درنګ کړی دی اونه هم دوی دهغه دتعیین په هکله کوم شک اوتردیدلري

(١) القرطبي ١١ / ٢٤

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

بلکه مقصد دادی چي دغه ژوندخوراګرندی تېرېږي نوځکه يې په دغه يادي شوو مودوباندي يادونه وکړه نوپه حکايت کي تفنن اوپه هرځای کي يې له هغه سره وړکلمه راوړي ده. (١)
دالله جل جلاله په مرسته دسورت طه تفسيربشپړشو.

د(الأنبياء) سورت مکي اويوسل اودوولس آيتونه لري

دسورت په وړاندي: دغه سورت مکي اوداسلامي عقيدې موضوع پخپلوپراخوګرونوکي چي رسالت ، وحدانيت ،بعث اوجزاء دي څېړي ،دقيامت دورځي له کړاونوغږېږي اودانبياووعليهم السلام کيسې بيانوي

* په پيل کي سورت دخلکوغفلت اوناپامي چي دآخرت اوحساب جزاء په هکله يې لري يادوي چي سره له دې چي قيامت له ورايه برېښي خوبياهم دوی ددغي سختي ورځي څخه غافل دي دوی دژوندانه تېروتنودهغه حساب ، کتاب له ورځي څخه بې فکره کړي دي

* بيادروغ ګڼونکو(مکذبينو) څخه خبري کوي هغه چي دتېروامتونو هلاکتونه يې ليدلي اورېدلي هم دي خودوی کوم پند ترې نه دی اخيستی ترڅوچي په نابېره (ناڅاپه) دوی ته عذاب راشي نوبيادوی په عجزلاس اوچتوي خوافسوس چي داوخت زاري جګي ګټه نلري.

* په سورت کي دقدرت هغه نښي نښانې چي په أنفس اوآفاقوکي ترسترګوکېږي راوړي هغه چي دتدبيراوحکمت دخاوندپه عظمت دلالت کوي اودکائناتووحدت دالله په وحدت پوري تړي

* وروسته له هغه چي درب العلمين په وحدت باندي شاهدان دلائل راوړي نودمشرکانوحال بيانوي چي کله دوی په رسول الله صلی الله عليه وسلم باندي مسخرې کوي دهغه تکذيب ته يې ملاوي تړلي دي نوبيادالله جل جلاله سنت چي سرغړونکي مجرمين دتاريخ په اوږدوکي هلاکوي رااخلي.

* بياسورت دځينوانبياووعليهم السلام کيسې راوړي اودابراهيم عليه السلام هغه کيسه چي له بت پرست قوم سره يې درلوده په خوندورو اسلوبو ، ښايسته بيان اوغښتلي حجت اوبرهان سره بيانوي چي په جبري توګه دښمن غاړه ايښودلوته اړباسي اوپدې کي خورازيات پندونه اوعبرتونه شته.

* په سورت کي همداسي پرله پسې له انبياووڅخه يادونه کېږي اوداسحاق ، يعقوب ، لوط، نوح ، داؤد، سليمان ، ايوب ، اسماعيل ، ادريس ، ذوالکفل ، ذوالنون، زکرياوعيسی عليهم السلام خبرونه په څغلنده نظراوايجازسره له هغومشکلاتواوکړاوونوچي دوی ګاللي رااخلي اوپه پای کي يې دخاتم الأنبياء سيدالمرسلين محمدبن عبدالله رحمة للعلمين په رسالت سره پای ته رسوي.

تسميه اونومول يې:

دغه سورت ځکه سورت الانبيآء وايې چي الله تعالی پکي ديوي ډلی انبياووعليهم السلام يادوني ته لنډه کتنه کړي چي کله څه اوږده اوکله بيالنډون مومي اوددوی جهاد ،صبراودالله په لاره کي قرباني اوځان تېرېدنه چي دبشريت دنېکمرغي لپاره يې ددعوت اوتبليغ په چاروکي ترسره کړي ښيي.

---

(١) حاشية الشهاب على البيضاوی

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

الله تعالى فرمايي:

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ اقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ مُّعْرِضُونَ ﴿١﴾ مَا يَأْتِيهِم مِّن ذِكْرٍ مِّن رَّبِّهِم مُّحْدَثٍ إِلَّا
اسْتَمَعُوهُ وَهُمْ يَلْعَبُونَ ﴿٢﴾ لَاهِيَةً قُلُوبُهُمْ ۗ وَأَسَرُّوا النَّجْوَى الَّذِينَ ظَلَمُوا هَلْ هَٰذَا إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ ۖ أَفَتَأْتُونَ
السِّحْرَ وَأَنتُمْ تُبْصِرُونَ ﴿٣﴾ قَالَ رَبِّي يَعْلَمُ الْقَوْلَ فِي السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ ۖ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿٤﴾ بَلْ قَالُوا
أَضْغَاثُ أَحْلَامٍ بَلِ افْتَرَاهُ بَلْ هُوَ شَاعِرٌ فَلْيَأْتِنَا بِآيَةٍ كَمَا أُرْسِلَ الْأَوَّلُونَ ﴿٥﴾ مَا آمَنَتْ قَبْلَهُم مِّن قَرْيَةٍ
أَهْلَكْنَاهَا ۖ أَفَهُمْ يُؤْمِنُونَ ﴿٦﴾ وَمَا أَرْسَلْنَا قَبْلَكَ إِلَّا رِجَالًا نُّوحِي إِلَيْهِمْ ۖ فَسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا
تَعْلَمُونَ ﴿٧﴾ وَمَا جَعَلْنَاهُمْ جَسَدًا لَّا يَأْكُلُونَ الطَّعَامَ وَمَا كَانُوا خَالِدِينَ ﴿٨﴾ ثُمَّ صَدَقْنَاهُمُ الْوَعْدَ فَأَنجَيْنَاهُمْ
وَمَن نَّشَاءُ وَأَهْلَكْنَا الْمُسْرِفِينَ ﴿٩﴾ لَقَدْ أَنزَلْنَا إِلَيْكُمْ كِتَابًا فِيهِ ذِكْرُكُمْ ۖ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿١٠﴾ وَكَم قَصَمْنَا مِن
قَرْيَةٍ كَانَتْ ظَالِمَةً وَأَنشَأْنَا بَعْدَهَا قَوْمًا آخَرِينَ ﴿١١﴾ فَلَمَّا أَحَسُّوا بَأْسَنَا إِذَا هُم مِّنْهَا يَرْكُضُونَ ﴿١٢﴾ لَا تَرْكُضُوا
وَارْجِعُوا إِلَىٰ مَا أُتْرِفْتُمْ فِيهِ وَمَسَاكِنِكُمْ لَعَلَّكُمْ تُسْأَلُونَ ﴿١٣﴾ قَالُوا يَا وَيْلَنَا إِنَّا كُنَّا ظَالِمِينَ ﴿١٤﴾ فَمَا زَالَت تِّلْكَ
دَعْوَاهُمْ حَتَّىٰ جَعَلْنَاهُمْ حَصِيدًا خَامِدِينَ ﴿١٥﴾ وَمَا خَلَقْنَا السَّمَاءَ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا لَاعِبِينَ ﴿١٦﴾ لَوْ أَرَدْنَا أَن نَّتَّخِذَ
لَهْوًا لَّاتَّخَذْنَاهُ مِن لَّدُنَّا إِن كُنَّا فَاعِلِينَ ﴿١٧﴾ بَلْ نَقْذِفُ بِالْحَقِّ عَلَى الْبَاطِلِ فَيَدْمَغُهُ فَإِذَا هُوَ زَاهِقٌ ۚ وَلَكُمُ الْوَيْلُ
مِمَّا تَصِفُونَ ﴿١٨﴾ وَلَهُ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ وَمَنْ عِندَهُ لَا يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِهِ وَلَا يَسْتَحْسِرُونَ ﴿١٩﴾
يُسَبِّحُونَ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ لَا يَفْتُرُونَ ﴿٢٠﴾ أَمِ اتَّخَذُوا آلِهَةً مِّنَ الْأَرْضِ هُمْ يُنشِرُونَ ﴿٢١﴾ لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ إِلَّا
اللَّهُ لَفَسَدَتَا ۚ فَسُبْحَانَ اللَّهِ رَبِّ الْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿٢٢﴾ لَا يُسْأَلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْأَلُونَ ﴿٢٣﴾ أَمِ اتَّخَذُوا مِن دُونِهِ
آلِهَةً ۚ قُلْ هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ ۖ هَٰذَا ذِكْرُ مَن مَّعِيَ وَذِكْرُ مَن قَبْلِي ۗ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ الْحَقَّ ۖ فَهُم مُّعْرِضُونَ ﴿٢٤﴾ ﴾

الأنبياء: ۱ - ۲٤

لغتونه:

(أضغاث) اخلاط اوهغه ګډوډشيان چي سړی يې په خوب کي ويني (قصمنا) دسخت اوکريږشي ماتولوته (قصم) وايي لکه وايي: (قَصَمتُ ظَهرَهُ) يعني ملامې ومماته کړه (يركضون) (ركض) په ځغاسته او منډه تللوته وايي اوکله چي څوک(سورلي بوده تېزوي) ورته ويل کېږي (ركض الدابة) هلته چي سړی يې په لغته ووهي (خامدين) خمود اورمړه کېدلوته وايي اودغه له مرګ څخه تشبيه ده (فيدمغه) ددې معناداچي دماغ يې ولګېدولکه چي(کبده) او(رأسه) يعني ځيګراوسريې ولګېدو(يستحسرون) له (حسر) څخه اخيستل شوی اوهغه له ستوماني اوستړيا څخه وروسته پاتي شوي اوښ ته وايي.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

تفسير:

﴿ اقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ مُعْرِضُونَ ﴾ نژدې شوخلګوته (وخت د) حساب (اوجزاء) ددوی حال داچې دوی په غفلت کې دي(له دې حساب اوجزاء خپلې) مخ ګرځونکي دي(له ايمانه راوړلوڅخه يعني دوی ته ددوی په کړوړو دحساب وخت رانژدې شوی خودوی په شهوتونوکې غرق اوډوب دي ددې هيبتناکې ورځې څخه غافل او د آخرت لپاره تيارى نه کوي اوداچې آخرت يې نژدې وباله ځکه چې راتلونکی دی اوهرڅه چې راتلونکي وي نژدې وي ﴿ مَا يَأْتِيهِم مِّن ذِكْرٍ مِّن رَّبِّهِم مُّحْدَثٍ إِلَّا اسْتَمَعُوهُ وَهُمْ يَلْعَبُونَ ﴾ اونه راځي دوی ته هيڅ نصيحت(وحی اوقرآن) له (طرفه د) رب ددوی نه نوی (په نزول کې مګرخواوري دوی هغه (قرآن) حال داچې دوی لوبې (مسخرې) پرې کوي حسن رحمه الله وايې چې هرکله چې دوی ته نوی پنداونصيحت راشي نودوی په جهل باندې ټينګارکوي(١)﴿ لَاهِيَةً قُلُوبُهُمْ ﴾ پداسې حال کې چې بوخت وي زړونه ددوی (په نوروچارو) يعني دوی له کلام الله څخه غافل اوزړونه يې په دنيوي چاروکې مشغول وي ﴿ وَأَسَرُّوا النَّجْوَى الَّذِينَ ظَلَمُوا ﴾ (اوښه پټوي رازخپل هغه کسان چې ظلم يې کړی دی) يعني مشرکان پخپل مينځ کی پټ يوله بله دزړه خواله کوي وايې ﴿ هَلْ هَٰذَا إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ ﴾ (ندی دا(محمد) مګرخويوانسان ستاسې په شان) يعنی دوی به پخپل مينځ کې سره پټ ويل چې آيادغه محمدصلی الله عليه وسلم درسالت دعوی لري لکه تاسې غوندې يوبشرنه دی چې خواړه خوري اوپه کوڅوکې ګرزي؟ ﴿ أَفَتَأْتُونَ السِّحْرَ وَأَنتُمْ تُبْصِرُونَ ﴾ (ياپس تاسې جادوته راځی(منی يې) حال داچې تاسې ګورئ(چې دغه کوډې دي) ؟ يعني آياتاسو کوډې منی حال داچې پوهېږی هم چې دغه کوډی دي؟ ألوسي رحمه الله وايې چې دغه څه چې محمدعليه السلام راوړي دغه جادودی اوداپدې چې ددوی په ذهن کې کوم شي تقررنيولی ووهغه دا چې رسول به بشرنه بلکه پرښته وي اوداهرڅه معجزې چې ده راوړي دغه سحراو قرآن کريم يې هم سحرګنل(٢)﴿ قَالَ رَبِّي يَعْلَمُ الْقَوْلَ فِي السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ ﴾ وويل: (محمد ﷺ) دوی ته رب زماعالم دی په وينا(دهرهغه چاچې وي) په آسمان کې اوپه ځمکه کې ﴿ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴾ اوهم دی ښه اوريدونکی (ستاسودخبرو) ښه پوه عالم دی (ستاسوپه احوالو)او پدې کې ددوی لپاره تهديد او وعيددی ﴿ بَلْ قَالُوا أَضْغَاثُ أَحْلَامٍ ﴾ (بلکه وايې (دغه کفارچې دغه قرآن) ګډوډ خوبونه دي) بل دالله له لوري اضراب دی چې له يوې ويناڅخه بلې خورابدې ويناته انتقال دی هغه چې دوی به ويل چې دغه قرآن دګډوډ خوبونوزېږنده دی ﴿ بَلِ افْتَرَاهُ بَلْ هُوَ شَاعِرٌ ﴾ (بلکه له خپل ځانه يې جوړکړی بلکه دی شاعر

---

(١) القرطبي ١١/ ٣٢٨

(٢) الالوسي ١٧/ ٩

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

دی) یعني بلکه دوی وایې چي محمدله خپله ځانه داقرآن جوړکړی بلکه محمدشاعردی اودغه یې شعرویلی دی اورېدونکوته په خیال کي ورولي چي دغه ښایسته کلام دی ؛ په التسهیل کي وایې چي له دوی څخه دغه ټول ګرداقوال راوړل شول چي ددوی په هکله اضطراب اولالهاندتوب وښیي اوداچي دوی په یوه ویناسره متفق نه دي بلکه پخپل حکم کي حیران دی چي په یوه څېزباندي استقرارنلري(۱).

﴿ فَلْيَأْتِنَا بِآيَةٍ كَمَا أُرْسِلَ الْأَوَّلُونَ ﴾ پس باید راوړي موږته کومه لویه معجزه لکه هغه (معجزه) چي پخواني (انبیاء په هغوسره) لېږلي شوي وو.یعني محمددي موږته یوه خارق العاده معجزه چي دده په رښتنولي دلالت وکړي راوړي چي هغه لکه دموسی علیه السلام لکړه اویادصالح علیه السلام اوښه وي

﴿ مَا آمَنَتْ قَبْلَهُم مِّن قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَاهَا أَفَهُمْ يُؤْمِنُونَ ﴾ (وویل الله) ایمان نه وو راوړی (په معجزو) پخواله دوی نه هیڅ (اهل د) کلي چي هلاک کړي دي موږ(اهل د) هغه (په سبب دتکذیب ددوی) آیادغه کفاربه ایمان راوړي ؟) یعني دمکې له مشرکانوپخواخلکوهم انبیاووته دمعجزاتو دراوړلو وړاندیزکاووبلکه دهغوی یې تکذیب وکړنوالله هلاک کړل آیادغه مشرکان چي معجزې ووینې نوبه ایمان راوړي؟ هیڅکله ایمان نه راوړي؛ ابوحیان وایې چي دغه استبعاداوانکار دی یعني دغه کفارترهغوچي له خپلوانبیاووڅخه یې معجزې غوښتلې ډېرسرغړونکي دي نوکه دوی ته ددوی له وړاندیزسره سمه معجزه راوستل شي نوترپخوانیودوی لازیات ګمراهان دي دوی به یومخه ایزه دله بېخه ایستلوعذاب وړاومستحق شي لکن الله تعالی فیصله کړي چي دوی پرېږدي ځکه الله تعالی ته معلومه ده چي ددوی له نسله به مؤمنان پیداکېږي (۲)﴿ وَمَا أَرْسَلْنَا قَبْلَكَ إِلَّا رِجَالًا نُّوحِي إِلَيْهِمْ ﴾ اونه وولېږلی موږپخواله تا(ای محمده !) مګرخوسړي (نه پرښتې) چي موږبه دوی ته وحی کوله ؛ نوڅرنګه دغه مشرکان ستاله رسالت څخه منکرېږي ؟اووایې چي دغه نه دی مګرستاسوپه شان بشردی ﴿ فَسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴾ پس پوښتنه وکړئ له خاوندانود ذکره (ای د مکې خلکوله اهل کتابوڅخه وپوښتئ چي آیادوی ته راغلی انبیاء بشروواوکه پرښتې؟) که یی تاسي چي نه پوهېږی ﴿ وَمَا جَعَلْنَاهُمْ جَسَدًا لَّا يَأْكُلُونَ الطَّعَامَ وَمَا كَانُوا خَالِدِينَ ﴾ اونه وو ګرزولي موږدغه (پخواني رسولان) داسي جسدونه چي خواړه یې نه خوړل اونه وودوی تلپاتي کېدونکي (چي نه مړه کېدل) یعني موږ هغوی دداسي اجسادوخاوندان نه وو ګرزولي چي خوراک،څښاک یې لکه پرښتې نه کول بلکه خواړه یې خوړل اوڅښاک یې کاوو، خوب یې درلود، ویدېدل اومړه کېدل به﴿ ثُمَّ صَدَقْنَاهُمُ الْوَعْدَ فَأَنجَيْنَاهُمْ وَمَن نَّشَاءُ ﴾ بیارښتیاکړه موږ هغوی سره وعده (دنجات ددوی) پس نجات ورکړ موږ هغوی ته اوهغوته چي زموږ(ددوی دنجات) اراده وه (ددوی له اتباعو مؤمنانو څخه) ﴿ وَأَهْلَكْنَا الْمُسْرِفِينَ ﴾ اوهلاک کړل موږله حده تېرېدونکي کافران ګمراهان چي دانبیاووعلیهم السلام به یې تکذیب کاووپدې کي داهل

---

(۱) التسهیل ۳ / ۲۳
(۲) البحر ۶ / ۲۹۸

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

مکې لپاره وېرونه ده ﴿ لَقَدْ أَنزَلْنَآ إِلَيْكُمْ كِتَٰبًا فِيهِ ذِكْرُكُمْ ﴾ (خامخا) په تحقيق نازل کړی دی موږتاسي ته يوکتاب چي په هغه کي ستاسي ذکردی) يعني والله قسم دی ای دعربوتېره چي موږيوستر کتاب تاسوته نازل کړی چي مثل نلري اوستاسي په هغه کي شرف اوعزت دی ځکه ستاسوپه ژبه راغلی دی ﴿ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴾ آياپس تاسي عقل نلرې ؟ (چي دغه نعمت دی او ايمان پرې راوړئ کوم چي محمد (ﷺ) تاسي ته راوړی دی). ﴿ وَكَمْ قَصَمْنَا مِن قَرْيَةٍ كَانَتْ ظَالِمَةً ﴾ اودېرتوتې توتې کړي دي موږ(په هلاکت سره) له اهل کتابودکليوچي هغوی ظالمان وو (د الله آيتونه يې نه منل اودپيغمبرانوتکذيب يې کاوو ﴿ وَأَنشَأْنَا بَعْدَهَا قَوْمًا ءَاخَرِينَ ﴾ اوپيداکړل موږ وروسته له هغو څخه قومونه نور ﴿ فَلَمَّآ أَحَسُّوا۟ بَأْسَنَآ إِذَا هُم مِّنْهَا يَرْكُضُونَ ﴾ پس هرکله چي وبه ليددوی زموږعذاب (په سترګو) ناڅاپه دوی به له دغه (عذابه څخه په بېړه) تښتېدل. ابوحيان وايې چي: کله به دعذاب ننبي اوپيلامې ورڅرګندي شوې نوپخپلو سورليوبه سپاره شول په تېښته به يې ترپول (١) ﴿ لَا تَرْكُضُوا۟ وَٱرْجِعُوٓا۟ إِلَىٰ مَآ أُتْرِفْتُمْ فِيهِ ﴾ (نوپرښتوپه استهزاء سره ورته ويل) مه تښتئ اوبيرته لاړ شئ هغه ځای ته چي ښه ژوندرکړی شوی ووتاسي ته په هغه کي (دعيش اوعشرت) خوښي او هوسايي) ﴿ وَمَسَٰكِنِكُمْ ﴾ اوکورونوخپلوته (چي ښايسته وو) ﴿ لَعَلَّكُمْ تُسْـَٔلُونَ ﴾ ښايې چي له تاسي پوښتنه وکړه شي (چي څه درپېښ شوي دغه ټول به داستهزاء په ډول توبيخاورته ويل کېږي ﴿ قَالُوا۟ يَٰوَيْلَنَآ إِنَّا كُنَّا ظَٰلِمِينَ ﴾وبه وايې ای زموږ هلاکته بېشکه موږظالمان وو(چي له الله سره موشريک نيول اود پيغمبرانو تکذيب موکاوو چي پښېماني ورته ګټه نه رسوي ﴿ فَمَا زَالَت تِّلْكَ دَعْوَىٰهُمْ ﴾ پس تل به وي دغه ددوی بلنه (هلاکت ته) يعني دغه خبره به وار په وارتکراروي) ﴿ حَتَّىٰ جَعَلْنَٰهُمْ حَصِيدًا خَٰمِدِينَ ﴾ ترهغوپوري چي وبه ګرزوو موږدوی ربېل شوي مړه يخ پراته ﴿ وَمَا خَلَقْنَا ٱلسَّمَآءَ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا لَٰعِبِينَ ﴾ (اونه دي پيداکړي موږآسمان اونه ځمکه اونه هرهغه څه چي ددوی په مينځ کي دي په داسي حال کي چي موږلوبي کونکي وو) يعني دغه موعبث ندي پنځولي (پيداکړي) بلکي ددې لپاره چي زموږپه قدرت اووحدانيت دلالت وکړي ، خلک پندترې واخلي اودحکيم اومدبرخالق ذات په وجود ورباندي دليل ونيسي ﴿ لَوْ أَرَدْنَآ أَن نَّتَّخِذَ لَهْوًا لَّٱتَّخَذْنَٰهُ مِن لَّدُنَّآ ﴾ اوکه اراده کړي وای موږ چي ونيسو لهو(ښځه ,ولد) نوخامخانيولي به ووهغه لهو له خپله لوري ؛ ابن عباس رضی الله عنه وايې چي دغه په هغوکسانوباندي وارکول دي چي دوی به ويل: الله زوی نيولی دی اومعناداشوه چي که چېري موغوښتلای چي دلهوی شغل اسباب غوره کړو لکه ښځه اوزوی نوموږ به هغه له خپله لوري چي پرښتې ياحورالعين دي نيولي وو ﴿ إِن كُنَّا

(١) البحر ٦ / ٣٠٢

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

فَٰعِلِينَ ﴾ که موږ ددې کارکونکي وای؛ نوبه مو هسې کړي ووخودغه له حکمت سره منافي دی نوومونکړل ﴿ بَلْ نَقْذِفُ بِٱلْحَقِّ عَلَى ٱلْبَٰطِلِ فَيَدْمَغُهُۥ ﴾ بلکه موږ ویشتل کووپه حق سره په باطل باندې بیادغه (حق) دباطل سرماتوي (اوله مینځه بې وړي ﴿ فَإِذَا هُوَ زَاهِقٌ ﴾ پس ناڅاپه داباطل هلاک اوورک کېږي ﴿ وَلَكُمُ ٱلْوَيْلُ مِمَّا تَصِفُونَ ﴾ اوتاسې ته عذاب، افسوس دی (ای کافرانو) له هغه څه نه چې تاسې یې ثابتوی (الله ته له مېرمنې اوزوی څخه) ﴿ وَلَهُۥ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ اوخاص ده لره دې هرهغه څوک چې په آسمانونوکې دي اوپه ځمکه کې (خلقاً، ملکاًاوتصرفاً نوڅرنګه به ورسره دده خپل مخلوق اوبندګان شریکان کړی شي ؟) ﴿ وَمَنْ عِندَهُۥ لَا يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِهِۦ وَلَا يَسْتَحْسِرُونَ ﴾ (اوهغه (پرښتې) چې دده په نزددې کبرنه کوي له عبادته د الله اونه ستومانه کېږي) یعني هغه پرښتې چې تاسویې پرته له الله څخه عبادت کوی دوی د خپل مولا له عبادته سرکښي نه کوي اونه ستړي کېږي اوخفه کېږي ﴿ يُسَبِّحُونَ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ لَا يَفْتُرُونَ ﴾ تسبیح وایې (هم) په شپه او(هم) په ورځ کې نه سستېږي (له ذکر، عبادت اوتنزیه ویلونه) ﴿ أَمِ ٱتَّخَذُوٓا۟ ءَالِهَةً مِّنَ ٱلْأَرْضِ هُمْ يُنشِرُونَ ﴾ آیانیولي دي دوی نورمعبودان له ځمکې څخه چې دوی به هم مړي ژوندي کوي؟ کله چې الله تعالی پخپل وحدانیت دلائل ذکرکړل اودایې وفرمایل چې: ټول عُلوي اوسفلي موجودات دالله ملک دي اومقربي پرښتې دالله په طاعت اوخدمت کې لګیادي نوبیرته دمشرکانو توبیخ ته راوګرزېدوچې ددوی تسفیه اوبدې وفرمایې (أم) منقطعه چې د(بل) په معنادي اوداستفهام همزه دتعجب اوانکارپه معناده یعني دوی خوداسې معبودان نه دي نیولي چې دمړو په ژوندي کولو قادروي بلکه جمادات دي په هیڅ څېزتوان نلري حقیقي الله خوهغه ذات دی چې په احیآء اواماتت باندې قدرت لري ﴿ لَوْ كَانَ فِيهِمَآ ءَالِهَةٌ إِلَّا ٱللَّهُ لَفَسَدَتَا ﴾ که چېرې وای په دغه (آسمان اوځمکه) کې نورمعبودان بې له الله څخه نوخامخابه دواړه وران شوي وای (ددوی داختلاف په سبب) دغه دالله په وحدانیت باندې برهان دی یعني که له الله پرته بل څوک هم واکمن وای نوبه دکائناتونظام وران شوی ووچې ددوی ترمینځ به اختلاف اوشخړی وې (۱) آیاته نه ګورې چې دوه پاچهان په یوه ښارکې اودوه رئیسان په یوه اداره کې سره اوسېدلای نشي ؟ ﴿ فَسُبْحَٰنَ ٱللَّهِ رَبِّ ٱلْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴾ نوپاک دی الله چې رب دعرش دی له هغو(شیانو) چې دوی یې ورته منسوبوي (له شریک ، مېرمنې اوزوی څخه) ﴿ لَا يُسْـَٔلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْـَٔلُونَ ﴾ (نه پوښتېدل کېږي (الله) له هغو شیانوچې کوي یې اودوی پوښتل کېږي) ځکه چې الله مالک دی اومالک پخپلومملوکاتوکې هرڅه کوي اوهغه دحکمت خاوند ذات دی ټول کارونه یې په حکمت جاري دي

(۱) مفسرین کرام وایې چې: په آیت کې په تمانع باندې دلیل دی هغه چې اصولیونوراوړی اووایې کله چې موږ دوه خدایان فرض کړو یوبه دیوڅېزغوښتنه کوي اوبل به یې دنقیض نوکه ددواړوغوښتنه تنفیذشي دغه محال دی ځکه چې د نقیضینواجتماع راځي اوکه دیوه غوښتنه ترسره شي دبل نه نوبیالومړی اله اودوهم اله نه دی ځکه چې عاجزاوناتوان دی

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

اودوی بندګان دي له دوی څخه پوښتنه کېدونکي ده ﴿ أَمِ اتَّخَذُوا مِن دُونِهِ آلِهَةً ﴾ (آیانیولي دي دغو(مشرکانو) بې له دغه (الله) څخه نورآلهة (معبودان) دغه بې مکرر راووړچي په توبیخ کي مبالغه اودشرک دګناه سترتوب وښیي یعني آیادوی له الله نه پرته نور معبودان نیولي چي ورسره عبادت اوتعظیم ښایي ؟ ﴿ قُلْ هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ ﴾ ووایه (ای محمده دوی ته) چي راوړي خپل سند(په هغه څه چي تاسي شریک نیولی) ﴿ هَٰذَا ذِكْرُ مَن مَّعِيَ وَذِكْرُ مَن قَبْلِي ﴾ دغه (قرآن) بیان دی دهغه چاچي له ماسره دی (له محمدي امت نه) اوبیان دهغه چادی چي پخواله ماتېرشوي دي) یعني دغه کتاب چي له ماسره دی اوهغه چي له ماپخواتېرشوي لکه تورات اوانجیل په دې کي داسي څه نشته چي دشرک غوښتنه کوي نوداپه کوم کتاب کي راغلي ؟ په قرآن کي اوکه په تېرو کتابونوکي چي په نوروانبیاوونازل شوي دي ؟ نودغه چي تاسوګمان کوی چي خدایان ډېردي هیڅ سندنلری نه هم عقلي اونه نقلي بلکه پخواني کتابونه دالله جل جلاله له شرک څخه په پاکي(تنزیه) شاهدان دي ﴿ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ الْحَقَّ فَهُم مُّعْرِضُونَ ﴾ بلکه زیاتره ددوی په حقه خبره نه پوهېږي (چي توحیددی) پس دوی مخ ګرزونکي دي (له سوچ کولودایمان په دلائلوکي.

بلاغت:

پدې آیتونوکي چي دبدیع اوبیان کومي ښکلاوي شته لنډیزیې دادی:

۱- تنکیردغفلت په کلمه کي دتعظیم اوتفخیم لپاره لکه چي فرمایې: ﴿ وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ ﴾ .

۲- دمبالغې صیغه لکه چي فرمایې: ﴿ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴾ .

۳- اضراب دترقي لپاره چي فرمایې: ﴿ بَلْ قَالُوا أَضْغَاثُ أَحْلَامٍ بَلِ افْتَرَاهُ بَلْ هُوَ شَاعِرٌ ﴾ دغه ددوی اضطراب په قرآني اوصافوکي په حیرانتیااولالهاندتوب دلالت کوي چي دوی دروښانه حق قول لپاره څرنګه تزویرکاوودوهمه ویناپې ترلومړی ناروااودریمه یې تردویمه فاسده اوناروا ده.

۴- توبېخي انکارچي فرمایې ﴿ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴾ .

۵- بلیغه تشبیه چي الله فرمایې : ﴿ حَصِيدًا خَامِدِينَ ﴾ یعني لکه رېبلی کښت اومړاورغوندي موهلاک کړي دي.

۶- تمثیلي استعاره لکه چي پدې آیت شریف کي راځي: ﴿ بَلْ نَقْذِفُ بِالْحَقِّ عَلَى الْبَاطِلِ فَيَدْمَغُهُ ﴾ حق یې له کریږ(کلک) شي سره تشبیه کړی اوباطل یې له نرم اوبیایې دویشتلواوسرماتولوالفاظ دغلبې لپاره په باطل باندي دتمثیل په توګه راوړي لکه چي په کلک شي باندي دباطل دماغ ویشتلی کېږي اوڅېرل کېږي اوپه دې تعبیرکي خورانښکلي مبالغه ده چي باطل څرنګه له مینځه وړل کېږي ؟

۷- دسلب طباق چي کله فرمایې ﴿ لَا يُسْأَلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْأَلُونَ ﴾ .

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

٨ - پدې کلام کې چې الله تعالی فرمايې ﴿ قُلْ هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ ﴾ دتبکيت يعني چوپولوصنعت دی ګواکې ددښمن خولې ته ډبره ورغورځول دي.

فائده:

له کعب (غالبًا کعب الاحبار) څخه وپوښتل شول چې پرښتې څرنګه شپه اوورځ تسبيح وايې آيا په کوم بل کارکې دمشغولاپه سبب هيڅکله هم ځنې نه قضاکېږي ؟ کوم بل څه ته يې کله هم اړتيانه پېښېږي ؟ نوهغه پوښتونکې ته وويل: چې ای وراره دوی ته تسبيح داسې ګرزول شوي لکه چې تاسو ته دساه اخيستل دي آياته څه خوراک اوڅښاک نه کوې ؟ نه ولاړېږي اونه کښېنې ؟ نه ځې اونه راځې خوپدې ټولوحالاتوکې بياهم تاسې ساه اخلی همداسې ددوی تسبيح ګرزول شوي دي.

***

الله تعالی فرمايې:

﴿ وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِىٓ إِلَيْهِ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعْبُدُونِ ﴿٢٥﴾ وَقَالُوا۟ ٱتَّخَذَ ٱلرَّحْمَٰنُ
وَلَدًا سُبْحَٰنَهُۥ ۚ بَلْ عِبَادٌ مُّكْرَمُونَ ﴿٢٦﴾ لَا يَسْبِقُونَهُۥ بِٱلْقَوْلِ وَهُم بِأَمْرِهِۦ يَعْمَلُونَ ﴿٢٧﴾ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ
أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يَشْفَعُونَ إِلَّا لِمَنِ ٱرْتَضَىٰ وَهُم مِّنْ خَشْيَتِهِۦ مُشْفِقُونَ ﴿٢٨﴾ ۞ وَمَن يَقُلْ مِنْهُمْ إِنِّىٓ إِلَٰهٌ
مِّن دُونِهِۦ فَذَٰلِكَ نَجْزِيهِ جَهَنَّمَ ۚ كَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٢٩﴾ أَوَلَمْ يَرَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ أَنَّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ كَانَتَا
رَتْقًا فَفَتَقْنَٰهُمَا ۖ وَجَعَلْنَا مِنَ ٱلْمَآءِ كُلَّ شَىْءٍ حَىٍّ ۖ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ ﴿٣٠﴾ وَجَعَلْنَا فِى ٱلْأَرْضِ رَوَٰسِىَ أَن تَمِيدَ بِهِمْ وَجَعَلْنَا
فِيهَا فِجَاجًا سُبُلًا لَّعَلَّهُمْ يَهْتَدُونَ ﴿٣١﴾ وَجَعَلْنَا ٱلسَّمَآءَ سَقْفًا مَّحْفُوظًا ۖ وَهُمْ عَنْ ءَايَٰتِهَا مُعْرِضُونَ ﴿٣٢﴾ وَهُوَ
ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ وَٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ ۖ كُلٌّ فِى فَلَكٍ يَسْبَحُونَ ﴿٣٣﴾ وَمَا جَعَلْنَا لِبَشَرٍ مِّن قَبْلِكَ ٱلْخُلْدَ ۖ أَفَإِين مِّتَّ
فَهُمُ ٱلْخَٰلِدُونَ ﴿٣٤﴾ كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ ٱلْمَوْتِ ۗ وَنَبْلُوكُم بِٱلشَّرِّ وَٱلْخَيْرِ فِتْنَةً ۖ وَإِلَيْنَا تُرْجَعُونَ ﴿٣٥﴾ وَإِذَا رَءَاكَ ٱلَّذِينَ
كَفَرُوٓا۟ إِن يَتَّخِذُونَكَ إِلَّا هُزُوًا أَهَٰذَا ٱلَّذِى يَذْكُرُ ءَالِهَتَكُمْ وَهُم بِذِكْرِ ٱلرَّحْمَٰنِ هُمْ كَٰفِرُونَ
﴿٣٦﴾ خُلِقَ ٱلْإِنسَٰنُ مِنْ عَجَلٍ ۚ سَأُورِيكُمْ ءَايَٰتِى فَلَا تَسْتَعْجِلُونِ ﴿٣٧﴾ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلْوَعْدُ إِن كُنتُمْ
صَٰدِقِينَ ﴿٣٨﴾ لَوْ يَعْلَمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ حِينَ لَا يَكُفُّونَ عَن وُجُوهِهِمُ ٱلنَّارَ وَلَا عَن ظُهُورِهِمْ وَلَا هُمْ
يُنصَرُونَ ﴿٣٩﴾ بَلْ تَأْتِيهِم بَغْتَةً فَتَبْهَتُهُمْ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ رَدَّهَا وَلَا هُمْ يُنظَرُونَ ﴿٤٠﴾ وَلَقَدِ ٱسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ
مِّن قَبْلِكَ فَحَاقَ بِٱلَّذِينَ سَخِرُوا۟ مِنْهُم مَّا كَانُوا۟ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ﴿٤١﴾ قُلْ مَن يَكْلَؤُكُم بِٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ مِنَ
ٱلرَّحْمَٰنِ ۗ بَلْ هُمْ عَن ذِكْرِ رَبِّهِم مُّعْرِضُونَ ﴿٤٢﴾ أَمْ لَهُمْ ءَالِهَةٌ تَمْنَعُهُم مِّن دُونِنَا ۚ لَا يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَ
أَنفُسِهِمْ وَلَا هُم مِّنَّا يُصْحَبُونَ ﴿٤٣﴾ بَلْ مَتَّعْنَا هَٰٓؤُلَآءِ وَءَابَآءَهُمْ حَتَّىٰ طَالَ عَلَيْهِمُ ٱلْعُمُرُ ۗ أَفَلَا يَرَوْنَ أَنَّا نَأْتِى

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

ٱلْأَرْضَ نَنقُصُهَا مِنْ أَطْرَافِهَآ ۚ أَفَهُمُ ٱلْغَٰلِبُونَ ﴿٤٤﴾ قُلْ إِنَّمَآ أُنذِرُكُم بِٱلْوَحْىِ ۖ وَلَا يَسْمَعُ ٱلصُّمُّ ٱلدُّعَآءَ إِذَا
مَا يُنذَرُونَ ﴿٤٥﴾ وَلَئِن مَّسَّتْهُمْ نَفْحَةٌ مِّنْ عَذَابِ رَبِّكَ لَيَقُولُنَّ يَٰوَيْلَنَآ إِنَّا كُنَّا ظَٰلِمِينَ ﴿٤٦﴾ وَنَضَعُ ٱلْمَوَٰزِينَ
ٱلْقِسْطَ لِيَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْـًٔا ۖ وَإِن كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ أَتَيْنَا بِهَا ۗ وَكَفَىٰ بِنَا حَٰسِبِينَ
﴿٤٧﴾ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ٱلْفُرْقَانَ وَضِيَآءً وَذِكْرًا لِّلْمُتَّقِينَ ﴿٤٨﴾ ٱلَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُم بِٱلْغَيْبِ وَهُم مِّنَ
ٱلسَّاعَةِ مُشْفِقُونَ ﴿٤٩﴾ وَهَٰذَا ذِكْرٌ مُّبَارَكٌ أَنزَلْنَٰهُ ۗ أَفَأَنتُمْ لَهُۥ مُنكِرُونَ ﴿٥٠﴾ ﴾ الأنبياء: ٢٥ ـ ٥٠

مناسبت اوتړاو:

کله چي الله تعالی دمشرکانوحالات بیان کړل اودخپل وحدانیت په هکله یې دلائل راوړل ددوی دمتعددومعبودانونظریه یې باطله کړه نودلته په ډاګه کوي چي دګردوانبیاووبلنه اودعوت دتوحید لپاره وواوبیاددې کائناتوپه شتون سره دوحدانیت اوقدرت نوردلائل ښیي.

لغتونه:

(رتقا) پیوستون اود (فتق) ضددی چي هغه پرانستون ته وایې (تمید) خوځښت اواضطراب ته وایې (فجاجا) دفج جمع اوهغه بیاپراخي لیاري ته ویل کېږي (یسبحون) په چټکتیاسره تللوته وایې اولکه چي لامبووهونکی په اوبوکي ګړندی روان وي (فتبهتهم) (بهت) حیرانتیااودهشت. جوهري وایې (بهته بهتا) یعني نابېره نیولوته ویل کېږي اوفرآء بیا وایې (بهته) معناداچي یوداسي څېز ورسره مخامخ شي چي حیران لالهاندیې کړي (١) (یکلأکم) ستاسو ساتنه کوي (کلاءة) حفظ اوساتني ته ویل کېږي.

دنزول سبب یې:

یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم په لاره تېرېدوابوسفیان اوابوجهل یې ولیدل چي یوله بله سره غږېدل اوچي ابوجهل رسول الله ولیدنوپه مسکاشواوابوسفیان ته یې وویل چي دغه دبني عبدمناف نبي دی اوابوسفیان ته غُصه ورغله ورته ویل یې آیاتاته داخوندنه درکوي چي له بني عبدمناف څخه دي پیغمبرغوره شوی وي ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم دوی ته راستون شواوابوجهل ته یې ویل: ترهغوپوري خوله نه درنیسې څوتاته هم هغه څه ورسېږي کوم چي ستاتره ولیدبن مغیرة ته ورسېدل نوداآیت شریف نازل شو: ﴿ وَإِذَا رَءَاكَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ إِن يَتَّخِذُونَكَ إِلَّا هُزُوًا ﴾ (٢)

تفسیر:

﴿ وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ ﴾ اونه وولیږلي موږپخواله تاڅخه (ای محمده) هیڅ رسول ﴿ إِلَّا نُوحِىٓ إِلَيْهِ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ ﴾ مګرچي موږبه هغه ته (داسي) وحی کوله چي بېشکه شان دادی نشته برحق معبودمګرزه (الله) یم ﴿ فَٱعْبُدُونِ ﴾ نوتاسي زمابندګي کوئ (په یوازي توګه اوله ماسره هیڅ

---

(١) القرطبي ١١/ ٢٩٠

(٢) روح المعاني

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

شريک مه نيسئ) ﴿ وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمَٰنُ وَلَدًا ﴾ (اووايې دغه (مشرکان) الله ولدنيولی دی) يعنې مشرکان وايې چې الله پرښتې اولادنيولي دي. مفسرين کرام وايې چې دغه (دخزاعه) دتبريو کلی ودجو عقيده يې لرله پرښتې دالله تعالی لونې دي ﴿ سُبْحَانَهُ ﴾ پاک دی دغه (الله له هغه څخه چې مشرکان وايې) ﴿ بَلْ عِبَادٌ مُكْرَمُونَ ﴾ بلکه دوی عزتمن بندګان دي دالله په نزدلوړي مرتبې لري اودالله منونکي دي) ﴿ لَا يَسْبِقُونَهُ بِالْقَوْلِ وَهُمْ بِأَمْرِهِ يَعْمَلُونَ ﴾ (چې نشي ړومبی کېدی دوی له دغه الله څخه په خبره سره اودوی خاص په حکم دالله عمل کوي) يعني چې الله څه ورته وايې دوی بيا څه نه وايې دوی دهغو بندګانو شان لري کوم چې مؤدب اومنونکي وي دالله له هيڅ حکم څخه غاړه نه غړوي ﴿ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ﴾ الله ته معلوم دي هغه څه چې ددوی دوړاندي دي اوهغه څه چې ددوی دوروسته دي (يعني دالله علم پردوی محيط دی ددوی هيڅ کارپه الله باندي پټ اوخفي نه دی) ﴿ وَلَا يَشْفَعُونَ إِلَّا لِمَنِ ارْتَضَىٰ ﴾ اونکوي شفاعت دوی (نه يې شي کولای دهيچا) مګردهغه چاچې (الله) ترې) راضي وي (اودغه اهل ايمان خلک دي لکه چې ابن عباس رضی الله عنه وايې دوی هغه کسان دي چې شاهدي وايې: لااله الاالله ﴿ وَهُمْ مِنْ خَشْيَتِهِ مُشْفِقُونَ ﴾ اودوی له هيبته دالله څخه وېرېدونکي دي (ځکه چې دوی ته دالله عظمت معلوم دی. حسن رضی الله عنه وايې دوی دالله له وېري رپېږي ﴿ وَمَنْ يَقُلْ مِنْهُمْ إِنِّي إِلَٰهٌ مِنْ دُونِهِ ﴾ اوهرڅوک چې ووايې له دغو(پرښتو) چې بېشکه زه معبوديم بې له الله څخه ﴿ فَذَٰلِكَ نَجْزِيهِ جَهَنَّمَ ﴾ پس دغه (ويونکي ته) جزابه ورکوومو ږده ته دوزخ. مفسرين کرام وايې چې دغه دتهديد په ډول اوبالفرض والتقديردی ځکه دغه شرط دی او دشرط واقع کېدل لازم نه دي اوپرښتې له ګناه نه پاک اومعصوم دي ﴿ كَذَٰلِكَ نَجْزِي الظَّالِمِينَ ﴾ داسې (سخته) سزاورکوو ظالمانوته (څوک چې دالله له حدودوڅخه وتل اوتجاوزکوي) ﴿ أَوَلَمْ يَرَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنَاهُمَا ﴾ (آياندي ليدلی (نه دي خبر) هغه کسان چې کافران شوي دي چې بېشکه آسمانونه اوځمکې وو دواړه سره نښتي (په اول کې) پس بېل کړل موږ دوی دواړه) يعني آياهغه څوک چې له الله سره بتان په عبادت کې شريک ګڼي آيادغه منکران پدې نه دي خبرچې ځمکې اوآسمانونه دواړه سره موښتی يوشی ووبيا الله سره بېل کړل آسمان يې پورته ودراوو اوځمکه يې لکه چې اوس ده هواره کړه حسن اوقتاده وايې چې آسمانونه اوځمکې سره پيوسته وې بيا الله دهوا په سبب سره بېل کړې (١) عبدالله ابن عباس رضی الله عنهما وايې چې: آسمان سره نښتی اوباران به څنې نه اورېدواوځمکه بيابنده اوسره نښتې وه چې هيڅ بوټی ورڅخه نه زرغونېدو نوآسمان يې په اورښت او باران سره

(١) القرطبي ١١/ ٢٨٣

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

پرانستل اودځمکي مسامونه خلاص شول شينکي کښتونه او ترکودي بوټي يې زرغونه کړل (١)﴿ وَجَعَلْنَا مِنَ ٱلْمَآءِ كُلَّ شَىْءٍ حَىٍّ ﴾ (اومو ږهرژوندی شی له اوبو څخه پيداکړی دی) يعني اوبه مو د ژوندانه سبب جوړکړی له اوبوپرته دانسان ، حيوان اونبات ژوند ممکن نه دی ﴿ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ ﴾ نوآيادوی ايمان نه راوړي (په قدرت دالله) ﴿ وَجَعَلْنَا فِى ٱلْأَرْضِ رَوَٰسِىَ أَن تَمِيدَ بِهِمْ ﴾ اومو ږپرځمکه باندي درانه محکم غرونه ولاړپيداکړي دي چي داځمکه په دوی ونه خوځېږي (بيابه دوی ورباندي قرارنه مومي) ﴿ وَجَعَلْنَا فِيهَا فِجَاجًا سُبُلًا لَّعَلَّهُمْ يَهْتَدُونَ ﴾ اوګرزولی دی مو ږپه دغه (ځمکه او غرونو) کي ارتي لاري (ترڅوچي دسفرونوپه وخت کي ورته آساني وي ابن کثيروايې چي معناداچي په غرونو کي داسي لاښونه شته چي له يولوري څخه يې بل ته ورباندي پوري وتل ممکن وي له يواقليم څخه بل ته تلل آسانه وي لکه چي په ځمکه کي ليدل شوي يو غرددووهيوادونوترمينځ حائل وي خوالله دانسانانودتګ راتګ لپاره پکي لاري اوسوري پرانستلي وي (٢)﴿ وَجَعَلْنَا ٱلسَّمَآءَ سَقْفًا مَّحْفُوظًا ﴾ اوګرزولي دی مو ږآسمان چت ساتل شوی (له پرېوتلو او ابن عباس رضی الله عنه وايې معناداچي په ستوروسره دشيطانانوله ورتلوژغورل شوی دی ﴿ وَهُمْ عَنْ ءَايَٰتِهَا مُعْرِضُونَ ﴾ (اودغه کفارله علامو دآسمانونوڅخه مخ ګرزونکي دي) يعني کفارله هغوښنو ښانوچي دصانع په قدرت دلالت کوي لکه لمر،سپوږمۍ، ستوري اونوردپنداوعبرت شيانوڅخه مخ اړونکي دي پدې کي سوچ او فکرنه کوي چي څرنګه دقدرت لاس داسي عجيب اوغريب خلقت اوپيدايښت په داسي نادر او فريدنظم اوپېيلوسره پيداکړی چي داپه سترحکمت اورسېدلي توان اوقدرت باندي دلالت کوي. قرطبي وايې چي الله دلته دانبودلي ده چي مشرکان دآسمانونوپه هکله له نظرکولوڅخه غافل دي پدې کي سوچ نه کوي چي شپه ، ورځ ، لمر، سپوږمۍ ، افلاک اوبادونه څومره دسترقدرت ښني او علامي دي؟ ځکه که چېري يې نظرکولای اوپندېې ځني اخيستلای نوبه ارومروپوهېدلي وای چي دغه دقادر، صانع ، واحدلاشريک ذات پنځول اوخلقت دی محال دی چي له هغه سره دي بل شريک وي(٣)﴿ وَهُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ وَٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ ﴾ (اودغه (الله) هغه (مطلق قادردی چي پخپل بالغه حکمت) يې پيداکړي ده شپه (دآرامتيالپاره) اوورځ (دکارلپاره) اولمر(درڼالپاره) اوسپوږمۍ (دروښنايې لپاره) يعني الله تعالی هغه واکمن ذات دی چي پخپل قدرت يې ژوندانه ته شپه او ورځ وربښلي ده دغه په تياره اوآرامي کي اودابله په رڼا اوميني محبت کي کله دالوئېږي اوکله بياهغه بله همداسي اولمر اوسپوږمۍ يې دوه څرګندي ښنانې پخپل وحدانيت باندي پيداکړي دي ﴿ كُلٌّ فِى فَلَكٍ يَسْبَحُونَ ﴾ دغه هريوله دغو(لمر، قمر اوستورو څخه په شپه اوورځ کي)پخپل فلک کي حرکت کوي (په تلواردرومي لکه لامبوزن په

---

(١) زادالمسير٥ / ٣٤٨

(٢) المختصر٢ / ٥٠٧

(٣) القرطبي١١ / ٢٨٥

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

لامبووهلوکي) ﴿ وَمَا جَعَلْنَا لِبَشَرٍ مِّن قَبْلِكَ ٱلْخُلْدَ ﴾ اوندی کرزولی موږهیڅ یوانسان ته پخواله تانه (ای محمده !) تل ژوندی پاتي کېدل (په دنیاکي) ﴿ أَفَإِيْن مِّتَّ فَهُمُ ٱلْخَٰلِدُونَ ﴾ آیاپس که ته مرشې (ای محمده !) پس دوی به تل پاتي کېدونکي وي په دنیاکي؟ (نه هیڅکله داسي نه شي کېدای تول دفناپه لوري درومي. مفسرین کرام وایې چي دغه دمشرکانودهغي ویناپه تردیدکي الله فرمایلي چي دوی به ویل: ﴿ أَمْ يَقُولُونَ شَاعِرٌ نَّتَرَبَّصُ بِهِۦ رَيْبَ ٱلْمَنُونِ ﴾ (الطور٣٠) نوالله جل جلاله هغه وپوهاووچي ترده له مخه انبیاء کردمره شوي اوالله دخپل دین ساتنه کړي ده همداسي به دده دشریعت اودین دخوندي ساتلوبندوبست کوي ﴿ كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ ٱلْمَوْتِ ﴾هریونفس دمرګ څکونکی دی یعني مري به) یوازي حیّ قیّوم ذات به تل وي ﴿ وَنَبْلُوكُم بِٱلشَّرِّ وَٱلْخَيْرِ فِتْنَةً ﴾ (او ازمایو موږتاسي(په دنیا کي) په شر،بدي اوخیر،نېکي سره ازموینه) یعني موږتاسوپه دنیاکي په مصیبتونو اونعمتونو ازمویو ترڅوشاکراومنکرصبر کونکی اوقانط ښکاره شي. ابن عباس رضی الله عنه وایې: معناداچي تاسوپه سختي اوهوسایي، روغتیااورنځوري ،بډایي اونېستي، حلال اوحرام ، طاعت او معصیت ، هدایت اوګمراهي سره ازمویو(١) اوابن زید وایې : معنایې داچي : موږتاسوپرهغه څه ازمویوچي تاسویې خوښوی ترڅوستاسوشکرمعلوم کړواوپه هغه څه موازمویو چی تاسو ورڅخه کرکه اونفرت کوی ترڅوچي ستاسي صبرمعلوم کړو(٢)﴿ وَإِلَيْنَا تُرْجَعُونَ ﴾اوخاص موږته به تاسي راوستلی شی (ترڅو دخپلواعمالوجزاووینی) ﴿ وَإِذَا رَءَاكَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ إِن يَتَّخِذُونَكَ إِلَّا هُزُوًا ﴾ (اوکله چي تا ووینی هغه کسان چي کافران شوي دی نونه نیسي تامګرمسخره کړی شوی) یعني ای محمده ! کله چي تاقریشي کفارلکه ابوجهل اودده ملګري ووینی نوپه تاملنډي وهي اووایې: ﴿ أَهَٰذَا ٱلَّذِى يَذْكُرُ ءَالِهَتَكُمْ ﴾ ؟آیاداهمغه څوک دی چي یادوي (په بدی اوسپکه) معبودان ستاسي؟ (په استفهام کي انکاراوتعجب دی یعني همدغه ستاسومعبودان ښکنځي اوتاسوسپکوي؟ ﴿ وَهُم بِذِكْرِ ٱلرَّحْمَٰنِ هُمْ كَٰفِرُونَ ﴾ (حال داچي دغه (کافران) په یادولودرحمان (په وحدانیت سره) هم دوی کافران دي) یعني حال دا چي دغه کفارپه الله ایمان نلري اوبیاهم په رسول الله استهزآء کوي قرطبي وایې چي مشرکانوبه دهغه چابدي ویله چي چابه ددوی دباطلوخدایانوالوهیت نه مانوحال داچي دوی پخپله درحمان الله له الهیت څخه منکروو اودغه دجهل اوناپوهي وروستی سرحددی ﴿ خُلِقَ ٱلْإِنسَٰنُ مِنْ عَجَلٍ ﴾ (انسان له تلواري پیداکړی شوی دی) یعني دانسان په طبیعت اوخاوره کي بې صبري شته هرڅه په تلواره غواړي که څه هم دده لپاره تاوان وي. ابن کثیروایې چي دانسان دتعجیل اوتلواري دیادوني حکمت دلته دادی چي کله یې دمستهزئینوذکر وفرمایونوپه زړونوکي له دوی څخه ژرانتقام اخیستل

(١) المختصر ٢ / ٥٠٨
(٢) ابن الجوزي ٥ / ٣٥٠

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

راګرزېدل اودوی ددې غوښتنه په تلوارکوله څکه يې بياوفرمايل: ﴿ سَأُوْرِيكُمْ ءَايَٰتِى فَلَا تَسْتَعْجِلُونِ ﴾ ژربه وښيم تاسي ته خپل آيات (موعودعذاب) دهغه چالپاره چي سرغړونه کوي) پس تاسي تلوارمکوئ مخ کي له راتلوڅخه يې) ﴿ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴾ (اووايې دا(کفار)کله به وي دغه وعده (دراتلودعذاب ياقيامت که چېري ياست تاسي رښتيني) يعني مشرکان دمسخرواوملنډوپه توګه وايې ای مؤمنانوکه چېري تاسوپه دغه خبرکي رښتوني ياست؟ کله به دغه عذاب وي کوم چي محمد موږورباندي وېروي ؟ الله جل جلاله فرمايې ﴿ لَوْ يَعْلَمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ حِينَ لَا يَكُفُّونَ عَن وُجُوهِهِمُ ٱلنَّارَ وَلَا عَن ظُهُورِهِمْ ﴾ که پوهېدلي وای هغه کسان چي کافران شوي دي هغه وخت چي نه به شي منع کولای له مخونوخپلو اور(ددوزخ) او نه له شاګانوخپلو (څکه چي اوربه ترې چاپېروي له ټولو خواوونه پدې چي دوی په تلواره عذاب غوښتو. په البحرالمحيط کي وايې چي خواب د(لو) محذوف دی چي داپه وېرونه سره خورازيات دلالت کوي . زمخشري وايې چي څرنګه چي دوی دکفر، استهزآء اواستعجال ګردصفتونه لرل دغه عذاب به ورکول کېږي خوددوی جهل هغه ددوی لپاره آسانه ګڼلی دی (١)﴿ وَلَا هُمْ يُنصَرُونَ ﴾ اونه به له دوی سره مرسته وکړل شي (چي دالله له عذابه يې وژغوري) ﴿ بَلْ تَأْتِيهِم بَغْتَةً فَتَبْهَتُهُمْ ﴾ بلکه رابه شي دوی ته دغه (قيامت ناڅاپه پس دوی به حيران کړي ﴿ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ رَدَّهَا وَلَا هُمْ يُنظَرُونَ ﴾ پس دوی توان نه لري دهغه دليري کولواونه به دوی ته (دتوبې اوعذر) مهلت ورکاوه شي ﴿ وَلَقَدِ ٱسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّن قَبْلِكَ ﴾ (اوخامخاپه تحقيق مسخرې شوي دي په رسولانوپخواله تا) پدې کي درسول الله صلى الله عليه وسلم لپاره ډاډينه ده چي کله به دمشرکانوله خواهغه ته استهزآء ګاني اومسخرې کېدلې يعني ترتاپخوادستروډېرو پيغمبرانوسره هم داسي چلند شويدی چي قومونو به يې ورباندي استهزاګاني اومسخرې کولې ﴿ فَحَاقَ بِٱلَّذِينَ سَخِرُوا۟ مِنْهُم مَّا كَانُوا۟ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ﴾ پس نازل شوپه هغوکسانوچي مسخرې يې کولې له پخوانيواُمتونونه (جزاء) دهغه شي چي وودوی چي په هغه سره به يې مسخرې کولې) ابوحيان وايې چي رسول الله ته الله تسلي ورکړه چي پخوانيو انبياوِوته هم له خپلواُمتونوڅخه استهزاوي ورکول شوې اوبيادوی دخپلي استهزآء ثمره هلاک اوعذاب په دنيااو آخرت کي څکلي دي نوهمداسي ددغواستهزاء کونکوحال هم وګڼه (٢)﴿ قُلْ مَن يَكْلَؤُكُم بِٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ مِنَ ٱلرَّحْمَٰنِ ﴾ ووايه(ای محمده ! دوی ته) څوک ساتي تاسي دشپې او دورځي له عذاب درحمن څخه؟ دغه دتقريع په ډول پوښتنه ده ترڅوچي دوی په ورکړل شوو نعمتونوتېرنه ايستل شي او غرور ونکړي يعني هيڅوک نشته ﴿ بَلْ هُمْ عَن ذِكْرِ رَبِّهِم مُّعْرِضُونَ ﴾ بلکه دوی له ياده درب (له کلامه پنده دهغه) څخه مخ ګرزونکي دي (نه پکي سوچ کوي

---

(١) البحر ٦ / ٣١٣
(٢)- ٣١٤ / البحر.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

اونه تري پنداخلي ﴿ أَمْ لَهُمْ ءَالِهَةٌ تَمْنَعُهُم مِّن دُونِنَا ﴾ آياشته ددوی لپاره نورمعبودان چي دوی ساتي (له عذاب څخه) غيرله موږنه؟ ﴿ لَا يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَ أَنفُسِهِمْ وَلَا هُم مِّنَّا يُصْحَبُونَ ﴾ (طاقت نلري (دغه معبودان) دمرستي د خپلوځانونواونه دوی زموږله عذاب څخه ساتل کېږي) يعني دوی خپل ځان نشي ژغورلای نو عابدان به څنګه وژغوري. ابن عباس رضی الله عنه ددې ﴿ يُصْحَبُونَ ﴾ کلمې معنا دانبيي چي نه څوک دوی ته له موږڅخه پناه ورکولای شي ځکه پناه ورکونکی دپناه غوښتونکی ملګری وي (۱) ﴿ بَلْ مَتَّعْنَا هَٰؤُلَاءِ وَءَابَاءَهُمْ حَتَّىٰ طَالَ عَلَيْهِمُ الْعُمُرُ ﴾ بلکه نفع رسولي ده موږدغو (کفارو) ته او پلرونو د دوی ته(دژوندانه په ارزاقواو اسبابوسره) ترهغه پوري چي اوږده شوه پردوی باندي (موده د) عمر (په نعمتونواوسوکاليوکي او دوی پدې غره شول اووايې انګېرله چي ګواکي دابد تل وي) ﴿ أَفَلَا يَرَوْنَ أَنَّا نَأْتِي الْأَرْضَ نَنقُصُهَا مِنْ أَطْرَافِهَا ﴾ آيانه ويني (کفار) چي بېشکه موږ راتګ (اوقصد) کوو ځمکي (دکفارو) ته پداسي حال چي کموو هغه له څنډوددغي (ځمکي نه له فتوحاتووروسته چي مؤمنان او پيغمبروربانديي مسلط کوو) ﴿ أَفَهُمُ الْغَالِبُونَ ﴾ آياکفارغالب دي (په مؤمنانو؟ بلکه د اسلام په وړاندي تل مغلوب دي استفهام دتقريع اوانکارپه معنا دی ﴿ قُلْ إِنَّمَا أُنذِرُكُم بِالْوَحْيِ ﴾ ووايه (ای محمده! دوی ته) بېشکه هم داخبره ده چي زه تاسي په وحی سره وېروم؛ دغه زماله خپله لوري نه ده بلکه زه دالله له لوري تاسي ته وېرونکی مبلغ يم چي تاسودالله له عذاب اوهلاکت څخه وېروم ﴿ وَلَا يَسْمَعُ الصُّمُّ الدُّعَاءَ إِذَا مَا يُنذَرُونَ ﴾ اونه اوري کوڼ بلنه کله چي ووېرولی شي (نوتاسي هم دکانه په شان خبره نه اوری اونه پنداخلی) ﴿ وَلَئِن مَّسَّتْهُمْ نَفْحَةٌ مِّنْ عَذَابِ رَبِّكَ ﴾ اوکه چېري ورسېږي دوی ته لږڅه تپ له عذاب درب ستا (که څه هم ډېرسپک اولږوي) ﴿ لَيَقُولُنَّ يَا وَيْلَنَا إِنَّا كُنَّا ظَالِمِينَ ﴾ نوخامخا (کفار) وايې هرومرو ای هلاکه زموږ (راحاضرشه دغه دي وخت دی) بېشکه چي موږ وو (پخواله دغه عذاب څخه) ظالمان (په کفرسره چي دانبياوو تکذيب موکاوو) ﴿ وَنَضَعُ الْمَوَازِينَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيَامَةِ ﴾ او موږ کېږدوو تلي دانصاف لپاره د (اهل دورځي دقيامت) ﴿ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا ﴾ پس ظلم به ونکړی شي په هيڅ نفس دهيڅ شي يعني دمحسن له احسانه به کم نشي اودمسئ په ګناه به ورزيات نشي ﴿ وَإِن كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ أَتَيْنَا بِهَا ﴾ اوکه وي دغه (عمل) په قدرديوې دانې سپلني (اوري) نورابه وړودغه دانه (راحاضربه يې کړو) ابوالسعودوايې معناداچي که څه هم نهايته لږ وي ځکه چي دسپلني دانه دلږشي لپاره مثال راوړل کېږي (۲) ﴿ وَكَفَىٰ بِنَا

(۱) زادالمسير ۵ / ۳۵۳
(۲) ابوالسعود ۳ / ۱۲۴

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

حَسِيبِينَ ﴾ اوپس يومو ږ حساب كونكي (دبندگانود اعمالواوجزا وركونكي دوی ته) خازن وايې چي مقصدله دې څخه تحذيردی څكه كله چي محاسب داسي باريک بين وي چي هيڅ شی ورڅخه پټ نه پاتي كېږي اودومره توانمن وي چي هيڅوک يې مغلوبولای نشي نوهوښيارسړي ته پكارده چي ورڅخه خوراپه وېره او خوف كي اوسي (۱)﴿ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ٱلْفُرْقَانَ وَضِيَآءً وَذِكْرًا لِّلْمُتَّقِينَ ﴾ اوهرومروپه تحقيق موږ وركړی وو موسی اوهارون ته فرقان (دحق اوباطل بېلونكی كتاب) اورڼا (چي حق له باطل څخه ور باندي ليدل كېږي) اونصيحت دپرهېزگارانولپاره (چي مؤمنان وي) ﴿ ٱلَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُم بِٱلْغَيْبِ ﴾ (متقيان) هغه كسان دي چي وېرېږي له رب خپله څخه په غيب سره؛ (دوی هغه نه دی ليدلی مگرپه نظراواستدلال سره ورته معلومه ده چي دی سترقادرپروردگارچي په عملونوجزاوركوي نو څني وېرېږي كه څه هم يې ليدلی نه دی ﴿ وَهُم مِّنَ ٱلسَّاعَةِ مُشْفِقُونَ ﴾ اودوی (تل) له قيامته وېرېدونكي دي ﴿ وَهَٰذَا ذِكْرٌ مُّبَارَكٌ أَنزَلْنَٰهُ أَفَأَنتُمْ لَهُۥ مُنكِرُونَ ﴾ اودا (قرآن) مبارک نصيحت (پند) دی چي موږهغه نازل كړی دی (په محمدصلی الله عليه وسلم) ستاسي په ژبه) آياپس تاسي له دې نه (چي خوراخرگنداوروښان دی؟) انكار كونكي يی؟ (ای عربي ټولني !) كرخي رحمه الله وايې چي استفهام دتوبيخ لپاره اوخطاب دمكې خلگوته دی څكه دوی اهل لسان اودكلام مزاياوي پېژني په لطائفو باريكيو اوبلاغت يې دومره زيات پوهېږي چي بل څوک پرې نه پوهېږي بل داچي دوی ته دغه شرافت هم ورپه برخه دی كه بل څوک انكارترې وكړي بعيده نه ده څكه چي هغوی به يې پردی والی اودښمني پالي (۲)

بلاغت:

پدې آيتونوكي دبيان اوبديع لاندنی ښكلاوي شته:

۱- اشتقاقي جناس لكه ﴿ أَرْسَلْنَا ....رَّسُولٍ ﴾ .

۲- هغه استفهام چي معنايې تعجيب اوانكاروي لكه چي فرمايې: ﴿ أَوَلَمْ يَرَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ ﴾ .

۳- درتق اوفتق ترمينځ دطباق صنعت چي وايې: ﴿ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنَٰهُمَا ﴾ .

۴- تنكيردتعميم لپاره چي ﴿ وَجَعَلْنَا مِنَ ٱلْمَآءِ كُلَّ شَىْءٍ حَىٍّ ﴾ اوداچي ﴿ وَمَا جَعَلْنَا لِبَشَرٍ ﴾ .

۵ - التفات له متكلم څخه غائب ته چي فرمايې: ﴿ وَهُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ ﴾ وروسته له دې قوله چي ﴿ وَجَعَلْنَا مِنَ ٱلْمَآءِ ﴾ اوداددې لپاره چي ددغوسترونعمتونوپه هكله زياته پاملرنه وشي.

۶- دطباق صنعت دخيراوشرترمينځ چي ﴿ وَنَبْلُوكُم بِٱلشَّرِّ وَٱلْخَيْرِ ﴾ .

---

(۱) حاشية الجمل ۳ / ۱۳۱

(۲) البحرالمحيط ۶ / ۳۱۲

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

۷- مبالغه کله چي فرمايي: ﴿ خُلِقَ ٱلْإِنسَٰنُ مِنْ عَجَلٍ ﴾ ..

۸- استعاره چي فرمايي: ﴿وَلَا يَسْمَعُ ٱلصُّمُّ ٱلدُّعَآءَ ﴾ دلته يې کونوالی دکفارولپاره استعاره کړلکه چي څلوربول بوده ګان نه بلنه اوري اونه پرې پوهېږي.

۹- کنايه چي فرمايي: ﴿ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ ﴾ دغه له عمل څخه کنايه ده که څه هم ډېرلږوي.

۱۰- سجع لکه چي الله جل جلاله فرمايي: ﴿يَهْتَدُونَ .....يُنصَرُونَ .....يَسْبَحُونَ ﴾ ترپايه.

تنبيه:

له ابن عباس رضی الله عنهما څخه وپوښتل شول چي آياشپه مخکي اوکه ورځ وه ؟ نوهغه په ځواب کي ورته وويل: چي آياتاسو خبرياست چي ځمکه اوآسمانونه سره نښتي ووآياددوی ترمينځ له تاريکي پرته نورڅه وو؟ داددې لپاره چي وپوهېږي شپه ترورځي دمخه ده (۱)

لطيفه:

وايې چي يوچاله عبدالله ابن عمررضی الله عنهما څخه ددې آيت پوښتنه وکړه چي: هغه ورته وويل: هغه شيخ (ابن عباس) ته ورشه اوځني وپوښته بياماته راشه سړی هم ابن عباس ته راغی اوځني يې وپوښتل هغه ورته وويل: چي آسمان سره نښتی وواوبه يې نه اورولې اوځمکه نښتي وه چي وابنه يې نه زرغونول اوکله چي الله دځمکي مخلوقات وپنځول نوآسمان په وربښت اوځمکه په ټوکيدلواو زرغونولوپرانستل شول سړی ابن عمرته راغی اوځواب يې ورته واورول هغه وويل: مابه پخوا په تفسيرکي دابن عباس زړورتيا انکېرله خواوس وپوهېدم چي هغه ته قرآني علم وربښل شوی دی (۲)

***

الله تعالی فرمايي:

﴿ ۞ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَآ إِبْرَٰهِيمَ رُشْدَهُۥ مِن قَبْلُ وَكُنَّا بِهِۦ عَٰلِمِينَ ﴿٥١﴾ إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِۦ مَا هَٰذِهِ ٱلتَّمَاثِيلُ ٱلَّتِىٓ
أَنتُمْ لَهَا عَٰكِفُونَ ﴿٥٢﴾ قَالُوا۟ وَجَدْنَآ ءَابَآءَنَا لَهَا عَٰبِدِينَ ﴿٥٣﴾ قَالَ لَقَدْ كُنتُمْ أَنتُمْ وَءَابَآؤُكُمْ فِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٥٤﴾
قَالُوٓا۟ أَجِئْتَنَا بِٱلْحَقِّ أَمْ أَنتَ مِنَ ٱللَّٰعِبِينَ ﴿٥٥﴾ قَالَ بَل رَّبُّكُمْ رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ٱلَّذِى فَطَرَهُنَّ وَأَنَا۠ عَلَىٰ ذَٰلِكُم مِّنَ
ٱلشَّٰهِدِينَ ﴿٥٦﴾ وَتَٱللَّهِ لَأَكِيدَنَّ أَصْنَٰمَكُم بَعْدَ أَن تُوَلُّوا۟ مُدْبِرِينَ ﴿٥٧﴾ فَجَعَلَهُمْ جُذَٰذًا إِلَّا كَبِيرًا لَّهُمْ لَعَلَّهُمْ
إِلَيْهِ يَرْجِعُونَ ﴿٥٨﴾ قَالُوا۟ مَن فَعَلَ هَٰذَا بِـَٔالِهَتِنَآ إِنَّهُۥ لَمِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥٩﴾ قَالُوا۟ سَمِعْنَا فَتًى يَذْكُرُهُمْ يُقَالُ لَهُۥٓ إِبْرَٰهِيمُ
﴿٦٠﴾ قَالُوا۟ فَأْتُوا۟ بِهِۦ عَلَىٰٓ أَعْيُنِ ٱلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَشْهَدُونَ ﴿٦١﴾ قَالُوٓا۟ ءَأَنتَ فَعَلْتَ هَٰذَا بِـَٔالِهَتِنَا يَٰٓإِبْرَٰهِيمُ ﴿٦٢﴾ قَالَ بَلْ
فَعَلَهُۥ كَبِيرُهُمْ هَٰذَا فَسْـَٔلُوهُمْ إِن كَانُوا۟ يَنطِقُونَ ﴿٦٣﴾ فَرَجَعُوٓا۟ إِلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ فَقَالُوٓا۟ إِنَّكُمْ أَنتُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ
﴿٦٤﴾ ثُمَّ نُكِسُوا۟ عَلَىٰ رُءُوسِهِمْ لَقَدْ عَلِمْتَ مَا هَٰٓؤُلَآءِ يَنطِقُونَ ﴿٦٥﴾ قَالَ أَفَتَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا

---

(۱) مختصر ابن کثير ۳ / ۵۰۴
(۲) نفس المرجع

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

يَنفَعُكُمْ شَيْـًٔا وَلَا يَضُرُّكُمْ ﴿٦٦﴾ أُفٍّ لَّكُمْ وَلِمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ ۖ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٦٧﴾ قَالُوا۟ حَرِّقُوهُ
وَٱنصُرُوٓا۟ ءَالِهَتَكُمْ إِن كُنتُمْ فَٰعِلِينَ ﴿٦٨﴾ قُلْنَا يَٰنَارُ كُونِى بَرْدًا وَسَلَٰمًا عَلَىٰٓ إِبْرَٰهِيمَ ﴿٦٩﴾ وَأَرَادُوا۟ بِهِۦ كَيْدًا
فَجَعَلْنَٰهُمُ ٱلْأَخْسَرِينَ ﴿٧٠﴾ وَنَجَّيْنَٰهُ وَلُوطًا إِلَى ٱلْأَرْضِ ٱلَّتِى بَٰرَكْنَا فِيهَا لِلْعَٰلَمِينَ ﴿٧١﴾ وَوَهَبْنَا لَهُۥٓ إِسْحَٰقَ
وَيَعْقُوبَ نَافِلَةً ۖ وَكُلًّا جَعَلْنَا صَٰلِحِينَ ﴿٧٢﴾ وَجَعَلْنَٰهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا وَأَوْحَيْنَآ إِلَيْهِمْ فِعْلَ ٱلْخَيْرَٰتِ
وَإِقَامَ ٱلصَّلَوٰةِ وَإِيتَآءَ ٱلزَّكَوٰةِ ۖ وَكَانُوا۟ لَنَا عَٰبِدِينَ ﴿٧٣﴾ وَلُوطًا ءَاتَيْنَٰهُ حُكْمًا وَعِلْمًا وَنَجَّيْنَٰهُ مِنَ ٱلْقَرْيَةِ
ٱلَّتِى كَانَت تَّعْمَلُ ٱلْخَبَٰٓئِثَ ۗ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ قَوْمَ سَوْءٍ فَٰسِقِينَ ﴿٧٤﴾ وَأَدْخَلْنَٰهُ فِى رَحْمَتِنَآ ۖ إِنَّهُۥ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٧٥﴾
وَنُوحًا إِذْ نَادَىٰ مِن قَبْلُ فَٱسْتَجَبْنَا لَهُۥ فَنَجَّيْنَٰهُ وَأَهْلَهُۥ مِنَ ٱلْكَرْبِ ٱلْعَظِيمِ ﴿٧٦﴾ وَنَصَرْنَٰهُ مِنَ ٱلْقَوْمِ
ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَآ ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ قَوْمَ سَوْءٍ فَأَغْرَقْنَٰهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٧٧﴾ وَدَاوُۥدَ وَسُلَيْمَٰنَ إِذْ يَحْكُمَانِ فِى ٱلْحَرْثِ إِذْ
نَفَشَتْ فِيهِ غَنَمُ ٱلْقَوْمِ وَكُنَّا لِحُكْمِهِمْ شَٰهِدِينَ ﴿٧٨﴾ فَفَهَّمْنَٰهَا سُلَيْمَٰنَ ۚ وَكُلًّا ءَاتَيْنَا حُكْمًا وَعِلْمًا ۚ وَسَخَّرْنَا
مَعَ دَاوُۥدَ ٱلْجِبَالَ يُسَبِّحْنَ وَٱلطَّيْرَ ۚ وَكُنَّا فَٰعِلِينَ ﴿٧٩﴾ وَعَلَّمْنَٰهُ صَنْعَةَ لَبُوسٍ لَّكُمْ لِتُحْصِنَكُم مِّنۢ بَأْسِكُمْ ۖ
فَهَلْ أَنتُمْ شَٰكِرُونَ ﴿٨٠﴾ وَلِسُلَيْمَٰنَ ٱلرِّيحَ عَاصِفَةً تَجْرِى بِأَمْرِهِۦٓ إِلَى ٱلْأَرْضِ ٱلَّتِى بَٰرَكْنَا فِيهَا ۚ وَكُنَّا بِكُلِّ شَىْءٍ عَٰلِمِينَ ﴿٨١﴾
وَمِنَ ٱلشَّيَٰطِينِ مَن يَغُوصُونَ لَهُۥ وَيَعْمَلُونَ عَمَلًا دُونَ ذَٰلِكَ ۖ وَكُنَّا لَهُمْ حَٰفِظِينَ ﴿٨٢﴾ ﴾ الأنبياء: ٥١ - ٨٢

مناسبت اوتړاو:

کله چې الله تعالی په توحید ،نبوت اومعادباندې دلائل راوړل ورپسې يې دانبياووعليهم السلام کيسې پيل کړې اوهغه ازمويښتونه چې دوی ته ورکول شوي دي بيان کړل ترڅودرسول الله صلی الله عليه وسلم لپاره تسليت اوډاډينه وي اوپه نوموړو انبياووپسې اقتداوکړي ددوی په شان صبراوزغم خپل کړي اودمشرکانوشخړواودښمنيوته دتيارسئ په حال کې وي.

لغتونه:

(رشده) لاربښوونه اوهدايت يې (التماثيل) دتمثال جمع اوهغه بُت ته وايې چې دالله له کوم مخلوق سره مشابهت ولري (جذاذا) ټوټه ټوټه (نکسوا) نکس يوشی اپوټه کولوته وايې چې سرې ښکته اوبېخ يې پورته شي (نافلة) زيات اوله همدې کلمې څخه نفل لمونځ ته هم وايه شي چې په فرضوزيات وي (الکرب) سخت غم ته وايې (نفشت) په شپه کې څرېدونکي څاروي چې شپون ورسره نه وي وايې چې(نُفشت بالليل وهُملت بالنهار) کله چې بې خاونده اوشپانه رمې ګلې دشپې او ورځې څرې.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

تفسير:

﴿ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَآ إِبْرَٰهِيمَ رُشْدَهُۥ ﴾ (قسم دی) چي خامخا په تحقيق موږ ورکړي وه ابراهيم ته نېکه حقه لاره (دهدايت اونېکو اعمالو په دنيا او آخرت کي) ﴿ مِن قَبْلُ ﴾ پخوا (په کوچنيوالي کي چي دالله دوحدانيت په هکله مونظر استدلال وربښلی وو) ﴿ وَكُنَّا بِهِۦ عَٰلِمِينَ ﴾ اوموږ په ده باندي پوه وو (چي دی دفضل اونبوت له خاوندانو څخه دی ﴿ إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِۦ مَا هَٰذِهِ ٱلتَّمَاثِيلُ ٱلَّتِىٓ أَنتُمْ لَهَا عَٰكِفُونَ ﴾ (کله چي وويل: ابراهيم خپل پلار او خپل قوم ته چي څه دی دغه (بتان) هغه چي تاسي دوی ته په عبادت ولاړياست ؟) دغه دهغه رشدبيان دی کوم چي ابراهيم ته ورکول شوی وو له کوچنيوالي څخه اوداچي ويې ويل ﴿ مَا هَٰذِهِ ٱلتَّمَاثِيلُ ﴾ دغه يې دهغوی دسپکاوي لپاره ذکرکړل که څه هم ده ته معلومه وه چي دوی يې خوراتعظيم کوي خوده تجاهل وکړ ﴿ قَالُوا۟ وَجَدْنَآ ءَابَآءَنَا لَهَا عَٰبِدِينَ ﴾ وويل دوی چي موندلي دي موږ پلرونه خپل دغو (بتانو) ته عبادت کونکي ؛ ابن کثيروايې چي: دوی پرته د پلرونو له ګمراهي څخه بل دليل نه درلود. ﴿ قَالَ لَقَدْ كُنتُمْ أَنتُمْ وَءَابَآؤُكُمْ فِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴾ وويل: (ابراهيم) خامخا په تحقيق ياست تاسي اوپلرونه ستاسي (چي دبتانو عبادت کوي) په ګمراهي ښکاره کي (څکه چي دوی جمادات دي نه ګټه رسوي اونه تاوان دفع کوي نه هم اوري) ﴿ قَالُوٓا۟ أَجِئْتَنَا بِٱلْحَقِّ أَمْ أَنتَ مِنَ ٱللَّٰعِبِينَ ﴾ (نوو ويل دوی (ابراهيم ته) آياراغلی يې ته موږته برحقه اوکه يې ته له لوبونکو څخه) يعني داچي ته رښتيا اوجدي خبره کوې اوکه محض ټوکي ټکالی کوې دوی دغه انکارستروګڼل اودايې زړه ته نه لوېدله چي دوی به ګمراهان وي نوځکه يې داسي فکرکاووچي ښايې ابراهيم به ټوکي ټکالي کوي نو ابراهيم عليه السلام ورته په ټينګه وويل: ﴿ قَالَ بَل رَّبُّكُمْ رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ٱلَّذِى فَطَرَهُنَّ ﴾ وويل: (ابراهيم بلکه رب ستاسي رب دآسمانونو اورب دځمکي دي هغه الله چي پيداکړي يې دي آسمانونه ځمکي اومافيهاهغه دعبادت لپاره وړاومستحق دی نه دغه ګماني بُتان ﴿ وَأَنَا۠ عَلَىٰ ذَٰلِكُم مِّنَ ٱلشَّٰهِدِينَ ﴾ (اوزه په دغو (چي ومي ويل له توحيد څخه) له شاهدانو څخه يم) يعني زه دالله دوحدانيت په براهينو اوڅرګندودلائلوشاهديم هغه شاهدچي دعواګاني ورباندي فيصله کولی شي ﴿ وَتَٱللَّهِ لَأَكِيدَنَّ أَصْنَٰمَكُم بَعْدَ أَن تُوَلُّوا۟ مُدْبِرِينَ ﴾ اوپه الله قسم دی خامخا څه تدبير اوعلاج به وکړم هرومرو (چي مات کړم) بتان ستاسي پس له هغه چي وګرزی تاسي شاکونکي (بتانو ته په وخت دمېلې کولوکي) مفسرين کرام وايې چي: دوی به هرکال جشن لمانځو اوبېديا ته به وتل آزرابراهيم ته وويل: که له موږ سره جشن ته ولاړشې زموږ دين به دي خوراخوښ شي هغه هم ورسره رابهرشومګرپه لاره کي يې ځان ځمکي ته وغورځاوو اوويې ويل: زه ناروغ يم پښه مي خوږېږي نودوی هم پرېښودا وځني ولاړل اوله شايې په وروستي سړي پسي غږ کړ چي ﴿ وَتَٱللَّهِ لَأَكِيدَنَّ أَصْنَٰمَكُم ﴾ نويوتن ځني واورېدل اوپه يادېې وساتل

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

(١)﴿ فَجَعَلَهُمْ جُذَاذًا ﴾ پس ويې ګرزول دابتان توټې ﴿ إِلَّا كَبِيرًا لَّهُمْ ﴾ مګر لوی ددې بتانو (چې مات مات يې نکړ. مجاهدوايې چې ستربُت يې پرېښود اوتبرې دهغه په اوږه وروځړاوو ترڅوچې بياورباندې دليل ونيسي (٢)﴿ لَعَلَّهُمْ إِلَيْهِ يَرْجِعُونَ ﴾ دپاره ددې چې دوی هغه ته بيرته راشي اوځنې وپوښتې چې بتان چامات کړل نوبه دُبُت عجز ورته څرګندشي اوپردوی به دليل ودرېږي ﴿ قَالُوا مَن فَعَلَ هَٰذَا بِآلِهَتِنَا إِنَّهُ لَمِنَ الظَّالِمِينَ ﴾ وويل: دوی چاداکارکړی په معبودانوزموږ بېشکه چې دی خامخاله ظالمانودی ؛ په کلام کې حذف شته هغه داچې کله دوی له مېلې راستانه شول او کونډې کپرېُتان يې وليدل نويې دپلتنې اوترتنې په هکله داسې وويل: چې چاداکارکړی هغه خورا ظالم اودستري ګناه مرتکب دی ځکه چې دهغوخدايانو (معبودانو) سره يې دبې ادبې حرکت کړی کوم چې دتعظيم اودرناوې وړدې ﴿ قَالُوا سَمِعْنَا فَتًى يَذْكُرُهُمْ يُقَالُ لَهُ إِبْرَاهِيمُ ﴾ وويل(ځينوکفارو) چې موږله يوه زلمې اورېدلې ووچې يادول به يې دابُتان (په بدې سره) چې ده ته ابراهيم ويلی شي؛ داهغه چاوويل چاچې دابراهيم (عليه السلام) خبره اورېدلې وه چې ويل يې: ﴿ وَتَاللَّهِ لَأَكِيدَنَّ أَصْنَامَكُم ﴾ نوده وويل: ښايې هم ده به دغه کارکړی وي ﴿ قَالُوا فَأْتُوا بِهِ عَلَىٰ أَعْيُنِ النَّاسِ ﴾ وويل: (نمرود اومشرانويې) رايې ولئ هغه ابراهيم په مخکې دسترګودخلګو(چې ويې وينې اومقصدداچې دده محاکمه دخلګوپه وړاندې ترسره شي اوخلګ يې له برخه ليک څخه عبرت واخلي ﴿ لَعَلَّهُمْ يَشْهَدُونَ ﴾ ښايې چې دوی ووينې (هغه څه اوعذاب يې چې څه ورباندې کول کېږي) ﴿ قَالُوا أَأَنتَ فَعَلْتَ هَٰذَا بِآلِهَتِنَا يَا إِبْرَاهِيمُ ﴾ وويل(دوی) آياتاکړی داکارپه معبودانوزموږ ای ابراهيمه ؟! ﴿ قَالَ بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ هَٰذَا ﴾ وويل (ابراهيم) بلکه کړی داکار مشرددوی چې دادی (غُصه ورغلې چې ولې له ده سره د وړوبُتانوعبادت کوئ؟ مقصدددوی چوپول اوتعجيزدی ځکه يې وويل: ﴿ فَاسْأَلُوهُمْ إِن كَانُوا يَنطِقُونَ ﴾ نوپوښتنه وکړئ تاسې له دوی که وي دوی چې خبرې کوي(چې چا توټې توټې کړې يې؟! قرطبي وايې چې: کلام دتعريض اوالزام په ډول دی ځکه دوی هغه په الوهيت سره نيولې وواوله الله پرته به يې ددوی عبادت کاوولکه چې ابراهيم (عليه السلام) خپل پلارته وويل: ﴿ لِمَ تَعْبُدُ مَا لَا يَسْمَعُ وَلَا يُبْصِرُ وَلَا يُغْنِي عَنكَ شَيْئًا ﴾ مريم: ٤٢ نوابراهيم عليه السلام) ورته وويل: چې ﴿ بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ هَٰذَا ﴾ ترڅوچې دوی ووايې چې دوی خوخبرې نکوي اونه ګټه رسوي ، نه تاوان دفع کوي نوبه ورته ووايې چې بياولې يې عبادت کوئ ؟ پردوی به دليل راوړل شي لکه چې روا دی له خصم سره په مباحثه کې دباطل فرض وکړی شي ترڅوهغه خپل ځان ته متوجه کړي (٣)﴿ فَرَجَعُوا إِلَىٰ أَنفُسِهِمْ ﴾ پس رجوع وکړه (دغو کفاروپه فکرکولوسره)

---

(١) الخازن ٣ / ٢٤١
(٢) القرطبي ١١ / ٢٩٨
(٣) القرطبي ١١ / ٣٠٠

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

ځانونوخپلوته ﴿ فَقَالُوٓا۟ إِنَّكُمْ أَنتُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴾ نوويل:(ځينو ځينو نورو ته)بېشکه تاسوظالمان ياست (په عبادت کولودداسي چاچي خبري نشي کولای) ﴿ ثُمَّ نُكِسُوا۟ عَلَىٰ رُءُوسِهِمْ ﴾ بيانسکور کړل شول دوی په سرونوخپلو(يعني وشرمېدل اوله دې سره سره يې طغيان اوسرغړوني ته ملاوتړله اوابراهيم عليه السلام ته يې وويل: ﴿ لَقَدْ عَلِمْتَ مَا هَٰٓؤُلَآءِ يَنطِقُونَ ﴾ چي خامخاپه تحقيق ته پوه يې چي دابتان نه غږېږي اونه دسوال ځواب ورکوي نوځرنګه موږ ته وايې چي له دوی څخه وپوښتی ؟ اودغه ددوی اقراردی چي همدابُتان عاجزدي اوپدې وخت کي ابراهيم عليه السلام ته دليل پيداشودوی ته يې په ترتنه اوتوبيخ کي داسي وويل: ﴿ قَالَ أَفَتَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكُمْ شَيْـًٔا وَلَا يَضُرُّكُمْ ﴾ نوويل: (ابراهيم عليه السلام) نوآيا پس تاسي عبادت کوی بې له الله څخه دهغه شي چي نه ګټه رسوي تاسي ته اونه تاوان رسولی شي تاسي ته (دوی جمادات دي) ﴿ أُفٍّ لَّكُمْ وَلِمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ ﴾ نوافسوس (هلاک) دی تاسي ته اوهغه (بُتانو) ته چي تاسي يې پرته له الله عبادت کوی ﴿ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴾ آياتاسي دومره عقل هم نلری ؟ !(چي څومره بدکارکوی؟) ﴿ قَالُوا۟ حَرِّقُوهُ وَٱنصُرُوٓا۟ ءَالِهَتَكُمْ إِن كُنتُمْ فَٰعِلِينَ ﴾ (کله چي دليل ورباندي ودرېدونو) وويل دوی وسوځوئ دغه (ابراهيم) اومرسته وکړئ دمعبودانوخپلوکه يی تاسي (مدد) کونکي (د بُتانوخپلو سره په رښتيا) ﴿ قُلْنَا يَٰنَارُ كُونِى بَرْدًا وَسَلَٰمًا عَلَىٰٓ إِبْرَٰهِيمَ ﴾ وويل موږ ای اوره شه يخ او خاوند دسلامتياپه ابراهيم باندي تعبيرهمداسي دمبالغې لپاره راغی. مفسرين کرام وايې کله چي دوی د ابراهيم (عليه السلام) سوځول وغوښتل نويوه مياشت موده يې د اورلپاره دسُون مواد (محروقات) راټولول آن تردې چي کومه مېرمن به ناروغه شوه په ځان به يې نذر کښېښودکله چي له ناروغي څخه روغه شي د ابراهيم(عليه السلام) دسوځولولپاره به ازوغه راټولوي اوبيايې ډېر لوی لمبې وهونکی اورپه ټيټ ځای کي تيار کړداسي ويل کېږي چي کله به مرغان ددغه اوردپاسه الوتل نوبه له ډېري تودوخي اوګرمي څخه سوځېدل وروسته يې ابراهيم (عليه السلام) وتاړه اوپه منجنيق کي يې اورته وغورځاووپدغه ترڅ کي حضرت جبريل (عليه السلام) ورته راغی اوځني ويې پوښتل آياڅه اړتيالرې؟ نو ابراهيم ورته وويل چي: تاته زه اړتيانلرم نوجبريل (عليه السلام) ورته وويل: چي الله تعالی ته سوال وکړه ! نوابراهيم عليه السلام ورته وويل: (حسبي عن سؤالي علمه بحالي) يعني زماله سواله داکافي ده چي الله پرماعلم لري نوالله وفرمايل: ﴿ يَٰنَارُ كُونِى بَرْدًا وَسَلَٰمًا عَلَىٰٓ إِبْرَٰهِيمَ ﴾ (۱) اودابراهيم (عليه السلام) له کمربند څخه پرته هيڅ شی ونه سوځېدو ابن عباس رضی الله عنه وايې که الله تعالی اورته ﴿ وَسَلَٰمًا ﴾ نه وای ويلي هغه به يې له يخني په تکليف شوی وو(۲)

---

(۱) القرطبي ۱۱/ ۳۰۳

(۲) المختصر ۲/ ۵۱۴

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

﴿وَأَرَادُوا بِهِۦ كَيْدًا فَجَعَلْنَٰهُمُ ٱلْأَخْسَرِينَ﴾ اوغوښتل نمرودیانوپه ابراهیم مکر(دسوځولو) نو وګرزول موږدوی سخت زیانکاران (ځکه دوی دالله نبي ته دسوځولوچل جوړکړی ووخوموږهغه ددوی دخپلي غاړي طوق وګرزاوو) ﴿وَنَجَّيْنَٰهُ وَلُوطًا إِلَى ٱلْأَرْضِ ٱلَّتِى بَٰرَكْنَا فِيهَا لِلْعَٰلَمِينَ﴾ (اونجات مو ورکړدغه (ابراهیم) اولوط ته (او بوموتلل) هغې ځمکي ته چي موږپکي برکت اچولی وو دپاره د خلکو) یعني موږابراهیم اودده وراره لوط (علیه السلام) وژغورل له عراق څخه موشام ته مهاجرکړل هغه چي خورامبارکه ځمکه ده ډېرانبیاء پکي رااستول شوي ډېر رودونه ، ویالې اووني،کښتونه لري . ابن الجوزي وایې : ځکه دبرکت ځای دی چي ډېرانبیاء اوزیاتره کښت ، کروندې، رواني ویالې اونهرونه لري(١) ﴿وَوَهَبْنَا لَهُۥٓ إِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ نَافِلَةً﴾ او وموبښل دغه (ابراهیم ته) (زوی) اسحاق او(لمسی) یعقوب زیات (سربېره دزوی په غوښتني دانعام په ډول مفسرین کرام وایې چي: ابراهیم علیه السلام له الله جل جلاله څخه دزوی دپیداکېدلوغوښتنه وکړه نوالله تعالی اسحاق زوی ورکړ اوبیایې هغه ته یعقوب ورکړچي دغه یې لمسی اوګواکي لمسی هم زوی غوندي وي ﴿وَكُلًّا جَعَلْنَا صَٰلِحِينَ﴾او دغه ټول ګرزولي دي موږنېکان (دخیرښېګني خلک چي خلکوته یې لارښوونه کوله) ﴿وَجَعَلْنَٰهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا﴾ اوګرزولي وومورږدوی (داسي) امامان چي سمه صافه لاره یې (ددین)ښودله زموږپه حکم(خلکوته) ﴿وَأَوْحَيْنَآ إِلَيْهِمْ فِعْلَ ٱلْخَيْرَٰتِ﴾ اووحی کړي وو موږدوی ته کول دنېکو کارونو (چي علم اوعمل دواړه یوځای کړي) ﴿وَإِقَامَ ٱلصَّلَوٰةِ وَإِيتَآءَ ٱلزَّكَوٰةِ﴾ اودسم ادا کولو د لمانځه او ورکولودزکات دادواړه یې ځکه ځانګړي یادکړل چي لمونځ دبدني عباداتوافضل اوزکات د مالي عباداتوغوره عبادت دی ﴿وَكَانُوا لَنَا عَٰبِدِينَ﴾اوووودوی خاص موږته عبادت کونکي (مخلصان) ﴿وَلُوطًا ءَاتَيْنَٰهُ حُكْمًا وَعِلْمًا﴾ (اولوط ته ورکړی وو موږده ته حکم(نبوت) او پوهه ابن کثیروایې چي: لوط علیه السلام په ابراهیم علیه السلام ایمان راوړ، دهغه متابعت یې وکړاوله هغه سره یې دهجرت بهیرونیولکه چي الله تعالی فرمایې: ﴿فَـَٔامَنَ لَهُۥ لُوطٌ وَقَالَ إِنِّى مُهَاجِرٌ إِلَىٰ رَبِّىٓ﴾ العنکبوت: ٢٦ نوالله ورته نبوت ، علم او وحی ورکړه هغه یې په استازیتوب وټاکه او(سدوم) ته یې ولېږو هغوی دده تکذیب وکړاوالله تعالی دوی هلاک کړل لکه چي دکتاب عزیز په څوځایونوکي یې کیسه راغلي ده(٢)﴿وَنَجَّيْنَٰهُ مِنَ ٱلْقَرْيَةِ ٱلَّتِى كَانَت تَّعْمَلُ ٱلْخَبَٰٓئِثَ﴾ اونجات ورکړی وو موږدغه لوط ته له (خلکو) د(هغه) کلي چي دوی به خبیث (پلیت) عملونه کول (لکه لواطت ، لاري شوکول اونور..)﴿إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمَ سَوْءٍ فَٰسِقِينَ﴾ بېشکه چي هغوی ووقوم دبدي نافرمان (اشراراودالله څخه سرغړونکي متجاوزین) ﴿وَأَدْخَلْنَٰهُ فِى

---

(١) زادالمسیر ٥ / ٣٦٨

(٢) المختصر ٢ / ٥١٥

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

رَحْمَتِنَآ إِنَّهُۥ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴾ او داخل کړی وو موږ دی پخپل رحمت کي بېشکه دی له نېکانو څخه دی ﴿ وَنُوحًا إِذْ نَادَىٰ مِن قَبْلُ ﴾ او (یاد کړه ای محمده کیسه د نوح) کله چي غږ یې وکړ (په ښېرا د قوم خپل) پخوا (له دغو مذکوره وو نبیانو) کله چي یې قوم تکذیب وکړ نو هغه داسي وویل ﴿ وَقَالَ نُوحٌ رَّبِّ لَا تَذَرْ عَلَى ٱلْأَرْضِ مِنَ ٱلْكَٰفِرِينَ دَيَّارًا ﴾ (نوح ۲۶). ﴿ فَٱسْتَجَبْنَا لَهُۥ فَنَجَّيْنَٰهُ وَأَهْلَهُۥ مِنَ ٱلْكَرْبِ ٱلْعَظِيمِ ﴾ پس قبوله کړه موږ ده ته دعا دده اونجات موورکړ ده ته او کورنۍ ته له لویه غمه (چي طوفان او غرقېدل وو داهسي لوی غم وو چي نژدې وو دسړی سا وکاږي ﴿ وَنَصَرْنَٰهُ مِنَ ٱلْقَوْمِ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَآ ﴾ او مرسته موو کړه له ده سره (چي وموژغورل له دوی او دوی مو هلاک کړل په انتقام اخیستلو دده) له هغه قومه چي ددروغو نسبت یې کړی وو زموږ آیتونو ته ﴿ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ قَوْمَ سَوْءٍ فَأَغْرَقْنَٰهُمْ أَجْمَعِينَ ﴾ بېشکه دوی بد قوم وو نو موږ دوی ټول غرق کړل (هیڅوک مو ورڅخه نه پرېښودل) ﴿ وَدَاوُۥدَ وَسُلَيْمَٰنَ إِذْ يَحْكُمَانِ فِى ٱلْحَرْثِ ﴾ او یاد کړه (ای محمده کیسه د) داؤد او سلیمان کله چي حکم کاوو هغوی دواړو په (دعوی د) کښت کي ﴿ إِذْ نَفَشَتْ فِيهِ غَنَمُ ٱلْقَوْمِ ﴾ کله چي دشپې ګډه شوي وه (بې شپانه) رمه په هغه (کښت) کي دقوم (او هغه یې تباه کړی وو) ﴿ وَكُنَّا لِحُكْمِهِمْ شَٰهِدِينَ ﴾ او وو موږ ددوی حکم ته حاضر (یعني وربانديي خبر او پوه وو) ﴿ فَفَهَّمْنَٰهَا سُلَيْمَٰنَ ﴾ او ومو پوهاوو په هغه فیصله سلیمان ﴿ وَكُلًّا ءَاتَيْنَا حُكْمًا وَعِلْمًا ﴾ او هریوه ددوی دواړو (سلیمان او داؤد ته) ورکړی وو موږ نبوت او پوهه؛ مفسرین کرام وایي: حضرت داؤد علیه السلام ته دوه تنه راغلل چي دشپې له مخي دیوه رمه دبل په کښت ګډه شوي او هغه یې تباه کړی وو هیڅ یې نه وو پرې ایښي نو داؤد (علیه السلام) فیصله وکړه چي دکښت خاونددي رمه بوزي دواړه متخاصمان له داؤد (علیه السلام) څخه راووتل او په دروازه کي له سلیمان (علیه السلام) سره مخامخ شول او فیصله یې ورته واورو له سلیمان (علیه السلام) داؤد (علیه السلام) ته راغی او ورته ویې ویل چي: ای دالله پیغمبره که دي داسي فیصله کړي وای چي دګردو لپاره بهتره او ګټه وره وای هغه څني وپوښتل چي څنګه فیصله؟ نو سلیمان علیه السلام وویل: چي درمې خاوند دي څمکه واخلي او کرونده دي وربانديي وکري ترڅو چي هغه حالت ته ورسېږي لکه چي پخواوه اود کښت خاونددي رمه واخلي او دمېږو په وړیو او شیدو او نسل دي ګټه واخلي ترڅو چي کښت خپل پخوانی حالت ترلاسه کوي نو بیادي رمه خپل خاوند ته او کښت خپل خاوند ته وسپارل شي نو داؤد علیه السلام ورته وویل: په رښتیا چي دا سمه فیصله ده او پدې باندي فیصله صادره شوه او دغه دالله تعالی وینا ده چي فرمایي: ﴿ فَفَهَّمْنَٰهَا سُلَيْمَٰنَ ﴾ یعني هغه ته مو دقضیې حکم ور وښود ﴿ وَسَخَّرْنَا مَعَ دَاوُۥدَ ٱلْجِبَالَ يُسَبِّحْنَ وَٱلطَّيْرَ ﴾ او تابع کړي وو موږ له داؤد سره غرونه چي تسبیح به یې ویلې او (همداسي) مرغان هم (چي ورسره به یې تسبیح ویله) ابن کثیر وایي چي دغه دده دخوش آوازي له کبله وچي کله به یې د زبور

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

تلاوت کاوونومرغان به په هواودرېدل اوهمداسي غرونو به ورسره تلاوت غبرګ پيل کړ(١) او دا چي غرونه يې ترمرغانودمخه يادکړل سبب يې دادی چي د غرونواېل کېدل اوتسبيح لوستل ترمرغانو ډېر عجيب اونادردی اودغه په اعجازاواغېزمن کېدلوکي ډېرژور دی ځکه چي جمادات دی ﴿ وَكُنَّا فَٰعِلِينَ ﴾ او وومورږکونکي (ددې کار) ﴿ وَعَلَّمْنَٰهُ صَنْعَةَ لَبُوسٍ لَّكُمْ ﴾ (اوښوولی موو دغه (داؤدته) جوړول دزغري تاسي ته) يعني مورږ داؤد عليه السلام ته داوسپني دنرم والي په وجه د زغرو جوړول ورزده کړي وو قتاده وايې چي لومړنی هغه څوک چي زغري اوبدل يې پيل کړل داؤد عليه انسلام وواوتردې له مخه به داوسپني تختې استعمالېدلې نود زغري اوبدلواو کړيو جوړولومخترع يې داؤد عليه السلام دی(٢)﴿ لِتُحْصِنَكُم مِّنۢ بَأْسِكُمْ ﴾ دپاره ددې چي وساتي تاسي (په جګړه کي له دښمنانوڅخه ﴿ فَهَلْ أَنتُمْ شَٰكِرُونَ ﴾ پس آيايی تاسي شکرکونکي ؟ دغه استفهام اومقصدورڅخه امر دی يعني دالله دنعمتونو شکراداکړئ ؛ اوڅرنګه چي الله تعالی هغه څه يادکړل کوم چي پيغمبر داؤد عليه السلام يې ورباندي نازولی وو ورپسې يې دسليمان عليه السلام ذکروفرمايو﴿ وَلِسُلَيْمَٰنَ ٱلرِّيحَ عَاصِفَةً ﴾ او(تابع کړی وومورږ) سليمان ته تُندباد ﴿ تَجْرِى بِأَمْرِهِۦٓ إِلَى ٱلْأَرْضِ ٱلَّتِى بَٰرَكْنَا فِيهَا ﴾ چي روانېدوپه حکم دده ځمکي د(شام ته) هغي (ځمکي ته) چي مورږپکي برکت ايښی وو (په زياتو ونو، مېوو، اوويالوباندي هغه دده دارالسلطنت اودپاچهي پلازمېنه وه ﴿ وَكُنَّا بِكُلِّ شَىْءٍ عَٰلِمِينَ ﴾ اويو مورږپه هرشي عالمان ؛ نودوی ته مودغه ستره مرتبه پدې ورکړي وه چي پکي موحکمت نغښتی وو ﴿ وَمِنَ ٱلشَّيَٰطِينِ مَن يَغُوصُونَ لَهُۥ ﴾ (اوتابع کړي وو مورږ ده ته) ځيني له شيطانانوڅخه چي غوتې به يې وهلې (په سيندکي) دده لپاره (چي ملغلري او جواهرورته راوباسي ﴿ وَيَعْمَلُونَ عَمَلًا دُونَ ذَٰلِكَ ﴾اوکول به يې (نور (ډېر) کارونه بې له دې نه (لکه دښارونو اوستروستروقصرونو بناګاني چي بشرځني ناتوانه وي﴿ وَكُنَّا لَهُمْ حَٰفِظِينَ ﴾ او وو مورږدوی لره ساتونکي (له سرغروني اوفسادڅخه) .

بلاغت:

دلته دفصاحت اوبلاغت اوعلم بديع داصنعتونه شته چي لنډيزيې ليکو:

١-لطيفه استعاره چي فرمايې: ﴿ ثُمَّ نُكِسُوا۟ عَلَىٰ رُءُوسِهِمْ ﴾ دلته يې ددوی له حق څخه رجوع له هغه چاسره مشابه کړه چي سرپه څېړی ولاړوي اودغه استعاره ګڼلی شي.

٢-دطباق صنعت لکه: ﴿ يَنفَعُكُمْ ....يَضُرُّكُمْ ﴾ .

٣-مبالغه چي فرمايې ﴿ كُونِى بَرْدًا ﴾ دلته مصدرذکرشوی اومقصدورڅخه اسم فاعل دی يعني

---

(١) المختصر٢/ ٥١٢

(٢) القرطبي١١/ ٣٢٠

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

(باردة اوذات بردة) شه!

۴ - عطف دخاص پرعام باندي لکه: ﴿ فِعْلَ ٱلْخَيْرَٰتِ وَإِقَامَ ٱلصَّلَوٰةِ وَإِيتَآءَ ٱلزَّكَوٰةِ ﴾ ځکه چې لمونځ اوزکات هم په فعل الخيرات کي شته خوپه ځانګړي توګه ددوی يادول يې په سترشان اوفضيلت باندي دلالت کوي.

۵ - داحتراس صنعت لکه چې فرمايي: ﴿ وَكُلًّا ءَاتَيْنَا حُكْمًا وَعِلْمًا ﴾ دغه ددې توهم ددفع کولو لپاره چې څوک ونه انګېري دداؤد عليه السلام مقام اورتبه ټيټه ده.

۶ - مرسل مجازچې الله تعالی فرمايي ﴿ وَأَدْخَلْنَٰهُ فِى رَحْمَتِنَآ ﴾ يعني هغه موداخل کړپخپل جنت کي ځکه هغه د رحمت ځای دی نوعلاقه يې ظرفيت ښودلای شو.

۷ - بې تکلفه سجع چې راځي لکه: ﴿ عَٰبِدِينَ .... صَٰلِحِينَ ﴾.

تنبيه:

الله پاک دلته بادپه (عاصفة) سره موصوف يادکړاوبل ځای يې بيا(رخآء)وفرمايو، عاصفه تند اورخاء نرم ته وايې اوددواړو صفتونوترمينځ تضاد نشته ځکه بادپخپل ذات کي خوږ نرم وي اوکله چې د تللوپه حال کي وي نوتُند اوتېزوي ددواړوخواووا وصاف پکي راونغښتل شول ته پکي سوچ وکړه.

***

الله تعالی فرمايي:

﴿ ۞ وَأَيُّوبَ إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُۥٓ أَنِّى مَسَّنِىَ ٱلضُّرُّ وَأَنتَ أَرْحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ ﴿٨٣﴾ فَٱسْتَجَبْنَا لَهُۥ فَكَشَفْنَا مَا بِهِۦ مِن
ضُرٍّ وَءَاتَيْنَٰهُ أَهْلَهُۥ وَمِثْلَهُم مَّعَهُمْ رَحْمَةً مِّنْ عِندِنَا وَذِكْرَىٰ لِلْعَٰبِدِينَ ﴿٨٤﴾ وَإِسْمَٰعِيلَ وَإِدْرِيسَ وَذَا ٱلْكِفْلِ
كُلٌّ مِّنَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿٨٥﴾ وَأَدْخَلْنَٰهُمْ فِى رَحْمَتِنَآ إِنَّهُم مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٨٦﴾ وَذَا ٱلنُّونِ إِذ ذَّهَبَ مُغَٰضِبًا
فَظَنَّ أَن لَّن نَّقْدِرَ عَلَيْهِ فَنَادَىٰ فِى ٱلظُّلُمَٰتِ أَن لَّآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنتَ سُبْحَٰنَكَ إِنِّى كُنتُ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٨٧﴾
فَٱسْتَجَبْنَا لَهُۥ وَنَجَّيْنَٰهُ مِنَ ٱلْغَمِّ وَكَذَٰلِكَ نُـۨجِى ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٨٨﴾ وَزَكَرِيَّآ إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُۥ رَبِّ لَا تَذَرْنِى
فَرْدًا وَأَنتَ خَيْرُ ٱلْوَٰرِثِينَ ﴿٨٩﴾ فَٱسْتَجَبْنَا لَهُۥ وَوَهَبْنَا لَهُۥ يَحْيَىٰ وَأَصْلَحْنَا لَهُۥ زَوْجَهُۥٓ إِنَّهُمْ كَانُوا۟
يُسَٰرِعُونَ فِى ٱلْخَيْرَٰتِ وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا وَرَهَبًا وَكَانُوا۟ لَنَا خَٰشِعِينَ ﴿٩٠﴾ وَٱلَّتِىٓ أَحْصَنَتْ فَرْجَهَا
فَنَفَخْنَا فِيهَا مِن رُّوحِنَا وَجَعَلْنَٰهَا وَٱبْنَهَآ ءَايَةً لِّلْعَٰلَمِينَ ﴿٩١﴾ إِنَّ هَٰذِهِۦٓ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَٰحِدَةً وَأَنَا
رَبُّكُمْ فَٱعْبُدُونِ ﴿٩٢﴾ وَتَقَطَّعُوٓا۟ أَمْرَهُم بَيْنَهُمْ كُلٌّ إِلَيْنَا رَٰجِعُونَ ﴿٩٣﴾ فَمَن يَعْمَلْ مِنَ
ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَا كُفْرَانَ لِسَعْيِهِۦ وَإِنَّا لَهُۥ كَٰتِبُونَ ﴿٩٤﴾ وَحَرَٰمٌ عَلَىٰ قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَٰهَآ أَنَّهُمْ لَا

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

يَرْجِعُونَ ﴿٩٥﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا فُتِحَتْ يَأْجُوجُ وَمَأْجُوجُ وَهُم مِّن كُلِّ حَدَبٍ يَنسِلُونَ ﴿٩٦﴾ وَٱقْتَرَبَ ٱلْوَعْدُ
ٱلْحَقُّ فَإِذَا هِىَ شَٰخِصَةٌ أَبْصَٰرُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ يَٰوَيْلَنَا قَدْ كُنَّا فِى غَفْلَةٍ مِّنْ هَٰذَا بَلْ كُنَّا ظَٰلِمِينَ ﴿٩٧﴾
إِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ أَنتُمْ لَهَا وَٰرِدُونَ ﴿٩٨﴾ لَوْ كَانَ هَٰٓؤُلَآءِ ءَالِهَةً مَّا
وَرَدُوهَا ۖ وَكُلٌّ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٩٩﴾ لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ وَهُمْ فِيهَا لَا يَسْمَعُونَ ﴿١٠٠﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ سَبَقَتْ لَهُم مِّنَّا
ٱلْحُسْنَىٰٓ أُو۟لَٰٓئِكَ عَنْهَا مُبْعَدُونَ ﴿١٠١﴾ لَا يَسْمَعُونَ حَسِيسَهَا ۖ وَهُمْ فِى مَا ٱشْتَهَتْ أَنفُسُهُمْ خَٰلِدُونَ ﴿١٠٢﴾ لَا
يَحْزُنُهُمُ ٱلْفَزَعُ ٱلْأَكْبَرُ وَتَتَلَقَّىٰهُمُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ هَٰذَا يَوْمُكُمُ ٱلَّذِى كُنتُمْ تُوعَدُونَ ﴿١٠٣﴾ يَوْمَ نَطْوِى
ٱلسَّمَآءَ كَطَىِّ ٱلسِّجِلِّ لِلْكُتُبِ ۚ كَمَا بَدَأْنَآ أَوَّلَ خَلْقٍ نُّعِيدُهُۥ ۚ وَعْدًا عَلَيْنَآ ۚ إِنَّا كُنَّا فَٰعِلِينَ ﴿١٠٤﴾ وَلَقَدْ
كَتَبْنَا فِى ٱلزَّبُورِ مِنۢ بَعْدِ ٱلذِّكْرِ أَنَّ ٱلْأَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِىَ ٱلصَّٰلِحُونَ ﴿١٠٥﴾ إِنَّ فِى هَٰذَا لَبَلَٰغًا لِّقَوْمٍ
عَٰبِدِينَ ﴿١٠٦﴾ وَمَآ أَرْسَلْنَٰكَ إِلَّا رَحْمَةً لِّلْعَٰلَمِينَ ﴿١٠٧﴾ قُلْ إِنَّمَا يُوحَىٰٓ إِلَىَّ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ ۖ
فَهَلْ أَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴿١٠٨﴾ فَإِن تَوَلَّوْا۟ فَقُلْ ءَاذَنتُكُمْ عَلَىٰ سَوَآءٍ ۖ وَإِنْ أَدْرِىٓ أَقَرِيبٌ أَم بَعِيدٌ مَّا تُوعَدُونَ ﴿١٠٩﴾
إِنَّهُۥ يَعْلَمُ ٱلْجَهْرَ مِنَ ٱلْقَوْلِ وَيَعْلَمُ مَا تَكْتُمُونَ ﴿١١٠﴾ وَإِنْ أَدْرِى لَعَلَّهُۥ فِتْنَةٌ لَّكُمْ وَمَتَٰعٌ إِلَىٰ حِينٍ ﴿١١١﴾ قَٰلَ
رَبِّ ٱحْكُم بِٱلْحَقِّ ۗ وَرَبُّنَا ٱلرَّحْمَٰنُ ٱلْمُسْتَعَانُ عَلَىٰ مَا تَصِفُونَ ﴿١١٢﴾ ﴾ الأنبياء: ۸۳ - ۱۱۲

مناسبت اوتړاو:

کله چې الله تعالی یوه ټولی نبیان لکه: ابراهیم ، نوح ، لوط ، داؤد اوسلیمان علیهم السلام یاد کړل اوددوی ډېروته ازموینښتونه ورکړل شوی وونودلته یې دایوب علیه السلام کیسه چې په ډول ډول محنتونواوکړاوونو ډکه وه یاده کړه ورپسې یې دیونس ، زکریااوعیسی علیهم السلام دتکلیفونو زحمتونو یادونه وکړه اوداټول درسول الله صلی الله علیه وسلم دډاډیني اوتسلیت لپاره ترڅوپه هغوی پسې اقتداء وکړي.

لغتونه:

(ذاالنون) دیونس علیه السلام لقب دی او(نون) ماهي ته وای ځکه چې هغه علیه السلام ماهي تېر کړی وو(احصنت) احصان (عفت) اوپاک لمني ته وایې (رغبًاورهبًا) هیله اووېره (کفران) انکار اوجحودته وایې اصل یې له کفرڅخه اخیستل شوی چې پټولوته وایې اوکافرهم دالله نعمتونه پټوي او ورڅخه انکارکوي (حدب) لوړي ځمکې ته ویل کېږي له (حدبة الظهر) یعني ختلي ملاڅخه یې اخیستی (ینسلون) په منډه تلونکی ویل کېږي (نسل الذئب) کله چې چسپانده روان وي (حصب) داور ازوغه (زفیر) چیغې اوسخت اسوېلی (حسیسها) وړکوتی غږ، احساس اوخوځښت (السجل) پاڼه ځکه په هغې مطلوب لیکل کېږي

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

دنزول سبب:

عبدالله ابن عباس رضی الله عنهما وايي چي کله دالله جل جلاله داقول نازل شوچي ﴿ إِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ ﴾ نودغه په قريشي کفارو ډېره سخته تمامه شوه اوويې ويل چي زموږ بُتان يې وبنکنځل نو(ابن الزبعري) ته راغلل داکيسه يې ورته تېره کړه هغه ويل: که زه وای مابه خواب ورکړی وو دوی ځني وپوښتل تابه څه ورته ويل؟ ! هغه ويل: مابه ورته ويلي وای همدغه مسيح دی چي نصارا يې عبادت کوي اوهمداعُزَيردی چي يهوديې عبادت کوي نوآيادوی دواړه به هم داورشومه وي؟ قريشوته دغي خبري خوند ورکړ اوداسي يې وانګېرله چي ګواکي دمحمدخواب وشونوالله دغه آيت نازل کړ: ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ سَبَقَتْ لَهُم مِّنَّا ٱلْحُسْنَىٰٓ أُوْلَٰٓئِكَ عَنْهَا مُبْعَدُونَ ﴾ (١)

تفسير:

﴿ وَأَيُّوبَ إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُۥٓ أَنِّى مَسَّنِىَ ٱلضُّرُّ ﴾ او(يادکړه ای محمده کيسه د) ايوب کله چي خپل رب ته يې غږکړ(په عاجزي اوخشوع سره) چي بېشکه ماته رنځ رسېدلی دی؛ مفسرين کرام وايې: حضرت ايوب عليه السلام په روم کي پيغمبروو هغه ډېرمالونه اولادونه درلودل نومال يې له مينځه لاړهغه صبروکړبيايې اولادونه هلاک شول همده صبر وکړ بيايې رنځ اوبلاپه بدن مسلط شول هغه صبروکړنو دده دقوم يوټولی په ده باندي راغلل ويل يې: ده ته دغه کړاوونه دکومي ستري ګناه په کولوسره ورکول شوي دي نوپدې وخت کي الله ته په ژړااو زاري شوخويې الله کړاوونه تېرکړل ﴿ وَأَنتَ أَرْحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ ﴾ اوته ډېرمهربان يې له ټولومهربانانوڅخه (په ماورحمېږه ! هغه صراحتًادعاوي ونه فرمايلې لکن خپل ځان يې په عجزاوکمزوري سره وستايواودالله يې په بې ساري رحمت اومهرباني صفت وکړاوپدې کي خوراتلطف شته کوم چي په صراحتًا دعاکي نه ترسترګو کېږي ﴿ فَٱسْتَجَبْنَا لَهُۥ فَكَشَفْنَا مَا بِهِۦ مِن ضُرٍّ ﴾ پس قبوله کړه موږ دعادده پس ليري کړه موږهغه چي ووپه ده باندي له (بدني اومالي) ضرره (اوابتلاء) ﴿ وَءَاتَيْنَٰهُ أَهْلَهُۥ وَمِثْلَهُم مَّعَهُمْ ﴾ (او ورکړوموږدغه (ايوب) ته اهل دده اوپه مثل دهغوی له هغوی سره) ابن مسعودرضی الله عنه وايې چي دهغه اولادونه چي اوه زامن او اوه لوني وې ټول مړه شول اوکله چي هغه بيرته روغ شونوهغه ګرداژوندي شول اوهمداسي اوه زامن اوه لوني يې نوري له مېرمني څخه وزېږېدل (٢) ﴿ رَحْمَةً مِّنْ عِندِنَا ﴾ (په رحمت سره زموږله نزده) يعني له جهته زموږدرحمته پرده باندي ﴿ وَذِكْرَىٰ لِلْعَٰبِدِينَ ﴾ اونصيحت لپاره دعبادت کونکو(ترڅوچي صبروکړي لکه چي ايوب (عليه السلام) صبرکړی وو؛ قرطبي وايې: معناداچي يادونه اوتذکيردی لپاره دبندګانوڅکه کله چي دوی

---

(١) القرطبي ١١ / ٣٢٧

(٢) دغه اثرچي له ابن مسعودنه راغلی پکي سوال پيداکېږي څکه چي له دنيانه دلېږدېدلوڅخه وروسته بياکله هم څوک بيرته نه راژوندی کېږي پرته دحضرت عيسی (عليه السلام) له معجزاتونه اوصحيح سمه خبره داده چي الله يې له مېرمني څخه همدومره چي مړه شوي وونور اولادونه ورکړل.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

دایوب (علیه السلام) ازمویینبت اوصبر ورپه یادکړي نوبه په مصیبتونواوکړاوونوباندي لکه حضرت ایوب صبرکوي هغه دخپلي زمانې ترټولو غوره او بهتر شخصیت وو(١) روایت کېږي چي حضرت ایوب (علیه السلام) په ازمویینبت کي اتلس کاله تېرکړل نویوه ورځ یې مېرمني ورته وویل: کاشکي دي الله ته دروغتیادُعاکړي وای نوده په ځواب کي ورته وویل: چي موږځوکاله روغ رمټ هوساژوندکړی دی؟ هغې ورته وویل: اتیاکاله نوده ورته زیاته کړه چي زه له الله څخه شرمېږم چي دُعااوزاري ورته وکړم ځکه ازمویینبت مې هغې مودې ته لانه دی رسېدلی کوم چي په سوکالي اوروغتیاکي مي تېره کړي ده(٢)﴿ وَإِسْمَٰعِيلَ وَإِدْرِيسَ وَذَا ٱلْكِفْلِ كُلٌّ مِّنَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴾ او(یادکړه ای محمده اکیسه د) اسماعیل اسماعیل اوادریس اوذاالکفل دغه ټول دي له صبر کونکوڅخه (محسنین دي له کړاوونواومصیبتونو سره یې جهادکړی اوصبریې خپل کړی دی) ﴿ وَأَدْخَلْنَٰهُمْ فِى رَحْمَتِنَآ ﴾ اوداخل کړي وومو ږدی په خپل رحمت (جنت) کي په سبب دصبراو صلاحیت ددوی چي درحمت اونعمت کورجنت مو ورکړ﴿ إِنَّهُم مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴾بېشکه چي دوی له صالحانو (فاضلانو) څخه وو ﴿ وَذَا ٱلنُّونِ إِذ ذَّهَبَ مُغَٰضِبًا ﴾ او(یادکړه ای محمده(کیسه د) خاوند دماهي کله چي ولاړ حال داچي په قهروو (په خپل قوم چي هغوی ایمان نه راوړ او حضرت یونس علیه السلام خفه شواو ځني ووت ځکه الله بل ځای فرمایې: ﴿ وَلَا تَكُن كَصَاحِبِ ٱلْحُوتِ ﴾ اودغه ویناسمه نه ده چي څوک وایې: هغه په خپل پرودرګار باندي په قهر وو ابوحیان وایې چي: څوک وایې هغه خپل پرودرګارته په قهروو دغه ویناباید ونه منل شي ځکه چي دنبوت له منصب سره نه ښایي (٣) امام رازي وایې چي: داروا نه ده چي قهرالله لوري ته راجع شي ځکه دادهغه چاصفت دی چي په دې نه پوهېږي چي الله تعالی دامر اونهی مالک اوخاونددی اوهغه چي همداسي جاهل وي مؤمن نشي کېدای څه خوداچي نبي جوړشي اودده قهرپه خپل قوم باندي دالله جل جلاله لپاره ووځکه چي دوی دالله دین نه مانواوحضرت یونس (علیه السلام) دوی ته په کفرباندي په قهروو(٤)﴿ فَظَنَّ أَن لَّن نَّقْدِرَ عَلَيْهِ ﴾ پس ګمان یې وکړچي موږله سره به تنګي نه راولوپه ده باندي دعذاب؛ لکه چي بل ځای هم راغلي ﴿ وَمَن قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهُۥ ﴾ یعني پرچاچي تنګسیاراوستل شي دروزي دده دغه له قدرڅخه اخیستل شوي کلمه ده له قدرت څخه نه ده اخیستل شوي. امام رازي وایې څوک چي دالله دعجز ګمان کوي هغه کافرکېږي اوپدې کي شک نشته چي داسي نسبت کول هیڅ مؤمن ته نه ښایي اونه هم روادی نوڅرنګه به یې انبیاووعلیهم السلام ته نسبت کول رواشي؟ روایت کېږي چي عبدالله بن عباس یو وخت معاویه رضی الله عنه ته راغی هغه ورته ویل چي زه برایي (بېګاه) دقرآنکریم څپواخیستی وم او داسي یې ډوب کړم چي دژغورلولاره مي نشوای موندلای تاته مي انتظارکاووچي

---

(١) القرطبي ١١/ ٣٢٧
(٢) النسفي ٣/ ٨٧
(٣) البحر ٦/ ٣٣٥
(٤) الفخرالرازي ٢٢/ ٢١٥

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

ومي ژغوري ابن عباس رضی الله عنه ورته ویل: هغه څه دي؟ معاویه رضی الله عنه ورته وویل: چي دالله پیمغبریونس علیه السلام داسي ګمان کوی چي الله ورباندي قادرنه دی؟ نوابن عباس رضی الله عنه په ځواب کي ورته وویل: چي دغه کلمه له قدرڅخه ده اوله قدرت څخه نه ده مشتق شوي (۱) ﴿ فَنَادَىٰ فِي ٱلظُّلُمَٰتِ ﴾ پس غږ یې وکړپه تیاروکي) یعني الله ته یې ناري کړې دشپې په تیاره کي کله چي دماهي په ګېډه کي وو. ابن عباس رضی الله عنه وایې دا درې تاریکې وې یوه دشپې ،بله دسمندراوبله دماهي دګېډي ﴿ أَن لَّآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنتَ سُبْحَٰنَكَ إِنِّي كُنتُ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ (داسي) چي نشته بل برحق معبودمګرته یې (یوازي) پاکي ده تالره (له عیبونو) بېشکه زه وم له ظلم کونکوڅخه (په نفس خپل اواوس زه له توبه ګارانوڅخه اوپه خپلو کړو پښېمانه یم له ماڅخه دغه محنت لیري کړه ! په حدیث شریف کي راځي چي هرڅوک چي په کوم مشکل اخته وي په دې دُعاکولوسره به یې الله بلنه ومني (۲) ﴿ فَٱسْتَجَبْنَا لَهُۥ وَنَجَّيْنَٰهُ مِنَ ٱلْغَمِّ ﴾ پس قبوله کړه موږدعاددغه (یونس) اونجات موورکړدغه (یونس) ته له غمه (تکلیف اومحنت دماهي دګېډي اوسیندڅخه) ﴿ وَكَذَٰلِكَ نُـۨجِي ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ اوهم داسي (لکه یونس ته) نجات ورکوو مؤمنانو ته کله چي موږته استغاثه وکړي دکړارونواومصیبتونوپه وخت کي ﴿ وَزَكَرِيَّآ إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُۥ رَبِّ لَا تَذَرْنِي فَرْدًا وَأَنتَ خَيْرُ ٱلْوَٰرِثِينَ ﴾ او(یادکړه ای محمده کیسه د) زکریاکله چي یې غږ وکړرب خپل ته (داسي چي) ای زماربه مایوازي مه پرېږده (بې اولاده) اوته له ګرده وارثانوڅخه غوره یې. ابن عباس رضی الله عنه وایې چي دده عمرداوخت سل کاله وواودمېرمني عمریې نه نوي کاله وو. الوسي وایې چي په دې جمله کي چي ﴿ وَأَنتَ خَيْرُ ٱلْوَٰرِثِينَ ﴾ ده دالله تعالی مدح په بقاسره شوي ده اوداچي له الله نه پرته نورګردمخلوقات فنا موندونکي دي نودالله درحمت دباران یې غوښتنه کړي (۳) ﴿ فَٱسْتَجَبْنَا لَهُۥ وَوَهَبْنَا لَهُۥ يَحْيَىٰ ﴾ پس قبوله کړه موږدعاددغه (زکریا) اوموبانبه دغه (زکریا) ته یحیی (په سپین ږېرتوب کي) ﴿ وَأَصْلَحْنَا لَهُۥ زَوْجَهُۥٓ ﴾ اوصالحه موکړه ده ته ښځه دده (چي داولادراوړلوقابل شوه اوپخواشنده وه) ابن عباس رضی الله عنه وایې چي بدخویه اودتېرې ژبي خاونده وه اوبیاالله نېکخویه وګرزوله (۴) ﴿ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ يُسَٰرِعُونَ فِي ٱلْخَيْرَٰتِ ﴾ بېشکه دغه مذکور(انبیاء) وودوی چي تلواربه یې کاوو(په طلب)دنېکواعمالو(اوطلب)دخیراتونو ﴿ وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا وَرَهَبًا ﴾ اوبللوبه یې موږله جهته دمیني (دثواب) اووېري (دعذاب) ﴿ وَكَانُوا۟ لَنَا خَٰشِعِينَ ﴾ اووو دوی خاص موږته متواضع (وېرېدونکي

---

(۱) ۲۱۷ نفس المرجع تفسیرکبیر.
(۲) دحدیث اصل په سنن ابوداوزدکي دی.
(۳) روح المعاني.
(۴) لومړی قول دقتاده ، سعیدابن جبیراوزیاتره مفسرینودی القرطبي ۱۱/ ۳۳۶

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

په پټه اوښکاره) ﴿ وَٱلَّتِيٓ أَحۡصَنَتۡ فَرۡجَهَا ﴾ او (یادکړه ای محمده کیسه دهغې نجلۍ مریمي) چې پاک ساتلی وواندام خپل (له زنااوحلال حرام څخه) لکه چې حکایت یې الله فرمایې ﴿ وَلَمۡ يَمۡسَسۡنِي بَشَرٞ وَلَمۡ أَكُ بَغِيّٗا ﴾ (مریم ۲۰) ابن کثیروایې چې د حضرت مریمي اودهغې دزوی عیسی(علیه السلام) کیسه یې دزکریا(علیه السلام) اودهغه دزوی یحیی (علیه السلام) له کیسې سره نژدې څکه راوړه چې هلته دیوماشوم زېږېدل له بوډاپلاراوسپین سري بوډۍ مېرمني څخه هغه چې په ځواني کي هم داولاد زېږېدلوجوګه نه وه کیسه وه اوترهغه لازیاته عجیبه داچې له دوی نه وروسته راوړه (۱) ﴿ فَنَفَخۡنَا فِيهَا مِن رُّوحِنَا ﴾ پس پوکړ موږپه ګرېوان (کمیس د) هغې کي له روحه خپله (نویې دحضرت عیسی امیدوموندروح نسبت الله تعالی ته دتشریف اوتعظیم له مخي دی) ﴿ وَجَعَلۡنَٰهَا وَٱبۡنَهَآ ءَايَةٗ لِّلۡعَٰلَمِينَ ﴾ او وموګرزوله دغه (مریمه) اوزوی ددې (عیسی) دلیل د (کامل قدرت خپل) لپاره دخلکو(چې ورڅخه عبرت واخلي) ﴿ إِنَّ هَٰذِهِۦٓ أُمَّتُكُمۡ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ ﴾ (په تحقیق داملت (د توحیدملت اوداسلام دین)ستاسي یوملت دی) اوټول انبیاء دتوحیدپه رسالت باندي راغلي دي. (۲) ﴿ وَأَنَا۠ رَبُّكُمۡ فَٱعۡبُدُونِ ﴾اوزه رب ستاسي یم پس زماعبادت کوئ (خاص نه دبل چا) ﴿ وَتَقَطَّعُوٓاْ أَمۡرَهُم بَيۡنَهُمۡۖ ﴾اوټوټې ټوټې کړ (دغوپخوانیوأمتونو) کارد(دین) دوی پخپل مینځ کي (ځیني موحدین ځیني یهودیان، ځیني مجوس اوځیني نصرانیان شول) ﴿ كُلٌّ إِلَيۡنَا رَٰجِعُونَ ﴾ ټولي فرقې موږته راتلونکي دي (او موږبه حساب ورسره کوو. امام رازي رحمه الله وایې چې: ددې معناداچې دوی دخپل دین چاره پخپل مینځ کي ټوټې ټوټې کړه لکه چې یوڅوک کوم شی دوېشلو او وندې کولولپاره جلاجلاکړي دغه ددوی ددیني اختلافاتوتمثیل دی چې په مختلفو ګوندونووېشل شوي دي(۳) ﴿ فَمَن يَعۡمَلۡ مِنَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ ﴾ پس هرڅوک چې له نېکو (کارونو) څخه عمل وکړي حال داچې دی مؤمن وي ﴿ فَلَا كُفۡرَانَ لِسَعۡيِهِۦ ﴾ نونشته بې قدري د کوښښ دده (یعني دعمل ثواب یې نه ضائع کېږي) ﴿ وَإِنَّا لَهُۥ كَٰتِبُونَ ﴾ اوبېشکه موږدغه (دده کوښښ لره) لیکونکي یو؛ یعني دده په اعمالنامه کي یې لیکواومقصدپرښتوته امرکول دي چې دخلکواعمال ولیکي ﴿ وَحَرَٰمٌ عَلَىٰ قَرۡيَةٍ أَهۡلَكۡنَٰهَآ أَنَّهُمۡ لَا يَرۡجِعُونَ ﴾ اوحرام دی پراهل دهرکلي چې موږدوی لره هلاک کړي دي (داکار)چې بېشکه دوی به نه راځي بیرته (دوهم ځلي) دابن عباس رضی الله عنه په بل روایت کي راځي چې

---

(۱) المختصر۲/ ۵۲۰

(۲) پخوانی مرجع.

(۳) تفسیرالرازي۲۲/ ۳۱۹

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

معناداچي دوی به دتوبې لپاره بیانه راځي لومړی یې دابن کثیرپه ویناغوره کړی شوی دی اوپه البحرکي وایې چي: معنایې داده حرام اومنع کړی شوی په هغه قوم چي موږیې دهلاکت حکم کړی چي دوی به په دنیاکي ایمان ته رجوع وکړي ترڅو چي قیامت راځي اوکله چي قیامت راشي بیابه رجوع کوي (١)﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا فُتِحَتْ يَأْجُوجُ وَمَأْجُوجُ ﴾ ترهغه پوري چي کله پرانستلی شي (دیوال د) یاجوج اوماجوج ﴿ وَهُم مِّن كُلِّ حَدَبٍ يَنسِلُونَ ﴾ (اودوی به له هري لوړي (اوچتي) څخه ګرندي را کوزېږي) اومقصد داچي دوی به دډېروالي له کبله له هرلوري اولاري څخه په مځکه کي دفساد خپرولولپاره رادرومي ﴿ وَٱقْتَرَبَ ٱلْوَعْدُ ٱلْحَقُّ ﴾ اونژدې شوه وعده حقه (قیامت) راتلل له یاجوج او ماجوج راتلووروسته داسي مثال ولري لکه هغه حامله چي دزېږېدلووخت یې نژدې شوی وي اوخپلوال یې انتظارکوي چي کومه شېبه به یې اولاد زېږي په شپه او که په ورځ کي(٢)﴿ فَإِذَا هِىَ شَٰخِصَةٌ أَبْصَٰرُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ﴾ پس ناڅاپه کیسه داده چي تیغي به وتلي پاتي وي سترګي دهغو کسانو چي کافران شوي دي (له هیبته ددغي ورځي له حیرانتیابه یوبل لوري ته نه ګرزي) ﴿ يَٰوَيْلَنَا قَدْ كُنَّا فِى غَفْلَةٍ مِّنْ هَٰذَا ﴾ (اووایې به) ای زموږهلاکه (راحاضرشه دادي وخت دی) په تحقیق موږپه غفلت کي ووله دغي ورځي (اودغه نیمه خوابرخه لیک څخه) ﴿ بَلْ كُنَّا ظَٰلِمِينَ ﴾ بلکه وو موږ ظالمان (پخپل ځان په کفرکولوسره) دلته دوی له لومړۍ ویناڅخه انتقال وکړاوپه دغه ترخه حقیقت یې اعتراف وکړچي موږپخپله ظالمان ووانبیاوومونږ وېرولوخومونږایمان نه راوړو ﴿ إِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ ﴾ بېشکه تاسي (ای مشرکانو) اوهغه (بُتان ، شیطانان) چي تاسي ددوی بې له الله عبادت کوی ﴿ حَصَبُ جَهَنَّمَ ﴾ خس، خاشاک ددوزخ یاست. ابوحیان وایې: حصب هغه څه ته ویل کېږي چي اورته وراچول کېږي اوتراچولودمخه حصب نه ورته وایې مګرپه مجازي توګه ورته وویل شي ﴿ أَنتُمْ لَهَا وَٰرِدُونَ ﴾ تاسي له دې معبودانوسره دې دوزخ ته ننوتونکي یاست) اوداچي الله تعالی کفارد دوی له باطلومعبودانوسره یوځای په اورکي واچول ترڅوددوی غم اوحسرت یوپه دوه شي څکه دوی به خپل معبودان هم په دوزخ کي ویني ﴿ لَوْ كَانَ هَٰٓؤُلَآءِ ءَالِهَةً مَّا وَرَدُوهَا ﴾ که چېري دغه (بُتان په رښتیا سره) معبودان وای نوبه نه وداخل شوي په دې دوزخ کي ﴿ وَكُلٌّ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴾ اوداټول به پدې دوزخ کي تل پراته وي (یعني دغه عابدین اومعبودین به ټول په دوزخ کي وي) ﴿ لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ وَهُمْ فِيهَا لَا يَسْمَعُونَ ﴾ (وي به دغو (عابدانو)ته په (دوزخ) کي چیغي سورې اودوی به په دې (دوزخ) کي

---

(١) البحر٦/٣٣٨

(٢) زادالمسیر٥/٣٨٩

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

نه اوري) يعني (دغه كفاروبه په دوزخ كي داسي زګېروى وي لكه چي د غمجن او پرهار ژلي وي اوهلته به دوى هيڅ هم نه اوري ځكه چي كانه به راپاڅي لكه چي الله فرمايي ﴿ وَنَحْشُرُهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَىٰ وُجُوهِهِمْ عُمْيًا وَبُكْمًا وَصُمًّا ﴾ قرطبي وايي چي دغه ونو په اوربدلو كي څه روح اوالفت وي الله پاک دوزخيان له دغه څخه محروم كړي دي(١) ابن مسعود رضى الله عنه وايي كله چي تل ترتله پاتي كېدونكي دوزخيان پسه اور كي پاتي شي نو الله جل جلاله يې داورپه تابوتونو كي بند كړي چي داور مېخونه ورباندي وهل شوي وي اوهلته هيڅ هم نه اوري اونه هيڅوک ويني چي له ده پرته به هغه ته هم عذاب وركولى شي بيايې دغه تېرآيت تلاوت كړ(٢)﴿ إِنَّ الَّذِينَ سَبَقَتْ لَهُم مِّنَّا الْحُسْنَىٰ ﴾ بېشكه هغه كسان چي رومبى شوي ده دوى ته له (جانبه) زموږ نېكه مرتبه (نېكمرغي) ﴿ أُولَٰئِكَ عَنْهَا مُبْعَدُونَ ﴾ (دغه كسان به له دې دوزخ څخه ليري كړى شوي وي) نه به يې داورګرمي سوځوي اونه به معذب كېږي. ابن عباس رضى الله عنه وايي چي: دغه اولياء الله دي چي په پل صراط به تربرېښنا لاګرندي تېرېږي اوكفاربه پرمخي په دوزخ كي لوېږي(٣)﴿ لَا يَسْمَعُونَ حَسِيسَهَا ﴾ نه به اوري دغه (جنتيان) غږ د(لمبود) دوزخ (اوحركت يې) ﴿ وَهُمْ فِي مَا اشْتَهَتْ أَنفُسُهُمْ خَالِدُونَ ﴾ اودوى به تل په هغونعمتونوكي وي چى ددوى نفسونه يې غواړي (او سترګي يې ورباندي خونداخلي) ﴿ لَا يَحْزُنُهُمُ الْفَزَعُ الْأَكْبَرُ ﴾ نه به غمجن كوي دوى وېره لويه (د قيامت دورځي هيبت اوبيرته راپاڅېدل ځكه چي دوى به ځني بېغمه وي) ﴿ وَتَتَلَقَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ ﴾ اوملاقات به كوي له دوى سره پرښتې (دجنت په دروازو كي ورته به مباركي وركوي اووايي به) ﴿ هَٰذَا يَوْمُكُمُ الَّذِي كُنتُمْ تُوعَدُونَ ﴾ داورځ د(ثواب د) ستاسي ده هغه چى وى تاسي چي وعده در سره كړى شوي وه (په دنياكي نوخوښ خوشحاله اوسئ) ﴿ يَوْمَ نَطْوِي السَّمَاءَ كَطَيِّ السِّجِلِّ لِلْكُتُبِ ﴾ ياد كړه (اى محمده!) هغه ورځ چي راونغاړو آسمان لكه نغښتل دسند لپاره د ليكل شويو (كاغذونو) ابن عباس رضى الله عنه وايي: معنادالكه څرنګه چي پانه په مافيها باندي رانغښتل شوي وي (لام) د(في) په معنادى ﴿ كَمَا بَدَأْنَا أَوَّلَ خَلْقٍ نُّعِيدُهُ ﴾ لكه چي ابتداء كړى وو موږ اول پيدا ايښت بيايې اعاده كوو. په حديث شريف كي راځي چي: تاسوبه الله ته لوڅ، لغړاييلي پښې او غيرمختون (ناسنته) راپاڅېږى ﴿ كَمَا بَدَأْنَا أَوَّلَ خَلْقٍ نُّعِيدُهُ ﴾ اولومړنى څوک چي هغه به په جاموپوښل كېږي حضرت ابراهيم عليه السلام به وي(٤)﴿ وَعْدًا عَلَيْنَا ﴾ (وعده ده په موږ) يعني تېينګه وعده ده چي

---

(١) القرطبي ١١/ ٣٤٥

(٢) نفس المرجع.

(٣) مختصر [illegible]

(٤) رواه مسلم عن ابن عباس

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

مخالفت اوتبديل پکي نشته په موږباندي يې ترسره کول اووفالازم ده ﴿ إِنَّا كُنَّا فَٰعِلِينَ ﴾ بېشکه موږ کونکي يو(يعني ورباندي قادريودغه دبعث اوپاڅولوتاکيددی ﴿ وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي ٱلزَّبُورِ مِنۢ بَعْدِ ٱلذِّكْرِ ﴾اوخامخاپه تحقيق ليکلي دی موږپه زبورکي وروسته له نصيحته (هغه چي په لوح محفوظ کي مو ازلي کښلي وو) ﴿ أَنَّ ٱلْأَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِيَ ٱلصَّٰلِحُونَ ﴾ داچي بېشکه ددې ځمکي به زما نېکان بندګان مالکان کېږي (اوپه ميراث به يې وړي يعني جنت به صالحانومؤمنانوته رسېږي ابن کثيروايې چي الله تعالی په تورات، زبوراوپخواني علم سره چي د آسمانونو اوځمکي تر پيدايښت لا پخواوواخبارکړي چي محمدي اُمت ته به ځمکه په ميراث رسېږي اوالله به يې جنت ته داخلوي په داسي حال کي چي دوی به نېکان وي(١) اوقرطبي وايې چي تر ټولو غوره ويناپدې هکله داشوي چي له ځمکي څخه دجنت ځمکه واخيستل شي ځکه په دنياکي ځمکه صالحانواو طالحانودواړوته رسېدلي وي اودغه ويناداابن عباس اومجاهددی اودالله داقول هم ورباندي دلالت کوي چي: ﴿ وَقَالُوا۟ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي صَدَقَنَا وَعْدَهُۥ وَأَوْرَثَنَا ٱلْأَرْضَ ﴾ (الزمر ٧٤) او اکثر مفسرين کرام په دي هکله وايې چي مرادله صالح بندګانوڅخه محمدي اُمت دی (٢) مجاهدوايې چي مراد له زبورڅخه نازل شوي کتابونه دي اومرادله ذکرنه اُم الکتاب په نزددالله دی (٣) ﴿ إِنَّ فِي هَٰذَا لَبَلَٰغًا لِّقَوْمٍ عَٰبِدِينَ ﴾ (بېشکه پدې (تېريبيان) کي خامخا (سبب د) وصول دمطلب دي لپاره د قوم عبادت کونکو) يعنی پدې سورت کي چي کوم اخبار، وعداووعيداونصيحتونه تېرشوي دغه د هغه خشوع کونکي غاړه ايښودونکي قوم لپاره کافي دي اودالله جل جلاله دطاعت لپاره دشيطان تر طاعت ښه اغيزمن دی) ﴿ وَمَآ أَرْسَلْنَٰكَ إِلَّا رَحْمَةً لِّلْعَٰلَمِينَ ﴾ اوموږته نه يې لېږلی (ای محمده!) مګر رحمت دپاره د(ټولو) عالميانو په حديث شريف کي راځي: (انماأنارحمة مهداة فمن قبل هذه الرحمة وشکرهذه النعمة سعد فی الدنياوالآخرة (٤) بېشکه همداخبره ده چي زه دالله له لوري پېرزو شوی رحمت يم چاچي دغه رحمت ومانواوددغه نعمت شکريې پرځای کړپه په دنيا اوآخرت کي نېکمرغه شو ﴿ قُلْ إِنَّمَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ ﴾ ووايه (ای محمده! کفاروته) بېشکه خبره همداده چي ماته وحی کولی شي داسي چي بېشکه داخبره ده چي

---

(١) مختصرابن کثير٢ / ٥٢٤

(٢) القرطبي١١ / ٣٤٩

(٣) ابن جريراوطبري همداسي ويلي .

(٤) الله جل جلاله هسي ندي فرمايلي چي ﴿ وَرَحْمَةً لِّلْمُؤْمِنِينَ ﴾ بلکه (ورحمة للعلمين) يې فرمايلي ځکه الله په ټولو بندګانو باندي دمحمد (ص) په رالېږلودرحمت پېرزوينه کړي ده چي ټول بشريت ته يې نېکمرغي راوړي له ستري بدمرغي څخه يې ژغورلي اودده په لاس يې دنياوي اواخروي نعمتونه ليدلي دي هغوی يې له جهالته وروسته پوهولي له ګمراهي څخه يې سمي لاري ته راړولی آن تردې چي دکافرانولپاره هم رحمت ووچي ددوی عذاب يې ځنډولی اويومخه ايزه يې هلاک کړي نه دي چي مسخ شي اويايې ځمکه ننې باسي اويا په سيندکي ډوب شي.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

ستاسي الله يودی (فرد اوصمددی) ﴿ فَهَلْ أَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴾ آیاپس یی تاسي اسلام راوړونکي؛ دغه استفهام اومعنايې امردی يعني اسلام راوړئ اوالله حکم ته غاړه کښېږدئ ﴿ فَإِن تَوَلَّوْا ﴾ پس که وګرزېدل دوی (له اسلامه) ﴿ فَقُلْ ءَاذَنتُكُمْ عَلَىٰ سَوَآءٍ ﴾ نوووايه(ای محمده!) چي زه تاسي خبروم په (ماموربه) په برابري سره (ديوبل توپيرنکوم چي يوخبروم بل نه خبروم ﴿ وَإِنْ أَدْرِيٓ أَقَرِيبٌ أَم بَعِيدٌ مَّا تُوعَدُونَ ﴾ اوزه نه پوهېږم چي آيانژدې دي ، که ليري دي هغه څه چي تاسي سره وعده شوي ده (دعذاب اويا دقيامت خوخامخا راتلونکی دی) ﴿ إِنَّهُۥ يَعْلَمُ ٱلْجَهْرَ مِنَ ٱلْقَوْلِ وَيَعْلَمُ مَا تَكْتُمُونَ ﴾ (بېشکه چي دغه (الله) ته معلوم دی ښکاره له خبرواومعلوم دی (الله ته) هغه چي تاسي يې پټوی) يعني الله جل جلاله په ظواهرواوضمائروخبردی اوهرچاته به پخپلو کړو وړوبدله ورکوي ﴿ وَإِنْ أَدْرِي لَعَلَّهُۥ فِتْنَةٌ لَّكُمْ ﴾ اوزه نه پوهېږم ښايې چي دغه دعذاب تاخير تاسي لره ازموينه وي (ترڅو وګوری چي تاسي څه کوی) ﴿ وَمَتَٰعٌ إِلَىٰ حِينٍ ﴾ اونفع وي تريوه وخته (تاکلي) پوري بياتاسوته دردناک عذاب راځي ﴿ قَٰلَ رَبِّ ٱحْكُم بِٱلْحَقِّ ﴾ (وويل(رسول) ای زماربه حکم وکړه زموږپه مينځ کي په حقه سره) يعني زمااوددې مکذبينوترمينځ په حق فيصله صادره کړه ﴿ وَرَبُّنَا ٱلرَّحْمَٰنُ ٱلْمُسْتَعَانُ عَلَىٰ مَا تَصِفُونَ ﴾ اوزموږ رب ډېر مهربان دی مرسته ترې غوښتل شوي ده په هغوخبروچي تاسي يې بيانوی(له کفراوتکذيب څخه ,په پای دسورت کي رسول الله صلی الله عليه وسلم) ته امرشوی چي خپلي چاري الله ته وسپاري اودهغه له لوري دخلاصون اومرستي سترګي په لاراوسي هغه نعم الناصراونعم المعين دی.

بلاغت:

پدې آيتونوکي کي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته لنډيزيې دادی:

١ - دتلطف په توګه درحمت غوښتل چي ﴿ وَأَنتَ أَرْحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ ﴾ اوهسي يې ونه ويل چي(ارحمني).

٢-اشتقاقي جناس لکه ﴿ أَرْحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ ﴾ .

٣ ناقص جناس ﴿ ٱلصَّٰبِرِينَ.... ٱلصَّٰلِحِينَ ﴾ ..

٤-دطباق صنعت د ﴿ رَغَبًا وَرَهَبًا ﴾ او ﴿ بَدَأْنَآ ....نُّعِيدُهُۥ ﴾ او ﴿ أَقَرِيبٌ أَم بَعِيدٌ ﴾ ترمينځ.

٥ - تشريف لکه ﴿ فَنَفَخْنَا فِيهَا مِن رُّوحِنَا ﴾ دروح نسبت الله ته دتشريف لپاره دی لکه ﴿ نَاقَةَ ٱللَّهِ ﴾

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

۶- تمثیلي استعاره چي فرمايي ﴿ وَتَقَطَّعُوٓاْ أَمۡرَهُم بَيۡنَهُمۡۖ ﴾ ددوی ديني اختلاف اوخانخاني بې له ګوندونوسره چي وېش کوي چي داددغي پارتۍ اوداددغي پارتۍ لپاره دی مثال راووړاودغه لطيفه استعاره ده.

۷- ايجاز بالحذف لکه چي وايي: ﴿ يَٰوَيۡلَنَا ﴾ يعني اودوی به ويل: ياويلنااوهم داسي دغه قول چي ﴿ وَتَتَلَقَّىٰهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ هَٰذَا يَوۡمُكُمُ ﴾ يعني اووايي پرښتې ورته چي دغه ستاسي هغه ورځ ده چي درسره ژمنه شوي وه

۸- مرسله مفصله تشبيه لکه چي فرمايي ﴿ نَطۡوِي ٱلسَّمَآءَ كَطَيِّ ٱلسِّجِلِّ لِلۡكُتُبِۚ ﴾ يعني داسي نغښتل لکه چي پاڼه په هغو ليکلو باندي رانغښتل کېږي ۹- هغه استفهام چي مقصدورڅخه امروي لکه ﴿ فَهَلۡ أَنتُم مُّسۡلِمُونَ ﴾ يعني ايمان اواسلام راوړئ.

۱۰- دسجع صنعت لکه ﴿ فَٱعۡبُدُونِ ....رَٰجِعُونَ.... كَٰتِبُونَ ﴾ اوداهم له بديعي محسناتو څخه ګڼل کېږي.

دالله جل جلاله په مرسته دسورة الأنبيا تفسير بشپړ شو

***

د(الحج) سورت مدني اواته اويا آيتونه لري.

دسورت په وړاندي:

دالحج سورت مدني اودتشريع په هکله لکه نورمدني سورتونه چي دشريعت دچارو په باب لارښوونه کوي دده موخه هم دغسي ده که څه هم چي سورت مدني دی خودمکې سورتونوتراغيزلاندي دی ځکه چي دايمان اوتوحيدموضوع وېرونه اوانذار،بعث اوجزا اودقيامت دورځي هيبتونه اوکتني هغه څرګندتوکي دي چي په دې سورت کي رادبره کېږي آن تردې چي لوستونکي پدې خيال کي راولي چي دابه هم له مکي سورتونوڅخه يووي اوورسره ورسره تشريعي موضوع ګاني لکه دقتال اذن دحج اوقرباني احکام اودفی سبيل الله جهادپه هکله امراوداسي نوري چي دمدني سورتونوله ځانګړتياوو څخه ګڼل کېږي هم پکي راغلي دي ځيني علمای کرامو دغه سورت دمکي اومدني مشترکوسورتونو څخه شمېرلی دی.

* سورت په لومړي پيل کي له يو وېروونکي صحنې څخه چي زړونه يې له ليدلورېږدي عقلونه حيرانېږي اوهغه دقيامت دراتلوسره دزلزلې راتلل دي پرده پورته کوي اودهيبت اودهشت په څپوکي دانسان په خيال کي داسي انځوروي چي دغه داسي زلزله ده چي نه يوازي مانۍ اوودانۍ نړوي بلکه هيبت يې تی ورکونواواُميندواره مېرمنوته هم رسېږي چي لومړنۍ له خپل ماشومه څخه غافلي اودوهمي يې دماشوم په زيانولوباندي مجبوروي اوخلک داسي هيښ مينښ اوبې سده کوي لکه چي

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

شراب يې خوړلي وي نه بېخوده اوبې سده وي اونه يې شراب څښلي وي بلکه دغه دهغه هيبتناک حالت له کبله دي چي زړونه خوځوي ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمۡۚ إِنَّ زَلۡزَلَةَ ٱلسَّاعَةِ شَيۡءٌ عَظِيمٞ﴾ د آيتونو ترپايه.

* دقيامت دورځي له هيبتونوڅخه نيولي دبعث اوبياژوندون تردلائلوپوري په سورت کي يادونه شوي اوبيادجزاورځ هلته چي هرچاته خپل عمل وررسېږي که نېکي يې کړي وه نېکي به مومي اوکه بدي يې کړي وی بدي به بيامومي ورپسې دقيامت ځيني مشاهدراوړي چي نېکان خلک به په جنت کي اوبدکردارڤجاربه په دوزخ کي وي له دې په هيسته هغه حکمت ښيي چي دکفاروسره په جنګ کولواجازه ورکول شوي اوبيادهغوورانوکنډرو کليوباندوڅخه غږېږي کوم چي داوسېدونکودظلم اوسرغړوني له کبله ويجاړشوي وو اودغه ددعوتونواوبلنويوالهي سنت دی ترڅوچي مؤمنانوته دلاساينه ورکړي چي وروستی بری دصبرکونکودی.

* په پای کي سورت دمشرکانودعبادت هغه چي خپلوبتانوته يې کوي مثال راوړي چي دغه معبودان ددې توان نلري چي مچ پيداکړي څه خوداچي اورېدونکي ليدونکی انسان وپنځوي اودوی دحضرت خليل ملت ته هغه چي دايمان پناه ځای اودتوحيدرکن وورابولي.

تسميه اونومول يې:

دغه سورت ته ځکه سورت الحج وايې چي دحضرت ابراهيم عليه السلام هغه بلنه او دعوت چي دکعبې له جوړولو فارغ شوتلپاتي وساتي چي خلګوته يې دبيت الله الحرام دحج کولوغږوکړ اوغرونه تيټ شول غږ يې دځمکي ګوټ ګوټ ته ورسېدواوخلګوهغه دمينديوپه سينواودپلرونوپه ملاووکي واورېدله اودنداء يې اجابت وکړچي: لبيک اللهم لبيک لاشريک لک.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمۡۚ إِنَّ زَلۡزَلَةَ ٱلسَّاعَةِ شَيۡءٌ عَظِيمٞ ١ يَوۡمَ تَرَوۡنَهَا تَذۡهَلُ كُلُّ
مُرۡضِعَةٍ عَمَّآ أَرۡضَعَتۡ وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمۡلٍ حَمۡلَهَا وَتَرَى ٱلنَّاسَ سُكَٰرَىٰ وَمَا هُم بِسُكَٰرَىٰ وَلَٰكِنَّ
عَذَابَ ٱللَّهِ شَدِيدٞ ٢ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُجَٰدِلُ فِي ٱللَّهِ بِغَيۡرِ عِلۡمٖ وَيَتَّبِعُ كُلَّ شَيۡطَٰنٖ مَّرِيدٖ ٣ كُتِبَ عَلَيۡهِ
أَنَّهُۥ مَن تَوَلَّاهُ فَأَنَّهُۥ يُضِلُّهُۥ وَيَهۡدِيهِ إِلَىٰ عَذَابِ ٱلسَّعِيرِ ٤ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِن كُنتُمۡ فِي رَيۡبٖ مِّنَ ٱلۡبَعۡثِ فَإِنَّا
خَلَقۡنَٰكُم مِّن تُرَابٖ ثُمَّ مِن نُّطۡفَةٖ ثُمَّ مِنۡ عَلَقَةٖ ثُمَّ مِن مُّضۡغَةٖ مُّخَلَّقَةٖ وَغَيۡرِ مُخَلَّقَةٖ لِّنُبَيِّنَ لَكُمۡۚ وَنُقِرُّ فِي ٱلۡأَرۡحَامِ
مَا نَشَآءُ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗى ثُمَّ نُخۡرِجُكُمۡ طِفۡلٗا ثُمَّ لِتَبۡلُغُوٓاْ أَشُدَّكُمۡۖ وَمِنكُم مَّن يُتَوَفَّىٰ وَمِنكُم مَّن
يُرَدُّ إِلَىٰٓ أَرۡذَلِ ٱلۡعُمُرِ لِكَيۡلَا يَعۡلَمَ مِنۢ بَعۡدِ عِلۡمٖ شَيۡـٔٗاۚ وَتَرَى ٱلۡأَرۡضَ هَامِدَةٗ فَإِذَآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡهَا ٱلۡمَآءَ ٱهۡتَزَّتۡ
وَرَبَتۡ وَأَنۢبَتَتۡ مِن كُلِّ زَوۡجِۭ بَهِيجٖ ٥ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡحَقُّ وَأَنَّهُۥ يُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰ وَأَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٦ وَأَنَّ
ٱلسَّاعَةَ ءَاتِيَةٞ لَّا رَيۡبَ فِيهَا وَأَنَّ ٱللَّهَ يَبۡعَثُ مَن فِي ٱلۡقُبُورِ ٧ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُجَٰدِلُ فِي ٱللَّهِ بِغَيۡرِ عِلۡمٖ وَلَا هُدٗى وَلَا

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

كِتَٰبٍ مُّنِيرٍ ﴿٨﴾ ثَانِيَ عِطۡفِهِۦ لِيُضِلَّ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۖ لَهُۥ فِي ٱلدُّنۡيَا خِزۡيٞۖ وَنُذِيقُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ عَذَابَ ٱلۡحَرِيقِ ﴿٩﴾ ذَٰلِكَ
بِمَا قَدَّمَتۡ يَدَاكَ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَيۡسَ بِظَلَّٰمٖ لِّلۡعَبِيدِ ﴿١٠﴾ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَعۡبُدُ ٱللَّهَ عَلَىٰ حَرۡفٖۖ فَإِنۡ أَصَابَهُۥ خَيۡرٌ ٱطۡمَأَنَّ بِهِۦۖ وَإِنۡ
أَصَابَتۡهُ فِتۡنَةٌ ٱنقَلَبَ عَلَىٰ وَجۡهِهِۦ خَسِرَ ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةَۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡخُسۡرَانُ ٱلۡمُبِينُ ﴿١١﴾ يَدۡعُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا
يَضُرُّهُۥ وَمَا لَا يَنفَعُهُۥۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلضَّلَٰلُ ٱلۡبَعِيدُ ﴿١٢﴾ يَدۡعُواْ لَمَن ضَرُّهُۥٓ أَقۡرَبُ مِن نَّفۡعِهِۦۚ لَبِئۡسَ ٱلۡمَوۡلَىٰ وَلَبِئۡسَ
ٱلۡعَشِيرُ ﴿١٣﴾ إِنَّ ٱللَّهَ يُدۡخِلُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَفۡعَلُ مَا يُرِيدُ
﴿١٤﴾ مَن كَانَ يَظُنُّ أَن لَّن يَنصُرَهُ ٱللَّهُ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ فَلۡيَمۡدُدۡ بِسَبَبٍ إِلَى ٱلسَّمَآءِ ثُمَّ لۡيَقۡطَعۡ فَلۡيَنظُرۡ هَلۡ يُذۡهِبَنَّ
كَيۡدُهُۥ مَا يَغِيظُ ﴿١٥﴾ وَكَذَٰلِكَ أَنزَلۡنَٰهُ ءَايَٰتِۭ بَيِّنَٰتٖ وَأَنَّ ٱللَّهَ يَهۡدِي مَن يُرِيدُ ﴿١٦﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَٱلَّذِينَ هَادُواْ
وَٱلصَّٰبِـِٔينَ وَٱلنَّصَٰرَىٰ وَٱلۡمَجُوسَ وَٱلَّذِينَ أَشۡرَكُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ يَفۡصِلُ بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ
شَهِيدٌ ﴿١٧﴾ أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يَسۡجُدُ لَهُۥ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ وَٱلشَّمۡسُ وَٱلۡقَمَرُ وَٱلنُّجُومُ وَٱلۡجِبَالُ وَٱلشَّجَرُ
وَٱلدَّوَآبُّ وَكَثِيرٞ مِّنَ ٱلنَّاسِۖ وَكَثِيرٌ حَقَّ عَلَيۡهِ ٱلۡعَذَابُۗ وَمَن يُهِنِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِن مُّكۡرِمٍۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَفۡعَلُ مَا يَشَآءُ ۩
﴿١٨﴾ الحج: ١ - ١٨

لغتونه:

(زلزلة) سخت خوځښت اصل يې له (زل) څخه اخيستل شوی او هغه له ځايه زائل کېدواو خوځېدو ته وايې اوداچې وايې (زل الله قدمه) الله يې پښه وښويوله دغه لفظ اخيستل شوي اوديوشي په هيبت کې استعمالېږي (تذهل) مشغولېدل په کاربوختېدل (مضغة) هغه دغوښې کوچنۍ ټوټه لکه ژوونکي (مخلقة) بشپړ خلقته (هيج) ښايسته خوښحالونکی منظر(عطفه) جانب دده اوله دې سببه څادراوکوټ ته عطاف اومعطف وايې چې په طرفونواوږد اغوستل کېږي (العشير) ملګری اودوست.

تفسير:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمۡۚ﴾ ای خلګوووېرېږی له(عذابه د) رب خپل خطاب ټول بشرته دی يعني دالله له عذابه ووېرېږئ اودالله اطاعت وکړئ اوامريې ومنئ اوله نواهيوڅخه يې ځان وژغورئ دتقوی په هکله ترټولوښه اوبشپړه پېژندګلوي داده چې دالله اوامرمنل اوله نواهيوڅخه يې ځان ژغورل دي ځکه نوځينوعلماء کراموويلي دي چې تقوی يعني داچې هلته دي ونه ويني چې له هغه يې منع کړی يې اوچېرته يې درته امرکړی وي هلته غيرحاضرنشې ﴿إِنَّ زَلۡزَلَةَ ٱلسَّاعَةِ شَيۡءٌ عَظِيمٞ﴾ بېشکه چې زلزه (دقيامت په مخکي) يوډېرلوی شی دی(چې دهيبت له وجهې يې عقل تصورنشوای کولای) ﴿يَوۡمَ تَرَوۡنَهَا﴾ په هغه ورځ چې ووينی تاسي (دغه زلزله) اوهيبت ناکه پېښېدل يې) ﴿تَذۡهَلُ كُلُّ

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

مُرْضِعَةٍ عَمَّآ أَرْضَعَتْ ﴾ چي غافله به شي هره تی ورکونکي (ددې ورځي له هيبت او وېري چي تی به دماشوم له خولې کاږي هغه چي ددې خوږ وړوکي دی)چي هغه تی ورکوي ﴿ وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا ﴾ اووبه غورځوي هره حامله مېرمن حمل خپل ﴿ وَتَرَى ٱلنَّاسَ سُكَٰرَىٰ وَمَا هُم بِسُكَٰرَىٰ وَلَٰكِنَّ عَذَابَ ٱللَّهِ شَدِيدٌ ﴾ اووبه ګڼې ته خلک بېهوښه (له ډېري وېري اوهيبت نه) حال داچي نه به وي دوی په واقع کي بې هوښه ولکن دالله عذاب ډېرسخت دی ؛ دغه وروستنۍ جمله د پخوانۍ لپاره استدراک دی يعني دوی بې هوښه نه دي خود قيامت کړاوونواوسختيوبې عقلونه له مينځه وړي اودوی دالله له عذاب څخه وېرېږي اوبېهوښه وي ﴿ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُجَٰدِلُ فِي ٱللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ ﴾ اوځيني له خلکوڅخه هغه دي چي جګړه کوي په (قدرت اوصفاتود) الله کي بې له پوهي (اودليله اوداسي څه وايې چي په هغه کي هيڅ خيرنه وي ټول اباطيل اوچټيات وي. مفسرين کرام وايې دغه آيت دنضربن حارث په هکله راغلی چي ده به ويل ملائک دالله لونې دي اوقرآن پخوانۍ کيسې دي. له مرګه وروسته ژوندون نشته ابوالسعودوايې چي آيت شريف دده اونوروسرغړونکومکذبينولپاره عام دی (۱) ﴿ وَيَتَّبِعُ كُلَّ شَيْطَٰنٍ مَّرِيدٍ ﴾ اومتابعت کوي دهرشيطان سرکښ (لکه دکفرمخکښان هغه چي دحق له لاري خلک راګرزوي) ﴿ كُتِبَ عَلَيْهِ أَنَّهُۥ مَن تَوَلَّاهُ فَأَنَّهُۥ ﴾ ليکل (حکم) شوی دی په (حق اوقسمت د) دغه شيطان کي داچي بېشکه شان دادی چي هرڅوک چي دوستي وکړي دشيطان ﴿ يُضِلُّهُۥ وَيَهْدِيهِ إِلَىٰ عَذَابِ ٱلسَّعِيرِ ﴾ پس بېشکه دا(شيطان) ګمراه کوي دغه (تابع خپل) اولاره ښيي ده ته (بيا يې بې) ددوزخ عذاب ته ؛ دلته چي بې دلارښووني کلمه راوړه دغه دتهکم لپاره ده کله چي الله پاک دده په دقدرت کي دجګړه کونکودريزبيان کړاوداچي دوی له بعث اونشورڅخه منکران دي نو دلته يې دوه څرګنددليلونه دبعث دامکان په هکله وفرمايل چي يويې په انسان اوبل په نبات کي نويې ويل: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِن كُنتُمْ فِي رَيْبٍ مِّنَ ٱلْبَعْثِ فَإِنَّا خَلَقْنَٰكُم مِّن تُرَابٍ ﴾ ای (له بعثته منکرو) خلکوکه تاسي په شک يې له بعث څخه (چي څرنګه خلک له قبرونوژوندي پورته کېږي لومړی خپل حال ته وګورئ) پس بېشکه چي موږپيداکړی دی موږ(نيکه د)تاسي له خاوري (اوڅوک چي ستاسي په لومړني پيدايښت قادروي هغه پدې هم څواکمن دی چي دوهم ځلي موراپاڅوي اوهغه ذات چي نباتات له ځمکي راټوکوي هغه په دې قادردی چي خلک له ځمکي راوباسي ﴿ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ﴾ (بيامو (پيداکړه) اولاده دآدم) له يوه څاڅکي (مني) څخه) قرطبي وايې چي (نطف) څاڅکي ته وايې اوځکه يې نطفه بولي چي لږ وي(۲) ﴿ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ﴾ بياله (يوې ټوټې) کلکي وينې څخه(چي دهغې علقې په شان وي کومه چي دتالابونواوبوپه

(۱) ارشادالعقل السليم ۳/۴

(۲) ارشادالعقل السليم ۳/۴

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

خواوشاکي اوسي ﴿ ثُمَّ مِن مُّضْغَةٍ مُّخَلَّقَةٍ وَغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ ﴾ بیا له یوې بوټۍ غوښې (تام الخلقة اوغیرتام الخلقة) ابن زیدوایې چې (مخلقة) یعني داچې الله لاس ، سراو پښې پکې پیداکړي اودغیرمخلقة) بیا هغه ده چې پوره شکل یې پیداشوی نه وي ﴿ لِنُبَيِّنَ لَكُمْ ﴾ ددې دپاره چې موږتاسي ته بیان کړو (دخپل قدرت اوحکمت رازونه) . زمخشري وایې : معنا داچې موږپه دغه تدریجي ډول خپل قدرت دروښیو چې هغه ذات چې په لمړي ځل دبشرپه پیدایښت له خاوروڅخه قادروي اوبیاداچې دغه نطفه توټه غوښه کړي چې ترمینځ یې لیري والی دی اوبیاهغه علقه په مضغه تبدیل کړي اوهغې ته هډوکي ورکړي نوهمدغه ذات دهغه څه چې لومړی ځل یې پیداکړي په بیاراژوندي کولوخورابنه قادردی اودغه بعث ترلومړني پنځولوډېرآسانه دی (١)﴿ وَنُقِرُّ فِي الْأَرْحَامِ مَا نَشَاءُ ﴾اوثابت پرېږدوموږپه ارحاموکي هغه شي چې اراده وکړو(دهغه داثبات چې خلقت یې بشپړ شي) ﴿إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى ﴾ ترټاکلي مودې پوري (چې دزېږېدلووخت دی) ﴿ ثُمَّ نُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ﴾ بیارا وباسوموږله کېډودمیندوستاسي حال داچې طفل(وي) ضعیف په بدن، سترګو، غوږونو اونوربدن باندي اوبیاکرارکرار ورته قوت ښښو ﴿ثُمَّ لِتَبْلُغُوا أَشُدَّكُمْ ﴾ بیا(پالوتاسي) ترهغه پوري چې ورسېږی تاسي کمال اوخپل قوت (اوعقل) ته﴿ وَمِنكُم مَّن يُتَوَفَّىٰ ﴾ اوځیني له تاسي څخه هغه دي چې وفات کولی شي(دځواني په شپوورځوکي) ﴿ وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَىٰ أَرْذَلِ الْعُمُرِ ﴾ اوځیني له تاسي څخه هغه دي چې رسېږي ناکاره عمرته (چې د کمزوري اوبوډاتوب وخت دی)﴿ لِكَيْلَا يَعْلَمَ مِن بَعْدِ عِلْمٍ شَيْئًا ﴾ لپاره ددې چې نه پوهېږي وروسته له پوهي په هیڅ شي؛ یعني داچې هغه دوړکتوب دوران ته بیرته ګرزي چې تن یې کمزوری ، عقل یې خام اوفهم یې لږ وي نوهغه چې زده یې ووځني هېرشي اوپه څه چې یې توان درلودناتوانه شي لکه چې الله تعالی بل ځای فرمایې : ﴿ وَمَن نُّعَمِّرْهُ نُنَكِّسْهُ فِي الْخَلْقِ ﴾ یس(٦٨) ﴿وَتَرَى الْأَرْضَ هَامِدَةً ﴾ اوینې به ته ځمکه وچه شاړه؛ دغه دبعث په هکله دوهم دلیل دی یعني ای مخاطبه ته به ځمکه وچه کلکه مړه وینې چې هیڅ زرغون بوټی به ورباندي نه وي ﴿ فَإِذَا أَنزَلْنَا عَلَيْهَا الْمَاءَ اهْتَزَّتْ وَرَبَتْ ﴾ کله چې موږنازلي کړو(په دغي وچي شاړي ځمکي) اوبه نووخوځېږي اوډډه شي (له مرګه وروسته ژوندی شي) ﴿وَأَنبَتَتْ مِن كُلِّ زَوْجٍ بَهِيجٍ ﴾ اوزرغونه کړي له هرډول نباتاتوڅخه ښایسته تاندتنکي تېغ (دوښوپه شنه کېدلوسره) ﴿ ذَٰلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ هُوَ الْحَقُّ ﴾ دغه (راز رازپیدا کول اوژوندي کول) په سبب ددې دی چې بېشکه الله هم دی دی حق (اوداچې په کائناتوکي څه دي ګرددهغه دقدرت آثاراوپدې ګواهان دي چې الله حق دی ﴿ وَأَنَّهُ يُحْيِي الْمَوْتَىٰ ﴾ (اوبېشکه دی ژوندي کوي مړي)

---

(١) الکشاف ٣/ ١٤٢

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

یعني دی دمړوپه بیاراژوندي کولو قادردی لکه چي د ځمکي په زرغونولویې توان رسیږي ﴿ وَأَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴾ اوبېشکه الله په هر شي ښه قادردی (چي اراده وکړي) ﴿ وَأَنَّ ٱلسَّاعَةَ ءَاتِيَةٌ لَّا رَيْبَ فِيهَا ﴾ اوبېشکه قیامت راتلونکی دی چي هیڅ شک پکي نشته ﴿ وَأَنَّ ٱللَّهَ يَبْعَثُ مَن فِي ٱلْقُبُورِ ﴾ اوبېشکه چي الله راپاڅوي هرهغه چي په قبرونوکي دي (لپاره دحساب) ﴿ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُجَٰدِلُ فِي ٱللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَلَا هُدًى وَلَا كِتَٰبٍ مُّنِيرٍ ﴾ اوځیني له خلکوچي جګړه کوي په(شان د) الله کي له ښاپوهي اوبې له دلیله ،سمي لاری اوبې له روښانه کتابه (پخپله خوښه اوخواهش) ابن عطیه وایې ددې لپاره یې مکرر راووړچي توبیخ څرګندکړي اولکه چي ووایې دغه ډېر روښانه دلائل دي اوځیني له خلکوله دې سره سره دالله په شان کي بې له برهان اودلیله جګړه کوي(۱)﴿ ثَانِيَ عِطْفِهِۦ ﴾ پداسي حال کي چي خپل څنګ اړوي (له حقه اوکافرکېږي ؛ ابن عباس رضی الله عنه وایې معناداچي له حق څخه کله چي ورته وبلل شي تکبر کونکی وي. زمخشري وایې څنګ کول کبراوخیال کولوته وایې لکه (تصعیرالخد)(۲) ﴿ لِيُضِلَّ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ﴾ لپاره ددی چي ګمراه کړي (خلک) دالله له لاري (اوشریعت نه) ﴿ لَهُۥ فِي ٱلدُّنْيَا خِزْيٌ وَنُذِيقُهُۥ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ عَذَابَ ٱلْحَرِيقِ ﴾ شته ده لره په دنیاکي رسوایې (سپکتیا) اووبه څکوده لره په قیامت کي عذاب (داور) سوځونکي ﴿ ذَٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ يَدَاكَ ﴾ داعذاب په سبب دهغوعملونودی چي پخوا لېږلي دي دواړو لاسونوستا(له کفراو ضلالت څخه) ﴿ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَيْسَ بِظَلَّٰمٍ لِّلْعَبِيدِ ﴾ اوبېشکه الله نه دی(هیڅ) ظلم کونکی پربندګانو ﴿ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَعْبُدُ ٱللَّهَ عَلَىٰ حَرْفٍ ﴾ اوځیني له خلکوهغه څوک دي چي دالله عبادت کوي په څنګ باندي (دغه دمذبذبینولپاره مثال دی چي شک اوشبه په دین کي پیداکوي دالله پاک عبادت په باوري توګه نه کوي بلکه مضطرب اولالهاندوي لکه یوڅوک چي دلښکرپه څنګ کي اوسې کله چي ورته معلومه شي بری اوغنیمت دی نوپښې ټینګي کړي اوکه چېري بیاددې برخلاف وونومنډې کړي حسن رحمه الله وایې چي دغه منافق دی چي یوازي په خوله دالله عبادت کوي ، په زړه یې نکوي ابن عباس رضی الله عنه وایې چي کله به یوڅوک مدینې منورې ته راغی نوکه به یې مېرمني نارینه ماشوم وزېږاووواسپه به یې بلاربه شوه نوبه یې ویل دغه سم دین دی اوکه به یې مېرمني اواسپي نه بلاربېدې ویل به یې دغه ناکاره دین دی(۳)﴿ فَإِنْ أَصَابَهُۥ خَيْرٌ ٱطْمَأَنَّ بِهِۦ ﴾ پس که ورسېږي ده ته کوم خیر(له روغتیااوبډایې) نو قائم پاتي شي په دغه (عبادت اودین) ﴿ وَإِنْ أَصَابَتْهُ فِتْنَةٌ ٱنقَلَبَ عَلَىٰ وَجْهِهِۦ ﴾ اوکه ورته ورسېږي کوم مصیبت نوبیرته وګرزي په مخ خپل(هغه کفرته چي پخوایې درلود) ﴿ خَسِرَ ٱلدُّنْيَا

---

(۱) البحر ۶ / ۳۵۴

(۲) الکشاف ۳ / ۱۴۴

(۳) القرطبي ۱۲ / ۱۷

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

وَٱلْأَخِرَةَ ﴾ زیانکار شو په دنیا او آخرت کي ﴿ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْخُسْرَانُ ٱلْمُبِينُ ﴾ دغه همدغه ښکاره زیان دی (چي تري پورته بل زیان نشته) ﴿ يَدْعُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُۥ وَمَا لَا يَنفَعُهُۥ ﴾ بولي دی (عبادت کوي مشرک) پرته له الله دهغه څه چي نه ضرر ورته رسولی شي او نه نفع) یعني دبتانو عبادت کوي) ﴿ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلضَّلَٰلُ ٱلْبَعِيدُ ﴾ دغه (عبادت دماسوی الله) همدغه ګمراهي ده ډېره لیري (چي تري زیاته ګمراهي نشته لکه څوک لارورکی په صحراکي لالهاند حیران ګرزي ﴿ يَدْعُواْ لَمَن ضَرُّهُۥٓ أَقْرَبُ مِن نَّفْعِهِۦ ﴾ بولي دوی (عبادت کوي مشرکان) دهغه (معبود) چي ضرردهغه ډېرنژدې دی له ګټي دهغه) یعني دنیاوي ذلت اورسوایي یې عابدته ډېره نژدې ده له هغي ګټي چي عابدیې دقیامت په ورځ ددغه معبوددشفاعت په هکله لري چابیا ویلي چي دآیت شریف معناداچي بالفرض والتقدیرکه چېري موږ دهغه ګټه اوتاوان رسول ومنوبیاهم ضرر یې ترګټه ډېرزیات دی (۱) اوآیت شریف دهغه چادعقلونوتجهیل اوتسفیه کوي چي پدې باور لري چي غیرالله هم په عبادت کولوسرې ته دشفاعت غوښتلوپه وخت کي ګټه رسوي ﴿ لَبِئْسَ ٱلْمَوْلَىٰ وَلَبِئْسَ ٱلْعَشِيرُ ﴾ خامخابد دوست دی (دابُت) اوخامخا بدملګری دی ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يُدْخِلُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ جَنَّٰتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ ﴾ بېشکه چي الله دننه کوي هغه کسان چي ایمان یې راوړی دی اوکړي یې دي ښه (عملونه) په جنتونوکي چي بهېږي له لاندي (دونواومانیو دهغو) ویالې (دشیدو، شرابوشاتواو اوبواودوی به خوښ او هوسا سوکاله هلته اوسي) ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ ﴾ بېشکه چي الله هرهغه څه کوي چي اراده وکړي؛ یعني ثواب ورکوي چاته چي یې خوښه شي اوعذاب ورکوي چاته چي یې خوښه شي نومؤمنانوته جنت ورکول دالله په فضل دی اوکافرانوته دوزخ ټاکل دالله عدل دی ﴿ مَن كَانَ يَظُنُّ أَن لَّن يَنصُرَهُ ٱللَّهُ فِي ٱلدُّنْيَا وَٱلْأَخِرَةِ ﴾ هرڅوک چي (داسي) وي چي ګمان کوي ددې چي له سره به الله مرسته ونکړي له دغه (محمدصلی الله علیه وسلم) سره په دنیاکي اوپه آخرت کي (۲) ﴿ فَلْيَمْدُدْ بِسَبَبٍ إِلَى ٱلسَّمَآءِ ثُمَّ لْيَقْطَعْ فَلْيَنظُرْ هَلْ يُذْهِبَنَّ كَيْدُهُۥ مَا يَغِيظُ ﴾ نوودي غځوي یوپړی آسمان (یاچت) ته بیا دي پرې کړي بیادي وګوري چي بیازائلولی شي هیله (تدبیر) دهغهَ هغه شي لره چي دی یې په قهرکړی دی؛ ابن کثیروایې چي دغه دابن عباس رضی الله عنه ویناده اودغه ډېره روڼه اوپه تهکم کي څرګنده ده یعني که څوک

---

(۱) البحر ۲/ ۳۵۲

(۲) مفسرین کرام ددې آیت په باب دوه ډوله تفسیر لیکي لومړی داچي (ینصره) ضمیررسول الله صلی الله علیه وسلم ته راجع شي اومعناداچي که دکفاروڅخه څوک هسي ګمان کوي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته به په دنیااوآخرت کي الله مرسته ورنکړي نورسی دي په غاړه کي واچوي اوخان دي غرغره کړي ځکه الله خامخامرسته ورکوي دوهم داچي ضمیر پخپله انسان ته راجع شي نومعناداچي که انسان دخپلي سینې له تنګوالي داسي ګمان کوي چي الله به یې له سره مرسته ونکړي نودي دی رسی په غاړه کي واچوی اوخان دي راخوړند کړي له غمه دي ومري اودغه دوهمه وینا دتسهیل مؤلف غوره کړي ده.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

داسي ګمان کوي چي الله به محمد صلی الله علیه وسلم ته مرسته له سره ورنکړي نو ځان دي ووژني ځکه چي الله هرومرو پیغمبرته مرسته ورکونکی دی ﴿ وَكَذَٰلِكَ أَنزَلْنَٰهُ ءَايَٰتٍۭ بَيِّنَٰتٍ ﴾ اوپه شان ددغو (نازل شوو آیتونو د قرآن) موږ نازل کړي دي آیتونه ښکاره (واضح الدلالة په خپلو معناګانو) ﴿ وَأَنَّ ٱللَّهَ يَهْدِى مَن يُرِيدُ ﴾ اوبېشکه چي الله سمه صافه لاره ښيي هغه چاته چي اراده وکړي (دهدایت يې) ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ﴾ بېشکه هغه کسان چي ایمان يې راوړی دی (په الله اورسول او د محمد صلی الله علیه وسلم اتباع دي) ﴿ وَٱلَّذِينَ هَادُوا۟ ﴾ او(هغه کسان) چي یهودیان (اودموسی علیه السلام پیروان دي) ﴿ وَٱلصَّٰبِـِٔينَ ﴾ او(هغه کسان) چي صابیان (دستوروعبادت کونکي) دي ﴿ وَٱلنَّصَٰرَىٰ ﴾ او(هغه کسان) چي نصرانیان (عیسی علیه السلام ته منسوب) دي ﴿ وَٱلْمَجُوسَ ﴾ او(هغه کسان) چي مجوسیان (آتش پرستان دي) دي ﴿ وَٱلَّذِينَ أَشْرَكُوٓا۟ ﴾ او(هغه کسان) چي شریک يې له الله سره پیداکړی دی (عربي مشرکان دي) ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ﴾ بېشکه چي الله به فیصله وکړي په مینځ ددوی (مؤمنانو اوپنځوګمراه ډلوکي) په ورځ دقیامت کي (مؤمنان به جنت اوکافران به دوزخ ته بوزي) ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدٌ ﴾ بېشکه چي الله په هرشي باندي ښه عالم شاهد دی ﴿ أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يَسْجُدُ لَهُۥ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ آیانه (وینې ته چي بېشکه الله ته سجده ږدي هرهغه چي په آسمانونوکي دي اوهرهغه چي په ځمکه کي دي) یعني هرڅه دالله دعظمت په وړاندي طوعًا اوکرهًا سجده کوي پرښتې په آسمانونوکي، انسانان ، پېریانان اونور ټول مخلوقات په ځمکنۍ ګره کي ﴿ وَٱلشَّمْسُ وَٱلْقَمَرُ وَٱلنُّجُومُ وَٱلْجِبَالُ وَٱلشَّجَرُ وَٱلدَّوَآبُّ ﴾ اولمراوسپوږمۍ اوستوري اوغرونه اووني اوځلوربول) دغه ستر اجرام اوحیوانات دالله دعظمت په وړاندي دخضوع اوانقیادسرټیټوي . ابن کثیروایې چي : لمر، سپوږمۍ اوستوري يې په یادونه ځکه ځانګړي کړل چي هغه پخواپرته له الله معبودګڼل شوي وو نویې څرګنده کړه چي دغه پخپله تابع او مسخردي (۱) اومقصدله آیت شریف څخه دالله تعالی دلویې او عظمت بیان دی چي هغه په یوازنۍ توګه الله اورب دی چي دغه ټول دده په حکم چلېږي ﴿ وَكَثِيرٌ مِّنَ ٱلنَّاسِ ﴾ اوډېرله خلکو (چي مؤمنان دي داطاعت اوعبادت سجدې لګوي ﴿ وَكَثِيرٌ حَقَّ عَلَيْهِ ٱلْعَذَابُ ﴾ اوډېردي (له کفارو) چي ثابت شوی دی پرې عذاب (په سبب دکفراوعصیان ددوی ﴿ وَمَن يُهِنِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِن مُّكْرِمٍ ﴾ اوهرڅوک چي الله يې سپک کړي (په شقاوت اوکفرسره) پس نشته ده ته هیڅوک عزت ورکونکی ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ ﴾ بېشکه چي الله کوي هرهغه کارچي اراده يې

(۱) مختصرابن کثیر ۲/ ۵۳۴

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

وکړي یعني عذاب ورکوي اورحمت فرمايې عزت اوذلت ورکوي اوفقراوبډايې لوروي په ده باندې هيڅوک اعتراض نشي کولای.

بلاغت:

پدې آيتونوکي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته لنډيزيې دادی:

١- بليغه تشبيه لکه چي فرمايې ﴿ وَتَرَى ٱلنَّاسَ سُكَٰرَىٰ ﴾ يعني لکه بې هوښه دلته دتشبيه ادات اووجه شبه ندي راوړل شوي نوبليغه تشبيه بلل کېږي.

٢- استعاره لکه داچي: ﴿ شَيْطَٰنٍ مَّرِيدٍ ﴾ دشيطان کلمه يې دهرسرغړونکي اوطغيان کونکي لپاره استعاره کړي ده.

٣- دطباق صنعت چي د ﴿ يُضِلُّهُۥ ﴾ او ﴿ وَيَهْدِيهِ ﴾ ترمينځ راغلی دی.

٤- دتهکم اسلوب لکه د ﴿ وَيَهْدِيهِ إِلَىٰ عَذَابِ ٱلسَّعِيرِ ﴾ په کلام کي.

٥- دطباق السلب صنعت لکه ﴿ مُّخَلَّقَةٍ وَغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ ﴾.

٦- لطيفه استعاره لکه ﴿ فَإِذَآ أَنزَلْنَا عَلَيْهَا ٱلْمَآءَ ٱهْتَزَّتْ وَرَبَتْ ﴾ دلته يې ځمکه له هغه بيده سره مشابه کړه چي هډوحرکت نه کوي اوبيا کله چي باران ورباندي واوري وخوځېږي اووښوري بياپکي ژوندا وساوچلېږي نوپدې کي تبعيه استعاره ده.

٧- کنايه چي فرمايې: ﴿ ثَانِىَ عِطْفِهِۦ ﴾ دغه له تکبراوغرورڅخه کنايه ده.

٨- مرسل مجازلکه چي پدې کلام کي دی ﴿ بِمَا قَدَّمَتْ يَدَاكَ ﴾ اوعلاقه يې سببيت دی ځکه په لاسونوباندي دخيراوشرکارونه کېږي.

٩- تمثيلي استعاره لکه: ﴿ مَن يَعْبُدُ ٱللَّهَ عَلَىٰ حَرْفٍ ﴾ دمنافقينولپاره مثال دی چي څرنګه سرګردان اولالهاندي لکه چي دهلاکت دکندي په غاړه ولاړوي دغه څومره خوندوراوله معناډک مثال دی.

١٠- بديعه مقابله لکه ﴿ فَإِنْ أَصَابَهُۥ خَيْرٌ ٱطْمَأَنَّ بِهِۦ وَإِنْ أَصَابَتْهُ فِتْنَةٌ ٱنقَلَبَ عَلَىٰ وَجْهِهِۦ خَسِرَ ٱلدُّنْيَا وَٱلْءَاخِرَةَ ﴾.

١١- دطباق صنعت بل ځل لکه د ﴿ يَضُرُّهُۥ .... يَنفَعُهُۥ ﴾ اود ﴿ يُهِنِ .... فَمَا لَهُۥ مِن مُّكْرِمٍ ﴾ ترمينځ چي راغلی دی.

١٢- لطيفه سجع لکه چي دډېروآيتونوترمينځ شتون لري.

ګټه اوفائده:

مرضع هغه چاته وايې چي تی ورکونکی اودتي ورکولوصلاحيت لرونکی وي اومرضعة هغې ته وايې چي بالفعل دتي ورکولوپه حال کي وي اوماشوم ته يې تی په خوله کي ورکړی وي نوالله فرمايې: ﴿ تَذْهَلُ كُلُّ مُرْضِعَةٍ ﴾ اوهسي يې ونه فرمايل چي (مرضع) چي دغه په حيرانتياوهيبت کي

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

ستراوبې ساري دی ځکه کله چي موردماشوم له خولې څخه تی راکاږي (چي خورا ورباندي ګران دی) نوداخودزښته زياتي هيښتيانښه ده.

تنبيه:

ابن ابي حاتم وايې چي علی کرم الله وجهه ته يوچاوويل چي: دلته يوځوک شته چي دمشيت په باب (نه منلو) غږيږي نوهغه يې راوباله او ورته يې وويل: ای دالله بنده ته يې هسي پيداکړې لکه چي دالله مشيت دی اويالکه چي ستا؟ هغه وويل لکه دالله خپل مشيت بيايې ورته وويل: چي تاکله ناروغ کوي آيادغه دده مشيت دی اوکه ستا؟ هغه ورته وويل: بلکه دده مشيت دی، ورته ويل يې: چي کله درته روغتيابښي دغه ستامشيت دی اوکه دالله تعالی ؟ هغه ويل بلکه دده نويې ورته وويل: چي همداسي به دي داخل کړي لکه چي دده مشيت دی اوکه داسي لکه چي ستا؟ هغه ورته وويل: بلکه داسي لکه چي دده مشيت دی ؛ علی کرم الله وجهه ورته وويل: زمادي په الله سوګندوي که دي له دې پرته نورڅه ويلي وای ستاتنده به مي په توره وهلي وای (۱)

الله تعالی فرمايي:

﴿ ۞ هَٰذَانِ خَصْمَانِ ٱخْتَصَمُوا۟ فِى رَبِّهِمْ ۖ فَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ قُطِّعَتْ لَهُمْ ثِيَابٌ مِّن نَّارٍ يُصَبُّ مِن فَوْقِ رُءُوسِهِمُ
ٱلْحَمِيمُ ﴿١٩﴾ يُصْهَرُ بِهِۦ مَا فِى بُطُونِهِمْ وَٱلْجُلُودُ ﴿٢٠﴾ وَلَهُم مَّقَٰمِعُ مِنْ حَدِيدٍ ﴿٢١﴾ كُلَّمَآ أَرَادُوٓا۟ أَن يَخْرُجُوا۟ مِنْهَا مِنْ
غَمٍّ أُعِيدُوا۟ فِيهَا وَذُوقُوا۟ عَذَابَ ٱلْحَرِيقِ ﴿٢٢﴾ إِنَّ ٱللَّهَ يُدْخِلُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن
تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٍ وَلُؤْلُؤًا ۖ وَلِبَاسُهُمْ فِيهَا حَرِيرٌ ﴿٢٣﴾ وَهُدُوٓا۟ إِلَى
ٱلطَّيِّبِ مِنَ ٱلْقَوْلِ وَهُدُوٓا۟ إِلَىٰ صِرَٰطِ ٱلْحَمِيدِ ﴿٢٤﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ
ٱلَّذِى جَعَلْنَٰهُ لِلنَّاسِ سَوَآءً ٱلْعَٰكِفُ فِيهِ وَٱلْبَادِ ۚ وَمَن يُرِدْ فِيهِ بِإِلْحَادٍۭ بِظُلْمٍ نُّذِقْهُ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٢٥﴾ وَإِذْ
بَوَّأْنَا لِإِبْرَٰهِيمَ مَكَانَ ٱلْبَيْتِ أَن لَّا تُشْرِكْ بِى شَيْـًٔا وَطَهِّرْ بَيْتِىَ لِلطَّآئِفِينَ وَٱلْقَآئِمِينَ وَٱلرُّكَّعِ
ٱلسُّجُودِ ﴿٢٦﴾ وَأَذِّن فِى ٱلنَّاسِ بِٱلْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالًا وَعَلَىٰ كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِينَ مِن كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ ﴿٢٧﴾
لِّيَشْهَدُوا۟ مَنَٰفِعَ لَهُمْ وَيَذْكُرُوا۟ ٱسْمَ ٱللَّهِ فِىٓ أَيَّامٍ مَّعْلُومَٰتٍ عَلَىٰ مَا رَزَقَهُم مِّنۢ بَهِيمَةِ ٱلْأَنْعَٰمِ ۖ فَكُلُوا۟ مِنْهَا
وَأَطْعِمُوا۟ ٱلْبَآئِسَ ٱلْفَقِيرَ ﴿٢٨﴾ ثُمَّ لْيَقْضُوا۟ تَفَثَهُمْ وَلْيُوفُوا۟ نُذُورَهُمْ وَلْيَطَّوَّفُوا۟ بِٱلْبَيْتِ ٱلْعَتِيقِ ﴿٢٩﴾
ذَٰلِكَ وَمَن يُعَظِّمْ حُرُمَٰتِ ٱللَّهِ فَهُوَ خَيْرٌ لَّهُۥ عِندَ رَبِّهِۦ ۗ وَأُحِلَّتْ لَكُمُ ٱلْأَنْعَٰمُ إِلَّا مَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ ۖ
فَٱجْتَنِبُوا۟ ٱلرِّجْسَ مِنَ ٱلْأَوْثَٰنِ وَٱجْتَنِبُوا۟ قَوْلَ ٱلزُّورِ ﴿٣٠﴾ حُنَفَآءَ لِلَّهِ غَيْرَ مُشْرِكِينَ بِهِۦ ۚ وَمَن يُشْرِكْ بِٱللَّهِ
فَكَأَنَّمَا خَرَّ مِنَ ٱلسَّمَآءِ فَتَخْطَفُهُ ٱلطَّيْرُ أَوْ تَهْوِى بِهِ ٱلرِّيحُ فِى مَكَانٍ سَحِيقٍ ﴿٣١﴾ ذَٰلِكَ وَمَن يُعَظِّمْ شَعَٰٓئِرَ ٱللَّهِ
فَإِنَّهَا مِن تَقْوَى ٱلْقُلُوبِ ﴿٣٢﴾ لَكُمْ فِيهَا مَنَٰفِعُ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ مَحِلُّهَآ إِلَى ٱلْبَيْتِ ٱلْعَتِيقِ ﴿٣٣﴾ وَلِكُلِّ

(۱) مختصر ابن کثير ۲ / ۵۳۵

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنسَكًا لِّيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَىٰ مَا رَزَقَهُم مِّن بَهِيمَةِ الْأَنْعَامِ ۗ فَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ فَلَهُ أَسْلِمُوا ۗ وَبَشِّرِ
الْمُخْبِتِينَ ﴿٣٤﴾ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَالصَّابِرِينَ عَلَىٰ مَا أَصَابَهُمْ وَالْمُقِيمِي الصَّلَاةِ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ
يُنفِقُونَ ﴿٣٥﴾ وَالْبُدْنَ جَعَلْنَاهَا لَكُم مِّن شَعَائِرِ اللَّهِ لَكُمْ فِيهَا خَيْرٌ ۖ فَاذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَيْهَا صَوَافَّ ۖ فَإِذَا وَجَبَتْ
جُنُوبُهَا فَكُلُوا مِنْهَا وَأَطْعِمُوا الْقَانِعَ وَالْمُعْتَرَّ ۚ كَذَٰلِكَ سَخَّرْنَاهَا لَكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٣٦﴾ لَن يَنَالَ اللَّهَ لُحُومُهَا وَلَا
دِمَاؤُهَا وَلَٰكِن يَنَالُهُ التَّقْوَىٰ مِنكُمْ ۚ كَذَٰلِكَ سَخَّرَهَا لَكُمْ لِتُكَبِّرُوا اللَّهَ عَلَىٰ مَا هَدَاكُمْ ۗ وَبَشِّرِ الْمُحْسِنِينَ ﴾
الحج: ١٩ ـ ٣٧

تړاو او مناسبت:

کله چې الله تعالی نېکمرغه او بدمرغه کسان یاد کړل دلته یې ددوی ترمینځ دهغوی ددیني او تعبدي شخړو یادونه راوړه ورپسې یې دبیت العتیق داحترام او عظمت پېژند ګلوي وکړه چې ابراهیم خلیل علیه السلام ودانه کړي وه او بیایې ددغو مشرکانو کفارو چې خلګ دالله له لاري بندوي او مسجد الحرام ته یې نه پرېږدي غندنه راوړه.

لغتونه:

(یصهر) صهرویلي کېدلو ته وایې (مقامع) دمقمعة جمع اوڅټک (ګرز) ته وایې څکه یې مقمعه بولي چې دفاجرقمع کوي(العاکف) مقیم اوملازم ته وایې (الباد) له بادیه اوصحراڅخه راتلونکي ته (باد) وایې (بوانا) تیاره کړي، ښودلي ، نازله کړي ته ویل کېږي (رجالا) دراجل جمع اوپلي پیاده تلونکي ته وایه شي (ضامر) ډنګراوله سفرڅخه ستومانه شوي اوښ ته وایې (تفثهم) تفث په لغت کي خېرواوناولتیاته وایې. ثعلبي وایې چې: تفث په لغت کي خېروته وایې عرب هغه چاته چې ورڅخه کرکه کوي وایې (ما أتفثک) یعني څومره خیرن اوچټل یې (المخبتین) دمخبت جمع اومتواضع ته وایې.

تفسیر:

﴿ هَٰذَانِ خَصْمَانِ ﴾ دادواړه ډلي (مؤمنان متقیان اوکافران مجرمان) مدعیان دي ﴿ اخْتَصَمُوا فِي رَبِّهِمْ ﴾ چې جګړه یې وکړه سره په (ذات اودین د) الله کي ؛معناداچې مؤمنان دالله ددین نصرت غواړي اوکافران غواړي چې دالله ددین شغله مړه شي ﴿ فَالَّذِينَ كَفَرُوا قُطِّعَتْ لَهُمْ ثِيَابٌ مِّن نَّارٍ ﴾ پس هغه کسا ن چې کافران شوي دي سکښتي (جوړولی) شي ددوی لپاره داورجامې چې کله اورته ولوېږي.

قرطبي وایې چې اوریې له جاموسره تشبیه کړڅکه چې هغه به ددوی لپاره لکه لباس وي اود ﴿ قُطِّعَتْ ﴾ معناجوړول اوګنډل دي اودماضي په لفظ یې څکه تعبیروفرمایوچې موعودلکه متحقق غوندي دی(١)﴿ يُصَبُّ مِن فَوْقِ رُءُوسِهِمُ الْحَمِيمُ ﴾ اچولی به شي له پاسه دسرونوددوی اوبه ایشېدلي ددوزخ په

(١) القرطبي ١٣/ ٣٢

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

اور) ﴿ يُصْهَرُ بِهِۦ مَا فِي بُطُونِهِمْ وَٱلْجُلُودُ ﴾ خوړين به شي په دغواوبوسره هغه (کولمې) چي ددوی په ګېډه کي دي اوپوستوکي (ددوی هم) ﴿ وَلَهُم مَّقَٰمِعُ مِنْ حَدِيدٍ ﴾ اووي به ددوی لپاره څټکونه له اوسپني؛ ابن عباس رضی الله عنه وايي : که چېري ددوزخ دايشېدلوابويوڅاڅکی ددنياپه غرونوپرېوزي هغه به ويلي کړي اوپه حديث شريف کي راځي چي حميم به ددوزخيانوپه سرونوتوئېږي اوککری به يې سوری کړي ګېډي ته به يې ورسېږي او په ګېډه کي شته به يې خوړين کړي ترپښوبه يې راتوی شي اوبيابه دغسي شي لکه چي پخواوو(١) امام فخررازي وايې مقصدداچي دحميم تأثيراواغيزه يې په باطن کي دظاهرپه ډول وي ددوی کولمې به همداسي خوړيني کړي لکه چي څرمني يې خوړينوي اوداترهغه قول چي: ﴿ وَسُقُوا مَآءً حَمِيمًا فَقَطَّعَ أَمْعَآءَهُمْ ﴾ محمد: ١٥ زيات أبلغ دی(٢)اود ﴿ وَلَهُم مَّقَٰمِعُ مِنْ حَدِيدٍ ﴾ په هکله حديث شريف راځي فرمايې که يوګرز(مقمعه) په ځمکه کښېښودل شي انسانان اوپېريانان به يې له ځايه ونه خوځوي اوونه لېږدوي ﴿ كُلَّمَآ أَرَادُوٓا أَن يَخْرُجُوا مِنْهَا مِنْ غَمٍّ أُعِيدُوا فِيهَا ﴾ هرکله چي (دوزخيان اراده وکړي ددې چي له دغه (دوزخه) له غمه ووزي نوبيرته به دوی په دغه اورکي ګرزولی شي . حسن رحمه الله وايې چي اوربه يې په لمبووهي چي پورته سرته يې راوړي اوبيابه په ګرزونو(څټکونو) ووهلی شي لاندي به راپرېوزي چي داوياکالوپه واټن کي به وي ﴿ وَذُوقُوا عَذَابَ ٱلْحَرِيقِ ﴾ اووځکئ تاسي عذاب (داوردېر) سوځونکي دهغه چي تاسوبه دروغ ګڼل کله چي الله تعالی هغه څه بيان کړل چي دوزخيانوته يې تيارکړي ورپسې يې هغه ثواب اونعمتونه راوړل چي د مؤمنانو لپاره تيارشوي دي ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يُدْخِلُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا وَعَمِلُوا ٱلصَّٰلِحَٰتِ جَنَّٰتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ ﴾ بېشکه چي الله ننې باسي هغه کسان چي ايمان يې راوړی دی اوکړي يې دي ښه (عملونه په داسي) جنتونوکي چي بهېږي له لاندي (دماڼيواوونو) دهغو(ستري) ويالې (ډول ډول) ﴿ يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٍ وَلُؤْلُؤًا ﴾ ګاڼه به واچولي شي جنتيانوته په دغه (جنت) کي له باهوګانو (وښيو ، لاس وندو) له سروزرواوملغلرو څخه (دغه به ددوی داکرام لپاره وي ﴿ وَلِبَاسُهُمْ فِيهَا حَرِيرٌ ﴾ او جامې ددغو(جنتيانو) به په جنت کي وريښمينې وي(چي ددنياتر وريښموبه ډېرزيات اوغوره وي ﴿ وَهُدُوٓا إِلَى ٱلطَّيِّبِ مِنَ ٱلْقَوْلِ ﴾ اولاره ښودلی شوي ده(دوی ته دطيبي پاکي(ګټوري) وينا (څکه په جنت کي لغو اودروغ نشته) ﴿ وَهُدُوٓا إِلَىٰ صِرَٰطِ ٱلْحَمِيدِ ﴾ اولاره ښودل شوي دوی ته طرف دلاري چي ستايلي شوي ده (چي هغه جنت دارالمتقين دی) بيا الله دمشرکانوګناهونه په ګوته کوي ، فرمايې: ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ

---

(١) أخرجه الترمذی وقال حديث حسن صحيح غريب

(٢) الرازي ٢٣ / ٢٢

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

كَفَرُوا وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ ﴾ بېشکه هغه کسان چي کافران شوي دي (په محمد صلی الله علیه وسلم باندي) اومنع کوي خلک له لاري دالله اوله مسجد حرام څخه (چي مناسک اداکړي قرطبي وايې چي داهغه وخت چي دوی رسول الله صلی الله علیه وسلم دحُديبيې په کال له مسجد الحرام څخه منع کړاوداچي دمضارع په صيغه يې وفرمايل ددې لپاره چي په استمرار دلالت وکړي نومعناداچي هغه کسان چي کافران شوي دي حال داچي دالله له لاري خلک منع کوي لکه چي دالله ويناده ﴿ ٱلَّذِي جَعَلْنَٰهُ لِلنَّاسِ سَوَآءً ٱلْعَٰكِفُ فِيهِ وَٱلْبَادِ ﴾ هغه مسجد چي موږ ګرزولی دی دغه مسجد ځای دعبادت دپاره دټولو خلکو برابردي اوسېدونکي په دغه (مسجد کي اوله بهره راتلونکي ﴿ وَمَن يُرِدْ فِيهِ بِإِلْحَادٍ بِظُلْمٍ ﴾ اوهرچاچي اراده وکړه په دغه (مسجد) کي دبې لاري توب په ظلم سره (په ګناه کولو) ﴿ نُذِقْهُ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ﴾ نو وروبه څکومو (هغه کېدونکي) ته له دردناک عذاب څخه؛ ابن مسعود وايې: که په عدن کي يوڅوک ددې قصدوکړي چي په مسجد حرام کي ګناه وکړي الله به دردناک عذاب وروڅکي او مجاهد وايې چي ګناهونه هم هسي په مسجد حرام کي څوچنده کېږي لکه چي نېکي اوحسنات کېږي (۱) ﴿ وَإِذْ بَوَّأْنَا لِإِبْرَٰهِيمَ مَكَانَ ٱلْبَيْتِ أَن لَّا تُشْرِكْ بِى شَيْـًٔا ﴾ او (یادکړه ای محمده) هغه وخت چي ښکاره کړو موږ ابراهيم ته ځای دبيت (الله) او ورومونښودل (اوورته ومو ويل) چي مه شريکوه له ماسره هيڅ شی (ابن کثير وايې چي: معناداچي يوازي زماپه نامه يې ودانه کړه (۲) ﴿ وَطَهِّرْ بَيْتِىَ لِلطَّآئِفِينَ وَٱلْقَآئِمِينَ وَٱلرُّكَّعِ ٱلسُّجُودِ ﴾ اوپاک ساته کورزما (له بتانواو پلتيوڅخه) لپاره دطواف کونکو اوقيام کونکواو رکوع کونکواوسجده کونکو؛ قرطبي وايې چي: مرادله قيام کونکوڅخه لمونځ کونکي دي الله تعالی دلمانځه هغه ستررکنونه يادکړل چي هغه قيام رکوع اوسجده دي ﴿ وَأَذِّن فِى ٱلنَّاسِ بِٱلْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالًا وَعَلَىٰ كُلِّ ضَامِرٍ ﴾ اوغږ وکړه (ای ابراهيمه) په خلکوکي دحج (اداکولو) دپاره چي راشي پلی او (سواره) په هر ډنګراوښ؛ ابن عباس رضی الله عنهما وايې چي: کله ابراهيم عليه السلام دکعبې له ودانولوفارغ شو هغه ته وويل شوچي په خلکوکي غږ وکړه هغه ويل: ای پروردګاره زماغږ به ترکومه ځايه ورسېږي؟ الله تعالی ورته وويل: چي ته غږ وکړه رسېدل يې په ما! نوابراهيم عليه السلام د ابوقبيس غره ته وخوت او ناره يې وکړه: ای خلکوالله ددغي کوټې دحج کولوامرفرمايلی دی چي تاسو ته په ثواب کي جنت در کړي اوله دوزخه مووژغوري نوراشئ حج وکړئ بياهغوکسانوچي دنارينه ووپه شاګانواودښځوپه سينوکي يې شتون درلود ځواب ورکړچي: لبيک اللهم لبيک (۳) ﴿ يَأْتِينَ مِن كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ ﴾ چي راځي دا (اوښان) له هري لاري ليري (ژوري) نه داوښانولپاره يې

---

(۱) تفسيرالرازي ۲۳/ ۲۵

(۲) المختصر ۲/ ۵۳۹

(۳) الرازي ۲۳/ ۳۷

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

ضمیرد(یأتین) وفرمایل ځکه چي د دوی تعظیم پکي نغښتی دی چي له خپلوخاوندانوسره حج ته راځي لکه چي الله جل جلاله بل ځای فرمایي ﴿ وَٱلْعَٰدِيَٰتِ ضَبْحًا ﴾ (العادیات١) دجهادپه آسونوکي کلمه (دضبحا)ضمیرکله چي دالله په لاره کي زیارکاږي ﴿ لِيَشْهَدُوا۟ مَنَٰفِعَ لَهُمْ ﴾ دپاره ددې چي حاضرشي ځای دکتو(دنیوي اواُخروي) خپلو ته. امام رازي وایې: نکره یې ځکه وفرمایلي چي په نوروعباداتوکي نه موندل کېږي(١)﴿ وَيَذْكُرُوا۟ ٱسْمَ ٱللَّهِ فِىٓ أَيَّامٍ مَّعْلُومَٰتٍ عَلَىٰ مَا رَزَقَهُم مِّنۢ بَهِيمَةِ ٱلْأَنْعَٰمِ ﴾ اوچي اوچي یادکړي نوم دالله په هغو ورځو کي چي معلومي دي په (ذبح د) هرحیوان چي ورکړي دي الله دوی ته له بې ژبوچارپایانوڅخه (چي اوښ، غوایي ، پسونه، وزې اونوردي امام رازي وایې: پدې کي داتنبیه ده چي اصلی مقصدد ذبح کولو په وخت کي دالله دنوم یادول دي اوداچي دمشرکینوڅخه مخالفت ښکاره کړئ هغوی به خپل ذبائح دبُتانو په نامه حلالول(٢)﴿ فَكُلُوا۟ مِنْهَا ﴾ پس خورئ تاسي له هغي(غوښي) داُضحیې) ﴿ وَأَطْعِمُوا۟ ٱلْبَآئِسَ ٱلْفَقِيرَ ﴾ اوخوروئ یې په بدحال اوفقیر؛ ابن عباس رضی الله عنهما وایې: بائس هغه محتاج ته چي ببوزلي یې په بدن اوجاموکي ځرګنده وي ویل کېږي اوفقیربیاهغه چاته وایې چي داسي نه وي بلکه جامې یې پاکي اودغني ځېره لري ﴿ ثُمَّ لْيَقْضُوا۟ تَفَثَهُمْ ﴾ (بیادي لیري کړي (حاجتونه او) خیري خپل) یعني له ذبح کولوروسته دي هغه خیري لیري کړي کوم چي داحرام په اوږدوکي ورته رسېدلي اودغه امردي دوېښتانوپه خرېیلواویالنډولواو دارنګه دستوپه وهلواونوکانوپرې کولو باندي ترسره کړي ﴿ وَلْيُوفُوا۟ نُذُورَهُمْ ﴾ اوپوره دي اداکړي نذرونه خپل(هغه چي پخپلو ځانونوبې لازم کړي دي) ﴿ وَلْيَطَّوَّفُوا۟ بِٱلْبَيْتِ ٱلْعَتِيقِ ﴾ (اوطواف دي وکړي په هغه کورچي قدیم کریم دی.) یعني په دغه پخواني کوردي دافاضې طواف وکړي چي هغه ته طواف زیارت هم وایې اوپدې سره تحلل بشپړکېږي (عتیق) یې ورته ځکه ووایوچي دغه لومړنی کوټه ده چي د خلګولپاره ودانه شوي ده ﴿ ذَٰلِكَ ﴾ داحکم موواورېدو(یاامردادی چي تېرشو؛ زمخشري وایې کله چي لیکونکی د خپلي لیکني یوه جمله دیوې معناسره وړاندي کړي اوپه بله معناکي ورګډېږي نوبیاوایې (هذاوقدکان کذا) یعني دابېشکه اوهمداسي وو(٣)﴿ وَمَن يُعَظِّمْ حُرُمَٰتِ ٱللَّهِ ﴾ اوهرچاچي دالله داحکاموتعظیم وکړ(اوله محرماتواوګناهونوڅخه یې ځانونه وژغورل) ﴿ فَهُوَ خَيْرٌ لَّهُۥ عِندَ رَبِّهِۦ ﴾ (پس داکارده ته غوره دی په نزد درب دده) یعني دغه دالله دشریعت تعظیم ده ته د اُخروي ثواب له مخي غوره دی ﴿ وَأُحِلَّتْ لَكُمُ ٱلْأَنْعَٰمُ إِلَّا مَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ ﴾ اوحلال کړی شوی دی

---

(١) الرازي ٢٣ / ٢٩

(٢) الرازي نفس المرجع

(٣) الکشاف ٣

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

تاسي ته (خوراک دغوښي د) څارويو(له ذبحي وروسته) مګر(حرام دي) هغه څاروي چي پرتاسو (وروسته) لوستل کېږي (حراموالی يې) هغه چي په قرآن مجيد کي يې استثناء راغلي ده لکه (ميتة، منخنقة اوهغه چي لغير الله ذبح کړی شوي وي اونور...﴿ فَٱجْتَنِبُوا۟ ٱلرِّجْسَ مِنَ ٱلْأَوْثَٰنِ ﴾ پس ځان ساتئ تاسي له پليتي څخه چي بُتان دي ؛ دغه نهايت مبالغه ده چي دبُتانو عبادت مکوئ ﴿ وَٱجْتَنِبُوا۟ قَوْلَ ٱلزُّورِ ﴾ (او ځان ساتئ له وينادروغ څخه) يعني په دروغوشاهدي مه واياست ﴿ حُنَفَآءَ لِلَّهِ غَيْرَ مُشْرِكِينَ بِهِۦ ﴾ پداسي حال کي چي غاړه ايښودونکي ياست په اخلاص سره خاص الله ته او ورسره شريک نيونکي نه ياست) ﴿ وَمَن يُشْرِكْ بِٱللَّهِ فَكَأَنَّمَا خَرَّ مِنَ ٱلسَّمَآءِ فَتَخْطَفُهُ ٱلطَّيْرُ ﴾اوهرچاچي له الله سره شريک ونيو پس لکه چي له آسمانه راوغورځېد پس وتښتوي دی په چابکي سره مرغان) يعني دمشرک همداسي تمثيل دی چي ګمراهي اوهلاکت ورسره تړلی لکه چي يوڅوک له آسمانه راولوېږي اومرغان يې په منډه وتښتوي اوبيايې توته توته کړي ﴿ أَوْ تَهْوِى بِهِ ٱلرِّيحُ فِى مَكَانٍ سَحِيقٍ ﴾ يايې وغورځوي باد(له لوړي څخه) په ليري ژورځای کي ﴿ ذَٰلِكَ وَمَن يُعَظِّمْ شَعَٰٓئِرَ ٱللَّهِ ﴾ داحکم مو واورېدو (يا امرهم دادی چي تېر شو) اوهرچاچي دالله ددين دعلائمو تعظيم وکړ(چي دحج افعال د اضاحيو څربول اونورعبادات دی) ﴿ فَإِنَّهَا مِن تَقْوَى ٱلْقُلُوبِ ﴾ پس (بېشکه دا(تعظيم) له افعالود خاوندانو د) تقوی دزړونودی يعني داتعظيم دمتقيانو کاردی قرطبي وايې دتقوی نسبت يې زړونوته وکړځکه رسول الله وايې تقوی دلته دهاوسيني ته يې اشاره وفرمايله(١)﴿ لَكُمْ فِيهَا مَنَٰفِعُ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى ﴾ شته تاسي ته په دغه څلور بولو (دهديو) کي (ډېري) ګټي ترمعلومي مودې پوري (چي ددوی دحلالولو وخت دی يعني ترهغو پوری يې له شيدو،سپرېدلواونسل راوړلوڅخه ګټه اخلي ﴿ ثُمَّ مَحِلُّهَآ إِلَى ٱلْبَيْتِ ٱلْعَتِيقِ ﴾ (بيا (رسونه ده) ځای (دحلالولو) ددوی تر (بيت الله العتيق)يې ځانګړی کړځکه چي هغه تر ټول حرم غوره اواشرف دی لکه چي الله فرمايي: ﴿ هَدْيًۢا بَٰلِغَ ٱلْكَعْبَةِ ﴾ (المائده٩٥) ﴿ وَلِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنسَكًا ﴾ (اولپاره دهر امت مقررکړي دي موږقرباني) يعني دابراهيم عليه السلام له وخته د ټولوامتونولپاره موږدالله لپاره دقرباني ځای ټاکلی دی؛ ابن کثيروايې چي الله تعالی ددې خبرراکوي چي تل ترتله دقرباني دوړاندي کولواودالله په نامه دويني تويوولودودپه ټولوملتونوکي وو ﴿لِّيَذْكُرُوا۟ ٱسْمَ ٱللَّهِ﴾چي يادکړي دوی نوم دالله (اوذبح وکړي خاص دالله لپاره) ﴿ عَلَىٰ مَا رَزَقَهُم مِّنۢ بَهِيمَةِ ٱلْأَنْعَٰمِ ﴾ په هرهغه شي چي روزي ګرځولی(الله) دوی ته له بې ژبي څارويوڅخه(چي اوښان ، غوايان اوپسونه ، وزې دي بيالله فرمايي چي دالازم ده ذبح خاص دالله لپاره اودالله په نامه وي ځکه الله خالق اورازق دی نه هسي لکه مشرکان چي دبتانوپه نامه يې حلالوي ﴿ فَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ فَلَهُۥٓ أَسْلِمُوا۟ ﴾پس برحق معبود ستاسي الله

(١) القرطبي ١٢ / ٥٦

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

حق معبود یودي (شریک نلري) پس خاص هم ده ته غاړه کښېږدئ ! (لپاره دحکم او اطاعت یې) ﴿ وَبَشِّرِ ٱلْمُخْبِتِينَ ﴾ او زېری ورکړه عاجزي کونکو ته (په جنات النعیم سره بیا الله تعالی جل شانه دوی په څلورو صفتونو ستایي چي ﴿ ٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ ٱللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ ﴾ هغه (عاجزي کونکي) کله چي یاد کړ شي (نوم د) الله نو وېرېږي زړونه ددوی (ځکه چي دالله دجلال شغلې یې په زړه کي وځلېږي لکه چي دوی یې په وړاندي ولاړوي جلال او عظمت یې پخپلو سترګو ویني ﴿ وَٱلصَّٰبِرِينَ عَلَىٰ مَآ أَصَابَهُمْ ﴾ او (زېری ورکړه) صبر کونکو ته په هغو (سختیو او ناروغیو غمونو) چي دوی ته رسېدلي دي ﴿ وَٱلْمُقِيمِي ٱلصَّلَوٰةِ ﴾ او (زېری ورکړه) هغو کسانو ته چي) سم درونکي دلمانځه (وي سره له ټولو حقوقو او خشوع او خضوع) ﴿ وَمِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ يُنفِقُونَ ﴾ او زېری ورکړه هغو کسانو ته چي ځیني د هغو شیانو چي موږ دوی ته روزي ورکړي لګوي یې (په ښو کارونو کي) ﴿ وَٱلْبُدْنَ جَعَلْنَٰهَا لَكُم مِّن شَعَٰٓئِرِ ٱللَّهِ ﴾ او اوښان غوایان (دهدیې) ګرزولي دي موږ داتاسي ته له علائمود (دین د) الله (بُدنه) غټ حیوان ته پدې وایې چي غټ وجودلري او داچي څرنګه دشریعت له علامو څخه دي پدې چي هغه د الله دبیتې لپاره ځانګړي شوي هدایا دي ﴿ لَكُمْ فِيهَا خَيْرٌ ﴾ شته تاسي ته پدې کي خیر (ښېګڼه) ابن عباس رضی الله عنه وایې چي ګټه یې په دنیا کي او ثواب یې په آخرت کي دی ﴿ فَٱذْكُرُوا۟ ٱسْمَ ٱللَّهِ عَلَيْهَا صَوَآفَّ ﴾ پس یادوئ نوم دالله پدې (ذبائحو) پداسي حال کي چي ولاړوي (پښې یې تړلي وي) ﴿ فَإِذَا وَجَبَتْ جُنُوبُهَا ﴾ نو کله چي پرېوتل اړخونه د دوی (پرځمکه وروسته له ذبح کولو دغه له مړیني څخه کنایه ده یعني چي سایې وختله ﴿ فَكُلُوا۟ مِنْهَا وَأَطْعِمُوا۟ ٱلْقَانِعَ وَٱلْمُعْتَرَّ ﴾ نو خورئ تاسي له دې نه او خوروئ یې په صبر کونکي فقیرانو او بې صبره سوالګرو) دغه دابن عباس رضی الله عنه وینا ده او امام رازي وایې چي دا نژدې برېښي چي قانع هغه ته وویل شي چي هرڅومره ورکړي وربانديې خوښ شي او نور سوال او الحاح نه کوي او معترهغه چاته ووایه شي چي بې صبری کوي او نور څه غواړي له یوه حاله بل ته درومي (۱) ﴿ كَذَٰلِكَ سَخَّرْنَٰهَا لَكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴾ همداسي (لکه چي دغه تسخیردی تابع کړي مودي (دغه څلور بولي سره له لویوالي ددوی) تاسي ته لپاره ددې چي تاسي شکروباسئ (په دغه نعمت) ﴿ لَن يَنَالَ ٱللَّهَ لُحُومُهَا وَلَا دِمَآؤُهَا ﴾ له سره نه رسېږي الله ته غوښي ددوی او نه وینې ددوی ﴿ وَلَٰكِن يَنَالُهُ ٱلتَّقْوَىٰ مِنكُمْ ﴾ ولاکن رسېږي دغه (الله) ته پرهېزګاري له تاسو نه (چي دالله اوامر پرځای کوئ او ضایې غواړئ) ﴿ كَذَٰلِكَ سَخَّرَهَا لَكُمْ لِتُكَبِّرُوا۟ ٱللَّهَ عَلَىٰ مَا هَدَىٰكُمْ ﴾ همداسي (لکه چي ذکرشو) تابع کړي یې دي دغه څاروي تاسي ته چي په لویې یادکړئ الله په

(۱) الرازي ۲۳ / ۳۶

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

هغه ډول سره چي تاسي ته يې لاره در ښودلي ده (ددیني احکامو څخه) ﴿ وَبَشِّرِ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴾ اوزېری ورکړه نېکوکارانو ته (په نېکمرغي اوبریالیتوب په جنات النعیم سره).

بلاغت:

په دغه مبارکو آیتونوکي چي دبدیع اوبیان کومي ښکلاوي شته لنډیزیې دادی:

۱ - دایجازصنعت لکه: ﴿ ٱخْتَصَمُوا۟ فِى رَبِّهِمْ ﴾ یعني په دین درب ددوی کي چي دلته مضاف حذف شوی دی.

۲ - استعاره چي فرمايې ﴿ قُطِّعَتْ لَهُمْ ثِيَابٌ مِّن نَّارٍ ﴾ دلته اورپردوی داسي احاطه کمل شوی لکه چي دجاموا حاطه په بدن وي.

۳ - دطباق صنعت چي پدې کلماتوکي دی ﴿ ٱلْعَـٰكِفُ .... وَٱلْبَادِ ﴾ څکه (عاکف مقیم ته او(باد) له صحراڅخه راتلونکي ته وايي.

۴ - تاکیدچي دفصل په راګرزولوکي شته اوپه علم بدیع کي يې اطناب بولي لکه چي فرمايې: ﴿ فَٱجْتَنِبُوا۟ ٱلرِّجْسَ مِنَ ٱلْأَوْثَـٰنِ وَٱجْتَنِبُوا۟ قَوْلَ ٱلزُّورِ ﴾ چي دهریوه په باب په ځانګړي توګه اهتمام ترسره شي.

۵ - تمثیلي تشبیه لکه: ﴿ وَمَن يُشْرِكْ بِٱللَّهِ فَكَأَنَّمَا خَرَّ مِنَ ٱلسَّمَآءِ فَتَخْطَفُهُ ٱلطَّيْرُ ﴾ څکه دمشابهت وجه له متعدد څخه اخیستل شوي ده.

۶ - ناقص جناس لکه: ﴿ وَجَبَتْ جُنُوبُهَا ﴾.

۷ - دطباق صنعت د ﴿ ٱلْقَانِعَ وَٱلْمُعْتَرَّ ﴾ ترمینځ څکه قانع صبرکونکي اومعتربې صبره ته وايي.

۸ - لطیفه سجع لکه: ﴿ عَمِيقٍ ....ٱلْعَتِيقِ ....سَحِيقٍ ﴾ او ﴿ ٱلْمُحْسِنِينَ .... ٱلْمُخْبِتِينَ ﴾ اونور.

تنبیه:

الله تعالی هیڅوک یوازي دګناه په قصدکولو نه نیسي مګرهغه وخت چي په مسجدحرام کي وي څکه چي الله فرمايي: ﴿ وَمَن يُرِدْ فِيهِ بِإِلْحَادٍۭ بِظُلْمٍ نُّذِقْهُ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ﴾ څکه هغه سپېڅلی ځای دی هلته بایدانسان له زړه سپېڅلی اوپاکیزه وي پټ اوڅرګندیې له ناولتیاژغورلی وي اوڅوک چي بیادباچاپه کورکي دباچادعزت خیال نه ساتي هغه له دوزخ اودردناک عذاب سره وړدی.

***

الله تعالی فرمايي:

﴿ ۞ إِنَّ ٱللَّهَ يُدَٰفِعُ عَنِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ خَوَّانٍ كَفُورٍ ﴿٣٨﴾ أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَـٰتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا۟ ۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ ﴿٣٩﴾ ٱلَّذِينَ أُخْرِجُوا۟ مِن دِيَـٰرِهِم بِغَيْرِ حَقٍّ إِلَّآ أَن يَقُولُوا۟ رَبُّنَا ٱللَّهُ ۗ وَلَوْلَا دَفْعُ

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

ٱللَّهِ ٱلنَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لَّهُدِّمَتْ صَوَٰمِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَٰتٌ وَمَسَٰجِدُ يُذْكَرُ فِيهَا ٱسْمُ ٱللَّهِ كَثِيرًا ۗ وَلَيَنصُرَنَّ
ٱللَّهُ مَن يَنصُرُهُۥٓ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَقَوِىٌّ عَزِيزٌ ﴿٤٠﴾ ٱلَّذِينَ إِن مَّكَّنَّٰهُمْ فِى ٱلْأَرْضِ أَقَامُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُا۟ ٱلزَّكَوٰةَ
وَأَمَرُوا۟ بِٱلْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا۟ عَنِ ٱلْمُنكَرِ ۗ وَلِلَّهِ عَٰقِبَةُ ٱلْأُمُورِ ﴿٤١﴾ وَإِن يُكَذِّبُوكَ فَقَدْ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ
وَعَادٌ وَثَمُودُ ﴿٤٢﴾ وَقَوْمُ إِبْرَٰهِيمَ وَقَوْمُ لُوطٍ ﴿٤٣﴾ وَأَصْحَٰبُ مَدْيَنَ ۖ وَكُذِّبَ مُوسَىٰ فَأَمْلَيْتُ لِلْكَٰفِرِينَ ثُمَّ أَخَذْتُهُمْ ۖ
فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ ﴿٤٤﴾ فَكَأَيِّن مِّن قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَٰهَا وَهِىَ ظَالِمَةٌ فَهِىَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا وَبِئْرٍ
مُّعَطَّلَةٍ وَقَصْرٍ مَّشِيدٍ ﴿٤٥﴾ أَفَلَمْ يَسِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ فَتَكُونَ لَهُمْ قُلُوبٌ يَعْقِلُونَ بِهَآ أَوْ ءَاذَانٌ يَسْمَعُونَ بِهَا ۖ فَإِنَّهَا لَا
تَعْمَى ٱلْأَبْصَٰرُ وَلَٰكِن تَعْمَى ٱلْقُلُوبُ ٱلَّتِى فِى ٱلصُّدُورِ ﴿٤٦﴾ وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِٱلْعَذَابِ وَلَن يُخْلِفَ ٱللَّهُ وَعْدَهُۥ ۚ وَإِنَّ
يَوْمًا عِندَ رَبِّكَ كَأَلْفِ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّونَ ﴿٤٧﴾ وَكَأَيِّن مِّن قَرْيَةٍ أَمْلَيْتُ لَهَا وَهِىَ ظَالِمَةٌ ثُمَّ أَخَذْتُهَا وَإِلَىَّ
ٱلْمَصِيرُ ﴿٤٨﴾ قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّمَآ أَنَا۠ لَكُمْ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٤٩﴾ فَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ
كَرِيمٌ ﴿٥٠﴾ وَٱلَّذِينَ سَعَوْا۟ فِىٓ ءَايَٰتِنَا مُعَٰجِزِينَ أُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلْجَحِيمِ ﴿٥١﴾ وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ وَلَا
نَبِىٍّ إِلَّآ إِذَا تَمَنَّىٰٓ أَلْقَى ٱلشَّيْطَٰنُ فِىٓ أُمْنِيَّتِهِۦ فَيَنسَخُ ٱللَّهُ مَا يُلْقِى ٱلشَّيْطَٰنُ ثُمَّ يُحْكِمُ ٱللَّهُ ءَايَٰتِهِۦ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ
حَكِيمٌ ﴿٥٢﴾ لِّيَجْعَلَ مَا يُلْقِى ٱلشَّيْطَٰنُ فِتْنَةً لِّلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ وَٱلْقَاسِيَةِ قُلُوبُهُمْ ۗ وَإِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ لَفِى
شِقَاقٍۭ بَعِيدٍ ﴿٥٣﴾ وَلِيَعْلَمَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ أَنَّهُ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَيُؤْمِنُوا۟ بِهِۦ فَتُخْبِتَ لَهُۥ قُلُوبُهُمْ ۗ وَإِنَّ
ٱللَّهَ لَهَادِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٥٤﴾ وَلَا يَزَالُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ فِى مِرْيَةٍ مِّنْهُ حَتَّىٰ تَأْتِيَهُمُ ٱلسَّاعَةُ
بَغْتَةً أَوْ يَأْتِيَهُمْ عَذَابُ يَوْمٍ عَقِيمٍ ﴿٥٥﴾ ٱلْمُلْكُ يَوْمَئِذٍ لِّلَّهِ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ ۚ فَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟
ٱلصَّٰلِحَٰتِ فِى جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ﴿٥٦﴾ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَكَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا فَأُو۟لَٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴿٥٧﴾
وَٱلَّذِينَ هَاجَرُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ثُمَّ قُتِلُوٓا۟ أَوْ مَاتُوا۟ لَيَرْزُقَنَّهُمُ ٱللَّهُ رِزْقًا حَسَنًا ۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَهُوَ خَيْرُ
ٱلرَّٰزِقِينَ ﴿٥٨﴾ لَيُدْخِلَنَّهُم مُّدْخَلًا يَرْضَوْنَهُۥ ۗ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَعَلِيمٌ حَلِيمٌ ﴿٥٩﴾ ۞ ذَٰلِكَ وَمَنْ عَاقَبَ بِمِثْلِ
مَا عُوقِبَ بِهِۦ ثُمَّ بُغِىَ عَلَيْهِ لَيَنصُرَنَّهُ ٱللَّهُ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَعَفُوٌّ غَفُورٌ ﴿٦٠﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ يُولِجُ ٱلَّيْلَ فِى
ٱلنَّهَارِ وَيُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِى ٱلَّيْلِ وَأَنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌۢ بَصِيرٌ ﴿٦١﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْحَقُّ وَأَنَّ مَا يَدْعُونَ مِن
دُونِهِۦ هُوَ ٱلْبَٰطِلُ وَأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْعَلِىُّ ٱلْكَبِيرُ ﴿٦٢﴾ ﴾ الحج: ٣٨ - ٦٢

مناسبت او تړاو:

کله چې الله د حج مناسک اوهغه چې پکې دنیوي او اُخروي ګټې دي بیان کړل او دا یې څرګنده کړه چې کافرانو مؤمنان د الله له دین او د مکې د کلې څخه منع کول دلته یې دا یادونه وکړه چې الله جل جلاله له

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

مؤمنانو څخه دفاع کوي او دجګړې درواوالي حکمت يې په ډاګه کړچي په دغه جهاد سره له مقدساتو څخه دفاع، دمستضعفينو ملاتړ او مؤمنانو ته دعبادت کولو تمکين اوواک ورکول کېږي.

لغتونه:

(صوامع) دصومعة جمع اوهغه لوړي بناته چی رهبانان پکې وي ويل کېږي (بيع) دبيعة جمع اودنصاراوو عبادت ځای (کنيسة) ته ويلی شي (صلوات) ديهوديانو معابدوته وايې اوزجاج وايې چي دغه دعبراني (صلوتا) دی (نکير) دانکارپه معنامصدردی جوهري ليکلي چي انکاردمنکرتغير دی (معطلة) پرې ايښي شوي اودشي تعطيل داچي منفعتونه يې باطل شوي وي (قصر مشيد) مضبوطه لوړه اودنګه ماڼی.

تفسير:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ يُدَٰفِعُ عَنِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ﴾ (بېشکه چي الله دفع کوي (دکفاروشراومکر) له هغو کسانو چي ايمان يې راوړی دی) يعني الله مؤمنانو ته مرسته ورکوي دغه دمؤمنانو لپاره زېری دی چي دوی به په کفارولوړوي او الله به دکفارومکر له دوی څخه دفع کوي ﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ خَوَّانٍ كَفُورٍ﴾ بېشکه چي الله نه خوښوي هرخيانت ګر(داماناتواو)ناشکره ﴿أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَٰتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُواْ﴾ حکم ورکړی شوی دی (دقتال) هغو کسانو ته چي قتال ورسره کاوه شي (دکفارو له خوا) پدې سبب چي بېشکه په دوی ظلم شوی دی؛ ابن عباس رضی الله عنه وايې چي دغه لومړنی آيت دی چي دجهاد په هکله نازل شوی دی. مفسرين کرام وايې چي: دغه درسول الله صلی الله عليه وسلم دملګرو په باب دی چي دمکې مشرکانو به ربړول اودوی به چي وهل شوي اوزخميان وو رسول الله ته راتلل رسول الله صلی الله عليه وسلم به ورته ويل: صبروکړئ ماته تراوسه دجهاد کولو حکم ندی شوی ترڅو چي دوی هجرت وفرمايو بيادغه آيت نازل شواودالومړنی آيت دی چي وروسته له هغه چي اوياځله له قتال څخه منع راغلي وه بيانازل شو ﴿وَإِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ﴾ اوبېشکه چي الله په مرسته ددوی خامخانبه قادر دی چي پرته له قتاله يې مددوکړي خودالله داسي اراده شوي چي دوی خپل زياردالله دطاعت په لاره کي ترسره کړي ترڅو چي دشهيدانواجرومومي ﴿ٱلَّذِينَ أُخْرِجُواْ مِن دِيَٰرِهِم بِغَيْرِ حَقٍّ﴾ داهغه کسان) دي چي ايستل شوي دي له کورونوخپلوپه ناحقه سره (په ظلم او دښمني بې له کوم سببه) ابن عباس رضی الله عنه وايې چي دغه محمدمصطفی اودهغه ملګري دي چي له مکې څخه مدينې منورې ته په وتلومجبورشول ﴿إِلَّآ أَن يَقُولُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُ﴾ (بل هيڅ سبب نه وومکر دا) چي ويل به دغو (مؤمنانو) رب زموږ(يوازي) الله دی (ورسره شريک يې نه مانو) ﴿وَلَوْلَا دَفْعُ ٱللَّهِ ٱلنَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ﴾ (اوکه چېري نه وای دفع کول دالله خلګولره ځيني ددوی په ځينونورو باندي) يعني که الله جل جلاله قتال اوجهادرواکړی نه وای نوبه مشرکينوپه اهل اديانوباندي چپاوکړی وواوشعائربه معطل پاتي شوي وای خوالله جل جلاله دقتال حکم وکړاوددوی شريې دفع کړ ﴿لَّهُدِّمَتْ صَوَٰمِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَٰتٌ﴾ خامخانړول شوي به وې تکيې

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

اومدرسي اوعبادتخانې (دراهبانو معبدونه اود نصاراووکنيسې) ﴿ وَمَسَٰجِدُ يُذۡكَرُ فِيهَا ٱسۡمُ ٱللَّهِ كَثِيرٗاۗ ﴾ اومسجدونه چې ياداوه شي په هغو کې ډېرالله نوم دآيت شريف معناداچې که الله تعالی چېرې مشرکين له مسلمانانوڅخه ايسارکړي نه وای اومسلمانانوته يې دجهاد حکم ورکړی نه وای نوبه مشرکان په نورومختلفو ملتونوبلوسېدلي اوغالب شوي وای د هغوی دعبادت ځايونه به يې نړولي وای نه به نصاراووته خپله عبادتخانه اونه به رهبانانوته صومعه ، نه هم يهودانوته کنيسه پاتې وای اونه هم دمسلمانانو مسجدونه, مشرکان به په ټولو اديانوورختلي وای اوداچې په ځانګړي توګه يې مسجدونه دالله دنوم په ډېرويادولو وستايل دايې دهغوی تعظيم او شرف په ګوته کړچې دغه حقيقي عبادت ځايونه دي ﴿ وَلَيَنصُرَنَّ ٱللَّهُ مَن يَنصُرُهُۥٓۗ ﴾ اوخامخامرسته به وکړي هرومروالله له هغه چاسره چې مرسته ورکوی (دين د) الله ته (اورسول الله ته) ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ ﴾ بېشکه چې الله خامخاقوي دی(هيڅوک يې مغلوبولای نشي) ډېرزور والادی؛ ابن کثير وايې چې الله تعالی خپل ځان په قوت او عزت سره وستايونودهغه په قوت سره هرڅه پيداشول او هغه په غلبه اوزورسره وستايو چې هيڅوک ورباندې غالب کېدلای نشي(١)﴿ ٱلَّذِينَ إِن مَّكَّنَّٰهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ أَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ ﴾ دغه (مهاجر مظلومان) هغه کسان دي چې که چېرې قدرت ورکړو موږدوی ته په ځمکه کې نوقائموي به دوی لمونځ او ورکوي به زکات) يعني همدغه کسان دمرستې وړدي که چېرې موږدوی ته په ځمکه تمکين ورکړو نوبه دالله عبادت کوي سم به له ټولو حقوقوسره لمونځ ادا کوي اوزکاتونه به ورکوي ﴿ وَأَمَرُواْ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَنَهَوۡاْ عَنِ ٱلۡمُنكَرِۗ ﴾ اوحکم به کوي (خلګو ته) په معروف (شرعي کار) سره اومنع کوي به (خلګ) له بدکارڅخه ﴿ وَلِلَّهِ عَٰقِبَةُ ٱلۡأُمُورِ ﴾ اوخاص دالله په (تقديراو) واک کې ده خاتمه دټولو امورو ﴿ وَإِن يُكَذِّبُوكَ فَقَدۡ كَذَّبَتۡ قَبۡلَهُمۡ قَوۡمُ نُوحٖ وَعَادٞ وَثَمُودُ ﴾ اوکه چېرې دروغجن کړي تا(ای محمده !) پس په تحقيق دروغجن کړي يې وو رسولان خپل) پخواله دغه (قوم ستا) قوم دنوح او(قوم د) عاداو(قوم د) ثمود ؛ پدې کې درسول الله صلی الله عليه وسلم لپاره ډاډينه اودمشرکانولپاره وعيد دی يعني که دغه ستاتېر(دمکې خلګو) ستا تکذيب وکړنوته لومړنی پيغمبرنه يې چې تکذيب دي کېږي په تحقيق سره ترتاړومبی انبياء هم تکذيب شوي وَ اوصبريې کړی ووترڅوچې الله مکذبين او دروغجن کونکي هلاک کړل نوته پرهغوی پسې اقتداء وکړه ﴿ وَقَوۡمُ إِبۡرَٰهِيمَ وَقَوۡمُ لُوطٖ وَأَصۡحَٰبُ مَدۡيَنَۖ ﴾ اوقوم دابراهيم اوقوم دلوط اواهل (دښار) دمدين(چې دشعيب قوم وو) ﴿ وَكُذِّبَ مُوسَىٰ ﴾ او دروغجن ګڼل شوی وومو سی(هم له دې سره سره چې څرګندي معجزې اوښکاره دلائل ورسره وو نو ستاپه نوروڅه ګومان دی ؟) ﴿ فَأَمۡلَيۡتُ لِلۡكَٰفِرِينَ ثُمَّ أَخَذۡتُهُمۡۖ فَكَيۡفَ كَانَ نَكِيرِ ﴾ نومهلت مې ورکړی ووکافرانوته بيامې ونيول دوی (په عذاب سره پس څرنګه وو انکارزما(پردوی دعذاب آيا دردناک

(١) المختصر ٢ / ٥٤٨

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

عذاب نه وو؟ آياددوی نعمت مي په نقمت بدل نکړ؟ اوکثرت يې په قلت وانه اوښتل ؟ ودانی يې ويجاړي نشوې؟ همداسي زماچلندبه دمکې له خلګوسره هم وي ﴿ فَكَأَيِّن مِّن قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَاهَا وَهِيَ ظَالِمَةٌ ﴾ پس ډېردي له کليو(اوښارونو) څخه چي موږهلاک کړي دي (په بشپړ عذاب سره)حال داچي دغه ظالمان (مشرکان کافران)وو﴿ فَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا ﴾ پس هغه (کلي) پرېوتلي دي (دېوالونه يې د پاسه) په بامونوخپلوباندي (وران ويجاړ شوي) ﴿ وَبِئْرٍ مُّعَطَّلَةٍ وَقَصْرٍ مَّشِيدٍ ﴾ اوډېرکوهيان دي چي (ډک له اوبو) بېکاره پراته دي چي خاوندان (اهل) يې هلاک شوي اوډېري پخې لوړي اوچتي ماڼۍ (تشي پاتي دي چي خاوندان يې هلاک شوي دي (آياپدې کي دپنداخيستونکولپاره پندنشته؟ ﴿ أَفَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَتَكُونَ لَهُمْ قُلُوبٌ يَعْقِلُونَ بِهَا ﴾ (آياپس ندي ګرزېدلي دوی (دغه کفار) په ځمکه کي پس وای دوی لره زړونه چي فکريې کولوپه هغو (زړونوسره) يعني آيادغه دمکې خلګومسافرتونه ندي کړي ترڅوچي دکفارودهلاکت ځايونه ووينې اووربانديي عبرت واخلي؟ اوآيادوی عقل نه چلوي لکه چي دايمان اوتوحيدپه باب عقل چلول لازم دي؟ ﴿ أَوْ آذَانٌ يَسْمَعُونَ بِهَا ﴾ يا(وي دوی) لره غوږونه چي خبري يې اورېدلی په دغو (غوږونو د)پنداونصيحت) ﴿ فَإِنَّهَا لَا تَعْمَى الْأَبْصَارُ وَلَٰكِن تَعْمَى الْقُلُوبُ الَّتِي فِي الصُّدُورِ ﴾ پس قصه داده چي رندې نه دي سترګي (ظاهري ددوی) ولکن راندې دي زړونه (ددوی) هغه چي دننه په سينوکي دي) يعني حقيقتاًددوی سترګي رندې نه دي بلکه بصيرت يې نشته اوڅوک چي په زړه روندوي هغه پنداو نصيحت نه اوري اودسينوذکريې ځکه فرمايلی چي دمجاز توهم نفی کړي ﴿ وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِالْعَذَابِ وَلَن يُخْلِفَ اللَّهُ وَعْدَهُ ﴾ (اوتلوارکوي کفارپه تاپه (راوستلود) عذاب اوله سره به خلافه نکړي الله وعده خپله) يعني ای محمده دغه مشرکان له تاڅخه په بېړه دعذاب راتلل دملنډوپه ترڅ کښي غواړي اودغه عذاب ارومرورا تلونکی دی خوتاکلي موده لري له هغې څخه تجاوزنکوي ځکه چي الله تعالی په خپله وعده کي مخالفت نکوي ﴿ وَإِنَّ يَوْمًا عِندَ رَبِّكَ كَأَلْفِ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّونَ ﴾ (اوبېشکه يوه ورځ په نزد درب ستاداسی ده لکه زرکاله له هغوکلونوچي تاسي يې شمېری يعني الله تعالیٰ حليم دی تلوارنه کوي ځکه اندازه ديوزرکاله دمخلوق په وړاندي دالله جل جلاله حلم ته داسي ده لکه يوه ورځ نوتاسوولي عذاب ليري ګڼی اوپه بېړه يې غواړی؟ ځکه وروسته فرمايي : ﴿ وَكَأَيِّن مِّن قَرْيَةٍ أَمْلَيْتُ لَهَا وَهِيَ ظَالِمَةٌ ﴾ اوډېردي له (اهله دپخوانيوښارونو او)کليوچي مامهلت ورکړی وودوی ته حال داچي اهل دهغوظالمان وو(اوپه دغه تاخيراومهلت باندي تېروتل ﴿ ثُمَّ أَخَذْتُهَا وَإِلَيَّ الْمَصِيرُ ﴾ بياماهغوی ونيول اوخاص ماته راتله دهرچادي په البحرکي وايي : کله چي الله تعالی قريشوته مهلت ورکړخودوی په بېړه (تلوار)عذاب غوښتل نوآيت شريف دايادوي چي پخوانيوامتونوته مهلت ورکول شوی بياهلاک شوي دي اوبېشکه قريش هم که څه هم الله وخت اومهلت ورکړی ارومروبه يې هلاکوي دوی دي دعذاب په څنډېدلونه

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

خوشحالېږي (۱) ﴿ قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّمَآ أَنَا لَكُمْ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴾ (ووایه (ای محمده!) ای خلکو بېشکه همداخبره ده چي زه تاسي ته ښکاره وېرونکی یم) یعني ای محمده دغه بېره کونکو دعذاب ته ووایه چي زه یوازي ښکاره وېرونکی یم تاسو دالله له عذاب څخه وېروم پرته له دې چي زمادي په تعجیل اوتاخیر کي لاس وي ﴿ فَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ ﴾ (پس هغه کسان چي ایمان یې راوړی دی اوکړي یې دي ښه(عملونه) شته دوی ته ښښنه اوعزتناکه روزي) یعني هغه صادق مؤمنان چي ایمان اوصالح عمل یې سره یوځای کړی وي دو ي لره دګناهونوښښل اوعزتناکه روزي په جنات النعیم کي شته. امام رازي وایې چي څوک دایمان اوصالح عمل یوځایوالی وکړي الله تعالی به ورته مغفرت اورزق کریم یوځای ورکړي (۲) قرطبي وایې کله چي له الله څخه واورې چي فرمایې:

﴿ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ ﴾ نوپدې وپوهېږه چي همداجنت دی (۳) ﴿ وَٱلَّذِينَ سَعَوْا۟ فِىٓ ءَايَٰتِنَا مُعَٰجِزِينَ أُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلْجَحِيمِ ﴾ اوهغه کسان چي کوښښ کوي په (بطلان) د آیتونو زموږ کي (غواړي دالله دنور ډېوه مړه کړي) حال داچي عاجزکونکي زموږ وي (ددوی په ګمان) همدغه کسان ملګري ددوزخ دي (چي تل به پکې وي) دوی یې ددوام له وجهي له ملګري سره مشابه کړل. امام رازي رحمه الله وایې: که څوک وپوښتي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم خولومړی مؤمنانوته زېری ورکړی اودوهم ځل یې پدې آیت کي کافرانوته انذار اورولی نودقیاس غوښتنه داده چي ویل شوي وای ﴿ انماانالکم بشیرونذیر ﴾ ځواب دادی چي دغه کلام دمشرکانوپه باب روان شوی هغوی ووچي عذاب یې په بېره غوښتل نو ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ﴾ ددوی لپاره غږ دی اوداچي د مؤمنانوثوابونه اویادونه وشوه ترڅوچي دمشرکانوقهراوغصه زیاته شي (۴) ﴿ وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ وَلَا نَبِىٍّ ﴾ اونه وولېږلي موږپخواله تا(ای محمده!) هیڅ رسول اونه هیڅ نبي ﴿ إِلَّآ إِذَا تَمَنَّىٰٓ ﴾ مګرچي کله به یې یوڅیزخوښ شواوزړه به یې وغوښت ﴿ أَلْقَى ٱلشَّيْطَٰنُ فِىٓ أُمْنِيَّتِهِۦ ﴾ نووبه غورځاووشیطان دده په تمنااومایُشتهیٰ کي (ځیني وسوسې چي په دنیابه یې مشغولاوو لکه چي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایې: (انه لیغان علی قلبی فأستغفرالله فی الیوم سبعین مرة) یعني هرومروزماپه زړه هم سهوغفلت راځي نوله الله څخه اویاځلي په ورځ کي مغفرت غواړم) فرآء وایې د(تمنّی) معناداچي په زړه کي څه ورتېرکړي په بخاري کي راځي چي ابن عباس رضی الله عنهما فرمایې (الااذاتمنی ألقی الشیطان فی أمنیته) ددې معناداچي هغه وخت چي خبري کوي نوشیطان یې په ویناکي یوڅه ورواچوي نوالله دشیطان غورځول شوي باطلي کړي اوخپل

---

(۱) البحر۲/ ۳۷۹

(۲) الرازي ۲۳/ ۴۷

(۳) المختصر۲/ ۵۵

(۴) الرازي ۲۳/ ۴۷

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

آيتونه محكم كړي اوداسي ويل كېږي چي (أمنيته) لوستل دده (١)نحاس وايې چي پدې باره كي ترټولوښه اولوړه ويناداده چي ددې آيت په هكله وشي اومعنادآيت داسي راشي چي موږ نه وولېږلی هيڅ يورسول اوهيڅ نبي چي په زړه كي به يې يوڅه وروګرزېدل اودخپل اُمت لپاره به يې دهدايت تمناوكړه مګرشيطان به وسوسې په زړه كي ور واچولې اوپدې لاره كي به يې خنډونه راپورته كړل چي دقوم په زړونوكي به يې كفرښايسته كړاو د پيغمبرمخالفت كولوته به يې چمتوكړل نولكه چي آيت شريف درسول عليه السلام لپاره ډاډينه وي چي ورته وايې خواشيني اوغم مكوه اى محمده! ترتادمخه پيغمبرانوهمدغه سنت دى چي قومونوبه يې ورسره دښمني كوله (٢)﴿ فَيَنسَخُ ٱللَّهُ مَا يُلْقِى ٱلشَّيْطَٰنُ ﴾ پس ليري به كړي الله هغه (وسوسې) چي غورځولي دي شيطان په تمنا دده كي ﴿ ثُمَّ يُحْكِمُ ٱللَّهُ ءَايَٰتِهِۦ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴾ (بيامحكموي الله خپل آيتونه اوالله ښه عالم دى ښه حكمت لرونكى دى) يعني بيا الله دپيغمبرپه زړه كي په وحدانيت اورسالت باندي دلائل ټينګوي ابوالسعودوايې چي په آيت شريف كي دانبياء عليهم السلام په سهوكېدلوجوازموجوددى چي هغوى ته هم وسوسې لاره موندلای شي ﴿ لِّيَجْعَلَ مَا يُلْقِى ٱلشَّيْطَٰنُ ﴾ دپاره ددې چي الله وګرزوي هغه شى چي شيطان يې غورځوي ﴿ فِتْنَةً لِّلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ ﴾ ازمويښت دهغوكسانوچي په زړونو ددوى كي ناروغي (مرض دشك اونفاق) دى ﴿ وَٱلْقَاسِيَةِ قُلُوبُهُمْ ﴾ (بل دپاره دهغوچي) سخت دي زړونه ددوى يعني دكافرانوترټولوسخت كسان دي لكه ابوجهل ،نضراوعتبه﴿ وَإِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ لَفِى شِقَاقٍۭ بَعِيدٍ ﴾ (اوبېشكه ظالمان خامخاپه مخالفت ډېر ليري كي دي) يعني دغه يادشوي كسان له منافقينو اومشركينوڅخه سخت دښمني كونكي دي له الله اورسول سره اومخالفت ته چي يې ليري وويل داپدې چي دوى په خوراګمراهي اوله خيرڅخه ډېرليري وو﴿ وَلِيَعْلَمَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ أَنَّهُ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكَ ﴾ اوچي پوه شي هغه كسان

---

(١) انظرصحيح البخاري كتاب التفسير .

(٢) داترټولوهغووينااووچي ددغه آيت شريف په تفسيركي راغلي ښه ده اودغه دمحققينومفسرينوغوره ده اوهغه دغرانيق كيسه چي ځيني مفسرينوراوړي بېخي باطله ده هغه داچي رسول الله صلى الله عليه وسلم د﴿ وَٱلنَّجْمِ إِذَا هَوَىٰ ﴾ سورت لوستل اومشركان اومسلمانان ورته ناست ووكله چي دې ځاى ته ورسېدو﴿ أَفَرَءَيْتُمُ ٱللَّٰتَ وَٱلْعُزَّىٰ ﴿١٩﴾ وَمَنَوٰةَ ٱلثَّالِثَةَ ٱلْأُخْرَىٰٓ ﴾ نوشيطان يې په ژبه داكلماتي چي: (تلك الغرانيق العلى* وان شفاعتهن لترتجى) وغورځول مشركان پدې خوشحاله شول اوچي سورت پاى ته ورسېدورسول الله صلى الله عليه وسلم سجده وكړه اومشركانوهم سجده وكړه؛ ابن عربي وايې چي ټول هغه څه چي پدې كيسه كي راغلي باطل دي. ابن اسحاق وايې چي: دغه دزنادقه وولهڅانه جوړه كړي كيسه ده بيهقي وايې چي ددې كيسې راويان مطعون فيهم دي. ابن كثيروايې چي ډېرومفسرينو دغرانيق كيسه رانقل كړي اوهغه روايتونه مرسل اومنقطع دي. قاضي عياض وايې چي داهسي حديث دى چي هيچاپه متصل سليم سندنه دى راوړى اودصحيحواحاديثو راويانوندى نقل كړى خوځينوتاريخ ليكونكواومفسرينو راوړي دي هغه چي هرچېري غريب اونادرتوكي راغونډوي زه وايم چي ددې كيسې په باطلوالي دقرآنكريم دغه آيت دلالت كوي: ﴿ وَمَا يَنطِقُ عَنِ ٱلْهَوَىٰٓ ﴿٣﴾ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْىٌ يُوحَىٰ ﴾ نومعصوم به څرنګه داسي كلماتي ولولي لكه چي دوى ګمان كوي سبحانك هذابهتان عظيم قاطع اوغوڅ ترديدي دامام رازي په تفسيركي شته.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

چي ورکړی شوی دی دوی ته علم چي بېشکه داقرآن حق دی له طرفه درب ستا (نازل شوی دی) ﴿ فَيُؤْمِنُوا بِهِۦ ﴾ پس ایمان به راوړي دوی په ده سره ﴿ فَتُخْبِتَ لَهُۥ قُلُوبُهُمْ ﴾ نو نرم به شي دغه (قرآن ته) زړونه ددوی (په خلاف دهغه چاچي په زړونوکي يې ناروغي وي ﴿ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَهَادِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴾ اوبېشکه الله خامخالاره ښوونکی دی هغوکسانوته چي ایمان يې راوړی دی طرف دسمي صافي لاري (داسلام) ته (اوددوی له ضلالت اوګمراهي څخه ژغورونکی دی ﴿ وَلَا يَزَالُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ فِى مِرْيَةٍ مِّنْهُ ﴾ اوتل به وي هغه کسان چي کافران شوي دي په شک کي له دې قرآنه ﴿ حَتَّىٰ تَأْتِيَهُمُ ٱلسَّاعَةُ بَغْتَةً ﴾ (ترهغه وخته پوري چي راشي دوی ته قیامت ناڅاپه) بې له دې نه چي خبرشي قتاده وايي چي الله هیڅوک ندی نیولی مګرددوی دمستي په وخت کي چي دوی تېروتلي مغرور اوپه نعمت کي غوپه وي نوپه الله جل جلاله تېروزي په الله جل جلاله باندي له فاسقانوپرته بل څوک نه مغروريږی اوتېروزي ﴿ أَوْ يَأْتِيَهُمْ عَذَابُ يَوْمٍ عَقِيمٍ ﴾ یاراشي دوی ته دشنډي ورځي عذاب (دقیامت عذاب) اوځکه يې دغي ورځي ته شنډه وویله چي له دې وروسته به بله ورځ نه راځي اودلته يې هسي ونه ویل چي (أو يأتيهم عذابها) اودغه يې دضمیر پرځای راوړه چي زیات هیبت يې څرګندشي ﴿ ٱلْمُلْكُ يَوْمَئِذٍ لِّلَّهِ ﴾ سلطنت په دغه ورځ دقیامت کي خاص الله لره دی (هیڅوک ورسره دفع کونکی اونزاع کونکی نشته ﴿ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ ﴾ فیصله به کوي په مینځ ددوی (مؤمنانواوکافرانو) کي (مؤمنان به جنت ته اوکافران به دوزخ ته بیايي ځکه يې وفرمايل: ﴿ فَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فِى جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ﴾ پس هغه کسان چي ایمان يې راوړی دی (په الله اورسول) اوکړي يې دي ښه (عملونه) په جنتونود نعمتونوکي به وي ﴿ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَكَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا فَأُو۟لَٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴾ اوهغه کسان چي کافران شوي دی اونسبت ددروغو يې کړی دی آیتونوزموږته پس دغوکسانوته شته عذاب سپکونکی (په دوزخ کي) ﴿ وَٱلَّذِينَ هَاجَرُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ﴾ اوهرهغه چي خپل کورونه يې پرې ایښي دی (دالله درضالپاره) په لاره دالله کي (لپاره داعلاء کلمة الله) ﴿ ثُمَّ قُتِلُوٓا۟ أَوْ مَاتُوا۟ ﴾ بیا ووژلی شي (په جهادکي) یامړه شي (پخپل بستر) ﴿ لَيَرْزُقَنَّهُمُ ٱللَّهُ رِزْقًا حَسَنًا ﴾ نوخامخاروزي به ورکړي دوی ته الله روزي نېکه (دجنت چي هیڅ انقطاع به ونلري) ﴿ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَهُوَ خَيْرُ ٱلرَّٰزِقِينَ ﴾ اوبېشکه الله هم دی غوره روزي ورکونکی دی (ځکه بې حسابه روزي ورکوي) ﴿ لَيُدْخِلَنَّهُم مُّدْخَلًا يَرْضَوْنَهُۥ ﴾ خامخاداخل به کړي (الله) هرومرودوی پداسي یوځای (دجنت) کي چي دوی به هغه خوښ کړي (چي هلته داسي نعمتونه شته چي نه سترګولیدلی، نه غوږونو اورېدلي اونه

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

د بشرپه زړه هم کله تېرشوي دي) ﴿ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَعَلِيمٌ حَلِيمٌ ﴾ اوبېشکه الله خامخا د هرعالم (پد درجاتوددوی) ښه حلم لرونکی دی (له عذابه ددوی) ﴿ ذَٰلِكَ وَمَنْ عَاقَبَ بِمِثْلِ مَا عُوقِبَ بِهِۦ ﴾ (خبره) هم داده (لکه چي ومو ویله) اوهرهغه چي بدل واخیست په مثل دهغه (ضرر) چي دی په هغه سره معذب شوی دی ﴿ ثُمَّ بُغِيَ عَلَيْهِ لَيَنصُرَنَّهُ ٱللَّهُ ﴾ بیا (دوهم ځل) ظلم وکړای شي په ده باندي نو خامخا الله به مرسته وکړي هرومرو له ده سره ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَعَفُوٌّ غَفُورٌ ﴾ بېشکه الله خامخا ښه عفوه کونکی دی د هرښونکی دی؛ پدې کي دعفواوښښني لورته هڅونه اوترغیب دی ځکه چي الله تعالی سره له دې چي په کسات اخیستلواوانتقام باندي بشپړقدرت لري خوبیاهم عفوه اوښښنه کوي نورڅوک خوبېخي باید داکاروکړي ﴿ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ يُولِجُ ٱلَّيْلَ فِي ٱلنَّهَارِ وَيُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِي ٱلَّيْلِ ﴾ دغه (نصرت) په سبب ددې دی) چي بېشکه الله ننې باسي شپه په ورځ کي اوننې باسي ورځ په شپه کي (چي کله ورځ لنډه شپه اوږده وي کله شپه لنډه ورځ اوږده وي چي دغه لیدني کتلی په ژمي اودوبي کي هرچاکړي دي ﴿ وَأَنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ بَصِيرٌ ﴾ اوبېشکه الله ښه اورېدونکی دی (داقوالودبندګانو) ښه لیدونکی دی (پر احوالوددوی هیڅ شی ځني الونیا (پټ) نه دی ﴿ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْحَقُّ وَأَنَّ مَا يَدْعُونَ مِن دُونِهِۦ هُوَ ٱلْبَٰطِلُ ﴾ دغه (مرسته پدې ده چي) بېشکه الله همدی دی حق ثابت اوبېشکه هغه چي بولي یې (کفاراوعبادت یې کوي) یې له الله څخه همدغه باطل دی (چي په هیڅ شي قدرت نلري) ﴿ وَأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْعَلِيُّ ٱلْكَبِيرُ ﴾ اوبېشکه (الله همدی دی (له ټولوڅخه) ښه لوړښه لوی د عظمت اوکبریا خاونددی ترده څوک اوچت اوسترهډونشته.

بلاغت:

پدې آیتونوکي چي دبدیع اوبیان کومي ښکلاوي نغښتي لنډیزیې دادی:

۱- دمبالغې صیغه لکه ﴿ خَوَّانٍ كَفُورٍ ﴾ ځکه فعال اوفعول دمبالغې صیغې دي.

۲- دسیاق له پلوه په حذف دلالت لکه: ﴿ أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَٰتَلُونَ ﴾ چي معنادا چي (اذن بالقتال للذین یقاتلون).

۳- تاکیددمدح بمایشبه الذم لکه: ﴿ إِلَّآ أَن يَقُولُوا۟ رَبُّنَا ٱللَّهُ ﴾ یعني ددوی نوره ګناه نشته مګر داچي وایې زموږ پروردګار الله دی.

۴- لطیفه مقابله لکه د ﴿ فَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ ﴾ اود ﴿ وَٱلَّذِينَ سَعَوْا۟ فِيٓ ءَايَٰتِنَا مُعَٰجِزِينَ أُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلْجَحِيمِ ﴾ ترمینځ راغلي ده.

۵- اشتقاقي جناس لکه ﴿ وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ ﴾.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

٦- دطباق صنعت چي د ﴿ فَيَنسَخُ ثُمَّ.... يُحْكِمُ ﴾ ترمينځ راغلی دی.

٧- بديعه استعاره لکه چي فرمايي: ﴿ أَوْ يَأْتِيَهُمْ عَذَابُ يَوْمٍ عَقِيمٍ ﴾ اودغه له خورابنکليو استعاراتو څخه ګڼل کېږي ځکه شنډوالی دهغې مېرمني لپاره ويل کېږي چي زوزات يې نه کېږي لکه چي الله همدغه ورځ په دغه صفت وستايله پدې سبب چي له دې وروسته نه شپه شته، نه ورځ ځکه زمانه تېره شوه مکلفيت پای ته ورسېدونوورځي داولادپه منزلت دشپولپاره اودغه ورځ دهغوی له مينځه شنډه وګڼله شوه چي دغه استعاره بلل کېدای شي.[1]

***

الله تعالی فرمايي:

﴿ أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَتُصْبِحُ ٱلْأَرْضُ مُخْضَرَّةً ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَطِيفٌ خَبِيرٌ ﴿٦٣﴾ لَّهُۥ مَا فِى
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَهُوَ ٱلْغَنِىُّ ٱلْحَمِيدُ ﴿٦٤﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ سَخَّرَ لَكُم مَّا فِى ٱلْأَرْضِ وَٱلْفُلْكَ
تَجْرِى فِى ٱلْبَحْرِ بِأَمْرِهِۦ ۚ وَيُمْسِكُ ٱلسَّمَآءَ أَن تَقَعَ عَلَى ٱلْأَرْضِ إِلَّا بِإِذْنِهِۦٓ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِٱلنَّاسِ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿٦٥﴾ وَهُوَ
ٱلَّذِىٓ أَحْيَاكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ۗ إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ لَكَفُورٌ ﴿٦٦﴾ لِّكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنسَكًا هُمْ
نَاسِكُوهُ ۖ فَلَا يُنَٰزِعُنَّكَ فِى ٱلْأَمْرِ ۚ وَٱدْعُ إِلَىٰ رَبِّكَ ۖ إِنَّكَ لَعَلَىٰ هُدًى مُّسْتَقِيمٍ ﴿٦٧﴾ وَإِن جَٰدَلُوكَ فَقُلِ ٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا
تَعْمَلُونَ ﴿٦٨﴾ ٱللَّهُ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ فِيمَا كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴿٦٩﴾ أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِى
ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ ۗ إِنَّ ذَٰلِكَ فِى كِتَٰبٍ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٌ ﴿٧٠﴾ وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِۦ سُلْطَٰنًا وَمَا
لَيْسَ لَهُم بِهِۦ عِلْمٌ ۗ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِن نَّصِيرٍ ﴿٧١﴾ وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٍ تَعْرِفُ فِى وُجُوهِ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟
ٱلْمُنكَرَ ۖ يَكَادُونَ يَسْطُونَ بِٱلَّذِينَ يَتْلُونَ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتِنَا ۗ قُلْ أَفَأُنَبِّئُكُم بِشَرٍّ مِّن ذَٰلِكُمُ ٱلنَّارُ وَعَدَهَا
ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ۖ وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ﴿٧٢﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٌ فَٱسْتَمِعُوا۟ لَهُۥٓ ۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ
ٱللَّهِ لَن يَخْلُقُوا۟ ذُبَابًا وَلَوِ ٱجْتَمَعُوا۟ لَهُۥ ۖ وَإِن يَسْلُبْهُمُ ٱلذُّبَابُ شَيْـًٔا لَّا يَسْتَنقِذُوهُ مِنْهُ ۚ ضَعُفَ ٱلطَّالِبُ
وَٱلْمَطْلُوبُ ﴿٧٣﴾ مَا قَدَرُوا۟ ٱللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِۦٓ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَقَوِىٌّ عَزِيزٌ ﴿٧٤﴾ ٱللَّهُ يَصْطَفِى مِنَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ رُسُلًا
وَمِنَ ٱلنَّاسِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌۢ بَصِيرٌ ﴿٧٥﴾ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ۗ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرْجَعُ ٱلْأُمُورُ ﴿٧٦﴾
يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱرْكَعُوا۟ وَٱسْجُدُوا۟ وَٱعْبُدُوا۟ رَبَّكُمْ وَٱفْعَلُوا۟ ٱلْخَيْرَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ۩ ﴿٧٧﴾
وَجَٰهِدُوا۟ فِى ٱللَّهِ حَقَّ جِهَادِهِۦ ۚ هُوَ ٱجْتَبَىٰكُمْ وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِى ٱلدِّينِ مِنْ حَرَجٍ ۚ مِّلَّةَ أَبِيكُمْ إِبْرَٰهِيمَ ۚ هُوَ سَمَّىٰكُمُ

[1] ابو السعود ۴-۱۸

ٱلْمُسْلِمِينَ مِن قَبْلُ وَفِي هَٰذَا لِيَكُونَ ٱلرَّسُولُ شَهِيدًا عَلَيْكُمْ وَتَكُونُوا۟ شُهَدَآءَ عَلَى ٱلنَّاسِ ۚ فَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُوا۟ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱعْتَصِمُوا۟ بِٱللَّهِ هُوَ مَوْلَىٰكُمْ ۖ فَنِعْمَ ٱلْمَوْلَىٰ وَنِعْمَ ٱلنَّصِيرُ ﴿٧٨﴾ الحج: ٦٣ ـ ٧٨

مناسبت اوتړاو:

کله چي الله تعالی دخپل قدرت دلائل چي ورځ په شپه اوشپه په ورځ کی ننی باسي یادکړل اودخپلو نعمتونو په هکله یې څرګندونه وکړه دلته یې دبل ډول دلائلو چي هغه هم دالله په قدرت اوحکمت شاهدي ورکوي یادونه وفرمایله چي دبعث اونشورلپاره لکه سریزه اومقدمه غوندي وګرزي اوسورت په پای کي مؤمنانوته دواحدأحد ذات دعبادت بلنه ورکوي.

لغتونه: (سلطانا) حجت اوبرهان ته وایې (یسطون) له سطوت څخه اخیستل شوی اوپه قهراوغصه سره مضبوط نیولوته وایې (یسلبهم) اخیستلوته چي په منډه ترسره شي ویل کېږي (قدروا) تعظیم یې کړی (یصطفي) له اصطفاء څخه دی اوغوره کولوته وایې (حرج) تنګي (ملة) دین ته ویلای شي.

تفسیر:

﴿ أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً ﴾ (آیاندی لیدلی تا(نه یې خبرای مخاطبه) چي بېشکه الله نازلي کړي دي اوبه (له طرفه د) آسمانه) استفهام تقریري دی یعني الله پخپل قدرت سره له آسمانه باران نازل کړی دی ﴿ فَتُصْبِحُ ٱلْأَرْضُ مُخْضَرَّةً ﴾ پس ګرزي ځمکه (پدې اوبوسره) تکه شنه (وروسته له هغه چي وچه سپېره وي) دمضارع په صیغه سره یې ځکه تعبیروفرمایل چی انځوریې مستحضر کړي اووښیي چي همداسي به یوڅه وخت پاتي وي ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَطِيفٌ خَبِيرٌ ﴾ بېشکه الله ښه مهربان عالم دی ښه خبرداردی (په ټولوشیانو) ابن عباس رضی الله عنه وایې چي معناداچي الله دبندګانوپه روزي لطیف باریک بین اوپه پټورازونویې خبرداردی کوم چي په زړونوکي ناهیلي وي مقصدله دې آیت څخه شریف څخه دالله جل جلاله په بشپړقدرت باندي دلیل راوړل دی چي دغه الله په بعث اوبیرته راپاڅولو هم قادردی نوځکه یې فرمایلي دي: ﴿ وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَحْيَاكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ﴾ ﴿ لَهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ خاص همدغه (الله) ته دي هرڅه چي په آسمانونوکي اوهرڅه چي په ځمکه کي دي(خلقا، ملکااوتصرفا) ګرده دهغه تدبیراواتقان ته اړاومحتاج دی ﴿ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَهُوَ ٱلْغَنِىُّ ٱلْحَمِيدُ ﴾ اوبېشکه الله خامخاهم دی غني بې پروادی ښه ستایلی دي (په ټولوحالاتوکي) ﴿ أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ سَخَّرَ لَكُم مَّا فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ آیاندی لیدلی تا(نه یې خبرای مخاطبه!) چي بېشکه الله تابع کړي دي تاسي ته هرهغه چي په ځمکه کي دي) یعني ای هوښیاره ته نه وینې چي الله خپلوبندګانوته ټول هغه چي ورته اړدي اېل اومسخر ګرزولي هغه که حیوانات دي، که وني نهرونه اوکانونه دي دغه د الله دنورونعمتونوتذکار دی ﴿ وَٱلْفُلْكَ تَجْرِى فِى ٱلْبَحْرِ بِأَمْرِهِۦ ﴾ او(مسخرکړي یې ده) بېړۍ چي ګرزي په بحرکي په حکم دهغه سره (درانه بارونه اوخلک باروي دالله جل جلاله په قدرت اومشیت سره درومي)

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

﴿ وَيُمْسِكُ ٱلسَّمَآءَ أَن تَقَعَ عَلَى ٱلْأَرْضِ ﴾ اوساتي آسمان له دې نه چي راولوېږي په ځمکه باندي (اوتول هغه چي پکې دي ووژني) ﴿ إِلَّا بِإِذْنِهِۦٓ ﴾ مګرخوپه حکم دهغه سره (اودغه اذن به دقيامت په ورځ وي) ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ بِٱلنَّاسِ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴾ بېشکه الله پرخلکو خامخا ښه نرمي کونکی، ښه مهربان دی؛ او دغه يې دلطف ښه ده چي ستاسي لپاره يې دژوندانه اسباب تيارکړي دي نودالله دنعمتونو شکر اداکړئ ﴿ وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَحْيَاكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ لَكَفُورٌ ﴾ اودغه (الله هغه قادرذات دی) چي ژوندي کړي ياست تاسي (وروسته له عدمه) بيابه مړه کاندي تاسي(چي کله مو ټاکلي موده راشي) بيابه موژوندي کاندي (په قيامت کي لپاره دحساب اوثواب،عقاب) بېشکه انسان خامخاناشکره دی (دالله دنعمتونو ابن عباس رضی الله عنه وايې چي: مرادله انسان څخه کافر دی اوغرض له دې آيتونو څخه دمشرکانوتوبيخ اوترتنه ده لکه چي وايې: څرنګه له الله سره سيالان نيسي اوپه عبادت کي ورسره نورګډوي پداسي حال کي چي الله په پيداکولو، رزق ور کولو او تصرفاتوکي خپلواک اومستقل دی؟﴿ لِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنسَكًا ﴾ (دپاره دهريوه اُمت مقرر کړی دی موږ يوه لاره دبندګي) يعني هرپيغمبرله پيغمبرانوته اوهراُمت له پخوانيواُمتونوته موږ شريعت او لاره ارته ټاکلي ده.لکه چي الله تعالی بل ځای فرمايې ﴿ لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا ﴾ (المائده۴۸) ﴿ هُمْ نَاسِكُوهُ ﴾ چي دوی دهغه عمل کونکي دي (له شريعت نه) ﴿ فَلَا) يُنَٰزِعُنَّكَ فِى ٱلْأَمْرِ ﴾ دهغه پس نه ښايي چي جګړه وکړي (دامشرکان) له تاسره پدې کار (د دين) کي (چي ستا او ستادامت لپاره کوم شريعت ټاکلی شوی دی ځکه په هروخت اوزمان کي شريعتونه موجودوودغه په ظاهره نهی اومقصدورڅخه نفی ده يعني له نبي سره جګړه کول مناسب نه ده ځکه حق روښانه شوی او جګړه کول پکي نه ځائېږي ﴿ وَٱدْعُ إِلَىٰ رَبِّكَ إِنَّكَ لَعَلَىٰ هُدًى مُّسْتَقِيمٍ ﴾ اوبلنه کوه !(دخلکوعبادت د) رب خپل (اودهغه ښايسته شريعت ته) بېشکه ته يې خامخاپه سمه صافه لاره (چي حق ته برابره تللي اوجنت ته رسېدونکي ده) ﴿ وَإِن جَٰدَلُوكَ فَقُلِ ٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴾ (اوکه جګړه کوي له تاسره (په دين کي) نو ووايه (ای محمده دوی ته) چي الله ښه پوه دی په هغه (جګړه اوعناد)چي تاسي يې کوی) يعني که چېري دوی ددليل اوبرهان څخه وروسته هم کله چي حق څرګند شي بيالاجګړه کوي نو ورته ووايه چي الله ستاسي په بدواعمالواوپه هغه چي تاسودڅرنګه جزا وړ اومستحق ياست ښه خبرداردی ! پدې کي وعيداو وېرونه نغښتي ده﴿ ٱللَّهُ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ فِيمَا كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴾ الله به حکم وکړي په مينځ ستاسي کي په ورځ دقيامت په هغه شي کي چي وی تاسي په هغه کي مواختلاف کاوو (له ديني چاروڅخه نوهله به حق له باطل څخه بېل شي) ﴿ أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِى ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ آيانه پوهېږې ته (ای محمده ! بلکه پوهېږې) چي بېشکه الله پوهېږي په هرهغه شي چي پدې آسمان کي دي اوهغه چي پدې ځمکه کي دي (استفهام

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

تقرېري دی يعني ته پوهېږې چي: دالله علم په آسماني اوځمکني موجوداتو محيط دی نوددوی کړه وړه ورځخه پټ نه دي ﴿ إِنَّ ذَٰلِكَ فِي كِتَٰبٍ ﴾ بېشکه دا په کتاب(لوح محفوظ)کي ليکل شوي دي﴿ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٌ ﴾بېشکه دا(حصرد مخلوقاتواودالله په علم اواحاطه کي راتلل) په الله آسان دي ؛ بيا الله تعالی هغه بيان فرمايي چي له دې سره سره چي الله خورازيات نعمتونه پېرزوکړي خوبيا هم کافران انکارکوي: ﴿ وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ ﴾ اوعبادت کوي دغه (کفارقريش) غيرله الله (دبتانوچي نه اوري ، نه ويني) ﴿ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِۦ سُلْطَٰنًا ﴾ چي ندی نازل کړی (الله) په (عبادت د) هغه هيڅ سند(اودليل له جهته د شريعته ﴿ وَمَا لَيْسَ لَهُم بِهِۦ عِلْمٌ ﴾ اودهغه شي چي نشته دوی ته په هغه باندي هيڅ علم ؛ دليل پوهه (له جهته دعقله بلکه يوازي دخپلوپلرونو روند تقليدکوي) ﴿ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِن نَّصِيرٍ ﴾ اونشته ظالمانوته هيڅ مرسته کونکی (چي دالله له عذابه يې وژغوري) ﴿ وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٍ ﴾ اوکله چي ولوستل شي په دوی آيتونه (دقرآن) زموږ په داسي حال کي چي صاف واضح ښکاره دي (اودالله په وحدانيت کوټلي شاهدي ورکوي) ﴿ تَعْرِفُ فِي وُجُوهِ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ٱلْمُنكَرَ ﴾نوپېژني په مخونود هغوکسانوچي کافران شوي دي (آثارد) انکار(اوتريوتندي دناخوښي په سبب) ﴿ يَكَادُونَ يَسْطُونَ بِٱلَّذِينَ يَتْلُونَ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتِنَا ﴾ نژدې وي چي حمله وکړي (له ډېره قهره) په هغوکسانو (مؤمنانو) چي لولي په دوی باندي آيتونه (دقرآن) زموږ﴿ قُلْ أَفَأُنَبِّئُكُم بِشَرٍّ مِّن ذَٰلِكُمُ ٱلنَّارُ ﴾ (ووايه(ای محمده دوی ته چي) آياپس خبرکړم تاسي په ډېر بدله دې (قهره)ستاسي چي دغه اور (ددوزخ) دی) يعني دوی ته ووايه چي ستاسوتردې وېروني اوحملې چي تاسويې په مؤمنانو کوی زيات سخت اوبدځېزدرته وښيم چي هغه ددوزخ اور او عذاب دی ؟﴿ وَعَدَهَا ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ﴾ وعده کړي ده (الله) ددې اورله هغوکسانوسره چي کافران شوي دي﴿ وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ﴾ اوخامخابدځای دبيرته ورتلودی (دااور) ددوزخ) ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٌ فَٱسْتَمِعُوا۟ لَهُۥٓ ﴾ ای خلکو بيان شوی دی تاسي ته يومثال (دهغه چاچي له الله پرته دبتانوعبادت کوي) نوغوږکېږدئ تاسي هغه ته(اوسوچ پکي وکړئ چي دادی) ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَن يَخْلُقُوا۟ ذُبَابًا وَلَوِ ٱجْتَمَعُوا۟ لَهُۥ ﴾ بېشکه هغه بُتان چي تاسي يې عبادت کوی غيرله الله له سره نشي پيداکولای يومچ هم اوکه راټول شي داټول معبودان د هغه لپاره (چي پيدايې کړي وبه نشي کړای نو څرنګه به هوښيارد داسي بُتانوعبادت وکړي اوپه الوهيت به يې غوره کړي ؟ قرطبي وايې چي مچ يې د دې لپاره ځانګړی کړ چي پکي څلورڅېزونه شته دي يوسپکتيا ، بل ضعف، دريم چټلي او ناولتيا ، څلورم دهغوی ډېروالی اوکثرت نوکله چي هغه ترټولوضعيف اوحقيروي اوددوی معبودان يې په پيدا کولوتوان نلري آزار له ځانه دفع کولای نشي نوڅرنګه يې په معبودوالي مني؟

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

اوداهغه خورا کلک دلیل او ښکاره حجت دی (۱) ﴿ وَإِن يَسْلُبْهُمُ ٱلذُّبَابُ شَيْـًٔا لَّا يَسْتَنقِذُوهُ مِنْهُ ﴾ (اوکه چېري وتښتوي له دوی څخه مچ یوشی نونشي خلاصولای دوی هغه شی له هغه مچ څخه) یعني که چېري مچ له دغو بُتانو څخه هغه خوشبویي چي دغه عابدان یې ورباندي مښي وتښتوي نوهیڅکله به یې بُتان ځني راونشي ګرزولای (!) ﴿ ضَعُفَ ٱلطَّالِبُ وَٱلْمَطْلُوبُ ﴾ نوکمزوری دی (داطالب (عابد) اودامطلوب (چي معبوددی) (۲) ﴿ مَا قَدَرُوا۟ ٱللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِۦٓ ﴾ نه دی پېژندلی (دغوکفارو) اونه یې تعظیم کړی د الله په حق پېژندلواو تعظیم دده سره (چي بُتان یې له هغه سره شریکان ګرزولي سره له دې چي ډېر حقیر دي ځکه نوالله فرمایي: ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَقَوِىٌّ عَزِيزٌ ﴾ بېشکه الله خامخا ښه قوي زورور ډېرزبردست دی (چي هیڅوک ورباندي برلاسی کېدای نشي نودوی څرنګه زورور الله اودسپکتیاخاوندعاجزه بُتان یوله بله سره برابرګڼي؟(!) ﴿ ٱللَّهُ يَصْطَفِى مِنَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ رُسُلًا وَمِنَ ٱلنَّاسِ ﴾ الله غوره کوي له پرښتو څخه استازي (لپاره درسولودوحی خپلونبیانوته) اوله خلګوڅخه (هم بشري استازي ددین دشرائعو درسولولپاره غورچاڼ کوي په آیت شریف کي په هغه چاباندي رددی چي دوی وایې څرنګه پیغمبر بشرتاکل کېږي؟ ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌۢ بَصِيرٌ ﴾ بېشکه الله ښه اورېدونکی دی (داقوالو) ښه لیدونکی دی (دتولوافعالواوکړو وړو ﴿ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ﴾ (پوهېږي (الله) په هغه څه چي ددوی دوړاندي دی اوپه هغه څه چي وروسته ددوی دی) یعني الله ددوی په پخوانیواعمالواوهغوچي وروسته یې کوي ښه پوهېږي ﴿ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرْجَعُ ٱلْأُمُورُ ﴾ اوخاص دالله طرف ته بیرته ګرزولی کېږي ټول کارونه (اوالله ورته جزاورکوي) ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱرْكَعُوا۟ وَٱسْجُدُوا۟ ﴾ ای هغو کسانو چي ایمان یې راوړی دی (ای مؤمنانو) رکوع کوئ تاسي اوسجده کوئ تاي (په لمانځه کي) او داچي له لمانځه څخه یې په رکوع اوسجده تعبیروفرمایوځکه دایې اشرف رکنونه دي ﴿ وَٱعْبُدُوا۟ رَبَّكُمْ ﴾ اوکوئ عبادت درب ستاسي ﴿ وَٱفْعَلُوا۟ ٱلْخَيْرَ ﴾ اوکوئ نېک کارونه (لکه صله رحمي ,له یتیمانوسره ښه چلنداودشپې لمنځونه چي خلک ویده وي) ﴿ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴾ ددې لپاره چي بری ومومي (دآخرت نعمتونه موپه برخه شي) ﴿ وَجَٰهِدُوا۟ فِى ٱللَّهِ حَقَّ جِهَادِهِۦ ﴾ اوزیار کوئ په (لاره دجهاد,طاعت ,رضا د) الله کي په حق دجهاددهغه سره (څومو طاقت اوتوان وي) ﴿ هُوَ ٱجْتَبَىٰكُمْ ﴾ دغه الله غوره کړي یاست تاسي (له مینځه دنوروامتونودخپل دین دمرستي او نصرت لپاره اوتاسي یې ځانګړي کړئ په ښایسته پیغمبر اوترټولوکامل دین باندي) ﴿ وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِى ٱلدِّينِ مِنْ حَرَجٍ ﴾ اونه یې دی ګرزولی (نه یې دی ایښی)

---

(۱) القرطبي ۱۲/ ۹۷

(۲) ابن عباس رضی الله عنه وایې طالب (بُت) اومطلوب (مچ) دی اوسدي وایې چي طالب عابداومطلوب بُت دی اودغه غوره دی اومونږ هم چاڼ کړی دی.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

په تاسي په دين کي هيڅ حرج (او مشقت چي داسي څه يې درباندي بارکړی وي چي توان يې نلری بلکه حنيف او آسانه دين دی ځکه فرمايي: ﴿ مِلَّةَ أَبِيكُمْ إِبْرَٰهِيمَ ﴾ دين دپلار ستاسو چي ابراهيم دی (ټينګ يې ونيسئ ځکه صاف سم دين دی لکه چي بل ځای فرمايي: ﴿ دِينًا قِيَمًا مِّلَّةَ إِبْرَٰهِيمَ حَنِيفًا ﴾ (الانعام ١٦١) ﴿ هُوَ سَمَّىٰكُمُ ٱلْمُسْلِمِينَ مِن قَبْلُ وَفِي هَٰذَا ﴾ دغه (الله ونومولی مسلمانان پخوا[1]) له دغه قرآنه په نورو آسماني کتابونو کي او په دغه قرآن کي (اوله تاسوڅخه يې اسلام خوښ کړامام رازي وايي چي معناداچي الله پاک په ګردو پخوانيو کتابونواو همداراز په قرآنکريم کي تاسوپه نورو امتونوباندي بهتراوغوره ګڼلی اوپه دغه نامه يې نومولي ياست نوکله چي الله په داسي کرامت ونازولی نودالله عبادت وکړئ اوتکاليف يې له اوږو مه غورځوئ ﴿ لِيَكُونَ ٱلرَّسُولُ شَهِيدًا عَلَيْكُمْ وَتَكُونُوا۟ شُهَدَآءَ عَلَى ٱلنَّاسِ ﴾ لپاره ددې چي شي رسول (ستاسي) شاهد په تاسي (په رسولودرسالت تاسوته) اوشئ تاسي شاهدان په نورو خلکو ﴿ فَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُوا۟ ٱلزَّكَوٰةَ ﴾ (نو قائموئ لمونځ اوورکوئ تاسي زکات) يعني کله چي الله تاسي ددغسي ستري پېرزويني جوګه کړی اودغه لوړه مرتبه يې درباندي ولورووله ددغه نعمت د شکرپه باب لمنځونه کوئ اوزکاتونه ورکوئ ﴿ وَٱعْتَصِمُوا۟ بِٱللَّهِ هُوَ مَوْلَىٰكُمْ ﴾ اوښه ټينګ ونيسئ تاسي دالله دين له (دغه الله څخه مرسته وغواړئ په ټولوچاروکي) ﴿ فَنِعْمَ ٱلْمَوْلَىٰ وَنِعْمَ ٱلنَّصِيرُ ﴾ دغه (الله) ښه مالک دی ستاسي اوښه مرسته کونکی دی (الله).

بلاغت: پدې آيتونوکي چې دبلاغت، بديع اوبيان کومې ښکلاوي شته لنډيزيې دادي:

١- امتنان دالله په نعمتونوچي فرمايي: ﴿ أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ سَخَّرَ لَكُم مَّا فِي ٱلْأَرْضِ وَٱلْفُلْكَ تَجْرِي ﴾ او همداسي دلته هغه استفهام چي تقريرافاده کوي پکې دی.

٢- طباق لکه چي: ﴿ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ﴾.

٣- دمبالغې صيغه چي فرمايي: ﴿ إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ لَكَفُورٌ ﴾ يعني زيات انکارکونکی دی.

٤- هغه نهی چي مرادورڅخه نفی وي لکه داچي: ﴿ فَلَا يُنَٰزِعُنَّكَ ﴾ يعني حق څرګنداوروښانه شو نه ښايي چي دوی له تا سره شخړه وکړي.

٥- لطيفه استعاره چي الله تعالی فرمايي: ﴿ تَعْرِفُ فِي وُجُوهِ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ٱلْمُنكَرَ ﴾ يعني ته ددوی په څېروکي ناخوښي وينې چي دوی دبدي اراده لري لکه چي څوک وايي مادفلاني په ټنډه کي دشرنښي وليدې.

---

[1]) دغه دابن عباس وينااوظاهره هم ده حسن رحمه الله وايي چي ضمير ابراهيم ته راجع دی خودغه خبره مرجوح ده. والله اعلم

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

۶- تمثیل چي خوراخوندوردی لکه چي پدې کلام کي: ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَن يَخۡلُقُواْ ذُبَابٗا﴾ دلته يې کفارمتوجه کړل چي کوم عبادت چي دوی يې غيرالله ته کوي ددوی معبودان دومره ناوسه دي چي يومچ نشي پيداکولای زمخشري وايې چي:د مثال په ترڅ کي يې خوندوره ښايسته په ادب پسوللي کېسه راوړه.

۷- مرسل مجازچي: ﴿ٱرۡكَعُواْ وَٱسۡجُدُواْ﴾ دی اودجزء اطلاق يې په کل باندي کړی دی يعني لمنځونه کوئ مګريوازي رکوع سجودپې دلمانځه ارکان يادکړل.

۸- دعام يادونه وروسته له خاص څخه چي عموم افاده کړي اودخاص په هکله پاملرنه راشي لکه ﴿ٱرۡكَعُواْ وَٱسۡجُدُواْ وَٱعۡبُدُواْ رَبَّكُمۡ وَٱفۡعَلُواْ ٱلۡخَيۡرَ﴾ چي لومړی يې خاص ذکرکړيياعام او ورپسې يې أعم راووړ.

دالله جل جلاله په مرسته دالحج سورت تفسيربشپړشو.

***

دالمؤمنون سورت مکي اويوسل اتلس آيتونه لري.

دسورت په وړاندي:

دالمؤمنون سورت له مکي سورتونوڅخه يودی اودهغه په شان له عقيدوي موضوعاتولکه توحيد، رسالت اوبعث څخه غږيږي پدغه مبارک نامه څکه ونومول شوترڅوددغومؤمنانوتلپاتي خاطره اوددوی دغوره فضائلواوکرامتونوچي دهغوپه سبب په جنات النعيم کي داعلی فردوس وړ او مستحق ګرزيدلی يادونه وکړي.

*په سورت کي دالله تعالی دقدرت او وحدانيت بېلګي چي ددغه عجيبه کائناتوپه وجودکي انځورشوې ښودل کيږي،په انساني وجود،حيواني وجودنباتي وجوداوبيادددغواسمانونوپه پيدايښت کي چي دلارولیکوخاوندان دي اونورهغه چي بنيادم يې په دغه عالم کي ګوري لکه خرما، انګور،زيتون،اناراونورې ډيرې ميوې اودبيړيوپه شتون کي هغه چي خورالويی لويی او د سيندپه اوبوکي په غړمبهارڅي اونورډيردلائل چي دالله تبارک وتعالی په وجود دلالت کوي راغلي دي.

* همداسي په سورت کي دځيني انبياوو عليهم السلام کيسې درسول الله صلي الله عليه وسلم دډاډيني لپاره راغلی ځکه چي هغه ته دمشرکانوله لوري ډيرکړاونه ورکول شوی وو نولومړی دنوح (عليه السلام)بيا دهود(عليه السلام) وروسته دموسی(عليه السلام) او ورپسي دمريمې (رضی الله عنها) اودهغې دزوی عيسی(عليه السلام) کيسه اورول کيږي.

* ورپسې دمکي کفاروته هغه چي زيات سرغړونکي وواوله حق سره به يی تل جګړه وه سره له دي چي دبعثت په هکله ښکاره دلائل اوکوټلي براهين وړاندي شول خوبياهم دوی نه منل اخطاراوتهديد ورکول کيږي اوداګواکي هغه محوردی چي سورت ورباندي راڅرخی اوپه ښکلي بيان يی دباطل ملاماته کړې ده.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

*سورت هله بیاهغه سختې اوهیبنونکې پېښې راوړي کومې چې دځنکندن په وخت کې کفار ورسره لاس اوګریوان وي دوی داوخت ددې هیله کوي چې بیرته دنیاته ستانه شی اودخپلوبدو اعمالوتدارک وکړي خوافسوس چې دغه وخت یی له لاسه وتلی اوهیلې یی ناشونې دي په پای کې سورت دقیامت ورځ بیانوي کله چې خلک په دوو ډلوویشل کیږي دنیکمرغه اوبدمرغه هلته بیادحسب اونسب پوښتنه نشته له ایمان اوښه عمل څخه پرته بل څه ګټه نه لری همداسي دالله تعالی دجبارذات اود دوزخیانوترمینځ خبرې اترې راوړي چې دوی ته نه ځواب ورګرزول کیږي اونه یی مرسته کیږي .

***

الله تعالی فرمايي:

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ ﴿١﴾ الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ ﴿٢﴾ وَالَّذِينَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُونَ ﴿٣﴾ وَالَّذِينَ هُمْ لِلزَّكَاةِ فَاعِلُونَ ﴿٤﴾ وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ ﴿٥﴾ إِلَّا عَلَىٰ أَزْوَاجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ ﴿٦﴾ فَمَنِ ابْتَغَىٰ وَرَاءَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْعَادُونَ ﴿٧﴾ وَالَّذِينَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ ﴿٨﴾ وَالَّذِينَ هُمْ عَلَىٰ صَلَوَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ ﴿٩﴾ أُولَٰئِكَ هُمُ الْوَارِثُونَ ﴿١٠﴾ الَّذِينَ يَرِثُونَ الْفِرْدَوْسَ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿١١﴾ وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ مِن سُلَالَةٍ مِّن طِينٍ ﴿١٢﴾ ثُمَّ جَعَلْنَاهُ نُطْفَةً فِي قَرَارٍ مَّكِينٍ ﴿١٣﴾ ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ مُضْغَةً فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظَامًا فَكَسَوْنَا الْعِظَامَ لَحْمًا ثُمَّ أَنشَأْنَاهُ خَلْقًا آخَرَ ۚ فَتَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ ﴿١٤﴾ ثُمَّ إِنَّكُم بَعْدَ ذَٰلِكَ لَمَيِّتُونَ ﴿١٥﴾ ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ تُبْعَثُونَ ﴿١٦﴾ وَلَقَدْ خَلَقْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعَ طَرَائِقَ وَمَا كُنَّا عَنِ الْخَلْقِ غَافِلِينَ ﴿١٧﴾ وَأَنزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً بِقَدَرٍ فَأَسْكَنَّاهُ فِي الْأَرْضِ ۖ وَإِنَّا عَلَىٰ ذَهَابٍ بِهِ لَقَادِرُونَ ﴿١٨﴾ فَأَنشَأْنَا لَكُم بِهِ جَنَّاتٍ مِّن نَّخِيلٍ وَأَعْنَابٍ لَّكُمْ فِيهَا فَوَاكِهُ كَثِيرَةٌ وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ ﴿١٩﴾ وَشَجَرَةً تَخْرُجُ مِن طُورِ سَيْنَاءَ تَنبُتُ بِالدُّهْنِ وَصِبْغٍ لِّلْآكِلِينَ ﴿٢٠﴾ وَإِنَّ لَكُمْ فِي الْأَنْعَامِ لَعِبْرَةً ۖ نُّسْقِيكُم مِّمَّا فِي بُطُونِهَا وَلَكُمْ فِيهَا مَنَافِعُ كَثِيرَةٌ وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ ﴿٢١﴾ وَعَلَيْهَا وَعَلَى الْفُلْكِ تُحْمَلُونَ ﴿٢٢﴾ ﴾ المؤمنون: ١ - ٢٢

لغتونه:

(سلاله)چاڼ اوخلاصی ته ویل کیږی لکه چې وايي (سللت الشعرمن العجين)يعني له لمدو اوړوڅخه مي وينبته راوايستل ګواکي له (سلّ)څخه مشتق اواستخراج یی معناده اوهمداسي کله چې توره له تيکي راوايستل شی يعني خلک ټول له خالصي ختې چې بوی لرونکي ده پيداشوي دي او همدغې ختې ته ګردبيرته ورګرځی اوهمداسي ويل کيږي (الولدسلالة ابيه)ځکه هغه یی له ملاڅخه را وتلی دی (مکين)ثابت او راسخ ته وايي کله چې په ځای ټينګ اومضبوط وي (طرائق)دطريقې جمع او مرادله دې څخه اوه اسمانونه دي ځکه یی طرائق بولی چې ځيني په ځينونورو وهل شوي دي لکه چې (طارق النعل) هلته چې يويی په بل دپاسه وي(صبغ) کتغ اونګولی اواصل یی له صباغ څخه هغه چې جامې ورباندي رنګول

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

کېږي اخيستل شوی دی هروي وايې هرکتغ ته چي مړی وربانديي مروړل کيږي صبغ ويلای شی (الانعام) هغه څلوربول حيوانات چي غوښې يی دخوړلو وړ وی لکه اوښ، غوايې، او پسونه ،ګډي .

تفسير :

﴿ قَدْ أَفْلَحَ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴾ په تحقيق مؤمنان بريالی شوي دي (هغه کسان چي پدي صفتونو متصف دي) قددتحقيق لپاره راځی لکه چي وايې په تحقيق سره خامخامؤمنان بهرمنده شوي دي په سبب دايمان اونيک عمل ،ورپسي يې الله تعالی صفتونه ګنی فرمايی ﴿ ٱلَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَٰشِعُونَ ﴾ هغه (مؤمنان) چي دوی پخپلولمونځونوکي عاجزی کونکي ، وير ېدونکي اوله وېري آرام په لمانځه کي دريدونکي وي دالله جلاله عظمت اوجلال يی په زړونوکي هيبت وراچولی وي. ﴿ وَٱلَّذِينَ هُمْ عَنِ ٱللَّغْوِ مُعْرِضُونَ ﴾ اوهغه کسان بهره من شول چي دوی له ناکاره ويناوو ښکنځلو، دروغو اوچتياتو څخه مخ ګرزيدونکي دي ابن کثيروايې چي (لغو)باطل ته ويل کېږي اوهغه شرک اوټولو ګناهونو ته شامل دي اوهغه شيان هم پکي راځی چي ګټه نلري (١)﴿ وَٱلَّذِينَ هُمْ لِلزَّكَوٰةِ فَٰعِلُونَ ﴾ اوهغه کسان بريالی دي چي دوی (تل)دزکات اداکونکي وي (فقيرانو بيوزلوته يي په خپله خوښه دالله درضالپاره ورکوي ﴿ وَٱلَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَٰفِظُونَ ﴾ اوهغه کسان دي چي دوی خپلوفرجونولره ساتونکي دي دغه څلورم صفت دی چي دوی خپل فرجونه له زنا ، لواطت اوبربنډولو(لوڅولو)څخه ژغوري ﴿ إِلَّا عَلَىٰٓ أَزْوَٰجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ ﴾ مګرپرښځوخپلو(او) ياپر هغووينځو خپلوچي ددوی ښی لاسونه يی مالکان شوی دي پس بيشکه دوی نه دی ملامت کړی شوی (په ورتلوسره هغوی ته) ﴿ فَمَنِ ٱبْتَغَىٰ وَرَآءَ ذَٰلِكَ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْعَادُونَ ﴾ پس هغه څوک چي وغواړي (دفع شهوت)غيرله (دغوزوجاتو او وينځو)نه پس دغه کسان هم دوی دي تجاوزکونکي (له حده په فساداوسرغړونه کي ﴿ وَٱلَّذِينَ هُمْ لِأَمَٰنَٰتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَٰعُونَ ﴾اوهغه کسان (بهره مند شول)چي دوی رعايت کونکي دي خپلوامانتونواوعهدونوته (چي پکي خيانت نکوي اونه وعدې ماتوي ابوحيان وايې چي مرادټول امانات دي اوپدي کي دالله تعالی امانتونه هم راځی چي الله پاک بندګان له قول اوفعل څخه وربانديي امناء ټاکلي دي اوهغه دانسانانو ودائع اوامانتونه هم (٢)چي ددوی ترخپل مينځ دی. ﴿ وَٱلَّذِينَ هُمْ عَلَىٰ صَلَوَٰتِهِمْ يُحَافِظُونَ ﴾ اوهغه کسان (هم بهرمن شول چي)دوی همیشه پرخپلو لمنځونوساتنه کوي (پخپل وخت کي يی اداکوي)اودغه شپږم وصف دی په التسهيل کي وايې چي څرنګه يی دلمانځه يادونه په سراوپای کي وکړه ؟ ځواب داچي دلته هيڅ ډول تکرارنشته ځکه په لمړی لمانځه کي يی دخشوع يادونه وکړه اودلته

(١) مختصرابن کثير٢ / ٥٥٩
(٢) البحر٢/ ٣٩٧

بی بیادساتنی نودوی دواړه ګواکي سره مختلف دي (١)﴿ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْوَٰرِثُونَ ﴾ همدغه دوی دي وارثان (لائقان دجنت)﴿ ٱلَّذِينَ يَرِثُونَ ٱلْفِرْدَوْسَ ﴾ هغه چي میراث به اخلي (مجانا اعلی جنت)فردوس (هغه چي دجنت بیالې له هغه څخه راوزي په حدیث شریف کي راځی کله چي له الله څخه جنت غواړی نود(اعلی)فردوس غوښتنه یی وکړئ ځکه هغه خورابښکلی اودجنت لوړځای دی اودجنت ویالې له همدغه څخه راوزي (٢)﴿ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴾ دوی به په دغه جنت کي تل پاته کیدونکي وي. هیڅ لوري ته به نه بیول کیږي بیاالله تعالی په خپل قدرت او وحدانیت دلائل راوړي فرمایي:﴿ وَلَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ مِن سُلَٰلَةٍ مِّن طِينٍ ﴾ اوقسم دي خامخاپه تحقیق پیداکړي دي موږانسان له خالصی صافې ختې څخه ابن عباس (ﷺ)وایې چي دغه پخپله آدم ښیی ځکه چي هغه له ختې څخه جوړشوی اوراایستل شوی دی ﴿ ثُمَّ جَعَلْنَٰهُ نُطْفَةً ﴾ بیاوګرزاوومورږدغه آدم نطفه (چي د نارینه وله شاګانوراوزي)﴿ فِى قَرَارٍ مَّكِينٍ ﴾ په یوه قرارګاه محکم کي (چي رحم دی) ﴿ ثُمَّ خَلَقْنَا ٱلنُّطْفَةَ عَلَقَةً ﴾ بیاوګرزوله مورږدانطفه توته دوینو ﴿ فَخَلَقْنَا ٱلْعَلَقَةَ مُضْغَةً ﴾ بیاوګرزوله مورږدا توته سرښناکه یوه وړه بوټي غوښه (لکه غوښه غوندي چي نه پکي شکل صورت نیولی اونه هم پکي کوم پلان تړل شوی وو﴿ فَخَلَقْنَا ٱلْمُضْغَةَ عِظَٰمًا ﴾ بیا وګرزوله مورږدغه وړه بوټي هډوکي (کلک چي دبدن لپاره ستني شي)﴿ فَكَسَوْنَا ٱلْعِظَٰمَ لَحْمًا ثُمَّ أَنشَأْنَٰهُ خَلْقًا ءَاخَرَ ﴾ بیاورواغوستله مورږدي هډوکوته غوښه بیامو(ژوندی)پیداکړ دی په بل پیدایښت سره (په احسن تقویم ډول امام رازي وایې معناداچي دغه پیدایښت برعکس د لومړي پیدایښت دی چي لومړی جماداوبیاانسان شواوناطق جوړشوکله چي پخواګونګی وو، اوریدونکی جوړشوچي ترله مخه کوڼ وو،لیدونکی جوړشوچي پخوابه ړوندوواوپه هرغړي اواندام کي الله دفطرت عجائب خوندي کړل اودحکمت غرائب یی پکي پیداکړل چي دصفت کونکو وس دلته ناوسه دی ﴿ فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ أَحْسَنُ ٱلْخَٰلِقِينَ ﴾ بس ډیرلوی دی دالله شان هغه ذات چي ډېرښه پیدا کونکی دی (له ټولوپیداکونکو څخه)﴿ ثُمَّ إِنَّكُم بَعْدَ ذَٰلِكَ لَمَيِّتُونَ ﴾ بیابیشکه تاسي پس له دي ژوندي کولو دستاسي خامخامړه کیدونکي یې﴿ ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ تُبْعَثُونَ ﴾ بیابیشکه تاسي به په ورځي د قیامت کي بیاراپاڅول شي (دحساب اوجزالپاره اکله چي الله تعالی دانسانی خلقت مختلف پوړونه وښودل اودهغه ییل اوپای یی څرګندکړنوورپسی یی دآسمانونواوځمکویادونه وفرمایله ترڅودالله (جل جلاله)په وجود باندي کوټلی دلیل پیداشی ویی ویل:﴿ وَلَقَدْ خَلَقْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعَ طَرَآئِقَ ﴾ اوخامخا په تحقیق پیداکړی دی

---

(١) التسهیل ٣ / ٤٩

(٢) أخرجه مسلم.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

موږ پاس په سردتاسي اوه لیاري (اسمانونه)څکه یې ورته طرائق وویل چي ځیني یې دځینو دپاسه دی ﴿ وَمَا كُنَّا عَنِ ٱلْخَلْقِ غَٰفِلِينَ ﴾ اونه یوموږله خلقوڅخه بې خبره (بلکه هغوی ساتو او دچاروتدبیریی کوو ﴿ وَأَنزَلْنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءًۢ بِقَدَرٍ ﴾ اونازلې کړي دي موږ له (طرفه)دآسمانه اوبه په اندازه دارتیانه زیاتې چي مځکه ورانه کړي اونه لږچي دمیوو غلوکفایت (بسنه)نه کوي ﴿ فَأَسْكَنَّٰهُ فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ وومودرولی دغه اوبه په ځمکه کي ترڅودضرورت په وخت کي ورڅخه ګټه واخلی ﴿ وَإِنَّا عَلَىٰ ذَهَابٍۭ بِهِۦ لَقَٰدِرُونَ ﴾ اوبیشکه موږپه ورک کولوبیولوددي (اوبو) هرومروقادریو (دغه وعیداو تهدید دی یعني موږ دد غواوبوپه ځمکه کي په بیخي لاندي بیولوهم قادریوچي بیابه تاسواو ستاسي څاروي له تندي هلاک شي ابن کثیررحمه الله وایې معناداچي که موږ وغواړو دا اوبه به له ځمکي دومره تل ته دننه کړو چي تاسوورته نشي رسیدلای او ورباندي ګټه نشوای اخیستلای خوالله په خپل بشپړلطف او مهرباني اورښت له وریځی څخه دخوږو اوخوندور و اوبووکړاوبیایی په ځمکه کي خوندي کړي چي وروسته دچینوپه شکل له ځمکي راوزي او رودونه (نهرونه)بهیږي غلې دانې اوبوي اوهم دا رنګه تاسواوستاسي څلوربول اوڅاروي یی څښي (١)﴿ فَأَنشَأْنَا لَكُم بِهِۦ جَنَّٰتٍ مِّن نَّخِيلٍ وَأَعْنَٰبٍ ﴾ پس بیاموږ تاسي ته پیداکړی پیداکړی دي پدي اوبوسره رنګارنګ باغونه له خرماوو له انګورو ﴿ لَّكُمْ فِيهَا فَوَٰكِهُ كَثِيرَةٌ وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ ﴾ چي شته تاسي ته پدي باغونوکي میوې ډیري اوله دي (باغونو)څخه تاسي (میوې)خوری د ژمي دوبي لکه وچي لمدې (کشمش،انګور)لمدې خرماوې (رطب)اووچي خرماوي(تمر) اوداچي انګوراوخرماوې یې ځانګړي کړل ځکه چي پکي ډېرې ګټې دي دغه دواړه د ډوډۍ اوکتغ دواړو پرځای دریږی او وچي لمدې یې دفاکهې لپاره استعمالولای شي همدغه دعربوتر ټولو زیاته فاکهه تشکیلوی ﴿ وَشَجَرَةً تَخْرُجُ مِن طُورِ سَيْنَآءَ ﴾ او(بل پیداموکړه هغه) ونه چي وزی له (غره د)طورسینا څخه)یعني دزیتون ونه چي دطوردغره خواوشاهغه چي الله جل جلاله په هغه غره باندي له موسی علیه السلام سره خبرې اترې کړي وې زرغونیږي ﴿ تَنۢبُتُ بِٱلدُّهْنِ وَصِبْغٍ لِّلْءَاكِلِينَ ﴾ زرغونیږی له غوړوسره اوله انګولی(سالن)سره لپاره دخوړونکیویعني غوړی راوړي هغه چي ستري ګټې پکي دي اوکتغ دي ځکه یی صبغ وبلله کله چي ډوډۍ پکي ومروړل شی کتغ هم مړی رنګوي الله پاک پدې ونه کي دوه نعمتونه یوځای کړي یوغوړي بل انګولي په یوحدیث شریف کي راځی چي تیل (غوړی) یې خورئ او ځان ورباندغوړ وئ چي دغه مبارکه ونه ده (٢)﴿ وَإِنَّ لَكُمْ فِى ٱلْأَنْعَٰمِ لَعِبْرَةً ﴾ اوبیشکه تاسي ته په څارویوکي خامخاعبرت دی یعني په اوښو،غواوو اومیږوکي سترپنددی ښایي چي ځني عبرت واخلي . ﴿ نُّسْقِيكُم مِّمَّا فِى بُطُونِهَا ﴾ چي څښوموږ تاسي ته له هغوپیونه چي په ګېډوددوی کي دی (خوږې شیدی دڅښونکولپاره هغه چي

---

(١) مختصرابن کثیر٢ / ٥٦٣

(٢) أخرجه احمد

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

دوينواوخوشايوله مينځه يې راوباسو) ﴿ وَلَكُمْ فِيهَا مَنَٰفِعُ ﴾ او شته تاسي ته پدغوڅارويوکي ګټې (فائدې) ډېري ،شيدې يې څښي له وړيويې جامې جوړوي اواوغوندې يې ، وربانديې سپرېږي اودراند بارونه وربانديې باروي ﴿ وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ ﴾ اوله دوې څخه تاسي خوري غوښې ﴿ وَعَلَيْهَا وَعَلَى ٱلْفُلْكِ تُحْمَلُونَ ﴾ اوپردغو(څاروو)اوپرېيوباندي تاسي بارولې شي)يعني تاسي پراوښانوپه وچه اوصحرا کي داسي بارول کيږي لکه چي په سمندرکي په بيړيوباندي څکه اوښان دوچي (بر) بيړۍ دي لکه چي بيړۍ په بحرکي درومي همداسي دوي په صحراکي چلېږي .

بلاغت:

په آيتونوکي دبديع اوبيان ښکلاوې شته چي لنډيزيې دادي :

١:دماضي په صيغه سره اخبارکول چي ثبوت اوتحقيق وښيي لکه چي فرمايي ﴿ قَدْ أَفْلَحَ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴾ اوهمداسي د(قد)کلمه دتحقيق دافادې لپاره ده .

٢-تفصيل له اجماله ورسته چي فرمايې ﴿ ٱلَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَٰشِعُونَ وَٱلَّذِينَ هُمْ عَنِ ٱللَّغْوِ مُعْرِضُونَ ﴾.

٣:نااانکاره څيزدانکاري پرځای راوړل لکه چي ﴿ ثُمَّ إِنَّكُم بَعْدَ ذَٰلِكَ لَمَيِّتُونَ ﴾ خلک خوله مرګه هيڅ وخت انکارنه کوي خوددوي غفلت اوبې خبري اوداچي دمرګ لپاره يې تياري نه وي نيولې دا دواړه دانکارله ننبو څخه ښکاريږي څکه يې نودانکارپرځای ودرول اورايې وړل .

٤ :لطيفه استعاره چي فرمايې ﴿ سَبْعَ طَرَآئِقَ ﴾ اوه آسمانونه يې دڅپليوله مخ سره مشابه کړي هغه چي ځيني يې په ځينودپاسه وي اودغه استعاره ده.

٥ : تهديدچي فرمايې ﴿ وَإِنَّا عَلَىٰ ذَهَابٍ بِهِۦ لَقَٰدِرُونَ ﴾.

٦ :غيرتکليفي سجع چي فرمايې ﴿ خَٰشِعُونَ ....حَٰفِظُونَ ....ٱلْعَادُونَ ﴾ آن تردي پوري چي ﴿ طِينٍ ....مَّكِينٍ....ٱلْخَٰلِقِينَ ﴾ چي ټول دغه بديعي محسنات دي .

تنبيه:

الله تعالی پدی مباکوآيتونوکي چي له ﴿ وَلَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ ﴾ څخه نيولې بياتر ﴿ وَعَلَى ٱلْفُلْكِ تُحْمَلُونَ ﴾ پوري دخپل قدرت دڅلورډوله نعمتونويادونه کړې ده لومړی داچي دانسان دپيدايښت نه ګوني (٩) مرحلې يې ښودلې چي وروستنۍ يې بعث بعدالموت دي دوهم داوو آسمانونوخلقت دريم له آسمانه دباران اورښت څلورم له حيواناتوڅخه ګټې ترلاسه کول چي دلته يې څلورګټې په ګوته کړي په شيدوګټه اخيستل په وړيوپه غوښه اوسپريدلوباندي له هغوی څخه منفعتونه خپلول .

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

فائده اوګټه:

امام احمد له عمربن الخطاب (رضي الله عنه) عنه نه روايت کوي چي هغه وويل کله چي به په رسول الله ﷺ وحی نازليدله دهغه په وړاندي به لکه دمچيودګنه ګونې غوندي اوازاوريدل کيدونويوه ورځ موږسره يوه ګړی ورسره ووچي دقبلې لوري ته مخامخ شولاسونه يی اوچت کړل اوداسي يی وويل: (اللهم زدنا ولاتنقصناواکرمناولاتهنناواعطناولاتحرمناوآثرناولاتؤثرعلينااوارضناوارض عنا)اوبيايی وويل په تحقيق سره خامخا په ماباندي لس آيتونه نازل شول هرڅوک چي يی پرځای کړي جنت ته به يی ورولی او بيايی لوستل پيل کړل چي ﴿ قَدْ أَفْلَحَ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴾ ترڅويی لس سره بشپړ کړل(١)

الله تعالی فرمايي:

﴿ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِۦ فَقَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥٓ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٢٣﴾ فَقَالَ ٱلْمَلَؤُا۟ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِن
قَوْمِهِۦ مَا هَٰذَآ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُرِيدُ أَن يَتَفَضَّلَ عَلَيْكُمْ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ لَأَنزَلَ مَلَٰٓئِكَةً مَّا سَمِعْنَا بِهَٰذَا فِىٓ ءَابَآئِنَا ٱلْأَوَّلِينَ
﴿٢٤﴾ إِنْ هُوَ إِلَّا رَجُلٌۢ بِهِۦ جِنَّةٌ فَتَرَبَّصُوا۟ بِهِۦ حَتَّىٰ حِينٍ ﴿٢٥﴾ قَالَ رَبِّ ٱنصُرْنِى بِمَا كَذَّبُونِ ﴿٢٦﴾ فَأَوْحَيْنَآ إِلَيْهِ أَنِ
ٱصْنَعِ ٱلْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا فَإِذَا جَآءَ أَمْرُنَا وَفَارَ ٱلتَّنُّورُ فَٱسْلُكْ فِيهَا مِن كُلٍّ زَوْجَيْنِ ٱثْنَيْنِ وَأَهْلَكَ إِلَّا مَن
سَبَقَ عَلَيْهِ ٱلْقَوْلُ مِنْهُمْ وَلَا تُخَٰطِبْنِى فِى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓا۟ إِنَّهُم مُّغْرَقُونَ ﴿٢٧﴾ فَإِذَا ٱسْتَوَيْتَ أَنتَ وَمَن مَّعَكَ عَلَى ٱلْفُلْكِ
فَقُلِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِى نَجَّىٰنَا مِنَ ٱلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٢٨﴾ وَقُل رَّبِّ أَنزِلْنِى مُنزَلًا مُّبَارَكًا وَأَنتَ خَيْرُ ٱلْمُنزِلِينَ ﴿٢٩﴾ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ وَإِن
كُنَّا لَمُبْتَلِينَ ﴿٣٠﴾ ثُمَّ أَنشَأْنَا مِنۢ بَعْدِهِمْ قَرْنًا ءَاخَرِينَ ﴿٣١﴾ فَأَرْسَلْنَا فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْهُمْ أَنِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥٓ أَفَلَا
تَتَّقُونَ ﴿٣٢﴾ وَقَالَ ٱلْمَلَأُ مِن قَوْمِهِ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَكَذَّبُوا۟ بِلِقَآءِ ٱلْءَاخِرَةِ وَأَتْرَفْنَٰهُمْ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا مَا هَٰذَآ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ
يَأْكُلُ مِمَّا تَأْكُلُونَ مِنْهُ وَيَشْرَبُ مِمَّا تَشْرَبُونَ ﴿٣٣﴾ وَلَئِنْ أَطَعْتُم بَشَرًا مِّثْلَكُمْ إِنَّكُمْ إِذًا لَّخَٰسِرُونَ ﴿٣٤﴾ أَيَعِدُكُمْ أَنَّكُمْ إِذَا
مِتُّمْ وَكُنتُمْ تُرَابًا وَعِظَٰمًا أَنَّكُم مُّخْرَجُونَ ﴿٣٥﴾ ۞ هَيْهَاتَ هَيْهَاتَ لِمَا تُوعَدُونَ ﴿٣٦﴾ إِنْ هِىَ إِلَّا حَيَاتُنَا ٱلدُّنْيَا نَمُوتُ
وَنَحْيَا وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوثِينَ ﴿٣٧﴾ إِنْ هُوَ إِلَّا رَجُلٌ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا وَمَا نَحْنُ لَهُۥ بِمُؤْمِنِينَ ﴿٣٨﴾ قَالَ رَبِّ ٱنصُرْنِى بِمَا
كَذَّبُونِ ﴿٣٩﴾ قَالَ عَمَّا قَلِيلٍ لَّيُصْبِحُنَّ نَٰدِمِينَ ﴿٤٠﴾ فَأَخَذَتْهُمُ ٱلصَّيْحَةُ بِٱلْحَقِّ فَجَعَلْنَٰهُمْ غُثَآءً فَبُعْدًا لِّلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ
﴿٤١﴾ ثُمَّ أَنشَأْنَا مِنۢ بَعْدِهِمْ قُرُونًا ءَاخَرِينَ ﴿٤٢﴾ مَا تَسْبِقُ مِنْ أُمَّةٍ أَجَلَهَا وَمَا يَسْتَـْٔخِرُونَ ﴿٤٣﴾ ثُمَّ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا تَتْرَا كُلَّ مَا
جَآءَ أُمَّةً رَّسُولُهَا كَذَّبُوهُ فَأَتْبَعْنَا بَعْضَهُم بَعْضًا وَجَعَلْنَٰهُمْ أَحَادِيثَ فَبُعْدًا لِّقَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُونَ ﴿٤٤﴾ ثُمَّ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ وَأَخَاهُ
هَٰرُونَ بِـَٔايَٰتِنَا وَسُلْطَٰنٍ مُّبِينٍ ﴿٤٥﴾ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَإِيْهِۦ فَٱسْتَكْبَرُوا۟ وَكَانُوا۟ قَوْمًا عَالِينَ ﴿٤٦﴾ فَقَالُوٓا۟ أَنُؤْمِنُ لِبَشَرَيْنِ
مِثْلِنَا وَقَوْمُهُمَا لَنَا عَٰبِدُونَ ﴿٤٧﴾ فَكَذَّبُوهُمَا فَكَانُوا۟ مِنَ ٱلْمُهْلَكِينَ ﴿٤٨﴾ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ لَعَلَّهُمْ يَهْتَدُونَ

---

(١) اخرجه احمد والترمذی والنسائی

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

﴿ وَجَعَلْنَا ٱبْنَ مَرْيَمَ وَأُمَّهُۥٓ ءَايَةً وَءَاوَيْنَٰهُمَآ إِلَىٰ رَبْوَةٍ ذَاتِ قَرَارٍ وَمَعِينٍ ﴿٥٠﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلرُّسُلُ كُلُوا۟ مِنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَٱعْمَلُوا۟ صَٰلِحًا ۖ إِنِّى بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ﴿٥١﴾ وَإِنَّ هَٰذِهِۦٓ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَٰحِدَةً وَأَنَا۠ رَبُّكُمْ فَٱتَّقُونِ ﴿٥٢﴾ ﴾ المؤمنون: ٢٣ - ٥٢

مناسبت اوتړاو :

کله چي الله تعالی دتوحیددلائل دانسان ،حیوان،نبات،آسمان اوځمکي په پیدایښت کي وښودل اوپه خپلوبندګانویی نعمتونه وشمیرل نودلته یی دمکي دکفارولپاره دپخوانیودروغجن کونکوامتونومثالونه راوړل چي هغوی ته څه ډول عذابونه ورپیښ شوي وولومړی یی دنوح علیه السلام کیسه ورپسي دهودعلیه السلام اوبیادموسی علیه السلام اوفرعون له هغه وروسته دعیسی بن مریم علیه السلام کیسه راوړه چي پدي ګردوکي ددروغجن کونکو (مکذبینو)لپاره پندونه اونصیحتونه شته .

لغتونه:

(جِنة) په کسره سره لیونتوب ته وایې(فتربصوا) تربص انتظارته وایې معناپس انتظاروکړئ(مبتلین) ازمویښت کونکي (هیهات) دغه اسم فعل اود(بَعُدَ) په معنادی.(غثآء) هغه وأښه چي وچ شی او(غثاء السیل) هغه خس اوخاشاک ته وایې چي سیلاب یی داوبوپه سر راوړي(بعد) هلاکت اوخرابي ته وایې امام رازي وایې چي دغه اوددي امثال مصدرونه دي خودافعالو پرځای دریږي او سیبویه وایې چي دغه په هغه افعالوباندي منصوب دي چي اظهاریې نه کول کیږي او معنی یې د(بَعُدَ بُعداً) هلاک شوی په هلاکت سره (قرونا) أمتونه (تترا)پرله پسې (معین) بهېدونکي اوبه چي چینې یې ښکاره وي (احادیث) د(أحدوثة)جمع اوداهغه څه ته وایې چي دتعجب اوتسلیت په ډول کومي خبري اتري کېږي(ربوة) لوړځای ته وایې .

تفسیر :

﴿ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِۦ فَقَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥٓ ﴾ قسم دی خامخاپه تحقیق موږنوح لیږلی ووخپل قوم ته نوویل (نوح)ای زماقومه عبادت کوئ تاسي یوازی دالله نشته تاسي ته بل هیڅ معبودغیرله دغه (الله)مفسرین کرام وایې چي دغه درسول الله ﷺ لپاره تسلیت دی چي ورته دنوح علیه السلام کیسه اوروي او ورته داسی (حکم) کوي چي په هغه پسي اقتداوکړي دهغه صبرخپل کړي اوپدي خبرشي چي نورونبیانوته هم ددروغونسبتونه شوي دی. ﴿ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴾ ایاپس نه ویریږی تاسي (دالله له عذابه چي دبل چاعبادت کوی؟)پدی کي وعیداوزجرنغښتی دی ﴿ فَقَالَ ٱلْمَلَؤُا۟ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِن قَوْمِهِۦ ﴾ پس وویل هغومشرانوچي کافران شوی وولهقومه ددغه (نوح خپلواتباعوته)چي ﴿ مَا هَٰذَآ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُرِيدُ أَن يَتَفَضَّلَ عَلَيْكُمْ ﴾ ندی دانوح مګرستاسي په شان یوانسان دی اراده لري ددي خبري چي پرتاسومشرشی)یعني دغه سړی چي دنبوت په دعوی باندي پرتاسورئیس شی ترڅوتاسي دده اتباع اوپیروان شی اوزښته زیاته دتعجب خبره خوداده چي دوی دالیري ګڼله چي نبي دي له بشرڅخه

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

وي خود حجر (ذبري) لپاره يې ربوبيت پخپله ثابت کړی وو ﴿ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ لَأَنزَلَ مَلَٰٓئِكَةً ﴾ او که اراده وفرمايي الله دليږلو داستازی انسانانو ته نو خامخا پرښتي به يې ليږلي وای (نه انسانان) ﴿ مَّا سَمِعْنَا بِهَٰذَا فِىٓ ءَابَآئِنَا ٱلْأَوَّلِينَ ﴾ ندی اوريدلي موږ دا (چي رسول بشي آدم وي) په هغو پلرونو زموږ کي چي له پخوا وو ﴿ إِنْ هُوَ إِلَّا رَجُلٌۢ بِهِۦ جِنَّةٌ ﴾ ندی دا (نوح) مګر يو داسي سړی دی چي ليونتوب ورسره دی ﴿ فَتَرَبَّصُوا۟ بِهِۦ حَتَّىٰ حِينٍ ﴾ پس تاسي انتظار کوئ ده ته تر يو وخته پوري (او صبر ورته وکړئ تر څو چي ومري) ﴿ قَالَ رَبِّ ٱنصُرْنِى بِمَا كَذَّبُونِ ﴾ وويل (نوح) ای زما ربه زما مدد وکړه په سبب ددي چي زما تکذيب يې وکړ يعني نوح عليه السلام کله چي ورته څرګنده شوه چي دوی ايمان نه راوړي او دده تکذيب يې وکړنو د ګردو د هلاکت دعا يې وکړه چي الهی ا زما مرسته وکړي او دوی ټول هلاک کړي ﴿ فَأَوْحَيْنَآ إِلَيْهِ أَنِ ٱصْنَعِ ٱلْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا ﴾ پس وحی وکړه موږ دغه (نوح عليه السلام ته) داسي چي اوس يوه بيړۍ جوړه کړه په ليدلو (ساتلو) زموږ ﴿ وَوَحْيِنَا ﴾ او په وحی (ښوونه) زموږ سره ﴿ فَإِذَا جَآءَ أَمْرُنَا وَفَارَ ٱلتَّنُّورُ ﴾ پس کله چي راغی حکم زموږ (د عذاب په انزال باندي) او راو وخوټيد و تنور مفسرين کرام وايي چي الله تعالی همدغه د نوح عليه السلام لپاره دده د قوم په هلاکت باندي علامه او نښه ګرزولې وه ﴿ فَٱسْلُكْ فِيهَا مِن كُلٍّ زَوْجَيْنِ ٱثْنَيْنِ ﴾ پس ورننباسه (سپاره کړه) پدې بيړۍ کي له هره قسمه جوړه ، (نر او ښځه) تر څو چي د دغه حيوان نسل او ذات منقطع نشی او ونه شليږي ﴿ وَأَهْلَكَ إِلَّا مَن سَبَقَ عَلَيْهِ ٱلْقَوْلُ مِنْهُمْ ﴾ او اهل بيت خپل (هم) پرته له هغه چا چي ړومبی شوي ده په ده خبره (د عذاب) له ده نه (لکه مېرمن او زوی يې) ﴿ وَلَا تُخَٰطِبْنِى فِى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓا۟ ۚ إِنَّهُم مُّغْرَقُونَ ﴾ او مه کوه له ما سره خبرې په باب د هغو کسانو کي چي ظلم کړی دی دوی (پخپلو ځانونو) بيشکه دوی غرق کولی شی يعني ته د ظالمانو په هکله سپارښتنه مکوه کله چي د دوی عذاب او هلاکت راشی ځکه پر دوی باندي د غرقيدلو فيصله صادره شوې او هيڅ بدلون نه منی ﴿ فَإِذَا ٱسْتَوَيْتَ أَنتَ وَمَن مَّعَكَ عَلَى ٱلْفُلْكِ ﴾ نو کله چي برابر شوی و ختلی ته (ای نوحه) او هغه (مومنانو) چي له تا سره دی پر بيړۍ باندي ﴿ فَقُلِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِى نَجَّىٰنَا مِنَ ٱلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ نو ووايه چي ټول حمد ثناء خاص الله ته دی چي موږ يې د ظالمانو (مشرکانو) څخه خلاص کړو او دلته چي يې وفرمايل ﴿ فَقُلِ ﴾ او داسي يې ونه ويل چي (فقولوا) ځکه چي حضرت نوح د دوی امام او نبي وو او هغه ته خطاب دوی ته خطاب دی ﴿ وَقُل رَّبِّ أَنزِلْنِى مُنزَلًا مُّبَٰرَكًا وَأَنتَ خَيْرُ ٱلْمُنزِلِينَ ﴾ او ووايه (ای نوحه د کوزيدلو په وخت کي) ای زما ربه ما په يو داسي ځای کي کوز کړه چي برکتناک وی حال دا چي ته ډېر غوره يې د ټولو کوزونکيو څخه يعني ای الله ما په مبارک کوزيدلو چي له هرې بدۍ او شر څخه مي وژغوري کوز کړه (ابن عباس (رضي الله عنه) وايي دغه وينا د کوزيدلو په وخت کي ده او ته خير المنزلين د خپلو اولياءو

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

اوساتونکی دبندګانو یی ﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَٰتٍ ﴾ بیشکه په دغه (کیسه د نوح) کي خامخا دلائل (دعبرت اوقدرت زموږ) دي (چي خلک ورڅخه پند اخلي) ﴿ وَإِن كُنَّا لَمُبْتَلِينَ ﴾ اوحال دا چي یوموږ خامخا دازموینبت کونکي (دانبیاوو په رالیږلو سره) ﴿ ثُمَّ أَنشَأْنَا مِنۢ بَعْدِهِمْ قَرْنًا ءَاخَرِينَ ﴾ بیا پیدا کړوموږ پس له هلاکه دنوح دقوم یواهل دزماني نور (چي عادیان وو) ﴿ فَأَرْسَلْنَا فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْهُمْ ﴾ پس ولیږلو موږ په هغوکي یواستازی (هود) له دوی څخه ﴿ أَنِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥٓ ﴾ (وویل موږ په ژبه دهغه رسول دوی ته) چي عبادت کوئ تاسي (یوازي) دالله نشته تاسي ته بل برحقه معبود پرته له الله تعالی ﴿ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴾ آیاپس تاسي نه ویریږئ (له عذابه دالله ﷻ او کسات دهغه چي ستاسي دکفرپه سبب یی درڅخه واخلی؟ ﴿ وَقَالَ ٱلْمَلَأُ مِن قَوْمِهِ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَكَذَّبُوا۟ بِلِقَآءِ ٱلْءَاخِرَةِ ﴾ او وویل مشرانوله قومه ددغه (نبی) څخه هغه کسان چي کافران شوی وواونسبت ددرغویی کړی وو ملاقات دآخرت ته اوله ثواب عذابه چي پکي دی. ﴿ وَأَتْرَفْنَٰهُمْ فِي ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ﴾ اونعمتونه ورکړي وو موږ دوی ته په دغه ژوندانه کي ﴿ مَا هَٰذَآ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ ﴾ (دوی خپلواتباعوته پداسي حال کي چي هغوی یی ګمراه کول وویل) ندی داچي دنبوت ګومان کوی مګریوبشرسړی دی په مثل ستاسي ﴿ يَأْكُلُ مِمَّا تَأْكُلُونَ مِنْهُ وَيَشْرَبُ مِمَّا تَشْرَبُونَ ﴾ چي خوري له هغه څیزه چي تاسي یې خوری او څښي له هغه څیزه چي تاسي له هغه څښی (هغه هم خوړلو څښلوته اړدی څکه نوترتاسوبهتري نلري) ﴿ وَلَئِنْ أَطَعْتُم بَشَرًا مِّثْلَكُمْ إِنَّكُمْ إِذًا لَّخَٰسِرُونَ ﴾ اوکه خامخاتاسوفرمان یو وړ دیوانسان په شان ستاسي بیشکه چي تاسي په هغه وخت کي خامخاله زیانکارانو څخه یاست څکه تاسي څانونه دهغه په متابعت ذلیل کړی دی ابوالسعود وایي: وګوره څرنګه دوی دبرحق پیغمبرمتابعت خسران اوتاوان ګني؟ خو دبتانوعبادت تاوان نه ګني چي ترهغه زیات خسران اوتاوان هډونشته (قَاتَلَهُمُ اللَّهُ أَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ) (١) ﴿ أَيَعِدُكُمْ أَنَّكُمْ إِذَا مِتُّمْ وَكُنتُمْ تُرَابًا وَعِظَٰمًا أَنَّكُم مُّخْرَجُونَ ﴾ آیاوعده کوی له تاسي سره چي بیشکه تاسي کله چي مړه شی خاوري شي اوهډوکي نوبیشکه چي تاسوبه راایستل کیږئ؟ استفهام دملنډود استهزاء اواستبعاد لپاره دی یعني کله چي تاسي خاوري ایرې شی بیادی دژوندا و بعثت وعده درکوي؟ اودا چي ﴿ أَنَّكُمْ ﴾ لفظ یې مکرر راوړچي تاکیدافاده کړي اوکله چي کلام اوږدشی تکرار حسن او ښه ابسي ﴿ هَيْهَاتَ هَيْهَاتَ لِمَا تُوعَدُونَ ﴾ ډیرلیري دی ډیرلیري دی هغه څه چي له تاسوسره وعده کولای شي (چي له قبرونوبه راپاڅیږي ددوی غرض پدي کي دادی چي له سره به داسي ونشي) ﴿ إِنْ هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا ٱلدُّنْيَا نَمُوتُ وَنَحْيَا ﴾ نه دی داژوندون مګرهمداژوندون زموږ ددنیاچي مروا وژوندي کیږو یعني ځیني به مړه کیږواوځیني به پیدا کیږو ترڅوچي دنیاودانه وي ﴿ وَمَا نَحْنُ

(١) ارشادالعقل السليم ٣١/٤

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

يَبْعُوثِينَ ﴾ اونه يو موږ بيا ژوندي پورته کړی شوي وروسته له مرګه ﴿ إِنْ هُوَ إِلَّا رَجُلٌ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا ﴾ ندی دغه (سړی) مګر يو سړی دی چي ترلي يې دي پر الله دروغ (چي تاسو ته يې رسالت راوړی اودمعاد خبر درکوي ﴿ وَمَا نَحْنُ لَهُ بِمُؤْمِنِينَ ﴾ اونه يو موږ پرده ايمان راوړنکي ﴿ قَالَ رَبِّ انْصُرْنِي بِمَا كَذَّبُونِ ﴾ (کله چي نبي د دوی له ايمان راوړلو ناهيلی شو) وی ويل ای ربه زما مدد وکړه له ماسره په سبب د دي چي دروغجن يې وبللم ﴿ قَالَ عَمَّا قَلِيلٍ لَيُصْبِحُنَّ نَادِمِينَ ﴾ نو وفرمايل الله چي پس له لږ مودې خامخا وبه ګرزي دوی پښيمانه (په کفر باندي) ﴿ فَأَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ بِالْحَقِّ ﴾ پس دوی ونيول چيغی دهلاک په عدل (حق) سره (نه په ظلم) ﴿ فَجَعَلْنَاهُمْ غُثَاءً فَبُعْدًا لِلْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ﴾ (پس هلاک شول) نو وګرزول موږ دوی دسيلاب خس او خاشاک، لری والی دی قوم دظالمانو ته (دالله له رحمته). مفسرين کرام وايې چي جبريل عليه السلام ورباندي چيغه کړه او ځمکه تري لاندي ولړزيده نو دوی له دغه شدته او سختي لکه شاوړي خس او خاشاک غوندي وګرزيدل (غثاء) هغه ناځيزه توکی ته وايې چي هيڅ ګټه ورڅخه نه اخيستل کيږي او داچي الله تعالی وفرمايل ﴿ فَبُعْدًا لِلْقَوْمِ ﴾ دغه دعائيه جمله ده يعني دوی لره دي هلاکت او دالله له رحمته ليري والی وی ﴿ ثُمَّ أَنْشَأْنَا مِنْ بَعْدِهِمْ قُرُونًا آخَرِينَ ﴾ بيا پيدا کړ موږ وروسته له هغوی نور خلک لکه دصالح، ابراهيم، لوط او شعيب عليهم السلام قومونه ابن عباس (رضي الله عنه) وايې چي دغه بنی اسرائيل دی او په کلام کي حذف شته تقديريی دادی چي دوی دخپلو نبيانو تکذيب وکړاو موږ همدوی هلاک کړل او پدي باندي دالله تعالی داوينا دلالت کوي چي: ﴿ مَا تَسْبِقُ مِنْ أُمَّةٍ أَجَلَهَا وَمَا يَسْتَأْخِرُونَ ﴾ يعني هيڅ امت له امتونو له ټاکلی مودې د مخه دهلاکت ځای ته نه وړاندي کيږی اونه هم تري وروسته کيږي ﴿ ثُمَّ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا تَتْرَا ﴾ بيا وليږل موږ خپل استازی حال داچي يو په بل پسی پيوست وو. ابن عباس وايې چي ځينو دځينو نورو متابعت کاوو ﴿ كُلَّ مَا جَاءَ أُمَّةً رَسُولُهَا كَذَّبُوهُ ﴾ (هرکله چي رابه غی کوم امت ته رسول ددوی نو هغه به يی دروغجن وباله) پدي کي ددوی دبشپړې ګمراهی څرګندونه کيږي او ددوی تشنيع ده يعني دوی دخپلو نبيانو په تکذيب کي درومبنيو تګ لاره غوره کړه ځکه فرمايی: ﴿ فَأَتْبَعْنَا بَعْضَهُمْ بَعْضًا ﴾ پس پرله پسي به کړل موځيني ددوی په ځيني نورو (په هلاکولو کي) ﴿ وَجَعَلْنَاهُمْ أَحَادِيثَ ﴾ او وګرزول موږ دوی تشي کيسې (چي خلک ورباندي دتعجب او ساتيري لپاره ږغيږی ﴿ فَبُعْدًا لِقَوْمٍ لَا يُؤْمِنُونَ ﴾ پس لري والی دی (دالله له رحمته) هغه قوم ته چي ايمان نه راوړي (په الله او پيغمبرباندي) ﴿ ثُمَّ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ وَأَخَاهُ هَارُونَ بِآيَاتِنَا ﴾ بيا وليږل موږ موسی او دده ورور هارون په دلائلو معجزاتو (لکه لکړه، سپين لاس، ملخ، اونور..... چي ګرده نهه معجزې وې ﴿ وَسُلْطَانٍ مُبِينٍ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَائِهِ ﴾ او په برهان دليل ښکاره سند (چي ددښمن ماتونکي وو)

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

طرف د فرعون او قوم دده ته (ملاء د قوم متکبرین او اشراف دی) ﴿ فَٱسْتَكْبَرُوا۟ وَكَانُوا۟ قَوْمًا عَالِينَ ﴾ پس کبر سرکشي يې وکړه (له ايمانه) حال داچي دوی متکبر قوم (ظالمان او سرغړونکي) وو ﴿ فَقَالُوٓا۟ أَنُؤْمِنُ لِبَشَرَيْنِ مِثْلِنَا ﴾ پس وويل (دوی) ايا پس موږ ايمان راوړو په دوو سړيو په شان زموږ (او تابعان يې شو؟) ﴿ وَقَوْمُهُمَا لَنَا عَٰبِدُونَ ﴾ حال دا چي ددوی (موسی او هارون) قوم زموږ خادمان (مريان) دی ﴿ فَكَذَّبُوهُمَا فَكَانُوا۟ مِنَ ٱلْمُهْلَكِينَ ﴾ پس دروغجن وبلل دغو (موسی او هارون) دواړو لره پس شول له هلاک کړی شويو (په بحر کي په غرقيدلو) ﴿ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ لَعَلَّهُمْ يَهْتَدُونَ ﴾ او خامخا په تحقيق ورکړی وو موږ موسی ته کتاب (تورات) ښايي چي دغه (بنی اسرائيل وروسته د فرعون له غرقيدلو) سمه صافه لاره ومومي ﴿ وَجَعَلْنَا ٱبْنَ مَرْيَمَ وَأُمَّهُۥٓ ءَايَةً ﴾ او کړزولي وه موږ داکيسه دزوی د مريمي او مور دده (مريمي) يو (لوی) دليل د کمال (قدرت) زموږ ﴿ وَءَاوَيْنَٰهُمَآ إِلَىٰ رَبْوَةٍ ﴾ او ځای ورکړی راوستی وو موږ دوی هسکي ځمکي (بيت المقدس) ته ابن عباس (رضي الله عنه) وايي چي لوړه ځمکه دزرغونتيالپاره هغه ترټولو غوره وي ﴿ ذَاتِ قَرَارٍ وَمَعِينٍ ﴾ چي خاونده د کرارده (او سيدونکي يی آرام ژوند تيروي) او خاونده د پاکو صافو بهيدونکو او بوده امام رازي وايي چي قرار هره ځمکه چي غوړيدلي پراخه وي او معين بيا هغه جاري روانې اوبه په سرد ځمکي ته وايي قتاده وايي چي معنا داچي ميوې، اوبه لري يعني دميوولـه کبلـه او سـيدونکي پکـي (بېغمـه سوکاله) او سي(۱) ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلرُّسُلُ كُلُوا۟ مِنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَٱعْمَلُوا۟ صَٰلِحًا ﴾ ای رسولانو خورئ تاسي له طيباتو (پاکيزه خوراکونو) څخه او وکړئ تاسي ښه (عملونه) دغه نداء د خپل وخت هريو پيغمبر ته ده چي امت ته يی ارشاد کړی لکه چي ته کوم سوداګر ته خطاب کوي وايي: ای سوداګرو له سود څخه ځان وساتئ! ﴿ إِنِّى بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ﴾ بيشکه زه پرهغو کارونو چي تاسي يی کوئ ښه عالم خبردار يم دغه وعيد او تهديد دی يعني ستاسي د اعمالو هيڅ له ما څخه الونيا او پټ نه دی قرطبي وايي چي ټول په وعيد کي شامل دي نو کله چي دغه د انبياوو او پيغمبرانو حال وي نو د نورو خلکو په خپلو ځانونو څه ګومان دی؟(۲) ﴿ وَإِنَّ هَٰذِهِۦٓ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَٰحِدَةً ﴾ او بيشکه دا (دين) د تاسي (او ستاسي د امتيانو) دی چي يو دين دی ﴿ وَأَنَا۠ رَبُّكُمْ فَٱتَّقُونِ ﴾ او زه ستاسي رب يم نو له ما وويرېږئ!

بلاغت:

دغه آيتونه د بديع او بيان په ښکلاوو مشتمل دی چي لنډيزيی دادی:

---

(۱) التفسير الکبير ۲۳ / ۱۰۳

(۲) القرطبي ۱۲ / ۱۲۸

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

١ـ بديعه استعاره لکه : ﴿ أَصْنَعِ ٱلْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا ﴾ دلته له ساتنی او حفظ څخه مبالغه په سترګو کړی څکه یو څوک چي دیو څیز ساتنه کوی غالبًا هغه په سترګو څاري نو څکه د(عین)یادونه دحفظ او څارني پرځای راغلی ده .

٢ـ کنایه ﴿ وَفَارَ ٱلتَّنُّورُ ﴾ دغه له شدت څخه کنایه ده لکه چي وايي (حمی الوطیس)او څینو عالمانو له تنور څخه دځمکي مخ مجازًا اخیستی دی .

٣ـ اشتقاقی جناس لکه ﴿ أَنزِلْنِي مُنزَلًا ﴾ او ﴿ تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ﴾ .

٤ـ طباق صنعت لکه چي فرمایی: ﴿ نَمُوتُ وَنَحْيَا ﴾ او ﴿ نَسْبِقُ ﴾ او ﴿ يَسْتَأْخِرُونَ ﴾ .

٥ـ په دي کلام کي ناقص جناس دی کله چي الله تعالی ارشاد کوي ﴿ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا ﴾ څکه چي دځینو تورو تغیرله شکله سره سره پکي شته .

٦ـ بلیغه تشبیه لکه ﴿ فَجَعَلْنَاهُمْ غُثَاءً ﴾ یعني لکه خس خاشاک چي سپک سپاندا وژرله مینځه ځی وجه دشبه او دتشبیه ادات پکي نشته نو بلیغه تشبیه ده .

٧ـ داطناب اسلوب چي پدی کلام کي موندل کیږي ﴿ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِلِقَاءِ ٱلْآخِرَةِ وَأَتْرَفْنَاهُمْ فِي ٱلْحَيَاةِ ٱلدُّنْيَا ﴾ چي دغه ددوی بدي ستایي او پردوی باندي دناولتیا او ناپاکي څرګندبدل او تسجیل تثبیت نیي.

٨ـ لطیفه سجع چي الله فرمایی : ﴿ تَنْقُونَ ...تَشْرَبُونَ...تُخْرَجُونَ ﴾ او ﴿ عَالِينَ ...ٱلْمُهْلِكِينَ ...قَرَارٍ وَمَعِينٍ ﴾ .

فائده :

دبشر لفظ دواحد او جمع دواړو لپاره راځی لکه : ﴿ فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرًا سَوِيًّا ...أَنُؤْمِنُ لِبَشَرَيْنِ مِثْلِنَا ﴾ او کله چي په جمع یی اطلاق کیږی هغه لکه ﴿ فَإِمَّا تَرَيِنَّ مِنَ ٱلْبَشَرِ أَحَدًا ... وَمَا هِيَ إِلَّا ذِكْرَى لِلْبَشَرِ ﴾ دغه پورتنی فائده دکشاف افاده ده .

****

الله تعالی فرمایی:

﴿ فَتَقَطَّعُوا أَمْرَهُم بَيْنَهُمْ زُبُرًا كُلُّ حِزْبٍ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ ﴿٥٣﴾ فَذَرْهُمْ فِي غَمْرَتِهِمْ حَتَّىٰ حِينٍ ﴿٥٤﴾ أَيَحْسَبُونَ أَنَّمَا نُمِدُّهُم بِهِ مِن مَّالٍ وَبَنِينَ ﴿٥٥﴾ نُسَارِعُ لَهُمْ فِي ٱلْخَيْرَاتِ بَل لَّا يَشْعُرُونَ ﴿٥٦﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ هُم مِّنْ خَشْيَةِ رَبِّهِم مُّشْفِقُونَ ﴿٥٧﴾ وَٱلَّذِينَ هُم بِآيَاتِ رَبِّهِمْ يُؤْمِنُونَ ﴿٥٨﴾ وَٱلَّذِينَ هُم بِرَبِّهِمْ لَا يُشْرِكُونَ ﴿٥٩﴾ وَٱلَّذِينَ يُؤْتُونَ مَا آتَوا وَّقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ أَنَّهُمْ إِلَىٰ رَبِّهِمْ رَاجِعُونَ ﴿٦٠﴾ أُولَٰئِكَ يُسَارِعُونَ فِي ٱلْخَيْرَاتِ وَهُمْ لَهَا سَابِقُونَ ﴿٦١﴾ وَلَا نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا وَلَدَيْنَا كِتَابٌ يَنطِقُ

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

بِالْحَقِّ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٦٢﴾ بَلْ قُلُوبُهُمْ فِي غَمْرَةٍ مِّنْ هَٰذَا وَلَهُمْ أَعْمَالٌ مِّن دُونِ ذَٰلِكَ هُمْ لَهَا عَامِلُونَ ﴿٦٣﴾ حَتَّىٰ إِذَا أَخَذْنَا
مُتْرَفِيهِم بِالْعَذَابِ إِذَا هُمْ يَجْأَرُونَ ﴿٦٤﴾ لَا تَجْأَرُوا الْيَوْمَ إِنَّكُم مِّنَّا لَا تُنصَرُونَ ﴿٦٥﴾ قَدْ كَانَتْ آيَاتِي تُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ فَكُنتُمْ عَلَىٰ
أَعْقَابِكُمْ تَنكِصُونَ ﴿٦٦﴾ مُسْتَكْبِرِينَ بِهِ سَامِرًا تَهْجُرُونَ ﴿٦٧﴾ أَفَلَمْ يَدَّبَّرُوا الْقَوْلَ أَمْ جَاءَهُم مَّا لَمْ يَأْتِ آبَاءَهُمُ الْأَوَّلِينَ
﴿٦٨﴾ أَمْ لَمْ يَعْرِفُوا رَسُولَهُمْ فَهُمْ لَهُ مُنكِرُونَ ﴿٦٩﴾ أَمْ يَقُولُونَ بِهِ جِنَّةٌ بَلْ جَاءَهُم بِالْحَقِّ وَأَكْثَرُهُمْ لِلْحَقِّ كَارِهُونَ ﴿٧٠﴾
وَلَوِ اتَّبَعَ الْحَقُّ أَهْوَاءَهُمْ لَفَسَدَتِ السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ وَمَن فِيهِنَّ بَلْ أَتَيْنَاهُم بِذِكْرِهِمْ فَهُمْ عَن ذِكْرِهِم
مُّعْرِضُونَ ﴿٧١﴾ أَمْ تَسْأَلُهُمْ خَرْجًا فَخَرَاجُ رَبِّكَ خَيْرٌ وَهُوَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ ﴿٧٢﴾ وَإِنَّكَ لَتَدْعُوهُمْ إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٧٣﴾ وَإِنَّ
الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ عَنِ الصِّرَاطِ لَنَاكِبُونَ ﴿٧٤﴾ ﴾ المؤمنون: ٥٣ - ٧٤

مناسبت او تړاو:

کله چې الله تعالی دانبیاوو علیهم السلام کیسې یادې کړې ورپسې یې دسرغړونکو کفارو کیسې راوړې چې څرنګه هغوی په خلکوکې تفرقې او اختلافونه پیدا کړی وو؟ او هغوی یې په مختلفولارو او کوڅوروان کړي وو ترڅو چې انسانان ددغو ګمراهانو له کړوړو څخه عبرت واخلي او ځان ترې وژغوري.

لغتونه:

(زبرا) دزبور جمع او داوسپنې او یازروتوتې ته ویل کیږي (غمرتهم) حیرانتیا او ګمراهي ته وایي اصل یې په اوبو کې ډوبېدل دي (یجارون) فریاد کونکي کله چې په زاري عاجزي غږاوچتوي لکه چې غوایي غږونه کوي (تنکصون) (نکوص) په شاتګ ته وایي (ناکبون) له لارې څخه کږېدل (نکوب) بولي.

تفسیر:

﴿ فَتَقَطَّعُوا أَمْرَهُم بَيْنَهُمْ زُبُرًا ﴾ پس پري (غوڅ) کړدوی دین خپل پخپل مینځ کې توټې توټې (چې دغه مجوسي دی دغه یهودي او دغه نصراني دی) ﴿ كُلُّ حِزْبٍ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ ﴾ هریو ګوند (له دوی نه) په هغه (باطل دین) چې له دوی سره دی خوشحال دی (داسې ورته ښکاري چې دی پرحق او ګټه کې اوله ده پرته نورپه ګمراهي اوتاوان کې دی) ﴿ فَذَرْهُمْ فِي غَمْرَتِهِمْ ﴾ پس پریده (ای محمده!؛ دوی په خپلې ګمراهي کې (خطاب رسول الله ﷺ ته اوضمیردمکی کفاروته راجع دی) ﴿ حَتَّىٰ حِينٍ ﴾ تریوه وخته پورې (دمرګ پدې کې درسول الله لپاره ډاډینه او کفاروته تهدیددی ﴿ أَيَحْسَبُونَ أَنَّمَا نُمِدُّهُم بِهِ مِن مَّالٍ وَبَنِينَ ﴾ ایادوی ګومان کوی چې بیشکه هرهغه څیزچې موږیی ورکوودوی ته (په دنیا کې) له مال او زامنو ﴿ نُسَارِعُ لَهُمْ فِي الْخَيْرَاتِ ﴾ چې تلوارکوومو ږدوی ته په خیراتونو (نه ده داسې بلکه دغه ددوی لپاره استدراج دی اوددوی دګناهونوزیاتوالی دی څکه ورپسې فرمایې: ﴿ بَل لَّا يَشْعُرُونَ ﴾ بلکه دوی نه پوهېږي (چې دغه امهال او استدراج دی یعني دوی چارپایان غوندې دي په چارویې سرنه خلاصېږي

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

په آیت شریف کي دمشرکانودګومانونو تردیددی چي دوی به ویل داچي موږته مالونه اولادونه راکول کیږي همدغه دالله دخوښی لامل دی لکه چي الله ورڅخه حکایت کوی فرمایي: ﴿ وَقَالُوا نَحْنُ أَكْثَرُ أَمْوَالًا وَأَوْلَادًا وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ ﴾ اوپه حدیث شریف کي راځی چي: الله پاک دنیا هرچاته ورکوی چي که خوښ یي وي اویابي خوښ نه وي مګردین هغه چاته ورکوي چي هغه یي خوښ وي (١) اوکله چي الله تعالی تعالی دمشرکانوبدي بیان کړې نوورپسي دمؤمنانوخورانبه صفات په دي ډول یادوي چي: ﴿ إِنَّ الَّذِينَ هُم مِّنْ خَشْيَةِ رَبِّهِم مُّشْفِقُونَ ﴾ بیشکه هغه کسان چي دوی له (خوفه) د عذاب درب خپل وېرېدونکي دي ﴿ وَالَّذِينَ هُم بِآيَاتِ رَبِّهِمْ يُؤْمِنُونَ ﴾ (اوهغه کسان دي چي دوی په آیتونو (دقرآن)درب خپل ایمان راوړی)یعني دالله تعالی دقرآن په آیتونوایمان راوړی اودکائنا توپه نښانو چي دالله سبحانه وتعالی په وجود دلالت کوي باورلرونکي دي (وفي کل شئ له آیة * تدل علی انه واحد) ﴿ وَالَّذِينَ هُم بِرَبِّهِمْ لَا يُشْرِكُونَ ﴾ او هغه کسان چي دوی پخپل رب پوري (بل هیڅ شی)نه شریکوي (بلکه یوازي الله ته عبادت کوي امام رازي وایي چي دلته مقصدایمان په توحیداودشریک نفی نه ده ځکه هغه په پورتني آیت کي شامل دي بلکه مراددخفي شرک نفی ده هغه چي عبادت (یوازی دالله دذات اودهغه درضااوخوښي لپاره کوئ (٢) ﴿ وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ مَا آتَوا وَّقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ ﴾ اوهغه کسان چي ورکوي هرهغه چي ورکوي (له زکاتونو، خیراتونه)حال داچي زړونه ددوی وېرېدونکي دي (له قبلېدلودهغه)حسن رحمه الله وایي چي دمؤمن دغه صفت دی چي احسان اوویره دواړه یوځای کوي اومنافق بیاګناه اوامن یوځای کوي پورتنی داحسان صفت د مؤمنانوڅلورم صفت دی ﴿ أَنَّهُمْ إِلَىٰ رَبِّهِمْ رَاجِعُونَ ﴾ بیشکه دوی خپل رب ته ورتلونکي دي یعني دوی په دې وېرېږي چي ګني دوی به دطاعاتواواعمالوپه هکله کوتاهي کړي وي دوی همداعقیده لري چي بیشکه خپل رب ته ورتلونکي دي اوهغه به ورسره حساب کوي روایت کیږي چي حضرت عائشې صدیقې ددغه آیت په هکله چي: ﴿ وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ مَا آتَوا وَّقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ ﴾ دی له رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي ایاداهغه څوک دي چي زناکوي ،غلاکوي،اوشراب څښي،اوله الله څخه وېرېږي ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : نه ای دصدیق لوري ! داهغه څوک دي چي لمونځونه کوي روژې نیسي اوخیراتونه ورکوي له دی سره سره له الله جل جلاله ویریږي (٣) ﴿ أُولَٰئِكَ يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ ﴾ دغه کسان ډیرتلوار کوي په نېکیوکي (ترڅولوړی درجې ومومي اومجرمین کفار دغسي نه کوي) ﴿ وَهُمْ لَهَا سَابِقُونَ ﴾ او دوی هغو(نېکیو)ته ړومبي کېدونکي دي (له نوروخلکو) امام فخرالدین الرازي وایي چي پدې پوه شه چي ددغوصفاتوخورانبکلی ترتیب دی لومړی صفت دسخته وېریدني اوخوف

---

(١) دحدیث شریف یوه ټوټه ده چي امام احمدراوړی دی.
(٢) التفسیرالکبیر ٢٣ / ١٠٧
(٣) اخرجه امام احمد.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

دی کوم چي له نه ښائیدونکي شیانو څخه هم دځان ژغورلو موجب ګرزي دوهم دالله په وحدانیت باورکول دی دریم دریاء په پریښودلوکي چي دهرډول طاعت په هلکه دی څلورم داچي دغه پوتنی دري سره صفتونه هلته بشپړاویوځای کیدی شي چي له طاعاتوسره سره دتقصیرویره موجوده وی اودغه ورستی ځای د صدیقینودی الله دی موږته موندل اورسیدل راپه برخه کړي آمین یارب العلمین (١) ﴿ وَلَا نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا ﴾ اونه مکلف کووهیڅ نفس مګر په اندازه دطاقت دهغه (دغه زموږ احسان اولطف دی دغه یی د مؤمنانوله صفتونوورسته څکه راووړچي دې ته اشاره وکړي چي دغه مخلصین دوی ترتوان پورته مکلف شوی نه دی اوټول مکلفیتونه دانسان په قدرت کي شته ﴿ وَلَدَيْنَا كِتَابٌ يَنطِقُ بِالْحَقِّ ﴾ اوله موږ څخه یوکتاب دی بیانوي حق رښتیا (اعمالنامه چي ټول خیراوشرپکي لیکلي په آخرت کي به په هغه سزا جزا ورکوو چي بیا فرمایی) ﴿ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴾ اوپردوی به هیڅ قسم ظلم ونکړی شي (په زیادت دعذاب او تنقیص دثواب کي قرطبي وایي چي په آیت شریف کي تهدید اوله ظلم څورڅخه امان ښکاره شوی دی (٢) ﴿ بَلْ قُلُوبُهُمْ فِي غَمْرَةٍ مِّنْ هَٰذَا ﴾ بلکه زړونه (ددغو کفارو) په غفلت کي دی له دغه (قرآنه) ﴿ وَلَهُمْ أَعْمَالٌ مِّن دُونِ ذَٰلِكَ هُمْ لَهَا عَامِلُونَ ﴾ (اوشته دوی ته عملونه (ناپاکه غیرله دغه کفراوشرک نه) چي دوی دهغو (عملونو) کونکي وي) یعني داچي دوی به یې په راتلونکي کي ترسره کوي ترڅویې بدمرغي لانبه څرګنده شي دوی دکفراوبدواعمالویوځای والی کړی دی نو څکه ددوی لپاره عذاب مقرردی ﴿ حَتَّىٰ إِذَا أَخَذْنَا مُتْرَفِيهِم بِالْعَذَابِ ﴾ ترهغه پوري کله چي ونیسو (هغه) غټان (غنیان) ددوی په (دنیوي) عذاب (لکه لوږه، قحط قتل اوبندي کېدل نو) ﴿ إِذَا هُمْ يَجْأَرُونَ ﴾ ناڅاپه دوی به فریادونه کوي (ژړا زاري او ناري به وهي) ﴿ لَا تَجْأَرُوا الْيَوْمَ إِنَّكُم مِّنَّا لَا تُنصَرُونَ ﴾ مه کوئ نن ورځ فریادبیشکه تاسي سره به ونکړی شي له موږڅخه هیڅ مدد (په خلاصولو دعذاب کي) ﴿ قَدْ كَانَتْ آيَاتِي تُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ ﴾ په تحقیق ووآیتونه (دقرآن) زماچي پرتاسي به لوستلی شو (تاسوبه اوریدل) ﴿ فَكُنتُمْ عَلَىٰ أَعْقَابِكُمْ تَنكِصُونَ ﴾ پس وي به تاسي په پنډیوخپلوګرزیدونکي بیرته (چي نه به مومنل) یعني تاسوبه بیرته (دشا لوري ته ګرزیدلاست تښتیدلاست دغه تمثیل دی چي د وی به له حق څخه په شاتګ اواعراض کاوو ﴿ مُسْتَكْبِرِينَ بِهِ ﴾ پداسي حال کي چي کبرکونکی به وی په سبب دهغه (قرآن) له ایمان څخه؛ ابن کثیر وایي چي ضمیر قرآن ته راجع دی اودوی به دشپې مجلسونه کول قرآنکریم به یی په نارواستایل هغه ته به یی کوډې، شعر، کهانت اوداسي نور چټي نومونه اوناروا صفتونه ایښودل (٢) ابن جوزی وایي چي ضمیربیت الله ته راجع دی اودغه هسی کنایه ده چي دغیر مذکورلپاره راوړل کیږي چي هغه د شهرت له کبله وی نو

---

(١) تفسیر کبیر ٢٣ / ١٠٧
(٢) القرطبي ١٢ / ١٣٤
(٣) مختصرابن کثیر ٢ / ٥٦٩

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

معنی داچي تاسي دبيت الله په سبب تکبراو ويار(فخر)کوی چي تاسوپه حرم کي په امن ياست او نور گردخلک په خپلوهيوادونوکي وېرېږي تاسووايياست چي موږدحرم اوسيدونکي يوله هيچانه ويريږو موږد بيت الله په لمن کي اوسو همدغه دابن عباس اونورو مفسرينو ويناهم ده (١)﴿ سَٰمِرًا تَهۡجُرُونَ ﴾ حال داچي دشپې کيسې کونکي به وي دمقدساتوپه طعن کي مسخرې به موکولې پرېښودل به مو (قرآن) يعني تاسودشپې په وروستي مجلسونوکي په قرآنکريم باندي طعن وايود هجر معناهغه چتي اوناکاره ويناده چي دوی به دقرآنکريم اوپيغمبر عليه السلام په هکله کوله ﴿ أَفَلَمۡ يَدَّبَّرُواْ ٱلۡقَوۡلَ ﴾ ايا پس کفارپه دی وينا کي فکرنه کوي (چي قرآن دی؟)څوپه دي وپوهيږي چي دغه دالله جل جلاله کلام اومعجزنظم دی نوبه ورباندي ايمان راوړي ﴿ أَمۡ جَآءَهُم مَّا لَمۡ يَأۡتِ ءَابَآءَهُمُ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴾ (آياکه راغلي دي دوی ته هغه څه چي نه ووراغلي پلرونو پخوانيو ددوی ته ؟)يعني ايا پيغمبردوی ته کوم نوی څيزچي د دوی پلرونوته پخوانه وو ورکول شوی راوړی دی؟ ابوالسعودوايې چي د کتابونو راتګ دالله له لوری پيغمبرانوته پخوانی سنت (پاتي لاره) ده چي انکارځني نشي کيدای او قرآنکريم هم دغسي دالله له لوري رسول الله ته راغلی نوبياولي دوی انکارکوي ؟ ﴿ أَمۡ لَمۡ يَعۡرِفُواْ رَسُولَهُمۡ فَهُمۡ لَهُۥ مُنكِرُونَ ﴾ ايا ندی پيژندلی دوی (کفارو)خپل پيغمبر(په امانتداري ،رښتنولي اوښو اخلاقوسره)؟ پس دوی له ده څخه منکران دي ؛ دغه ددوی لپاره يوبل توبيخ دی لمړی توبيخ پدی هکله ووچي دوی په قرآنکريم باندي نفع نه ده اخيستي دوهم داچي دغه کتاب لکه هغه کتابونه چي ددوی پخوانيوپلرونوته راغلی داسي کتاب دی دريم داچي د وی دغه محمد ﷺ له نسبه ،صدقه اوامانته پيژني څلورم داچي دوی دغه پيغمبرپه ليونتوب تورنوي خو دوی ته معلومه ده چي هغه ﷺ ترټولو د کامل اوبشپړعقل خاونداود خورا څيرک ذهن څښتن دی څکه يی پس وفرمايل چي: ﴿ أَمۡ يَقُولُونَ بِهِۦ جِنَّةُۢ ﴾ ايادوی وايې چي په ده ليونتوب دی دغه بل توبيخ اوتعجب دی چي دوی څه ډول رنګ رنګ عناداوانکارکوی ﴿ بَلۡ جَآءَهُم بِٱلۡحَقِّ ﴾ بلکه راغلی دی دا (محمد)دوی ته په حق (دين هغه چي هيڅ ډول شک اوشبه ورته لاره نلري) اوقرآن يې راوړی کوم چي په توحيداواسلامي شرائعو مشتمل دی ﴿ وَأَكۡثَرُهُمۡ لِلۡحَقِّ كَٰرِهُونَ ﴾ او اکثره ددوی حق لره ناخوښوونکی دی)يعني سره له دی ښکاره دعوت او بلني ډېرمشرکان له حق څخه کرکه کوي څکه چي په زړونوکي کږوالی (او انحراف) دی ﴿ وَلَوِ ٱتَّبَعَ ٱلۡحَقُّ أَهۡوَآءَهُمۡ ﴾ (اوکه متابعت کړی وای حق د نفسياتي غوښتنو ددوی) يعني که چېري هغه ددوی ناخوښه حق چي توحيداو عدل دی ددوی دنفسياتي خواهشاتواوفاسدو غوښتنو متابعت کړی وای نو ﴿ لَفَسَدَتِ ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلۡأَرۡضُ وَمَن فِيهِنَّۚ ﴾ نوخامخا اسمانونه به خراب شوي وو اوځمکه اوهرهغه (مخلوق)چي پدوی کي دی(ددوی دفاسدواومختلفونفسي غوښتنوله سببه به دعلوي اوسفلي عالمونونظام وران شوي وای ابن کثيروايې

(١) زادالمسير ٤٨٢/٥

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

چي پدې ګردوخبروکي دبندګانو عجزاوددوی د خواهشاتو اورایواختلاف بیان شوی دی اوبل داچي الله تعالی په خپلوټولوصفاتو ،افعالو اودخلکو دچاروپه تدبیرکي دکامل توان اوبشپړقدرت خاوند دی

(١)﴿ بَلْ أَتَيْنَاهُم بِذِكْرِهِمْ ﴾ بلکه راوړی مودی دوی ته ذکرپنددوی (چي قرآن مجیددی اود دوی فخراو شرف پکي ده ﴿ فَهُمْ عَن ذِكْرِهِم مُّعْرِضُونَ ﴾ پس دوی له ذکرپندخپل نه مخ ګرزونکي دي (نبائېدل خوداچي ورته يې غاړه ایښي وای اوتعظیم يې کړی وای ځکه چي ددوی عزت اوکرامت دی (ذکر)لفظ یی دقرآن دتعظیم اودرناوی لپاره بیاراوور﴿ أَمْ تَسْأَلُهُمْ خَرْجًا فَخَرَاجُ رَبِّكَ خَيْرٌ ﴾ ایا غواړې ته ای محمده له دوی څخه اجرت (په تبلیغ درسالت باندي ځکه دوی ایمان نه راوړی ؟ ااوپدی کي پردوی باندی ملامتیااوتشنیع ده چي ایمان نه راوړي ځکه محمدورڅخه مزدوري نه غواړي نوبیاولي یی دوی تکذیب کوي؟ اودښمني ورسره پالي) پس هغه اجرت (درزق اوعطاءد)رب ستاډیره غوره دی ﴿ وَهُوَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ ﴾ اوهم دغه (الله)ډیرغوره دټولوروزي ورکونکودی (ځکه الله بې له اړتیادرلودلوخلکوته روزي ورکوي اونور څوک يې کله چي چاته يې اړتیاوي بیاروزي ورکوي ﴿ وَإِنَّكَ لَتَدْعُوهُمْ إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴾ اوبیشکه ته خامخادوی بولی دسمي صافي لاري لوري ته (چي اسلام دی) هغه چي جنات النعیم ته رسېږي)﴿ وَإِنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ عَنِ الصِّرَاطِ لَنَاكِبُونَ ﴾ او بیشکه هغه کسان چي په قیامت ایمان نه راوړی له سمي صافي لاري څخه خامخاکږېدونکي دي (ضلالت ته).

بلاغت :

پدی آیتونوکي چې دبدیع اوبیان کوم ښکلی صنعتونه شته لنډیزیی په لاندی ډول دی :

١:لطیفه استعاره لکه چي فرمایی ﴿ فَذَرْهُمْ فِي غَمْرَتِهِمْ ﴾ (غمر)اصلي معناپه اوبوکي دقامت پټیدلوته وایې نوددوی ګمراهي اوناپوهي له هغواوبوسره مشابه کړه چي دانسان ټول تن پټوي اوخورازیاتي وی اودغه یوه استعاره ده.

٢: انکاری استفهام چي پدی کلام کي دی: ﴿ أَيَحْسَبُونَ أَنَّمَا نُمِدُّهُم ﴾ .

٣: دتړونکي (رابط)حذف چي دلته راغلی لکه:﴿ نُسَارِعُ لَهُمْ فِي الْخَيْرَاتِ ﴾ اودغه حذف ځکه خوندور دی چي کلام پراخ اوالتباس هم نشته.

٤: دطباق صنعت لکه ﴿ يُؤْمِنُونَ....يُشْرِكُونَ ﴾ .

٥: بدیعه استعاره لکه داچي: ﴿ وَلَدَيْنَا كِتَابٌ يَنطِقُ بِالْحَقِّ ﴾ نطق خوپرته له هغه چاچي په ژبه ګړېږي له بل چاڅخه نشی راتلای اوکتاب خوژبه نلری نوالله جل جلاله چي کتاب ګړیدونکی وباله دغه یی د څرګندوالي په هکله مبالغه اودبرهان اعلان دی اوداچي په ګړیدونکی یی وستایه اوتشبیه کړدا استعاره ده.

---

(١) مختصرابن کثیر٢ / ٥٧٠

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

٦: اشتقاقي جناس لکه داچي: ﴿ يُؤْتُونَ مَآ ءَاتَوا ﴾ او ﴿ أَعْمَٰلٌ هُمْ لَهَا عَٰمِلُونَ ﴾.

٧: لوړه اوښائسته استعاره لکه چي فرمايي: ﴿ فَكُنتُمْ عَلَىٰٓ أَعْقَٰبِكُمْ تَنكِصُونَ ﴾ دلته يې ددوی اعراض له حق څخه له هغه چاسره چي د شاپه خوا درومي مشابه کړاو دغه ته تمثيلي استعاره ويل کېږي.

٨: ښکلي سجع او آهنګ لکه داچي: ﴿ مُشْفِقُونَ.... يُؤْمِنُونَ.... يُشْرِكُونَ.... سَٰبِقُونَ ﴾ ترپايه.

***

الله تعالی فرمايي:

﴿ ۞ وَلَوْ رَحِمْنَٰهُمْ وَكَشَفْنَا مَا بِهِم مِّن ضُرٍّ لَّلَجُّوا۟ فِى طُغْيَٰنِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴿٧٥﴾ وَلَقَدْ أَخَذْنَٰهُم بِٱلْعَذَابِ فَمَا
ٱسْتَكَانُوا۟ لِرَبِّهِمْ وَمَا يَتَضَرَّعُونَ ﴿٧٦﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا فَتَحْنَا عَلَيْهِم بَابًا ذَا عَذَابٍ شَدِيدٍ إِذَا هُمْ فِيهِ مُبْلِسُونَ ﴿٧٧﴾ وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَنشَأَ
لَكُمُ ٱلسَّمْعَ وَٱلْأَبْصَٰرَ وَٱلْأَفْـِٔدَةَ ۚ قَلِيلًا مَّا تَشْكُرُونَ ﴿٧٨﴾ وَهُوَ ٱلَّذِى ذَرَأَكُمْ فِى ٱلْأَرْضِ وَإِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٧٩﴾ وَهُوَ ٱلَّذِى يُحْىِۦ
وَيُمِيتُ وَلَهُ ٱخْتِلَٰفُ ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٨٠﴾ بَلْ قَالُوا۟ مِثْلَ مَا قَالَ ٱلْأَوَّلُونَ ﴿٨١﴾ قَالُوٓا۟ أَءِذَا مِتْنَا
وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَٰمًا أَءِنَّا لَمَبْعُوثُونَ ﴿٨٢﴾ لَقَدْ وُعِدْنَا نَحْنُ وَءَابَآؤُنَا هَٰذَا مِن قَبْلُ إِنْ هَٰذَآ إِلَّآ أَسَٰطِيرُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٨٣﴾
قُل لِّمَنِ ٱلْأَرْضُ وَمَن فِيهَآ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٨٤﴾ سَيَقُولُونَ لِلَّهِ ۚ قُلْ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٨٥﴾ قُلْ مَن رَّبُّ
ٱلسَّمَٰوَٰتِ ٱلسَّبْعِ وَرَبُّ ٱلْعَرْشِ ٱلْعَظِيمِ ﴿٨٦﴾ سَيَقُولُونَ لِلَّهِ ۚ قُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٨٧﴾ قُلْ مَنۢ بِيَدِهِۦ مَلَكُوتُ
كُلِّ شَىْءٍ وَهُوَ يُجِيرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيْهِ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٨٨﴾ سَيَقُولُونَ لِلَّهِ ۚ قُلْ فَأَنَّىٰ تُسْحَرُونَ ﴿٨٩﴾ بَلْ
أَتَيْنَٰهُم بِٱلْحَقِّ وَإِنَّهُمْ لَكَٰذِبُونَ ﴿٩٠﴾ مَا ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ مِن وَلَدٍ وَمَا كَانَ مَعَهُۥ مِنْ إِلَٰهٍ ۚ إِذًا لَّذَهَبَ كُلُّ إِلَٰهٍۭ بِمَا خَلَقَ وَلَعَلَا
بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ ۚ سُبْحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿٩١﴾ عَٰلِمِ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ فَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٩٢﴾ قُل رَّبِّ
إِمَّا تُرِيَنِّى مَا يُوعَدُونَ ﴿٩٣﴾ رَبِّ فَلَا تَجْعَلْنِى فِى ٱلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٩٤﴾ وَإِنَّا عَلَىٰٓ أَن نُّرِيَكَ مَا نَعِدُهُمْ لَقَٰدِرُونَ
﴿٩٥﴾ ٱدْفَعْ بِٱلَّتِى هِىَ أَحْسَنُ ٱلسَّيِّئَةَ ۚ نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَصِفُونَ ﴿٩٦﴾ وَقُل رَّبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنْ هَمَزَٰتِ ٱلشَّيَٰطِينِ ﴿٩٧﴾
وَأَعُوذُ بِكَ رَبِّ أَن يَحْضُرُونِ ﴿٩٨﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَ أَحَدَهُمُ ٱلْمَوْتُ قَالَ رَبِّ ٱرْجِعُونِ ﴿٩٩﴾ لَعَلِّىٓ أَعْمَلُ صَٰلِحًا فِيمَا تَرَكْتُ ۚ
كَلَّآ ۚ إِنَّهَا كَلِمَةٌ هُوَ قَآئِلُهَا ۖ وَمِن وَرَآئِهِم بَرْزَخٌ إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴿١٠٠﴾ فَإِذَا نُفِخَ فِى ٱلصُّورِ فَلَآ أَنسَابَ بَيْنَهُمْ يَوْمَئِذٍ وَلَا
يَتَسَآءَلُونَ ﴿١٠١﴾ فَمَن ثَقُلَتْ مَوَٰزِينُهُۥ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴿١٠٢﴾ وَمَنْ خَفَّتْ مَوَٰزِينُهُۥ فَأُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓا۟
أَنفُسَهُمْ فِى جَهَنَّمَ خَٰلِدُونَ ﴿١٠٣﴾ تَلْفَحُ وُجُوهَهُمُ ٱلنَّارُ وَهُمْ فِيهَا كَٰلِحُونَ ﴿١٠٤﴾ أَلَمْ تَكُنْ ءَايَٰتِى تُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ فَكُنتُم بِهَا
تُكَذِّبُونَ ﴿١٠٥﴾ قَالُوا۟ رَبَّنَا غَلَبَتْ عَلَيْنَا شِقْوَتُنَا وَكُنَّا قَوْمًا ضَآلِّينَ ﴿١٠٦﴾ رَبَّنَآ أَخْرِجْنَا مِنْهَا فَإِنْ عُدْنَا فَإِنَّا

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

ظَٰلِمُونَ ﴿١٠٧﴾ قَالَ ٱخْسَـُٔوا۟ فِيهَا وَلَا تُكَلِّمُونِ ﴿١٠٨﴾ إِنَّهُۥ كَانَ فَرِيقٌ مِّنْ عِبَادِى يَقُولُونَ رَبَّنَآ ءَامَنَّا فَٱغْفِرْ لَنَا وَٱرْحَمْنَا
وَأَنتَ خَيْرُ ٱلرَّٰحِمِينَ ﴿١٠٩﴾ فَٱتَّخَذْتُمُوهُمْ سِخْرِيًّا حَتَّىٰٓ أَنسَوْكُمْ ذِكْرِى وَكُنتُم مِّنْهُمْ تَضْحَكُونَ ﴿١١٠﴾ إِنِّى جَزَيْتُهُمُ ٱلْيَوْمَ بِمَا
صَبَرُوٓا۟ أَنَّهُمْ هُمُ ٱلْفَآئِزُونَ ﴿١١١﴾ قَٰلَ كَمْ لَبِثْتُمْ فِى ٱلْأَرْضِ عَدَدَ سِنِينَ ﴿١١٢﴾ قَالُوا۟ لَبِثْنَا يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ فَسْـَٔلِ
ٱلْعَآدِّينَ ﴿١١٣﴾ قَٰلَ إِن لَّبِثْتُمْ إِلَّا قَلِيلًا لَّوْ أَنَّكُمْ كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿١١٤﴾ أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَٰكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا
لَا تُرْجَعُونَ ﴿١١٥﴾ فَتَعَٰلَى ٱللَّهُ ٱلْمَلِكُ ٱلْحَقُّ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ ٱلْعَرْشِ ٱلْكَرِيمِ ﴿١١٦﴾ وَمَن يَدْعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا
ءَاخَرَ لَا بُرْهَٰنَ لَهُۥ بِهِۦ فَإِنَّمَا حِسَابُهُۥ عِندَ رَبِّهِۦٓ إِنَّهُۥ لَا يُفْلِحُ ٱلْكَٰفِرُونَ ﴿١١٧﴾ وَقُل رَّبِّ ٱغْفِرْ وَٱرْحَمْ وَأَنتَ خَيْرُ ٱلرَّٰحِمِينَ
﴿١١٨﴾ ﴿ المؤمنون: ٧٥ - ١١٨

مناسبت اوتړاو :

کله چي الله تبارک وتعالی دمشرکانوسرغړونه یاده کړه چي دایمان بلنه نه مني نودلته یې دهغوی دنه منلوسبب چي عناداوطغیان دی راوړل درپسی یی په توحیدباندی د لیلونه اوبیایی دآخرت او قیامت حالاتوته اوهلته چي خلک په دوو ډلونیکمرغانوبدمرغانوویشل کیږي کتنه وکړه اودسورت په پای کي یی دمحشرحکمت چي دجزاګردی بیان کړځکه که همداحشرنه وای نوبه عاصی اومطیع ،نکوکاراوفاجربدکارنشوبیلیدلای.

لغتونه :

(مبلسون)حیران ناهیلی له (ابلاس) څخه اخیستل شوی اوله هری ښیګړي څخه ناهیلی اومأیوس ته ویل کیږی (ابلیس هم له دغې مادې څخه دی)(یجیر) منع کوی چي کله چاته پناه ورورل شی نوهغه څنی شرمنع کوی ویل کیږی (آجرت فلاناعلی فلان) یعني فلانی ته می له فلانی څخه پناه ورکړه اوڅنی منع می کړ(همزات) دهمزجمع اوهغه پوری وهلوته وایې اودشیطان (همزات) دهغه وسوسې اودوکی دی (برزخ) حاجزاوخنډ ،مانع ته ویل کیږی جوهری وایې چي دبرزخ معناد دووڅیزونوترمینځ پرده اوحائل دی (١) (کالحون) (کلح) هغه حالت ته وایې چي دواړه شونډې له غاښونوڅخه لیرې شی اودغه خورابدشکله انسانی څیره څرګندوی .

دنزول سبب :

ابن عباس (رض) وایې دغه آیتونه د(ثمامه بن آثال) په کیسه کي راغلی دی چي دی یوې ډلې غازیانوپه اسارت ونیوبیایی اسلام راوړ رسول الله ﷺ آزادی وروبښله اوبیاهغه دمکی لاره ونیوه قافلی به دمشرکانولوری ته نه پریښودلی لوړه یی وکړه چي زمادی په الله قسم وی که به تاسوته دیمامی له خوایوه دانه غنم هم درورسیږی ترڅوچي رسول الله ﷺ یی دپریښودلواجازه ونکړی پدی کلونوکي قریش سخت په کاختي اودلوږی ستونزه کي ووآن تردی چي دمړزګی اوسپیوغوښې یی وخوړې همداسي چي (علهز)یی خوړل چاپوښتنه وکړه (علهز)څه شی دی ؟ورته یی وویل (علهز)داچي وړی او

---

(١) القرطبي ١٢/ ١٥٠

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

وزغني (دوزو وړی،ورګونه) به یی په وینوولړل اوبیابه یی پاخه کړل هغه به یی خوړل ابوسفیان رسول الله ﷺ ته راغی ورته ویل یی په الله لوړه درکوم دخپلوی اوقرابت لوری ته دی پام راړه وم ایاته داسي ګومان نه کوي چي الله دعالمیانولپاره رحمت را استولی یی ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل هوهمداسي دی نوابوسفیان وویل پلرونه دي په توره ووژل اوماشومان یې په لوږه نوالله جلاله داآیت نازل کړ: ﴿ وَلَوْ رَحِمْنَٰهُمْ وَكَشَفْنَا مَا بِهِم مِّن ضُرٍّ لَّلَجُّوا۟ فِى طُغْيَٰنِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴾ (١) داآیتونه ترپایه.

تفسیر:

﴿ وَلَوْ رَحِمْنَٰهُمْ وَكَشَفْنَا مَا بِهِم مِّن ضُرٍّ ﴾ اوکه مهرباني کړي وای موږپردوی (مشرکانو) اوموږلری کړی وای قحط هغه چي پردوی له ضرر څخه وو(اودوی موله دی ازموینبت څخه خلاص کړی وای) ﴿لَّلَجُّوا۟ فِى طُغْيَٰنِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴾ نوخامخابه لاتینګ شوی وای دوی په ګمراهی ،سرکشی خپله کي چي حیران اومترددبه وو ﴿ وَلَقَدْ أَخَذْنَٰهُم بِٱلْعَذَابِ ﴾ اوخامخاپه تحقیق موږدوی په عذاب ونیول (چي قحط اولوږه ده دغه مصیبتونه اوازمیبنتونه مو ورولیدل) ﴿ فَمَا ٱسْتَكَانُوا۟ لِرَبِّهِمْ ﴾ پس خپل رب ته یې غاړه نه کیښوده (عاجزی یی ونکړه الله ته) ﴿ وَمَا يَتَضَرَّعُونَ ﴾ اونه یی تضرع زاری وکړه (چي ابتلاء څنی لری کړی بلکه په سرکشی اوطغیان کي تلپاتی اوسیدل (مقصدداچي دوی الله ته پخوا هم رجوع نه دی کړی اونه به یی په راتلونکی کي وکړي چي خوراسرکښه اومتکبرین دی) ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا فَتَحْنَا عَلَيْهِم بَابًا ذَا عَذَابٍ شَدِيدٍ ﴾ ترهغه پوري چي موږپه دغو(متکبرانو)پرانستله یوه دروازه خاونده دسخت عذاب (چي دوی یی هډوګومان نه کاوو) ﴿ إِذَا هُمْ فِيهِ مُبْلِسُونَ ﴾ ناڅاپه دوی په دغه (عذاب) کي حیران لالهاند ناهیلی له هره خیره څخه وو) ابوالسعودوایي مقصدله دغه عذابه څخه دآخرت عذاب دی لکه چي صفت یی ددی خبرې اګاهی ورکوی یعني موږدوی په ډیرومحنتونو وازمایل لکه وژل ،بندی کیدل ،لوږه اونوروخوددوی له پلوه داسلام ایمان راوړلوخواته څه نرمی ونه لیدل شوه ترڅوچي دآخرت عذاب ووینی نوهلته به دوی ناهیلي اوغاړي به کیږدی بیاالله تبارک وتعالی خپل نعمتونه ګنی اودوحدانیت دلیلونه راوړی فرمایی :﴿ وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَنشَأَ لَكُمُ ٱلسَّمْعَ وَٱلْأَبْصَٰرَ وَٱلْأَفْـِٔدَةَ ﴾ اودغه (الله)هغه ذات دی چي تاسي ته یی غوږونه اوسترګې اوزړونه پیداکړی دی چي ووینئ واوری اووپوهیږی ! پدې کي دمشرکانولپاره توبیخ دی چي دوی خپل نعمتونه پخپلو اړوند وکارونونه دی ګومارلی څکه دسامعې حس داوریدلولپاره دی چي دارشاد خبری ورباندی واوری دباصرې حس دلیدلولپاره ده چي دالله دکمال دلائل اواوصاف ووینی اوعقل بیاددی لپاره دی چي دالله دبشپړقدرت په مصنوعاتوکي سوچ وکړی نوڅوک دغه پخپلوڅایونوکي ونه لګوی هغه داسي دی لکه چي له سره دغه نعمتونه نلری لکه چي الله فرمایی: ﴿ فَمَآ أَغْنَىٰ عَنْهُمْ سَمْعُهُمْ وَلَآ أَبْصَٰرُهُمْ وَلَآ أَفْـِٔدَتُهُم مِّن شَىْءٍ ﴾ دغه درې یې ددي لپاره یادکړي چي

(١) البحر ١٢ / ٤١٥

خوراسترمنافع پکي شته ﴿ قَلِيلًا مَّا تَشْكُرُونَ ﴾ ډيرلږ تاسي شکر وباسي (دخپل رب) ﴿ وَهُوَ ٱلَّذِى ذَرَأَكُمْ فِى ٱلْأَرْضِ وَإِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴾ اواللہ هغه ذات دی چي پيدا کړی يی يی تاسي اود تناسل په لاره يې خواره کړی يی په ځمکه کي او خاص هم دغه (الله)ته به ور جمع کړی شي (لپاره) دحساب اوجزاء) ﴿ وَهُوَ ٱلَّذِى يُحْيِۦ وَيُمِيتُ ﴾ اواللہ هغه ذات دی چي ژوندی کوي اومړه کوي (خلک اوامتونه) ﴿ وَلَهُ ٱخْتِلَٰفُ ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ ﴾ اوخاص دهمده کار دی بدلول دشپې او ورځې (په زياتوالي اوکمبودکي چي دده په وجوداوقدرت دلالت وکړی ﴿ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴾ نوايا پس تاسي عقل نه چلوی (عبرت نه اخلی؟چي هغه څوک کوم چي په رومبی پيدايښت قادردی له فناوروسته په را پنځولواوپورته کولوهم توانادی ﴿ بَلْ قَالُوا۟ مِثْلَ مَا قَالَ ٱلْأَوَّلُونَ ﴾ بلکه وايې (دا کفار)په شان د هغي ويناچي پخوانيوکفارووېلي ده﴿ بَلْ ﴾ داضراب لپاره يعني دوی عقلونه نلری چي له دی آيتونوڅخه پندواخلی بلکه دغه دمکې مشرکان لکه دپخوانيوامتونوپه شان ويناوي کوي ﴿ قَالُوٓا۟ أَءِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَٰمًا أَءِنَّا لَمَبْعُوثُونَ ﴾ ويل دوی کله چي موږمړه شواو خاوري (وراسته)هډوکي شونوايامورږبه خامخابياژوندي راپاڅول کيږو؟ بلکه نه کيږوهسي ګني چي د غه مستحيل کاردی ﴿ لَقَدْ وُعِدْنَا نَحْنُ وَءَابَآؤُنَا هَٰذَا مِن قَبْلُ ﴾ خامخاپه تحقيق له موږسره وعده کړی شوی اوزموږ له پلرونوسره همدغه وعده پخوالاشوی(خوموږيې حقيقت اورښتينوالی ندی ليدلی)﴿ إِنْ هَٰذَآ إِلَّآ أَسَٰطِيرُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴾ ندی داخبری مګردروغجنې کيسې دی دپخوانيوخلکو؛نوڅرنګه چي دوی له بعثت او نشورڅخه منکردی الله تعالی پيغمبرعليه السلام ته وفرمايل چي دغسي يوکلک دليل ورته وړاندي کړي چي دباطل يومخيزه ملاورماته کړي نويي فرمايل ﴿ قُل لِّمَنِ ٱلْأَرْضُ وَمَن فِيهَآ ﴾ ووايه (ای محمده ! ودغوکفاروته دځواب لپاره) دچاده دغه ځمکه اومخلوقات چي په هغي کي دی ؟! (څوک يې مالک ،متصرف پيداکونکی اوفناکونکی دی ؟) ﴿ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴾ که چېري يې تاسي چي پوهيږئ (نومالک يي راوښيي ،پدی کي ددوی دناپوهی څرګندول اوددوی سپکتياده قرطبی وايې په آيت شريف کي الله تعالی دخپل ربوبيت او وحدانيت څخه اخبارکوی او دانبيی چي دالله قدرت زوال نلری اونه يی پاچهي، پای ته رسيږی همدغه آيتونه اوله دی راوروسته آيتونه پدې دلالت کوی چي له کفاروسره دليل ويل اومجادله کول روادی اوهمدابيانوی چي هغه څوک کوم چي خلق اوايجاديې پيل کړی همدغه دعبادت کولواوالوهيت سره وړاوښايی(١)﴿ سَيَقُولُونَ لِلَّهِ ﴾ نوژربه ووايې خاص الله ته دي (يعني الله يی خالق اوموجددی ﴿ قُلْ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴾ ووايه ای محمده دوی ته) ايا پس تاسي پند نه اخلی ؟ (چي هغه څوک چي په لومړی

(١) القرطبي ١٢/ ١٤٥

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

پیدا ینبت قادردی هغه یی په بیاراپاڅولو هم توانادی) ﴿ قُلْ مَن رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ ٱلسَّبْعِ وَرَبُّ ٱلْعَرْشِ ٱلْعَظِيمِ ﴾ ووایه څوک دی رب داووآسمانونو اورب دعرش ډېر لوی)یعني داووآسمانونواوپه هغوکي دستورواو لمرونو سپوږمیو اوسترعرش خالق څوک دی ؟ هغه عرش چي پاکیزه ملائکي یې حمل کوی؟﴿ سَيَقُولُونَ لِلَّهِ ﴾ نوژربه ووایې دوی چي دغه ټول (منسوب) الله ته دی ﴿ قُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴾ نو ووایه (ای محمده دوی ته چي) ایاپس تاسي نه وېرېږی ؟ ! (د الله له عذابه چي دده عبادت وکړي اودبتانوله عبادته لاس واخلي)﴿ قُلْ مَنۢ بِيَدِهِۦ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيْءٍ ﴾ او ووایه (ای محمده دوی ته چي) څوک دی هغه ذات چي په ید بلاکیفه دده کي پاچهی تصرف دی دهرڅیز؟)یعني دچاپه لاس بلاکیف کي خزانی دهرڅه دی اودچابشپړه پاچهي ده څکه چي ملکوت د مبالغې له صفاتوڅخه دی اوپراخ بشپړملک ته وایي څوک په دې کائناتوکي تصرف کوي تدبیرونه چلوي اوپیداکوي جوړوي یې؟ ﴿وَهُوَ يُجِيرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيْهِ ﴾اودی پناه ورکوی (مخلوقاتو ته)اوپناه نه ورکوله کیږی (په ضرر)ده باندي(یوچاته) ﴿ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴾ که یی تاسي چي پوهېږي (نوخبرراکړئ) ﴿ سَيَقُولُونَ لِلَّهِ قُلْ فَأَنَّىٰ تُسْحَرُونَ ﴾ نو ژر به ووایې چي داصفات ټول الله ته دي ووایه (ای محمده دوی ته) پس څرنګه ټکي درباندی کولای شي؟ اوله حقه ګرزی دالله په توحید اعتراف نکوی سره له دی چي پوهیږی یوازی الله متصرف او مالک دی نوولی تیروزی ؟ ابوحیان وایې چي دلته دسحرمجازی معنا اوتشبیه ده لکه څرنګه چي مسحورباندی خپل اقوال احوال سره ګډوډشی همداسي په دوی ګډوډ کیدل نوپه تدریج سره ددوی دغه توبیخات یې داسي وستایل لومړی ﴿ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴾ دوهم ﴿ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴾ داتر هغه لومړی زیات اوویره پکي ډیره ده دریم ځل یی وفرمایل ﴿ فَأَنَّىٰ تُسْحَرُونَ ﴾ اوپه دی کي دومره زیات توبیخ دی چي په نوروکي نشته (١)﴿ بَلْ أَتَيْنَٰهُم بِٱلْحَقِّ ﴾ بلکه راتله کړی (راوړی) مودی دوی ته حق دربنتیاویناد توحیدپه باب اوهمداسي دبعث اونشورپه هکله﴿ وَإِنَّهُمْ لَكَٰذِبُونَ ﴾اوبیشکه دوی خامخا دروغجنان دی (چي الله ته دشریک اواولادنسبت کوی کله چي په تیروآیتونو کي په بشپړه توګه پردوی دلائل راوړل شول نو ورپسی یی دغه آیت لکه تهدیداووعیدورپسی راووړاوبیایی د شریک او ولدبطلان په کوټلی دلیل اوقاطع برهان له مینځه یوړ ویې فرمایل ﴿ مَا ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ مِن وَلَدٍ ﴾ الله ندی نیولی هیڅ ولد(مطلقانه خوله بشراونه له پرښتو څخه) ﴿ وَمَا كَانَ مَعَهُۥ مِنْ إِلَٰهٍ ﴾ (او نشته ورسره بل هیڅ معبود)یعني نشته بل داسي څوک چي له ده سره په الوهیت اوربوبیت کي شریک وی ﴿ إِذًا لَّذَهَبَ كُلُّ إِلَٰهٍۭ بِمَا خَلَقَ ﴾ نوپه دغه وخت کي بیولی به ووهرخدای هغه مخلوق چي پیداکړی یی وو (اوبیل

---

(١) البحرالمحیط

کړی به یی وه خپله پاچهی دبل له پاچهی څخه ﴿ وَلَعَلَا بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ ﴾ او خامخا غلبه کوله څینوددوی پرځینې نورو(لکه دنړی پاچهان . ابن کثیروایې که داسې وانګیروچې پیداکونکې معبودان ډیردی نوهریوبه خپل پنځول شوي مخلوق له ځانه سره بیایې اوبیابه هریوپربل برلاسی غواړی نوبه وجودپه نظم اوترتیب پاتې نشي اوداخوځرګنده اولیدلی کتلی ده چې کائنات په خوراښکلی نظم اوترتیب جوړښت لری نوداددی دلیل دی چې الله تعالی له ولداوشریک څخه پاک دی (١)نوځکه فرمایی :﴿ سُبْحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴾ پاکی ده الله لره له هغه څه چې دوی یی بیانوی (له ولد او شریک نه)﴿ عَٰلِمِ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ فَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴾ عالم دی په پټواوښکاره وو ډېر لوی دی له هغه څیزه چې ورسره شریکوی یې)یعنې الله تعالی په ټولوپټواوالونیانوشیانو پوهیدونکی دی له هغه څخه دمخلوقاتوهیڅ چاره هم پټه نه ده اوپاک دی له ولداوشریک څخه ﴿ قُل رَّبِّ إِمَّا تُرِيَنِّي مَا يُوعَدُونَ ﴾ (ووایه ته ای محمده)ای زماربه ګه چیری وښیي ته ماته هغه (عذاب چې وعده یی کولی شي (له دوی سره)یعنې ووایه ای ربه که چیری خامخاماته ددوی هغه عذاب چې له دوی سره یی وعده کوی په دنیاکې رالیدونکی یی نو﴿ رَبِّ فَلَا تَجْعَلْنِي فِي ٱلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ ای زماربه ماد ظالمانوپه قوم کې مه لره !(دغه د ﴿ إِمَّا ﴾ شرطیي ځواب دی اود ﴿ رَّبِّ ﴾ کلمه یی ځکه تکرارکړه چې په دعاکې مبالغه وشي اوتضرع افاده کړی یعنې مادظالمانوپه ډله کې مه لره چې بیابه زه هم له دوی سره هلاک شم ابوحیان وایې چې: داخومعلومه خبره ده چې رسول الله ﷺ له ظالمانوسره له ګډیدلومعصوم دی خوپدی دعاکولو ورته امروشو ترڅو چې دعبودیت اوتواضع څرګندونه وشي (٢) ﴿ وَإِنَّا عَلَىٰٓ أَن نُّرِيَكَ مَا نَعِدُهُمْ لَقَٰدِرُونَ ﴾ اوبیشکه موږ پدې کارچې وښیوتاته هغه عذاب چې له دوی سره یی وعده کووخامخاقادر یو(خودکوم حکمت لپاره یې وروسته کوو)﴿ ٱدْفَعْ بِٱلَّتِي هِيَ أَحْسَنُ ٱلسَّيِّئَةَ ﴾ (دفع کړه (ای محمده)بدی په هغه خصلت سره چې هغه ډیرښه دی) یعنې په ښو اخلاقو او عفوددوی بدی دفعه کړه ابن کثیروایې چې الله تعالی هغه ته خورابنه علاج ور وښودچې هغه له هغو سره چې بدکوي احسان کول دی ترڅویی زړه خپل کړی او دښمني یې په دوستي بدله شي بغض یې په مینه واوړي (٣)﴿ نَّحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَصِفُونَ ﴾موږته ښه معلوم دی هغه خبرې چې ستایی (دوی استهزاوې کوي نوبه ورته سزاورکړو) . ﴿ وَقُل رَّبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنْ هَمَزَٰتِ ٱلشَّيَٰطِينِ ﴾ او ووایه (ای محمده) ای زما ربه په تاپوري پناه غواړم له چخولو(وسوسو) د شیطانانوڅخه (هغه چې سړی باطل او ګناهونو ته راکاږي) ﴿ وَأَعُوذُ بِكَ رَبِّ أَن

---

(١) مختصرابن کثیر٢ / ٥٧٢

(٢) مختصرابن کثیر٢ / ٥٧٣

(٣) مختصرابن کثیر٣ / ٥٧٤

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

يَحْضُرُونِ ﴾ اوپناه غواړم په تاباندی ای زماربه چي حاضر شی (دوی) ماته) یعني او پناه غواړم په تاباندي ای زما ربه چي حاضرشي (دوی ماته ضرر ورسوي (یازماپه چاروکي راسره ملګری شي دوه څله یې څکه تکرارکړچي داستعاذې په هکله اهتمام راشي ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَ أَحَدَهُمُ ٱلْمَوْتُ ﴾ ترهغه پوري چي کله راشي یوددوی ته مرګ اوننبي ننبانې یې ووینې دلته بیرته کلام مشرکانوته راوګرزیدو)﴿ قَالَ رَبِّ ٱرْجِعُونِ ﴾ نو وبه وایې ای زما ربه بیرته وګرزوه مادنیاته دجمع صیغه دتعظیم لپاره استعمال شوي ده)﴿ لَعَلِّيٓ أَعْمَلُ صَٰلِحًا فِيمَا تَرَكْتُ ﴾ ددې لپاره چي زه نیک عمل وکړم په هغه څه کي چي مابیرته پری اینبی دی (عمرمي ضائع کړی دی) ﴿ كَلَّآ إِنَّهَا كَلِمَةٌ هُوَ قَآئِلُهَا ﴾ نه دی داسي بیشکه دغه (درجعت خبره)داسي چتي بیکاره خبره ده چي دی یی ویونکی دی (اوهیڅ ګټه فائده پکي نشته هغه بادوړې خبره ده ﴿ وَمِن وَرَآئِهِم بَرْزَخٌ إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴾ او په مخ کي ددوی برزخ (پرده دقبر) ده ترهغي ورځي پوري بیاژوندی راپاڅول کیږي مجاهدوایې برزخ هغه حاجز ته وایې چي ددنیا اوآخرت ترمینځ وی ﴿ فَإِذَا نُفِخَ فِي ٱلصُّورِ فَلَآ أَنسَابَ بَيْنَهُمْ يَوْمَئِذٍ ﴾ نوکله چي پوکی وکړی شی دوهم ځل په صورشپیلۍ کي پس نه به وي (ګټه رسونکي) نسبونه په مینځ ددوی کي (چي یوبل ته نفع ورسوی څکه چي ګردبه پخپلو ورپېښو مصیبتونواخته وی هر څوک به له وروره، موره، پلاره، مېرمنې اوزویه تښتي ﴿ وَلَا يَتَسَآءَلُونَ ﴾ اونه به دوی یوله بله پوښتنه کوی (چي تول به مشغول وی اودغه آیت له دی آیت سره چي فرمایي ﴿ وَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَسَآءَلُونَ ﴾ [الصافات :٢٧] سره کوم منافات نلری څکه دقیامت اوږده ورځ ده اوهلته به څوتم ځایونه (مواقف) وی چي کله به سره یوله بله پوښتني کوي اوکله به بیابیخي خبري نکوي ﴿ فَمَن ثَقُلَتْ مَوَٰزِينُهُۥ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴾ پس هر څوک چي درنې شي تلې (دښوعملونو)ددوی (که څه هم په یوه نیکی وي)﴿ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴾ پس همدغه کسان هم دوی دی بریالیان (نیکمرغه چي له دوزخ ژغورل شوی اوجنت ته تلونکی دی) ﴿ وَمَنْ خَفَّتْ مَوَٰزِينُهُۥ فَأُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمْ فِي جَهَنَّمَ خَٰلِدُونَ ﴾ اوهر هغه څوک چي سپکي شي تلي (دښیکوعملونو)ددوی پس دا هغه کسان دي چي زیان یې کړی دنفسونو خپلو(په ضائع کیدلود نیکمرغي اولړلوپه کفراوګناهونو باندي) په دوزخ کي به تل پراته وی (چي نه به څنی وزی)﴿ تَلْفَحُ وُجُوهَهُمُ ٱلنَّارُ ﴾ اوربه ددوی مخونه سوځي (په ځانګړي توګه دمخونو یادونه په پدې وشوه چي هغه دګردوغړواشرف دی ﴿ وَهُمْ فِيهَا كَٰلِحُونَ ﴾ اووی به دوی په دغه اورکي ګونجي تندی (بدمخی او بدرنګه) ابن مسعودوایې غاښونه به یې له ورایه ښکاري شونډان به یې سره ارت وي لکه په اور برمنځ شوی سرغوندي په حدیث شریف کي راځي چي اوربه یې داسي بدرنګه

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

کړی چي پورتنۍ شونډه به يې دسرمابين ته اوښکتي به يې ترنامه راوځړېږي (١)﴿ أَلَمْ تَكُنْ ءَايَٰتِي تُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ ﴾ آيانه ووآيتونه زما چي پرتاسي لوستل کيدو (په دنياکي)﴿ فَكُنتُم بِهَا تُكَذِّبُونَ ﴾ پس وی -اسي چي پرهغوبه مو تکذيب کاوو (نه مومنل سره له دې چي څرګندوو) ﴿ قَالُوا رَبَّنَا غَلَبَتْ عَلَيْنَا شِقْوَتُنَا ﴾ نووبه وايې (کفار) ای زموږ ربه غالبه شوې وه پرموږ بدبختي زموږ ﴿ وَكُنَّا قَوْمًا ضَالِّينَ ﴾ اوموږ وويوقوم ګمراهان چي په نفسي خواهشاتوپسي ګرزيدو ﴿ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْهَا فَإِنْ عُدْنَا فَإِنَّا ظَالِمُونَ ﴾ ای زموږ ربه وباسه موږله دې دوزخه پس که بيارا وګرزيدو موږ (دې کفر ته) پس بيشکه موږ ظالمان يو؛ دوی دلته لومړی پخپله ګناه اقرارو کړاوبياوروورويې دتضرع لوري ته رغبت وکړاو څواب په ناهيلي سره ورکړشو ﴿ قَالَ اخْسَئُوا فِيهَا وَلَا تُكَلِّمُونِ ﴾ وبه فرمايی الله چي چپ شئ (لکه چي سپي ته ويل کيږي چغه شئ) او خبرې مه کوئ له ماسره (په دفع کولودعذاب کي په التسهيل نومي کتاب کي راوړي چي (اخسئوا) داسي کلمه ده چي دسپيودزجرلپاره استعمالېږي او په دې کي اهانت اوشړل شته (٢)﴿ إِنَّهُ كَانَ فَرِيقٌ مِّنْ عِبَادِي يَقُولُونَ رَبَّنَا ءَامَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا وَأَنتَ خَيْرُ الرَّاحِمِينَ ﴾ بيشکه شان دادی چي وه يوه ډله له بندګانو زما (مؤمنان) چي دوی ويل (تضرعًا) ای زموږ ربه پوره يقين اوتصديق موکړی (په ټول مؤمن به شيانو) نومغفرت وکړه موږته او مهرباني راباندي وکړه اوته ډيرغوره دټولومهرباني کونکويې؛ مجاهدوايې چي دغه کسان بلال، خباب، صهيب، اونور بيوزله مسلمانان ووچي ابوجهل اواندېوالانو به يي په دوی ملنډي وهلې (٣)﴿ فَاتَّخَذْتُمُوهُمْ سِخْرِيًّا ﴾ پس نيولي ووتاسي دوی مسخرې کړی شوي پردوی ﴿ حَتَّىٰ أَنسَوْكُمْ ذِكْرِي ﴾ ترهغه چي هېرکړله تاسو (دغه کارستاسي) ذکرياد زمادطاعت اوعبادت ای کفارو ﴿ وَكُنتُم مِّنْهُمْ تَضْحَكُونَ ﴾ اووی تاسي چي په هغوی پوري موخندل (په دنيا کي) ﴿ إِنِّي جَزَيْتُهُمُ الْيَوْمَ بِمَا صَبَرُوا ﴾ بيشکه جزامي ورکړه دوی ته ښه جزاء نن ورځ په سبب دهغه چي هغوی صبرکړی وو (ستاسو په ايذاءضرر باندي) ﴿ أَنَّهُمْ هُمُ الْفَائِزُونَ ﴾ بيشکه هغوی چي دی همدوی دي بريالليان (خپلومقصدونو ته رسيدلي)﴿ قَالَ كَمْ لَبِثْتُمْ فِي الْأَرْضِ عَدَدَ سِنِينَ ﴾ وبه وايې (الله تعالی کفاروته توبيخاً څومره څنډ موتيرکړی دی تاسي په ځمکه کي په شماردکلونو؟! ﴿ قَالُوا لَبِثْنَا يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ ﴾ نو وبه وايې کفارڅنډموکړی دی يوه ورځ يايوه برخه دورځي ﴿ فَسْئَلِ الْعَادِّينَ ﴾ نوته پخپله پوښتنه وکړه له حسابګروڅخه؛ ابن عباس وايې له دوی څخه دغه عذاب هغه

(١) أخرجه الترمذی وقال حسن غريب
(٢) التسهيل ٣ / ٥٧
(٣) القرطبي ١٢ / ١٥٤

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

موده بېخي هېره کړه کوم چي دوی په دنیاکي اوسیدلي وو ﴿ قَٰلَ إِن لَّبِثْتُمْ إِلَّا قَلِيلًا ﴾ وبه فرمايي چي ندی څنډکړی تاسي (په دنیاکي) مګرلږه موده ؛امام رازي وايې لکه چي داسي معنالري چي هوکي رښتیاتاسو لږڅنډکړی ځکه هغه موده تیره شوه تېرېدل يې لرل اومقصد دوی ته ددنیادژوندموده ورپېژندل دی چي دآخرت دمودې په وړاندی خورالږه ده (١) ﴿ لَّوْ أَنَّكُمْ كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴾ (که چیری بیشکه تاسي يې چي پوهېږي) يعني که چېري تاسوپوهه اوفکر درلودای نوبه د دنیا حقارت اونه پاتیدونکی متاع درته معلومه وای ﴿ أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَٰكُمْ عَبَثًا ﴾ ایاپس ګومان کوی تاسي داچي بیشکه خبره داده چي پیداکړي مویی تاسي عبث؟ (بې له ثواب او عقابه لکه چارپایان غوندي)﴿ وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ ﴾ اوداسي ګومان کوی؟ چي بیشکه تاسي به موږته نه راوستل کېږي (دجزاء لپاره) نه, هسي نه ده لکه چي تاسي ګومان کوی بلکه دجزالپاره راتله شته ﴿ فَتَعَٰلَى ٱللَّهُ ٱلْمَلِكُ ٱلْحَقُّ ﴾ پس ډیرپورته لوی لوړدی الله (له ګردو عیبونو) مطلق حق باچادی ؛ (د تصرف خاوند دی چي څوک وژني څوک ژوندي کوي پاک دی له عبثیاتواوبیهوده کارونوچي داسي څوک پیداکړي چي بې معناوي ځکه دحکمت خاونددی ﴿ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ ٱلْعَرْشِ ٱلْكَرِيمِ ﴾ نشته هیڅوک لائق دعبادت په رښتیامګرخوهم دی دی مالک دعرش کریم (عزت ناک دی چي رحمت اوخیرتري رانازلېږي اواکرم الاکرمین ذات ته يې نسبت کېږي) ﴿ وَمَن يَدْعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ لَا بُرْهَٰنَ لَهُۥ بِهِۦ ﴾ اوهر څوک چي بولي له الله سره بل خدای (چي دهغه عبادت هم کوي هسي خدای چي)نشته هیڅ علمي برهان سندده ته په دغه (عبادت دغیر)﴿ فَإِنَّمَا حِسَابُهُۥ عِندَ رَبِّهِۦٓ ﴾ بیشکه همدا خبره ده چي حساب (جزاء) ددی (مشرک) په نزد درب دده دی ﴿ إِنَّهُۥ لَا يُفْلِحُ ٱلْكَٰفِرُونَ ﴾ بیشکه شان دادی چي بری نه مومي کافران (اونه خلاصېږي له عذابه) دسورت پیل يې په ﴿ قَدْ أَفْلَحَ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴾ وفرمایو او پای يې په ﴿ إِنَّهُۥ لَا يُفْلِحُ ٱلْكَٰفِرُونَ ﴾ وکړترڅو ددواړوترمینځ تفاوت څرګندشی اودادځمکي آسمان واتن دی ددواړوترمینځ چي پیل او پای يې راووړ ﴿ وَقُل رَّبِّ ٱغْفِرْ وَٱرْحَمْ وَأَنتَ خَيْرُ ٱلرَّٰحِمِينَ ﴾ (او ووایه ای محمده) ای زماربه مغفرت او رحم وکړه اوته ډیرغوره دټولورحم کونکويې) دلته الله تعالی خپل استازی ته داستغفاراواسترحام امر کوي اوامت ته تعلیم ورکوی چي د ثناء اودعالاره ونیسئ اللهم اغفرلنا وارحمنا برحمتک التی وسعت کل شئ یاارحم الراحمین اللهم آمین .

بلاغت : پدی آیتونوکي چي دبیان اوبدیع کومې ښکلاوې شته لنډیزیی دادی :

١ـ امتنان لکه ﴿ وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَنشَأَ لَكُمُ ٱلسَّمْعَ وَٱلْأَبْصَٰرَ وَٱلْأَفْـِٔدَةَ ﴾.

---

(١) التفسیرالکبیر ٢٣ / ١٢٧

٢ـ تفنن چي: ﴿ ٱلسَّمْعَ وَٱلْأَبْصَٰرَ ﴾ يې وفرمايل سمع يې مفرداوابصاريې جمع راوړل.

٣ـ دتقليل لپاره تنكيرلكه : ﴿ قَلِيلًا مَّا تَشْكُرُونَ ﴾ اويادتأكيدلپاره ده چي دغه تقليل چي له تنكير څخه پيداشوى تينگ كړى چي شكراً قليلا يې معناده اودغه له ناشكرى څخه كنايه راغلى ده.

٤ـ استفهام چي غرض څنى انكاراوتوبيخ دى لكه :﴿ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴾ ﴿ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴾ ﴿ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴾.

٥ـ دطباق صنعت لكه چي د ﴿ يُحْيِۦ وَيُمِيتُ ﴾ ترمنيځ دى.

٦ـ دشرط دځواب حذف چي لفظ ورباندي دلالت كوي لكه داچي :﴿ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴾ او ځواب يې داچي (فاخبرونى عنه) يعني كه پوهېږي نوخبرراكړئ.

٧ـ دسلب طباق لكه ﴿ وَهُوَ يُجِيرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيْهِ ﴾.

٨ـ دكلام تأكيددحرف جرپه زياتوالى سره لكه ﴿ مَا ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ مِن وَلَدٍ ﴾ چي معناداچي (مااتخذالله ولدا) اويادداچي ﴿ وَمَا كَانَ مَعَهُۥ مِنْ إِلَٰهٍ ﴾ چي په دواړوځايونوكي د ﴿ مِنْ ﴾ راتلل دنفى د تاكيداوتثبيت لپاره دى.

٩ـ دطباق بل صنعت لكه : ﴿ عَٰلِمِ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ ﴾.

١٠ـ تاكيدپه ال اولام سره لكه داچي : ﴿ وَإِنَّا عَلَىٰٓ أَن نُّرِيَكَ مَا نَعِدُهُمْ لَقَٰدِرُونَ ﴾ چي دمخاطبينو دانكارلپاره راغلى دئ.

١١ـ معنوى طباق لكه چي فرمايې : ﴿ ٱدْفَعْ بِٱلَّتِى هِىَ أَحْسَنُ ٱلسَّيِّئَةَ ﴾ څكه چي معنادا چي (ادفع بالحسنة السيئة)نودغه معنوي طباق دى.

١٢ـ دجمعى لپاره دواوراوړل دتعظيم په هكله لكه دا:﴿ رَبِّ ٱرْجِعُونِ ﴾ اوداسي يې ونه ويل چي (رب ارجعنى) چي دالله جل جلاله لپاره تعظيم وشي.

١٣ـ مرسل مجازچي فرمايي ﴿ إِنَّهَا كَلِمَةٌ هُوَ قَآئِلُهَا ﴾ چي دكلمې اطلاق يې په جمله باندي و فرمايل اودغه اطلاق دجزء مرادځني كل دى.

١٤ـ لطيفه مقابله : ﴿ فَمَن ثَقُلَتْ مَوَٰزِينُهُۥ ﴾ او ﴿ وَمَنْ خَفَّتْ مَوَٰزِينُهُۥ ﴾ ددواړوآيتونوترمينځ.

١٥ـ دقصرصنعت لكه : ﴿ أَنَّهُمْ هُمُ ٱلْفَآئِزُونَ ﴾.

١٦ـ اشتقاقى جناس چي فرمايى ﴿ ٱغْفِرْ وَٱرْحَمْ وَأَنتَ خَيْرُ ٱلرَّٰحِمِينَ ﴾.

١٧ـ موزونه سجعه چي له تكلفاتوڅخه ژغورلى اوخوراز ياته اومشهوره ده.

(دالله (ﷻ) په مرسته دالمؤمنون سورت تفسيربشپړشو.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

د(النور)سورت مدنی او څلويښت آيتونه لري.

دسورت په وړاندي :

* دالنورسورت له مدنی سورتونو څخه يودی اوتشريعی احکام څيړی اخلاق اوسلوک ښيي تولنيزو چارونه پاملرنه کوی په ځانګړې توګه هغه څه ښيي چي مسلمانان بايدورباندی وروزل شی هغوی که افراد دی اوکه تولګی همدارازسورت په ډيرومهموحکمونواوتوجيهاتومشتمل دی کوم چي په کورنۍ پوری اړونددی هغه کورنۍ چي دستری تولنې لپاره زړی (تخم)تشکيلوی .

* سورت هغه تولنيزاداب څرګندوی کوم چي لازم دی مسلمانان يی پخپل تولنيزژوندانه کي ارو مروعملی کړی لکه چي استيذان غوښتل ،پردي ناموس ته نه کتل ،خپل فروج له نارواکارونوڅخه خوندی ساتل اوله پرديوښځوسره دنامحرمونارينه ووګډون نه کول دی اوګردهغه شيان چي ديوې مسلمانې کورنۍ لپاره يی ترسره کول اړين (ضروری)وی لکه عفاف (پاک لمنی) ستر(حجاب) اوپه شريعت باندی ثبات اواستقامت کول ترڅوچي حرمت يی پرځای وساتل شی اوله وراني ويجاړی څخه يی خوندي پاتی کړي کوم چي کورنۍ اوامتونه له اخلاقی پلوه نړوی اوله مينځه يی وړی .

* پدې سورت کي ځيني هغه حدودچي الله تعالی فرض کړی لکه دزناحد ،دقذف حداودلعان حدراغلی دی اودغه ټول حدودپه مجموع کي دټولنې له فساداوبې لاريوڅخه دپاکوالی لپاره فرض شوی ترڅونسبونه ګډوډنشی اخلاقی ټيټ والی انحطاط اوانحلال رامنځته نشی اوامت دفساداوذلت په خوساډنډونوکي غوپه نشی څوچي شرف اوعرض يی خوندی وی په لنډه توګه دغه سورت ترټولوستر پلوته چي هغه دټولنيزژوندانه هغه له خطراتوډک لوری دی پام کوی چي هغه کورنۍ ده اودهغي په وړاندی کي خنډونه اومشکلات شته دی چي غواړی هغه له مينځه يوسی سربيره پردې په سورت کي لوړاخلاق سترحکمتونه ښائسته لاربښوونې راغلې چي دعزتمن اوله فضيلت نه ډک ژوندانه تاداوونه ايږدي ځکه نوعمربن الخطاب دکوفې خلکوته يوليک وليکل چي پکي راغلی وو : خپلومير منوته سورت النور ورزده کړئ.

تسميه اونومول يې :

دغه سورت ته سورت النورپدی وايې چي ربانی وړانګې اوانوارپکي دشرعی احکامواو انساني فضائلوچي دالله له نورڅخه يوه شغله ده له ورايه ځليږی اودالله دفيوضاتواوبرکاتو احساناتو ټولګه ده فرمايي ﴿ ٱللَّهُ نُورُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ اللهم نور قلوبنابکتابک المبين يارب العلمين آمين .

الله تعالی فرمايي :

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ سُورَةٌ أَنزَلْنَٰهَا وَفَرَضْنَٰهَا وَأَنزَلْنَا فِيهَآ ءَايَٰتٍۭ بَيِّنَٰتٍ لَّعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴿١﴾ ٱلزَّانِيَةُ وَٱلزَّانِى فَٱجْلِدُوا۟ كُلَّ وَٰحِدٍ مِّنْهُمَا مِا۟ئَةَ جَلْدَةٍ ۖ وَلَا تَأْخُذْكُم بِهِمَا رَأْفَةٌ فِى دِينِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ ۖ وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَآئِفَةٌ مِّنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٢﴾ ٱلزَّانِى لَا يَنكِحُ إِلَّا زَانِيَةً أَوْ مُشْرِكَةً وَٱلزَّانِيَةُ لَا يَنكِحُهَآ إِلَّا زَانٍ أَوْ مُشْرِكٌ ۚ وَحُرِّمَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٣﴾ وَٱلَّذِينَ يَرْمُونَ ٱلْمُحْصَنَٰتِ ثُمَّ لَمْ

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَانِينَ جَلْدَةً وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا ۚ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ ﴿٤﴾ إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا مِن بَعْدِ ذَٰلِكَ
وَأَصْلَحُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٥﴾ وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُن لَّهُمْ شُهَدَاءُ إِلَّا أَنفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ أَحَدِهِمْ أَرْبَعُ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ ۙ إِنَّهُ
لَمِنَ الصَّادِقِينَ ﴿٦﴾ وَالْخَامِسَةُ أَنَّ لَعْنَتَ اللَّهِ عَلَيْهِ إِن كَانَ مِنَ الْكَاذِبِينَ ﴿٧﴾ وَيَدْرَأُ عَنْهَا الْعَذَابَ أَن تَشْهَدَ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ
بِاللَّهِ ۙ إِنَّهُ لَمِنَ الْكَاذِبِينَ ﴿٨﴾ وَالْخَامِسَةَ أَنَّ غَضَبَ اللَّهِ عَلَيْهَا إِن كَانَ مِنَ الصَّادِقِينَ ﴿٩﴾ وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ
وَأَنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ حَكِيمٌ ﴿١٠﴾ إِنَّ الَّذِينَ جَاءُو بِالْإِفْكِ عُصْبَةٌ مِّنكُمْ ۚ لَا تَحْسَبُوهُ شَرًّا لَّكُم ۖ بَلْ هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُم
مَّا اكْتَسَبَ مِنَ الْإِثْمِ ۚ وَالَّذِي تَوَلَّىٰ كِبْرَهُ مِنْهُمْ لَهُ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١١﴾ لَّوْلَا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ ظَنَّ الْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بِأَنفُسِهِمْ
خَيْرًا وَقَالُوا هَٰذَا إِفْكٌ مُّبِينٌ ﴿١٢﴾ لَّوْلَا جَاءُو عَلَيْهِ بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ ۚ فَإِذْ لَمْ يَأْتُوا بِالشُّهَدَاءِ فَأُولَٰئِكَ عِندَ اللَّهِ هُمُ
الْكَاذِبُونَ ﴿١٣﴾ وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ لَمَسَّكُمْ فِي مَا أَفَضْتُمْ فِيهِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١٤﴾ إِذْ تَلَقَّوْنَهُ
بِأَلْسِنَتِكُمْ وَتَقُولُونَ بِأَفْوَاهِكُم مَّا لَيْسَ لَكُم بِهِ عِلْمٌ وَتَحْسَبُونَهُ هَيِّنًا وَهُوَ عِندَ اللَّهِ عَظِيمٌ ﴿١٥﴾ وَلَوْلَا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ قُلْتُم مَّا
يَكُونُ لَنَا أَن نَّتَكَلَّمَ بِهَٰذَا سُبْحَانَكَ هَٰذَا بُهْتَانٌ عَظِيمٌ ﴿١٦﴾ يَعِظُكُمُ اللَّهُ أَن تَعُودُوا لِمِثْلِهِ أَبَدًا إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٧﴾
وَيُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ ۚ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿١٨﴾ إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَن تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ
فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ ۚ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿١٩﴾ وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ وَأَنَّ اللَّهَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ
﴿٢٠﴾ النور ١ - ٢٠

لغتونه:

(سورة) سورت په لغت کي ستري رتبې اولوړي مرتبې ته وايې او هغه ټولګه آيتونه چي پيل او پای يې معلوم دی ځکه سورت بولی چي ستره مرتبه او شرافت لری لکه جګ ديوال ته هم (سور) وايې (الزنی) زنی حرامي وطی ته وايې او فاحشه يې هم بولی چي په بدی کي منتهاته رسيدلی وي زاني يې فاعل دی اهل نجدیی (زنا) ليکي (رأفة) له رؤف څخه مشتق او نرم زړه مهربان ته وايې (المحصنات) پاک لمنو ميرمنو ته وايې (احصان) منعي ته وايې او ځکه نو ميرمنو ته محصنات ويل کيږی چي ځانونه يی له بدو افعالو منع کړی او برج ته هم حصن وايې ځکه هغه دښمنان منع کوی (يدرأ) له (درء) څخه او دفع کولو ته وايې (الشيع) له شاع څخه اخيستل شوی او ظهور خپراوی ته وايې (عصبة) هغه ټولګي او ډلګی ته وايې چي ځيني يې دځينو نورو ملاتړ کوي.

دنزول سبب:

ا- روايت کيږی چي يوه ښځه چي (ام مهزول) نوميده ناولی کارونه يی کول يعني زنا به يی کوله او په سړی به يی داسي شرط ايښودل چي ددې نفقه به ورکوی نو له مسلمانانو څخه يو چاد هغي دنکاح کولو

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

اراده وکړه اورسول الله ﷺ ته یی په دی هکله وویل نو الله تعالی دا آیت نازل کړ: ﴿ وَٱلزَّانِيَةُ لَا يَنكِحُهَآ إِلَّا زَانٍ أَوْ مُشْرِكٌ ﴾ (۱)

ب- ابن عباس (رض) وایې چې هلال بن امیه درسول الله ﷺ په وړاندی پخپله ښځه تور ولګاوو چې له (شریک بن سحماء) سره توره شوې رسول الله ﷺ ورته وفرمایل یا به شاهدان تیروي اویا به دی پرملا دُرې درکول کیږی حد به درباندی جاری کیږی نو هغه وویل ای رسول الله ﷺ کله چې یو څوک له خپلې میرمنې سره یو څوک ووینی بیا به نو په شاهدانو پسی ګرزی؟ زمادی په هغه ذات قسم وی چې ته یی په حقه را استولی یی زه رښتیا ویونکی یم او الله دی هغه څه رانازل کړی چې زما شاله (حد) څخه وژغوری نو بیا دا آیتونه نازل شول: ﴿ وَٱلَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَٰجَهُمْ ﴾ (۲)

تفسیر:

﴿ سُورَةٌ أَنزَلْنَٰهَا ﴾ (دا یو عظیم الشان) سورت دی چې نازل کړی دی موږ) یعني دا قرآني جوامع السور وځخه یو ستر سورت دی چې موږ تاته ای محمده نازل کړي ﴿ وَفَرَضْنَٰهَا ﴾ او فرض کړی دی موږ (له قطعي اوایجابي احکامو څخه) ﴿ وَأَنزَلْنَا فِيهَآ ءَايَٰتٍۭ بَيِّنَٰتٍ ﴾ او نازل کړی دی موږ پدی قرآن کي ښکاره آیتونه دشرعي احکامو څوستاسو لپاره ای مؤمنانو دلارې مشال وي او دا نزال کلمه په تکراري ډول څکه راوړل شوی چې په شان کي یی زیات اهتمام اوپاملرنه وشی لکه چې فرمایي مادغه یوازي دتلاوت کولو لپاره نه دی نازل کړی بلکه دعملي کولو او تطبیق لپاره مي نازل کړی دی ﴿ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴾ ددي لپاره چې تاسي (پرې) پندواخلئ (اوپه موجب یی عمل وکړی وروسته الله تعالی داحکامو په بیانولو پیل کوی او دزنا دحد په هکله فرمایی ﴿ ٱلزَّانِيَةُ وَٱلزَّانِي فَٱجْلِدُوا۟ كُلَّ وَٰحِدٍ مِّنْهُمَا مِاْئَةَ جَلْدَةٍ ﴾ هغه ښځه چې زنایی کړی وی او هغه سړی چې زنایی کړی وی (غیر محصنین وی) پس وهی تاسي (په دی سخته ګناه باندي هریوله دغو دواړو سل دُرې ﴿ وَلَا تَأْخُذْكُم بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ ٱللَّهِ ﴾ اوندی نیسی تاسو لره په دغو دواړو (زناکارانو) زړه سوی مهربانی (په انفاذ) دحکم دالله کي (چې په کراریی وهی اویا شمیر ورلږ کړي بلکه مزبوت یې ووهي مجاهدوایې معنا داچې دالله حدودمه معطل کوئ او دشفقت اومرحمت له مخې هغه بیخی له پامه مه غورزوی (۳) ﴿ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ ﴾ که یی تاسي چې تینګ یقین په الله اوپه ورځې دقیامت لری (نو دالله جل جلاله حدودمه پریږدی اوپه زانیانو شفقت مکوئ ځکه دزناګناه ددی وړنه ده چې څوک دی ورباندی ورحمیږی او شفقت دی پری وکړي ﴿ وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَآئِفَةٌ مِّنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ اوحاضردی شی عذاب کولو ددی دواړو ته یوه ډله دمؤمنانو ترڅو ددوی زجر زیات

---

(۱) رواه احمد والنسائی
(۲) رواه البخاري او دبحث بشپړه کیسه زموږ په تالیف روائع البیان ۲ / ۸۰ کي وګورئ
(۳) التفسیر الکبیر ۲۳ / ۱۴۸

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

اوتعذیب یې اضافه شي ځکه کله کله ترعذاب رسوایې ډیره دژغورنې سبب کیږي ﴿ ٱلزَّانِى لَا يَنكِحُ إِلَّا زَانِيَةً أَوْ مُشْرِكَةً ﴾ (زناکارسړی نه نکاح کوي مګرخوزناکاره ښځه یا مشرکه ښځه) یعني له زناکاره سړی نه ښایی چي عفیفه پاک لمنه شریفه ښځه په نکاح واخلی بلکه هغه لکه ځان غوندی ښځه په رغبت اومینه غواړی اویاهغه چي ترده هم لاناولی بدکاره وی اویابیخی مشرکه بت پرسته وی ﴿ وَٱلزَّانِيَةُ لَا يَنكِحُهَآ إِلَّا زَانٍ أَوْ مُشْرِكٌ ﴾ اوزناکاره ښځه نه په نکاح کوي (ددی سره په رغبت اومحبت)مګر زناکار اویامشرک سړی یعني اوله ناولی بدکاره ښځی سره نه ښایی چي پاک پریولی مسلمان ورسره نکاح وتړی بلکه هغه ورسره وړدی چي ددی په شان ناولی اویاتردی هم زیات بدکار اوکافرمشرک وی ځکه پاک نفسونه نه غواړی چي له فاسقاتو ،بدکاره ښځوسره دنکاح تړون وکړی امام فخررازی فرمایی چي ترټولوغوره تفسیرچي ددی آیت په هکله راغلی دادی چي پلیت فاسق هغه چي روزګاریی زنااوفسق وی دصالحاتومیرمنوسره رغبت نلری بلکه دځان په شان پلیته خبیثه اومشرکه ښځه لټوی همداسي فاسقه ښځه دنیکانوصالحانوپه نکاح کولوکي رغبت نلری او ورځخه کرکه کوی هغه ځوک غواړي چي ددی له جنس ځخه وی اودفاسقانومشرکانوله ډلي ځخه وی لکه چي وایې : دخیر کارپرته له پرهیزګاره سړی بل ځوک نه کوی اوکله ناکله یوځه دخیرکارهغه هم کوی چي پرهیزګاره نه وی دلته هم داسی ده ﴿ وَحُرِّمَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ اوحرامه کړی شویده دغه زنااویانکاح له بدکارو سره پرمؤمنانو او صالحانوځکه چي پکي خورازیات سترضرورنه دی (۱) بیاالله تعالی دقذف حد بیانوي فرمایي چي: ﴿ وَٱلَّذِينَ يَرْمُونَ ٱلْمُحْصَنَٰتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا۟ بِأَرْبَعَةِ شُهَدَآءَ ﴾ اوهغه کسان چي ولی محصنې (عفیفاتي شرېفاتي) ښځي چي نسبت دزناورته وکړي بیارانه ولي (په دعوی خپله باندی) څلورتنه شاهدان (عادلان چي د دوی تورثابت کړي کوم چي په ښځویی دزنالګولی وی) ﴿ فَٱجْلِدُوهُمْ ثَمَٰنِينَ جَلْدَةً ﴾ پس ووهئ تاسي (ای حاکمانو) دغه هریو(دقاذفانو) اتیادُرې (ځکه دوی دروغ ویلی او پاکي مېرمني یې توري کړی اود خلکوپه ناموسونوکي غوپه شوي دي ﴿ وَلَا تَقْبَلُوا۟ لَهُمْ شَهَٰدَةً أَبَدًا ﴾ اومه قبلوئ تاسي له دوی نه شاهدي هیڅکله (ترمرګه پوري) یعني ددوی په عذاب داهم ورزیات کړی ځکه چي انسانی کرامت ته یې په سپکه کتلی دی نوترهغوی چي په دروغواوبهتان ټینګ وي شاهدي یې مه منئ ﴿ وَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْفَٰسِقُونَ ﴾ اودا(قاذفان) هم دوی دی فاسقان وتلی له طاعته دالله عزوجل ځکه چي دکبیره ګناه مرتکب شوی اوسترجرم یی کړی دی ابن کثیروایې چي الله ﷻ په قاذف باندی چي دخپل تورپه هکله شاهدان رانه ولی دری حکمونه واجب کړی لومړی داچي اتیادُری دی ووهل شی دوهم داچي هیڅکله دی ګواهی (شاهدي) ونه منل شی اودریم بیاداچي دوی فاسقان دی ،نه دالله په وړاندي اونه هم د خلکوپه مخ کي

(۱) پدې کي دمفسرینودوه قوله دي لومړی دالتسهیل مؤلف غوره کړی اودوهم بیادابوالسعوداوقرطبي خوښ دی.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

عادلان کیدای شی(١) ﴿ إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُوا۟ مِنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ وَأَصْلَحُوا۟ ﴾ مګرهغه کسان چي توبه وباسي (اورجوع وکړی الله ته) اواصلاح کړی (نیت اوعمل خپل بل وارپه پاکوښځودزناتورنه لګوی ابن عباس وایې معنا داچې خپله توبه څرګنده کړی ﴿ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ (پس په تحقیق الله ښه مغفرت کونکی دی) دګناهونوډیر رحم والادی (په انعام داجریعني دوی ته عفو وکړی اوله ګناه یې تېرشي هغه بایللي اعتباربیرته ورکړی شاهدي یې ومني ځکه الله جل جلاله غفور رحیم دی دخپلې بنده توبه منی کله چي خپل ځان اصلاح کړی وروسته بیاالله پاک دهغه چاچي خپله مېرمن په زنا تورنه کړی (چي دغه ته په عرف کي لعان وایې) حال داسي بیانوي ﴿ وَٱلَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَٰجَهُمْ ﴾ اوهغه کسان چي ولی ښځی خپلي (په توردزنا) ﴿ وَلَمْ يَكُن لَّهُمْ شُهَدَآءُ إِلَّآ أَنفُسُهُمْ ﴾حال داچي نه وی دوی ته شاهدان (پدی کارد زنا کي) پرته له خپله ځانه ددوی ﴿ فَشَهَٰدَةُ أَحَدِهِمْ أَرْبَعُ شَهَٰدَٰتٍۭ بِٱللَّهِ إِنَّهُۥ لَمِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴾ (پس واجبه ده پدې کي)شاهدي دیوه ددوی څلورشاهدی په (نامه) دالله (په خبره چي) بیشکه دی خامخاله رښتیا ویونکودی) یعني شاهدی دیوه ددوی چي ورځخه دقذف (حد)لیري کوي داده چي څلورځلي شاهدي ووایې چي دڅلوروشاهدانوپرځای ودریږی ﴿ وَٱلْخَٰمِسَةُ أَنَّ لَعْنَتَ ٱللَّهِ عَلَيْهِ ﴾اوپنځمه شاهدی داسي ده) چي بیشکه دالله لعنت دی وی پردغه (میړه) ﴿ إِن كَانَ مِنَ ٱلْكَٰذِبِينَ ﴾که وي دی (میړه) له دروغجنانو څخه (په دغه تورن کولودښځي خپلي کي په زنا باندي ﴿ وَيَدْرَؤُا۟ عَنْهَا ٱلْعَذَابَ ﴾ اودفع کوي له دغی ښځي څخه عذاب د(حدزناپه ویناد میړه سره) ﴿ أَن تَشْهَدَ أَرْبَعَ شَهَٰدَٰتٍۭ بِٱللَّهِ إِنَّهُۥ لَمِنَ ٱلْكَٰذِبِينَ ﴾ داچي شاهدي ووایې دا(ښځه)څلور واری شاهدی په (نامه) دالله چي بیشکه دا(میړه زما) خامخاله دروغ ویونکودی (په تورن کولوزماکي) ﴿ وَٱلْخَٰمِسَةَ أَنَّ غَضَبَ ٱللَّهِ عَلَيْهَآ إِن كَانَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴾ اوپنځمه (داسي ده چي ووایې) بیشکه غضب دالله دی وی پردی (ښځي) که چیري وي (دامیړه مي) له صادقانو رښتیا ویونکوڅخه (په تورن کولوددی کي په زناباندی) ﴿ وَلَوْلَا فَضْلُ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُۥ ﴾ اوکه نه وی فضل (احسان) دالله پرتاسي اورحمت دده (په ستراوپټولو ،ځواب دلولامحذوف دی اوهغه هم د تهویل لپاره تقدیریې داسي دی چي ارو مروبه یی رسوا کړی وای تاسي اوعذاب به یې درکړی وواوډېرځله مسکوت عنه ترمنطوق ابلغ وي ﴿ وَأَنَّ ٱللَّهَ تَوَّابٌ حَكِيمٌ ﴾ بیشکه الله ډیرتوبه قبلونکی لوی حکمت والادی (اوله دی جملې څخه دلعان حکم هم دالله په حکمت بنادی؛ دلولاځواب لکه چي ومو ویل محذوف دی اولکه ویل شوی دی که چیری دالله فضل اواحسان نه وای نوهغه څه به رامنځته شوی وای چي دبیان په توان کي نه راځی اودالله دحکمت څخه یوداهم دی که چیری یی دغه لعان په دی توګه نه وی فرمایلی او رواکړی نوبه بیاپه میړه باندی دقذف حدواجب شوی ووسره له دی چي ظاهره خودی رښتیاویونکی بریښی ځکه دی هم په رسوایې کي ورسره ګډدی اوکه چیری دده

(١) المختصر٢/ ٥٨٣

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

څوځلی شاهدی په ښځه باندی دحدموجب ګرزیدلی وای نوبه په هغی شفقت نه ووراغلی اوکه دهغی څوځله شاهدی په ده باندی دقذف دحدموجب ګڼل شوی وای بیابه دده په هکله دشفقت څرګندونه نه وای فسبحانه ما اعظم شانه واوسع رحمته وأدقّ حکمته (۱) وروسته له دی الله تبارک وتعالی دافک کیسه بیانوی هغه چي په پاک لمنې پاکیزه اودبرائت ټوټې حضرت صدیقې رضی الله عنها پورې دبهتان اودروغ تور لګول شوی وو(۲) نوفرمایی : ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ جَآءُو بِٱلْإِفْكِ ﴾ بیشکه هغه کسان چي راوړی دی غټ دروغ (او بدترین بهتان چي دحضرت عائشې رضی الله عنها تورن کول دی امام فخر رازی وایې افک ددروغو اوافتراء وروستی سرحدته وایې اودټولو مسلمانانوپه دی اجماع ده چي مرادله دغه افک څخه د حضرت عائشې چي دمعصوم پیغمبرصلی الله علیه وسلم مبارکه میرمن وه تورن کول دی (۳) ﴿ عُصْبَةٌ مِّنكُمْ ﴾ یوه ټولۍ ده له تاسي (مسلمانانو) څخه اوددوی په سرکي ابن سلول دنفاق بڅرکی وو ﴿ لَا تَحْسَبُوهُ شَرًّا لَّكُم بَلْ هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ﴾ ګومان مه کوی پدې (دروغو)چي شردی تاسولره (ای آل ابوبکره!)، بلکه دغه (دروغ) خیردی تاسي ته (چي پکي سترشرف دی ځکه چي دأم المؤمنین دبرائت په هکله وحی رانازلیږی اودغه لوړشرف اوفضل دی مفسیرین کرام وایې چي پدې کي له پنځووجوهاتو خیرشته دی : دأم المؤمنین برائت ،اودهغی دعزت په باب دوحی نزول اودهغي دشان سترتوب ستراجرپدی توربانډی ورکول کیږی دمؤمنانولپاره پنداونصحیت اوله مفتریانوکسات اخیستل کیږی (۴) ﴿ لِكُلِّ ٱمْرِيٍٕ مِّنْهُم مَّا ٱكْتَسَبَ مِنَ ٱلْإِثْمِ ﴾ مقرردی هرسړی ته له دغو(بهتان ویونکیوجزاء) هغه څیزچي له ګناه څخه یې ګټلی دی (په اندازه دډوبیدلودهغې) ﴿ وَٱلَّذِى تَوَلَّىٰ كِبْرَهُۥ مِنْهُمْ لَهُۥ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴾ اوهغه څوک چي پورته یې کړلوی (پېټی) ددغه (بهتان اوشائع یی کړل دروغ چي دمنافقانوسردارابن سلول دی) شته ورته عذاب لوی (دوزخ په آخرت کي)﴿ لَّوْلَآ إِذْ سَمِعْتُمُوهُ ﴾ ولي نه ای مؤمنانوپه هغه وخت چي واوریده تاسي داخبره (دافتراء اودصدیقې عائشې (رضی الله عنها) تورول) ﴿ ظَنَّ ٱلْمُؤْمِنُونَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتُ بِأَنفُسِهِمْ خَيْرًا ﴾ ګمان کاووایمان داره سړیواوایمان داره ښځوپه نفسونوخپلو(په خپلومنځوکي) دخیر (خبری)یعني ولی یی دخیرګومان نه کاووا وژرترژره یی دتومت لګول په هغه چاچي دهغه سپیځلتیا اوپاکي یی لیدلي ونه منل ځکه همدادایمان غوښتنه ده چي مسلمان دی په بل مسلمان ورورد عیب اوپیغورخبره تپل نه منی ابن کثیروایې چي دغه دالله جل جلاله له لوری دادب ښوونه ده چي مؤمنانوته فرمایی کله چي ځیني ددوی په بدوخبروکي ډوبیدل چي ولی مودغه پخپل ځان باندی نه قیاس کاوو داچي له تاسوسره هسی نه ښائیدل نوله ام المؤمنین رضی الله عنهاسره خوبه په اولۍ طریقه نه ښایی روایت کیږی چي دابوایوب

---

(۱) ارشادالعقل السلیم ۴ / ۴۸
(۲) وګوره تفصیلي کیسه زموږپه کتاب روائع البیان کي ۲ / ۱۱۷
(۳) التفسیرالکبیر ۲۳ / ۱۷۲
(۴) التسهیل ۳ / ۶۱

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

رضی الله عنه ماندیني خپل خاوندته وویل ایاهغه څه دی اورېدلي چي دعائشې په باب یې خلک وایې؟ هغه ورته وویل هو ! اودغه سراسردروغ دی ایاته ای دایوب موري ؟ ! دغه کارکوې هغې وویل نه په والله که یې وکړم نوهغه ورته وویل چي قسم په الله عائشه رضی الله عنها ترتابهتره ده (١) ﴿ وَقَالُوا۟ هَٰذَآ إِفْكٌ مُّبِينٌ ﴾ او ویلي وي دوی (تولوداسي) دا خبره ښکاره دروغ ده ﴿ لَّوْلَا جَآءُو عَلَيْهِ بِأَرْبَعَةِ شُهَدَآءَ ﴾ ولي نه راوسته (دوی) پدې خبره څلور شاهدان (چي شاهدي ورکړي پدې قذف (ددې) ﴿ فَإِذْ لَمْ يَأْتُوا۟ بِٱلشُّهَدَآءِ ﴾ پس کله چي یې نه راوستل څلور شاهدان (پخپله دعواباندي) ﴿ فَأُو۟لَٰٓئِكَ عِندَ ٱللَّهِ هُمُ ٱلْكَٰذِبُونَ ﴾ پس دغه کسان په نزد دالله کي هم دوی دروغجنان دي (دوی دالله په حکم اوشریعت کي مفسدین اودروغجن دی پدې کي توبیخ اوترټل دی دهغه چالپاره چي لومړی ځل یې دغه توروا وریده اوهغه یې تردیدنکړ ﴿ وَلَوْلَا فَضْلُ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُۥ فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْءَاخِرَةِ ﴾ اوکه نه وای فضل دالله اواحسان دده په دنیااوآخرت کي (چي تاسي ته یی مهلت درکړاوسمدستي یې عذاب درته نه راواستاوو) ﴿ لَمَسَّكُمْ فِى مَآ أَفَضْتُمْ فِيهِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴾ خامخا رسیدلی به ووتاسي ته په هغه دروغ کي چي غوپې وهلې تاسي به هغو(دروغو) کي لوی عذاب (چي دُرې وهل اورټل به ورته ډیرآسان وو)قرطبی وایې دعه دالله له لوری دهغه چالپاره چي دافک په هکله یی غوپی وهلی دی ډیرژورعتاب دی خودالله په رحمت یی په دنیاکي دوی پټ کړل اوپه آخرت کي بیاهغه چاته کوم چي توبه ګارشي عفواومغفرت کوي (٢) ﴿ إِذْ تَلَقَّوْنَهُۥ بِأَلْسِنَتِكُمْ ﴾ کله چي واخیست تاسودا(افک) په خپلو ژبوسره (چي ځیني له ځیني نوروڅخه پوښتنه کوله ؛ مجاهدوایې معناداچي ځیني کسانوبه ځیني نوروته روایت کاووچي دامي له فلاني واوریده اوفلاني هسي ویل (٣) ﴿ وَتَقُولُونَ بِأَفْوَٰهِكُم مَّا لَيْسَ لَكُم بِهِۦ عِلْمٌ ﴾ او ویله به موپه خولوخپلو سره هغه خبره چي نه وو تاسوته په هغې باندي هیڅ علم (بلکه محض دروغ اوبهتان وو) ﴿ وَتَحْسَبُونَهُۥ هَيِّنًا وَهُوَ عِندَ ٱللَّهِ عَظِيمٌ ﴾ اوګڼله تاسي دغه خبره آسانه کوچنۍ ګناه چي عذاب یی نشته حال داچي دغه (خبره) په نزددالله کي ډیره لویه ده ځکه چي د مسلمانانوپه اعراضوکي لویدل دی)په التسهیل کي وایې چي الله دوی په دریوڅیزونوباندي وترټل لومړی داچي په ژبواخیستل یې چي له دی تور څخه به یی پوښتنی کولی دوهم داچي پخپله به پکي ګډېدل دریم داچي هغه یي وړکوتي ګناه ګڼله اوسره له دی چي دالله په نزدخوراستره ګناه ده اودا چي الله تعالی هغه په دی الفاظوچي : ﴿ بِأَلْسِنَتِكُمْ ﴾..... ﴿ بِأَفْوَٰهِكُمْ ﴾ دی راوړه ګټه یې داده چي دغه خبري اصلایوازي په ژبوویل کیدې اوپه زړونوکي نه وې ځکه دوی ته یې

(١) مختصرابن کثیر٢ /٥٩١
(٢) القرطبي١٢ /٢٠٣
(٣) المختصر٢ /٥٩١

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

پخپلوزړونوکي حقيقت نه وومعلوم (١) ﴿ وَلَوْلَآ إِذْ سَمِعْتُمُوهُ قُلْتُم مَّا يَكُونُ لَنَآ أَن نَّتَكَلَّمَ بِهَٰذَا ﴾ (ولي نه کله چي تاسي داخبره واوريده ويل تاسي چي نه ښايي موږته داکارچي خوله وخوځوو پدې خبره باندي) دغه ګردو مؤمنانو ته عتاب دی يعني ولي موله لومړی اوريدلوسره دغه خبره تکذيب او ترديد نکړه ؟ چي ويلی مووای موږته نه ښايي پدي خبره خوله پرانيزويايی چاته وکړو ﴿ سُبْحَٰنَكَ هَٰذَا بُهْتَٰنٌ عَظِيمٌ ﴾ پاکي ده تالره (ای ربه) دا ډېرلوی دروغ دی) يعني سبحان الله چي درسول الله صلی الله عليه وسلم په ماندينه هغه چي پاکيزه طاهره ده داسي ستره ګناه تړل شوی اوافتراء کړی ده دغه خورا ستر جرم دی زمخشري وايې چي دغه د امردسترتوب اواستبعادپه هکله تعجب دی اودغه عمومي قاعده ده چي دتعجب دچارو د ليدوپه وخت کي سړی تسبيح وايې (٢) ﴿ يَعِظُكُمُ ٱللَّهُ أَن تَعُودُوا۟ لِمِثْلِهِۦٓ أَبَدًا ﴾ پند درکوي الله تاسي ته (اومنع کوي مو) چي بياونه ګرزی دې خبرې ته هيڅکله ﴿ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴾ که چېري يی تاسي مؤمنان (څکه ايمان له دغسی بهتان ويلوڅخه سړی راګرزوي پدي کي (پنداخيستلولپاره هڅونه ده) ﴿ وَيُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلْءَايَٰتِ ﴾ اوبيانوي الله تاسي ته آيتونه (پندهغه چي په شرائعواونيکوادابودلالت کوي ترڅو تاسي ورباندي پندواخلی اوادب زده کړی ﴿ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴾ اوالله ښه علم والاښه حکمت والادی (مصالح دبندګانوورته معلوم اوپه تدبيراو تشريع کي حکمت لري) ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ يُحِبُّونَ أَن تَشِيعَ ٱلْفَٰحِشَةُ ﴾ بيشکه هغه کسان چي خوښوي دغه (خبره)چي خوره شي بدنامي (زنا،رذالت اونور منکرات) ﴿ فِى ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ﴾ په حق د هغوکسانوکي چي ايمان يې راوړی دی اوپاکان دي ﴿ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْءَاخِرَةِ ﴾ شته دغو کسانوته عذاب دردناک په دنياواوآخرت کي (چي په دنياکي د قذف (حد) ورباندی جاري کېږي او په آخرت کي ددوزخ عذاب ورکول کيږی حسن رحمه الله وايې پدې وعيدباندی منافقين په غوږ وهل شوی څکه هغوی دغه خوښوله اودرسول الله صلی الله عليه وسلم ريړول يي مقصدوواودغه دکفراولعنت موجب دی (٣) ﴿ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴾ اوالله ښه عالم دی اوتاسونه پوهيږی يعني الله په پټو رازونواونيټونوښه خبرداردی امام فخررازی وايې چي دغه جمله په خورابنه ځای کي واقع شوی ده څکه دزړه مينه اومحبت يوپټ څيزدی موږپه هغه باندي پرته له نښونښانونه پوهيږواوالله جل جلاله خوپه هرڅه پوهيدونکی دی دغه يادونه دلته بېخي پرځای ده اوزجرلپاره ښه کارونکی ده څکه څوک چي دبدنامي خپرېدل خوښوي که څه هم دغه خوښونه په زړه کي پټه ساتي خوپدې پوهيږي چي پدې باندي الله تبارک وتعالی علم لري اود سزاور کولو اندازه يې هم

---

(١) التسهيل فی علوم التنزيل ٣/ ٢٢

(٢) الکشاف ٣/ ٢٢٥

(٣) البحرالمحيط ٦/ ٤٣٩

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

ورته معلومه ده (۱) ﴿ وَلَوْلَا فَضْلُ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُۥ وَأَنَّ ٱللَّهَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴾ اوکه نه وای فضل او احسان دالله پرتاسي باندي اورحمت مهربانی دده (دانه وای) چي بیشکه الله ښه نرمي کونکی ښه رحم والادی (نوبه یی دوی هلاک کړی اومغلوب کړی وای اوهغه څه به پیښ شوی وای چي له انسانی تصور څخه پورته او اټکل یی ممکن نه دی.

بلاغت:

پدې آیتونو کي چي دبدیع اوبیان کومي ښکلاوي شته لنډیزیی دادی:

۱ـ تنکیر دتفخیم لپاره لکه چي فرمایی ﴿ سُورَةٌ أَنزَلْنَٰهَا ﴾ یعني دغه دسترشان درلودونکی سورت دی چي الله پاک نازل کړی دی.

۲ـ اطناب چي لفظ مکرر راوړل شی چي ﴿ وَأَنزَلْنَا ﴾ دی اوفرمایي ﴿ وَأَنزَلْنَا فِيهَآ ءَايَٰتٍۭ بَيِّنَٰتٍ ﴾ چي په هکله یی بشپړاهتمام اوزیاته پاملرنه وشی اودغه ته ذکردخاص وروسته له عام څخه وایي.

۳ـ استعاره چي فرمایی: ﴿ وَٱلَّذِينَ يَرْمُونَ ٱلْمُحْصَنَٰتِ ﴾ رمی په درانه شي لکه ډبره ویشتلوته وایي اوبیادژبې دوارکولو لپاره استعمال شوه ځکه دغه هم لکه حسی ربړاوتکلیف غوندی ده نوپدې کي لطیفه استعاره نغښتي ده.

۴ـ پارونه اوهڅونه لکه داچي: ﴿ إِن كُنتُم تُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ ﴾ لکه چي ته وایي که نریی داسي به وکړی؟!

۵ـ دمبالغې صیغې چي فرمایي ﴿ تَوَّابٌ حَكِيمٌ ﴾ او ﴿ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ ځکه چي فعول اوفعال دواړه دمبالغي صیغې دی اوپدغوصفاتوکي وروستي حد رسیدلوته وایي.

۶ـ دطباق صنعت لکه د ﴿ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴾ او ﴿ ٱلْكَٰذِبِينَ ﴾ ترمینځ چي دی.

۷ـ د(وَلَوْلَا) دځواب حذف چي دتهویل اوهیبت لپاره راغلی کله چي فرمایی! ﴿ وَلَوْلَا فَضْلُ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُۥ ﴾ اوداددې لپاره چي وهم اوفکرهرلوری ته وزغلی اودزجراوتهدیدهرلوی ولټوی اوپه اندازه کولوکي ترهوره شی.

۸ـ دطباق صنعت چي فرمایي ﴿ لَا تَحْسَبُوهُ شَرًّا لَّكُم بَلْ هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ﴾ او ﴿ وَتَحْسَبُونَهُۥ هَيِّنًا وَهُوَ عِندَ ٱللَّهِ عَظِيمٌ ﴾ چي دلته دشراوخیرمطابقت کړي همداسي یې دهیّن اوعظیم ترمینځ طباق راوړی دی.

۹ـ له غیبت څخه خطاب ته التفات چي پدې کلام کي راځي ﴿ لَّوْلَآ إِذْ سَمِعْتُمُوهُ ظَنَّ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴾ چي ښائیدوداسي چي وویل شي (ظننتم) اوله دې څخه یې دتوبیخ (مبالغې لپاره عدول وفرمایل اوبل داچي دایمان غوښتنه هم داده چي په مؤمنانوبه دخیرګومان کوئ.

---

(۱) التفسیرالکبیر ۲۳ / ۱۸۳

۱۰ـ ﴿ لَوْلَا جَآءُو عَلَيْهِ بِأَرْبَعَةِ شُهَدَآءَ ﴾ دلته تحضيض یا تېزول دی یعني (هلا جاءوا) ولي نه راغلل په څلورو شاهدانو او مقصدور څخه توبیخ او ملامتیاده.

۱۱ـ تعجب چي پدې کلام کي دی ﴿ سُبْحَٰنَكَ هَٰذَا بُهْتَٰنٌ عَظِيمٌ ﴾ پدې کي دهغه چاپه هکله تعجب دی چي هسي وايي، ددی کلمې په اړه چي ﴿ سُبْحَٰنَكَ ﴾ ده قاعده داده چي هغه دالهی عجیب صنعت دلیدلو په وخت کي ویله کیږی او داچي دداسي عجیبه څیز پیدا کول هم دالله له قدرت څخه بهرنه دی الله لره له دې څخه پاکی ده چي ترتوان یی یو څیز وتلی وی بیاوروسته دهرعجیبه څیزدلیدلو په وخت کي ویل کیږی.

فائده: داچي الله تعالی دزناپه هکله بیان په ښځو پیل کړی او دغلا په هکله په نارینه ووځواب داچي زناله ښځی څخه خورابده اوجرم سزایی زیاته ده اوغلاله نارینه څخه چي هغه دغلا په باب زړه ورهم وی اوزورورهم ځکه الله هلته فرمایی ﴿ وَٱلسَّارِقُ وَٱلسَّارِقَةُ فَٱقْطَعُوٓا۟ أَيْدِيَهُمَا ﴾.

تنبیه:

داچي الله تبارک وتعالی په احصان سره تعبیرفرمایلی اووایي چي: ﴿ وَٱلَّذِينَ يَرْمُونَ ٱلْمُحْصَنَٰتِ ﴾ پدې کي خوراباریکه اشاره پټه ده هغه داچي دپاکانو مؤمنانو او پاکانو مؤمناتو تورول دقذف دحد موجب ګرزي او که چېري سړی یامېرمنه په بدلمني اوفجورباندي مشهور وونو په تورلګونکي باندي یې حدنه جاري کیږي ځکه چي دفاسق بدکرداره کرامت له مینځه تللی دی.

لطیفه:

ولي الله تبارک وتعالی له دی ویناچي: ﴿ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ دی دی ویناته چي ﴿ تَوَّابٌ حَكِيمٌ ﴾ دی وګرزیدو؟ سره له دی چي رحمت له توبی سره وړدی ځواب داچي الله جل جلاله په بندګانو باندی دستراراده فرمایلی چي لعان یی رواکړی دی ترڅودزوجینو ترمینځ ترسره شی که دانه وایي نوبه په میړه باندی دقذف حد جاری کیدواوظاهره خوداده چي هغه رښتیاوایي او که یوازی دده په لعان کفایت شوی وای نوبه په میرمن دزناحد جاری کیدلونودحکمت همدغه غوښتنه ده چي داسي حکم یی رواکړاوعذاب یی له دواړو څخه پدې شاهدیو ونړاووفسبحانه ماأوسع رحمته واجل حکمته(۱)

***

الله تعالی فرمایي:

﴿ ۞ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَتَّبِعُوا۟ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيْطَٰنِ ۚ وَمَن يَتَّبِعْ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيْطَٰنِ فَإِنَّهُۥ يَأْمُرُ بِٱلْفَحْشَآءِ وَٱلْمُنكَرِ ۚ وَلَوْلَا فَضْلُ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُۥ مَا زَكَىٰ مِنكُم مِّنْ أَحَدٍ أَبَدًا وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يُزَكِّى مَن يَشَآءُ ۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢١﴾ وَلَا يَأْتَلِ أُو۟لُوا۟

(۱) وګوره په اسلامي حدودو کي تشریعي حکمت زموږ په کتاب (تفسیر آیات الاحکام) کي ۲/۵۲

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

ٱلْفَضْلِ مِنكُمْ وَٱلسَّعَةِ أَن يُؤْتُوٓا۟ أُو۟لِى ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْمَسَٰكِينَ وَٱلْمُهَٰجِرِينَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ۖ وَلْيَعْفُوا۟ وَلْيَصْفَحُوٓا۟ ۗ أَلَا تُحِبُّونَ أَن
يَغْفِرَ ٱللَّهُ لَكُمْ ۗ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٢٢﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَرْمُونَ ٱلْمُحْصَنَٰتِ ٱلْغَٰفِلَٰتِ ٱلْمُؤْمِنَٰتِ لُعِنُوا۟ فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْءَاخِرَةِ وَلَهُمْ
عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٢٣﴾ يَوْمَ تَشْهَدُ عَلَيْهِمْ أَلْسِنَتُهُمْ وَأَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم بِمَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿٢٤﴾ يَوْمَئِذٍ يُوَفِّيهِمُ ٱللَّهُ دِينَهُمُ ٱلْحَقَّ
وَيَعْلَمُونَ أَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْحَقُّ ٱلْمُبِينُ ﴿٢٥﴾ ٱلْخَبِيثَٰتُ لِلْخَبِيثِينَ وَٱلْخَبِيثُونَ لِلْخَبِيثَٰتِ ۖ وَٱلطَّيِّبَٰتُ لِلطَّيِّبِينَ وَٱلطَّيِّبُونَ
لِلطَّيِّبَٰتِ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ مُبَرَّءُونَ مِمَّا يَقُولُونَ ۖ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ ﴿٢٦﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَدْخُلُوا۟ بُيُوتًا غَيْرَ
بُيُوتِكُمْ حَتَّىٰ تَسْتَأْنِسُوا۟ وَتُسَلِّمُوا۟ عَلَىٰٓ أَهْلِهَا ۚ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴿٢٧﴾ فَإِن لَّمْ تَجِدُوا۟ فِيهَآ أَحَدًا فَلَا
تَدْخُلُوهَا حَتَّىٰ يُؤْذَنَ لَكُمْ ۖ وَإِن قِيلَ لَكُمُ ٱرْجِعُوا۟ فَٱرْجِعُوا۟ ۖ هُوَ أَزْكَىٰ لَكُمْ ۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ﴿٢٨﴾ لَّيْسَ عَلَيْكُمْ
جُنَاحٌ أَن تَدْخُلُوا۟ بُيُوتًا غَيْرَ مَسْكُونَةٍ فِيهَا مَتَٰعٌ لَّكُمْ ۚ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا تَكْتُمُونَ ﴿٢٩﴾ قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ
يَغُضُّوا۟ مِنْ أَبْصَٰرِهِمْ وَيَحْفَظُوا۟ فُرُوجَهُمْ ۚ ذَٰلِكَ أَزْكَىٰ لَهُمْ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرٌۢ بِمَا يَصْنَعُونَ ﴿٣٠﴾ وَقُل لِّلْمُؤْمِنَٰتِ يَغْضُضْنَ مِنْ
أَبْصَٰرِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا ۖ وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَىٰ جُيُوبِهِنَّ ۖ وَلَا يُبْدِينَ
زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ ءَابَآئِهِنَّ أَوْ ءَابَآءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَآئِهِنَّ أَوْ أَبْنَآءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَٰنِهِنَّ
أَوْ بَنِىٓ إِخْوَٰنِهِنَّ أَوْ بَنِىٓ أَخَوَٰتِهِنَّ أَوْ نِسَآئِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُهُنَّ أَوِ ٱلتَّٰبِعِينَ غَيْرِ أُو۟لِى ٱلْإِرْبَةِ مِنَ ٱلرِّجَالِ
أَوِ ٱلطِّفْلِ ٱلَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا۟ عَلَىٰ عَوْرَٰتِ ٱلنِّسَآءِ ۖ وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِن زِينَتِهِنَّ ۚ وَتُوبُوٓا۟ إِلَى
ٱللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ ٱلْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿٣١﴾ وَأَنكِحُوا۟ ٱلْأَيَٰمَىٰ مِنكُمْ وَٱلصَّٰلِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَآئِكُمْ ۚ إِن
يَكُونُوا۟ فُقَرَآءَ يُغْنِهِمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ ۗ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٣٢﴾ وَلْيَسْتَعْفِفِ ٱلَّذِينَ لَا يَجِدُونَ نِكَاحًا حَتَّىٰ يُغْنِيَهُمُ ٱللَّهُ مِن
فَضْلِهِۦ ۗ وَٱلَّذِينَ يَبْتَغُونَ ٱلْكِتَٰبَ مِمَّا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُكُمْ فَكَاتِبُوهُمْ إِنْ عَلِمْتُمْ فِيهِمْ خَيْرًا ۖ وَءَاتُوهُم مِّن مَّالِ ٱللَّهِ ٱلَّذِىٓ
ءَاتَىٰكُمْ ۚ وَلَا تُكْرِهُوا۟ فَتَيَٰتِكُمْ عَلَى ٱلْبِغَآءِ إِنْ أَرَدْنَ تَحَصُّنًا لِّتَبْتَغُوا۟ عَرَضَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۚ وَمَن يُكْرِههُّنَّ فَإِنَّ ٱللَّهَ مِنۢ بَعْدِ
إِكْرَٰهِهِنَّ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣٣﴾ وَلَقَدْ أَنزَلْنَآ إِلَيْكُمْ ءَايَٰتٍ مُّبَيِّنَٰتٍ وَمَثَلًا مِّنَ ٱلَّذِينَ خَلَوْا۟ مِن قَبْلِكُمْ وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِينَ

﴿٢٦﴾ النور: ٢١ - ٣٤

مناسبت او تړاو:

کله چې الله تعالی د (افک) پېښه یاده کړه ورپسې یې ددې تنبیه راوړه چې شیطان له لومو څخه هغه چې انسانانو ته یې دشر او فسادلوري ته دبېولولپاره خپرې کړې ځانونه وژغورئ اوبیایی د استیذان لپاره اداب او اخلاق ذکرکړل ولي چې د (افک) تورلګولولپاره منافقینو ته ځکه موقع په لاس ورغله چې ناڅاپه دغه مخامخ کېدل پېښ شول نوالله په مسلمانانودالازم کړل کله چې کوم انسان یوکورته دننه

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

کیږی سلام دی وکړی اواجازه دی ترلاسه کړی او ورپسی یی دسترګودخوندي ساتلو او پټولو امرونه راوړل .

لغتونه :

(یأتل) له (الیة)څخه اخیستل شوی اولوړي قسم ته وایې اوله دې څخه ده چي (یؤلون من نسائهم) یعني قسمونه اخلي (المحصنات) عفیفاتی ،پاک لمنې (مبرؤن) منزه اوپاکان چي له تهمتونوبرئ اوپاک وي (تستانسوا) په لغت کي دالفت طلب ته وایې (یغضوا) (غض البصر) سترګي ښکته کولواوبانوپه بانو ایښودلوته وایې (خُمرهن) دخِمارجمع ده اوهغه څادرته وایې چي میرمن یی په سرکوی اولکه چي ویل کېږي (خمروا الآنیة) یعني لوښی پټ کړئ برغولی اوسرپوښونه ورباندي کېږدئ(جیوبهن) دجیب جمع اوسینې ته وایې (ګرېوان یې ښه معناده) (الاربة) ښځوته اړتیا .

دنزول سبب :

أ- ابوبکرصدیق رضی الله عنه به (مسطح بن اثاثه) ته دهغه دمسکنت اولوړی له سببه یوڅه ورکول چي هغه یی خپلوان اوقریب وواوکله چي د(افک) پیښه وشوه مسطح رضی الله عنه هم هغه څه وویل چي وې ویل نوحضرت ابوبکر رضی الله عنه (کله چي دعائشې رضی الله عنهادبرائت آیتونه نازل شول) قسم وخوړ چي (مسطح) ته به هیڅ ګټه نه ور رسوي اونه به ورسره مالی مرسته کوی بیا الله جل جلاله دا آیت نازل کړ﴿ وَلَا يَأْتَلِ أُوْلُواْ ٱلْفَضْلِ مِنكُمْ وَٱلسَّعَةِ ﴾ دآیت ترپایه نوابوبکر رضی الله عنه وویل زمادی قسم وي چي زه داغواړم چي الله تعالی ماته ښښنه وکړي اوبیایې مسطح ته هغه لګښت قلنګ کوم چي پخوایې ورکاوه پیل کړاوقسم یې وکړچي هیڅکله به یی ورڅخه دریغ نکړم(١)

ب- علی کرم الله وجهه فرمایی چي یوتن درسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کي دمدینی په کومه لاره تیریدونویوې میرمنې ته یی وکتل اوهغی ده ته وکتل اودواړوته شیطان وسوسه ور واچوله چي دواړویوبل ته دخوښی اواعجاب کتنه تبادله کړه چي دغه سړی په لاری روان اوهغی ته یی کتل دده په وړاندی دیوال راورسیده اوهغه ورسره ټکرشوپوزه یی ماته شوه او وینې ترې بهیدلی نویی قسم وکړکه داوینې ترهغو ووینځم ترڅورسول الله صلی الله علیه وسلم ته رسیدلی نه یم اودغه کیسه می نه وی ورته کړی هغه (صلی الله علیه وسلم) ته راغی اوکیسه یی ټوله ورته تیره کړه نورسول الله (صلی الله علیه وسلم) ورته وفرمایل چي دغه ستادګناه عذاب دی بیا الله جل جلاله داآیتونه نازل کړل : ﴿ قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّواْ مِنْ أَبْصَٰرِهِمْ ﴾ دآیتونه ترپایه(٢)

تفسیر :

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّبِعُواْ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيْطَٰنِ ﴾ ای هغوکسانوچي ایمان یی راوړی دی (ای مؤمنانو) دشیطان دګامونومتابعت مکوئ (چي دفاحش تورونوخپرول ګوي اویادغسي دبدنامي اوزناتورونوته

(١)القرطبي ١٢/ ٢٠٧

(٢)الدرالمنثورللسیوطي ٥/ ٢٠

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

غوږنیسی) ﴿ وَمَن يَتَّبِعْ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيْطَٰنِ ﴾ اوهرچاچي دشیطان دګامونو متابعت وکړ دهغه لاره اوسیرت بې خپل کړ ﴿ فَإِنَّهُۥ يَأْمُرُ بِٱلْفَحْشَآءِ وَٱلْمُنكَرِ ﴾ (نوبیشکه دغه (شیطان) امرکوی (خپل پلوی اوتابع ته) دبدوکارونواونامشروع خبرو) یعني بې شکه چي شیطان انسان ګمراه کوی اودهغه څه حکم ورته کوی چي هغه خورابدوی اوداسي ناروا وی چي شریعت یی نه منی اوسلیم عقلونه ورڅخه نفرت اوکرکه کوی ﴿ وَلَوْلَا فَضْلُ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُۥ ﴾ اوکه نه وای فضل احسان دالله پرتاسي اورحمت دده (ای مؤمنانو چي دتوبې توفیق یی درکړی هغه چي ګناه له مینځه وړی اوحدودیی رواکړل چي دګناهونو تکفیرکوی) ﴿ مَا زَكَىٰ مِنكُم مِّنْ أَحَدٍ أَبَدًا ﴾ نونه به وای پاک کړی (الله له معصیت دافک څخه) تاسي هیڅوک هیڅکله ﴿ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يُزَكِّى مَن يَشَآءُ ﴾ لاکن الله پاکوی (په قبول دتوبې له ګناهونو) هرهغه څوک چي اراده وفرمایی دپاکی یی) یعني الله پخپل فضل اومرحمت هغه څوک پاکوي چي دنصوح توبې توفیق ورپه برخه کړی اوهغه ورڅخه قبوله کړی قرطبی وایې مقصد دآیت داده چي ستاسوپاکی اوهدایت چي الله درپه برخه کړی دغه یوازی دالله جل جلاله دفضل اواحسان څرګندونه ده ستاسي داعمالوپه سبب نه دي (١) ﴿ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴾ اوالله ښه اوریدونکي (دویناستاسو) ښه پوهیدونکی (په نیتونواوزړونوستاسي) دی ﴿ وَلَا يَأْتَلِ أُوْلُواْ ٱلْفَضْلِ مِنكُمْ وَٱلسَّعَةِ ﴾ اوقسم دی نکوی خاوندان دفضل (په دین کي) اودشتمنی والامالدار ﴿ أَن يُؤْتُوٓاْ أُوْلِى ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْمَسَٰكِينَ وَٱلْمُهَٰجِرِينَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ﴾ (پدی چي نفقه به نه ورکوی) خاوندانودخپلوی اومسکینانواومهاجرینوته په لاره دالله کي (کوم چي پخوایی ورکوله له دی سببه چي په ګناه کي شریک شوی دی) ﴿ وَلْيَعْفُواْ وَلْيَصْفَحُوٓاْ ﴾ اوښایی چي عفودی وکړی اوښایی چي ترتیردی شی (له هغې ګناه چي هغوی بې مرتکب شوی دی او بیرته دی هغه انعام احسان ورسره پیل کړی کوم چي پخوایې ورسره کاوو. ﴿ أَلَا تُحِبُّونَ أَن يَغْفِرَ ٱللَّهُ لَكُمْ ﴾ ایادوست نلرئ تاسي داچي مغفرت وکړی تاسي ته الله تعالی (په سبب دعفوې ستاسي هغه چاته چي تاسوته یی بدی رسولی ده ؟ روایت کیږی چي کله ابوبکرصدیق رضی الله عنه دغه آیت واوریدونوویی ویل هوزه دغه دوست ګنم چي الله راته ښښنه وکړی اوبیرته یی خپله هغه ورکړه مسطح رضی الله عنه ته جاری کړه اودیمین کفاره یی پرځای کړه اوداسي یی وویل زمادی په الله سوګندوی که به یی هیڅکله ورڅخه منع کړم !! مفسرین کرام وایې چي په آیت شریف کي دحضرت ابوبکر رضی الله عنه صفت هم څرګند دی چي الله فرمایی ﴿ وَلَا يَأْتَلِ أُوْلُواْ ٱلْفَضْلِ ﴾ اوهمدغه دحضرت صدیق دبهتری لپاره بس اوکافی دهرضی الله عنه وارضاه) ﴿ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ اوالله ښه مغفرت کونکی د(خطیاتو) ډیررحم والادی (سره له دی چي په عذاب ورکولوبشپړه قدرت لری خوبیاهم ښښنه اورحمت فرمایی وروسته بیاالله پاک دهغوکسانولپاره دعذاب خبرورکوي څوک چي

---

(١) القرطبي ١٢/ ٢٠٧

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

پاک لمني میرمني په بدکار تورنوي نوالله وفرمایل ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَرْمُونَ ٱلْمُحْصَنَٰتِ ٱلْغَٰفِلَٰتِ ﴾ بیشکه هغه کسان چي دوی ولي (په نسبت کولودزناسره) پاکي عفیفي ناخبره ښځي (چي زړونه یې له هري بدکاري څخه پاکیزه وي) ﴿ ٱلْمُؤْمِنَٰتِ ﴾ ایمان راوړونکی (په الله اورسول سره دزړه له پاکوالی) ﴿ لُعِنُوا۟ فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْءَاخِرَةِ ﴾ لعنت کړی شوی دی پردوی په دنیااوآخرت کي ؛ابن عباس رضی الله عنه وایي چي دغه لعنت دهغه چاپه باب دی چي درسول الله صلی الله علیه وسلم دزوجات مطهراتوپه قذف ککړوی څکه چي دداسي چا توبه نه قبلیږی اوڅوک چي بله مسلمانه میرمن تورنه کړی دهغه لپاره دتو[illegible] موقع شته (١) ابوحمزه وایي چي دغه دمکي مشرکانوپه هکله نازل شوی کله چي به کومه میرمن مدیني منورې ته مهاجره شوه دوی به هغه په زنا تورنوله او ویل به یی دزناکولولپاره وتلی ده (٢) ﴿ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴾ او شته دوی ته عذاب ډیرلوی (سره له لعنته هومره لوی عذاب چي ستایل یی ګران دی) ﴿ يَوْمَ تَشْهَدُ عَلَيْهِمْ أَلْسِنَتُهُمْ وَأَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم بِمَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴾ په هغه وخت کي چي شاهدي به ورکړی پردوی باندی ژبې ددوی اولاسونه ددوی اوپښې ددوی پرهغو(اقوالوافعالو) چي دوی به کول (په دنیاکي) ﴿ يَوْمَئِذٍ يُوَفِّيهِمُ ٱللَّهُ دِينَهُمُ ٱلْحَقَّ ﴾ په دغه ورځ کي به الله پوره ورکړی دوی ته جزاء ،حق لائق ددوی (چي داحکم الحاکمین له لوری نه به عادلانه وی) ﴿ وَيَعْلَمُونَ أَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْحَقُّ ٱلْمُبِينُ ﴾ اوپوه به شی چي بیشکه الله دی حق ثابت(په ذات اوصفات خپل کي) یعني په همدی ورځ به دوی پوه شی چي الله عادل ذات دی په هیچاظلم نه کوی عدل یی په تشریع اوحکم کي څرګندی وروسته الله جل جلاله په قاطع اوکوټلی برهان اودلیل باندی دحضرت عائشې پاکي بیانوي هغه دسپیڅلي پیغمبرمیرمن ده او دالله سنت په دې جاري دی چي پاکان له پاکانوسره یوځای کوی که چیری عائشه رضی الله عنها پاکیزه نه وای نوددداسي پاکیزه افضل الخلق پیغمبرصلی الله علیه وسلم ناوې به نه وای نوڅکه یی وفرمایل ﴿ ٱلْخَبِيثَٰتُ لِلْخَبِيثِينَ وَٱلْخَبِيثُونَ لِلْخَبِيثَٰتِ ۖ وَٱلطَّيِّبَٰتُ لِلطَّيِّبِينَ وَٱلطَّيِّبُونَ لِلطَّيِّبَٰتِ ۚ ﴾ ناپاکی ښځی دناپاکو (نارینه وو) لپاره دی اوناپاکه (خلک) دپاره دناپاکو(ښځو) دی اوپاکی (ښځي)دپاکو خلکودی او پاک (خلک) د پاکو(ښځو) لپاره دی (٣) دغه لکه چي دحضرت عائشې رضی الله عنها دبرائت دلیل دی څکه چي د اشرف الرسل والخلق محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم میرمن ده که هسی نه وای الله جل جلاله به دخپل ترټولومحبوب بنده لپاره میرمن نه غوره کوله ﴿ أُو۟لَٰٓئِكَ مُبَرَّءُونَ مِمَّا يَقُولُونَ ۖ ﴾ دغه (پاکان فاضلان) پاک دی له

---

(١) حاشیة شیخ زاده علی البیضاوي ٣ / ٤٣٠

(٢) البحر٦ / ٤٤٠

(٣) دغه دابن زیدوینااوڅرګنده ده اومجاهدوایي چي خبیث کلام دخبیثو خلکولپاره دی اومقصدداچي هره وینالهخپله اهله سره ښایي بده وینالهاشرارو سره اوښه له اخیاروسره خوکوم چي موږیي دلته یادونه کړي هغه ترټولوڅرګنده ده اوهم پوهېدلوته نژدې ده.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

هغو خبروچي (دروغجنان اهل الافک يې ددوی په هکله) وايې ﴿ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ ﴾ (شته دوی ته مغفرت ښښنه اوروزی ښه) يعني دوی ته پدې چي ورته کړاو او تکليف ورسيدو دګناهونو مغفرت او په جنت کي دعزت روزی ده ابن کثيروايې چي پدې کلام کي دغه وعده ښکاري چي حضرت صديقه رضی الله عنها به په جنت کي درسول الله صلی الله عليه وسلم ميرمن وي

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَدْخُلُواْ بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ ﴾ (ای هغه کسانوچي ايمان يی راوړی دی (ای مؤمنانو) مه ننوزی تاسي (هغو) کورونوته چي ستاسي له کورونو غيروی) کله چي الله تعالی د محصناتوله قذف څخه منع وفرمايله اوسخت عذاب يې ورته واوراوو اوڅرنګه چي دغه دافک پيښی دښځواو نرودګډون اومخالطت په سبب رامنځته کيدلی نوالله تعالی دشرعی ادبونو چي کله کورونو ته څوک دننه کيږی لارښودنه وکړه اولومړی داجازي ورپسي دسلام اچولو مارېينه يې وفرمايله ﴿ حَتَّىٰ تَسْتَأْنِسُواْ وَتُسَلِّمُواْ عَلَىٰٓ أَهْلِهَا ﴾ ترهغه پوری چي اجازه وغواړئ او سلام واچوي پر اهل ددوی ﴿ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ ﴾ دغه استيذان (اواخبار) دتاسي ډيرغوره دی تاسي ته (تر ناڅاپه ننوتلو) ﴿ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴾ (ښايې چي تاسي (پدې سره پندواخلی ؛اوپدې سترو ادبونو باندي عمل وکړي قرطبي وايې چي مقصداچي اجازه اخيستل اوسلام اچول ترنابېره اوبې اجازې ننوتلو او همداراز دجاهليت تراجازی اوسلام کولوبهتراوغوره دی په جاهلی دورکي به کله چي څوک د يوچا کورته ورننوتلونوبه يی ويل (حييتم صباحا) او(حييتم مساءً) يعني سهاراومابنام موپه خيراونوربه ورننوتل داسي به هم پيښيدله چي داوخت به مېړه له خپلي ارتينې سره په برستن کي څملاستي وو؛ اويوسړی رسول الله صلی الله عليه وسلم ته وويل چي ايازه خپلي مورته دورتلوپه وخت کي هم اجازه ترلاسه کوم ؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل هوهغه ورته وويل دهغی له ماپرته بل خدمتګارنشته نوهرځلی چي ورځم اجازه به اخلم ؟رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل چي اياته غواړی هغه بربنډه ووينې هغه وويل نه نويې ورته وفرمايل چي داسي ده نواجازه ځيني اخله (١) ﴿ فَإِن لَّمْ تَجِدُواْ فِيهَآ أَحَدًا ﴾ پس که چيری ونه مومي تاسي پدې کورونوکي څوک (چي دورننوتلو اجازه در کړي) ﴿ فَلَا تَدْخُلُوهَا حَتَّىٰ يُؤْذَنَ لَكُمْ ﴾ پس مه ننوزی پدې کورونوکي ترهغو چي تاسي ته اذن وکړی شي (ځکه چي کورونه حرمت لری او ورننوتل روانه دی ترڅوچي خاوندان يې اجازه درنکړي)﴿ وَإِن قِيلَ لَكُمُ ٱرْجِعُواْ فَٱرْجِعُواْ ﴾ اوکه چيري تاسي ته وويل شی (داستيذان په وخت کي چي) بيرته وګرزي پس تاسي بيرته وګرزی (اودننوتلوهڅه مه کوئ) ﴿ هُوَ أَزْكَىٰ لَكُمْ ﴾ (چي دغه بيرته ګرځيدل غوره (پاک) دی تاسوته يعني دغه رجوع ستاسودنفوسودپاره ترلجاجت کولواوانتظارغوره او پاکيزه ده ﴿ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ﴾ اوالله په هغوکارونوچي تاسي يی کوی ښه عالم دی (اوجزابه درکړي) قرطبي وايې چي پدې کي دهغه چالپاره

---

(١) البيضاوي ٢/ ٥٧

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

وعيددی چي غواړي دخلکود کورونوجاسوسي وکړي او وروسته بيا الله پاک دهغوکورونوحال چي دهستوګني نه وی وروسته د هستوګني له کورونو داسي بيانوي فرمايې ﴿ لَّيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ ﴾ نشته پرتاسي باندي هيڅ ګناه (او تکليف) ﴿ أَن تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ مَسْكُونَةٍ ﴾ پدې کي چي ننوزي (بې اجازې)هغوکورونوته چي دچا د اوسيدلونه وی ؛لکه رباطونه ،هوټلونه ، دکانونه مجاهدوايې چي دغه ځايونه هوټلونه اوکاروان سرايونه دی چي دلاری په اوږدوکي د مسافرينولپاره آبادشوی وی اوددې لپاره ودان دی چي مسافر پکي شپه سباکړی (١) ﴿ فِيهَا مَتَاعٌ لَّكُمْ ﴾ په هغه کي متاع اومنفعت ستاسي وی ؛ اوياکوم داړتيا وړځيزوي لکه له ګرمي څخه سيوري ته کېدل اويادسامان اوتوښې خوندي کول ﴿ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا تَكْتُمُونَ ﴾ او الله ته ښه معلوم دی هغه چي تاسي يی ښکاره کوی اوهغه چي تاسي يی پټوی (پخپلو سينوکي الله به ورباندی جزاء درکړی ؛ ابوالسعود وايې چي دغه دهغه چالپاره چي غواړي د خلکو په پټوعيبونو ځان خبرکړی اودفسادپه خپرولوپسي ګرځي وعيددی (٢) وروسته الله هغه ستراولوړاخلاق چي د سترګو ښکته کول اودفرج ساتل دی داسي بيانوي ﴿ قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ ﴾ ووايه (ای محمده) مؤمنانوته چي پټی دی کړی دوی سترګی خپلی (له نامحرمو ښځو څخه ځکه چي کتل په زړه کي شهوت راپاروی اوډيرځله بيادغه شهوت داوږده خفګان موجب ګرزی ﴿ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ﴾ اوودې ساتی فرجونه خپل له زنا اوبې ستری څخه ﴿ ذَٰلِكَ أَزْكَىٰ لَهُمْ ﴾ دغه اغماض اوحفظ ډيرپاکيزه دی لپاره (دزړونو) ددوی يعني ددين لپاره يی دتقوی سبب دی اوپه زنا باندی له اخته کيدلوښه ساتنه ده ﴿ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ ﴾ بيشکه چي الله ښه خبرداردی په هغو کارونوچي دوی يی کوی (نوپردوی لازمه ده چي له الله څخه په پټه اوښکاره وويريږي ؛ امام فخر رازي وايې چي که څوک پوښتي چي ولي يې سترګي پټول ترفرج ساتلودمخه ذکرکړل ؟ ځواب داچي کتل دزنا ريباردی اودفجوراستازی اوپدې کښ ازموينښت زيات دی اونژدی هيڅوک ځان ورڅخه ژغورلی نشی (٣)﴿ وَقُل لِّلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ ﴾ او ووايه ای محمده ايماندارو ښځوته چي پټی دی کړی سترګی خپلی (له نامحرمو سړو څخه) اوودې ساتی فرجونه خپل (له زنااوبې ستري څخه؛مفسرين کرام وايې چي الله تعالی ايماندارو ښځوته دسترګوپټولواوفرجونه ساتلوامر وکړ اوترنارينه وويی يوبل زيات مکلفيت هم په اوږو ورکړهغه داچي سينګاردی بې له محارمواو خپلوانو بل چاته نه څرګندوي وبې فرمايل ﴿ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا ﴾ اونه دی ښکاروي زينت ښائيست خپل مګرهغه چي ښکاريږی له دغه زينت څخه (بی له قصده اوپرته له بده نيته) ابن کثيروايې معناداچي له زينت څخه دی پرديوته هيڅ شی نه ښکاروی مګرهغه چي پټول يی

(١) القرطبي ١٢/ ٢٢١
(٢) ابوالسعود ٤/ ٥٥
(٣) التفسيرالکبير ٢٣/ ٢٠٥

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

ممکن نه وي لکه چي ابن مسعودوايې : زينت په دوه ډوله دی يوهغه چي پرته له ميړه يی بل څوک نه وينی لکه ګوتمۍ باهوګان اوبل يی هغه چي پردی خلک يی هم وينی لکه سربيره جامی (١) چابياويلی چي مراد له دی څخه دلاسونوورغوی دی اومخ دی چي دغه عورت نه دی بيضاوی وايې ظاهرداچي داحکم په لمانځه کي دی نه په کتلوکي ځکه چي داصيلی ميرمنی ټول وجودعورت دی چي پرته له مېړه دهغي هيڅ څيز ته کتل روانه دی مګرچي کله ضرورت وی لکه دډاکترمعاينه (کتل)اويا شاهدی اداکول (٢)﴿ وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَىٰ جُيُوبِهِنَّ ﴾ اوښايي چي وادي اچوي پړوني (ټکري) خپل په ګريوانونو خپلو (چي غاړه اوسينه يی هډوځرګنده نشي اودوهلو(ضرب) په کلمه سره تعبيرپه ستراو ساتنه کي د مبالغې لپاره راوړل شوی دی له حضرت عائشې رضی الله عنها څخه روايت شوی چي فرمايی : الله دی په لومړنيومهاجرومير منورحمت وکړی کله چي دغه آيت نازل شونوخپل (مروط يعني لنګونه) يی څيري کړل اوټکرې يې ځني جوړ کړل (٣)مفسرين کرام وايې چي په جاهلی دورکي ميرمن لکه په ننی جاهلی دورکي وه دخلکوپه وړاندی به لوڅ مخ تيريدله غاړه اوسينه به يی بربنډه وه څنګلي به يې لوڅي وې آن تردې چي ډيرځله به يې دتن اوبدن مفاتن څرګندوو زلفي به يې په اوږو څنګېدلې چي نارينه وتخنوي اوپړوني به يې له شاپسي څړېدل سينې به يې لوڅي بربنډي وې نو مؤمنانوميرمنوته امروشوترڅوپه پړوني کي ځان ونغاړي اوداشراروله شره څخه يی وژغوري ﴿ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ ﴾ اونه دی ښکاروی زينت ښائست خپل (هغه چي الله حرام کړي دي مګر) لپاره دميړونوخپلو ﴿ أَوْ آبَائِهِنَّ أَوْ آبَاءِ بُعُولَتِهِنَّ ﴾ ياپلرونو(اونيکونو خپلو، پلرونودميړونو خپلو ته چي هغه تره دخاوندپلاراودوی دواړه له محارمو څخه دی ځکه چي پلار د خپلي لورپت ساتي اود مېړه پلارهم هغه څه نه غواړي چي زوی ته يې ناخوښ وي بياوروسته نور محارم داسي بيانوي ﴿ أَوْ أَبْنَائِهِنَّ أَوْ أَبْنَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي أَخَوَاتِهِنَّ ﴾ يازامنو(اولمسيو) خپلوته يازامنودميړونو خپلوته ياورونوخپلوته يازامنودورونوخپلو ته يازامنودخويندوخپلوته ؛ چي دغه ګردهغه څوک دی چي نکاح ورسره ندی روا اوداسبب دی چي الله پاک په طبيعتونوکي داپيدا کړي چي له داسي خپلوانوسره نکاح اوهغوی ته نژدی کيدل نه مني ﴿ أَوْ نِسَائِهِنَّ ﴾ يانښځوخپلوته (مؤمناتوته چي کافرانی تری ووزی مجاهدوايې چي مرادهغه ددوی مسلماني ښځي دي اومشرکاني خوددوی نه دي اومسلماني ميرمني ته جائزنه ده چي دکافري ښځي په وړاندی خپل ښايست څرګندکړي اوابن عباس رضی الله عنه وايې چي له دې څخه مسلماني ښځي مراددی نوخپل زينت دی ديهودی اونصرانی ښځی په وړاندی نه

---

(١) مختصرابن کثير
(٢) البيضاوي ٢/ ٥٨
(٣) اخرجه البخاري

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

څرګندوی (١) ﴿ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُهُنَّ ﴾ یاهغه چاته چي مالک شوی دی (دهغه) ښځی لاسونه ددوی یعني مشرکې مینځی ابن جریر وایې چي مراد دلته مشرکانی مینځي دی نودوی ته روادی چي خپل ښائست دهغوی په وړاندی څرګندکړی که څه هم هغه مشرکه وی ځکه چي هغه یی مینځه ده ﴿ أَوِ ٱلتَّٰبِعِينَ غَيْرِ أُوْلِي ٱلْإِرْبَةِ مِنَ ٱلرِّجَالِ ﴾ (یاهغو تابعانو ته چي نه وی خاوندان دحاجت ښځوته له سړیونه) یعني یاهغه چوپړیان اوخدمت کونکي چي میرمنوته شوق او رغبت نلري لکه چي معتوه وی یاناپوه اودجنسي اموروپه هکله نه پوهېږي مجاهد وایې داهغه کسان دی چي یوازي دخپلي خښتي غم ورسره وي دوی غواړي خوله ښځوسره کارنلري ﴿ أَوِ ٱلطِّفْلِ ٱلَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُواْ عَلَىٰ عَوْرَٰتِ ٱلنِّسَآءِ ﴾ (یاهغوهلکانوته چي دښځوپه اسرارونه وي خبر) یعني هغه ماشومان چي تراوسه لادجماع اوکوروالي په چارواوکړو وړوند پوهېږي هغوی ته هم دزینت ښکارول روادی ﴿ وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِن زِينَتِهِنَّ ﴾ اونه یې دی وهی دا ښځی پښې خپلې دپاره ددې چې معلوم کړشی هغه څیزچې پټوی یی دوی له زینت ښائست (ګانې) خپلی) یعني ښځي دي په زوره پښې په ځمکه نه وهی چي نارینه یی دپایزېب (خلخال) غږ واند اوري نوهغه څوک چي په زړونوکي یی رنځ وی تمه به یی پیداشی ابن عباس رضی الله عنهماوایې میرمن به روانه وه اوپه زوره به یې ځمکه په پښووهله چي خلک یی دپایېلو(خلخال) غږ واوری نوالله جل جلاله له دی څخه منع کړه ځکه دغه دشیطان کړن چاره ده ﴿ وَتُوبُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ ٱلْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴾ اوراجع شئ توبه وباسئ تاسي الله ته ټول ای مؤمنانوددې لپاره چي تاسي ښیګڼه اوخلاصي ومومی (په دارینوکي نیکمرغه شی)﴿ وَأَنكِحُواْ ٱلْأَيَٰمَىٰ مِنكُمْ ﴾ اوپه نکاح کړی (ای أولیاوو) هغه بې میړونوښځي (اونارینه چي بې ښځو اواصیل وي طبري وایې معنا داچي (ایامی) جمع د(أیم) دی اودنارینه ښځینه دواړولپاره صفت راځی هغه چاته وایې چي جوړه نلري (٢) ﴿ وَٱلصَّٰلِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَآئِكُمْ ﴾ او صالحان نیکان له مریو خپلو او وینځو خپلو) اودصالحینوځانګړتیا یی په دی وکړه چي دهغوی ددین ساتنه او هغوی ته پاملرنه ترټولوغوره اومهمه ده (٣) اوپدې کي دااشاره هم شته چي تقوی اوصلاح دبهتری لوړمقام لری ﴿ إِن يَكُونُواْ فُقَرَآءَ يُغْنِهِمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ ﴾ که چیری وی (دغه مذکورین) فقیران ناداره نو الله به دوی له خپله فضله غنیان کړی (ددوی نیستی اوفقردی تاسي دهغوی له واده کولوڅخه راونه ګرځوي ځکه دالله فضل دوی غني کولای هم شي)﴿ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴾ اوالله کشایش والانبه عالم دی) یعني الله پاک جواد کریم او واسع الفضل دی چاته چي یی خوښه شی روزی

---

(١) دغه داکثرسلف صالحینورایه ده چي مرادله دې ښځوڅخه مؤمنانې دي فخررازي وایې چي مقصد ګردي ښځي دي ځکه دوی پدې کي برابري دي چي یوه بلي ته وګوري خودسلفوویناپه استحباب بناده.

(٢) الطبري ١٨/ ٩٨

(٣) البیضاوي ٢/ ٥٨

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

ورکوی اود مخلوقاتوپه مصلحتونو پوهېږي قرطبي وايې چي پدي کي دهغه کوزده کونکولپاره دغناوعده شوی کوم چي دالله درضا اوخوښي لپاره دغه مسنون عمل اوچاره ترسره کوی اوله ګناهونوڅخه ځان ژغوری ابن مسعود رضی الله عنه وايې چي په واده کولوکي دبډايی لټون وکړی اودغه آيت شريف يی تلاوت کړ(١) په حديث شريف کي راځی چي دری تنه دی چي په الله جل جلاله باندی ددوی مرسته پوردی يويی هغه نکاح کونکی چي دعفاف لپاره نکاح کوی دوهم هغه مربی (مکاتب)چي له خپل بادارسره دحريت ترون لاس ليک کوي اودريم دالله په لاره کي دسربښندونکی مجاهدغازی (٢)﴿ وَلْيَسْتَعْفِفِ ٱلَّذِينَ لَا يَجِدُونَ نِكَاحًا ﴾ اوښايي چي ځان دي وساتي هغه کسان چي دوې (اسباب د) نکاح نه مومي) يعني دوی دی دشهوت په پريښودلواوکمولوکي زياروباسي ﴿ حَتَّىٰ يُغْنِيَهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ ﴾ ترهغه پوری چي الله دوی غنيان کړي له خپله فضله څخه ؛ يعني پردوی پراخی راولی اودواده اسانتياوی يی په برخه شی ځکه کله چي بنده له الله څخه وويريږی نوالله جل جلاله يی چاره سموی اوله تګکي څخه دوتلولاره يی پرانيزی ﴿ وَٱلَّذِينَ يَبْتَغُونَ ٱلْكِتَٰبَ مِمَّا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُكُمْ ﴾ اوهغه کسان چي غواړی مکاتب والی له هغو (وينځومريو) چي مالکان شوي د ي ښي لاسونه ستاسي ﴿فَكَاتِبُوهُمْ إِنْ عَلِمْتُمْ فِيهِمْ خَيْرًا ﴾ نو مکاتبان کړی دوی که چيري تاسي پيژانده په دوی کي خير) يعني نوله هغوی سره قراردادوکړی که چيری په دوی کي امانت اوپوهی وينی څوچي دوی آزادشی ﴿ وَءَاتُوهُم مِّن مَّالِ ٱللَّهِ ٱلَّذِىٓ ءَاتَىٰكُمْ ﴾ او ورکوی دوی له ځينومالونودالله نه هغه چي درکړی يی دی تاسوته (ترڅوچي دوی خپل ځانونه آزاد کړي)﴿ وَلَا تُكْرِهُوا۟ فَتَيَٰتِكُمْ عَلَى ٱلْبِغَآءِ ﴾ اوتاسي مه مجبوروئ مينځي خپلي په زناسره ﴿إِنْ أَرَدْنَ تَحَصُّنًا ﴾ که چيری دوی دځان پاک ساتلواراده لری ؛ دغه وروستی جمله قيداوشرط نه دی بلکه ددغی چاری دبدی څرګندولو لپاره راوړل شوی ده په مينځه کي خواصل اودود داده چي باداربه يی له بدلمنی څخه ګوری اورا ګرزوي اوداچي باداريی په زناکولو ګوماری اوهغه بيامانعت کوی اوعفت غواړی دغه نود سپکتيا اوتيټ والی وروستنی پوړدی مفسرين کرام وايې دغه آيت شريف دعبدالله بن ابی بن سلول په هکله رانازل شوی چي هغه منافق دوه مينځی درلودی ديوی نوم(مسيکه) وواوبله (اميمه) نوميده اودغه (ناولي) به دوی دواړوته دزنا کولوامرکاوواوهغوی به يی وهلی نوهغوی دواړورسول الله صلی الله عليه وسلم ته شکايت وکړ اوبيادآيت نازل شو؛ ﴿لِتَبْتَغُوا۟ عَرَضَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ﴾ دپاره ددې چي تاسي طلب کوی (په دغه اکراه سره) مال ددنيا(چي دوی زناکولوته اړباسي) ﴿ وَمَن يُكْرِههُّنَّ فَإِنَّ ٱللَّهَ مِنۢ بَعْدِ إِكْرَٰهِهِنَّ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ اوهرهغه چي زوريی وکړپه دوی پس بيشکه الله وروسته له زوردمالکانو پر دوی ډيرښښونکی ښه رحم والادی (پردغومينځو په دغی ګناه يي

---

(١) الطبري ١٨/ ٩٨

(٢) البيضاوي ٢/ ٥٨

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

نه نیسي ځکه چي ورته مجبوری کړی شوی دی اوژردی چي دزور کونکو څخه به غچ اوانتقام واخیستلي شي ﴿ وَلَقَدْ أَنزَلْنَآ إِلَيْكُمْ ءَايَٰتٍ مُّبَيِّنَٰتٍ ﴾ اوپه تحقیق خامخا موږتاسوته نازل کړی دی څرګندآیتونه (دحلالو، حراموا وحدودو احکام) ﴿ وَمَثَلًا مِّنَ ٱلَّذِينَ خَلَوْا۟ مِن قَبْلِكُمْ ﴾ اومثال دهغو کسانوچي پخواله تاسي تېر شوي دي ﴿ وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِينَ ﴾ اونازل کړی دی موږموعظه پندلپاره دمتقیانو پرهیزګارانو).

بلاغت :

پدې آیتونوکي چي بدیع اوبیان کومی ښکلاوی شته لنډیزیی په لاندی ډول دی:

١ـ لطیفه استعاره چي فرمایی ﴿ لَا تَتَّبِعُوا۟ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيْطَٰنِ ﴾ دلته یی دشیطان سلوک تعقیبول له هغه چاسره مشابه کړی چي دبل په پلونوروان وی اوپدې کي استعاره ده.

٢ـ ایجازبالحذف لکه چي په آیت شریف کي داکلمه ﴿ أَن يُؤْتُوٓا۟ ﴾ چي د(لا) توری حذف شوی ځکه چي معناورباندی دلالت کوی اودغه ډول محذوفات په ژبه کي ډیر راځی.

٣ـ دجمعی صیغه دتعظیم لپاره چي فرمایی ﴿ أَلَا تُحِبُّونَ أَن يَغْفِرَ ٱللَّهُ لَكُمْ ﴾ اومقصدځنی ابوبکر صدیق رضی الله عنه دی.

٤ـ ناقص جناس لکه ﴿ وَيَعْلَمُونَ.... يَعْمَلُونَ ﴾.

٥ـ لطیفه مقابله لکه ﴿ تُبْدُونَ.... وَمَا تَكْتُمُونَ ﴾.

٦ـ دطباق صنعت لکه ﴿ ٱلْخَبِيثَٰتُ لِلْخَبِيثِينَ.... وَٱلطَّيِّبَٰتُ لِلطَّيِّبِينَ ﴾.

٧ـ ایجازبالحذف لکه ﴿ يَغُضُّوا۟ مِنْ أَبْصَٰرِهِمْ ﴾ چي مرادځنی دسترګوپټول له محرماتوڅخه دی نه له هرڅه نه نوځکه هغه تری حذف شول چي دمخاطبینوپه پوهه باندی اکتفاء (بسنه) شوی دی.

٨ـ مرسل مجازچي فرمایی: ﴿ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ ﴾ چي مرادځني دزینت ځایونه دی اودغه د حال ذکرکول مرادځنی محل دی زمخشری وایې چي زینت یی یادکړی اوځایونه یی نه دی ښودلی تر څوپه ستراوپټولوکي زیاته مبالغه شوی وی.

ګټه اوفائده :

ځیني محققین پوهان وایې چي کله یوسف علیه السلام ته دزناتور ورپوری شونوالله پاک دده پاکی دیو وړکی ماشوم په ژبه چي په زانګوکي ووبیان کړه اوکله چي حضرت مریمه رضی الله عنهاپه دی تورنه شوه نودهغې زوی حضرت عیسی علیه السلام دهغې دپاکي شاهدي ورکړه اوبرائت یی په برخه شوخوکله چي حضرت صدیقی رضی الله عنهاته تور ورپوری شونوالله پاک په خپل عزیزکتاب قرآن کریم دهغې پاکی راوړه اودکوم ماشوم اویاپیغمبرپه ګواهی یی ددی برائت ثابت نه کړبلکه په قرآن کریم باندی یی له قذف اوبهتان څخه برائت ورکړ(١).

---

(١) القرطبي ١٢/ ٢١٢

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

تنبيه :

پدې کې چې دستر کو پټول دفرج له ساتلو څخه پخوا ذکر شو چې ﴿ قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ﴾ دا راز پروت دی چې کتل دزناريبارا وقاصدوی اودغه يې مقدمه جوړوي.

لطيفه :

وايې چې يو (قسيس) غوښتل مسلمانانو ته پېغور ورکړي نويې وويل چې: حضرت عائشه صديقه (رضی الله عنها) خلکو تورنه کړه اومورږنه پوهيږوچې هغه به (برئ) اوکه (تورنه) ؟! نوله حاضرينو څخه يوچاورته وويل چې داعجيبه واوره دوی ميرمنی دی چې په زناتوری شوی اوددوی دواړو قرآنکريم دبرائت گواهي ورکړي ده چې يوې يې ميړه نه درلود اوزوی يې پيدا شوبلې ميړه درلود خوزوی يې نه دی شوی (چې مريمه او عائشة رضی الله عنهما يې مقصدوې) نوايا کومه يوه به دتهمت وړوي؟ انو قسيس چپ اوگونگی شو.

***

الله تعالی فرمايي :

﴿ ۞ ٱللَّهُ نُورُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ مَثَلُ نُورِهِۦ كَمِشْكَوٰةٍ فِيهَا مِصْبَاحٌ ۖ ٱلْمِصْبَاحُ فِى زُجَاجَةٍ ۖ ٱلزُّجَاجَةُ كَأَنَّهَا كَوْكَبٌ
دُرِّىٌّ يُوقَدُ مِن شَجَرَةٍ مُّبَٰرَكَةٍ زَيْتُونَةٍ لَّا شَرْقِيَّةٍ وَلَا غَرْبِيَّةٍ يَكَادُ زَيْتُهَا يُضِىٓءُ وَلَوْ لَمْ تَمْسَسْهُ نَارٌ ۚ نُّورٌ عَلَىٰ نُورٍ ۗ يَهْدِى
ٱللَّهُ لِنُورِهِۦ مَن يَشَآءُ ۚ وَيَضْرِبُ ٱللَّهُ ٱلْأَمْثَٰلَ لِلنَّاسِ ۗ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ﴿٣٥﴾ فِى بُيُوتٍ أَذِنَ ٱللَّهُ أَن تُرْفَعَ وَيُذْكَرَ فِيهَا
ٱسْمُهُۥ يُسَبِّحُ لَهُۥ فِيهَا بِٱلْغُدُوِّ وَٱلْءَاصَالِ ﴿٣٦﴾ رِجَالٌ لَّا تُلْهِيهِمْ تِجَٰرَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَن ذِكْرِ ٱللَّهِ وَإِقَامِ ٱلصَّلَوٰةِ وَإِيتَآءِ ٱلزَّكَوٰةِ ۙ
يَخَافُونَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيهِ ٱلْقُلُوبُ وَٱلْأَبْصَٰرُ ﴿٣٧﴾ لِيَجْزِيَهُمُ ٱللَّهُ أَحْسَنَ مَا عَمِلُوا۟ وَيَزِيدَهُم مِّن فَضْلِهِۦ ۗ وَٱللَّهُ يَرْزُقُ مَن
يَشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٣٨﴾ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ أَعْمَٰلُهُمْ كَسَرَابٍۭ بِقِيعَةٍ يَحْسَبُهُ ٱلظَّمْـَٔانُ مَآءً حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَهُۥ لَمْ يَجِدْهُ شَيْـًٔا
وَوَجَدَ ٱللَّهَ عِندَهُۥ فَوَفَّىٰهُ حِسَابَهُۥ ۗ وَٱللَّهُ سَرِيعُ ٱلْحِسَابِ ﴿٣٩﴾ أَوْ كَظُلُمَٰتٍ فِى بَحْرٍ لُّجِّىٍّ يَغْشَىٰهُ مَوْجٌ مِّن فَوْقِهِۦ مَوْجٌ
مِّن فَوْقِهِۦ سَحَابٌ ۚ ظُلُمَٰتٌۢ بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ إِذَآ أَخْرَجَ يَدَهُۥ لَمْ يَكَدْ يَرَىٰهَا ۗ وَمَن لَّمْ يَجْعَلِ ٱللَّهُ لَهُۥ نُورًا فَمَا لَهُۥ مِن نُّورٍ ﴿٤٠﴾
أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يُسَبِّحُ لَهُۥ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱلطَّيْرُ صَٰٓفَّٰتٍ ۖ كُلٌّ قَدْ عَلِمَ صَلَاتَهُۥ وَتَسْبِيحَهُۥ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ بِمَا يَفْعَلُونَ
﴿٤١﴾ وَلِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ وَإِلَى ٱللَّهِ ٱلْمَصِيرُ ﴿٤٢﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يُزْجِى سَحَابًا ثُمَّ يُؤَلِّفُ بَيْنَهُۥ ثُمَّ يَجْعَلُهُۥ رُكَامًا فَتَرَى
ٱلْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلَٰلِهِۦ وَيُنَزِّلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مِن جِبَالٍ فِيهَا مِنۢ بَرَدٍ فَيُصِيبُ بِهِۦ مَن يَشَآءُ وَيَصْرِفُهُۥ عَن مَّن يَشَآءُ ۖ يَكَادُ سَنَا بَرْقِهِۦ
يَذْهَبُ بِٱلْأَبْصَٰرِ ﴿٤٣﴾ يُقَلِّبُ ٱللَّهُ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّأُو۟لِى ٱلْأَبْصَٰرِ ﴿٤٤﴾ وَٱللَّهُ خَلَقَ كُلَّ دَآبَّةٍ مِّن مَّآءٍ ۖ فَمِنْهُم مَّن
يَمْشِى عَلَىٰ بَطْنِهِۦ وَمِنْهُم مَّن يَمْشِى عَلَىٰ رِجْلَيْنِ وَمِنْهُم مَّن يَمْشِى عَلَىٰٓ أَرْبَعٍ ۚ يَخْلُقُ ٱللَّهُ مَا يَشَآءُ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ
﴿٤٥﴾ لَّقَدْ أَنزَلْنَآ ءَايَٰتٍ مُّبَيِّنَٰتٍ ۚ وَٱللَّهُ يَهْدِى مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٤٦﴾ وَيَقُولُونَ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَبِٱلرَّسُولِ وَأَطَعْنَا

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

ثُمَّ يَتَوَلَّىٰ فَرِيقٌ مِّنْهُم مِّنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ ۚ وَمَآ أُو۟لَٰٓئِكَ بِٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٤٧﴾ وَإِذَا دُعُوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ إِذَا فَرِيقٌ مِّنْهُم
مُّعْرِضُونَ ﴿٤٨﴾ وَإِن يَكُن لَّهُمُ ٱلْحَقُّ يَأْتُوٓا۟ إِلَيْهِ مُذْعِنِينَ ﴿٤٩﴾ أَفِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ أَمِ ٱرْتَابُوٓا۟ أَمْ يَخَافُونَ أَن يَحِيفَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمْ
وَرَسُولُهُۥ ۚ بَلْ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٥٠﴾ إِنَّمَا كَانَ قَوْلَ ٱلْمُؤْمِنِينَ إِذَا دُعُوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ أَن يَقُولُوا۟ سَمِعْنَا
وَأَطَعْنَا ۚ وَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴿٥١﴾ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَخْشَ ٱللَّهَ وَيَتَّقْهِ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْفَآئِزُونَ ﴿٥٢﴾ ﴾ النور:
۳۵ - ۵۲

مناسبت اوتړاو :

کله چي الله جل جلاله دا وښودله چي څرګند آیتونه یی نازل کړی او دخپل وحدانیت دلائل یی راوړی همداسي دټولنی دنیکمرغي لپاره یې شرعي احکام را استولي ورپسی یی دوه مثالونه نورذکرکړل یوداچي دایمان او وحدانیت دلائل زښته زیات څرګنداودوهم داچي دکفاروادیان خوراپه تاریکه کي دی اوددې مثالونوپه توپیرکولوسره دسترګوخاوندان سهار پیژندلای شي .

لغتونه :

(مشکوة) په دیوال کي له کړکۍ څخه پرته بله تاخچه اواصل یې هغه ځای (لوښي) ته وایه شي چي پکي کوم څیز ایښودل کیږی (دری) ځلیدونکی چي له ملغلروسره په ښایست اوځلاکي مشابه وی (سراب) هغه چي په ټکنده غرمه کي یې څوک ویني ته به وایې چي داوبوسمندردی خوهیڅ هم نه وی او(ځیني خلک ورته شګی ګل وایې) سراب یی ځکه بولی چي لکه اوبه روانی وی . (قیعة) فراء وایې چي دغه د(قاع) جمع اولکه (جار) او(جیره) غوندی دی اوقاع بیاویږی پراخي غوړېدلي ځمکي ته وایې اوزمخشری لیکی چي داپخپله دقاع په معنادی اوجمع نه دی (۱) همداسي ابوعبیده هم وایې (لجی) هغه ګرداب چي تل (مینځ)یی له ژور والی څخه نه معلومیږی او(لجة)ډیرو اوبوته وایې چي جمع یی لجج راځی اوکله چي وویل شی (التج البحر) یعني دریاب په څپوراغی (یزجی) ازجاء یوڅیزپه کراراوسکون سره لیږدولوته وایې (رکاما) یودبل دپاسه اوډلې(الودق) باران لیث وایې چي (ودق) په عامه توګه باران ته وایې که سخت وي اوکه نرم (۲) (سنا) روښنایی اوځلاته وایې . (مذعنین) غاړه ایښودونکي (یحیف) ظلم اوځلل کوي .

تفسیر :

﴿ ٱللَّهُ نُورُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ الله جل جلاله (مالک د) نوردآسمانونواوځمکی دی) یعني الله تعالی روښانونکی دآسمانونو اوځمکی دی چي آسمانونه یی په سوروښائسته کړي.اوځمکه یی په شرعي احکامواودپیغمبرانوپه را استولوباندی؛ طبري وایې معناداچي الله پاک لارښوونکی او هدایت کونکی داهل دآسمانونو او ځمکی دی ځکه دوی دالله په نورباندی دحق لاره مومی اودالله په

(۱) الفخرالرازي ۲۴/ ۷
(۲) زادالمسیر ۵/ ۵۲

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

هدايت اوښوونه له حيرانتيا اوله لهاندتياڅخه ژغورل کيږي (١) قرطبي وايې چې نوردعربانوپه اصطلاح هغه ځلا ته چې په سترګوليدل کيږي وايه شي اومجازا بيا په نورومعناګانوکې هم استعمالېږي ويل کيږي چې داهسې ويناده چې نورلرې جريروايې چې : (وأنت لنانور وغيث وعصمة) او ته موږته نور،باران،اوساتنه يې ؛ خلک وايې چې فلانې دهيوادرنهاده دزمانې لمراوسپوږمۍ ده نو داهم رواده چې وويل شي الله نوردي کله چې يې حمداومدح کيږي ځکه دټولوڅيزونوابتداء او صدور له همده جل جلاله څخه دي اودده په قدرت يې چارې سمې شوې دي (٢) ابن عطاء الله وايې چې کائنات توره تاريکه ووخودحق ظهورهغوي روښانه کړل که دالله جل جلاله وجودنه واى نوبه دعالم هيڅ موجودهم نه وو پيداشوى (٣) اوپه حديث شريف کې راځي(اللهم لک الحمدأنت نور السماوات والأرض ومن فيهن) الهي تاته حمداوثناء ده ته دآسمانونواوځمکې اوهغوڅيزونوچې په دې کې دي نورې عبدالله بن مسعودوايې چې: (ليس عند ربکم ليل ولانهارنورالسماوات والأرض نوروجهه) ستادرب په نزدشپه او ورځ نشته دآسمانونواو ځمکې نوردده دوجه (ذات)نوردي ابن قيم وايې چې الله پاک خپل ځان نور ستايلي اونومولي او قرآن يې نورګرزولي او رسول يې نورګرزولي او له خلکو څخه په نور پټ دي اوکله کله مفسرين دا آيتونه داسې تفسيرفرمايي چې الله تعالى منورکونکي دآسمانونو اوځمکې همدارازهدايت کونکي دآسمانونواوځمکې دي اوهغه چې ابن مسعودويلي دآيت تفسيرته نږدې دې تردې چې څوک وايې الله جل جلاله هدايت کونکي داهل السموات اواهل ارض دي اوهغه څوک چې پدې يې تفسيرکوي چې الله روښانونکي دآسمانونواو ځمکې دي دهغې ويناوودابن مسعود دويناترمينځ توپيرنشته (٤)﴿ مَثَلُ نُورِهِۦ ﴾ مثل صفت دنورده (دمؤمن بنده په زړه کې) ﴿ كَمِشْكَوٰةٍ فِيهَا مِصْبَاحٌ ﴾ لکه (روڼه) طاقچه چې په هغې کې يوه بله ډيوه وى) يعني لکه هغه طاقچه چې په دېوال کې روغه شوې اوسورې نلرې دډيوې رڼا په کې راغونډه شوې وى ؛ په التسهيل کې وايې معناداچې دالله دنورصفت په څرګندوالى کې لکه هغه طاقچه غوندې دې چې بشريې په هر ډول ستره توګه تصورکوي چې رڼااوروښنايې پکې دې اوداچې په طاقچه سره يې تشبيه وفرمايله د دې لپاره چې داهغه څه دي چې خلک يې درک کولاى اوپيژندلاى شي (٥)﴿ ٱلْمِصْبَاحُ فِى زُجَاجَةٍ ﴾ دغه بله ډيوه په ښيښه کې ﴿ٱلزُّجَاجَةُ كَأَنَّهَا كَوْكَبٌ دُرِّىٌّ ﴾ دغه ښيښه (په سبب دهغې رڼاچې پکې ده) ګواکې يوستورې دې روڼ ځليدونکې ﴿ يُوقَدُ مِن شَجَرَةٍ مُّبَٰرَكَةٍ ﴾چې بلاوه شي له تېلود ونې برکتناکې (زَيْتُونَةٍ) دزيتون (هغه چې الله تعالى ډېرې ګټې پکې ايښې دي)﴿ لَّا شَرْقِيَّةٍ وَلَا غَرْبِيَّةٍ ﴾ چې نه مشرق طرفته وې نه مغرب طرف ته (بلکه په پراخه ويره بيديا کې وى چې ګرده (کرې ورځ) لمروربانديې ځليږي ترڅويې ميوه ښه پخه اوتيل

---

(١) الطبري ١٨ / ١٠٥ دغه دابن عباس اومجاهد قول چې طبري غوره کړې دې.

(٢) القرطبي ١٢ / ٢٥٦

(٣) الحکم لابن عطاء الله السکندري .

(٤) له محاسن التأويل څخه اخيستل شوې دې.

(٥) التسهيل ٣ / ٦٧

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

یی ډیرپاک وی ابن عباس رضی الله عنه وایې داهغه ونه ده چې په صحراکې ولاړه وی اودکومې بلې
ونې اوغړه سیوری وربانديې نه راځی هیڅ څیزهغه نه پټوی نوتیل یی خورابنه رانه وی (۱) ﴿ يَكَادُ زَيْتُهَا
يُضِيءُ وَلَوْ لَمْ تَمْسَسْهُ نَارٌ ﴾ نژدی دی تیل ددې چې رڼاوکړی (له خپله ځانه له ډیر صفاوالی) اواګرک
نه وی رسیدلی دی ته اور(اوچې کله اور ورته ورسی نوبه څرنګه وی ؟) ﴿ نُورٌ عَلَىٰ نُورٍ ﴾ دغه رڼاپر رڼاده
؛ ځکه رڼادډېوې ،پاکې دښیښې اوتیلویوځای شوی اورڼابشپړه شوی ده ﴿ يَهْدِي اللَّهُ لِنُورِهِ مَن يَشَاءُ ﴾
الله لاربښیی نورخپل ته هغه چاته چې اراده وفرمایی (له بندګانو خپلوچې دخپل نور(قرآن) داتباع توفیق
ورکوی) ﴿ وَيَضْرِبُ اللَّهُ الْأَمْثَالَ لِلنَّاسِ ﴾ اوبیانوی الله مثالونه خلکوته (ددوی له پوهی سره سم
ترڅودهغوله رازونو او حکمتونوڅخه پندواخلی ﴿ وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴾ اوالله په هرڅیزښه عالم دی
(چې دخپلوبندګانواومخلوقاتو هیڅ چاره ورڅخه پټه اوالونیا نه ده اوپدې کې وعداو وعیددی طبری
وایې دغه مثال دقرآن لپاره الله بیان کړی کله چې دمؤمن په زړه کې وی اوفرمایی چې دالله دنورمثال
لکه هغه په دیوال کې تاخچه غوندی دی چې هیڅ درز او چوله نلري ډیوه پکې بل وي اودغه ډیوه دمؤمن
په زړه کې دقرآن اوآیتونومثال دی بیافرمایې ﴿ الْمِصْبَاحُ فِي زُجَاجَةٍ ﴾ دغه د مؤمن په زړه کې دقرآن مثال
دی چې سینه یی روښانه کړې اوله کفراوشرک څخه یی ژغورلی وی ورپسې راوړې ﴿ الزُّجَاجَةُ كَأَنَّهَا
كَوْكَبٌ دُرِّيٌّ ﴾ ښیښه په پاکی اوصفایی کې لکه مرغلره غوندی ستوری دی ﴿ يُوقَدُ مِن شَجَرَةٍ مُّبَارَكَةٍ
زَيْتُونَةٍ لَّا شَرْقِيَّةٍ وَلَا غَرْبِيَّةٍ ﴾ یعنې دغه ډیوه له هغودزیتون له تیلوبلیږی چې نه شرقی اونه غربی ده بلکه
لمروربانديې راخیژی اوپریوزی نوتیل یی بیخی صفااورانه وی ﴿ يَكَادُ زَيْتُهَا يُضِيءُ وَلَوْ لَمْ تَمْسَسْهُ نَارٌ ﴾
یعنې نژدی ده چې دغه تیل یی له ډیری پاکی اوصفایی پرته له دې چې اور ورته ورسیږی ځلیږی
مقصدځنی دادی چې دالله تعالی جګوته په خپل مخلوق باندی دومره زیات دی کله چې څوک پکې
فکرکوی که الله پاک ورته ددې قرآن په رااستولوهم بیان او وضاحت نه وفرمایی هم ځلیږی نوهله به
څرنګه واضح اوښکاره نه وی چې الله پاک پخپلوآیتونوورته زیاته ځلابښلی اوپه بیان یی رڼاخپره کړی
ده (۲) کله چې الله پاک خپل هدایت دخپلوبندګانولپاره چې چاته یی اراده شی یادکړنویی ددغه عبادت
ځایونه چې مساجداوالله ته دګردی ځمکی غوره ټوټی دی بیان راوړ ویی فرمایل چې: ﴿ فِي بُيُوتٍ أَذِنَ
اللَّهُ أَن تُرْفَعَ ﴾ (په هغوکورونو(مساجدو) کې چې حکم کړی دی الله چې پورته دې کړل شی (په بناء
یاتعظیم سره) یعنې الله حکم کړ ی دی چې ځانګړی دده په نامه دې آبادشي اوشان دې لوړشي
ترڅودروحې شعاعو وړانګولپاره مرکزونه وی ،ابن عباس رضی الله عنه وایې چې مساجد په ځمکه کې

(۱) مختصرابن کثیر۲ / ۲۰۲
(۲) طبري په لندون سره ۱۸ / ۱۱۰

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

دالله کوټې دي دآسمان اوسیدونکوته داسي ځلېږي لکه چي دځمکي اوسیدونکو ته ستوري ځلېږي (١)﴿ وَيُذْكَرَ فِيهَا ٱسْمُهُۥ ﴾ اویادوه شی په هغه کي نوم دالله تعالی (په وحدانیت سره او تلاوت دآیتونودده) ﴿يُسَبِّحُ لَهُۥ فِيهَا بِٱلْغُدُوِّ وَٱلْآصَالِ ﴾ تسبیح وایې دغه الله ته (لمونځ کوی مؤمنان) په دغومسجدونوکي سهاراوبیګا) ابن عباس رضی الله عنه وایي هره دتسبیح کلمه چي په قرآنکریم کي راوړل شوی معنایی لمونځ دی ﴿ رِجَالٌ لَّا تُلْهِيهِمْ تِجَٰرَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَن ذِكْرِ ٱللَّهِ ﴾ (داسي سړی چي نه غافلوی دوی سوداګری اونه بیه پیرودل له ذکره یاده دالله یعني دوی دنیا او دهغې ښائست ښکلا اوپلورل پیرودل دالله له طاعته نه راګرزوی مفسرین کرام وایې چي دغه آیتونه دسوداګرواصحابو رضوان الله علیهم په هکله رانازل شوی چي کله به یی په ښارونو کي پیرودل او پلورل کول نوچي اذان به یی واوریدوسمدستی به یی دالله (جل جلاله) طاعت ته مخه کړه ﴿ وَإِقَامِ ٱلصَّلَوٰةِ وَإِيتَآءِ ٱلزَّكَوٰةِ ﴾ اونه غافلوی دوی له سم قائمولواداکولودلمانځه پخپل وخت کي اوله ورکولو دزکات (فقیرانواوبیوزلوته سره له خپلوشرائطو)﴿ يَخَافُونَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيهِ ٱلْقُلُوبُ وَٱلْأَبْصَٰرُ ﴾ ویریږي دوی له هغی ورځی چي اوړی را اوړی(مضطرب) به وی ،په هغی ورځی کي زړونه او سترګي (له ویری) ﴿ لِيَجْزِيَهُمُ ٱللَّهُ أَحْسَنَ مَا عَمِلُوا۟ ﴾ لپاره د دې چي جزاورکړي دوی ته الله ډېره غوره جزادهغوعملونوچي دوی کړي دي یعني په احسان باندي احسان اوپه بدي باندي دعفوي او غفران بدله ورکړي﴿ وَيَزِيدَهُم مِّن فَضْلِهِۦ ﴾ اوزیات به کړی دوی ته الله له خپله فضله اورحمته هغه څه چي نه سترګو لیدلی ،نه غوږونو اوریدلي اونه دچاپه زړه تېر شوي دي) ﴿ وَٱللَّهُ يَرْزُقُ مَن يَشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴾ اوالله روزی ورکوی هرچاته چي اراده وفرمایی پریمانه بې حسابه روزي، ویل کېږي چي فلانی سړی بې حسابه لګښت کوي معنادا چي زیات لګښت چي دشمیرلو اندازه یی نشی کیدای امام فخر رازی وایې چي دلته دالله په بشپړ قدرت اوبشپړاحسان اوسخاتنبیه راغلی ده ځکه الله پاک دوی ته ددوی په طاعاتوسترثواب ورکوی اود دوی دویرې په مقابل کي ورباندی فضل اواحسان لوروی (٢) کله چي الله تعالی دمؤمنانو ذکر وفرمایو نو ورپسی یی د بدمرغوکفارو خسران راوړچي ددی لپاره یی دوه مثالونه وفرمایل یویې دهغه دعمل اوکردار لپاره اوبل یی دهغه دعقیدې اوپه توره تیاره کي دلویدلوپه هکله ﴿ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ أَعْمَٰلُهُمْ كَسَرَابٍۭ بِقِيعَةٍ ﴾ (اوهغه کسان چي کافران شوی دی عملونه ددوی دسراب په شان دی په هوار ډاګ کي) یعني دکافرانوهغه عملونه اوکړه وړه چي په دنیاکي یی په دې ګومان کول چي دوی ته به په آخرت کي ګټه رسوی دهغه ښوری دی چي په هوارډاګ بیدیاکي لکه رنی اوبه داسي بریښی اوپه ټکنده غرمه کي دتږی لپاره داوبوهیله پیداکوی خوپه حقیقت کي هیڅ هم نه وی ﴿ يَحْسَبُهُ ٱلظَّمْـَٔانُ مَآءً ﴾ چي ګومان کوی

---

(١) التفسیرالکبیر ٢٤ / ٣

(٢) الطبري ١٨ / ١١٣

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

وربانده ترې داوبو ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَهُۥ لَمْ يَجِدْهُ شَيْـًٔا ﴾ ترهغه پورې چې راشي هغوته نوونه مومي دا سړی هغه چې داوبوګومان پرې کړی شوی دی هیڅ شی بلکه یوازې شګې ګل سراب وی نوافسوس بې لازیات شي) ﴿ وَوَجَدَ ٱللَّهَ عِندَهُۥ فَوَفَّىٰهُ حِسَابَهُۥ ﴾ اوبیابه مومي الله (څارونکي) په نزد(دعمل) خپل پس پوره به ورکړی (الله) ده ته پوره حساب (جزاء دعمل دده چې کله ومرې اوخپل هغه نیک عملونه به یې هیڅ ګټه ورته ونه رسوي بلکه ګرداوغبارغوندي به له مینځه تللي وي ﴿ وَٱللَّهُ سَرِيعُ ٱلْحِسَابِ ﴾ اوالله ډیرژر(اخیستونکی) دحساب دی ځکه یوه محاسبه الله له بلي څخه مشغولولای نشي)﴿ أَوْ كَظُلُمَٰتٍ فِى بَحْرٍ لُّجِّىٍّ ﴾ (دغه دوهم مثال دی) یا(عملونه ددوی)په شان دهغوتاریکیو دی په ژوربحرکي (چې ژوروالی یې نه معلومېږي)﴿ يَغْشَىٰهُ مَوْجٌ مِّن فَوْقِهِۦ مَوْجٌ ﴾ چې پټ کړی وی دغه بحرلره یوموج چې دپاسه یی بل موج وی ﴿ مِّن فَوْقِهِۦ سَحَابٌ ﴾ اودپاسه ددغی څپې (موج) وریځ وی (پنډه دغه څلورقسمه) ﴿ ظُلُمَٰتٌۢ بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ ﴾ تیارې دی چې ځینې ددوی دپاسه دځینونورودی ،قتاده وایې چې کافرپه پنځوتاریکیوکي اوړی رااوړی دنیایی تیاره ده ،کړه اوعمل یی تاریکه ده ،د ننوتلوځای یی تیاره ده ،اودراوتلوځای یی تیاره ده اوبالآخره دورتلواوهستوګنی ځای یی په قیامت کي تیاره ده (۱)﴿ إِذَآ أَخْرَجَ يَدَهُۥ لَمْ يَكَدْ يَرَىٰهَا ﴾ کله چې راوباسی دغه (په تیاروکي پریوتی) لاس خپل نه وي نژدې (دی) چې ووینی دغه (لاس خپل) دغه دتمثیل بشپړاوی کوی یعني هغه انسان چې د غه ګردی تاریکی لکه دبحردڅپوتاریکی داوریځی تاریکی وربانده راغونډه شوی وی چې هغه تر ټولونژدی څیزله زیاتی تاریکي څخه ورځني پټوي اولیدلای یې نشي همداسي کافرانسان دکفراو ګمراهي په تیاروکي غوپه وي ﴿ وَمَن لَّمْ يَجْعَلِ ٱللَّهُ لَهُۥ نُورًا فَمَا لَهُۥ مِن نُّورٍ ﴾ (اوهرهغه چې الله ده ته نور رڼا نه وي ورکړي پس نشته ده ته هیڅ رڼا) یعني څوک چې الله یی دایمان لاربښوونه په برخه نکړی اوزړه یې د اسلام په رڼاروښانه نشی نوتل ترتله په ضلالت کي وي دلته الله جل جلاله دکافرلپاره دوه مثالونه راوړل لومړی یی دهغه دنیکوکړومثال چې له سراب سره یې مشابه کړاوبیایې دآیت پای پدغه خوندوره پایله وپسولل چې: ﴿ وَمَن لَّمْ يَجْعَلِ ٱللَّهُ لَهُۥ نُورًا فَمَا لَهُۥ مِن نُّورٍ ﴾ اودادمؤمن په مقابل کي کله چې فرمایلی وو ﴿ نُّورٌ عَلَىٰ نُورٍ ﴾ نودغه تمثیل اوبیان خورابښائسته اوزړه راښکونکی بڼه لری قرآني تعبیر څومره ښکلی اوبسیادي هوکله چې الله تعالی د(مؤمنو)زړونوانوراودجهالودزړونوتیاری بیان کړی ورپسې یې دتوحیددلائل هسي ذکرکړل چې ﴿ أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يُسَبِّحُ لَهُۥ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱلطَّيْرُ صَٰٓفَّٰتٍ ﴾ ایاته نه وینی ای محمده ! بیشکه الله ته تسبیح وایې هرهغه چې په آسمانونوکي دی او (هر هغه) چې په ځمکه کي دی) اومرغان هم په داسي حال کي چې خورونکی وی د وزرونوخپلو یعني ای محمده تاته په یقینی علم دانه

(۱) التفسیرالکبیر ۲۴/ ۶

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

ده معلومه چي لوی الله جل جلاله ته ټول دآسمانونواو سېدونکي اود ځمکي بلکه دکائناتوکه پیریان دی که پرښتې اوکه انسانان اومرغان دي دپاکي او تقدس ستاینه کوي ﴿ كُلٌّ قَدْ عَلِمَ صَلَاتَهُۥ وَتَسْبِيحَهُۥ ﴾ هریو(له دغومذکورینوچي دی) په تحقیق معلوم دی (الله ته) لمونځ دهغه اوتسبیح دهغه یعني هریوه له پرښتو،انسانانو،پیریانانواومرغانوته یی د خپل ذات عبادت لاره کرښه اودلمانځه اوتسبیح مکلفیت ورښودلی دی ﴿ وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ بِمَا يَفْعَلُونَ ﴾ او الله ته ښه معلوم دی هغه (اعمال هم) چي دوی یی کوی (له طاعاتواوتسبیحاتوڅخه)﴿ وَلِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ (اوخاص الله ته دی ملک سلطنت دآسمانونواودځمکي) یعني الله دکائناتومالک اومتصرف دی ټول مخلوقات یې په ملکیت کي دننه دی په هغوی کي څرنګه چي غواړی هغسی تصرف اوتغیرراولی هغه زورورالله دی ﴿ وَإِلَى ٱللَّهِ ٱلْمَصِيرُ ﴾ اوالله ته دی بیرته ورتله (دټولو نوبه یی پخپلواعمالوجزاء ورکړی داهسي یادونه ده چي وعیدپکي نغښتی دی بیاوروسته الله پاک د کائناتویوې هیښونکي څرګندتیاته چي دالله جل جلاله په وحدانیت اوقدرت دلالت لری اشاره کوی فرمایي ﴿ أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يُزْجِى سَحَابًا ﴾ ایانه وینی ته ای مخاطبه چي الله بیشکه روانوي وریځې (پخپل قدرت سره چېرته چي یی خوښه شي ټوټه ټوټه.) ﴿ ثُمَّ يُؤَلِّفُ بَيْنَهُۥ ثُمَّ يَجْعَلُهُۥ رُكَامًا ﴾ بیایوځای والي کوي په مینځ ددغو(ټوټودوریځو)کي بیایې وګرزوي لاندي باندي (پنډې یوپربل دپاسه) ﴿ فَتَرَى ٱلْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلَٰلِهِۦ ﴾ پس وینې به ته (ای انسانه) چي وزی به باران (ددې وریځي له مینځه ﴿ وَيُنَزِّلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مِن جِبَالٍ فِيهَا مِنۢ بَرَدٍ ﴾ اونازلوی (الله) له لوری دآسمانه (له وریځویادرلیو پشان د)غرونوچي وی په هغوغرونوکي ځیني له ږلی ﴿ فَيُصِيبُ بِهِۦ مَن يَشَآءُ ﴾ اورسوي (الله) دارلی هغه چاته چې اراده و فرمایې (درسونې یې هغه ته نوبې په کښت اومیوه اومالداري کي تاوان ورسوي)﴿ وَيَصْرِفُهُۥ عَن مَّن يَشَآءُ ﴾ اوګرزوی یی له هرهغه چاڅخه چي اراده یی (دګرځولو) وفرمایی نو ورته تاوان نه رسوي ، صاوي وایې لکه چي باران له آسمانه اوروی اوپه هغه کي دبندګانولپاره ګټه ده همداسي ږلی اوروي چي پکي نقصان وي نوپاکي ده هغه ذات لره چي آسمان یی دخیراوشر دواړودپیدایښت ځای ټاکلی دی (١)﴿ يَكَادُ سَنَا بَرْقِهِۦ يَذْهَبُ بِٱلْأَبْصَٰرِ ﴾ نژدی وی رڼابریښنا دهغه چي دلیدونکي سترګي یوسي؛اوبصارت یې ورک کړي له زیاتي ځلاڅخه ﴿ يُقَلِّبُ ٱللَّهُ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ ﴾ الله ګرځوي شپه او ورځ (په اوږدوالي لنډوالي تیارې روښنایی یخني اوتودوخي....) ﴿ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّأُو۟لِى ٱلْأَبْصَٰرِ ﴾ بیشکه په دغومذکوره شیانو کي خامخادسترګواوبصارت خاوندانوته عبرت دی (ځکه دوی ور باندي فکرکوي چي څرنګه اوبه ،یخني ،روښنایي، اوتاریکي له یوه ځیزڅخه راوزي

(١) الطبري ١٨ / ١١٢

؟ فسبحان الله القادر على كل شئ ﴿ وَٱللَّهُ خَلَقَ كُلَّ دَآبَّةٍ مِّن مَّآءٍ ﴾ او الله پيدا كړى دى هر حيوان چي كرزي (په ځمكه كي) له اوبونه ،دالله په وحدانيت يې دآسمانونو او ځمكو داوسيدونكو تسبيح دوريځو كرزول اوله هغوى څخه دباران اورښت اوبيا دحيواناتو احوال دليل راووړ.ابن كثير وايې چي الله جل جلاله خپل بشپړ قدرت سترسلطان اوحاكميت بيانوى كوم چي دټولو مخلوقاتو په هكله چي هرڅومره يې شكلونه ،رنګونه، حركات اوسكنات سره بيل وي خوداټول له اوبو څخه پنځوي (پيداكوي) (١)﴿ فَمِنْهُم مَّن يَمْشِى عَلَىٰ بَطْنِهِۦ ﴾ ځيني له هغوى هغه دي چي تګ كوي په ګېډه ټټر خپل (لكه ماهى اومار) ﴿ وَمِنْهُم مَّن يَمْشِى عَلَىٰ رِجْلَيْنِ ﴾ اوځيني له هغوى هغه دى چي په دووپښو ځي (لكه انسان اومرغان)﴿ وَمِنْهُم مَّن يَمْشِى عَلَىٰٓ أَرْبَعٍ ﴾ او ځيني له هغوى هغه دي چي په څلورو (پښو خپلو لكه آس ،اوښ،اونورڅاروى) درومي تګ كوي ابوحيان وايې چي هغه يى رومبى يادكړكوم چي قدرت زيات څرګندونكى اوتر ټولو عجيب دى اوپرته له كومي وسيلي اوپښو تګ كوي اوبيا پردووپښو تلونكي ورپسې څلوربول﴿ يَخْلُقُ ٱللَّهُ مَا يَشَآءُ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴾ پيداكوي الله (ماسوى له دغو) هرهغه څه چي اراده يې وفرمايې (دخلقت) بيشكه الله په هرڅيزباندى (چي اراده يى وفرمايى) ښه قادردى (هيڅوك يى له خپلي ارادى اړولاى اومنع كولاى نشي امام فخر رازي وايې پدې پوه شه چي عقلونه دټولوحيواناتو څخه په خوراكوچني حيوان باندي هم بشپړعلم راوستل نشي كولاى اوداد پيداكونكي (خالق) په ذات باندي څرګند دليل دى كه چيرى چاره دڅلوروطبائعوپه تركيب سره واى نوبه ټول يوډول ووخوداسي نه دهددې حيواناتو ګاګرپتيا دوډه غړو(اندامونو) عمرونواوبدنونوارومرودحكيم اومقتدرذات كاردى سبحان الله عما يشركون (٢)﴿ لَّقَدْ أَنزَلْنَآ ءَايَٰتٍ مُّبَيِّنَٰتٍ ﴾ خامخاپه تحقيق نازل كړى دى موږآيتونه بيانونكى واضح (د حق اوهدايت لاري ته) ﴿ وَٱللَّهُ يَهْدِى مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴾ اوالله سمه صافه لاره ښيى هرهغه ته چي اراده وفرمايى (له مخلوق خپل نه) دهغې لارى سمې صافى (چي حق دين داسلام دى ؛كله چي الله تعالى دتوحيددلائل وفرمايل نوله نفاق اومنافقينوڅخه يى داسي ويرونه وفرمايله چي: ﴿ وَيَقُولُونَ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَبِٱلرَّسُولِ وَأَطَعْنَا ﴾ او وايې دا(منافقان) چي موږپه الله ايمان راوړى دى اودالله په رسول (موايمان راوړى دى) اوحكم منلى دى موږ(دالله اودرسول الله)﴿ ثُمَّ يَتَوَلَّىٰ فَرِيقٌ مِّنْهُم ﴾ بيا مخ ګرزوي (له اسلامه) يوه ډله له دوى ﴿مِّنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ ﴾ وروسته له دې (دايمان اوداطاعت له دعوىٰ څخه) ﴿ وَمَآ أُو۟لَٰٓئِكَ بِٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ اونه دي دغه ګرزيدونكي مؤمنان (په حقيقت كي) حسن رحمه الله وايې دغه آيت دهغومنافقانوپه هكله نازل شوى چي ښكاراووبه يې اسلام اوپه پټه كافران وو ﴿ وَإِذَا دُعُوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ

---

(١) الصاوي على الجلالين ٣ / ١٣٤

(٢) المختصر ٢ / ٦١٣

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

وَرَسُولِهِۦ ﴾ اوهرکله چي وبلل شی د وی الله اورسول (ددغه الله) ته ﴿ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ ﴾ (دپاره ددی چي حکم وکړی دغه رسول په مینځ ددوی کي) یعني اوکله چي دوی دالله اودرسول الله حکم ته وباله شی ﴿ إِذَا فَرِيقٌ مِّنْهُم مُّعْرِضُونَ ﴾ ناڅاپه یوه ډله له دوی ډډه کونکی وی (له حاضریدلودرسول الله مجلس ته) ﴿ وَإِن يَكُن لَّهُمُ ٱلْحَقُّ يَأْتُوٓا۟ إِلَيْهِ مُذْعِنِينَ ﴾ اوکه چیری دوی ته حق وی (په زعم ددوی) نوراځی دوی دغه (رسول الله ﷺ)ته ګرندی فرمان منونکی (ښایی چي رسول الله به په حق ورته حکم وکړی امام فخررازي وایي دوی به هله اعراض اوډډه کوی چي پوهیږی حق ددوی دمخالف لوری دی اوکله چي یې ګومان شي حق ددوی په جانب دی بیاپخپله خوښه رادرومي(١)﴿ أَفِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ أَمِ ٱرْتَابُوٓا۟ ﴾ آیاد دوی په زړونو کي رنځ دی (دکفراونفاق ؟) آیاشکمن دی دوی (په محمدی نبوت) ﴿ أَمْ يَخَافُونَ أَن يَحِيفَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمْ وَرَسُولُهُۥ ﴾ ایاوېرېږي دوی له دي نه چي الله به پردوی ظلم وکړي یابه رسول ددغه الله (پر دوی ظلم وکړي په حکم کولوسره استفهام دتوبیخ دمبالغې اوذم لپاره دی .﴿ بَلْ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴾ بلکه دوی چي دي هم دوی ظالمان دي (په بشپړه توګه چي درسول الله صلی الله علیه وسلم له حکم څخه څنګ کوي اوعنادته یې ملاترلي ده ﴿ إِنَّمَا كَانَ قَوْلَ ٱلْمُؤْمِنِينَ إِذَا دُعُوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ أَن يَقُولُوا۟ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا ﴾ (بیشکه همداخبره ده چي دمؤمنانوویناده کله چي وبلل شي دوی الله اورسول ددغه الله ته ددې لپاره چي حکم وکړی شی په مینځ ددوی کي (په وخت دجګړې کي) داچي ووایې واوریده موږ(ستاخبره) اوومانومو (ستا حکم) یعني پردوی واجب اولازم دی کله چي یی رسول الله صلی الله علیه وسلم ددوی اودښمنانوتر مینځ دفیصلی کولولپاره وبولی چي دوی ژرترژره ووایې چي په سراوسترګو(سمعًاوطاعةً) نوکه چیری مؤمنان وای همداسي به یی کول طبری وایې چي دلته مقصد اخبارنه دی بلکه دمنافقانوترتنه اونوروته بیاتأدیب دی(٢)﴿ وَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴾ اودغه (ویونکي) هم دوی دی بریالیان ددواړوجهانونوپه نیکمرغی باندی) ﴿ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ ﴾ اوهر څوک چي اطاعت وکړی (حکم ومنی) دالله اودرسول ددغه الله په ټولو کړوورو کي) ﴿ وَيَخْشَ ٱللَّهَ وَيَتَّقْهِ ﴾ او ووېرېږي له الله (له سببه دهغوګناهونوچي کړي یې دي) اوڅان وساتي (له غضبه دده) اوامریې په ځای اوله نواهیو څخه یې ځان وژغوري) ﴿ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْفَآئِزُونَ ﴾ پس دغه (فرمان منونکی ویریدونکي) هم دوی دی بری موندونکي (په رضوان اوجنت دالله خلاص شوي له دوزخ اوعذابه دالله ،وایې چي درومیانویوعالم چي داآیت شریف واوریدونومسلمان شو او وی ویل :چي پدې کي ټول هغه دتورات اوانجیل حکمونه راغلی دی.

---

(١) التفسیرالکبیر ٢٤ / ١٩

(٢) التفسیرالکبیر ٢٤ /٢٧

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

بلاغت :

پدی آیتونوکي چي دبدیع اوبلاغت کومی ښکلاوی شته لنډیزیی دادی :

١ـ دمصدراطلاق په اسم فاعل باندي دمبالغې لپاره لکه : ﴿ ٱللَّهُ نُورُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ ﴾ چي د(منور) په معنادی اوهسی یی وباله لکه چي پخپله نوروی شریف رضی وایې چي دځینوپوهانودتفسیرله مخی په آیت شریف کي استعاره ده اومقصدددوی په نزدداچي الله لاربنوونکی دځمکنی اوآسمانی اوسیدونکودی چي ورته څرګندلائل اوبیانات یې کړي لکه چي په روښنایي اوځلایوڅوک لاره مومی.

٢ـ تمثیلی تشبیه ﴿ مَثَلُ نُورِهِۦ كَمِشْكَوٰةٍ فِيهَا مِصْبَاحٌ ﴾ دلته یی دالله جل جلاله نورکوم چي دخپل مؤمن بنده په زړه کي یی ایښی له هغی تاخچي سره چي پکي ډیوه په ښیښه کي لګیدلی وی لکه ځلانده ستوری غوندی صفااوروښانه بریښی دغه ته ځکه تمثیلی تشبیه وایې چي دشبه وجه له متعددڅخه راایستل شوی اودغه له خورابښکلی تشبیهاتوڅخه ګڼل کیږی.

٣ـ اشتقاقی جناس لکه ﴿ تَتَقَلَّبُ فِيهِ ٱلْقُلُوبُ وَٱلْأَبْصَٰرُ ﴾.

٤ـ اطناب چي دخاص یادونه وروسته له عام څخه راوړی چي دهغه په هکله پاملرنه اودشان لوړتیایی وښیی لکه : ﴿ ذِكْرِ ٱللَّهِ.... وَإِقَامِ ٱلصَّلَوٰةِ ﴾ ځکه لمونځ هم په ذکرالله کي شامل ووخوبیایادونه یی اهتمام دی.

٥ـ تمثیلی تشبیه چي : ﴿ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ أَعْمَٰلُهُمْ كَسَرَابٍۭ بِقِيعَةٍ ﴾ اوهمداسي په دی قول کي چي : ﴿ أَوْ كَظُلُمَٰتٍ فِى بَحْرٍ لُّجِّىٍّ ﴾ اودغه ښائسته تشبیه اوخوندور تمثیل دی.

٦ـ دطباق صنعت چي فرمایی : ﴿ فَيُصِيبُ بِهِۦ وَيَصْرِفُهُۥ ﴾.

٧ـ لطیفه استعاره لکه : ﴿ يُقَلِّبُ ٱللَّهُ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ ﴾ ځکه دلته دذاتی شیانومادی اوښتون مقصدنه دی بلکه دشپې او ورځی بدلون مراددی.

٨ـ تام جناس چي پدې کلام کي راځی ﴿ يَذْهَبُ بِٱلْأَبْصَٰرِ.... لِأُو۟لِى ٱلْأَبْصَٰرِ ﴾ له لومړی څخه مراد دسترګوخاوندان اوله دوهم څخه دعقل څښتنانِ دی.

لطیفه :

ځیني دطبیعت دعلم پوهانو چي مؤمنان هم نه وو دغه آیت واوریدوچي ﴿ أَوْ كَظُلُمَٰتٍ فِى بَحْرٍ لُّجِّىٍّ يَغْشَىٰهُ مَوْجٌ ﴾ نوبې پوښتنه وکړه چي ایامحمدصلی الله علیه وسلم دبحرسفرکړی وو؟ په ځواب کي ورته وویل شول نه نوهغه عالم وویل چي (اشهدانه رسول الله) زه شاهدی وایم چي هغه په حقه رسول الله دی چاورڅخه پوښتنه وکړه چي څرنګه وپوهیدلی ؟ هغه ورته وویل چي دسیند داډول ستاینه پرته له هغه چاچي ژوندیی په بحراوسیندکي تیرکړی وی دبل چاپه توان کي نشته ځکه هغه څوک چي له سمندرسره یی سروکاروی دسیندخطرات مشکلات اوتیارې یی لیدلی وی اوداچي محمدصلی الله

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

علیه وسلم دسیندسفرونه نه دی کړی نوزه وپوهیدم چي دغه دالله جل جلاله کلام دی اوهغه برحقه پیغمبردی.

***

الله تعالی فرمایی:

﴿ وَأَقْسَمُوا بِاللَّهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ لَئِنْ أَمَرْتَهُمْ لَيَخْرُجُنَّ قُلْ لَا تُقْسِمُوا طَاعَةٌ مَعْرُوفَةٌ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ
(٥٣) قُلْ أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا عَلَيْهِ مَا حُمِّلَ وَعَلَيْكُمْ مَا حُمِّلْتُمْ وَإِنْ تُطِيعُوهُ تَهْتَدُوا وَمَا عَلَى
الرَّسُولِ إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ (٥٤) وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا
اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِنْ بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا
يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذَلِكَ فَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ (٥٥) وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَأَطِيعُوا
الرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ (٥٦) لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا مُعْجِزِينَ فِي الْأَرْضِ وَمَأْوَاهُمُ النَّارُ وَلَبِئْسَ الْمَصِيرُ (٥٧)
يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِيَسْتَأْذِنْكُمُ الَّذِينَ مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ وَالَّذِينَ لَمْ يَبْلُغُوا الْحُلُمَ مِنْكُمْ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ مِنْ قَبْلِ صَلَاةِ الْفَجْرِ وَحِينَ
تَضَعُونَ ثِيَابَكُمْ مِنَ الظَّهِيرَةِ وَمِنْ بَعْدِ صَلَاةِ الْعِشَاءِ ثَلَاثُ عَوْرَاتٍ لَكُمْ لَيْسَ عَلَيْكُمْ وَلَا عَلَيْهِمْ جُنَاحٌ بَعْدَهُنَّ
طَوَّافُونَ عَلَيْكُمْ بَعْضُكُمْ عَلَى بَعْضٍ كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ (٥٨) وَإِذَا بَلَغَ الْأَطْفَالُ مِنْكُمُ
الْحُلُمَ فَلْيَسْتَأْذِنُوا كَمَا اسْتَأْذَنَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ (٥٩)
وَالْقَوَاعِدُ مِنَ النِّسَاءِ اللَّاتِي لَا يَرْجُونَ نِكَاحًا فَلَيْسَ عَلَيْهِنَّ جُنَاحٌ أَنْ يَضَعْنَ ثِيَابَهُنَّ غَيْرَ مُتَبَرِّجَاتٍ بِزِينَةٍ
وَأَنْ يَسْتَعْفِفْنَ خَيْرٌ لَهُنَّ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ (٦٠) لَيْسَ عَلَى الْأَعْمَى حَرَجٌ وَلَا عَلَى الْأَعْرَجِ حَرَجٌ وَلَا عَلَى الْمَرِيضِ
حَرَجٌ وَلَا عَلَى أَنْفُسِكُمْ أَنْ تَأْكُلُوا مِنْ بُيُوتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ آبَائِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أُمَّهَاتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ إِخْوَانِكُمْ
أَوْ بُيُوتِ أَخَوَاتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَعْمَامِكُمْ أَوْ بُيُوتِ عَمَّاتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَخْوَالِكُمْ أَوْ بُيُوتِ
خَالَاتِكُمْ أَوْ مَا مَلَكْتُمْ مَفَاتِحَهُ أَوْ صَدِيقِكُمْ لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَأْكُلُوا جَمِيعًا أَوْ
أَشْتَاتًا فَإِذَا دَخَلْتُمْ بُيُوتًا فَسَلِّمُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ تَحِيَّةً مِنْ عِنْدِ اللَّهِ مُبَارَكَةً طَيِّبَةً كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ
لَكُمُ الْآيَاتِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ (٦١) إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَإِذَا كَانُوا مَعَهُ عَلَى أَمْرٍ جَامِعٍ
لَمْ يَذْهَبُوا حَتَّى يَسْتَأْذِنُوهُ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَأْذِنُونَكَ أُولَئِكَ الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ فَإِذَا اسْتَأْذَنُوكَ لِبَعْضِ
شَأْنِهِمْ فَأْذَنْ لِمَنْ شِئْتَ مِنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمُ اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ (٦٢) لَا تَجْعَلُوا دُعَاءَ الرَّسُولِ
بَيْنَكُمْ كَدُعَاءِ بَعْضِكُمْ بَعْضًا قَدْ يَعْلَمُ اللَّهُ الَّذِينَ يَتَسَلَّلُونَ مِنْكُمْ لِوَاذًا فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

أَن تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٦٣﴾ أَلَآ إِنَّ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ قَدْ يَعْلَمُ مَآ أَنتُمْ عَلَيْهِ وَيَوْمَ يُرْجَعُونَ إِلَيْهِ فَيُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوا۟ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌۢ ﴿٦٤﴾ ﴾ النور: ٥٣ - ٦٤

مناسبت :

کله چي الله تعالی دمنافقینواودهغوی دناولی خویونویادونه وکړه ورپسی یی هغه څه راوړل کوم چي ددوی په سینواوزړونوکي له کینې ، مکراوفریب څخه خوندي وواوپه دروغوبه یې سخت سخت قسمونه اولوړې اخیستی اودسورت په پای کي دمنافقانوله خویونوڅخه دځان ژغورنی تحذیراو وېرونه فرمایې:

لغتونه:

(الحلم) په خوب کي احتلام ته وایې په قاموس کي وایې چي حلم خوب ته وایه شي اوجمع یې احلام راځی اوپه ضمه سره حُلم بیا احتلام ته چي هغه په خوب کي جماع کول دی ویل کیږی (١) راغب وایې چي حُلم دبلوغ زمانې ته وایې ځکه چي پدې وخت کي خاونددخپل نفس په کابوکولو قادروی (٢) (القواعد) زړې ناستي له ښځوڅخه دقاعدجمع اوله تاڅخه پرته راځی ځکه دغه په ښځینه ووپسی ځانګړی دی لکه (حائض) اویا (طامث) چي هغي مېرمني ته ویل کیږي چي نه دمیړه خواهش لري اونه اولادزېږوي (اشتاتا) د(شت) جمع اومتفرق ته ویل کیږی (یتسللون)تسلل په پټه وتلوته وایې (لواذا) په یوځیز باندی ځان پټولوته وایې چي دوتلوپه وخت کي یی کاروی ترڅوبل څوک یی ونه وینی .

دنزول سبب :

روایت کیږی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم یوانصاری هلک چي مدلج نومیده دغرمې په وخت کي عمربن الخطاب تهٔ ورواستاووچي رسول الله ته یی راوبولی اوکله چي هغه ته ورغی عمررضی الله عنه ویده وو اودروازه یی ور وټکوله وردننه شوعمر رضی الله عنه راوینس شواوپاڅیدوڅه بدن یی لوڅ شونویی وویل زماداخوښه ده چي الله پاک زموږ زامن،ښځی اوغلامان په داسي وختونوکي له راتلواوننوتلوڅخه منع کړی وای اوبیارسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورغی که ګوری چي داآیت نازل شوی دی: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لِيَسْتَـْٔذِنكُمُ ٱلَّذِينَ مَلَكَتْ أَيْمَٰنُكُمْ ﴾ نوالله تعالی ته برمخی په سجده پریووت اوشکریی پرځای کړ(٣)

تفسیر :

﴿ وَأَقْسَمُوا۟ بِٱللَّهِ جَهْدَ أَيْمَٰنِهِمْ ﴾ اوقسمونه خوری (منافقان) په الله سخت سخت قسمونه ددوی ﴿ لَئِنْ أَمَرْتَهُمْ لَيَخْرُجُنَّ ﴾ قسم دی خامخاچي که ته (حکم) امروکړی دوی ته(جهادته په وتلوسره) نوخامخابه وزی دوی

---

(١) الطبري ١٨/ ١٢٠

(٢) القاموس المحيط

(٣) المفردات للراغب الاصفهاني (٣) تفسيرالالوسي ٦/ ٥٧ ٤حاشية شيخ زاده على البيضاوي ٣_٤٣٥

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

دغه (جهاد) ته هرومرو، مقاتل وايې چې کله الله د منافقينو څنګ کول بيان کړل چې دوی د رسول الله حکم ونه مانو نو راغلل او رسول الله ته يې وويل که ته موږ ته امر وکړی چې له خپلو کورونو ووزو مالونه او خپلې ښځې پرېږدو نو موږ به ووزو او که د جهاد حکم راته وکړی نو موږ به جهاد وکړو نو بيا د آيت را نازل شو(۱) ﴿ قُل لَّا تُقْسِمُوا۟ طَاعَةٌ مَّعْرُوفَةٌ ﴾ ووايه ای محمده منافقانو ته قسم مه خوری تاسي د دروغو طاعت (مو د الله او رسول سره) معلوم دی (چې يوازی په ژبه او په زړه نه دی په ويناد ی او په فعل نه دی) ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرٌۢ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴾ بيشکه الله ښه خبردار دی په هغو کارونو چې تاسي يې کوی (هيڅ راز او ستاسي پټ نيت له الله څخه الونيا او پټ نه دی) ﴿ قُلْ أَطِيعُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُوا۟ ٱلرَّسُولَ ﴾ ووايه ای محمده دوی ته) اطاعت وکړئ (حکم ومنی) تاسي د الله او د رسول الله په اخلاص سره يې له نفاقه او د پيغمبر په حکم منګولی ولګوی هدايت ته يې غاړه کېږدي ﴿ فَإِن تَوَلَّوْا۟ فَإِنَّمَا عَلَيْهِ مَا حُمِّلَ وَعَلَيْكُم مَّا حُمِّلْتُمْ ﴾ پس که مخ وګرزوی تاسي ای خلکو (له طاعته يې) نو بيشکه همدا خبره ده چې دی پر دغه رسول زما بار (د تبليغ) چې پرې ايښودل شوی دی او دی پر تاسي (بار) چې پر تاسي ايښودل شوی دی (او پرې مکلف ياست) ﴿ وَإِن تُطِيعُوهُ تَهْتَدُوا۟ ﴾ او که اطاعت وکړی حکم ومنی تاسي د دغه (رسول الله) نو سمه لاره به وموموی (نيکمرغی ته به ورباندي ورسېږي) ﴿ وَمَا عَلَى ٱلرَّسُولِ إِلَّا ٱلْبَلَٰغُ ٱلْمُبِينُ ﴾ او نه دی پر (ذمه د) رسول مګر رسونه ښکاره د شرائعو ده چې هغه يې ادا کړی ده او ستاسو مخالفت او سرغړونه ورته زيان نه رسوی هغه خپل امانت له غاړی اړولی دی رسالت يې ابلاغ کړی دی. ﴿ وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مِنكُمْ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ ﴾ وعده کړي ده الله له هغو کسانو سره چې ايمان يې راوړی دی له تاسي او کړي يې دي ښه (عملونه) يعني هغه مؤمن مخلصان چې له ايمان سره يې صالح عمل هم يوځای کړی دی ﴿ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِى ٱلْأَرْضِ كَمَا ٱسْتَخْلَفَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ﴾ (چې خامخا به خليفه ګان کړي (الله) دوی په ځمکه کي لکه چې خليفه ګان کړي يې وو هغه کسان چې پخواله دوی نه وو) الله تعالی د ځمکي د ميراث وعده ورسره کړي ده او د اچې په ځمکه کي به يې هسي تصرف کونکي ګرځوي څنګه چې پاچهان پخپله پاچهي کي تصرفات کوي لکه چې پخواني مؤمنان يې هم داسي خليفه ګان ګرزولي وو د کفارو هيوادونه يې د دوی په واک کي ورکړي وو مفسرين کرام وايې چې کله رسول الله صلی الله عليه وسلم او ملګري يې مدينې منورې ته راغلل نو ټولو عربانو له يوې لينډۍ څخه په غيشو وويشتل نو به دوی له وسلې سره څملاستل او زغره اغوستي به پاڅېدل هغوی به يو بل ته ويل هغه به هم وخت وي چې موږ په بېغمي او امن ويده شو پرته له يوه الله جل جلاله له بل چا څخه وېرېدونکي نه يو؟! نو بيا دغه آيت شريف نازل شو(۲) او د هغه ژمنه او وعده وه چې د دغه امت لپاره په ختيز او لوېديز فتح کېدلو سره د هغي رښتنولي

---

(۲) زاد المسير ۶/۵۷

څرګنده شوه اوپه حديث شريف کي راځي: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :(ان الله زوى لى الأرض فرأيت مشارقهاومغاربهاوان ملک اُمتى سيبلغ مازوى لى منها) (١) يعني الله پاک ماته ځمکه راونغاړله اوبيايي ماختيزاولويديزوليدل زمادامت پاچهي به ګردي ځمکي ته رسيږي ﴿ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ ٱلَّذِى ٱرْتَضَىٰ لَهُمْ ﴾ اوخامخاثابت قوي به وګرزوي هرومرودوی ته ددوی هغه دين (اسلام) چي غوره کړی يي دی (الله) دوی ته (په ټولو اديانوو) ﴿ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّنۢ بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا ﴾ اوخامخابدل به ورکړي دوی ته وروسته له وېري ددوی له دښمنانوامن اواطمينان) يعني حال به يې له وېري څخه امن ته واړوي لکه بل ځای فرمايي: ﴿ وَءَامَنَهُم مِّنْ خَوْفٍ ﴾ ﴿ يَعْبُدُونَنِى لَا يُشْرِكُونَ بِى شَيْـًٔا ﴾ زماعبادت به کوي اوله ماسره به شريک نه پيداکوي هيڅ څيز؛ دغه استيناف دثناپه توګه دی اولکه داستخلاف لپاره چي علت وي.

﴿ وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْفَٰسِقُونَ ﴾ اوهرڅوک چي کافرشوپس له دغولويوانعاماتوپس دغه کسان هم دوی فاسقان دي ، دالله له طاعت څخه وتلي اودالله دامره سرغړونکي دي. ابوالعاليه وايي چي دکفرمعناداچي څوک ددغه نعمت کفران وکړي اومقصدپه الله کافرکېدل نه دی. طبري وايي چي دغه آيت له تأويل سره ډېرنژدې دی ځکه چي الله له دغه امت سره دانعام وعده فرمايلي اوپدي آيت کي دالله دمنعم کېدلواخباردی چي وروسته بيافرمايي ﴿ وَمَن كَفَرَ ﴾ يعني چي ددغه نعمت کفران وکړي ﴿ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْفَٰسِقُونَ ﴾(٢) ﴿ وَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُوا۟ ٱلزَّكَوٰةَ ﴾ اوقائموئ تاسي (سم اداکوئ سره له ټولو حقوقو)لمونځ او ورکوئ زکات (په سمه توګه چي دالله دخوښي سبب شي) ﴿ وَأَطِيعُوا۟ ٱلرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ ﴾ اوحکم ومنئ اطاعت وکړئ تاسي درسول دالله په ټولومامورپه شيانوکي ښايي تاسي ته چي رحم وکړی شي پرتاسي ﴿ لَا تَحْسَبَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مُعْجِزِينَ فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ (په هغوکسانو چي کافران شوي دي ګمان مکوه چي عاجز کونکي (دالله) دي په ځمکه کي) پدې کي درسول الله صلى الله عليه وسلم لپاره تسليت اوډاډينه او ورته دنصرت اومرستي ژمنه ده يعني ای محمده په هغوکافرانو چي له تاسره يې عنادکړی داسي ګمان مکوه چي دوی پردغه ژوندکي په الله زوروردي بلکه الله هروخت پردوی باندي واکمن دی ﴿ وَمَأْوَىٰهُمُ ٱلنَّارُ ﴾ اوځای دهستوګني ددوی اور(ددوزخ) دی ﴿ وَلَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ﴾ اوخامخابد ځای دورتلودی دا (دوزخ) ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لِيَسْتَـْٔذِنكُمُ ٱلَّذِينَ مَلَكَتْ أَيْمَٰنُكُمْ ﴾ ای هغوکسانوچي ايمان يې راوړی دی (ای مؤمنانو) ښايي چي اذن دي وغواړي له تاسي(په وخت دتنوتلوکي پرتاسي باندي) هغه (وينځي ، مريان اوخدمتګاران) چي مالکان شوي وي ښي لاسونه دتاسي ﴿ وَٱلَّذِينَ لَمْ يَبْلُغُوا۟ ٱلْحُلُمَ مِنكُمْ ﴾ اوهغه کسان چي نه وي رسېدلي حددبلوغ (احتلام) ته له تاسي

---

(١) رواه مسلم

(٢) الطبري ١٨/ ١٤٢

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

(احرارو) ﴿ ثَلَٰثَ مَرَّٰتٍۚ ﴾ درې کرته (په درې وختونو کي ﴿ مِّن قَبۡلِ صَلَوٰةِ ٱلۡفَجۡرِ وَحِينَ تَضَعُونَ ثِيَابَكُم مِّنَ ٱلظَّهِيرَةِ وَمِنۢ بَعۡدِ صَلَوٰةِ ٱلۡعِشَآءِۚ ﴾ پخواله لمانځه دسهاراوپه هغه وخت کي چي کارئ تاسي جامې په وخت دغرمې کي (چي قیلوله کوی) اوپس له لمانځه دماسخوتن نه (چي دخوب اراده کوئ) ﴿ ثَلَٰثُ عَوۡرَٰتٖ لَّكُمۡۚ ﴾ (دغه) درې وختونه دخلل (پېښېدود) ستردي تاسي ته (ځکه چي عورات پکي ښکاره اولوخوالی پکي غالب وي نوخپلومریانو ته چوپړیانواوماشومانوته پوهنه ور کړئ چي پرته له اجازې تاسي ته دننه درنشي ﴿ لَيۡسَ عَلَيۡكُمۡ وَلَا عَلَيۡهِمۡ جُنَاحُۢ بَعۡدَهُنَّۚ ﴾ نشته پرتاسي اونه پردوی باندي هیڅ ګناه تېرله دغودریو وختونو(چي بې له اجازې ستاسي داوسېدلوځایونوته دننه درشي) ﴿ طَوَّٰفُونَ عَلَيۡكُم بَعۡضُكُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖۚ ﴾ دوی ګرزېدونکي دي پرتاسي (په تللو او ننوتلولپاره دخدمت) ځیني ستاسي پرځینونورو. ابوحیان وایې چي معناداچي دوی کولای شي ګهیځ اوبېګاه تاسي ته پرته له دغووختونودننه درشي اواجازه ونه غواړي(١) ﴿ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلۡأٓيَٰتِۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ﴾ همداسي همداسي (لکه دغه بیان)ښکاره بیانوي الله تاسي ته آیتونه (داحکامو) اوالله ښه عالم (په ټولواحوالو دخلکو) ښه حکمت والادی (په تدبیر دچارو ددوی) ﴿ وَإِذَا بَلَغَ ٱلۡأَطۡفَٰلُ مِنكُمُ ٱلۡحُلُمَ ﴾ اوکله چي ورسېدل واړه هلکان ستاسي بلوغ ته (اومکلف وګڼل شول) ﴿ فَلۡيَسۡتَٔۡذِنُواْ كَمَا ٱسۡتَٔۡذَنَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ ﴾ پس اذن دي وغواړي (په ننوتلوکي پرتاسي باندي لکه چي اذن غوښت هغوکسانو(چي بالغان شوي وو) پخواله دغو(ماشومانو) یعني دوی وپوهوئ چي دننوتلواجازه دي ترلاسه کوي ﴿ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمۡ ءَايَٰتِهِۦۗ ﴾ همداسي (لکه دغه بیان) ښکاره بیان فرمایي الله تاسي ته آیتونه (د احکامو) خپل ﴿ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ﴾ اوالله ښه عالم (په ټولواحوالو) ډېرحکمت والادی (چي هرکارپه تدبیراو مصلحت ترسره کوي ، بیضاوي وایې چي داکلام بې ځکه مکرر راوړ چي د استیذان په هکله تاکید اومبالغه افاده کړي(٢) ﴿ وَٱلۡقَوَٰعِدُ مِنَ ٱلنِّسَآءِ ٱلَّٰتِي لَا يَرۡجُونَ نِكَاحٗا ﴾ اوزړې ناستي له ښځوڅخه هغه کي دنکاح امیدنلري (ځکه چي بوډاتوب ته رسېدلي اودشهوت پارونکی نلري ﴿ فَلَيۡسَ عَلَيۡهِنَّ جُنَاحٌ أَن يَضَعۡنَ ثِيَابَهُنَّ ﴾ پس نشته پردوی هیڅ ګناه چي کېږدي (دوی ظاهري) جامې خپلي (لکه چادري اولوپټې اودنارینه ووپه وړاندي رادبره شي خپلي عادتي جامې یې اغوستی اودخلګوپام ځان ته نه اړوي اونه شهوت پاروي ﴿ غَيۡرَ مُتَبَرِّجَٰتِۭ بِزِينَةٖۖ ﴾ پدې حال کي چي دښایست خپل ښکاره کونکي نه وي ، ابوحیان وایې دتبرج حقیقت دادی چي هغه څه چي پټول یې لازم وي څرګندشي اوډېرځله بوډۍ

---

(١) البحر ٦/ ٤٧٢

(٢) البیضاوي ٢/ ٦٢

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

سپین سري وي چي سینګاریې کړی اوجمال یې څرګندوي (۱) ﴿ وَأَن يَسْتَعْفِفْنَ خَيْرٌ لَّهُنَّ ﴾ (اوداچي دوی ځان وساتي (له ایستلودظاهري جاموڅخه هم) دوی ته خیردی) یعني که دوی له بوډاتوب سره سره بیاهم لکه دځوانانومېرمنوچادري اولوپټې واغوندي چي په سترکښې مبالغه وکړي ددوی لپاره غوره اودعزت ښښه ده الله پاک ته ډېرپاکیزه اوخوښ دي ﴿ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴾ اوالله ښه اوریدونکی (دټولواقوالو) اوښه پوهېدونکی په ټولو احوالودی ، دخلګوپټ نیتونه اورازونه ورته معلوم دي هر انسان ته دهغه له کړو سره سمه جزاورکوي په دې کي زېری اوتهدیددواړه نغښتي دي ﴿ لَّيْسَ عَلَى الْأَعْمَىٰ حَرَجٌ وَلَا عَلَى الْأَعْرَجِ حَرَجٌ وَلَا عَلَى الْمَرِيضِ حَرَجٌ ﴾ نشته پرړانده هیڅ مشقت اونه پرګوډ هیڅ حرج (وبال) اونه پررنځور هیڅ ملامتي (چي له غزاڅخه پاتي شي ځکه عذرونه لري او عاجزان دي) (۲) ﴿ وَلَا عَلَىٰ أَنفُسِكُمْ أَن تَأْكُلُوا مِن بُيُوتِكُمْ ﴾ اونشته پرځانونوستاسي هیڅ حرج (کلفت) چي وخورئ تاسي له کورونو خپلو (اوله کورونودمېرمنوخپلواواولادونوخپلو. بیضاوي وایې چي پدې کي داولادونوکورونه هم راځي ځکه دزوی کورلکه خپل کور غوندي دی چي رسول الله صلی الله فرمایې: ترټولوښه خواړه هغه دي چي سړی یې له خپل کسب نه خوري اوزوی هم دسړي خپل کسب دی)(۳) ﴿ أَوْ بُيُوتِ آبَائِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أُمَّهَاتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ إِخْوَانِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَخَوَاتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَعْمَامِكُمْ أَوْ بُيُوتِ عَمَّاتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَخْوَالِكُمْ أَوْ بُيُوتِ خَالَاتِكُمْ ﴾ (یاله کورونو د پلرونو خپلو، یاله کورونودمیندوخپلو، یاله کورونودورونو خپلو، یاله کورونودخوېندوخپلو ، یاله کورونو دترونوخپلو،یاله کورونودترورياونو(عمو)خپلو،یاله کورونودماماګانوخپلو،یاله کورونو د تورې ګانو(خالو) خپلو) یعني پدې کي چي تاسي ددغونوموړو له کورونوڅخه چي ستاسي خپلوان دي خوراک کوي کوم وبال حرج مشقت اوملامتي نشته، امام رازي وایې چي ددغوکورونوڅخه خوراک کول استبذان ته اړتیانلري ځکه دوی هغه څوک دي چي دخپلوانوپه خوړلویې زړونه خوشحالېږي (۴) ﴿ أَوْ مَا مَلَكْتُم مَّفَاتِحَهُ ﴾ یاله هغوکورونو) چي مالکان شوي یاست تاسي دکلیګانودهغو (یعني چي تاسویې وکیلان کړي یاست) عائشه رضی الله عنهافرمایې : چي خلګ یې له رسول الله صلی الله سره غزاته تللي اودکورونوکلیګاني به یې خپلووکیلانوته ورسپارلې او ورته به یې ویل چي ستاسود خوراک کولولپاره درته مواجازه ده نوبه دغومتصرفینووکیلانوویل چي موږ لره نه دی رواچي خوراک ځني وکړوځکه دوی دزړه له کومي اجازه نه ده راته کړي اوموږته یې امانت راسپارلی دی بیا دغه آیت

---

(۱) البحر ۲ / ۴۷۳

(۲) دغه دحسن قول اودابن زیدرایه ده اوڅرګنده ویناده چي دالبحرمؤلف اوکشاف هم غوره کړي ده اوچابیاویلي چي دغه معذورکسان کولای شي نه روغوسره یوځای خوراک وکړي پدې کي هیڅ حرج نشته اودغه ویناامام رازي اوطبري غوره کړي

(۳) البیضاوي ۲ / ۲۳

(۴) التفسیرالکبیر ۲۴ / ۳۶

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

شريف نازل شو ﴿ أَوْ مَا مَلَكْتُم مَّفَاتِحَهُۥٓ ﴾ (١)﴿ أَوْ صَدِيقِكُمْ ﴾ ياله (كورونو) ددوستانو خپلويعني كله چي ددوستانو كورنونوته ورشي خوراک كول درته روادي قتاده وايې كله چي دخپل دوست كره ورشي پرته له اجازې په خوړلو ملامتي نشته ﴿ لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَن تَأْكُلُوا۟ جَمِيعًا أَوْ أَشْتَاتًا ﴾ نشته پرتاسي هيڅ ګناه پدې چي خوراک وکړئ (ټول) سره يو ځاى يابېل بېل مفسرين كرام وايې چي دغه آيت دكنانه ديو كلي په هكله رانازل شوى چي هغوى به يوازي خواړه نه خوړل كرده ورځ به يې انتظار كاوو كه به يې څوک ونه موندل چي ورسره خواړه وخوري نوبه يې هيڅ شى نه خوړل اوكله كله چي به ورسره اوښان اوښي وې نوبه يې شيدې ترهغونه څكلې څوپوري چي بل څوک به يې دملګرتيالپاره پيداكړى نه واى نوالله جل جلاله ورته خبروركړچي كه چېري سړى يوازي خوراک كوي وبال نلري اوګناه يې نشته ﴿ فَإِذَا دَخَلْتُم بُيُوتًا فَسَلِّمُوا۟ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمْ ﴾ نوكله چي ننوزى تاسي (دسكونت) كورونوته پس تاسي پرځانونوخپلوسلام اچوئ (يعني څوک چي هلته وي هغوى ته سلام اچوئ) ﴿ تَحِيَّةً مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ مُبَٰرَكَةً طَيِّبَةً ﴾ پېشكشي ده ثابته له (جانبه د) الله مباركه طيبه (بركتناكه پاكيزه چي الله دمؤمنوبندګانولپاره ټاكلي ، قرطبي وايې چي څكه يې مباركه وبلله چي دعاپكي اودميني محبت پيغام دى اوپاكيزه يې پدې وګڼله چي اوربدونكى يې له اوربدلو خونداخلي (٢)﴿ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلْءَايَٰتِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴾ همداسي (لكه دابيان) ښكاره الله بيانوي تاسي ته آيتونه (دحكمت اواحكام خپل) ښايې چي تاسي عقل وچلوئ ؛ ابن كثيروايې : كله چي الله تعالى پدې مبارک سورت كي محكم احكام اوشرائع بيان كړل نويې بندګانوته ددې تنبيه وركړه چي الله دوى لره كافي شافي آيتونه بيانوي څوپكي سوچ وكړي ښايې چي ورباندي پوه شي(٣)﴿ إِنَّمَا ٱلْمُؤْمِنُونَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ﴾ بېشكه (كامل) مؤمنان هغه كسان دي چي ايمان يې راوړى دى پرالله اوپه رسول دالله (په ټينګ ايمان راوړلوسره چي شک اوشبه ورته لاره نلري) ﴿ وَإِذَا كَانُوا۟ مَعَهُۥ عَلَىٰٓ أَمْرٍ جَامِعٍ لَّمْ يَذْهَبُوا۟ حَتَّىٰ يَسْتَـْٔذِنُوهُ ﴾ اوكله چي وي دوى له دغه (رسول) سره په كوم كارجمع كونكى (چي په هغه كي دمسلمانانومصلحت وي) نونه ځي (پخپل سر) ترهغه پوري چي اذن وغواړي له دغه (رسول الله) نه مفسرين كرام وايې چي دغه آيت دخندق دكيندلوپه وخت كي نازل شو څكه ځيني مؤمنان دضرورت لپاره دتللواجازه اخيسته اومنافقان به پرته له اجازې وتل اوتلل نودا آيت شريف نازل شوچي دمخلصومؤمنانوستاينه وكړي اودمنافقانوبدي ته اشاره وكړي ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَسْتَـْٔذِنُونَكَ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ﴾ بېشكه هغه كسان چي اذن غواړي له تانه (اى زما رسوله) دوى هغه كسان دي

---

(١) ابن كثير ٢ / ٦١٩ المختصر
(٢) القرطبي ١٢ / ٣١٩
(٣) ابن كثير ٢ / ٦٢٠

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

چي کامل ایمان لري پرالله اورسول الله صلی الله علیه وسلم (اومني يې) دغه درومبني لپاره تاکیددی ترڅودرسول الله صلی الله علیه وسلم دشان عظمت څرګند کړي یعني هغه کسان چي له تاڅخه دتللواجازه غواړي دوی په رښتیاحقاني مؤمنان دي بیضاوي وايې چي دغه يې بیادمبالغې په توګه راوګرزاووچي هغه کسان چي دوی اجازه غواړي دوی رښتوني مؤمنان دي دغه دلومړني اسلوب عکس اواپوټه دی اوپه دې کي دلومړني لپاره تاکیددی چي دالله اورسول الله لفظ پکي راوړل شوی اودغه ددوی دایمان په صحت دلیل دی (۱) ﴿ فَإِذَا ٱسْتَـٔذَنُوكَ لِبَعْضِ شَأْنِهِمْ ﴾ پس کله چي دوی له تانه اذن وغواړي (دتللو) لپاره دخپلوځیني کارونو (مهماتو) (۲) ﴿ فَأْذَن لِّمَن شِئْتَ مِنْهُمْ ﴾ پس اذن ورکړه هغه چاته چي خوښه خوښه وشي ستاله دوی نه (داذن ورکولواوپه هغه کي حکمت اومصلحت ویني) ﴿ وَٱسْتَغْفِرْ لَهُمُ ٱللَّهَ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ (اومغفرت وغواړه ددوی لپاره له الله تعالی بېشکه الله ښه ښښونکی (دخطیئاتو) ډېررحم والادی په انعام داجراوثواب) یعني د دغواستیذان غوښتونکولپاره الله ته دعاوکړه چي عفو اومغفرت ورنصیب کړي که څه هم استیذان دعذرلپاره وي خوبیاهم تقصیردی ځکه چي دنیوي امرته په دیني امر ترجیح ورکول دی ﴿ لَّا تَجْعَلُوا۟ دُعَآءَ ٱلرَّسُولِ بَيْنَكُمْ كَدُعَآءِ بَعْضِكُم بَعْضًا ﴾ (مه ګرځئ (ای مؤمنانو بلنه) دعادرسول پخپلو منځونوکي په شان ددعا(بلني) دځینودتاسي ځینونونوروته) یعني تاسوپیغمبرته دده په نامه ناري مه وروهئ لکه چي ځیني ستاسوځینونوروته ناري کوئ بلکه هسي ورته وایاست ای نبی الله ، ای رسول الله ترڅودهغه دمقام اوشان تعظیم موکړی وي . ابوحیان وايې : پخپل نامه بلل اوناري کول دکوچیانو دودٌ اودستور وونودوی ته امروشوچي درسول الله احترام اوعزت وکړي اوپه ښه غوره نامه يې وبولي یارسول الله اویانبی الله په نامه ورته غږ کړي آیانه ګوري ځیني شډلومؤمنانوبه ورته ویل ای محمده او له دې څخه هغوی منع شول(۳) قتاده وايې چي دوی ته الله جل جلاله درسول الله صلی الله علیه وسلم د تعظیم اواحترام کولوامروفرمایو.

﴿ قَدْ يَعْلَمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ يَتَسَلَّلُونَ مِنكُمْ لِوَاذًا ﴾ په تحقیق الله ته معلوم دي هغه کسان چي کرارکرارښوی وزي له تاسي پټ دباندي په داسي حال کي چي یوله بله سره ځان پناه کوي اووزي طبري وايې چي (لواز) دې ته وايې چي ځیني خلک له ځیني نورو ځان پناه کوي دغه په هغوځان پټوي اوهغه په دغو(۴) ﴿ فَلْيَحْذَرِ ٱلَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِۦٓ ﴾ پس ودي وېرېږي هغه کسان چي مخالفت کوي له حکمه ددغه (رسول اولاره يې پرېږدي په سنتويې سترګي پټوي) ﴿ أَن تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴾

---

(۱) حاشیه شیخ زاده علی البیضاوي ۳ / ۴۴۰

(۲) ابن عباس رضی الله عنه وايي چي عمررضی الله عنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه دعمرې اداکولواجازه وغوښته اوهغه ته يې اجازه ورکړه بیايې ورته وفرمایل (یااباحفص لاتنسنا من صالح دعائک) .

(۳) البحر ۶ / ۴۷۶

(۴) الطبري ۱۸ / ۱۳۵

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

له دې نه چې ورسېږي دوی ته څه فتنه (آفت په دنیا کې) یا ورسېږي دوی ته دردناک عذاب (په آخرت کې) ﴿ أَلَآ إِنَّ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ واورئ خبردار اوپوه شئ چې بېشکه خاص الله لره دي هرهغه څه چې په آسمانونو او ځمکو کې دي (خلقاً ملکاً او عبیداً) ﴿ قَدْ يَعْلَمُ مَآ أَنتُمْ عَلَيْهِ ﴾ په تحقیق الله ته معلوم دي هرهغه څه چې تاسې ور باندې یاست (له اخلاصه ایمانه، نفاقه ریاء) ﴿ وَيَوْمَ يُرْجَعُونَ إِلَيْهِ فَيُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوا۟ ﴾ (او معلومه ده الله ته) هغه ورځ چې هغه ته وروستل کېږي (دغه خلق) پس خبردار به کړي (الله) دوی پرهغو عملونو چې دوی کړي دي (له خیر او شره غټ او واړه سپک او درانه او بیا به ورباندې جزا ورکړي) ﴿ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴾ او الله په هرڅیز باندې ښه عالم دی (ځکه چې ټول یې مخلوق او مملوک دی هیڅ شی ورڅخه پټ نه دی.

بلاغت: پدې آیتونو کې چې دبلاغت او بیان کومې بېلګې شته لنډیزیې په لاندې ډول دی:

١- لطیفه استعاره ﴿ جَهْدَ أَيْمَٰنِهِمْ ﴾ دلته یې دغه قسمونه داسې تشبیه کړل چې منافقین خپل ګردکوښښ اوزیاروباسې چې ټینګ او مضبوط وښیې او ددوی په وس کې هډو نه وي خودوی خپل ټول توان په کاروي او دغه یې داستعارې په توګه راوړل.

٢- مشاکلت لکه ﴿ عَلَيْهِ مَا حُمِّلَ وَعَلَيْكُم مَّا حُمِّلْتُمْ ﴾ یعنې په هغه باندې دتبلیغ چارې اوپر تاسو دتکذیب وبال.

٣- دطباق صنعت لکه چې دوېرې اوامن ترمینځ په ﴿ مِّنۢ بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا ﴾ کې راغلی دی اوهمداسې دټولنې اوتینت پرک په کلماتو کې چې ﴿ جَمِيعًا أَوْ أَشْتَاتًا ﴾ دی.

٤- اطناب چې دحرج کلمه یې مکرر راوړې ترڅو په ذهنونو کې حکم ټینګ کړي. فرمایې: ﴿ لَّيْسَ عَلَى ٱلْأَعْمَىٰ حَرَجٌ وَلَا عَلَى ٱلْأَعْرَجِ حَرَجٌ وَلَا عَلَى ٱلْمَرِيضِ حَرَجٌ ﴾.

٥- دمبالغې صیغې لکه ﴿ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾.

فائده:

ځینو سلفو ویلې څوک چې پرځان باندې سنت قولا او فعلا حاکم کړي نو به یې ژبه په حکمت خوځېږي او که څوک دهواهوس حکم پرځان قولا او فعلا ومني نو به په بدعت ګرېږي او خبرې به کوي ځکه چې الله فرمایې ﴿ وَإِن تُطِيعُوهُ تَهْتَدُوا۟ ﴾ (١).

(١) زادالمسیر ٢/ ٥٧١

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

لطيفه:

يوچاته وويل شول: تاته ځوک ښه اېسي وروردي ، که ملګری دي هغه ورته وويل: چي ملګری مي نه وي ورور مي نه خوښېږي ؛ ابن عباس رضی الله عنه وايي ملګری ترخپلوانو نژدې وي آيانه ګورې چي دوزخيان هسي استغاثه کوي وايي: ﴿ فَمَا لَنَا مِن شَٰفِعِينَ ﴿١٠٠﴾ وَلَا صَدِيقٍ حَمِيمٍ ﴾ اوپه پلرواومينديي استغاثه نه ده کړي.

تنبيه:

ځيني عربوداعار اوشرم ګڼلی چي يوازي ډوډۍ وخوري ، وږي به ځملاستل خويوازي خوراک به يې نه کاوله حاتم طائي څخه دامشهوره ويناپاتي ده چي (اذاما صنعتِ الزاد فالتمسي له * اکيلافانی لست آکله وحدی) يعني اي ميرمنې کله چي دي ډوډۍ تياره کړه هغې لپاره ځوک وګوره چي زه يې يوازي نه خورم دغه دعربودويارنښه اودسخااوکرم نمونه وه.

دالله په مرسته دالنور سورت تفسير بشپړ شو.

***

دالفرقان سورت مکي اواوه اويا آيتونه لري:

دسورت په وړاندي:

سورت الفرقان مکي سورت اودعقيدې له چاروڅخه ږغېږي همداسي دمشرکانوچي دمحمدي رسالت اوقرآن په باب کومي شبهې اوشکوک په زړه کي ګرزېدل دهغوځواب ورکوي اودقرآنکريم دربښتنولي اومحمدي رسالت دتصديق په محور راڅرخې اودايمان په بعث اوجزاپه عقيده ټينګار کوي ځيني کيسې دپنداخيستلواوعبرت نيولولپاره هم پکي راغلې دي.

* لومړی دغه سورت په قرآنکريم باندي رڼا اچوی اوهغه پېغورونه چي مشرکانوبه دهغه دتکذيب لپاره راوړل څېړي کله به مشرکانو ورباندي دپخوانيو کيسوګمان کاووکله به يې ويل دغه محمدله خپله ځانه جوړکړی چي ځينواهل کتابوهم ورسره مرسته کړي ده دريم کرت به يې ويل چي دغه څرګندي کوډي اوسحرجادودی نوالله تعالی ددوی دغه باطل ګمانونه اونارواخيالات ترديدکړل اوکوټلي دلائل يې راوړل چي دغه قرآنکريم دالله جل جلاله له لوري رانازل شوی دی ، وروسته بيادرسالت موضوع را آخلي هغه چي ډېرځله معاندمشرکان پکي غوپه کېدل اوداسي وړانديزونه به يې کول چي پيغمبربايدچي پرښته وی اوبشرنه وی اوبيابالفرض که چېري پيغمبربشرهم وای نوبايد داسي څوک وای چي دمرتبې اومال خاوندوای کوم چي ښه بډای اودسترشخصيت څښتن وای نه هسي چي يوبې وزله پلارمړی (يتيم) نوالله جل جلاله ددوی دغه اقتراح هم په غوڅه توګه اوپه څرګنددليل هسي چي دباطل ملايې ماتوله ترديدکړه.

* ورپسې آيتونه دمشرکانويوه ډلګی بيانوي چي حق يې وپېژاند او ورته يې غاړه کښېښوده خوبيا وروسته دګمراهي دوزخ ته ورکوزشول اوددوی له ډلي څخه يې (عقبه بن ابي معيط) يادکړهغه چي

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

اسلام يې راووړ خوبيا د خپل بد مرغه ملګري يعني (أبي بن خلف) په سبب مرتد شو نو قرآن هغه ظالم وګاڼه چې فرمايي ﴿ وَيَوْمَ يَعَضُّ ٱلظَّالِمُ عَلَىٰ يَدَيْهِ ﴾ اوده ده ملګرى يې شيطان ونوماوو.

* دسورت په ترڅ کې د څيني انبياوو عليهم السلام کيسې په اجمالي توګه راغلي اوددوی د قومونو د تکذيب خبرې اوچې پردوی ددوی دسرغړوني په سبب هلاکتونه راغلي بيان شوي دي لکه چې دنوح، عاد، ثمود، اواصحاب الرس اودلوط عليه السلام دقومونو اونورو کافرانو منکرانو خبرو نه دي لکه چې سورت دالله دقدرت اووحدانيت له دلائلو خبرې کوي اودالله دصنعت له عجائباتو اود خلقت له آثارو چې په دغه عجيبه کائناتو کې ترسترګو کيږي اودالله په عظمت اوجلال ګواهي ورکوي پرده پورته کوي.

* دسورت په پای کې الله جل جلاله د(عبادالرحمن)بيان کوي چې الله څومره ښکلي اوستايلي اخلاق ورباندې پېرزوکړي هغه چې دستراجراوجنات النعيم وړاومستحق يې ګرزولي دي

تسميه اونومول يې:

دې سورت ته څکه سورت الفرقان ويل شوی چې الله جل جلاله پکې ددغه مجيد کتاب چې پخپل بنده (محمدصلى الله عليه وسلم) يې نازل کړی يادونه کړې اوداپه انسانيت باندې يوڅلېدونکی نور او روښانه وړانګې دي چې دحق اوباطل ترمينځ ورباندې توپير کيږي نوراوتياره جلاکوي ايمان اوکفر سره بېلوي نوڅکه ورسره ښايې چې فرقان وبلل شي.

الله تعالى فرمايي:

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ تَبَارَكَ ٱلَّذِى نَزَّلَ ٱلْفُرْقَانَ عَلَىٰ عَبْدِهِۦ لِيَكُونَ لِلْعَٰلَمِينَ نَذِيرًا ﴿١﴾ ٱلَّذِى لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَلَمْ يَتَّخِذْ
وَلَدًا وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ شَرِيكٌ فِى ٱلْمُلْكِ وَخَلَقَ كُلَّ شَىْءٍ فَقَدَّرَهُۥ تَقْدِيرًا ﴿٢﴾ وَٱتَّخَذُوا۟ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةً لَّا يَخْلُقُونَ شَيْـًٔا
وَهُمْ يُخْلَقُونَ وَلَا يَمْلِكُونَ لِأَنفُسِهِمْ ضَرًّا وَلَا نَفْعًا وَلَا يَمْلِكُونَ مَوْتًا وَلَا حَيَوٰةً وَلَا نُشُورًا ﴿٣﴾ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ إِنْ
هَٰذَآ إِلَّآ إِفْكٌ ٱفْتَرَىٰهُ وَأَعَانَهُۥ عَلَيْهِ قَوْمٌ ءَاخَرُونَ ۖ فَقَدْ جَآءُو ظُلْمًا وَزُورًا ﴿٤﴾ وَقَالُوٓا۟ أَسَٰطِيرُ ٱلْأَوَّلِينَ
ٱكْتَتَبَهَا فَهِىَ تُمْلَىٰ عَلَيْهِ بُكْرَةً وَأَصِيلًا ﴿٥﴾ قُلْ أَنزَلَهُ ٱلَّذِى يَعْلَمُ ٱلسِّرَّ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ
غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٦﴾ وَقَالُوا۟ مَالِ هَٰذَا ٱلرَّسُولِ يَأْكُلُ ٱلطَّعَامَ وَيَمْشِى فِى ٱلْأَسْوَاقِ ۙ لَوْلَآ أُنزِلَ إِلَيْهِ مَلَكٌ فَيَكُونَ مَعَهُۥ
نَذِيرًا ﴿٧﴾ أَوْ يُلْقَىٰٓ إِلَيْهِ كَنزٌ أَوْ تَكُونُ لَهُۥ جَنَّةٌ يَأْكُلُ مِنْهَا ۚ وَقَالَ ٱلظَّٰلِمُونَ إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا
رَجُلًا مَّسْحُورًا ﴿٨﴾ ٱنظُرْ كَيْفَ ضَرَبُوا۟ لَكَ ٱلْأَمْثَالَ فَضَلُّوا۟ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ سَبِيلًا ﴿٩﴾ تَبَارَكَ ٱلَّذِىٓ إِن
شَآءَ جَعَلَ لَكَ خَيْرًا مِّن ذَٰلِكَ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ وَيَجْعَل لَّكَ قُصُورًۢا ﴿١٠﴾ بَلْ كَذَّبُوا۟ بِٱلسَّاعَةِ ۖ وَأَعْتَدْنَا لِمَن
كَذَّبَ بِٱلسَّاعَةِ سَعِيرًا ﴿١١﴾ إِذَا رَأَتْهُم مِّن مَّكَانٍۭ بَعِيدٍ سَمِعُوا۟ لَهَا تَغَيُّظًا وَزَفِيرًا ﴿١٢﴾ وَإِذَآ أُلْقُوا۟ مِنْهَا مَكَانًا ضَيِّقًا

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

مُقَرَّنِينَ دَعَوْا هُنَالِكَ ثُبُورًا ﴿١٣﴾ لَّا تَدْعُوا الْيَوْمَ ثُبُورًا وَاحِدًا وَادْعُوا ثُبُورًا كَثِيرًا ﴿١٤﴾ قُلْ أَذَٰلِكَ خَيْرٌ أَمْ جَنَّةُ
الْخُلْدِ الَّتِي وُعِدَ الْمُتَّقُونَ ۚ كَانَتْ لَهُمْ جَزَاءً وَمَصِيرًا ﴿١٥﴾ لَّهُمْ فِيهَا مَا يَشَاءُونَ خَالِدِينَ ۚ كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ وَعْدًا
مَّسْئُولًا ﴿١٦﴾ وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ وَمَا يَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ فَيَقُولُ أَأَنتُمْ أَضْلَلْتُمْ عِبَادِي هَٰؤُلَاءِ أَمْ هُمْ ضَلُّوا
السَّبِيلَ ﴿١٧﴾ قَالُوا سُبْحَانَكَ مَا كَانَ يَنبَغِي لَنَا أَن نَّتَّخِذَ مِن دُونِكَ مِنْ أَوْلِيَاءَ وَلَٰكِن مَّتَّعْتَهُمْ وَآبَاءَهُمْ حَتَّىٰ
نَسُوا الذِّكْرَ وَكَانُوا قَوْمًا بُورًا ﴿١٨﴾ فَقَدْ كَذَّبُوكُم بِمَا تَقُولُونَ فَمَا تَسْتَطِيعُونَ صَرْفًا وَلَا نَصْرًا ۚ وَمَن يَظْلِم
مِّنكُمْ نُذِقْهُ عَذَابًا كَبِيرًا ﴿١٩﴾ وَمَا أَرْسَلْنَا قَبْلَكَ مِنَ الْمُرْسَلِينَ إِلَّا إِنَّهُمْ لَيَأْكُلُونَ الطَّعَامَ
وَيَمْشُونَ فِي الْأَسْوَاقِ ۗ وَجَعَلْنَا بَعْضَكُمْ لِبَعْضٍ فِتْنَةً أَتَصْبِرُونَ ۗ وَكَانَ رَبُّكَ بَصِيرًا ﴿٢٠﴾ ﴾ الفرقان ١ - ٢٠

لغتونه:

(تبارک) له برکت څخه اخیستل شوی اوزیات خیرته وایې دتمجیداوتعظیم لپاره هم راوړل کېږي (نذیرا) له هلاکت څخه وېرونکی (نشورا) له مرګه وروسته ژوندي کېدل (مقرنین) په ځنځیرانوتړلیوته وایې (ثبورا) هلاکت (بورا) له بوارڅخه اخیستل شوی هم هلاکت ته وایې ابوعبیده لیکي چې ویل کېږي (رجل بور) معنایې ده هلاک شوی سړی ځکه چې بوارهلاکت ته وایې (١)

تفسیر:

﴿ تَبَارَكَ الَّذِي نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلَىٰ عَبْدِهِ لِيَكُونَ لِلْعَالَمِينَ نَذِيرًا ﴾ ډېربرکت ناک څښتن دی هغه ذات چې نازل کړی یې دی قرآن په بنده خپل (محمد) باندي لپاره ددې چې شې (ای محمده) وېرونکی (ټولو خلګولره دالله له عذابه) ﴿ الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ﴾ هغه الله چې خاص هم ده ته دی ملک اوسلطنت دآسمانونو اودځمکې (خلقاملکا اوعبیدا) ﴿ وَلَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَلَمْ يَكُن لَّهُ شَرِيكٌ فِي الْمُلْكِ ﴾ اونه یې دی نیولی هیڅ ولد(لکه چې نصاری اویهودان ګمان کوي) اونشته ده ته شریک (ملګری) په ملک سلطنت کې (لکه چې بت پرستان ګمان کوي) ﴿ وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ فَقَدَّرَهُ تَقْدِيرًا ﴾ اوپیداکړی دی الله هرشی پس اندازه کړی دی هغه (شی) په اندازه کولو سره، په التسهیل کې وایې چې دخلق معناله عدم څخه وروسته ایجادته وایې أوتقدیرعبارت دی، له اتقان اومحکم والي دصنعت نه اوداچې هرمخلوق پخپل مقداراوصنعت ځانګړی شي زمان ، مکان اومصلحت یې وښودل شي اوداسې نور(٢) امام رازي وایې چې الله تعالی خپل ځان په څلورو صفتونووستایه چې هغه دکبریاصفات دي لومړی داچې هغه دآسمانونواوځمکې مالک دی اودغه لکه دده په شتون (موجودوالي) چې تنبیه وي دوهم داچې تل ترتله معبوددی دریم داچې په الوهیت کې منفرد دی څلورم بیاداچې دټولو(ګردو) شیانوپیدا کونکی

---

(١) القرطبي ١٣/ ٨
(٢) التسهیل ٣/ ٧٤

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

پنخونکی سره له تدبیراوحکمته دی(١)﴿ وَٱتَّخَذُوا۟ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةً ﴾ اونیولي دغو (کفارو) بې له الله نورمعبودان (چي بتان دي) ﴿ لَا يَخْلُقُونَ شَيْـًٔا وَهُمْ يُخْلَقُونَ ﴾ چي نشي پیدا کولای (دغه معبودان) هیڅ شی حال داچي دوی پخپله پیدا کول کېږي (له تېرو سکښتلو او انځورولو څخه نو به څرنګه له الله سره په الوهیت کي شریک شي ؟) ﴿ وَلَا يَمْلِكُونَ لِأَنفُسِهِمْ ضَرًّا وَلَا نَفْعًا ﴾ اونه دي مالکان دپاره دځانونو خپلو دضرر(دفع کولو) اونه دګټي نفعي (رسولو) ﴿ وَلَا يَمْلِكُونَ مَوْتًا وَلَا حَيَوٰةً وَلَا نُشُورًا ﴾ اونه دي مالکان په وژلو دچااونه په ژوندي کولو دچااونه په بیا ژوندي پورته کولو دمړیو(له قبرونو څخه) زمخشري وایې چي مشرکانو دالله دعبادت پرځای دهغه چاعبادت ته مخ کړچي په هیڅ شي هم قادرنه دي اودوی چي په زیان دفع کولواوګټه رسولوتوان نلري چي بندګان یې لاهم وس لري نو به په بیرته راژوندي کولو څرنګه قادروي؟(٢)﴿ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ إِنْ هَٰذَآ إِلَّآ إِفْكٌ ٱفْتَرَىٰهُ ﴾ اووایې هغه کسان چي کافران شوي دي چي نه دی داقرآن مګردروغ دي چي له ځانه یې جوړکړي دي دغه (محمد) ﴿ وَأَعَانَهُۥ عَلَيْهِ قَوْمٌ ءَاخَرُونَ ﴾ اوکومک ورسره کړی دی پدې (دروغ جوړولوکي) نورو قومونو(د اهل کتابو) ﴿ فَقَدْ جَآءُو ظُلْمًا وَزُورًا ﴾ (الله فرمایې) په تحقیق راتګ کړی دی دغو(کفارو) په ظلم اودروغوسره (چي عربي شخصیت دی عربي کلام له عجمي کلام ویونکي څخه زده کړي اوهغه کلام دي په فصاحت کي بیاهومره اوچت وي چي دعربوګردفصحآء او بلغاء دي ورته ګوته په غاښ حیران وي نوددې مشرکانو خبره یوازي دروغ اوبهتان دی ﴿ وَقَالُوٓا۟ أَسَٰطِيرُ ٱلْأَوَّلِينَ ٱكْتَتَبَهَا ﴾ اووایې (کفار) داکیسې دي درومبنیو خلکوچي لیکلي دي هغه (محمد) پرلیکونکو ﴿ فَهِىَ تُمْلَىٰ عَلَيْهِ بُكْرَةً وَأَصِيلًا ﴾ پس هغه لوستل کېږي پرده (چي یادیې کړي) سهاراوبېګاه ابن عباس رضی الله عنه وایې ددغي ویناکونکي نضربن حارث اودهغه ملګري وو اوافک خوراسختو دروغوته وایې (٣)﴿ قُلْ أَنزَلَهُ ٱلَّذِى يَعْلَمُ ٱلسِّرَّ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ ووایه ای محمده(دغوکفاروته نه ده داسي بلکه) نازل کړی دی داقرآن هغه (الله) چي عالم دی په هروپټوچي په آسمانونواوپه ځمکه کي دي (هغه علیم اوقدیرذات دی) ﴿ إِنَّهُۥ كَانَ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴾ (بېشکه چي الله ښه مغفرت کونکی دخطیئاتوډېررحم والا(په انعام اواجر دثواب سره) یعني الله ژرتر ژره عذاب نه ورکوي اومهلت یې ورکړی ځکه چي هغه په بندګانودوېړ (پراخ) رحمت اومغفرت څښتن دی. ﴿ وَقَالُوا۟ مَالِ هَٰذَا ٱلرَّسُولِ يَأْكُلُ ٱلطَّعَامَ وَيَمْشِى فِى ٱلْأَسْوَاقِ ﴾ اووایې دغه کفارچي څه دي دغه رسول ته چي خواړه خوري اوپه بازارونوکي ګرزي (لکه چي موږدمعاش په طلب

---

(١) التفسیرالکبیر ٢٤ / ٤٦
(٢) الکشاف ٣ / ١١٥
(٣) البحر ٦ / ٤٨٧

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

پسي ګرزودغه خونه پاچاونه پرښته ده څکه پرښتې خوراک نه خوري اوپاچهان په بازارونوکي داړتیادبشپړولولپاره نه ګرزي اوداچي دوی وویل ﴿ مَالِ هَٰذَا ٱلرَّسُولِ ﴾ سره له دې چي دوی خوپه رسالت نه مانودغه خبره يې دملنډواواستهزآء لپاره کړي ﴿ لَوْلَآ أُنزِلَ إِلَيْهِ مَلَكٌ فَيَكُونَ مَعَهُۥ نَذِيرًا ﴾ ولي نه نازلاوه شي ده ته يوه پرښته چي پس شي دغه پرښته له دغه رسول سره وېرونکي (کفارولره له دوزخه اوددغه رسول ددعوی تصدیق وکړي) ﴿ أَوْ يُلْقَىٰٓ إِلَيْهِ كَنزٌ ﴾ يا(ولي نه) غورځول کېږي ده ته خزانه (له آسمانه چي خپلي اړتیاوي ورباندي ترسره کړي اودمعاش له طلب نه يې راوګرزوي ﴿ أَوْ تَكُونُ لَهُۥ جَنَّةٌ يَأْكُلُ مِنْهَا ﴾ يا(ولي نه) کېږي ده ته يوباغ چي خوري له (مېووحاصلاتود) هغه نه ﴿ وَقَالَ ٱلظَّٰلِمُونَ إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا رَجُلًا مَّسْحُورًا ﴾ اووايي دغه ظالمان (مؤمنانوته) چي متابعت نه کوی تاسي مګردیو سړي چي سحرپرې کول شوی دی (عقل يې کارنکوي نوګمان کوي چي دالله استازی دی) ﴿ ٱنظُرْ كَيْفَ ضَرَبُوا۟ لَكَ ٱلْأَمْثَالَ فَضَلُّوا۟ ﴾ وګوره (ای محمده) څرنګه بیانوي (ترې دغه معاندان) تاته مثالونه (عجیبه اوشاذ، نادرحالات اوصفات) پس ګمرهان شول (له هدایت څخه) ﴿ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ سَبِيلًا ﴾ پس طاقت نلري دوي حق ته دموندلو دلاري (وروسته له هغه چي ستاپه دروغجن ګڼلواوستاله رسالت څخه په انکارکولو کافران شول ، دوی درسول الله صلی الله علیه وسلم لپاره پنځه صفتونه یادکړل اوګمان يې وکړچي همدغه له رسالت سره نه ښايې دوی انګېرله چي دپیغمبربهتري اوفضیلت بایدچي په جسماني امورووي اودغه نهایت بې عقلي اوسفاهت دی نوالله جل جلاله ددوی دغه ګمان په دووشیانوباطل کړلومړی داچي درسول الله تعجیب شي چي دوی څرنګه پخپلو خبروکي یوه خوله نه دي کله وايې چي هغه شاعردی کله يې جادوګرګڼي کله بیاوايې لېونی دی تردې چي ددوی دغه عجیبي ویناګاني لکه مثالونه غوندي وګرزېدل اودوهم داچي که الله وغواړي نوخپل استازي اوپیغمبرته ددوی له وړاندیزڅخه بهترڅه ورکړي اودغه مقصدالله په دې قول سره بیانېږي چي ﴿ تَبَارَكَ ٱلَّذِىٓ إِن شَآءَ جَعَلَ لَكَ خَيْرًا مِّن ذَٰلِكَ ﴾ ډېرلوی برکتناک عظیم اوجلیل دی هغه ذات که اراده وفرمايې ګرځوي به تاته (په دنیاکي خیراوغوره له هغه (چي دوی یادکړي له دنیوي نعمتونونه) ﴿ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ وَيَجْعَل لَّكَ قُصُورًا ﴾ (داسي) باغونه چي بهېږي له لاندي (دونو)دهغو ویالې اوګرځوي به تاته (په دغو باغونوکي) بنګلې ، یعني نه یوازي یوجنت بلکه جنتونه اوباغونه اوله دې سره سره به بنګلې هم درکړي لوړي ښایسته اوچتي لکه چي دپاچهانوددنیاوي ؛ ضحاک وايې :کله چي مشرکانو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دلوړي پېغورورکړنو رسول الله صلی الله علیه وسلم ډېرخفه شواوحضرت جبرېل علیه السلام ورته ددلاسايني لپاره راغی اوکله چي جبرائیل اونبي علیهماالسلام سره خبري اتري کولې نابېره دآسمان دروازه پرانیستل شوه جبرائیل علیه السلام وویل زېری درکوم ای محمده دغه رضوان دجنتونو واکدار دالله رضايې درته راوړي سلام ورته واچوه نو رسول الله صلی الله علیه وسلم سلام ورواچاوواورضوان وویل: الله تبارک وتعالی تاته خوښه

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

دركوي چي كه غواړي نبی اوپاچاشي اوياهم نبي اوبنده اوله هغه سره توكرى لوښي ووچي له روښنايي څخه ځليدوبيابي وويل دغه دځمكي دخزانوكليكاني دي نو رسول الله صلى الله عليه وسلم حضرت جبرئيل ته په داسي توكه وكتل لكه چي ورسره مشوره كوي نوهغه په لاس ورته اشاره وكړه چي تواضع كوه رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل بلكه غواړم چي بنده نبي جوړشم اوله هغه وروسته به رسول الله صلى الله عليه وسلم په تكيه وهلي دمرګ ترګړى پوري ډوډى نه وي خوړلې (۱) ويل يې زه بنده يم دبندګانوپه شان خوراك كوم) ﴿ بَلْ كَذَّبُوا بِالسَّاعَةِ وَأَعْتَدْنَا لِمَنْ كَذَّبَ بِالسَّاعَةِ سَعِيرًا ﴾ بلكه نسبت ددروغوكوي (كفار) په قيامت باندي (چي نشته) اوتيارکړى دى موږلپاره دهغه.چاچي نسبت ددروغوكوي په قيامت باندي سخت اور(ددوزخ) طبري وايې معناداچي دغومشركانو دالله له لوري دحق پيغام چي تاراوړى دى ددې لپاره ندى تكذيب كړى چي ته خواره خورې اوپه بازارونوكي ګرزې ! بلكه ددې لپاره يې تكذيب كړى چي دوى پرقيامت ايمان نلري اوهغه څوك چي دقيامت تكذيب كوي موږورته سخت بلېدونكى اورتيارکړى دى(۲) ﴿ إِذَا رَأَتْهُمْ مِنْ مَكَانٍ بَعِيدٍ سَمِعُوا لَهَا تَغَيُّظًا وَزَفِيرًا ﴾ (كله چي روينى (دغه اور) دوى له هغه ليري ځاى نه نواوري به دوى (دغه اور) لره خوټكېدل (له ډېره قهره) اوغورېدل (له ډېره غضبه) يعني دوى به دهغه داسي غږ اوري لكه چي ابشي اوداسي آوازبه اوري لكه دخره چي (زفير) وى ابن عباس رضى الله عنه وايې چي كله مجرم داورپه لوركشول كېږي نوبه دوزخ داسي ورته شنهاركوي لكه چي كچراوربشي ووينى او ورته به نارې سورې وهي هرڅوك چي يې واوري هغه به وېرېږي (۳)اوداچي يې وفرمايل: ﴿ مِنْ مَكَانٍ بَعِيدٍ ﴾ پدې كي لانورزيات هيبت پروت دى ﴿ وَإِذَا أُلْقُوا مِنْهَا مَكَانًا ضَيِّقًا ﴾ اوكله چي وغورځولى شي (كفار) له دوزخ نه په تنګ ځاى كي ابن عباس رضى الله عنه وايې په دوى به داسي تنګي راوستلى شي لكه تنګي د(زُجْ) په نيزه كي (زُجْ) هغه دنيزې په بيخ كي اوسپني ته وايې ﴿ مُقَرَّنِينَ ﴾ پداسي حال كي چي تړل شوي به وي (لاسونه ددوى په غاړوكي ﴿ دَعَوْا هُنَالِكَ ثُبُورًا ﴾ نوپه دغه ځاى بولي دوى هلاک (خپل) اووايې اى زموږهلاكته دوى به دتمناپه ډول هلاكت غواړي ترڅوله دغي سختي څخه يې وژغوري لكه چي وايې ترمرګ سخت هغه دى چي له هغه سره دمرګ تمنااوهيله كېږي ﴿ لَا تَدْعُوا الْيَوْمَ ثُبُورًا وَاحِدًا وَادْعُوا ثُبُورًا كَثِيرًا ﴾ مه غواړئ تاسي نن ورځ يو هلاک اووبولئ تاسي هلاكتونه ډېر(ځكه تاسي چي په كوم عذاب اخته ياست هغه ددېرو هلاكتونو غوښتونكى دى اوپدې كي ددوى ناهيلي له دعاقبلېدلواودعذاب له سپكتياڅخه ده ﴿ قُلْ أَذَلِكَ خَيْرٌ أَمْ جَنَّةُ الْخُلْدِ الَّتِي وُعِدَ الْمُتَّقُونَ ﴾ ووايه (اى محمده دوى ته د تهكم په ډول) آيادغه غوره دى ياهغه دهميشه والي جنت چي له پرهېزګارانوسره يې وعده شوي وه ؛ ابن كثيروايې الله جل

---

(۱) حاشيه شيخ زاده على البيضاوي ۳ / ۴۴۴
(۲) الطبري ۱۸ / ۱۴۰
(۳) ابن كثير ۲ / ۲۲۶

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

جلاله فرمايې ای محمده داچې مادبدمرغه کسانوحال درکړچې په ګونځې تنده اوسورو نارويې دوزخ ځان ته غواړي اوهلته په تنګوځايونوکې لاس پښې په ځنځيرونوتړلې خوځېدلای نشي آيادغه به غوره اوبهتر وي که هغه تل ترتله جنت چې الله يې له خپلومتقيانو بندګانو سره ژمنه کړې ده؟(١) امام فخر رازي وايې که څوک پوښتې چې څرنګه داسې ويل کېږي چې عذاب غوره دی که جنت ؟آيا هوښيار سړی هم داسې وايې چې زهرښه دي که ګوړه (صبراوسکر) ځواب داچې دغه پوښتنه دټکولو اوترټلو په وخت کې ښه اېسې لکه چې يوبادارخپل مريې ته مال دولت ورکړي اوهغه يې په نتېجه کې سرغړونه پيل کړي نافرماني شروع کړي بيايې بادار ښه سخت ووهي او ورته ووايې چې آياداغوره دی که هغه نعمتونه ؟(٢)

﴿ كَانَتْ لَهُمْ جَزَآءً وَمَصِيرًا ﴾ دی هغه جنت دوی ته جزاء دعمل او ځای دورتلو ﴿ لَهُمْ فِيهَا مَا يَشَآءُونَ خَٰلِدِينَ كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ وَعْدًا مَّسْـُٔولًا ﴾ شته دوی ته په دغه وخت کې هرڅه چې دوی غواړي (له نعمتونو) حال داچې تل به وي دوی پکې (نه به زوال مومي اونه پرېکړون) دی (دخول د جنت جزاء) وعده کړی شوي (دالله له جانبه) غوښتلي شوي (دمؤمنانوله لوري) ښايې چې وغوښتل شي ځکه داسې غوښتنه ده (يتنافس فيه المتنافسون) اوواجبه وعده ده ﴿ وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ وَمَا يَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ ﴾ اويادکړه ای محمده هغه ورځ چې راجمع به کړي (الله) دغه (کفاراوبتان) او هغه (باطل) معبودان چې دوی يې عبادت کاووغيرله الله نه (لکه ملائکې اومسيح ,مجاهدوايې چې هغوی عيسی ، عزيراوپرښتې دي ﴿ فَيَقُولُ ءَأَنتُمْ أَضْلَلْتُمْ عِبَادِى هَٰٓؤُلَآءِ ﴾ پس وبه وايې (الله دغو معبودانوته) آيا ګمراه کړي وو تاسې بندګان زمادغه (چې مشرکان دي) ﴿ أَمْ هُمْ ضَلُّوا ٱلسَّبِيلَ ﴾ اوکه دوی پخپله لاره ورکه کړي وه (اوله خپله ځانه يې ستاسې عبادت کاوو) ﴿ قَالُوا سُبْحَٰنَكَ ﴾ (وبه وايې (معبودان) پاکې ده تالره (ای الله له شريکانو) ﴿ مَا كَانَ يَنۢبَغِى لَنَآ أَن نَّتَّخِذَ مِن دُونِكَ مِنْ أَوْلِيَآءَ ﴾ (نه ښائېږي موږته داچې ونيسو موږغيرله تانه (ای الله) هيڅ دوستان) يعني موږ لره اوهيچالره چې ستامخلوق دی نه ښايې چې له تاپرته دبل چاعبادت وکړي اويالله تاسره څوک شريک وګڼي ﴿ وَلَٰكِن مَّتَّعْتَهُمْ وَءَابَآءَهُمْ حَتَّىٰ نَسُوا ٱلذِّكْرَ ﴾ ولاکن ښه معاش (نعمتونه) ورکړي ووتادوی ته اوپلرونوددوی ته (چې لازم ووشکريې پرځای کړي اودپيغمبرانوپه پيغام يې ايمان راوړی وای) ترهغه پوري چې دوی هېرکړ پند(کتاب) ستا(دغه ستازيات نعمتونه ددوی داعراض اوناشکري سبب شول) ﴿ وَكَانُوا قَوْمًۢا بُورًا ﴾ اوودوی قوم هلاکېدونکی (په حکم ستا) الله تعالی کفارو ته دتوبيخ په ډول فرمايې : ﴿ فَقَدْ كَذَّبُوكُم بِمَا تَقُولُونَ ﴾ نوپه تحقيق دروغجنان کړي (معبودانو مو) تاسې (ای مشرکانو) په هغه خبره کې چې تاسې ويله (چې داموخدايان دي) ﴿ فَمَا تَسْتَطِيعُونَ صَرْفًا وَلَا نَصْرًا ﴾ پس طاقت نلری تاسې

---

(١) ابن کثير٢ / ٦٣٢

(٢) تفسير کبير٢٤ / ٥٧

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

دګرخولودعذاب (له خپله ځانه) اونه دمددکولو(له ځانه سره چي له دې بلاوژغورل شی ﴿ وَمَن يَظْلِم مِّنكُمْ نُذِقْهُ عَذَابًا كَبِيرًا ﴾ (اوهرهغه چاچي ظلم وکړله تاسي وبه څکوومو ږهغه ته عذاب لوی) يعني اوهرڅوک چي له تاسونه له الله سره شريک ونيسي او پخپل ځان ظلم وکړي مو ږبه په آخرت کي سخت عذاب وروڅکو ﴿ وَمَآ أَرْسَلْنَا قَبْلَكَ مِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ إِلَّآ إِنَّهُمْ لَيَأْكُلُونَ ٱلطَّعَامَ وَيَمْشُونَ فِي ٱلْأَسْوَاقِ ﴾ اوندی لېږلی مو ږ پخواله تانه (ای محمده هيڅوک) له مرسلانوڅخه (په هيڅ کيفيت) مګر(پدې کيفيت سره چي) بېشکه دوی خامخا خوړل خواړه ،اوګرزېدل دوی په بازارونوکي (لپاره دکسب اوسوداګري همدغه سنت اولاره د پيغمبرانودی نوبيادوی ولي ستالپاره دغه نه مني ؟

اوداګواکي ددوی دهغې ويناڅواب دی چي ويل يې: ﴿ مَالِ هَٰذَا ٱلرَّسُولِ يَأْكُلُ ٱلطَّعَامَ وَيَمْشِي فِي ٱلْأَسْوَاقِ ﴾ ﴿ وَجَعَلْنَا بَعْضَكُمْ لِبَعْضٍ فِتْنَةً أَتَصْبِرُونَ ﴾ اوګرڅولي دي مو ږڅيني دتاسودپاره د ځينو نورو ازمويښت آياصبرکوی؟ (ای دابتلاء خاوندانوبلکه صبروکړ ئ!) يعني بډای اوغني په بېوزله اوفقيرازمويې دمرتبې خاوند په نوکراوروغ په ناروغه ازمويې چي ستاسوزغم اوايمان شکران اوکفران وازمويې حسن رحمه الله وايې چي ړوندوايې که الله وغواړي مابه دفلاني په څېرپيناکړي اوبېوزله وايې که الله وغواړي مادفلاني په ډول بډای کړي رنځوروايې که الله وغواړي مادفلاني په دود روغ رمټ کړي ﴿ وَكَانَ رَبُّكَ بَصِيرًا ﴾ اودی رب ستانبه ليدونکی (عالم په ټولواحوالودصبرکونکو اوناصبره کسانو دکافرانواودشاکرانوباندي).

بلاغت: پدې آيتونوکي چي دبلاغت اوبديع کوم توکي شته لنډون يې دادی:

١-دتشريف لپاره نسبت لکه:(﴿ عَبْدِهِۦ ﴾ چي نوم يې دتعظيم لپاره ذکرنکړ.

٢-له دووصفتونوڅخه په يوه باندي اکتفآء کول لکه چي فرمايې: ﴿ لِيَكُونَ لِلْعَٰلَمِينَ نَذِيرًا ﴾ يعني دپاره ددې چي زېری ورکونکي او وېرونکی وي خودلته يې يواڅي په وېرونکي اکتفآء وکړه چي له کفاروسره همدا مناسبت لري.

٣-ناقص جناس لکه ﴿ يَخْلُقُونَ... يُخْلَقُونَ ﴾ ځکه يې ناقص بولي چي په شکل کي سره متغايردي.

٤-طباق لکه چي ﴿ ضَرًّا... نَفْعًا ﴾ ترمينځ او ﴿ مَوْتًا ...حَيَوٰةً ﴾ ترمابين دی.

٥-دتهکم اواستهزاء په ډول استفهام لکه: ﴿ مَالِ هَٰذَا ٱلرَّسُولِ يَأْكُلُ ٱلطَّعَامَ ﴾ .

٦-تمثيليه استعاره چي فرمايې: ﴿ سَمِعُوا۟ لَهَا تَغَيُّظًا وَزَفِيرًا ﴾ چي دلته يې دهغه دايشېدلو غږ دقهرجن له غږاوزفيرسره مشابه کړکوم چي دلته يې له ګېډې راوزي اودغه داورپه غرغنډو بلېدلولپاره تمثيل دی چي دقهرجن اوکاوړي له عادت اودودسره سم دي.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

لطيفه:

الله تبارک وتعالی پدې قول کي چي فرمايي ﴿ تَبَارَكَ ٱلَّذِىٓ إِن شَآءَ جَعَلَ لَكَ خَيْرًا مِّن ذَٰلِكَ ﴾ پدې باندي تنبيه فرمايلي چي الله پاک خپلوبندګانوته ددوی له مصلحتونوسره سم وېش فرمايي ځينوته دعلوموا ومعارفودروازې پرانيزي اوددنيادروازې ورباندي وتړي اوپه ځينونوروبيادروزي دروازې راخلاصي کړي خودعلم اوپوهي له لذت اوخوندڅخه يې محروم کړي په الله جل جلاله باندي داعتراض اوتنقيدراوړلوځای نشته ځکه چي همهغه (فعال لمايريد) ذات دی.

***

الله تعالی فرمايي:

﴿ ۞ وَقَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَآءَنَا لَوْلَآ أُنزِلَ عَلَيْنَا ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ أَوْ نَرَىٰ رَبَّنَا ۗ لَقَدِ ٱسْتَكْبَرُوا۟ فِىٓ أَنفُسِهِمْ وَعَتَوْ عُتُوًّا كَبِيرًا ﴿٢١﴾ يَوْمَ يَرَوْنَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةَ لَا بُشْرَىٰ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُجْرِمِينَ وَيَقُولُونَ حِجْرًا مَّحْجُورًا ﴿٢٢﴾ وَقَدِمْنَآ إِلَىٰ مَا عَمِلُوا۟ مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنَٰهُ هَبَآءً مَّنثُورًا ﴿٢٣﴾ أَصْحَٰبُ ٱلْجَنَّةِ يَوْمَئِذٍ خَيْرٌ مُّسْتَقَرًّا وَأَحْسَنُ مَقِيلًا ﴿٢٤﴾ وَيَوْمَ تَشَقَّقُ ٱلسَّمَآءُ بِٱلْغَمَٰمِ وَنُزِّلَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ تَنزِيلًا ﴿٢٥﴾ ٱلْمُلْكُ يَوْمَئِذٍ ٱلْحَقُّ لِلرَّحْمَٰنِ ۚ وَكَانَ يَوْمًا عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ عَسِيرًا ﴿٢٦﴾ وَيَوْمَ يَعَضُّ ٱلظَّالِمُ عَلَىٰ يَدَيْهِ يَقُولُ يَٰلَيْتَنِى ٱتَّخَذْتُ مَعَ ٱلرَّسُولِ سَبِيلًا ﴿٢٧﴾ يَٰوَيْلَتَىٰ لَيْتَنِى لَمْ أَتَّخِذْ فُلَانًا خَلِيلًا ﴿٢٨﴾ لَّقَدْ أَضَلَّنِى عَنِ ٱلذِّكْرِ بَعْدَ إِذْ جَآءَنِى ۗ وَكَانَ ٱلشَّيْطَٰنُ لِلْإِنسَٰنِ خَذُولًا ﴿٢٩﴾ وَقَالَ ٱلرَّسُولُ يَٰرَبِّ إِنَّ قَوْمِى ٱتَّخَذُوا۟ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانَ مَهْجُورًا ﴿٣٠﴾ وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِىٍّ عَدُوًّا مِّنَ ٱلْمُجْرِمِينَ ۗ وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ هَادِيًا وَنَصِيرًا ﴿٣١﴾ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ ٱلْقُرْءَانُ جُمْلَةً وَٰحِدَةً ۚ كَذَٰلِكَ لِنُثَبِّتَ بِهِۦ فُؤَادَكَ ۖ وَرَتَّلْنَٰهُ تَرْتِيلًا ﴿٣٢﴾ وَلَا يَأْتُونَكَ بِمَثَلٍ إِلَّا جِئْنَٰكَ بِٱلْحَقِّ وَأَحْسَنَ تَفْسِيرًا ﴿٣٣﴾ ٱلَّذِينَ يُحْشَرُونَ عَلَىٰ وُجُوهِهِمْ إِلَىٰ جَهَنَّمَ أُو۟لَٰٓئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا وَأَضَلُّ سَبِيلًا ﴿٣٤﴾ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ وَجَعَلْنَا مَعَهُۥٓ أَخَاهُ هَٰرُونَ وَزِيرًا ﴿٣٥﴾ فَقُلْنَا ٱذْهَبَآ إِلَى ٱلْقَوْمِ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا ۚ فَدَمَّرْنَٰهُمْ تَدْمِيرًا ﴿٣٦﴾ وَقَوْمَ نُوحٍ لَّمَّا كَذَّبُوا۟ ٱلرُّسُلَ أَغْرَقْنَٰهُمْ وَجَعَلْنَٰهُمْ لِلنَّاسِ ءَايَةً ۖ وَأَعْتَدْنَا لِلظَّٰلِمِينَ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿٣٧﴾ وَعَادًا وَثَمُودَا۟ وَأَصْحَٰبَ ٱلرَّسِّ وَقُرُونًۢا بَيْنَ ذَٰلِكَ كَثِيرًا ﴿٣٨﴾ وَكُلًّا ضَرَبْنَا لَهُ ٱلْأَمْثَٰلَ ۖ وَكُلًّا تَبَّرْنَا تَتْبِيرًا ﴿٣٩﴾ وَلَقَدْ أَتَوْا۟ عَلَى ٱلْقَرْيَةِ ٱلَّتِىٓ أُمْطِرَتْ مَطَرَ ٱلسَّوْءِ ۚ أَفَلَمْ يَكُونُوا۟ يَرَوْنَهَا ۚ بَلْ كَانُوا۟ لَا يَرْجُونَ نُشُورًا ﴿٤٠﴾ ﴾ الفرقان: ٢١ ـ ٤٠

مناسبت اوتړاو:

کله چي الله تبارک وتعالی دمشرکانوانکارله محمدي نبوت اوقرآن کريم څخه واوراوونوورپسې يې ددې څه نوري ګناوي اوجرائم راوړل اوبيايې دځينوانبياووعليهم السلام کيسې اوهغه چي ددوی په اُمتونوراغلي ووبيان کړل ترڅودرسول الله صلی الله عليه وسلم لپاره ډاډينه اوتسليت وي.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

لغتونه:

(حِجرا) دحاء په کسره سره حرام اوممنوع ته وايي (هباء) ګرداوغبارابوعبيده وايي داهغه په وړانګه کي خس اوخاشاک دي (منثورا) تيت اوپرک (مقيلا) دغرمي استراحت چي تودوخه زياته وي دغه وخت ته (مقيل) وايي (تبرنا) تتبيردتدميراوتکسيريعني ورانول اوماتول په معنادی زجاج وايي هرڅيزچي مات اوتوټه توټه بې کړي (تتبير) دی.

دنزول سبب:

روايت کاوه شي چي يوه ورځ (عقبه بن ابي معيط) چي دأبی بن خلف) انډيوال اوملګری وو مېلمستياوکړه اوقريش يې ورووبلل رسول الله صلی الله عليه وسلم هم په مېلمنوکي ووکله چي ډوډۍ راغله نورسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل زه ستاډوډۍ ترهغونه خورم څوچي پدې شاهدي ونه وايي چي زه دالله رسول يم هغه همداسي شاهدي ولوستله اورسول الله صلی الله عليه وسلم يې ډوډۍ وخوړله کله چي دده ملګري (أبی بن خلف) ته دغه پېښه بيان شوه هغه راغی اوعقبه ته يې وويل آياته له دين څخه ګرزېدلی يې ؟ هغه وويل نه خويوسترسړی راغلی اولوړه يې وکړه چي زماډوډۍ به ونه خوري ترڅوچي زه يې درسالت ګواهي ورنکړم نوأبی ورته وويل: زمااوستا ملګرتياترهغونا ممکن اوحرامه ده څوچي کله محمدووينې اوناړي ورتوکړي په اورمېږ يې پښه کښېږدي اوستغي سپوري ورته ووايي نودغه عقبه دالله دښمن هم هغه څه چي ملګري انډيوال يې ورته ويلي ووترسره کړل اوالله جل جلاله داآيتونه نازل کړل چي ﴿ وَيَوْمَ يَعَضُّ ٱلظَّالِمُ عَلَىٰ يَدَيْهِ يَقُولُ يَٰلَيْتَنِي ٱتَّخَذْتُ مَعَ ٱلرَّسُولِ سَبِيلًا ﴾ دآيت ترپايه (١)

تفسير:

﴿ وَقَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَآءَنَا ﴾ اووايي هغه کمان چي زموږدملاقات هيله نلري (اوله عذابه نه وېرېږي ځکه قيامت نه مني) ﴿ لَوْلَآ أُنزِلَ عَلَيْنَا ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ ﴾ ولي نه نازلولی شي پرموږباندي پرښتې ؟ (چي موږته دمحمد دپيغمبري سپيناوی وکړي) ﴿ أَوْ نَرَىٰ رَبَّنَا ﴾ ياولي نه وينوموږ رب خپل؟ (په ښکاره چي ستاداستازيتوب خبرراکړي) ابوحيان وايي چي دغه ګردوړانديزونه يې دسرغړوني اواستکبارنښي دي که دوی پوهېدای هغه معجزاتي چي رسول الله ورته راوړي وي پېخي کافي وي (٢).﴿ لَقَدِ ٱسْتَكْبَرُوا۟ فِىٓ أَنفُسِهِمْ وَعَتَوْ عُتُوًّا كَبِيرًا ﴾ خامخاپه تحقيق دوی کبرکړيدی په (شان د) خپلوڅانونوکي (چي داسي ستري خبري اونامناسب وړانديزونه يې کړي دي) اوتېرشوي دي (له خپله حده په ظلم اوطغيان کي) په تېرېدلولويوسره (چي وروستي سرحداوپړاوته رسېدلي دي) ﴿ يَوْمَ يَرَوْنَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةَ لَا بُشْرَىٰ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُجْرِمِينَ ﴾ هغه ورځ چي ووينې دوی پرښتې (چي ددوی دزنکندن په وخت روح

---

(١) التفسيرالکبير ٢٤/ ٧٥

(٢) البحرالمحيط ٦/ ٤٩١

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

کاږي) نه به وي زېری په دغه ورځ کي لپاره دمجرمانو(چي خوشحال شي بلکه سراسربه ناهيلي اوخسران وي) ﴿ وَيَقُولُونَ حِجْرًا مَّحْجُورًا ﴾ اووبه وايې دوی (ملائکي) چي منع کړی شوی دی (جنت)په منع کېدلو(له تاسي نه) ابن کثيروايې دابه په هغه وخت دځانکندن کي وي چي پرښتې دوی ته داورزېری ورکوي اوسايې کاږي داسي وايې : راووزه ای پليتي روح له پليت بدن څخه راووزه دوزخ اودهغه ګرمي اوسموم ته هغه ديحموم سيوري ته؛ روح به په ټول بدن کي وتښتي اونه به راوزي نوبيايې داوسپني په څټکونووهي (په زوربه يې راوباسي) په خلاف دروح دمؤمن مسلمان چي دځکندن په وخت کي به ورته زېری اوروي چي خوښې اونېکمرغي دي مبارک شه!دهغه به داحال وي ﴿ تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا۟ وَلَا تَحْزَنُوا۟ وَأَبْشِرُوا۟ بِٱلْجَنَّةِ ٱلَّتِى كُنتُمْ تُوعَدُونَ ﴾ (١)﴿ وَقَدِمْنَآ إِلَىٰ مَا عَمِلُوا۟ مِنْ عَمَلٍ ﴾ اواراده کړي موږهغوشيانوته چي دغوکفاروکړي دي له (نېک) عمل نه (لکه بېوزلانوته خوراک ورکول اوصله رحمي خپلوي پالل چي دوی ګمان کوي دغه يې الله ته ورنژدې کوي) ﴿ فَجَعَلْنَٰهُ هَبَآءً مَّنثُورًا ﴾ پس وبه ګرځوموږهغه (نېک عمل په شان د) دوړي تارپه تارکړی شوي (په هواکي څکه چي دغه اعمال دايمان په بنسټ ولاړنه دي طبري وايې معناداچي موږبه يې باطل اعلان کړو څکه چي دوی دالله لپاره نه دي کړي بلکه دشيطان لپاره يې ترسره کړي دي ، هباء هغه دخاشوذراتوته چي په وړانګه کي څرګند ېږي ويلی شي اومنثوربيياتيت اوپرک ته وايې (٢) قرطبي وايې چي الله تبارک وتعالی ددوی عملونه دکفرپه سبب باطل ګڼلي آن تردې چي لکه ګرداوغبارهيڅ حيثيت نلري(٣)﴿ أَصْحَٰبُ ٱلْجَنَّةِ يَوْمَئِذٍ خَيْرٌ مُّسْتَقَرًّا ﴾ (خاوندان دجنت په دغه ورځ (دقيامت کي) غوره دي له جهته دځای دهستوګني) کله چي الله تعالی دکفاروحال بيان کړچي په بشپړتاوان اوخسران کي دي ورپسې يې دجنتيانوحال راووړچي هغه به خوراخوشحاله وي چي پدې تنبيه راشي چي ټوله نېکمرغي دالله عز وجل په طاعت اوعبادت کي ده(٤)﴿ وَأَحْسَنُ مَقِيلًا ﴾ اوډېرښه به وي له جهته دځای دخوب (دقيلولې) چي په ټکنده غرمه کي ترسره کېږي) مؤمنان به په آخرت کي په فردوس اونعيم مقيم کي وي اوکفاربه په پوړيودجهنم کي عبدالله بن مسعودرضی الله عنه وايې چي دقيامت ورځ به نيمايې ته نه وي رسېدلي چي جنتيان به په جنت کي اودوزخيان به په دوزخ کي قيلوله کوي ﴿ وَيَوْمَ تَشَقَّقُ ٱلسَّمَآءُ بِٱلْغَمَٰمِ ﴾ (اويادکړه (ای محمده!) هغه ورځ دقيامت) چي ټوټې ټوټې به شي آسمان په وريځوسره) يعني يادکړه هغه سخته ورځ چي آسمان له وريځي څخه وچوي هغه ورځ چي ګرده فضايې اخيستي اوتوره تياره وي زړونه يې په ليدلوله سختي

---

(١) ابن کثير ٢ / ٦٢٨

(٢) الطبري ١٩ / ٣

(٣) القرطبي ١٣ / ٢٢

(٤) دخيرکلمه دلته په خپل باب کي چي دمفاضلې لپاره راځي نه ده بلکه دجنتيانو دحال دبيان لپاره دی چي دوی به په ښه حال اوغوره مآل اوځای کي وي اودې ته اړتيانشته چي ترکافرانو چي په دنياکي په عيش عشرت کي سرمست ووبهتروګڼل شي.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

تيارې اوزيات ظلمت څخه په غم اوماتم کي ډوبېږي ﴿ وَنُزِّلَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ تَنزِيلًا ﴾ اونازلي به شي پرښتې په نازلولوسره (اوپه خلکوبه چار چاپېر را تاوشي) ﴿ ٱلْمُلْكُ يَوْمَئِذٍ ٱلْحَقُّ لِلرَّحْمَٰنِ ﴾ ملک اوکامل سلطنت په دغه ورځ د(قيامت کي) ثابت دی لپاره درحمن (واحد القهارذات هغه چي ګردجبابره به يې په وړاندي سرټيټوي په دغه ورځ دبل پاچهي هډونشته لکه چي الله فرمايي ﴿ يَوْمَ هُم بَٰرِزُونَ لَا يَخْفَىٰ عَلَى ٱللَّهِ مِنْهُمْ شَىْءٌ لِّمَنِ ٱلْمُلْكُ ٱلْيَوْمَ لِلَّهِ ٱلْوَٰحِدِ ٱلْقَهَّارِ ﴾ [غافر١٦] ﴿ وَكَانَ يَوْمًا عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ عَسِيرًا ﴾ اووی به دغه ورځ (دقيامت)پرکفارو ډېره سخته. ابوحيان وايې چي داکلمه چي ﴿ عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ ﴾ ده پدې دلالت کوي چي پرمؤمنانوبه آسانه وي په يوحديث شريف کي راځي چي دغه ورځ به په مؤمنانوتريوفرضي لمانځه ګذارلوهم لنډه وي چي په دنياکي به يې کاوو(١)﴿ وَيَوْمَ يَعَضُّ ٱلظَّالِمُ عَلَىٰ يَدَيْهِ ﴾ او(يادکړه ای محمده هغه دقيامت ورځ چي خوله به لګوي ظالم پردواړولاسونوخپلو(له ډېره غمه اوحسرته چي په دنياکي څومره دالله په وړاندي يې ګناه کړي ده اودلاسونوچيچل له پښېماني اوحسرت څخه کنايه ده له ظالم څخه مراد(عقبه بن ابي معيط) دی لکه چي په شان نزول کي تېرشواودادهرظالم لپاره هم وعيددی ابن کثيروايې چي الله پاک دظالم له ندامت څخه اخبارفرمايې هغه چي درسول الله صلی الله عليه وسلم لاره يې پرې ايښي اوپه نورو(ړندولاروتللی وي کله چي دقيامت ورځ شي نوبه په لاسونوخولې لګوي افسوس به کوي اوکه نزول يې دعقبه په هکله وي يادبل بدمرغه انسان خوداوعيددهرظالم لپاره عام دی (١) ﴿ يَقُولُ يَٰلَيْتَنِى ٱتَّخَذْتُ مَعَ ٱلرَّسُولِ سَبِيلًا ﴾ وايې به ای کاشکي نيولي مي وای سره له رسول (دالله سره دنجات حقه) لاره (چي له عذابه يې ژغورلای وای) ﴿ يَٰوَيْلَتَىٰ لَيْتَنِى لَمْ أَتَّخِذْ فُلَانًا خَلِيلًا ﴾ اوای هلاکه زما ای حسرته کاشکي نه مي وای نيولی فلانکی سړی خپل دوست فلانکی له هغه چاڅخه عبارت دی چي دی يې ګمراهي ته راکاږلی وواوهغه (أبی بن خلف) وو. قرطبي وايې څکه يې په کنايه ذکرکړاونوم يې صراحتًا يادنکړترڅوچي هرچاته چي ددغه غوندي عمل کوي شامل شي (٢)﴿ لَّقَدْ أَضَلَّنِى عَنِ ٱلذِّكْرِ بَعْدَ إِذْ جَآءَنِى ﴾ خامخاپه تحقيق ګمراه کړی وم زه له ذکره پنده د(قرآن) وروسته له هغه کله چي راغی ماته دغه ذکرچي لاره مي وموندده اوايمان مي راوړ) الله فرمايې ﴿ وَكَانَ ٱلشَّيْطَٰنُ لِلْإِنسَٰنِ خَذُولًا ﴾ اوانسان لره شيطان غولونکی ښويونکی دی چي ګمراه کوي يې اوکله چي يې وغولوي بيا دمحنت په وخت کي ورڅخه بېزاره شي اوپه دفع کولوکي ورسره مرسته نکوي ﴿ وَقَالَ ٱلرَّسُولُ يَٰرَبِّ إِنَّ قَوْمِى ٱتَّخَذُوا۟ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانَ مَهْجُورًا ﴾ (او وويل رسول (دالله محمد) ای زماربه په تحقيق زماقوم نيولی

---

(١) ٤٩٥/٢

(٢) مختصرابن کثير٢ / ٢٣٠

(٢) القرطبي١٢ / ٣٢

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

دی داقرآن ترک کړی شوی (نه پرې ایمان راوړي نه یې لولي اونه پرې عمل کوي) کله چي مشرکانوپه قرآن کریم باندي زیات پیغورونه وترل درسول الله صلی الله علیه وسلم زړه خواشینی شواوالله ته یې داسي شکایت پورته کړچي ای ربه دغوقریشوخوقرآن بالکل مهجوراومتروک ګرزولی اوله اعتناء اوالتفاته یې غورځولی دی. مفسرین کرام وایې دلته له دې ویناڅخه مقصوددمشرکانو دوینااخبارنه دی بلکه مقصود دشکایت تعظیم اودقوم وېرونه ده ځکه کله هم چي انبیاء علیهم السلام الله ته پناه وروړي اودخپل قوم شکایت ورته پورته کړي نوبیایې پرقوم عذاب نازلېږي اومهلت نه ورکول کېږي(١)

﴿ وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا مِّنَ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴾ اوهمداسي (لکه چي کفارمي ستا دښمنان ګرځولي) ګرځولي وومو(پخواله تانه) دپاره دهرنبي دښمنان له مجرمانو؛ مراددلته درسول الله صلی الله علیه وسلم دلاسانه اواطمینان دی ترڅوپه نورو نبیانوپسي اقتداء وکړي ﴿ وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ هَادِيًا وَنَصِيرًا ﴾ اوکافي دی رب ستاسمه صافه لیاربنوونکی اوښه مددکونکی (پردښمنانودهغوی باک پروامکوه) !.

﴿ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا ﴾ اووایې هغه کسان چي کافران شوي دي (دمکې کفار) ﴿ لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ ٱلْقُرْءَانُ جُمْلَةً وَٰحِدَةً ﴾ ولي نه نازلاوه شی قرآن پردغه (محمد) ټول یوکرت ؟ (لکه چي تورات اوانجیل نازل شوی وو) الله پاک ددوی دچتي اشتباه ګانوداسي تردیدفرمایې ﴿ كَذَٰلِكَ لِنُثَبِّتَ بِهِۦ فُؤَادَكَ ﴾ همداسي لرلږ مونازل کړچي ثابت محکم قوي کړوپه دغه (قرآن)سره ستازړه چي په یادیې کړي اوپه غوښتنوې عمل وکړي﴿ وَرَتَّلْنَٰهُ تَرْتِيلًا ﴾ (اولوستلی دی موږ(دغه (قرآن پرتا) ټوټې ټوټې په آرام لوستلوسره) یعني موږپه ښکلي تفصیل سره جلاکړی دی قتاده وایې چي معنادامورببیان کړی دی امام رازي وایې ترتیل هغه ته وایې چي ځیني په ځیني نورپسي په آرام اوکرارسره راشي اوپه غاښونوکي دترتیل معناداچي سره ګوښي ګوښي وي(٢) طبري وایې چي ترتیل په قرائت کي ترسل اوتثبت ته وایې معناداچي څه موله څه نور وروسته دروښودڅو چي په یادیې کړي (٣)﴿ وَلَا يَأْتُونَكَ بِمَثَلٍ إِلَّا جِئْنَٰكَ بِٱلْحَقِّ وَأَحْسَنَ تَفْسِيرًا ﴾ اونه کوي دوی راتله تاته کوم مثل (دلیل اوسوال چي پکي ستاکمښت اویادقرآن قدح وي) مګرراوړو موږتاته (ځواب دهغه) په حق اوښه تفسیربیان سره ؛ بیاالله تعالی ددغومشرکانومکذبانودقرآن حال بیانوي فرمایې: ﴿ ٱلَّذِينَ يُحْشَرُونَ عَلَىٰ وُجُوهِهِمْ إِلَىٰ جَهَنَّمَ ﴾ (دوی) هغه کسان (دي) چي جمع به کړی شي اوشړل به شي په مخونوخپلو(سربښکته پښې پورته) ددوزخ لوري ته﴿ أُولَٰٓئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا وَأَضَلُّ سَبِيلًا ﴾ دغه ټولی بددی له جهته دځایه اوډېر ښوئېدلی دی له جهته دلاري اوګمراهان دي په حدیث شریف کي راځي چي: یوچاله رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه چي څرنګه به په قیامت (کافران) په مخونوشړل کېږي نوعلیه السلام ورته وویل: هغه ذات چي

---

(١) حاشیه شیخ زاده علی البیضاوي ٣/ ٤٥١
(٢) التفسیرالکبیر ٢٤/ ٧٩
(٣) الطبري ١٩/ ١٨

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

دوی یې په پښو روان کړي پدې قادراوتوانادی چي په قیامت کي یې په مخونو روان کړي (١) بیاالله تعالی دانبیآء علیهم السلام کیسې درسول الله دډاډیني اودکفارو دوېروني لپاره یادوي فرمایي: ﴿ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ وَجَعَلْنَا مَعَهُۥٓ أَخَاهُ هَٰرُونَ وَزِيرًا ﴾ او خامخاپه تحقیق موږ موسی ته کتاب (تورات) ورکړی وواوګرځولی وومورږله دغه موسی سره ورور دده هارون وزیر(مددګار) ﴿ فَقُلْنَا ٱذْهَبَآ إِلَى ٱلْقَوْمِ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا ﴾ پس موږ (دوی ته وویل چي) ولاړشئ دواړه هغه قوم ته چي دروغجن یې شمېرلي دي آیتونه زموږ(چي څرګندي معجزاتي اوښکاره دلائل دي) ﴿ فَدَمَّرْنَٰهُمْ تَدْمِيرًا ﴾ پس هلاک کړل موږفرعونیان په هلاکولوسره (کله چي یې دوی دواړه دروغجنان وګڼل) ﴿ وَقَوْمَ نُوحٍ لَّمَّا كَذَّبُوا۟ ٱلرُّسُلَ أَغْرَقْنَٰهُمْ وَجَعَلْنَٰهُمْ لِلنَّاسِ ءَايَةً ﴾ او(هلاک کړی وومورږ) قوم دنوح کله چي دروغجن وشمېرل دوی رسولان خپل موږغرق کړل دوی اووګرزول موږ دوی لپاره دخلکودلیل (نښه دعبرت) ابوالسعودوایې داچي پیغمبران یې جمع وبلل ددې لپاره چي دیوه نبي دروغ ګڼل دټولوانبیاوو تکذیب دی ځکه ګرد انبیآء په توحیداواسلام کي اتفاق لري ﴿ وَأَعْتَدْنَا لِلظَّٰلِمِينَ عَذَابًا أَلِيمًا ﴾ اوتیارکړی دی موږدظالمانولپاره ډېردردناک عذاب (پرته له هغه عذابه چي په دنیاکي ورکول شوی دی) ﴿ وَعَادًا وَثَمُودَا۟ وَأَصْحَٰبَ ٱلرَّسِّ ﴾ او(هلاک کړي دي موږ) عادیان اوثمودیان اوخاوندان دکوهي (هغه چي پردوی ونړېدو) بیضاوي وایې چي دکوهي خاوندان هغه ووچي دبتانوعبادت یې کاوو اوالله جل جلاله دوی ته شعیب علیه السلام راواستاوواودوی دهغه تکذیب وکړپداسي حال کي چي دکوهي خواوشاغونداوپنډ وواودغه خام کوهی وو ورباندي ونړېدو(٢) ﴿ وَقُرُونًۢا بَيْنَ ذَٰلِكَ كَثِيرًا ﴾ اونورډېر اهل دزماني په مینځ ددوی کي (چي یوازي الله ته معلوم اوددغودروغجنانوڅخه ووهغوی موهم هلاک کړل) ﴿ وَكُلًّا ضَرَبْنَا لَهُ ٱلْأَمْثَٰلَ ﴾ او هریوله دې نه بیان کړي وومورږ ده ته مثالونه (دعبرت اوښکاره دلائل په اقامت دحجت په دوی باندی چي ووېرېږي اوعذریې پاتي نشي) ﴿ وَكُلًّا تَبَّرْنَا تَتْبِيرًا ﴾ اوټول موهلاک کړل په هلاکولوسره(کله چي نصیحتونه یې ونه منل) ﴿ وَلَقَدْ أَتَوْا۟ عَلَى ٱلْقَرْيَةِ ٱلَّتِىٓ أُمْطِرَتْ مَطَرَ ٱلسَّوْءِ ﴾ اوخامخاپه تحقیق تېرشوي دي (تېرېږي ډېرځله قریش دشام دسفرونوپه ترڅ کي) پرکلیوښارونودهغوهغه چي اورول شوی ووباران دبدي (دډېرواورېدلوعذاب له آسمانه چي هغه سدوم اودلوط له کلیوڅخه سترکلی وو ﴿ أَفَلَمْ يَكُونُوا۟ يَرَوْنَهَا ﴾ آیاپس نه وودغه کفارچي لیدلي یې وای هغه (قریه) دغه دوی ته په عبرت نه اخیستلوتوبیخ دی یعني آیادوی پخپلوسفرونوکي هغه کلي نه دي لیدلي؟ کوم چي هغوی دخپلوانبیاووتکذیب کړی وواوداالله امرونه یې نه وومنلي ابن عباس وایې

---

(١) أخرجه اصحاب السنن

(٢) البیضاوي

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

چي قريس به دخپلي سوداګري لپاره په دغولاروچي دلوط عليه السلام دهلاک شوي قوم کلي وو تېرېدل لکه چي الله بل ځای فرمايي ﴿ وَإِنَّكُمْ لَتَمُرُّونَ عَلَيْهِم مُّصْبِحِينَ ﴾ (الصافات ۱۳۷] ﴿ بَلْ كَانُوا لَا يَرْجُونَ نُشُورًا ﴾ بلکه وودوی چي نه به يې درلود اميد دبياژوندي راپاڅېدلو (په قيامت کي).

بلاغت:

دلته چي دبديع اوبلاغت کومي ښکلاوي شته لنډون يې دادی:

۱ - ترجی اوهيله چي فرمايي: ﴿ لَوْلَا أُنزِلَ عَلَيْنَا ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ ﴾ ځکه چي ﴿ لَوْلَا ﴾ د(هلا) په معنااوهغه دترجی لپاره راځي.

۲ - اشتقاقي جناس ﴿ وَعَتَوْ عُتُوًّا ﴾ او ﴿ حِجْرًا مَّحْجُورًا ﴾ په کلماتوکي.

۳ - دجنس په نفی باندي دمبالغې صنعت لکه: ﴿ لَا بُشْرَىٰ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُجْرِمِينَ ﴾ معنايې داچي په دغه ورځ مجرمانوته زېری نه ورکاوه شي خوله دغي صيغې څخه چي ﴿ لايبشريومئذالمجرمون ﴾ دی بدلول اوپه نرموړي توګه راوړل مبالغه افاده کوي.

۴ - بليغه تشبيه چي الله فرمايي: ﴿ فَجَعَلْنَٰهُ هَبَآءً مَّنثُورًا ﴾ يعني لکه ګرداوغبارچي په هواکي تيت اوګټه نه ځيني اخيستل کېږي نودتشبيه ادات اووجه دشبه حذف شوي بليغه تشبيه ګڼل کېږي.

۵ - لطيفه کنايه چي په ﴿ يَعَضُّ ٱلظَّالِمُ عَلَىٰ يَدَيْهِ ﴾ کي راغلي اودغه له حسرت اوندامت څخه کنايه ده لکه چې ﴿ فُلَانًا ﴾ له هغه ګمراه کونکي ملګري څخه کنايه راغلی دی.

۶ - مجازي اسنادلکه ﴿ شَرٌّ مَّكَانًا ﴾ ځکه دشراوضلال خومکان ته نسبت نه کاوه شي بلکه نسبت داهل مکان لپاره راځي.

لطيفه:

ابن قيم رحمه الله وايي چي دقرآنکريم هجران په څوډوله دی.

لومړی يې داورېدلوترک کول اوايمان ورباندي نه راوړل دوهم په هغه باندي عمل نه کول دريم دهغه په حکمونوخپلي فيصلې نه کول څلورم دمعناپه لحاظ په هغه باندي تفکراوسوچ نه کول پنځم په هغه باندي دګردونارو غيوچي په زړونوباندي راځي علاج معالجه نه کول چي داټول پدې الهي قول کي راځي چي فرمايي: ﴿ إِنَّ قَوْمِي ٱتَّخَذُوا هَٰذَا ٱلْقُرْءَانَ مَهْجُورًا ﴾ که څه هم ځيني هجراوترک ترځينونورو آسانه اوسپک دی.

***

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

الله تعالی فرمايي:

﴿ وَإِذَا رَأَوْكَ إِن يَتَّخِذُونَكَ إِلَّا هُزُوًا أَهَٰذَا ٱلَّذِى بَعَثَ ٱللَّهُ رَسُولًا ﴿٤١﴾ إِن كَادَ لَيُضِلُّنَا عَنْ ءَالِهَتِنَا
لَوْلَآ أَن صَبَرْنَا عَلَيْهَا ۚ وَسَوْفَ يَعْلَمُونَ حِينَ يَرَوْنَ ٱلْعَذَابَ مَنْ أَضَلُّ سَبِيلًا ﴿٤٢﴾ أَرَءَيْتَ مَنِ ٱتَّخَذَ إِلَٰهَهُۥ
هَوَىٰهُ أَفَأَنتَ تَكُونُ عَلَيْهِ وَكِيلًا ﴿٤٣﴾ أَمْ تَحْسَبُ أَنَّ أَكْثَرَهُمْ يَسْمَعُونَ أَوْ يَعْقِلُونَ ۚ إِنْ هُمْ إِلَّا كَٱلْأَنْعَٰمِ ۖ بَلْ هُمْ
أَضَلُّ سَبِيلًا ﴿٤٤﴾ أَلَمْ تَرَ إِلَىٰ رَبِّكَ كَيْفَ مَدَّ ٱلظِّلَّ وَلَوْ شَآءَ لَجَعَلَهُۥ سَاكِنًا ثُمَّ جَعَلْنَا ٱلشَّمْسَ عَلَيْهِ دَلِيلًا ﴿٤٥﴾ ثُمَّ
قَبَضْنَٰهُ إِلَيْنَا قَبْضًا يَسِيرًا ﴿٤٦﴾ وَهُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيْلَ لِبَاسًا وَٱلنَّوْمَ سُبَاتًا وَجَعَلَ ٱلنَّهَارَ نُشُورًا ﴿٤٧﴾ وَهُوَ
ٱلَّذِىٓ أَرْسَلَ ٱلرِّيَٰحَ بُشْرًۢا بَيْنَ يَدَىْ رَحْمَتِهِۦ ۚ وَأَنزَلْنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً طَهُورًا ﴿٤٨﴾ لِّنُحْـِۧيَ بِهِۦ بَلْدَةً مَّيْتًا وَنُسْقِيَهُۥ مِمَّا
خَلَقْنَآ أَنْعَٰمًا وَأَنَاسِىَّ كَثِيرًا ﴿٤٩﴾ وَلَقَدْ صَرَّفْنَٰهُ بَيْنَهُمْ لِيَذَّكَّرُوا۟ فَأَبَىٰٓ أَكْثَرُ ٱلنَّاسِ إِلَّا كُفُورًا ﴿٥٠﴾ وَلَوْ شِئْنَا
لَبَعَثْنَا فِى كُلِّ قَرْيَةٍ نَّذِيرًا ﴿٥١﴾ فَلَا تُطِعِ ٱلْكَٰفِرِينَ وَجَٰهِدْهُم بِهِۦ جِهَادًا كَبِيرًا ﴿٥٢﴾ ۞ وَهُوَ ٱلَّذِى مَرَجَ
ٱلْبَحْرَيْنِ هَٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ وَهَٰذَا مِلْحٌ أُجَاجٌ وَجَعَلَ بَيْنَهُمَا بَرْزَخًا وَحِجْرًا مَّحْجُورًا ﴿٥٣﴾ وَهُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ مِنَ ٱلْمَآءِ بَشَرًا فَجَعَلَهُۥ
نَسَبًا وَصِهْرًا ۗ وَكَانَ رَبُّكَ قَدِيرًا ﴿٥٤﴾ وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُهُمْ وَلَا يَضُرُّهُمْ ۗ وَكَانَ ٱلْكَافِرُ عَلَىٰ رَبِّهِۦ ظَهِيرًا
﴿٥٥﴾ وَمَآ أَرْسَلْنَٰكَ إِلَّا مُبَشِّرًا وَنَذِيرًا ﴿٥٦﴾ قُلْ مَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِلَّا مَن شَآءَ أَن يَتَّخِذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ سَبِيلًا ﴿٥٧﴾
وَتَوَكَّلْ عَلَى ٱلْحَىِّ ٱلَّذِى لَا يَمُوتُ وَسَبِّحْ بِحَمْدِهِۦ ۚ وَكَفَىٰ بِهِۦ بِذُنُوبِ عِبَادِهِۦ خَبِيرًا ﴿٥٨﴾ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ ۚ ٱلرَّحْمَٰنُ فَسْـَٔلْ بِهِۦ خَبِيرًا ﴿٥٩﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱسْجُدُوا۟
لِلرَّحْمَٰنِ قَالُوا۟ وَمَا ٱلرَّحْمَٰنُ أَنَسْجُدُ لِمَا تَأْمُرُنَا وَزَادَهُمْ نُفُورًا ۩ ﴿٦٠﴾ ﴾ الفرقان: ٤١ – ٦٠

مناسبت او تړاو:

کله چي الله تعالی دمشرکانو شکوک او شبهات چي دقرآنکریم اورسول الله په هکله يې درلودل بيان کړل اودهغوی لپاره يې کوټلي دلائل راوړل نودلته يې دمشرکانويوبل ډول استهزآء اوملنډي چي په تکذيب سربېره يې په عليه السلام پسي تړلي اوګواکي په دروغجن ګڼلويې اکتفاء نه کوله نوري ملنډي اوريشخندونه يې هم ورباندي وهل يادوي اوورپسي بيا الله تبارک وتعالی پخپل وحدانيت او قدرت دلائل راوړي.

لغتونه:

(سباتا) راحت ته وايې اصل يې له (سبت) څخه اخيستل شوی اوهغه قطع ته اوپرېکړي ته وايې چي، ديهودانو(سبت)هم له دې څخه اخيستل شوی ځکه پدې ورځ کارونه قطع کوي (نشورا) انتشاراوحرکت ته وايې اوورځ هم دکاراوکسب لپاره دخپراوي سبب وي (أناسی) دانسی جمع اولکه کراسي چي دکرسي جمع راځي فراء وايې چي: انسی اوأناسي دبشرلپاره نوم دی اواصل يې انسان وو بيايې نون په يابدل

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

کړی انسي وګرزېدو (مرج) ورپرې ایښی ګډ کړی شوي ته ویل کېږي او (أمرمریج) بیامختلط اوګډوډ شوي چاري ته وایې (فرات) خوراخوږې خوندوري (أجاج) سختي تروې (برزخا) پرده اوحائل

تفسیر:

﴿ وَإِذَا رَأَوْكَ إِن يَتَّخِذُونَكَ إِلَّا هُزُوًا ﴾ اوکله چي دوی تاووینې نونه نیسي دوی تامګرخای دمسخرې ﴿ أَهَٰذَا ٱلَّذِي بَعَثَ ٱللَّهُ رَسُولًا ﴾ آیاداهغه (سړی) دی چي الله (موږته) پیغمبر رالیږلی دی؟ (دغه په تو کواومسخرووایې) ﴿ إِن كَادَ لَيُضِلُّنَا عَنْ ءَالِهَتِنَا لَوْلَآ أَن صَبَرْنَا عَلَيْهَا ﴾ بېشکه چي دی نژدې وو چي خامخاګمراه کړي یې وای موږله خدایانوزموږ که چېري موږددوی (په عبادت) صبرنه وای کړی (الله تعالی ددوی په ردکي فرمایې: ﴿ وَسَوْفَ يَعْلَمُونَ حِينَ يَرَوْنَ ٱلْعَذَابَ مَنْ أَضَلُّ سَبِيلًا ﴾ اوژربه دوی پوه شي کله چي ووینې دوی عذاب (دقیامت ښکاره) چي څوک دی ډېرګمراه له جهته دلارې (آیامحمددی اوکه دوی دي؟ دغه دوعید اوتهدید په توګه الله فرمان صادرکړی دی) ﴿ أَرَءَيْتَ مَنِ ٱتَّخَذَ إِلَٰهَهُۥ هَوَىٰهُ ﴾ آیاوینې خبرې ته؟ (دمشرکانودحال څخه تعجب کول دی) په هغه چاچي دوی خپل نفسي خواهش اوهواخدای نیولی دی. ابن عباس رضی الله عنهما وایې دمشرکانویوتن به ددېرې عبادت کاوواوکله چي به یې ترهغې کومه بله ښکلي ډبره وموندله لومړنی به یې وغورځوله اودوهمه به یې په خدایې ونیوله اوعبادت به یې پیل کړ ﴿ أَفَأَنتَ تَكُونُ عَلَيْهِ وَكِيلًا ﴾ آیاپس ته یې په ده باندې وکیل (ساتونکی چي منع یې کړي له هواهوس خپله بلکه نه یې) ابوحیان وایې چي پدې کي ددوی له ایمان نه راوړلوڅخه ناهیلي ده اوعلیه السلام ته ددې اشاره ورکول دي چي ددوی په ایمان نه راوړلودې نه خواشینی کېږي اوهمداسي ددوی دناپوهي خبرورکول دی چي دوی دخپلو ګټو اوتاوانونوپه پوهېدلوکي ترچارپایانولاهم پاتي راغلي دي (١) ﴿ أَمْ تَحْسَبُ أَنَّ أَكْثَرَهُمْ يَسْمَعُونَ أَوْ يَعْقِلُونَ ﴾ آیاګمان کوې ته چي په تحقیق ډېرددوی اوري (دلائل) یاعقل چلوي (پوهېږي ستاپه خبرو اومني یې؟) یعني آیاته ګمان کوې چي دغه مشرکین ستاوینادمنلوپه توګه اوري؟ اویاپه هغودلائلواوبراهینوکي عقل چلوي اوورته پاملرنه کوي کوم چي دالله په وحدانیت دلالت کوي اوته ددوی دایمان هیله کوې؟ ﴿ إِنْ هُمْ إِلَّا كَٱلْأَنْعَٰمِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ سَبِيلًا ﴾ نه دي دوی مګرپه شان دچارپایانودي بلکه لادوی ډېرلیري دي له لاري (دصوابه) څکه چي څاروي خوخپله ورشوته لاره مومي اودخپلوخاوندانوغوښتنوته غاړه ایږدي دهغوی احسان مني مګردغه مشرکان دخپل څښتن حکم نه مني اونه یې نېکي اواحسان پېژني بیاالله تبارک وتعالی پخپل وحدانیت اوبشپړقدرت داسي دلائل راوړي فرمایې ﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَىٰ رَبِّكَ كَيْفَ مَدَّ ٱلظِّلَّ ﴾ آیاندی کتلي تا(قدرت د) رب خپل ته چي څرنګه یې سیوری غځولی دی؟(ترڅوچي انسان دلمرله سوځونکووړانګوڅخه هغه ته پناه وروړي که چېري دغه سیوری نه وای نودانسان ژوندبه تریخ

(١) البحر٦/٥٠١

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

اولمربه يې پوستکی ورداغلی وو ﴿ وَلَوْ شَآءَ لَجَعَلَهُۥ سَاكِنًا ﴾ اوکه يې اراده فرمايلي وای نوخامخا هغه سيورۍ به يې ولاړ ګرځولی وو (هيڅ لوري ته به نه خوځېدو مګرد الله په قدرت هغه له يوه ځايه بل ته درومي کله دختيزلوري ته وي اوکله دلويديزخواته کله مخي ته لوېږي اوکله بياشاته ﴿ ثُمَّ جَعَلْنَا ٱلشَّمْسَ عَلَيْهِ دَلِيلًا ﴾ بياوګرزاوومو ږلمر (پدې سيوري) دليل (که چېري دلمروړانګي په اجساموا واجرامونه پرېوتلای نوبه دسيورۍ وجودځرګندنه وواوددغه سترنعمت آثاربه انسانانوته نه ځرګندېدل شيان په اضدادوپېژندل کېږي که تياره نه وای چابه رڼانه پېژندله اوکه لمرنه وای چابه سيورۍ نه پېژانده لکه چي وايې: (وانماتعرف الاشياء باضدادها) ﴿ ثُمَّ قَبَضْنَٰهُ إِلَيْنَا قَبْضًا يَسِيرًا ﴾ بيامو ږراتول کړوهغه ځان خپل ته په راټولولوآسانوسره (لږلږ ورو ورونه په يوځل ترڅوچي مصلحتونه ګډوډنشي) ابن عباس رضی الله عنه وايې چي: مقصد له سيوري څخه دسپېده چاودله وخته دلمرترختلوپوري دی (١) مفسرين کرام وايې چي (ظل) هغه درميانه حال ته چي ديومخ ايزه رڼااوخالصي تيارې ترمينځ وي ويل کېږي اودغه دځمکي په مخ دسپېده داغ له وخته دلمرترختلوپوري وي اوبيادی دلمررڼاله زواله وروسته ترلمرلوېدوپوري ورو ورولږلږ ورکوي اوله مينځه يې وړي اودی ته (فئ) وايې په حکيم صانع ذات باندي ددې استدلال وجه داده چي ددغه (ظل) وجود وروسته له (عدم) څخه ځرګندوي اوبيايې عدم وروسته له وجودڅخه رادبره کوي په دی دلالت کوي چي ځرنګه يې احوال په زياتوالي اوکموالي ويړوالي اوراټولېدلوکي تغييرکوي هغه هم پدې سبب چي دبندګانولپاره ګټوروي ددې لپاره هرومرو ديوقادرمتعال دتدبيرخاوندحکيم ذات ضرورت شته چي دعلوي اجراموپه خوځولواوفلکي اجساموپه ترتيب اوتدبيرپه ښه توګه قادراوتواناوي اودغه پرته له الله رب العالمينه بل څوک نشي کېدای (٢) بيا الله تعالی دخپل قدرت آثارواوپه بندګانوباندي سترونعمتونوته داسي اشاره فرمايې ﴿ وَهُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيْلَ لِبَاسًا ﴾ اوهم دغه (الله) هغه (ذات دی چي ګرزولي يې ده تاسي ته (په کامل قدرت خپل سره) شپه پوښاک (لکه چي لباس تاسي پټوي همداسي موشپه پټوي (٣) ﴿ وَٱلنَّوْمَ سُبَاتًا ﴾ اوګرځولی يې دی (تاسي ته) خوب آرامي (چي تاسوله خپلوکارونووزګاراوآرام شئ ﴿ وَجَعَلَ ٱلنَّهَارَ نُشُورًا ﴾ اوګرځولي يې ده ورځ وخت دښورېدلوګرځېدلو (لپاره دطلب دمعاش) ﴿ وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَرْسَلَ ٱلرِّيَٰحَ بُشْرًۢا بَيْنَ يَدَىْ رَحْمَتِهِۦ ﴾ اوهم دغه (الله) هغه (ذات) دی چي رالېږلي يې دي بادونه زېري ورکونکي دوړاندي درحمت ددغه الله (چي باران دی) ﴿ وَأَنزَلْنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً طَهُورًا ﴾ اونازلي کړي موږ له طرفه دآسمانه اوبه پاکي پاکونکي (چي تاسويې څښئ او ورباندي اودسونه کوی

---

(١) الطبري ١٩/١٢

(٢) دغه ويناله مجاهد څخه رانقل شوي اوډېرمفسرين په همدې لاره تللي دي اووايې چي دغه خورابښکلی حال دی څکه دجنت د صفت هم پدې شوی چي فرمايي (ظل ممدود) اوهغه چي موږوليکل هغه راجح دی څکه چي معروف سيورۍ هم هغه دی اودلمرلفظ هم ورباندي دلالت کوي اوداعلامه ابوالسعودغوره کړي دي.

(٣) تفسيرکبير ٢٤/٨٨

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

جامې مينځی. قرطبي وايې چې ﴿ طَهُورًا ﴾ بناء په طاهرکي دمبالغې لپاره دی يعني پاکي پاکونکي (١)﴿ لِّنُحْيِۦَ بِهِۦ بَلْدَةً مَّيْتًا ﴾ لپاره ددې چې ژوندي کړوموږپدې (اوبو) ځمکه مړه وچه ﴿ وَنُسْقِيَهُۥ مِمَّا خَلَقْنَآ أَنْعَٰمًا وَأَنَاسِيَّ كَثِيرًا ﴾اوچي وروځښودغه (اوبه) له جملې دهغوشيانوڅخه چې پيداکړي دي موږله چارپايانواو انسانوډېرونه (ځکه اوبه دهرژوندي ساري اړتياده اوپه تېره بياخلک خوراورته محتاج دي ځکه دځښلو، فصلونوخړوبولو اودحيواناتواوبه کولولپاره ورته اړتيالري. امام فخرالاسلام وايې چې (انعام) او(اناسي) يې نکره راوړل ځکه بشري ژونددوی دځمکواوحيوانانوپه ژوندپوري سم تړلی دی نواکثريت دخلګواوبوته نژدې چې ويالې ، رودونه اودريابونه وي اوسي اودځښلولپاره اوبه نلري خوکله چې اوربښت وشي اوباران واوري نوځکه الله پاک ﴿ أَنْعَٰمًا وَأَنَاسِيَّ كَثِيرًا ﴾ وفرمايل چې د(فعيل) صيغه لپاره دډېر راځي اوزښته ډېرې معنانه ده (٢)﴿ وَلَقَدْ صَرَّفْنَٰهُ بَيْنَهُمْ بَيْنَهُمْ لِيَذَّكَّرُوا۟ ﴾ (اوخامخاپه تحقيق په راز رازډولونوموږ داوېشلي دي په مينځ ددوی کي لپاره ددې چې دوی فکر وچلوي) يعني په تحقيق سره موږپدې قرآن کي مثالونه بيان کړي دي اوپکي دلائل دي لپاره دفکر کولو(٣)﴿ فَأَبَىٰٓ أَكْثَرُ ٱلنَّاسِ إِلَّا كُفُورًا ﴾ پس منع راوړه زياتروخلګوليکن له کفران (ځخه يې منع نه راوړه) ﴿ وَلَوْ شِئْنَا لَبَعَثْنَا فِى كُلِّ قَرْيَةٍ نَّذِيرًا ﴾ اوکه اراده موفرمايلي واى نوپورته کړي به موو په هره قريه ښارکي (بېل بېل) وېرونکی (ستادهوسايي لپاره مګرهسي موونکړل اوته مودتول بشريت لپاره استازی وټاکلې اودغه ستادشان دتعظيم اواجلال لپاره نودغه اجلال په ثبات اودعوت (بلنه)کي له اجتهادسره يوځای کړه اودحق اظهاراوځرګندول ترسره کړه ﴿ فَلَا تُطِعِ ٱلْكَٰفِرِينَ وَجَٰهِدْهُم بِهِۦ جِهَادًا كَبِيرًا ﴾ (نومکوه اطاعت (دغوښتنو) دکافرانواومجاهده مقابله کوه له دوی سره په دغه (قرآن) په جهاد لوی) يعني ددوی هغه بلنه چې تاته وايې زموږدخدايانوله عيب ويلوڅخه لاس واخله مه منه اوپه دغه قرآنکريم باندي له دوی سره نه ستړي کېدونکي مبارزه کوه ﴿ وَهُوَ ٱلَّذِى مَرَجَ ٱلْبَحْرَيْنِ ﴾ اوهمدغه (الله) هغه ذات دی (چې په کامل قدرت) خوشي کړي دي دوه سيندونه څنګ په څنګ (جلاجلاچې يوپه بل نه ګډېږي)﴿ هَٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ وَهَٰذَا مِلْحٌ أُجَاجٌ ﴾ چې دغه خوږدی ډېرخوږ تنده ماتونکی اوهغه بل تربودی ښه تربو(تريخ ته ورته) ﴿ وَجَعَلَ بَيْنَهُمَا بَرْزَخًا ﴾ اوګرځولي دي الله په مينځ ددغودواړوکي پرده (چې يوپه بل نه اوړي)﴿ وَحِجْرًا مَّحْجُورًا ﴾ اوبندچې منع کړی شوی دی (په هغه سره

---

(١) القرطبي ١٣/ ٣٩

(٢) تفسيرکبير ٢٤/ ٩١

(٣) په ﴿ صَرَّفْنَٰهُ ﴾ کي ضميرقرآن ته راجع دی که څه هم تېرشوی نه دی ځکه داروښانه دی اوداضميريې هم تاکيدکوي چې ﴿ وَجَٰهِدْهُم بِهِۦ ﴾ چابياويلي چې باران ته راجع دی اودغه ليري برېښي لکه چې په التسهيل کي يې راوړي دي.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

ګډېدل دیوپه بل کي اویااغیزه دخونددیوه بل ته. ابن کثیروایې دآیت شریف معناداچي الله جل جلاله دوه ډوله اوبه پیداکړي چي یوډول یې خوږې اوبل یې تروې دي خوږې لکه دچینو، رودونواوکوهیو، ځاهانواوتروې لکه دلویودریابونوچي نه بهېږي اوددوی ترمینځ یې ځمکه حاجزګرزولي چي یویې بل ته تجاوزنه کوي اوهمدغه دابن جریرغوره دی (١) امام رازي وایې چي دلته استدلال وجه داکېدای شي که چېري دغه خوندونه چي خواږه تروه دي په سبب دځمکي یااوبووي نوبایدیوډول وي اوکه داسي نه وي نوبیادغه دحکیم اوقادرذات کاردی چي هریویې په یومعلوم صفت ځانګړی کړی دی (٢)﴿ وَهُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ مِنَ ٱلْمَآءِ بَشَرًا ﴾ (اوهم دغه (الله) هغه (ذات) دی چي انسان یې له اوبوپیداکړی دی) یعني له نطفې څخه یې اورېدونکی، لیدونکی بشرپنځولی دی ﴿ فَجَعَلَهُۥ نَسَبًا وَصِهْرًا ﴾ (پس ګرزولی یې دی (خاوند) دنسب اوخسرګنی) یعني له یوې نطفې څخه یې دوه ډوله پیداکړي یویې دنارینه وونسب چي دانسان نسبت ورته کېږي چي پلرونه دي اوبله ډله دښځونسب چي دهغوی په خپلوي سخرګنی پېژندل کېږي نوپه نسب باندي یوله بله تعارف حاصلوي اوپه خسرګنی باندي مینه اوالفت پیداکېږي اوغریب له قریب سره یوځای کېږي تولنه جوړېږي ﴿ وَكَانَ رَبُّكَ قَدِيرًا ﴾ اودی رب ستاښه قادرچي له یوې نطفې څخه یې نارینه اوښځینه دواړه پیداکړي دي کله چي الله تعالی دتوحیددلائل شرح کړل بیرته دمشرکانوبدوخویونوته راوګرزېدو ویې فرمایل: ﴿ وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُهُمْ وَلَا يَضُرُّهُمْ ﴾ اوعبادت کوي دامشرکان بې له الله دهغه څه چي نشي رسولی هیڅ قدرنفع دوی ته اونه هیڅ ضررسولی شي (دوی ته) یعني هغه جمادات دي نه ویني نه اوري اونه عقل لري ﴿ وَكَانَ ٱلْكَافِرُ عَلَىٰ رَبِّهِۦ ظَهِيرًا ﴾ اودی کافر (په نافرماني) درب خپل مددګار(دشیطان په معصیت درحمان کي) ځکه دبتانوعبادت دشیطان مرسته کول دي مجاهدوایې معناداچي دی شیطان ته دالله په نافرماني کولواومعصیت کي مدد ورکوي (٣)﴿ وَمَآ أَرْسَلْنَٰكَ إِلَّا مُبَشِّرًا وَنَذِيرًا ﴾ اونه یې لیږلی موږته مګرزېری کونکی (مؤمنانوته په جنت) اووېرونکی (کافرانو) ته په دوزخ ﴿ قُلْ مَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ ﴾ ووایه (ای محمده دوی ته!) نه غواړم زه له تاسي پدې پیغام رسونه) هیڅ قدر اجر او مزدوري ﴿ إِلَّا مَن شَآءَ أَن يَتَّخِذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ سَبِيلًا ﴾ مګر(غواړم ایمان راوړل) دهغه چاچي خوښه یې شي داچي ونیسي طرف درب خپل ته لاره (درضااوطاعت نوریې مزدوري په الله پوردی) ﴿ وَتَوَكَّلْ عَلَى ٱلْحَيِّ ٱلَّذِى لَا يَمُوتُ ﴾ اوتوکل وکړه په تل ژوندي هغه (الله) چي له سره نه مري (هغه ستاچارجوړونکی مرستندوی اوستاددین په تولو دینونوغالبونکی دی ﴿ وَسَبِّحْ بِحَمْدِهِۦ ﴾ اوتسبیح ووایه سره له ثنادده (اوپه پاکي یې وستایه له

---

(١) ابن کثیر ٢/ ٦٣٥

(٢) التفسیرالکبیر ٢٤/ ١٠١

(٣) الطبري ١٩/ ١٧

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

شريكانواواولادكوم چي كفارويې ورته نسبت كړى او ورسره نه ښايې) ﴿ وَكَفَىٰ بِهِۦ بِذُنُوبِ عِبَادِهِۦ خَبِيرًا ﴾ اوبس كافي دى هغه په گناهونودبندگانوخپلوښه خبرداريعني له الله څخه هيڅ شي پټ نه دى. امام رازي وايې چي داهسي كلمه ده چي دمبالغې لپاره راوړل كېږي لكه چي ويل كېږي (كفى بالعلم جمالا) يعني كافي دى علم له جهته دجمال اوښايست يعني ستالپاره همداكافي دى له همده سره دبل چاحاجت اوارتيانشته چي خبرشي ځكه الله يې په ټولوخبرداردى اوپه جزاوركولويې قادردى په دې كي سخت وعيددى (١)﴿ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ ﴾ (هغه الله چي پيداكړي يې دي آسمانونه اوځمكه اوهغه چي په مينځ ددې دواړوكي دي په(مقدار) دشپږو وروځو) يعني دغه سترذات الله چي ښايې ته ورباندي توكل وكړې هغه ذات دى چي آسمانونه اوځمكي يې سره له پراخي اولوړوالي اوپنډوالي ، اوږدوالي ددنيادشپږ ورځوپه اندازه كي پيداكړي دي ابن جبيروايې چي الله پدې قدرت درلودچي په يوه شېبه كي يې پيداكړي خوخپل مخلوق ته يې ديوكارترسره كول په آرامي اوتثبت وروښود (٢)﴿ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ ﴾ بيايې استواء وفرمايله پرعرش (پرته له تشبيه اوتعطيل نه هسي هسي استواء چي دالله له جلال سره ښآئېږي ﴿ ٱلرَّحْمَٰنُ ﴾ (هغه) رحمان (ذوالجود والاحسان دى) ﴿ فَسْـَٔلْ بِهِۦ خَبِيرًا ﴾ پس وپوښته (له دغه رحمانه) كوم ښه خبردارچي دالله جلال اورحمت ورته معلوم وى) اوچابياويلي چي ضميرالله ته راجع دى يعني له دغه الله څخه چي دشيانوپه حقائقوعالم دى پوښتنه وكړه چي دچاري په لوړوالي دي خبركړي (٣)﴿ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱسْجُدُوا۟ لِلرَّحْمَٰنِ ﴾ اوكله چي دوى (مشركانو) ته وويلې شي چي رحمان ته (دعبادت سجده وكړئ! (هغه ذات چي رحمت يې په كائناتوخپوردى) ﴿ قَالُوا۟ وَمَا ٱلرَّحْمَٰنُ ﴾ نووايې (مشركان) رحمان څه څېزدى ؟ ؛ دوى داسي استفهام كوي لكه چي نه يې پېژني حال داچي هغه ورته معلوم دى ﴿ أَنَسْجُدُ لِمَا تَأْمُرُنَا ﴾ آياسجده به كوومو ږ هرهغه څيزته چي ته موږته حكم كوې ؟ (بې له دې چي موږيې وپېژنو) ﴿ وَزَادَهُمْ نُفُورًا ﴾ اوزياتوي دغه (وينادوى ته نفرت ،اوله دين څخه ليري والى).

بلاغت:

پدې آيتونوكي چي دبلاغت اوبديع كومي ښكلاوي شته لنډون يې په لاندي ډول دى:

١- دتهكم اواستهزآء لپاره استفهام لكه ﴿ أَهَٰذَا ٱلَّذِى بَعَثَ ٱللَّهُ رَسُولًا ﴾.

٢- تعجيب لكه چي فرمايې: ﴿ أَرَءَيْتَ مَنِ ٱتَّخَذَ إِلَٰهَهُۥ هَوَىٰهُ ﴾ اودلته دوهم مفعول په لومړي دمخه شوى ترڅويې په شان كي اعتناء اواهتمام شوى وى اصل داچي (اِتخذَ هَوَاهُ الهَاَلهُ) دى.

---

(١) التفسير الكبير ٢٤ / ١٠٣

(٢) التفسير الكبير ٢٤ / ١٠٤

(٣) لومړى وينا څرگنده اودوهمه له مجاهد څخه روايت شوي ده.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

٣- بليغه تشبيه چي پدې کلام کي دی ﴿ جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيۡلَ لِبَاسًا ﴾ شپه يې ګرزولی ستاسو لپاره لباس يعني لکه جامې چي بدن پټوي د تشبيه ادات او د تشبيه وجه حذف شي نو بليغه تشبيه ګڼل کېږي.

٤- لطيفه مقابله چي دليل او نهار او (نوم) او (نشور) ترمينځ راغلي ده چي الله تعالی فرمايي ﴿ جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيۡلَ لِبَاسًا وَٱلنَّوۡمَ سُبَاتًا وَجَعَلَ ٱلنَّهَارَ نُشُورًا ﴾

٥- بديعه او ښکلي اغلي استعاره لکه په ﴿ بَيۡنَ يَدَيۡ رَحۡمَتِهِۦ ﴾ کلام کي شته دلته يې لاسونه دهغه څه لپاره چي ديوځيزپه وړاندي وي استعاره راوړل لکه چي ته وايې دسورت په وړاندي يادموضوع په وړاندي.

٦- له غيبت څخه تکلم ته التفات چي فرمايي ﴿ وَأَنزَلۡنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ ﴾ وروسته له دې ويناچي ﴿ أَرۡسَلَ ٱلرِّيَٰحَ ﴾ راغلي دي

٧- لطيفه اوباريکه مقابله چي پدې کلام کي راځي ﴿ هَٰذَا عَذۡبٞ فُرَاتٞ وَهَٰذَا مِلۡحٌ أُجَاجٞ ﴾ يعني په خوږوالي کي اوتريووالي کي وروستي حد ته رسېدلي.

تنبيه:

د (مَيت) او (مَيّت) چي لومړی په تخفيف اودوهم په تشديدسره دي ترمينځ توپيرداسي دی چي لومړی حقيقي مړي ته وايې او دوهم هغه چي ښايې مړشي الله تعالی فرمايي ﴿ إِنَّكَ مَيِّتٞ وَإِنَّهُم مَّيِّتُونَ ﴾

***

الله تعالی فرمايي:

﴿ تَبَارَكَ ٱلَّذِي جَعَلَ فِي ٱلسَّمَآءِ بُرُوجٗا وَجَعَلَ فِيهَا سِرَٰجٗا وَقَمَرٗا مُّنِيرٗا ﴿٦١﴾ وَهُوَ ٱلَّذِي جَعَلَ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ خِلۡفَةٗ لِّمَنۡ أَرَادَ أَن يَذَّكَّرَ أَوۡ أَرَادَ شُكُورٗا ﴿٦٢﴾ وَعِبَادُ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلَّذِينَ يَمۡشُونَ عَلَى ٱلۡأَرۡضِ هَوۡنٗا وَإِذَا خَاطَبَهُمُ ٱلۡجَٰهِلُونَ قَالُواْ سَلَٰمٗا ﴿٦٣﴾ وَٱلَّذِينَ يَبِيتُونَ لِرَبِّهِمۡ سُجَّدٗا وَقِيَٰمٗا ﴿٦٤﴾ وَٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا ٱصۡرِفۡ عَنَّا عَذَابَ جَهَنَّمَۖ إِنَّ عَذَابَهَا كَانَ غَرَامًا ﴿٦٥﴾ إِنَّهَا سَآءَتۡ مُسۡتَقَرّٗا وَمُقَامٗا ﴿٦٦﴾ وَٱلَّذِينَ إِذَآ أَنفَقُواْ لَمۡ يُسۡرِفُواْ وَلَمۡ يَقۡتُرُواْ وَكَانَ بَيۡنَ ذَٰلِكَ قَوَامٗا ﴿٦٧﴾ وَٱلَّذِينَ لَا يَدۡعُونَ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ وَلَا يَقۡتُلُونَ ٱلنَّفۡسَ ٱلَّتِي حَرَّمَ ٱللَّهُ إِلَّا بِٱلۡحَقِّ وَلَا يَزۡنُونَۚ وَمَن يَفۡعَلۡ ذَٰلِكَ يَلۡقَ أَثَامٗا ﴿٦٨﴾ يُضَٰعَفۡ لَهُ ٱلۡعَذَابُ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَيَخۡلُدۡ فِيهِۦ مُهَانًا ﴿٦٩﴾ إِلَّا مَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ عَمَلٗا صَٰلِحٗا فَأُوْلَٰٓئِكَ يُبَدِّلُ ٱللَّهُ سَيِّـَٔاتِهِمۡ حَسَنَٰتٖۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ﴿٧٠﴾ وَمَن تَابَ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا فَإِنَّهُۥ يَتُوبُ إِلَى ٱللَّهِ مَتَابٗا ﴿٧١﴾ وَٱلَّذِينَ لَا يَشۡهَدُونَ ٱلزُّورَ وَإِذَا مَرُّواْ بِٱللَّغۡوِ مَرُّواْ كِرَامٗا ﴿٧٢﴾ وَٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُواْ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمۡ لَمۡ يَخِرُّواْ عَلَيۡهَا صُمّٗا وَعُمۡيَانٗا ﴿٧٣﴾ وَٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا هَبۡ لَنَا مِنۡ أَزۡوَٰجِنَا وَذُرِّيَّٰتِنَا قُرَّةَ أَعۡيُنٖ وَٱجۡعَلۡنَا لِلۡمُتَّقِينَ إِمَامًا ﴿٧٤﴾ أُوْلَٰٓئِكَ يُجۡزَوۡنَ ٱلۡغُرۡفَةَ بِمَا صَبَرُواْ

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

وَيُلَقَّوْنَ فِيهَا تَحِيَّةً وَسَلَٰمًا ﴿٧٥﴾ خَٰلِدِينَ فِيهَا ۚ حَسُنَتْ مُسْتَقَرًّا وَمُقَامًا ﴿٧٦﴾ قُلْ مَا يَعْبَؤُا۟ بِكُمْ رَبِّى لَوْلَا دُعَآؤُكُمْ ۖ فَقَدْ كَذَّبْتُمْ فَسَوْفَ يَكُونُ لِزَامًۢا ﴿٧٧﴾ ﴾ الفرقان: ٦١ ـ ٧٧

مناسبت اوتړاو:

کله چې الله تعالی دمشرکانو درحمان ذات له عبادت څخه څنګ کول بیان کړل ورپسې یې دالله په وحدانیت باندې دکائناتو څرګند دلائل راوړل اودسورت پای یې دالله دسپېڅلوبندګانو په صفتونو چې هغوی یې دجنت وړاولائق ګرزولي وفرمایو.

لغتونه:

(بروجا) دستورومنزلونوته بروج څکه وایې چې دغه لکه لوړقصرونه غوندې وي اودغه ځایونه دستورولپاره داسې لکه داوسېدونکولپاره چې مانۍ اوقلاګانې وي (غراما) لازم اونه بېلېدونکي پوروړي ته څکه غریم وایې چې هغه هم دبېلېدلونه وي (الغرفة) په جنت کې ستري درجې ته وایې اوپه لغت کې بالاخانې اولوړې خونې ته وایې (یعبا) پرواکول ابوعبیده وایې چې ددې کلام چې ووایې (ماأعبأبه) معناداچې (زه ورباندې پروانکوم) یعنې وجوداوعدم یې ماته برابردي (عبء) په لغت کې دروندوالي ته وایې (لزاما) تل ترتله ملازم اوملګری.

تفسیر:

﴿ تَبَارَكَ ٱلَّذِى جَعَلَ فِى ٱلسَّمَآءِ بُرُوجًا ﴾ (لوی برکتناک دی هغه ذات چې په آسمان کې یې برجونه پیداکړي دي) یعنې پاکې اولویې هغه ذات لره دی چې په آسمان کې یې دغه ستررونبانه ستورې پیداکړي دي[1] ﴿ وَجَعَلَ فِيهَا سِرَٰجًا وَقَمَرًا مُّنِيرًا ﴾ (اوپیداکړي یې ده په هغه کې ډېوه (لمر) او سپوږمۍ سپوږمۍ روښانه) یعنې څلېدونکی لمرپه ورځ اورڼاکونکي سپوږمۍ دشپې ﴿ وَهُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ خِلْفَةً ﴾ اوهمداالله هغه ذات دی چې ګرزولي یې ده شپه اوورځ پله پسې. طبري وایې چې شپه اوورځ چې یوپه بل پسې راځي نودچاچې کوم کاردورځې نیمګړی شي هغه په شپه کې بشپړوي[2] ﴿ لِّمَنْ أَرَادَ أَن يَذَّكَّرَ أَوْ أَرَادَ شُكُورًا ﴾ دپاره دهغه چاچې اراده لري ددې چې یادکړي (نعمتونه درب او فکروکړي دالله په مصنوعاتوکې) یااراده لري دشکرایستلو ﴿ وَعِبَادُ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلَّذِينَ يَمْشُونَ عَلَى ٱلْأَرْضِ هَوْنًا ﴾ (اوبندګان درحمان هغه کسان دي چې په څمکه باندې په وروګرزي) دلته اضافت دتشریف لپاره دی یعنې هغه بندګان چې الله یې خوښوي اوالله ته په نسبت کولوښایې اووړدي داهغه کسان دي چې په څمکه باندې په عزت اووقاردرومي په نازغروراوتکبرتګ نکوي ﴿ وَإِذَا خَاطَبَهُمُ ٱلْجَٰهِلُونَ

---

(۱) مجاهدوایې مرادله بروجوستوري دي اوابن عباس اوعلی رضی الله عنهماوایې چې مقصددستورومېشت ځایونه دي ابن کثیروایې چې لومړی قول څرګنددی.
(۲) الطبري ۱۹/ ۲۰

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

قَالُوا۟ سَلَٰمًا ﴾ اوکله چي خطاب کوي له دوی سره ناپوهان) (په غلظت سره) نووايي (ورته سلام (خبره مسالمه له ګناه اوضرره) حسن وايي چي له هيچاسره له جهله کارنه اخلي اوبل څوک چي له دوی سره له جهله کاراخلي دوی يې زغمي ﴿ وَٱلَّذِينَ يَبِيتُونَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا وَقِيَٰمًا ﴾ اوبندګان (درحمان) هغه کسان دي چي شپه تېروي خپل پروردګارته سجده کونکي اودرېدونکي ؛ يعني دوی شپه په لمانځه رنوي چي ياسجدې کوي ياپه قيام وي لکه چي الله بل ځای فرمايي ﴿ كَانُوا۟ قَلِيلًا مِّنَ ٱلَّيْلِ مَا يَهْجَعُونَ ﴾ (الذاريات ١٧) امام رازي وايي چي کله يې دمؤمنانو ورځني صفات چي خلګوته تکليف نه رسوي اوپخپله دخلګوتکاليف زغمي وستايل وروسته يې ددوی دشپې صفتونه چي دالله په چوپړ(خدمت) کي لګياوي راوړل(١)﴿ وَٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا ٱصْرِفْ عَنَّا عَذَابَ جَهَنَّمَ ﴾ (اوبندګان درحمان) هغه کسان دي چي وايي ای زموږ ربه وګرزوه له موږ څخه عذاب ددوزخ) يعني الله ته مناجات کوي اودُعاوي کوي چي دوزخ عذاب ورڅخه دفع کړي ﴿ إِنَّ عَذَابَهَا كَانَ غَرَامًا ﴾ بېشکه عذاب ددغه (دوزخ)لازم دی تل ترتله ﴿ إِنَّهَا سَآءَتْ مُسْتَقَرًّا وَمُقَامًا ﴾ بېشکه دا(دوزخ) بددی له جهته دځای دقراراوهستوګني. قرطبي وايي ددې معناداچي دغه بدمستقراومقام دی بل داچي دوی سره له طاعته دالله له عذاب څخه وېرېږي(٢) حسن رحمه الله وايي چي دوی دورځي تواضع اودشپې ربړونه ګالي ځکه چي دجهنم له عذابه وېرېږي ﴿ وَٱلَّذِينَ إِذَآ أَنفَقُوا۟ لَمْ يُسْرِفُوا۟ وَلَمْ يَقْتُرُوا۟ ﴾ او(بندګان درحمان) هغه کسان دي کله چي نفقه ورکوي مال لګوي نونه اسراف کوي اونه تنګي (اوبخل) کوي دغه ددوی پنځم صفت دی معناداچي نه په خوړلو، څښلواواغوستلوکي اسراف کونکي اومبذرين وي اونه هم بخيلان اوکنجوس خلګ ﴿ وَكَانَ بَيْنَ ذَٰلِكَ قَوَامًا ﴾ اووي (دغه ددوی ورکړه) په مينځ ددغه (اسراف اوبخل) کي ميانه حاله، لکه چي الله تعالی بل ځای فرمايي: ﴿ وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُولَةً إِلَىٰ عُنُقِكَ وَلَا تَبْسُطْهَا كُلَّ ٱلْبَسْطِ ﴾ (الاسرآء٢٩) مجاهدوايي که دالله په طاعت کي لکه دابي ڤبيس غر غوندي مال ولګوي هم اسراف نه دی اوکه يوه پيمانه دالله په معصيت کي ولګوي هم اسراف دی (٣)﴿ وَٱلَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ ﴾ او(بندګان درحمان) هغه کسان دي چي نه بولي له الله سره بل معبود(بلکه يوازي دالله عبادت کوي) ﴿ وَلَا يَقْتُلُونَ ٱلنَّفْسَ ٱلَّتِى حَرَّمَ ٱللَّهُ إِلَّا بِٱلْحَقِّ ﴾ اونه وژني دوی هغه نفس چي الله حرام کړی وی (وژل دهغه) مګرپه حق سره (چي هغه حق قتل کفر وروسته له ايمان اويازنادی وروسته له احصان اويابی په قصاص کي قتل کوي) ﴿ وَلَا يَزْنُونَ ﴾ اونه کوي دوی زنا(هغه چي ترګردوګناهونوناولي ده) ﴿ وَمَن

---

(١) التفسيرالکبير٢٤ / ١٠٨

(٢) القرطبي ١٣ / ٧٣

(٣) الطبري ١٩ / ٢٣ دغه دهغه چاپه قول چي داسراف معنايې لګول په معصيت کي کړي ده اوهمدې ته ځيني مفسرين تللي اوله ابن عباس رضی الله عنهما څخه هم رانقل شوي دي خولومړنی وينا څرګنده ده.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

يَفْعَلْ ذَٰلِكَ يَلْقَ أَثَامًا ﴾ اوهرچاچي وکړه (يوله دغوسترو مُوبقاتو چي شرک ، قتل اوزناده) نوپيدابه کړي جزآء دګناه خپلي (په آخرت کي اوبيايې دهغه تفسير هسي وفرمايو: ﴿ يُضَٰعَفْ لَهُ ٱلْعَذَابُ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ وَيَخْلُدْ فِيهِۦ مُهَانًا ﴾ چي دوچندبه کړی شي ده ته عذاب (ددوزخ) په ورځ دقيامت کي (په سبب دشرک اوګناه) اوتل به پاتي وي په دغه (عذاب) کي پداسي حال کي چي خوارذليل اوبې اعتباره به وي ﴿ إِلَّا مَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَٰلِحًا ﴾ مګرهغه چي توبه يې وايستله اوايمان يې راوړ اوعمل يې وکړعمل نېک(په دنياکي)﴿ فَأُوْلَٰٓئِكَ يُبَدِّلُ ٱللَّهُ سَيِّـَٔاتِهِمْ حَسَنَٰتٍ ﴾ پس دغه (تائبان) چي دي) بدل به کړي الله ګناهونه ددوی په نېکيوسره؛ په حديث شريف کي راځي : انی لأعلم آخرأهل الجنة دخولا الجنة وآخراهل النارخروجامنها، رجل يؤتی به يوم القيامة فيقال أعرضواعليه صغارذنوبه وارفعواعنه كبارها فتعرض عليه صغارذنوبه فيقال عملتَ يوم كذاوكذا فيقول : نعم لايستطيع أن ينكروهومشفق من كبارذنوبه فيقال له فان لک مكان كل سيئة حسنة فيقول يارب قدعملتُ اشياء لاأراهاهنا قال : فضحک رسول الله (صلى الله عليه وآله وسلم) حتى بدت نواجذه (١) رسول الله فرمايي : ماته هغه څوک چي ترټولووروسته به جنت ته ځي اوله دوزخه به راووزي معلوم دی يوڅوک به په قيامت راوستل شي اووبه ويل شي واړه ګناهونه يې راڅرګنداوغټ ګناهونه يې ليري کړئ نوبه يې صغيره ګناوي مخي ته کښېږدي اوورته وبه وايې چي په فلانی ورځ دي هسي، هسي اوهسي کړي دي نوهغه وايې هودمنکرېدلوتوان نلري اوله کبيره ګناهونو څخه وېرېږي نوهغه ته به وويل شي ستاد هري ګناه پرځای نېکي درکول شوه هغه به وايې ای پروردګاره مانوري ګناوي کړي چي دلته يې نه وينم وايې : چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وخندل ترڅوچي مبارک غاښونه يې څرګندشول. ﴿ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴾ اودی الله ښه مغفرت کونکی ډېر رحم والا ﴿ وَمَن تَابَ وَعَمِلَ صَٰلِحًا فَإِنَّهُۥ يَتُوبُ إِلَى ٱللَّهِ مَتَابًا ﴾ مګرهغه چي توبه وباسي له ګناهونو اونېک عمل وکړي پس بېشکه چي دی رجوع کوي په طرف دالله په ښه رجوع کولوسره (دالله په دربارکي به له خوښ کړی شوي کسانوڅخه وي) ﴿ وَٱلَّذِينَ لَا يَشْهَدُونَ ٱلزُّورَ ﴾ (او(بندګان درحمان) هغه کسان دي چي نه حاضرېږي په باطلوکي) دغه دعبادالرحمن اووم صفت دی چي دوی په دروغو شاهدي نه وايې هغه شاهدي چي په هغې کي دبندګانو حقوق ضائع کېږي ﴿ وَإِذَا مَرُّواْ بِٱللَّغْوِ مَرُّواْ كِرَامًا ﴾ (اوکله چي په چتي (بېکاره) کارتېرېږي نوتېرېږي ځان ساتونکي) يعني کله چي دلهوپر مجالسو، سېنما، قمار، موسيقي اونوروچتياتوتېرېږي له هغوڅخه څنګ کوي طبري وايې لغوهر باطل کاراووينااوهغه چی بد ايسی لکه ښکنځا کولوته وايې په ځيني ځايونوکي دعورت يادونه دهغه په نوم لغو اودسندرواورېدل هم قبيح څېزونه دي اودغه ټول دلغوي په مفهوم کي راځي چي لازم دی مسلمان ځني ځان وژغوري

---

(١) أخرجه مسلم

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

(١)﴿ وَٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُواْ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمْ ﴾ او(بندگان درحمان) هغه کسان دي کله چي پندورکړل شي دوی ته په آیتونودرب ددوی (په قرآنکریم اووربانديووپرول شي) ﴿ لَمْ يَخِرُّواْ عَلَيْهَا صُمًّا وَعُمْيَانًا ﴾ نونه نسکوربږي پرې (لکه) کانه اوړانده (بلکه په شنوا غوږونو يې اوري اوپه وپرېدونکي زړونويې مني ﴿ وَٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ أَزْوَٰجِنَا وَذُرِّيَّٰتِنَا قُرَّةَ أَعْيُنٍ ﴾ او(بندگان درحمان) هغه کسان دي چي وايې ای زموږربه وبښه موږته له ښځوزموږڅخه اوله اولادونوزموږڅخه (هغه څوک طاعت کونکي اوستا دخوښي عبادت کونکي چي) زموږدسترګويخوالی پکي راځي ﴿ وَٱجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا ﴾اووګرځوه موږدمتقيانولپاره امام پېشوا(چي راپسی اقتداءکوي اودخيرلاري ته بلونکي او لارښوونکي يو. ابن عباس رضی الله عنهما وايې معناداچي داسي پېشوايان موجوړکړه چي دخيرپه کارونوکي راپسې اقتداء کول کېږي ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ يُجْزَوْنَ ٱلْغُرْفَةَ بِمَا صَبَرُواْ ﴾ دغه کسان (چي پدې لوړوصفاتوموصوف دي) جزآء به ورکوله شي دوی ته په هسکومانيو(دجنت) په سبب دهغه چي صبريې کړی وو(دالله په حکمونواوطاعت کولو) ﴿ وَيُلَقَّوْنَ فِيهَا تَحِيَّةً وَسَلَٰمًا ﴾ اووابه اچولی شي پردوی په دغه جنت کي تحيه ددعاء اوسلام (دملائکوله خوالکه چي الله تعالی فرمايې ﴿ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ يَدْخُلُونَ عَلَيْهِم مِّن كُلِّ بَابٍ ﴾ دآيت ترپايه (الرعد ٢٣) ﴿ خَٰلِدِينَ فِيهَا حَسُنَتْ مُسْتَقَرًّا وَمُقَامًا ﴾ همېشه به وي دوی په دغه (جنت) کي (نه به مړه کېږي اونه به له جنت څخه بهرايستل کېږي) ښه دی دغه (جنت) له جهته دځای دقراري اوله جهته دځای دهستوګني (لپاره دمتقيانومؤمنانو) ﴿ قُلْ مَا يَعْبَؤُاْ بِكُمْ رَبِّي لَوْلَا دُعَآؤُكُمْ ﴾ روايه(ای محمده دوی ته چي) نه کوي هيڅ پروادتاسي رب زماکه چېري نه وای دعابلل ستاسي (الله ته) په سختيواوکړاوونوکي) ﴿ فَقَدْ كَذَّبْتُمْ فَسَوْفَ يَكُونُ لِزَامًا ﴾ اوپه تحقيق تکذيب کړی دی تاسي (درسولانواوقرآن ای کفارو) پس ژربه شي (داعذاب له تاسي سره جزادتکذيب) لازم(په آخرت کي).

بلاغت:

پدې آيتونوکي چي دبلاغت اوبديع څه ښکلاوی شته لنډون يې دادی:

١-دتشريف لپاره اضافت لکه ﴿ وَعِبَادُ ٱلرَّحْمَٰنِ ﴾ چي راغلی.

٢-دطباق صنعت چي دسجوداوقيام اواسراف,تقتيرترمينځ دی لکه چي ﴿ سُجَّدًا وَقِيَامًا ....يُسْرِفُواْ وَلَمْ يَقْتُرُواْ ﴾ دی.

٣-لطيفه مقابله داهل جنت اواهل نارترمينځ لکه ﴿ حَسُنَتْ مُسْتَقَرًّا وَمُقَامًا ﴾ دجنتيانوپه باب او ﴿ سَآءَتْ مُسْتَقَرًّا وَمُقَامًا ﴾ ددوزخيانو لپاره.

---

(١) الطبري ٣٢/١٩

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

۴ - بدیعه استعاره لکه ﴿ لَمْ يَخِرُّوا عَلَيْهَا صُمًّا وَعُمْيَانًا ﴾ یعني دوی له وېرونکو تهدیدونو څخه غافل نشول چي لکه کانه اوړانده غوندي شي اودغه له خورابنو استعاراتو څخه دی.

۵ - کنایه لکه چي ﴿ قُرَّةَ أَعْيُنٍ ﴾ راغلی چي له خوښي څخه کنایه ده لکه همداسي چي ﴿ ٱلْغُرْفَةَ ﴾ دجنت له لوړو پوړیو څخه کنایه ده.

تنبیه:

قرطبي وایي: الله تعالی د(عبادالرحمن) یوولس اوڅارښکاره صفتونه کړي چي په هغوکي تحلي اوتخلي ده داصفتونه تواضع، حلم، تهجد، وېره، داسراف اوبخل پرېښودنه اوله شرک څخه لیري والی اوله زنااو قتل څخه ځان ژغورل، توبه کول اوله دروغو څان ساتل اودمواعظو منل اوالله ته په تضرع دعا کول دي بیاالله ددوی ښایسته ثوابونه اوپه جنت کي لوړي درجې ستایلي لکه چي (غرفه) ددنیاهغه ستراو اوچت لوړ(هسک) مسکن بالاخانې ته وایي.

دالله جل جلاله په مرسته دالفرقان سورت تفسیربشپړشو.

دالشعرآء سورت مکي اودوه سوه اوه ویشت آیتونه لري

دسورت په وړاندي:

سورة شعرآء مکي سورت دی اوددین بنسټیزی چاري لکه توحید، رسالت اوبعث څېړي اودنورو مکي سورتونو په شان دعقیدې اودایمان پرتاداواوبنسټ اهتمام کوي.

* دغه مبارک سورت دقرآنکریم په باب پیل کېږي هغه سپېڅلی کتاب چي الله تعالی دخلکولپاره لارښوداودګردو رنځونولپاره علاج رااستولی دی اودهغه په وړاندي یې دمشرکانودریزڅرګندکړی چي هغوی ددغه کتاب تکذیب کړی سره له دې چي آیتونه یې ښکاره اوبرهانونه یې څرګنددي اوبیادانبیې چي دوی دعناداوتکبرله مخي له قرآنکریم څخه پرته بله معجزه غوښتله

* وروسته بیادیوې ډلي پیغمبرانوعلیهم السلام څخه رغېږي هغه چي الله تعالی دبشریت دلارښووني لپاره رااستولي وواودحضرت موسی په کیسه یې پیل کوي کوم چي له سرغړونکي فرعون سره یې مقابله وه اوڅه چي ددوی دواړوترمینځ سوال اوځواب کېدواودالله جل جلاله دذات په هکله یې خبري کولې همداسي دموسی علیه السلام هغه کوټلي دلائل چي دباطل ملایې ماتوله راوړي اوهمداسي دکیسې په ترڅ کي یې ځیني دپنداونصیحت کړی هم راوړي چي دایمان اوطغیان ترمینځ سترتوپیربیان کړي.

* له دې نه پس بیادابراهیم خلیل الله کیسه رااخلي اودهغه دریزدخپل پلاراوتېرپه هکله چي دبتانو عبادت یې کاووښیې اوهغه چي ده دخپل ښکلي بیان اوغښتلي دلیل په سبب ددوی دعقیدې باطل والی وښوودایې ثابته کړه چي الله جل جلاله واحدلاشریک دی رب العالمین دی دهغه په لاس کي مرګ اوژوندا ونفع اوضرردی.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

• بیاد متقیانو او منکرانو حال احوال او په آخرت کي دنېکمرغه او بدمرغانو دواړو ډلو هستوګنځی او مآل راوړي.

کله چي سورت دانبیاوو علیهم السلام کیسې تعقیبوي چي دنوح ، هود ، صالح ، لوط او شعیب علیهم السلام کیسې دي نو په ترڅ کي یې هغه دالله تعالی سنت چي دانبیاوو دروغجن ګڼونکي هلاکوي رااخلي او په پای کي بیرته دهمدغه سپېڅلي کلام په شان کي داهتمام او پاملرني په توګه راګرزي چي تفخیم او تعظیم یې وښیي او دصدورځای یې بیان کړي فرمایي: ﴿ وَإِنَّهُۥ لَتَنزِيلُ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٩٢﴾ نَزَلَ بِهِ ٱلرُّوحُ ٱلْأَمِينُ ﴿١٩٣﴾ عَلَىٰ قَلْبِكَ لِتَكُونَ مِنَ ٱلْمُنذِرِينَ ﴿١٩٤﴾ بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُّبِينٍ ﴿١٩٥﴾ ﴾ او بیاد مشرکانو په افتراګانو باندي ټکونه کوي چي دوی به ویل دغه قرآن شیطانانو راکوز کړی دی پدې سره همداډول دسورت دپیل او پای دپېیلو او تناسق ښکلاله ورایه څرګنده ده.

تسمیه او نومول یې:

دغه سورت ته څکه سورت شعراء وایې چي الله پاک پکي دشاعرانو یادونه کړي او هغه هم پدې چي مشرکانو به ویل محمد شاعردی او څه چي یې راوړي هم شعري کلام دی نوالله ددوی ددغو دروغو اوبهتان تردید وفرمایل چي ﴿ وَٱلشُّعَرَآءُ يَتَّبِعُهُمُ ٱلْغَاوُۥنَ ﴿٢٢٤﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّهُمْ فِى كُلِّ وَادٍ يَهِيمُونَ ﴿٢٢٥﴾ وَأَنَّهُمْ يَقُولُونَ مَا لَا يَفْعَلُونَ ﴿٢٢٦﴾ ﴾ او په همدغه ویناحق ښکاره او څرګند شو.

الله تعالی فرمایي:

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ طسٓمٓ ﴿١﴾ تِلْكَ ءَايَٰتُ ٱلْكِتَٰبِ ٱلْمُبِينِ ﴿٢﴾ لَعَلَّكَ بَٰخِعٌ نَّفْسَكَ أَلَّا يَكُونُوا۟ مُؤْمِنِينَ ﴿٣﴾ إِن نَّشَأْ نُنَزِّلْ عَلَيْهِم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ ءَايَةً فَظَلَّتْ أَعْنَٰقُهُمْ لَهَا خَٰضِعِينَ ﴿٤﴾ وَمَا يَأْتِيهِم مِّن ذِكْرٍ مِّنَ ٱلرَّحْمَٰنِ مُحْدَثٍ إِلَّا كَانُوا۟ عَنْهُ مُعْرِضِينَ ﴿٥﴾ فَقَدْ كَذَّبُوا۟ فَسَيَأْتِيهِمْ أَنۢبَٰٓؤُا۟ مَا كَانُوا۟ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ﴿٦﴾ أَوَلَمْ يَرَوْا۟ إِلَى ٱلْأَرْضِ كَمْ أَنۢبَتْنَا فِيهَا مِن كُلِّ زَوْجٍ كَرِيمٍ ﴿٧﴾ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٨﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٩﴾ وَإِذْ نَادَىٰ رَبُّكَ مُوسَىٰٓ أَنِ ٱئْتِ ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٠﴾ قَوْمَ فِرْعَوْنَ ۚ أَلَا يَتَّقُونَ ﴿١١﴾ قَالَ رَبِّ إِنِّىٓ أَخَافُ أَن يُكَذِّبُونِ ﴿١٢﴾ وَيَضِيقُ صَدْرِى وَلَا يَنطَلِقُ لِسَانِى فَأَرْسِلْ إِلَىٰ هَٰرُونَ ﴿١٣﴾ وَلَهُمْ عَلَىَّ ذَنۢبٌ فَأَخَافُ أَن يَقْتُلُونِ ﴿١٤﴾ قَالَ كَلَّا ۖ فَٱذْهَبَا بِـَٔايَٰتِنَآ ۖ إِنَّا مَعَكُم مُّسْتَمِعُونَ ﴿١٥﴾ فَأْتِيَا فِرْعَوْنَ فَقُولَآ إِنَّا رَسُولُ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٦﴾ أَنْ أَرْسِلْ مَعَنَا بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿١٧﴾ قَالَ أَلَمْ نُرَبِّكَ فِينَا وَلِيدًا وَلَبِثْتَ فِينَا مِنْ عُمُرِكَ سِنِينَ ﴿١٨﴾ وَفَعَلْتَ فَعْلَتَكَ ٱلَّتِى فَعَلْتَ وَأَنتَ مِنَ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿١٩﴾ قَالَ فَعَلْتُهَآ إِذًا وَأَنَا۠ مِنَ ٱلضَّآلِّينَ ﴿٢٠﴾ فَفَرَرْتُ مِنكُمْ لَمَّا خِفْتُكُمْ فَوَهَبَ لِى رَبِّى حُكْمًا وَجَعَلَنِى مِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿٢١﴾ وَتِلْكَ نِعْمَةٌ تَمُنُّهَا عَلَىَّ أَنْ عَبَّدتَّ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿٢٢﴾ قَالَ فِرْعَوْنُ وَمَا رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٢٣﴾ قَالَ رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَآ ۖ إِن كُنتُم مُّوقِنِينَ ﴿٢٤﴾ قَالَ لِمَنْ حَوْلَهُۥٓ أَلَا تَسْتَمِعُونَ ﴿٢٥﴾

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

قَالَ رَبُّكُمْ وَرَبُّ ءَابَآئِكُمُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٢٦﴾ قَالَ إِنَّ رَسُولَكُمُ ٱلَّذِىٓ أُرْسِلَ إِلَيْكُمْ لَمَجْنُونٌ ﴿٢٧﴾ قَالَ رَبُّ ٱلْمَشْرِقِ وَٱلْمَغْرِبِ وَمَا
بَيْنَهُمَآ ۖ إِن كُنتُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٢٨﴾ قَالَ لَئِنِ ٱتَّخَذْتَ إِلَٰهًا غَيْرِى لَأَجْعَلَنَّكَ مِنَ ٱلْمَسْجُونِينَ ﴿٢٩﴾ قَالَ أَوَلَوْ جِئْتُكَ بِشَىْءٍ مُّبِينٍ
﴿٣٠﴾ قَالَ فَأْتِ بِهِۦٓ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٣١﴾ فَأَلْقَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا هِىَ ثُعْبَانٌ مُّبِينٌ ﴿٣٢﴾ وَنَزَعَ يَدَهُۥ فَإِذَا هِىَ بَيْضَآءُ
لِلنَّٰظِرِينَ ﴿٣٣﴾ قَالَ لِلْمَلَإِ حَوْلَهُۥٓ إِنَّ هَٰذَا لَسَٰحِرٌ عَلِيمٌ ﴿٣٤﴾ يُرِيدُ أَن يُخْرِجَكُم مِّنْ أَرْضِكُم بِسِحْرِهِۦ فَمَاذَا تَأْمُرُونَ
﴿٣٥﴾ قَالُوٓا۟ أَرْجِهْ وَأَخَاهُ وَٱبْعَثْ فِى ٱلْمَدَآئِنِ حَٰشِرِينَ ﴿٣٦﴾ يَأْتُوكَ بِكُلِّ سَحَّارٍ عَلِيمٍ ﴿٣٧﴾ فَجُمِعَ ٱلسَّحَرَةُ لِمِيقَٰتِ
يَوْمٍ مَّعْلُومٍ ﴿٣٨﴾ وَقِيلَ لِلنَّاسِ هَلْ أَنتُم مُّجْتَمِعُونَ ﴿٣٩﴾ لَعَلَّنَا نَتَّبِعُ ٱلسَّحَرَةَ إِن كَانُوا۟ هُمُ ٱلْغَٰلِبِينَ ﴿٤٠﴾ فَلَمَّا جَآءَ ٱلسَّحَرَةُ
قَالُوا۟ لِفِرْعَوْنَ أَئِنَّ لَنَا لَأَجْرًا إِن كُنَّا نَحْنُ ٱلْغَٰلِبِينَ ﴿٤١﴾ قَالَ نَعَمْ وَإِنَّكُمْ إِذًا لَّمِنَ ٱلْمُقَرَّبِينَ ﴿٤٢﴾ قَالَ لَهُم مُّوسَىٰٓ أَلْقُوا۟ مَآ أَنتُم
مُّلْقُونَ ﴿٤٣﴾ فَأَلْقَوْا۟ حِبَالَهُمْ وَعِصِيَّهُمْ وَقَالُوا۟ بِعِزَّةِ فِرْعَوْنَ إِنَّا لَنَحْنُ ٱلْغَٰلِبُونَ ﴿٤٤﴾ فَأَلْقَىٰ مُوسَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا هِىَ تَلْقَفُ
مَا يَأْفِكُونَ ﴿٤٥﴾ فَأُلْقِىَ ٱلسَّحَرَةُ سَٰجِدِينَ ﴿٤٦﴾ قَالُوٓا۟ ءَامَنَّا بِرَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٤٧﴾ رَبِّ مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ﴿٤٨﴾ قَالَ ءَامَنتُمْ لَهُۥ قَبْلَ أَنْ
ءَاذَنَ لَكُمْ ۖ إِنَّهُۥ لَكَبِيرُكُمُ ٱلَّذِى عَلَّمَكُمُ ٱلسِّحْرَ فَلَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ۚ لَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُم مِّنْ خِلَٰفٍ وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ أَجْمَعِينَ
﴿٤٩﴾ قَالُوا۟ لَا ضَيْرَ ۖ إِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا مُنقَلِبُونَ ﴿٥٠﴾ إِنَّا نَطْمَعُ أَن يَغْفِرَ لَنَا رَبُّنَا خَطَٰيَٰنَآ أَن كُنَّآ أَوَّلَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٥١﴾

الشعراء: ١ - ٥١

لغتونه:

(باخع) هلاکونکی (بخع) اصلا دمذبوح وروستی مری پریکولوته وایې (فعلتک) (فَعلة) دفاپه زورسره دکرت لپاره راځي (تلقف) ترستوني تېرولوته وایې (یأفکون) له افک څخه اوهغه دروغوته وایې (لاضیر) ضیراوضررپه یوه معنادی یعني تاوان نشته جوهري وایې چي (ضارة) یضورة (ضیرا) معناداچي ورته یې ضررورساوو (منقلبون) راګرزېدونکي (من خلاف) یعني داندامونوترمینځ به دغوڅولوپه وخت کي یودبل په خلاف پرېکوي چي ښی لاس اوکیڼه پښه به غوڅوي.

تفسیر:

﴿ طسٓمٓ ﴾ دغه دقرآنکریم اعجازته اشاره ده چي داکلام له داسي هجائي توروڅخه جوړشوی دی(١)﴿ تِلْكَ ءَايَٰتُ ٱلْكِتَٰبِ ٱلْمُبِينِ ﴾ دا(آیتونه ددې سورت) آیتونه دي دکتاب ښکاره کونکي (چي څوک ورته فکراوتأمل کوي اعجاز یې څرګندوی) ﴿ لَعَلَّكَ بَٰخِعٌ نَّفْسَكَ أَلَّا يَكُونُوا۟ مُؤْمِنِينَ ﴾ ښایې چي ته دخپل ځان هلاکونکی یې پدې چي دوی نه مؤمنان کېږي ؛ پدې کي درسول الله صلی الله علیه وسلم لپاره تسلیت اوډاډینه ده ترڅوددوی په ایمان نه راوړلوخفه نشي ﴿ إِن نَّشَأْ نُنَزِّلْ عَلَيْهِم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ ءَايَةً ﴾ که موږاراده وفرمایونوبه پردوی دآسمان له لوري یودلیل (دقدرت) نازل کړو(چي په زوره دوی اسلام ته

(١) وګوره هغه څه چي موږپدې هکله دالبقره سورت په پیل کي لیکلي په هغه کي بسنه اوکفایت دی.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

رامات کړي ﴿ فَظَلَّتْ أَعْنَـٰقُهُمْ لَهَا خَـٰضِعِينَ ﴾ پس شي به ورمېږونه ددوی هغه (دليل دقدرت ته) غاړه ايښودونکي (په زور اوجبرسره مګرموږهسي نه کووځکه چي دايمان راوړل اختياري دی جبري اواضطراري نه دی صاوي وايې معناداچي ته ددوی دايمان په نه راوړلومه خوابدی کېږه که موږوغواړوپه زوره هم ايمان ورباندي راوړلای شوچي کومه معجزه به راواستوواوپه زړونوبه يې اغيزوکړي اوپه زوره به ايمان راوړي خودددوی بدمرغي ازلي ده نوددوی په کفرخواشيني مه کوه (١)﴿ وَمَا يَأْتِيهِم مِّن ذِكْرٍ مِّنَ ٱلرَّحْمَـٰنِ مُحْدَثٍ ﴾ (اونه راځي دوی ته هيڅ ذکرپندوعظ له (لوري) درحمان نوی) يعني دغوکفاروته يوڅه دقرآن اووحی څخه په نزول (٢) کي وخت په وخت نوی نه راځي ﴿ إِلَّا كَانُوا۟ عَنْهُ مُعْرِضِينَ ﴾ مګروي دوی له هغه (پند) څخه مخ ګرزونکي (اووربانديملنډي وهونکي چي هيڅ سوچ اوفکرپکي نه کوي چي څومره پندونه پکي خوندي دي ﴿ فَقَدْ كَذَّبُوا۟ فَسَيَأْتِيهِمْ أَنۢبَـٰٓؤُا۟ مَا كَانُوا۟ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ﴾ (پس په تحقيق تکذيب وکړدوی (دهغه ذکر) پس ژربه راشي دوی ته عواقب حقائق دهغه (څېز) چي وودوی په هغه باندي به يې مسخرې کولې) يعني دوی په مخ اړولوکي وروستي بريدته رسېدلي وو نوژردی چي دوی ته به ددروغجنوګڼونکواوملنډي وهونکوعاقبت اوانجام راشي وروسته بيالله تعالی دخپل سلطان عظمت اوپه مخلوقاتواومصنوعاتوکي سترقدرت ته هغه چي په وحدانيت اوبشپړقدرت يې دلالت کوي اشاره فرمايې چي ﴿ أَوَلَمْ يَرَوْا۟ إِلَى ٱلْأَرْضِ كَمْ أَنۢبَتْنَا فِيهَا مِن كُلِّ زَوْجٍ كَرِيمٍ ﴾ آيادوی څمکي ته نه ګوري چي موږ(په خپل حکمت بالغه سره) څومره زرغونه کړي ده په دغه څمکه کي له هرډول (جنس څخه) ګياه ښه کثيرالمنافع؛ استفهام دتوبيخ لپاره دی څکه دوی عبرت پرې ايښی دی ﴿ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً ﴾ بېشکه پدې (انبات (زرغونولو) کي) بېشکه ښه ده (دالله د وحدانيت اوقدرت)﴿ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴾ اونه دي زياتره ددوی مؤمنان (دالله په علم کي څکه چي سره له څرګندودلائلوبيياهم دوی په کفرباندي استمرارکوي اوپښې يې خرلي وي) ﴿ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴾ اوبېشکه رب ستاخامخاهمدی ښه قوي غالب (قادرپه غچ اخيستلوله ګناه ګارانو څخه) مهربان (په هغه چاچي توبه ګارشي اورجوع وکړي. امام رازي وايې چي(عزيز) يې څکه په (رحيم) دمخه يادکړچي ښايې داسي به ويل کېږي چي الله ددوی له عذابولوڅخه په رحم تېرېدونکی دی څکه چي توان يې نلري نودغه شبه يې ترديدکړه اوعزيزيې چي دغالب قوي په معنادی لومړی ذکرکړاوله دې سره سره الله جل جلاله پخپلوبندګانومهربان اورحيم هم دی څکه کله چي رحمت له بشپړقدرت سره ملګری وي

(١) حاشية الصاوي على الجلالين ٣ / ١٢٧

(٢) دمحدث معناپه نزول کي نوي اوکه دانه وی نودالله کلام خوپه حدوث باندي نه موصوف کېږي لکه چي مخلوق هم نه ګڼل کېږي

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

دپرپرخای اوښه اغېزمن وي(١)﴿ وَإِذْ نَادَىٰ رَبُّكَ مُوسَىٰٓ ﴾ او(یادکړه) هغه وخت چي ستارب موسی ته غږوکړ) یعني ای محمده دغومکذبینوڅنګ کونکوته چي ستادقوم دي هغه دموسی علیه السلام مأموریت ورپه یادکړه کله چي الله دطورپه ښي اړخ کي ورته وفرمایل چي فرعون اودهغه تېرته ولاړشه ﴿ أَنِ ٱئْتِ ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ داسي چي ورشه هغه قوم ته چي ظالمان دي (په کفراوګناهونواوبني اسرائیل یې مریان کړي دي) ﴿ قَوْمَ فِرْعَوْنَ ﴾ (یعني) قوم دفرعون ته (دغه عطف بیان دی لکه چي ظالمان اود فرعون قوم یووي ﴿ أَلَا يَتَّقُونَ ﴾ آیادوی نه وېرېږي (له الله) پدې کي ددوی دستري دښمني اوزیات ظلم څخه تعجب نغښتی دی ﴿ قَالَ رَبِّ إِنِّيٓ أَخَافُ أَن يُكَذِّبُونِ ﴾ وویل موسی ای زماربه بېشکه زه له دې وېرېږم چي (دوی به ماته) نسبت ددروغووکړی (درسالت په هکله) ﴿ وَيَضِيقُ صَدْرِي ﴾ او(بل) تنګېږي ړماسینه (ددوی له تکذیبه) ﴿ وَلَا يَنطَلِقُ لِسَانِي ﴾ او(بل) نه چلېږي ژبه زما(درسالت دپیغام رسولوپه باب په بشپړه توګه) ﴿ فَأَرْسِلْ إِلَىٰ هَٰرُونَ ﴾ پس ولېږه هارون ته (جبریل) چي راسره درسالت په تبلیغ کي مرسته وکړي. مفسرین کرام وایې چي موسی علیه السلام دمرستندوی هیله ددریوعذرونوپه وجه وکړه یوداچي له تکذیب څخه وېرېږي اوسینه یې تنګېږي اوژبه یې نه چلېږي ، تکذیب دزړه تنګسیاراولي اودزړه تنګسیابیاپه ژبه اغېزه کوي په ځانګړي توګه کله چي دچاپه ژبه کي څه بندش هم وي لکه چي الله فرمایې ﴿ وَٱحْلُلْ عُقْدَةً مِّن لِّسَانِي يَفْقَهُوا۟ قَوْلِي ﴾ (طه ٢٧ ٢٨) اوبیابل عذرزیاتوي فرمایې ﴿ وَلَهُمْ عَلَيَّ ذَنۢبٌ فَأَخَافُ أَن يَقْتُلُونِ ﴾ او(بل) شته دوی لره پرما(دعوه دیوې) ګناه پس وېرېږم له دې نه چي مابه مړکړي (څکه چي قبطي مي وژلی وو) ﴿ قَالَ كَلَّا ﴾ وفرمایل (الله موسی ته) نه ده داسي (مه ډاریږه له سره دي وژلی نشي) قرطبي وایې چي پدې کي ردع اوزجردی چي بېخي داسي ګمان مکوه !په الله جل جلاله باوراوتینګ یقین ولره له دوی څخه هرګوره مه وېرېږه دوی تاهیڅکله هم نشي وژلای (٢)﴿ فَٱذْهَبَا بِـَٔايَٰتِنَآ ﴾ پس لاړشئ تاسي دواړه (ته اوهارون) په ښکاره وو معجزوزما ﴿ إِنَّا مَعَكُم مُّسْتَمِعُونَ ﴾ (بېشکه موږله تاسي سره اورېدونکي یو) یعني موږله تاسي سره مرستندویان یوڅه چي تاسي وایاست موږیې اورواوڅه چي تاسي ته ځواب درکاوه شي هم اورو ددوی لپاره یې دجمعي صیغه (معکم) دتعظیم اودرناوي په توګه استعمال کړه (٣)﴿ فَأْتِيَا فِرْعَوْنَ فَقُولَآ إِنَّا رَسُولُ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ پس دواړه فرعون ته ورشئ ! نوووایئ بېشکه هریوزموږاستازی درب العالمین یو(چي تاته

---

(١) التفسیرالکبیر٢٤ / ١٢٠
(٢) القرطبي ١٣ / ٩٢
(٣) دغه خبره سیبویه رحمه الله راایستلي اوالبحرالمحیط تفسیررانقل کړي ده٧ / ٨

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

دلارښوونې بلنه درکړو) ﴿ أَنْ أَرْسِلْ مَعَنَا بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴾ داچې ولېږه ته (ای فرعونه) له موږسره بني اسرائیل(هغوی له خپل چوپړاومریتوب څخه خوشي اوآزادکړه چې له موږ سره شام ته ولاړشي) ﴿ قَالَ أَلَمْ نُرَبِّكَ فِينَا وَلِيدًا ﴾ (نوورویل(فرعون موسی ته) آیاموږدتاروزنه نده کړي په (کورونو) خپلوکي؟ پداسي حال کي چې وړوکی هلک وې !) په کلام کي حذف راغلی چې معناورباندي دلالت کوي تقدیریې داچې موسی علیه السلام رسالت ورته ابلاغ کړنوفرعون پدې وخت کي موسی علیه السلام ته وویل:آیاته زموږپه کورونوکي ماشوم نه یې روزل شوی؟ پدې ویناسره فرعون په موسی علیه السلام باندي احسان باروي اوهغه سپک ګڼي لکه چې ورته وایې آیاته هغه نه یې چې موږوړوکی وروزلې اودرسره مونېکي وکړې نودغه غوښتنه له څه وخته پیل شوه؟ ! ﴿ وَلَبِثْتَ فِينَا مِنْ عُمُرِكَ سِنِينَ ﴾ اوتېرکړی ووتاپه موږکي له خپله عمره یوڅوکاله(چې موږدرسره احسان کاووستاروزنه اوپالنه موکوله؛ مقاتل رحمه الله وایې چې دغه دېرش کاله وخت وو) ﴿ وَفَعَلْتَ فَعْلَتَكَ ٱلَّتِي فَعَلْتَ ﴾ اوبل کړی وو تاکار خپل هغه کارچې تاکړی وو(یعني ددې روزني په بدله کي تازموږد نعمت کفران وکړاوقبطي دي راوواژه اوداسي تعبیریې په کارکړددې لپاره چې دغه پېښه ورته وښیې هغه چې دقبطي وژل دی) ﴿ وَأَنتَ مِنَ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴾ حال داچې ته له ناشکرانوڅخه یې (ځکه چې زموږاحسان دي هېرکړابن عباس رضی الله عنه وایې مرادله کفرڅخه دنعمت کفران دی ځکه فرعون ته دانه وه معلومه چې کفرڅه دی(١)) ﴿ قَالَ فَعَلْتُهَآ إِذًا وَأَنَا۠ مِنَ ٱلضَّآلِّينَ ﴾ وویل (موسی فرعون ته) چې کړی وومادغه کارپه هغه وخت کي چې زه له خطاکارانوڅخه وم (ځکه ماده دوژلوقصدنه لارواوهغه ته مي ادب ورښودل ؛ دلته دموسی علیه السلام اراده له ضلال څخه ګمراهي نه ده ځکه هغه خوله وړکتوبه معصوم ووابن عباس رضی الله عنهماوایې چې ﴿ مِنَ ٱلضَّآلِّينَ ﴾ معنا(من الجاهلین) دي یعني زه نه پوهېدم(چې هغه به مري) ﴿ فَفَرَرْتُ مِنكُمْ لَمَّا خِفْتُكُمْ ﴾ (پس زه له تاسي وتښتېدم کله چې زه له تاسي ووېرېدم) یعني زه مدین ته له تاسوڅخه وتښتېدم کله چې پخپل ځان ووېرېدم چې تاسي به ماووژنی اوپه هغه څه به مي ونیسی چې زه یې ورنه یم ﴿ فَوَهَبَ لِي رَبِّي حُكْمًا ﴾ پس زمارب ماته حکم وبانبه (نبوت) اوحکمت یې راکړ) ﴿ وَجَعَلَنِي مِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴾ اوزه یې وګرزولم دغه (الله) له پیغمبرانو څخه(نوکه ایمان راوړې سلامت به شې اوکه انکاروکړې هلاک به شې)﴿ وَتِلْكَ نِعْمَةٌ تَمُنُّهَا عَلَيَّ أَنْ عَبَّدتَّ بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴾ (او(آیا) دغه(تربیت) یونعمت دی چې پرمایې احسان کوی ؟ چې بني اسرائیل دي مریونه کړي وو) یعني ته څرنګه په ماباندي دروزني

(١) حسن رحمه الله وایې چې مقصدیې دادی چې ته زماپه الوهیت کافریې طبري دابن عباس رضی ویناته چې ناشکري ده ترجیح ورکړي اوهغه څرګنده هم دی.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

نعمت احسان باروې چې زماقوم بني اسرائيل دي مريونه کړي وودغه خونعمت نه بلکه عذاب دی(١) ابن کثيروايې چې معناداچې هغه احسان اوزماروزنه دي کړي دغه دهغه عذاب اوبدي په پرتله چې ګردتېردبني اسرائيلوته دي رسولی اودوی دي نوکران اومرېيونه کړي ووهيڅ هم نه دی آيايوه تن ته ستااحسان رسول پدې ارزي چې ګردقوم ته يې ربړونه اوتکليفونه رسوې؟(٢) طبري وايي معناداچې آياته پرمااحسان باروې ددې چې بني اسرائيل دي مريونه اوچوپړيان کړي وو؟(٣) ﴿ قَالَ فِرْعَوْنُ وَمَا رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ اوويل فرعون موسی ته اوڅه څېزدی رب دعالميانو؟) فرعون په غرور اوتکبرسره وويل چې هغه څوک دی ؟چې ته درب العلمين ګمان ورباندي کوې آياهلته له ماپرته بل الله هم شته؟ ځکه هغه د پيداکونکي الله ذات له شتون څخه انکارکاووا وخپل قوم ته به يې ويل: ﴿ مَا عَلِمْتُ لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرِى ﴾ ﴿ قَالَ رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَآ ﴾ وويل(موسی فرعون ته) چې رب العالمين رب دآسمانونواودځمکې اودهغو ګردوشيانودی چې په مينځ ددغودواړوکې دی (که بحرونه اوسيندونه ياصحراوي اوډاګونه پاوني اوغرونه ، يانباتات اومېوې دي ، يانورعجيبه مخلوقات دټولوپيداکونکی او ورکونکی په هغوی کې متصرف الله رب العالمين دی ﴿ إِن كُنتُم مُّوقِنِينَ ﴾ که چېرې بی تاسي يقين کونکي ؟ (نو دغه څرګند واقعيت دی) ﴿ قَالَ لِمَنْ حَوْلَهُۥٓ أَلَا تَسْتَمِعُونَ ﴾ وويل(فرعون) بياهغو(مشرانو)ته چې له ده چارپېروو (په ملنډواواستهزآء سره) چې آيانه اوری تاسي؟ (دده ځواب تاسي تعجب نکوی زه له دُه څخه دالله له حقيقت نه پوښتنه کوم اودی يې په صفاتوځواب راکوي) نوموسی عليه السلام په ځواب کې تفصيل راووړاودليل يې ورزيات کړچې: ﴿ قَالَ رَبُّكُمْ وَرَبُّ ءَابَآئِكُمُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴾ وويل (بياموسی فرعون ته چې رب العلمين) رب ستاسي دی اورب دپلرونودتاسي دی چې رومبي وو) يعني رب العلمين ستاسوپيداکونکی او ستاسودپلرونوچې پخواوو پيداکونکی دی ستاسووجود دقادرمتعال ذات په وجوددليل دی دلته يې له عام تعريف اوپېژندني څخه خاص تعريف ته مخه کړه ځکه دځان پېژندل دآفاقوترپېژندنه نژدې دی اوپه پوهېدلوکې داپېژندنه خورارنه اوروښانه ده. ﴿ وَفِىٓ أَنفُسِكُمْ ۚ أَفَلَا تُبْصِرُونَ ﴾ نودلته فرعون ته قهرورغی اوموسی عليه السلام يې په لېونتوب تورن کړوې ويل: ﴿ قَالَ إِنَّ رَسُولَكُمُ ٱلَّذِىٓ أُرْسِلَ إِلَيْكُمْ لَمَجْنُونٌ ﴾ (وويل (فرعون) بېشکه دغه رسول ستاسي چې تاسوته لېږلی شوی دی خامخالېونی دی)په استهزآء اوملنډويې رسول وباله اوهمداسي يې داستازيتوب نسبت دوی ته وکړځکه يې ځان ځني ويوست چې په نسبت يې شرم کاوو اودغه يې په دې اړوندوويل چې زه يوڅه ورته وايم دی بل څه ځواب راکوي موسی عليه السلام يې دملنډوپرواونکړه

---

(١) داهغه معناده چې مقاتل کړي ده.
(٢) مختصرابن کثير٢ / ٦٤٥
(٣) الطبري ١٩ / ٤٣

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

اوپه دریم تعریف یې چي تردویم ډېرواضح اوڅرګندوو وستایو ﴿ قَالَ رَبُّ ٱلْمَشْرِقِ وَٱلْمَغْرِبِ وَمَا بَيْنَهُمَآ إِن كُنتُمْ تَعْقِلُونَ ﴾ وویل(بیا موسی فرعون ته چي رب العالمین) رب دمشرق او(رب د) مغرب او(رب د) هغو(ټولو) شیانودی چي په مینځ ددغوکي دی که چېري یی تاسي چي عقل کولای شی) یعني الله هغه ذات دی چي لمرله ختیز څخه راخېژوي اوپه لوېدیزیې پټوي داهغه څه دي چي هوښیار اولېونی یې هره ورځ ویني نو څکه یې وفرمایل: ﴿إِن كُنتُمْ تَعْقِلُونَ ﴾ که چیری یاست تاسی چې عقل چلوی ،یعني که تاسوعقل درلودلای نوبه پدې پوهېدلي وای چي پدې باندي پرته له الله جل جلاله بل څوک قادرنه دی داهسي دلیل دی چي دباطل ملاماتوي لکه چي ابراهیم علیه السلام نمرودته وویل: ﴿ قَالَ إِبْرَٰهِـۧمُ فَإِنَّ ٱللَّهَ يَأْتِى بِٱلشَّمْسِ مِنَ ٱلْمَشْرِقِ فَأْتِ بِهَا مِنَ ٱلْمَغْرِبِ فَبُهِتَ ٱلَّذِى كَفَرَ ﴾ اوکله چي دفرعون دلیل نیمه خوانیمګړی شونویې لویي ته مخه کړه اودنیولو ، وهلو ټکولو منطق یې خپل کړچي ﴿ قَالَ لَئِنِ ٱتَّخَذْتَ إِلَٰهًا غَيْرِى لَأَجْعَلَنَّكَ مِنَ ٱلْمَسْجُونِينَ ﴾ وویل (فرعون موسی ته) قسم دی که له ماپرته بل خدای دي ونیونوخامخاوبه ګرزومه تازه له بندیانوڅخه ؛ مفسرین کرام وایې چي دفرعون ځېلخانه داسي وېرونکي وه چي بندي به یې دځمکي په تل سمڅه کي یوازي وتاړو چي نه به یې څوک لیدل اونه به یې دچا آواز اورېدل ترڅوبه ومړ ځکه یې ونه ویل چي (لأسجننک) بلکه ویې ویل چي ﴿ لَأَجْعَلَنَّكَ مِنَ ٱلْمَسْجُونِينَ ﴾ ځکه ځېلخانه یې تروژلواوقتل سخته وه . په التسهیل نومي کتاب کي وایې کله چي فرعون دالله په هکله خپله ناپوهي څرګنده کړه اوویې ویل: ﴿ وَمَا رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ نوموسی علیه السلام ځواب ورکړچي ﴿ قَالَ رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ هغه وویل: ﴿ أَلَا تَسْتَمِعُونَ ﴾ تعجب اواستهزآء یې کوله موسی علیه السلام ددلیل په وړاندي کولوورته وویل: ﴿ رَبُّكُمْ وَرَبُّ ءَابَآئِكُمُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴾ ځکه دانسان خپل وجوداودپلرونوترهر څه هوښیارانو ته نژدې اوښکاره دی چي په خالق باندي دلیل کېدای شي اوکله چي دغه دلیل ورته وځلېدوفرعون ځني مخ واړاوو اوموسی علیه السلام یې په لېونتوب تورن کړنه یوازي تورن بلکه ملنډي اوورېشخندیې هم ورباندي وتپل چي ویې ویل ﴿ إِنَّ رَسُولَكُمُ ٱلَّذِىٓ أُرْسِلَ إِلَيْكُمْ لَمَجْنُونٌ ﴾ نوموسی علیه السلام هم ددلیل په زیاتوالي کي ورته وویل ﴿ رَبُّ ٱلْمَشْرِقِ وَٱلْمَغْرِبِ ﴾ ځکه دلمرراختل اوډوبېدل دوې داسي پېښي دي چي هیڅوک ترې انکارنشي کولای اونه یې څوک پخپله له الله پرته دتوان لرلودعوی کولای شي اوکله چي په فرعون دلیل ودرېدونویې دلویي اونیولولاره غوره کړه اوپه بندي کولویې هغه ووېراوو دلته موسی علیه السلام په معجزه راوړلوباندي دلیل جوړوي اوپه لطف اومهرباني یې ددې لپاره یادوي چي ګوندي ایمان راوړي وایې: ﴿ قَالَ أَوَلَوْ جِئْتُكَ بِشَىْءٍ مُّبِينٍ ﴾ وویل (موسی فرعون ته) آیا(مابندي کوې) که څه هم زه تاته یوښکاره شی دلیل راوړم؟ (چي زمادرښتنولي شاهدي وایې) ﴿ قَالَ فَأْتِ بِهِۦٓ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴾ وویل(فرعون موسی ته) پس راوړه هغه

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

(ښکاره دلیل چې ته وایې) که یې ته له رښتیاویونکو(پخپله دعوی کې) ﴿ فَأَلْقَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ ثُعْبَانٌ مُّبِينٌ ﴾ پس وغورځوله (موسی) عصا خپله چې نابېره وه هغه په دې وخت کې یوښامار ښکاره(چې سترو جوداووازه خوله یې لرله) ﴿ وَنَزَعَ يَدَهُۥ فَإِذَا هِيَ بَيْضَآءُ لِلنَّٰظِرِينَ ﴾ اوراوه یې ایست لاس خپل (له دننه ګرېوانه) پس ناڅاپه دغه لاس ووتک سپین کتونکیو ته (دلمرپه شان ځلېدوچې سترګې یې په لګېدلونه توانېدې اوافق یې روښانه کاوو) ﴿ قَالَ لِلْمَلَإِ حَوْلَهُۥٓ إِنَّ هَٰذَا لَسَٰحِرٌ عَلِيمٌ ﴾ نوویل(فرعون) دقوم اشرافوته چې چاپېره له ده ووېښکه خامخادغه کوډګردی دی ډېرپوه (په کوډوکې دلته یې وغوښتل دخپلواشرافواوقوم په سترګوکې خاورې ورودوړوي نویې موسی علیه السلام ته کوډګر ووایوترڅوچې معجزه یې په قوم باندې اغېزمنه نشي ﴿ يُرِيدُ أَن يُخْرِجَكُم مِّنْ أَرْضِكُم بِسِحْرِهِۦ ﴾ اراده لري دی چې وباسي تاسي له ځمکې ستاسي په کوډوخپلو ﴿ فَمَاذَا تَأْمُرُونَ ﴾ پس تاسي څه حکم (مشوره) ماته راکوی ؟ !(دده په هکله چې ورسره څه وکړم؟؛ کله چې فرعون دغه کوټلي معجزه اوبرهان ولیدنوپخپل ټبروو ېرېدوچې هسې نه پلوي یې پیل کړي نویې ددوی مشورې غوښتنې ته غاړه کښېښوده وروسته له هغه چې دغرور او لویې په نیلي سپور وواوپه استبداداوخپلمخې به یې هره چاره غوڅوله ﴿ قَالُوٓاْ أَرْجِهْ وَأَخَاهُ ﴾ وویل: (مشرانو) تاخیرورکړه (کازد) موسی او ورورده ته ﴿ وَٱبْعَثْ فِي ٱلْمَدَآئِنِ حَٰشِرِينَ ﴾اوولېږه په ښارونوکې ماسلان(محصلان را ټولونکی)﴿ يَأْتُوكَ بِكُلِّ سَحَّارٍ عَلِيمٍ ﴾ چې راولي تاته هرښه کوډګرښه پوه هوښیار دکوډوپه هکله ؛ ابن کثیروایې دغه دالله تسخیروو ترڅوخلک په یوډګرکې سره راغونډکې اودالله تعالی دقدرت نښانې اودلائل ورته په رڼاورڅ اورون میدان روښانه کړي (١)﴿ فَجُمِعَ ٱلسَّحَرَةُ لِمِيقَٰتِ يَوْمٍ مَّعْلُومٍ ﴾ پس راټول کړل شول ساحران وعدې دورځې معلومې ته (چې دجشن ورځ وه هغه چې موسی علیه السلام معلومه کړي وه ترڅوچې حق څرګندا وباطل دخلګوپه وړاندې له مینځه لاړشي لکه چې الله فرمایې: ﴿ قَالَ مَوْعِدُكُمْ يَوْمُ ٱلزِّينَةِ وَأَن يُحْشَرَ ٱلنَّاسُ ضُحًى ﴾ (طه ٥٩) ﴿ وَقِيلَ لِلنَّاسِ هَلْ أَنتُم مُّجْتَمِعُونَ لَعَلَّنَا نَتَّبِعُ ٱلسَّحَرَةَ إِن كَانُواْ هُمُ ٱلْغَٰلِبِينَ ﴾ اوویل شولپاره دخلګوچې آیایی تاسي یوځای کېدونکي (دغې معلومې ورځې ته بلکه ګردسره راټول شی !) ښایي چې موږمتابعت وکړو(ددین د) ساحرانوکه چېرې دوی (پرموسی) غالبان (بریالي) شول ﴿ فَلَمَّا جَآءَ ٱلسَّحَرَةُ قَالُواْ لِفِرْعَوْنَ أَئِنَّ لَنَا لَأَجْرًا إِن كُنَّا نَحْنُ ٱلْغَٰلِبِينَ ﴾ پس کله چې راغلل کوډګران وویل دوی فرعون ته آیاپه تحقیق موږته به څه مزدوري وي که موږشو(پرې) بریالیان؟ !) (آیاموږته به څه مال دولت اوانعام راکول شي ؟) ﴿ قَالَ نَعَمْ وَإِنَّكُمْ إِذًا لَّمِنَ ٱلْمُقَرَّبِينَ ﴾ وویل(فرعون کوډګرانوته) هوتاسي ته اجرشته اوسربېره پردې) بېشکه چې تاسي په دغه وخت کې خامخا(زما) له نزدېکانواومستشارانوڅخه یاست ﴿ قَالَ لَهُم

(١) ابن کثیر٢/ ٦٤٢ المختصر

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

مُوسَىٰٓ أَلْقُوا۟ مَآ أَنتُم مُّلْقُونَ ﴾ (وويل دغو(کوډګرانو) ته موسی وغورځوئ تاسي هرهغه څېزچي تاسي (یی) غورځونکي یی) په کلام کي حذف ایجازراغلی چي دکلام سیاق ورباندي دلالت کوي تقدیریې داچي دوی موسی علیه السلام ته وویل چي یابه یې ته خپل څېزغورځوې اویابې موږغورځوولکه چي په الاعراف کي یې یادونه شوي نوبیاموسی علیه السلام ورته وویل چي: ﴿ أَلْقُوا۟ مَآ أَنتُم مُّلْقُونَ ﴾ یعني څه چي غواړی د هغه غورځول پیل کړئ زه درڅخه هډونه وېرېږم دغه یې پدې وویل چي دالله په نصرت اومرسته یې ټینګ باوردرلودل اودحق داظهار لپاره یې وسیله ګرزوله ﴿ فَأَلْقَوْا۟ حِبَالَهُمْ وَعِصِيَّهُمْ وَقَالُوا۟ بِعِزَّةِ فِرْعَوْنَ إِنَّا لَنَحْنُ ٱلْغَٰلِبُونَ ﴾ پس وغورځول (کوډګرانو) پړي خپل اوهمساګاني خپلي اوویې ویل په عزت (عظمت اوسلطان) دفرعون بېشکه موږخامخاغالبان یو ﴿ فَأَلْقَىٰ مُوسَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا هِىَ تَلْقَفُ مَا يَأْفِكُونَ ﴾ (بیا وغورځوله موسی همساخپله پس ناڅاپه هغې ترستوني تېرکړل هغه (ماران) چي دوی په دروغو جوړکړي وو) یعني موسی علیه السلام خپله لکړه وغورځوله اوسترښامارشواوهغه پړي اورسی یې ښوی تېري کړلې هغه چي دوی دخلګوپه نظرماران جوړکړي ووچي سره ښورېدل اوښتل رااوښتل اوداچي (افک) یې وستایل مبالغه ده ﴿ فَأُلْقِىَ ٱلسَّحَرَةُ سَٰجِدِينَ ﴾ پس وغورځول شول پړمخي ساحران سجده کونکي (رب العالمین ته) کله چي یې دغه هیښونکی دلیل اوڅرګنده معجزه ولیدله .

﴿ قَالُوٓا۟ ءَامَنَّا بِرَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ رَبِّ مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ﴾ (وویل (ساحرانو) ایمان راوړی دی موږپه رب دعالمیانوپالونکي دموسی اوهارون (علیهما السلام) یعني دوی دسجدې سره داسي وویل چي موږپه زورور الله ایمان راوړی هغه چي موسی اوهارون موږهغه ته بولي؛ طبري وایې: کله چي کوډګرانوته داڅرګنده شوه چي کوم څه چي موسی راوړي هغه حق معجزه ده کوډي نه دي اوپرهغه باندي پرته له الله هغه چي ځمکي اوآسمانونه یې پیداکړي بل څوک وس نلري نوپړمخي په سجده پرېوتل اوداسي یې وویل موږپه هغه رب العالمین ایمان راوړی کوم چي موسی اوهارون مودهغه عبادت کولوته بولي دفرعون اودهغه دمشرانو دلاري متابعت نه کوو(١) ﴿ قَالَ ءَامَنتُمْ لَهُۥ قَبْلَ أَنْ ءَاذَنَ لَكُمْ ﴾ وویل دفرعون ساحرانوته) آیا ایمان راووړتاسي په دغه (موسی) پخواله هغه چي زه اجازه درکړم تاسي ته ؟) یعني مخکښي تردې چي له ماڅخه اجازه واخلی تاسوایمان راووړ؟ ﴿ إِنَّهُۥ لَكَبِيرُكُمُ ٱلَّذِى عَلَّمَكُمُ ٱلسِّحْرَ ﴾ بېشکه دغه موسی خامخاستاسي داسي مشردی چي تاسي ته یې سحرښودلی دی ؛ تاسي ورسره موافقت کړی چي دی بریالی شي. فرعون په دغه ویناباندي خپل قوم غولاوو چي هسي نه دوی داسي وانګېري چي کوډګرانوپه (شعوري) پوهېدلي توګه ایمان راوړی دی چي ورته حق څرګندشو. ابن کثیروایې: چي دا هغسي مکابره ده چي هرڅوک یې په باطل والي پوهېږي ځکه دوی خوله دې ورځي پخواهیڅکله هم ورسره لیدلي نه وونوڅرنګه به ددوی دکوډواستاذوي چي دوی ته یې دغه کار

(١) الطبري ١٩ / ٤٢

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

ورښودلی وي؟(١) بیا یې هغوته اخطار ورکړچي ﴿ فَلَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴾ پس خامخاژربه وپوهېږی (چي زه ستاسي دایمان په راوړلوتاسي ته ځرنګه عذاب دروینم) ﴿ لَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُم مِّنْ خِلَافٍ ﴾ خامخازه به ستاسي لاسونه پرې کړم اوپښې ستاسي سره مخالفي دښي لاس اوکینه پښه یاددې برعکس ﴿ وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ أَجْمَعِينَ ﴾ اوخامخابه تاسي ځوړندکړم دونوپه ښاخونوترمرګه) تاسي تول ﴿ قَالُوا لَا ضَيْرَ إِنَّا إِلَىٰ رَبِّنَا مُنقَلِبُونَ ﴾ وویل (کوډګرو) نشته ضررموږته پدې کي چي بېشکه موږخپل رب ته بیرته ورتلونکي یو(دهغه ځخه دغفران هیله من یو) ﴿ إِنَّا نَطْمَعُ أَن يَغْفِرَ لَنَا رَبُّنَا خَطَايَانَا ﴾ (اوبل ځکه چي) بېشکه موږهیله لروددې چي وبښي موږته رب زموږګناهونه زموږ (چي ترایمان پخواموکړي دي اوعذاب رانکړي) ﴿ أَن كُنَّا أَوَّلَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ له جهته ددې چي موږ ړومبی ایمان راوړونکي یو(په دغوحاضرینوکي).

بلاغت:

پدې آیتونوکي دبدیع اوبلاغت دغه ښکلاوي شته چي لنډیزیې په لاندي ډول دی:

١-لطیفه کنایه چي فرمایې ﴿ فَظَلَّتْ أَعْنَاقُهُمْ لَهَا خَاضِعِينَ ﴾ دلته یې هغه ذلت اوخواري چي وروسته له عزت اوکبریاور پېښېږي په خضوع سره کنایه راوړه.

٢-پدې کلام کي چي الله تعالی فرمایې:﴿ فَسَيَأْتِيهِمْ أَنبَاءُ مَا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ ﴾ وعیداوتهدیدشته

٣-توبیخ چي پدې کلام کي نغښتی دی ﴿ أَوَلَمْ يَرَوْا إِلَى ٱلْأَرْضِ ﴾ استفهام دلته توبیخي دی چي ولي دعبرت په کتلوورته نه ګوري؟.

٤-لطیفه مقابله چي د ﴿ وَيَضِيقُ صَدْرِي وَلَا يَنطَلِقُ لِسَانِي ﴾ ترمینځ راغلي ده.

٥- اشتقاقي جناس لکه چي فرمایې ﴿ رَسُولُ ...فَأَرْسِلْ ﴾

٦-ناقص جناس لکه چي د ﴿ وَفَعَلْتَ فَعْلَتَكَ ﴾ ترمینځ شتون لري ددواړوکلماتوتوري سره یوشان خوپه شکل کي سره بېل دي. نودغه ته غیرتام جناس ویل کېږي.

٧-ایجاز بالحذف چي پدې کلام کي راځي ﴿ قَالَ أَلَمْ نُرَبِّكَ فِينَا وَلِيدًا ﴾ په دغه ځای چي پرحذف باندي سیاق دلالت کوي هغه داچي دوی دواړه فرعون ته راغلل اوهمدغه یې ورته وویل نوفرعون موسی ته په ځواب کي پورتنۍ خبره وکړه چي ﴿ أَلَمْ نُرَبِّكَ ﴾ همدارنګه پدې کلام کي چي: ﴿ فَأَرْسِلْ إِلَىٰ هَارُونَ ﴾ زمخشري وایې په اصل کي داچي (أرسل جبریل الی هارون وأجعله نبیا) یعني جبریل هارون ته

(١) الکشاف ٣/ ٢٣٨

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

واستوه اوهغه نبي وتاكه زماملاتړ ورباندي وكړه اومټ مي ورباندي غښتلی كړه خودغه تفصيل يې خوراپه ښه ډول لنډاورانغاړلی دی (١)

٨- دتعجب صيغه چي فرمايي: ﴿ أَلَا تَسْتَمِعُونَ ﴾.

٩- تاكيد په (اِنّ) او(لام) سره ځكه چي اورېدونكي شكمن اومترددي نوپه دې هكله وايي: ﴿ إِنَّ رَسُولَكُمُ ٱلَّذِىٓ أُرْسِلَ إِلَيْكُمْ لَمَجْنُونٌ ﴾ اوددې په ډول دكوډګرانوهغه ويناهم ده چي دمناظرې په پيل كي يې كړي ده ﴿ إِنَّا لَنَحْنُ ٱلْغَٰلِبُونَ ﴾ اودغه دعلم بيان له ځانګړتياووڅخه دی.

١٠- طباق چي د ﴿ ٱلْمَشْرِقِ وَٱلْمَغْرِبِ ﴾ ترمينځ دی اوبيادفواصلوموافقت چي خوندوره سجع جوړوي داګرددبديع اوبيان ښكلاوي دي.

لطيفه:

كه څوك پوښتنه كوي چي څرنګه موسی عليه السلام دمناظرې په پيل كي فرعون اودهغه ټبرته رويل: چي ﴿ إِن كُنتُم مُّوقِنِينَ ﴾ اوبيايې وفرمايل چي ﴿ إِن كُنتُمْ تَعْقِلُونَ ﴾ ځواب داچي په لومړي ځل يې ورسره نرمښت وكړچي ګوندي وي دوی ايمان راوړونكي خوكله چي يې ددوی سرغړونه اوعناد وليد نوورته يې توبيخ وكړچي ﴿ إِن كُنتُمْ تَعْقِلُونَ ﴾ ورته وويل اودغه خبره يې دفرعون ددې وينا په وړاندي وكړه چي هغه دمغالطې په توګه قوم ته په خطاب كي وويل: چي ﴿ إِنَّ رَسُولَكُمُ ٱلَّذِىٓ أُرْسِلَ إِلَيْكُمْ لَمَجْنُونٌ ﴾ نوهله موسی عليه السلام دحكمت لاره غوره كړه.

***

الله تعالی فرمايي:

﴿ ۞ وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنْ أَسْرِ بِعِبَادِىٓ إِنَّكُم مُّتَّبَعُونَ ﴿٥٢﴾ فَأَرْسَلَ فِرْعَوْنُ فِى ٱلْمَدَآئِنِ حَٰشِرِينَ ﴿٥٣﴾ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ لَشِرْذِمَةٌ قَلِيلُونَ ﴿٥٤﴾ وَإِنَّهُمْ لَنَا لَغَآئِظُونَ ﴿٥٥﴾ وَإِنَّا لَجَمِيعٌ حَٰذِرُونَ ﴿٥٦﴾ فَأَخْرَجْنَٰهُم مِّن جَنَّٰتٍ وَعُيُونٍ ﴿٥٧﴾ وَكُنُوزٍ وَمَقَامٍ كَرِيمٍ ﴿٥٨﴾ كَذَٰلِكَ وَأَوْرَثْنَٰهَا بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿٥٩﴾ فَأَتْبَعُوهُم مُّشْرِقِينَ ﴿٦٠﴾ فَلَمَّا تَرَٰٓءَا ٱلْجَمْعَانِ قَالَ أَصْحَٰبُ مُوسَىٰٓ إِنَّا لَمُدْرَكُونَ ﴿٦١﴾ قَالَ كَلَّآ إِنَّ مَعِىَ رَبِّى سَيَهْدِينِ ﴿٦٢﴾ فَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنِ ٱضْرِب بِّعَصَاكَ ٱلْبَحْرَ فَٱنفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ فِرْقٍ كَٱلطَّوْدِ ٱلْعَظِيمِ ﴿٦٣﴾ وَأَزْلَفْنَا ثَمَّ ٱلْءَاخَرِينَ ﴿٦٤﴾ وَأَنجَيْنَا مُوسَىٰ وَمَن مَّعَهُۥٓ أَجْمَعِينَ ﴿٦٥﴾ ثُمَّ أَغْرَقْنَا ٱلْءَاخَرِينَ ﴿٦٦﴾ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٦٧﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٦٨﴾ وَٱتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ إِبْرَٰهِيمَ ﴿٦٩﴾ إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِۦ مَا تَعْبُدُونَ ﴿٧٠﴾ قَالُوا۟ نَعْبُدُ أَصْنَامًا فَنَظَلُّ لَهَا عَٰكِفِينَ ﴿٧١﴾ قَالَ هَلْ يَسْمَعُونَكُمْ إِذْ تَدْعُونَ ﴿٧٢﴾ أَوْ يَنفَعُونَكُمْ أَوْ يَضُرُّونَ ﴿٧٣﴾ قَالُوا۟ بَلْ وَجَدْنَآ ءَابَآءَنَا كَذَٰلِكَ يَفْعَلُونَ ﴿٧٤﴾ قَالَ أَفَرَءَيْتُم مَّا كُنتُمْ تَعْبُدُونَ ﴿٧٥﴾ أَنتُمْ وَءَابَآؤُكُمُ ٱلْأَقْدَمُونَ ﴿٧٦﴾

(١) الكشاف ٣/ ٢٣٨

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

فَإِنَّهُمْ عَدُوٌّ لِّيٓ إِلَّا رَبَّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٧٧﴾ ٱلَّذِى خَلَقَنِى فَهُوَ يَهْدِينِ ﴿٧٨﴾ وَٱلَّذِى هُوَ يُطْعِمُنِى وَيَسْقِينِ ﴿٧٩﴾ وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ
يَشْفِينِ ﴿٨٠﴾ وَٱلَّذِى يُمِيتُنِى ثُمَّ يُحْيِينِ ﴿٨١﴾ وَٱلَّذِىٓ أَطْمَعُ أَن يَغْفِرَ لِى خَطِيٓـَٔتِى يَوْمَ ٱلدِّينِ ﴿٨٢﴾ رَبِّ هَبْ لِى
حُكْمًا وَأَلْحِقْنِى بِٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٨٣﴾ وَٱجْعَل لِّى لِسَانَ صِدْقٍ فِى ٱلْءَاخِرِينَ ﴿٨٤﴾ وَٱجْعَلْنِى مِن وَرَثَةِ جَنَّةِ ٱلنَّعِيمِ ﴿٨٥﴾
وَٱغْفِرْ لِأَبِىٓ إِنَّهُۥ كَانَ مِنَ ٱلضَّآلِّينَ ﴿٨٦﴾ وَلَا تُخْزِنِى يَوْمَ يُبْعَثُونَ ﴿٨٧﴾ يَوْمَ لَا يَنفَعُ مَالٌ وَلَا بَنُونَ ﴿٨٨﴾ إِلَّا مَنْ أَتَى ٱللَّهَ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ
﴿٨٩﴾ وَأُزْلِفَتِ ٱلْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِينَ ﴿٩٠﴾ وَبُرِّزَتِ ٱلْجَحِيمُ لِلْغَاوِينَ ﴿٩١﴾ وَقِيلَ لَهُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ تَعْبُدُونَ ﴿٩٢﴾ مِن دُونِ ٱللَّهِ هَلْ يَنصُرُونَكُمْ
أَوْ يَنتَصِرُونَ ﴿٩٣﴾ فَكُبْكِبُوا۟ فِيهَا هُمْ وَٱلْغَاوُۥنَ ﴿٩٤﴾ وَجُنُودُ إِبْلِيسَ أَجْمَعُونَ ﴿٩٥﴾ قَالُوا۟ وَهُمْ فِيهَا يَخْتَصِمُونَ ﴿٩٦﴾ تَٱللَّهِ إِن كُنَّا
لَفِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٩٧﴾ إِذْ نُسَوِّيكُم بِرَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٩٨﴾ وَمَآ أَضَلَّنَآ إِلَّا ٱلْمُجْرِمُونَ ﴿٩٩﴾ فَمَا لَنَا مِن شَٰفِعِينَ ﴿١٠٠﴾ وَلَا صَدِيقٍ حَمِيمٍ
﴿١٠١﴾ فَلَوْ أَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَكُونَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٠٢﴾ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٠٣﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ
﴿١٠٤﴾ ﴾ الشعراء: ٥٢ ـ ١٠٤

مناسبت او تړاو:

الله تبارک وتعالی پدې سورت کي اوه کیسې یادي کړي چي لومړې یې دموسی اوهارون دوهمه دابراهیم ، دریمه دنوح ، څلورمه دهود ، پنځمه دصالح ، شپږمه دلوط ، اوومه دشعیب علیهم صلوات الله وسلامه اودغه ګردي کیسې درسول الله دډاډیني اوتسلیت لپاره دي چي هغه به له مشرکانوڅخه ډول ډول کړاوونه اومشکلات لیدل همداسي آیتونه لاتراوسه پوري دموسی علیه السلام په هکله غږېږي (اوراتلونکي کړۍ دپخوانۍ لړۍ ده).

لغتونه:

(أسری) دشپې تګ ته ویل کېږي څوک چي دورځي تګ کوي (اسری) نه بلل کېږي (شرذمة) سپکه سپانده ټولۍ اوجمع یې (شراذم) دي جوهري وایې (شرذمة) له خلګوڅخه یوه ټولۍ اوله شي څخه یوه ټوټه بلل کېږي (١) (ازلفنا) موږنژدې کړله همدې څخه دي چي الله فرمایې (وازلفت الجنة للمتقین) (فکبکبوا) (کبکب الشئ) ددې معناداچي یوپه بل مخ اړولی شوي ؛ ابن عطیه وایې چي دغه د(کب) مضاعف دی اوجمهورهم دغسي وایې چي ددې مثال لکه (صر) او(صرصر) داسي دی زمخشري وایې چي (کبکبة) له (کب) څخه تکراردی ځکه نولفظي تکراریې په معنوي باندي دلالت کوي لکه چي په دوزخ کي وارپه وارپړمخ غورځولی کېږي څویې تل ته ورسېږي (٢) (حمیم) ګران دوست هغه چي ستامهم هغه ته مهم وي (کرة) پلا,پیره اوبل ځل راګرزېدل.

---

(١) التفسیرالکبیر٢٤ / ١٤٠
(٢) الکشاف ٣ / ٢٥٣

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

تفسير:

﴿ وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنْ أَسْرِ بِعِبَادِى ﴾ اوحکم ولېږومو موسی ته داچي دشپې بوزه زمابندګان د بحر لورته) ځکه يې بندګان ونومول چي په موسی عليه السلام يې ايمان راوړی وو(١)﴿ إِنَّكُم مُّتَّبَعُونَ ﴾ بېشکه چي په تاسي پسي به راشي (فرعون سره له لښکروچي بيرته مومصرته راستانه کړي اوومو وژني) ﴿ فَأَرْسَلَ فِرْعَوْنُ فِى ٱلْمَدَآئِنِ حَٰشِرِينَ ﴾ پس ولېږل فرعون په ښارونوکي ماسلان(محصلان) راټولونکي (اوحکم يې وکړچي له ګردوښارونولښکري راغوندي کړي دوی ته يې وويل: ﴿ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ لَشِرْذِمَةٌ قَلِيلُونَ ﴾ (بېشکه دغه (بني اسرائيل) يوه لږکی ډله ده) طبري وايې چي بني اسرائيل شپږلکه اويازره کسان وو(٢) خوده لږکی وګڼله ځکه دده ترلښکروخورالږوو﴿ وَإِنَّهُمْ لَنَا لَغَآئِظُونَ ﴾ اوبېشکه چي دغومو ږخورين کړي يو(داسي کارونه کوي چي موږتنګوي اوغصه راولي) ﴿ وَإِنَّا لَجَمِيعٌ حَٰذِرُونَ ﴾ اوبېشکه موږخامخا ټول (مجرب، محتاط اوله دوی څخه) په وېره کې يو) يعني موږهغه څوک يوچي زموږ دود دستور بيداري اوپه اموروکي احتياط کول دي. زمخشري وايې چي داهغه عذرونه دي چي فرعون يې خپل ټبرته وايې ترڅوهغه ګمان ورباندي ونکړي چي شوکت اوسلطان يې مات شوی دی (٣) الله پاک فرمايې: ﴿ فَأَخْرَجْنَٰهُم مِّن جَنَّٰتٍ وَعُيُونٍ ﴾ پس وايستل موږدغه (فرعونيان) اوقوم يې) له باغونواوله چينو(روانو) ﴿ وَكُنُوزٍ وَمَقَامٍ كَرِيمٍ ﴾ (اوله خزانو اوښو عمده ځايونونه) يعني دوی موله هغومالونوچي دوی خزانه کړي ووسره اوسپين زريې خوندي کړي وواوله ښايسته دنګومانيواو خوندوروبنګلوموراوايستل ﴿ كَذَٰلِكَ وَأَوْرَثْنَٰهَا بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴾ همداسي وکړه (موږ له قبطيانوسره) اوپه ميراث مووورکړل دغه (شيان) بني اسرائيلوته (وروسته له ډوبېدلودفرعون اولښکرويې) ﴿ فَأَتْبَعُوهُم مُّشْرِقِينَ ﴾ پس وروسته (له سبطيانو) ولاړل دغه (قبطيان او ورسېدل) هغوی ته په لمرختوکي ﴿ فَلَمَّا تَرَٰٓءَا ٱلْجَمْعَانِ ﴾ پس کله چي دغودواړولښکروسره وليدل مرادله دغودواړوډلوڅخه دفرعون او موسی ډله ده ﴿ قَالَ أَصْحَٰبُ مُوسَىٰٓ إِنَّا لَمُدْرَكُونَ ﴾ (وويل ملګرودموسی چي بېشکه خامخاموږموندل شوي (نيول شوي يو) يعني موږونيول شوفرعون اولښکري يې پسي راورسېدې اوس به مو ووژني دايې هلته وويل چي کله يې فرعون اولښکري وليدې چي ورته رانژدې شول نوفرعون يې له شااوبحريې دمخه ووځکه بدګمانه شول ﴿ قَالَ كَلَّآ ﴾ وويل موسی (سبطيانوته) چي داسي نه ده هسي مه وايست چي ونيول شووله سره به فرعون تاسوته ونه رسي ﴿ إِنَّ مَعِىَ رَبِّى سَيَهْدِينِ ﴾ بېشکه له ماسره زمارب دی (په ژغورنه

---

(١) القرطبي ١٣/١٠٠

(٢) الطبري ١٩/٤٢

(٣) الكشاف ٣/٢٤٨

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

اومددسره) ژړبه وښيي ماته (لاره دخلاصون اونجات) امام رازي وايي دوی يې په دووځېزونوقوي کړل يوداچي پروردګاريې ملګری دی اودغه دساتني اوتکفّل ضمانت کوي دوهم داچي ﴿ سَيَهْدِينِ ﴾ ماته به دژغورنی لاره پرانيزي اوکله چي يې دخلاصون لاره وروښيي اودښمن يې هلاک کړي همدغه وروستنی بری دی (١) ﴿ فَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنِ ٱضْرِب بِّعَصَاكَ ٱلْبَحْرَ ﴾ پس وحی (حکم) وکړموږ موسی ته داسي چي پخپلي همسابحرووهه ﴿ فَٱنفَلَقَ ﴾ پس وچاوېدوبحر(دوولس توټې) ﴿ فَكَانَ كُلُّ فِرْقٍ كَٱلطَّوْدِ ٱلْعَظِيمِ ﴾ پس شوه هره برخه (يوه جلاتوټه) هسکه اوچته لکه هسک اوږدغر؛ ابن عباس رضی الله عنه وايي چي دوولس لاري پکي جوړي شوې چي هرټبرته ګوښي لاره وه (٢) ﴿ وَأَزْلَفْنَا ثَمَّ ٱلْءَاخَرِينَ ﴾ بيارانږدې کړل موږدغه ځای ته هغه نور(فرعونيان چي سيندته راګډشول په بني اسرائيلو پسي يې ځغستل ﴿ وَأَنجَيْنَا مُوسَىٰ وَمَن مَّعَهُۥٓ أَجْمَعِينَ ﴾ اونجات ورکړموږ موسی ته اوهغو کسانو مؤمنانو) ته چي له ده سره ووتولوته ﴿ ثُمَّ أَغْرَقْنَا ٱلْءَاخَرِينَ ﴾ بيامورغرق کړل هغه نور (فرعونيان) مفسرين کرام وايي چي کله بحروچاوديدونوالله دموسی اودهغه دقوم لپاره دوولس وچي لاري پکي پرانستې اوبه لکه غرغوندي لوړي څپې وَدرېدې اوکله چي موسی عليه السلام اوقوم يې پوري وتل اوفرعون اولښکري يې په بشپړه توګه بحرته راننوتې الله بحرته حکم وکړچي ورباندي راشي هغسي وشول اوټول يومخ ايزه پکي غرق شول د موسی عليه السلام ځني ملګروداسي انګېرله چي فرعون به نه وي هلاک شوی نوهغه ووچي دبحرڅنډي ته اوبو راوخېژاوو چي ګردخلک يې ننداره وکړي ﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَءَايَةً ﴾ بېشکه په دغه (غرقېدلود فرعونيانو کي) خامخادليل (دعبرت اوقدرت زموږ) دی (چي څرنګه الله تعالی خپل اولياء ژغوري اوخپل دښمنان ځپي (هلاکوي) ﴿ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴾ (اونه ووزياتره ددوی (مؤمنان) يعني سره له ليدلو کتلودداسي ستروديليونو زياتره انسانان بياهم ايمان نه راوړي پدې کي درسول الله صلی الله عليه وسلم لپاره ډاډينه اودکفارو لپاره تهديدپټ دی ﴿ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴾ او بېشکه خامخا پروردګار ستاخامخاهمدی دی ښه زورور(کسات اخيستونکی له دښمنانو) ښه رحم والا (ژغورونکی داوليآوو) ﴿ وَٱتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ إِبْرَٰهِيمَ ﴾ او ولوله (ای محمده پدغوکفارودمکې) خبر (کيسه) دابراهيم (هغه چي خوراستره اومهمه ده دغه دابراهيم عليه السلام دکيسې پيل دی (٣) ﴿ إِذْ

---

(١) التفسيرالکبير ٢٤ / ١٣٧

(٢) مختصرابن کثير ٣ / ٦٤٩

(٣) امام رازي رحمه الله وايي چي لومړی دسورت په پيل کي الله دخپل پيغمبرخواشيني دخپل قوم په کفروښودله بيايې دموسی عليه السلام کيسه ورته بيان کړه چي همداسي محنت هغه ته هم رسېدلی وو،ورپسې يې دابراهيم عليه السلام کيسه راوړه ترڅومحمدصلی الله عليه وسلم وپوهېږي چي دابراهيم عليه السلام غم اوخواشيني پدې هکله ترده لانوره هم زياته وه ځکه ترګردوستره ازموينه دابراهيم عليه السلام وه چي خپل قوم اوپلاريې په اورکي ليدل اونه يې شوکولای هغوی وژغوري مګرداچي دعاوي ورته وکړي اوتنبيه يې کړي. تفسيرکبير ٢٤ / ١٤٢

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِۦ مَا تَعْبُدُونَ ﴾ کله چي يې خپل پلار او قوم ته وويل چي دڅه شي عبادت کوی؟؛ ددې پوښتنه يې ترې وکړه سره له دې چي پوهېدو هغوی دڅه شي عبادت کوي ددې لپاره چي ددوی دعقلونو خام والی څرګندشي اودليل ورباندي قائم کړي ﴿ قَالُوا۟ نَعْبُدُ أَصْنَامًا فَنَظَلُّ لَهَا عَٰكِفِينَ ﴾ نوويل دوی موږدبتانوعبادت کووپس چي همېشه اوسو دوی ته نژدې کيناستونکي. دغه يې دويار اوخوښي په توګه وويل دابس ووچي ويلي يې وای موږدبتانو عبادت کووخودوی دخپل ښکلي کار ويار هم وښود ﴿ قَالَ هَلْ يَسْمَعُونَكُمْ إِذْ تَدْعُونَ ﴾ (وويل (ابراهيم) آيا اوري دغه (بُتان بلنه) دتاسوکله چي يې تاسي بولی) دغه يې توبيخ اوچوپولولپاره ورته وويل چي آياکله چي تاسي هغوی ته پناه وروړی اودعاوي ورته کوی هغه يې اوري ؟!﴿ أَوْ يَنفَعُونَكُمْ أَوْ يَضُرُّونَ ﴾ (آياڅه ګټه رسوي تاسي ته اوياتاوان دررسوي) کله چي يې عبادت کوی اوياکله چي يې عبادت ونکړی ، يادامعناچي آيادوی تاسي ته کومه ګټه دررسوي اوکوم تاوان درڅخه دفع کوي ؟!﴿ قَالُوا۟ بَلْ وَجَدْنَآ ءَابَآءَنَا كَذَٰلِكَ يَفْعَلُونَ ﴾ (وويل (کفارو) بلکه موږخپل پلرونه موندلي دي چي همداسي به يې کول (نوموږ همداسي کوو. ابوالسعودوايې چي دوی پدې قانع شول چي دابتان خونه ګټه رسوي اونه تاوان نو مجبور شول چي حقيقت څرګندکړي چي دوی پدې هکله کوم علمي سندنلري يوازي د پلرونوتقليد کوي اودغه ددليل نه لرلويوه ننبه ده(١)﴿ قَالَ أَفَرَءَيْتُم مَّا كُنتُمْ تَعْبُدُونَ أَنتُمْ وَءَابَآؤُكُمُ ٱلْأَقْدَمُونَ ﴾ (وويل (ابراهيم) آيا پس وينی تاسي (پوهېږی) هرهغه څه چي تاسي يې عبادت کوی او پلرونوستاسي چي پخواتېر شوي دي (ددوی عبادت کاوو) ﴿ فَإِنَّهُمْ عَدُوٌّ لِّىٓ إِلَّا رَبَّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ پس بېشکه چي دغه (بتان) دښمنان زما دي پرته له رب العالمينه) يعني زه ددغو بُتانوعبادت نه کوم يوازي درب العالمين عبادت کوم هغه زما په دنياوآخرت کي کار جوړونکی دی ؛ خپل ځان ته يې ددښمني ځکه نسبت وکړچي دوی ته تعريض وشي اودغه په نصيحت کي ترتصريح لاوړاندي اوأبلغ دی ﴿ ٱلَّذِى خَلَقَنِى فَهُوَ يَهْدِينِ ﴾ هغه رب چي زه يې پيداکړی يم هم دی سمه صافه لاره ماته ښيي ،دغه بُتان هيڅ هم نه دی ﴿ وَٱلَّذِى هُوَ يُطْعِمُنِى وَيَسْقِينِ ﴾ (اوهغه رب زمادی چي همدی خواړه خوروي پرمااو اوبه (اونور) څښوي پرما) هغه پيداکونکی روزي رسان ذات دی چي له وريځي څخه باران اوروي اوبياورباندي ډول ډول غلې داني زرغونوي چي دبندګانولپاره روزي شي ﴿ وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِينِ ﴾ (او(هغه رب) چي رنځورشم پس همدی شفا راکوي) ؛ له ده پرته هيڅوک دشفاورکولوړنشته اوداچي درنځوري نسبت يې ځان ته وکړدادب مراعات دی که داسي نه وي نورنځوري اوروغتياخو ګرددالله له لوري دی نوپه کلام کي يې حسن ادب استعمال کړ﴿ وَٱلَّذِى يُمِيتُنِى ثُمَّ يُحْيِينِ ﴾ (اوهغه (رب) چي مړکوي مي بيابه مي ژوندی کوي) يعني له ده بغيرهيڅوک دمرګ

(١) ابوالسعود ٤ / ١٠٩

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

اوژوندواکدار نشته ﴿ وَٱلَّذِىٓ أَطۡمَعُ أَن يَغۡفِرَ لِى خَطِيٓـَٔتِى يَوۡمَ ٱلدِّينِ ﴾ اوهغه (رب) چي هيله (تري) لرم ددې چي مغفرت وکړي ماته خطازماپه ورځ دجزاء کي (کله چي خلکوته د اعمالو جزاګاني ورکول کېږي دهغه وېړاوپراخ رحمت ته اميدواريم پدې کي اُمت ته ښوونه اوتعليم دی چي پخپلو ګناهونواقرار وکړي اومغفرت يې وغواړي ﴿ رَبِّ هَبۡ لِى حُكۡمًا وَأَلۡحِقۡنِى بِٱلصَّٰلِحِينَ ﴾ ای ربه زماماته حکم وبښه (يعني فهم، حکمت اوعلم راکړه) اوپيوست مي کړه له صالحانوسره (دهغوی په ټولګي کي مي وګنه) ﴿ وَٱجۡعَل لِّى لِسَانَ صِدۡقٍ فِى ٱلۡأٓخِرِينَ ﴾ اووګرزوه ماته ژبه دصدق (اودثنااونېکنامي آوازه) په وروستنيوخلکوکي (ترقيامته) چي زمايادکېږي اوخلک راپسي اقتدآء کوي (١) ابن عباس رضی الله عنه وايې چي پدی دامتونواجتماع ده چي هرامت په هغه (ابراهيم عليه السلام) منګولي لګوي اوورپسي اقتداء کوي، درناوی يې ساتي. ﴿ وَٱجۡعَلۡنِى مِن وَرَثَةِ جَنَّةِ ٱلنَّعِيمِ ﴾ اوومي ګرزوه له وارثانودجنت دنعمتونو ﴿ وَٱغۡفِرۡ لِأَبِىٓ ﴾ اوبښنه وکړه زماپلارته (ايمان ته يې رهبري کړه) ﴿ إِنَّهُۥ كَانَ مِنَ ٱلضَّآلِّينَ ﴾ بېشکه چي دی وله ګمراهانو صاوي وايې چي الله پاک دابراهيم عليه السلام ګردي دُعاګاني ومنلې يوازي دپلاردبښني دعايې مستجابه نکړه (٢) قرطبي وايې چي پلاريې ورسره ژمنه کړي وه چي ورباندي ايمان به راوړي نوځکه يې ورته ښبنه وغوښته اوکله چي ورته څرګنده شوه پلاريې پخپله وعده وفانکوي نوتري بېزاره شو.(٣) ﴿ وَلَا تُخۡزِنِى يَوۡمَ يُبۡعَثُونَ ﴾ اومه مي شرموه په هغه ورځ کي چي ژوندی راپاڅولی شي (دحساب اوجزالپاره پدې کي دده تواضع معلومېږي چي دالله دعظمت په وړاندي يې څرګندوي که نه الله پاک پخپله دهغه ثناداسي وايې ﴿ إِنَّ إِبۡرَٰهِيمَ كَانَ أُمَّةً .... ﴾ دآيت ترپايه ﴿ يَوۡمَ لَا يَنفَعُ مَالٌ وَلَا بَنُونَ ﴾ په هغه ورځ چي ګټه نه رسوي مال اونه (نفع رسوي) زامن (هيچاته) ﴿ إِلَّا مَنۡ أَتَى ٱللَّهَ بِقَلۡبٍ سَلِيمٍ ﴾ مګرهغه چاته چي الله ته په سلامت زړه راغلي دي (له کفره، نفاقه، حسداوکينې څخه تردې ځايه دابراهيم خليل عليه السلام دعاګاني بشپړي شوې بيا الله تعالی وفرمايل: ﴿ وَأُزۡلِفَتِ ٱلۡجَنَّةُ لِلۡمُتَّقِينَ ﴾ اونژدې به کړی شي جنت پرهېزګارانوته (چي ورننوزي. طبري وايې چي داهغه کسان دي چي دالله له عذابه يې ځانونه په طاعاتوژغورلي وي (٤) ﴿ وَبُرِّزَتِ ٱلۡجَحِيمُ لِلۡغَاوِينَ ﴾ اوښکاره به کړی شي دوزخ ګمراهانوته (چي دسرپه سترګويې ووينې نومؤمنان به جنت وينې چي مسرت اوخوښي يې زياته شي او ګمراهان به دوزخ ووينې چي غم اوحسرت يې پيداشي ﴿ وَقِيلَ لَهُمۡ ﴾ اووبه ويل شي دوی (مجرمينو) ته دتوبيخ اوتقريع په توګه)

---

(١) ځيني علماوويلي چي په آيت شريف کي دنېکنامي دګټلو مستحب والی څرګندی ځکه چي هغه دوهم ژوندی لکه چي وايې: (قدمات قوم وهم فی الناس احياء) يعني ځيني خلک خووفات شوي مګرپياهم په نوم سره ژوندي دي.

(٢) الصاوی علی الجلالين ٣ / ١٧٥

(٣) القرطبي ١٣ / ١١٤

(٤) الطبري ١٩ / ٥٥

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

﴿ أَيْنَ مَا كُنتُمْ تَعْبُدُونَ ﴾ چېرته دي هغه معبودان ستاسي بې له الله چي تاسو به پرته له الله ددوی عبادت کاوو (لکه بُتان اوشریکان؟) ﴿ هَلْ يَنصُرُونَكُمْ أَوْ يَنتَصِرُونَ ﴾ آیاله تاسي سره مدد کوي (چي دالله له عذابه مووژغوري) یاڅه مدد کوي دوی له خپله ځانه سره ؟(چي له ځانه بې دفع کړي بلکه نه یې شي کولای دغه ټول توبیخ اوترتنه ده ﴿ فَكُبْكِبُوا فِيهَا ﴾ پس وبه غورځولی شي (سرپه ځېړی په دوزخ) کي. مجاهدوایې دوی به نسکورپه دوزخ کي واچولی شي . طبري وایې معنایې داچي یودبل دپاسه به پړمخي سره وغورځول شي (١)﴿ هُمْ وَالْغَاوُونَ ﴾ دوی (بتان) اومشرکان ، عابدان اومعبودان لکه چي داآیت ﴿ إِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ ﴾ الانبیاء ٩٨) ﴿ وَجُنُودُ إِبْلِيسَ أَجْمَعُونَ ﴾ اولښکرد ابلیس ټول (عابدان اومعبودان له پېریانو او انسانانوڅخه) ﴿ قَالُوا وَهُمْ فِيهَا يَخْتَصِمُونَ ﴾ وبه وایې دوی (عابدان معبودانوته) حال داچي دوی به په دوزخ کي سره جګړې کوي ﴿ تَاللَّهِ إِن كُنَّا لَفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴾ قسم دی په الله چي بېشکه شان دادی چي موږوو خامخاپه څرګنده ګمراهي کي (له حقه ډېرلري وو) ﴿ إِذْ نُسَوِّيكُم بِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴾ کله چي موږتاسي برابرولی (په عبادت کي) له رب (پالونکي) دعالمیانوسره ﴿ وَمَا أَضَلَّنَا إِلَّا الْمُجْرِمُونَ ﴾ اونه ووګمراه کړي موږمګرهم دغو مجرمانو (مشرانوچي موږته یې ګناهونه اوکفرښایسته کړي وو) ﴿ فَمَا لَنَا مِن شَافِعِينَ ﴾ پس نشته موږته له سره له شفاعتګر(چي په دغه ورځ کي موپه کارشي) ﴿ وَلَا صَدِيقٍ حَمِيمٍ ﴾ اونه کوم دوست مخلص (چي دالله له عذابه مووژغوري) ﴿ فَلَوْ أَنَّ لَنَا كَرَّةً ﴾پس (کاشکي) که وي موږته یوکرت (بیرته) تګ دنیاته) ﴿ فَنَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴾ پس شوي به وومورږله مؤمنانو(نېک عملونه به موکول الله به مومنل) ﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ﴾بېشکه په دغه (کیسه دابراهیم اوقوم کي یې) خامخالوی عبرت دی (عاقلانوته) چي ستر ګوروي پندترې واخلي) ﴿ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴾ اونه ووزیاتره ددوی مؤمنان ﴿ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴾ اوبېشکه رب ستاهم هغه غالب قوي دی (په کسات اخیستلوله (دښمنانو) ډېررحم والادی (په خپلواولیاوو باندي).

بلاغت:

پدې آیتونوکي دبلاغت اوبدیع څه ښکلاوي شته لنډیزیې دادی:

١-ایجازبالحذف چي فرمایې ﴿ فَانفَلَقَ ﴾ چي تقدیریې دادی چي بحریې وواهوبیاوچودل.

---

(١) پورتنی مرجع.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

۲ – مرسله مجمله تشبیه پدې کلام کي ﴿ كَٱلطَّوۡدِ ٱلۡعَظِيمِ ﴾ لکه غرپه ټینګ والي اوچتوالي کي ادات د تشبیه ذکرشوی خووجه د شبه حذف شوي نو مرسله مجمله تشبیه بلل کېږي.

۳ – د طباق صنعت چي د ﴿ يَنفَعُونَكُمۡ.... أَوۡ يَضُرُّونَ ﴾ او ﴿ يُمِيتُنِي .... يُحۡيِينِ ﴾ ترمینځ دی.

۴ – دادب مراعات چي پدې کلام کي له ورایه څرګند دی ﴿ وَإِذَا مَرِضۡتُ فَهُوَ يَشۡفِينِ ﴾ داسي یې ونه ویل چي کله مي هغه رنځورکړي ؛ بلکه ویې ویل چي کله رنځورشم دغه یې له الله تبارک وتعالی سره دادب رعایت وکړ ځکه د شرنسبت الله ته دادب له مخي نه کول په کاردی که څه هم شفااورنځ دواړه د الله له لوري دي.

۵ – لطیفه استعاره پدې کلام کي چي ﴿ وَٱجۡعَل لِّي لِسَانَ صِدۡقٖ ﴾ دلته یې ژبه دنېکي ثنالپاره استعاره کړي ده.

۶ – خوندوره مقابله لکه چي فرمایې ﴿ وَبُرِّزَتِ ٱلۡجَحِيمُ لِلۡغَاوِينَ ﴾ ددې ویناپه مقابل کي چي ﴿ وَأُزۡلِفَتِ ٱلۡجَنَّةُ لِلۡمُتَّقِينَ ﴾ دی.

۷ – دفواصلو مراعات چي دآیتونو په پای کي دی لکه : ﴿ لِلۡمُتَّقِينَ .... لِلۡغَاوِينَ.... ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ﴾ چي دغه حسینه سجع اودبیان ښکلا اوجمال زیاتوي.

تنبیه:

روایت کېږي چي ابراهیم علیه السلام به دقیامت په ورځ له خپل پلارآزرسره مخامخ شي دآزرمخ به ګردجن لوغړن وي ابراهیم علیه السلام به ورته وایې آیامانه درته ویل چي زماڅخه سرغړونه مکړه ؟ پلاربه یې وایې نن ورځ ستاخبره منم. ابراهیم علیه السلام به ووایې ای ربه تاراسره وعده کړي چي زه به دي په د قیامت په ورځ نه شرموم نوتردې به لوړه شرمندګي کومه وي چي پلارمي پدې حال وي الله تعالیٰ جل جلاله به وفرمایې ماپه کافرانوباندي جنت حرام کړی دی اوبیابه ابراهیم علیه السلام ته ووایې: دپښې لاندي ته دي وګوره اوچي وګوري نوبه یولړلی (ضبع) نرحیوان ووینې اوهغه به ترپښوونیول شي په اورکي به وغورځول شي. رواه البخاري.

***

الله تعالی فرمایي:

﴿ كَذَّبَتۡ قَوۡمُ نُوحٖ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿١٠٥﴾ إِذۡ قَالَ لَهُمۡ أَخُوهُمۡ نُوحٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٠٦﴾ إِنِّي لَكُمۡ رَسُولٌ أَمِينٞ ﴿١٠٧﴾ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٠٨﴾ وَمَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ أَجۡرٍۖ إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٠٩﴾ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١١٠﴾ ۞ قَالُوٓاْ أَنُؤۡمِنُ لَكَ وَٱتَّبَعَكَ ٱلۡأَرۡذَلُونَ ﴿١١١﴾ قَالَ وَمَا عِلۡمِي بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿١١٢﴾ إِنۡ حِسَابُهُمۡ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّيۖ لَوۡ تَشۡعُرُونَ ﴿١١٣﴾ وَمَآ أَنَا۠ بِطَارِدِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١١٤﴾ إِنۡ أَنَا۠ إِلَّا نَذِيرٞ مُّبِينٞ ﴿١١٥﴾ قَالُواْ لَئِن لَّمۡ تَنتَهِ يَٰنُوحُ لَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡمَرۡجُومِينَ ﴿١١٦﴾ قَالَ رَبِّ إِنَّ قَوۡمِي كَذَّبُونِ ﴿١١٧﴾ فَٱفۡتَحۡ بَيۡنِي وَبَيۡنَهُمۡ فَتۡحٗا وَنَجِّنِي وَمَن مَّعِيَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١١٨﴾ فَأَنجَيۡنَٰهُ وَمَن مَّعَهُۥ فِي ٱلۡفُلۡكِ ٱلۡمَشۡحُونِ ﴿١١٩﴾ ثُمَّ

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

أَغْرَقْنَا بَعْدُ ٱلْبَاقِينَ ﴿١٢٠﴾ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٢١﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٢٢﴾ كَذَّبَتْ عَادٌ
ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٢٣﴾ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ هُودٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٢٤﴾ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٢٥﴾ فَٱتَّقُوا ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٢٦﴾ وَمَا أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ
مِنْ أَجْرٍ ۖ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٢٧﴾ أَتَبْنُونَ بِكُلِّ رِيعٍ ءَايَةً تَعْبَثُونَ ﴿١٢٨﴾ وَتَتَّخِذُونَ مَصَانِعَ لَعَلَّكُمْ تَخْلُدُونَ
﴿١٢٩﴾ وَإِذَا بَطَشْتُم بَطَشْتُمْ جَبَّارِينَ ﴿١٣٠﴾ فَٱتَّقُوا ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٣١﴾ وَٱتَّقُوا ٱلَّذِيٓ أَمَدَّكُم بِمَا تَعْلَمُونَ ﴿١٣٢﴾ أَمَدَّكُم بِأَنْعَٰمٍ
وَبَنِينَ ﴿١٣٣﴾ وَجَنَّٰتٍ وَعُيُونٍ ﴿١٣٤﴾ إِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٣٥﴾ قَالُوا۟ سَوَآءٌ عَلَيْنَآ أَوَعَظْتَ أَمْ لَمْ تَكُن مِّنَ
ٱلْوَٰعِظِينَ ﴿١٣٦﴾ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا خُلُقُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿١٣٧﴾ وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ ﴿١٣٨﴾ فَكَذَّبُوهُ فَأَهْلَكْنَٰهُمْ ۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ۖ وَمَا كَانَ
أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٣٩﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٤٠﴾ كَذَّبَتْ ثَمُودُ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٤١﴾ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ صَٰلِحٌ أَلَا تَتَّقُونَ
﴿١٤٢﴾ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٤٣﴾ فَٱتَّقُوا ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٤٤﴾ وَمَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ ۖ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٤٥﴾
أَتُتْرَكُونَ فِي مَا هَٰهُنَآ ءَامِنِينَ ﴿١٤٦﴾ فِي جَنَّٰتٍ وَعُيُونٍ ﴿١٤٧﴾ وَزُرُوعٍ وَنَخْلٍ طَلْعُهَا هَضِيمٌ ﴿١٤٨﴾ وَتَنْحِتُونَ مِنَ ٱلْجِبَالِ
بُيُوتًا فَٰرِهِينَ ﴿١٤٩﴾ فَٱتَّقُوا ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٥٠﴾ وَلَا تُطِيعُوٓا۟ أَمْرَ ٱلْمُسْرِفِينَ ﴿١٥١﴾ ٱلَّذِينَ يُفْسِدُونَ فِي ٱلْأَرْضِ وَلَا يُصْلِحُونَ ﴿١٥٢﴾
قَالُوٓا۟ إِنَّمَآ أَنتَ مِنَ ٱلْمُسَحَّرِينَ ﴿١٥٣﴾ مَآ أَنتَ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا فَأْتِ بِـَٔايَةٍ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿١٥٤﴾ قَالَ هَٰذِهِۦ نَاقَةٌ لَّهَا
شِرْبٌ وَلَكُمْ شِرْبُ يَوْمٍ مَّعْلُومٍ ﴿١٥٥﴾ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوٓءٍ فَيَأْخُذَكُمْ عَذَابُ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٥٦﴾ فَعَقَرُوهَا فَأَصْبَحُوا۟ نَٰدِمِينَ ﴿١٥٧﴾
فَأَخَذَهُمُ ٱلْعَذَابُ ۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٥٨﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٥٩﴾ كَذَّبَتْ
قَوْمُ لُوطٍ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٦٠﴾ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ لُوطٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٦١﴾ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٦٢﴾ فَٱتَّقُوا ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٦٣﴾ وَمَآ
أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ ۖ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٦٤﴾ أَتَأْتُونَ ٱلذُّكْرَانَ مِنَ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٦٥﴾ وَتَذَرُونَ مَا خَلَقَ لَكُمْ
رَبُّكُم مِّنْ أَزْوَٰجِكُم ۚ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ عَادُونَ ﴿١٦٦﴾ قَالُوا۟ لَئِن لَّمْ تَنتَهِ يَٰلُوطُ لَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمُخْرَجِينَ ﴿١٦٧﴾ قَالَ إِنِّي لِعَمَلِكُم مِّنَ
ٱلْقَالِينَ ﴿١٦٨﴾ رَبِّ نَجِّنِي وَأَهْلِي مِمَّا يَعْمَلُونَ ﴿١٦٩﴾ فَنَجَّيْنَٰهُ وَأَهْلَهُۥٓ أَجْمَعِينَ ﴿١٧٠﴾ إِلَّا عَجُوزًا فِي ٱلْغَٰبِرِينَ ﴿١٧١﴾ ثُمَّ دَمَّرْنَا ٱلْءَاخَرِينَ
﴿١٧٢﴾ وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِم مَّطَرًا ۖ فَسَآءَ مَطَرُ ٱلْمُنذَرِينَ ﴿١٧٣﴾ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٧٤﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلْعَزِيزُ
ٱلرَّحِيمُ ﴿١٧٥﴾ كَذَّبَ أَصْحَٰبُ لْـَٔيْكَةِ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٧٦﴾ إِذْ قَالَ لَهُمْ شُعَيْبٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٧٧﴾ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٧٨﴾ فَٱتَّقُوا ٱللَّهَ
وَأَطِيعُونِ ﴿١٧٩﴾ وَمَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ ۖ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٨٠﴾ ۞ أَوْفُوا ٱلْكَيْلَ وَلَا تَكُونُوا۟ مِنَ ٱلْمُخْسِرِينَ
﴿١٨١﴾ وَزِنُوا۟ بِٱلْقِسْطَاسِ ٱلْمُسْتَقِيمِ ﴿١٨٢﴾ وَلَا تَبْخَسُوا۟ ٱلنَّاسَ أَشْيَآءَهُمْ وَلَا تَعْثَوْا۟ فِي ٱلْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿١٨٣﴾ وَٱتَّقُوا۟ ٱلَّذِي
خَلَقَكُمْ وَٱلْجِبِلَّةَ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿١٨٤﴾ قَالُوٓا۟ إِنَّمَآ أَنتَ مِنَ ٱلْمُسَحَّرِينَ ﴿١٨٥﴾ وَمَآ أَنتَ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا وَإِن نَّظُنُّكَ لَمِنَ ٱلْكَٰذِبِينَ
﴿١٨٦﴾ فَأَسْقِطْ عَلَيْنَا كِسَفًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿١٨٧﴾ قَالَ رَبِّيٓ أَعْلَمُ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١٨٨﴾ فَكَذَّبُوهُ

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

فَأَخَذَهُمْ عَذَابُ يَوْمِ ٱلظُّلَّةِ إِنَّهُۥ كَانَ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٨٩﴾ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٩٠﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٩١﴾ ﴾ الشعراء: ۱۰۵ - ۱۹۱

مناسبت اوتړاو:

کله چي الله پاک خپل پیغمبرته دموسی اوابراهیم علیهماالسلام کیسې واورولې ورپسې یې دحضرت نوح ، هود، صالح ، لوط اوشعیب علیهم السلام کیسې راوړې اوپدې ګردوکې درسول الله صلی الله علیه وسلم لپاره تسلیت اوډاډینه ده چي کوم څه له خپله قومه وررسېږي نوروانبیاووهم دغه ترخه لیدلي دي اوبل دالله سنت څرګندوي چي مکذبینوته څرنګه عذاب ورکوي ؟!

لغتونه:

(المشحون) ډک لکه چي وایې کښتۍ (بېړۍ) ډکه شوه کله چي یې له خلګوڅاروواوغلوډکه بارکړي (ربع) هغه څه چي له ځمکې لوړاولیاري ته وایې (مصانع) مرادځیني برجونه دي لکه چي ابن عباس رضی الله عنه وایې (بطشتم) بطش په زور اوقهرسره نیولوته وایې (الجبلة) خوی خاصیت اوهروي وایې چي(الجبلة والجبل) دغه دزیات شمېرجمع ده لکه چي الله فرمایې ﴿ وَلَقَدْ أَضَلَّ مِنكُمْ جِبِلًّا كَثِيرًا ﴾ یعني دېرخلک اوویل کېږي (جبل فلان علی کذا) یعني هغه په داسي خوی پیداشوی دی (کسفا) دکسفة جمع اوتوټې ته ویل کېږي.

تفسیر:

﴿ كَذَّبَتْ قَوْمُ نُوحٍ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴾ نسبت ددروغوکړقوم دنوح رسولانوته ؛ اوداچي مرسلین یې وفرمایل څکه څوک چي دیوه پیغمبرتکذیب وکړي لکه چي دټولوبې کړی وي ﴿ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ نُوحٌ ﴾ کله چي وویل دوی ته ورور(قومي)ددوی ,نوح ته یې ورور ووایوهغه چي په دین کي یې ورور وي. زمخشري وایې دغه دعربوویناوی لکه چي وایې ای دبني تمیم وروره یعني ای دبني تمیم سړیه ﴿ أَلَا تَتَّقُونَ ﴾ آیانه وېرېږئ (له عذابه دالله چي دبتانوعبادت کوی؟) ﴿ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴾ بېشکه چي زه یم تاسي ته استازی امانتګر(په نصیحت کي نه دروغ وایم اونه خیانت کونکی یم)﴿ فَٱتَّقُوا ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴾ پس تاسي له الله ووېرېږئ اوزمااطاعت وکړئ ﴿ وَمَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ ﴾ اونه غواړم زه له تاسي په دغه (تبلیغ) هیڅ مزدوري ﴿ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ ندی اجرزمامګرپرپالونکي دعالمیانودی ﴿ فَٱتَّقُوا ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴾ پس تاسي له الله ووېرېږئ اوزماحکم ومنئ دغه یې څکه تکرار راووړچي دچاري په اهمیت باندي خبرداری ورکړي اوتاکیدیې وشي ﴿ قَالُوٓا أَنُؤْمِنُ لَكَ وَٱتَّبَعَكَ ٱلْأَرْذَلُونَ ﴾ وویل (کفارو) آیاایمان په تاراوړو(ای نوح لکه چي ته وایې) حال داچي ستامتابعت رذیلانو (بېوزلانو)کړی دی. بیضاوي وایې دغه پخپله ددوی ناپوهي اوبېعقلي ښکاره کوي چي دوی مال دولت ته دومره ارزښت ورکړچي

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

دبهوزلانو په سبب يې دنوح بلنه اومتابعت ونه مانو(١)﴿ قَالَ وَمَا عِلْمِي بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴾ (وويل نوح) اونشته زماعلم په هغه څه چي دوی يې کوي) يعني زه ددې مکلفيت نلرم چي ددوی پټ رازونه وسپړم چي آيادوی په اخلاص اوکه دکومي هيلي اوطمعي لپاره پرماايمان راوړی دی؟ قرطبي وايې لکه چي دوی داسي انګېرله چي دغوبهوزلانوخوپرتاباندي ددې لپاره چي دمال اوعزت هيله من دي ايمان راوړی دی نوحضرت نوح په ځواب کي ورته وويل چي زه ددوی په باطن څه خبريم اوماته ددوی ظاهري ايمان راوړل قبول دي (٢)﴿ إِنْ حِسَابُهُمْ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّي لَوْ تَشْعُرُونَ ﴾ (ندی حساب ددوی مګرپه پالونکي زمادی که تاسوپوهېږی) يعني ددوی حساب اوجزا پخپله الله ورکوي هغه په پټورازونو اودزړونوپه نيتونوخبردی که تاسي پدې پوهېږی ﴿ وَمَا أَنَا بِطَارِدِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ (اوزه نه يم شړونکی دمؤمنانوله خپله مجلسه) يعني زه دغه بهوزله مؤمنان له ځانه نه ليري کوم اونه يې له مجلسه شړم. ابوحيان وايې داسي معلومېږي چي دوی ورڅخه دغه مطالبه اوغوښتنه کړي وي لکه چي قريشو سردارانوله رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه غوښتنه کوله چي بهوزله مسلمانان دي له مجلسه وشړي (٣)﴿ إِنْ أَنَا إِلَّا نَذِيرٌ مُبِينٌ ﴾ نه يم زه مګرښکاره وېرونکی يم (کفاروته دالله له عذابه اوقهر څخه نوڅوک چي زمامتابعت اوپيروي وکړي هغه نجات وموندهغه که عزت من مالداروي اوکه خواروي که لوړوي اوکه ټيټ ﴿ قَالُوا لَئِنْ لَمْ تَنْتَهِ يَا نُوحُ لَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمَرْجُومِينَ ﴾ وويل(کفارو) چي خامخاکه ته وانه وښتې ای نوح (له دغووينا ووڅخه) خامخاشې به ته هرومرو له ويشتل شويو(په کاڼو) هغه يې په داسي وژلوچي په کاڼوويشتلوترسره کېږي وبېراوونوپدې وخت کي نوح عليه السلام بېخي ناهيلی اومايوس شوچي دغه خلګ خلاصون نشي موندلای نويې وويل: ﴿ قَالَ رَبِّ إِنَّ قَوْمِي كَذَّبُونِ ﴾ وويل نوح ای زماربه بېشکه چي زماقوم زه دروغجن وبللم (ايمان يې راباندي نه راووړ)﴿ فَافْتَحْ بَيْنِي وَبَيْنَهُمْ فَتْحًا ﴾ پس حکم وفرمايه په مينځ زما اوددوی کي په يوډول حکم (چي ته غواړې) اوپخپله عادلانه فيصله صادره کړه) ﴿ وَنَجِّنِي وَمَنْ مَعِيَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١١٨﴾ فَأَنْجَيْنَاهُ وَمَنْ مَعَهُ فِي ٱلْفُلْكِ ٱلْمَشْحُونِ ﴾ او وژغوری ما اوهغه چې له ماسره دی له مؤمنانو څخه پس نجات ورکړموږدغه (نوح) ته اوهرهغه ته چي له دغه (نوح) سره ووپه هغه بېړۍ کي چي ډکه وه (په نارينه وو ، ښځينه وواوحيواناتو﴿ ثُمَّ أَغْرَقْنَا بَعْدُ ٱلْبَاقِينَ ﴾ بياغرق کړو موږ وروسته له (نجاته دبېړۍ) نور(قوم دنوح) ﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ﴾ بېشکه په دغه کي خامخا لويه نښه ده (دعبرت چي څوک سوچ اوفکرکوي) ﴿ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُمْ مُؤْمِنِينَ ﴾ اونه ووزياتره ددوی مؤمنان ﴿ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴾ اوبېشکه رب ستاخامخاهم دی ښه غالب زورور، رحم والادی (په بندګانوچي سمدستي يې نه عذابوي

(١) البيضاوي ٢/ ٧٢
(٢) القرطبي ١٣/ ١٢٠
(٣) البحر ٧/ ٣٢

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

وروسته الله تعالی دهودعليه السلام کيسه پيل کوي فرمايي : ﴿ كَذَّبَتْ عَادٌ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴾ نسبت ددروغوکړی ووعاديانورسولانوته ؛ څرنګه چي دوی دهودعليه السلام تکذيب کړی وواوديوه پيغمبرتکذيب دګردوانبياووتکذيب دی ﴿ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ هُودٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴾ کله چي وويل دوی ته (قومي) وروردوی هودچي آيانه وېرېږی (دالله له عذاب اوکسات څخه چي له هغه پرته دبل چاعبادت کوی ؟) ﴿ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴾ بېشکه زه يم تاسي ته رسول امانتګر(په وحی اودېني نصيحت کي) ﴿ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴾ نووېرېږئ تاسي له الله اوزمااطاعت وکړئ (په شرعي چاروکي) ﴿ وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴾ اونه غواړم زه له تاسي نه پردغه تبليغ باندي له تاسي هيڅ اجرمزدوري نه دی اجرزمامګرپه پالونکي دعالميانودی. ددې لپاره يې دغه مکرر راوړل چي پدې تنبيه راشي چي دپيغمبرانوبلنه اودعوت يودی ﴿ أَتَبْنُونَ بِكُلِّ رِيعٍ آيَةً تَعْبَثُونَ ﴾ (آياجوړوی تاسي پر هرهسک ځای (لويه لاره) ننبه هسک(چي کنبېنی) استفهام انکاري دی يعني تاسي سره دانه ښايي. ابن کثيروايې چي (ريع) معنالوړاوچت ځای دی اودوی به په لويولاروستروځايونو ښاوي کولي چي ددوی دقوت څرګندونه وکړي اودغه به مجردعبث اولهوکاروو څکه نوددوی پيغمبر بد وګاڼه چي دوخت ضائع کول اودځان ستوماني اوسترپاده چي نه په دنياکي ګټه لري اونه هم په آخرت کي (۱)﴿ وَتَتَّخِذُونَ مَصَانِعَ لَعَلَّكُمْ تَخْلُدُونَ ﴾ اوجوړوی پاخه ځايونه (بلډنګونه) ښايي چي تاسي به تل اوسېږی (په دنياکي چي نه به مړه کېږی ؟) ﴿ وَإِذَا بَطَشْتُمْ بَطَشْتُمْ جَبَّارِينَ ﴾ اوکله چي لاس اچوی تاسي چاته منګولي لګوی. په جبراوظلم سره چي مهرباني اورحمت نلری. دغه يې څکه بدوګڼل چي دغه دظالمانو اوجابرانوخوی دی . امام فخررازي وايې چي ددوی يې درې صفتونه راوړل يوداچي لوړ ځايونه ودانوي چي دغه دأسراف اولويي ننبه ده دوهم ټينګ اوپاخه برجونه جوړل چي دغه بيادخلود اوبقا علامه ده اودريم دظالمانواوجابرانودود ، دستور چي دادخپلمخي اواستبدادننبه ده اودغه ګردپه دې دلالت کوي چي پردوی باندي ددنيامينه راګرزېدلي وه اودوی يومخ ايزه پکي ډوب وواوله بندګي څخه بېخي وتلي ووچي دربوبيت ددعوې ترسرحده رسېدلي وه) اوددنيامحبت دهري ګناه پيلامه ده (۲)﴿ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴾ نو ووېرېږئ تاسي له الله څخه اوتاسي زمااطاعت وکړئ (په شرعيه اموروکي) بيا وروسته يې دالله هغه جل جلاله نعمتونه ورپه يادکړل چي) ﴿ وَاتَّقُوا الَّذِي أَمَدَّكُمْ بِمَا تَعْلَمُونَ ﴾ اووېرېږئ له هغه الله چي احسان مددګاري يې کړي ده له تاسي سره په هغه څېز چي پرې پوهېږی (له نعمتونواوخيراتونوڅخه) ﴿ أَمَدَّكُمْ بِأَنْعَامٍ وَبَنِينَ وَجَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ﴾(اووېرېږئ تاسي له هغه الله)چي احسان مددګاري يې فرمايلي ده پرتاسي (په درکولو) دمواشيو (څاروو) زامنواو باغونواوچينو (او نورو

(۱) مختصرابن کثير ۳ / ۶۰۳
(۲) التفسيرالکبير ۲۴ / ۱۵۷

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

نعمتونوچي ښايي تاسويې شکرپرځای کړی اوپرتاسي لازم دي چي عبادت يې وکړی) ﴿ إِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٍ عَظِيمٖ ﴾ بېشکه چي زه وېرېږم پرتاسي له عذابه دورځي ډېري لويي (دقيامت که تاسو ددغونعمتونوشکران ونکړاوشرک اوکفرموغوره کړدهغي ورځي عذاب به موونيسي چي هلته ددېره هيبته ماشومان بوډاګان کېږی. دوی يې دالله لوري ته په ترغيب اوترهيب سره راوبلل اوپه پنداوو ېرونه يې تبليغ ورته وکړچي ددوی ځواب داوو ﴿ قَالُواْ سَوَآءٌ عَلَيۡنَآ أَوَعَظۡتَ أَمۡ لَمۡ تَكُن مِّنَ ٱلۡوَٰعِظِينَ ﴾ وويل (دوی عاديانوهودته) برابره (خبره) ده پرموږباندي آياپند راکړې (ته موږته) ياکه نه يې ته له پندراکونکيو(يعني ستاپندرا کول اونه راکول موږته برابردي موږ ستاپه ويناڅه پروانه کوواونه له هغه څه چي کوويې راګرزېدونکي يو. ابوحيان وايې چي دده ويناته يې دملنډوپه ژبه وعظ ووايواو ورته يې څرګنده کړه چي موږ ورباندي پروانلرو ځکه دوی هغه رښتيا نه ګڼله اوداسي باوريې کاووچي کوم څه (هودعليه السلام) وايې هغه دروغجن دی (١)﴿ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا خُلُقُ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴾ نه دی دغه (چي تاراوړي) مګرد پخوانيو څرافات (دروغ) دي ﴿ وَمَا نَحۡنُ بِمُعَذَّبِينَ ﴾ اونه يوموږچي په عذاب به کړی شويعني نه حساب کتاب اونه بعث اوعذاب شته ﴿ فَكَذَّبُوهُ فَأَهۡلَكۡنَٰهُمۡ ﴾ پس تکذيب وکړ(عاديانو) ددغه (هود) پس هلاک کړل موږ دغو(عايانو) لره (په سخت باداوسېلۍ باندي ابن کثيروايې چي دوی يې په خوراسخت ګړندي سوړباداوسېلۍ باندي وځپل اوهلاک کړل اودوی له خپله جنسه سره په وړعذاب اخته شول ځکه دوی زښته زيات سرکښه وونوپه همدې سرکښه سېلۍ مخ شول چي هرڅه به يې له بېخه ايستل کله چي به پردوی باندی راغی له ځمکي به يې اوچت کړل اوله هواڅخه به يې سرپه څېړی راوغورځول اودسرماغزه به يې په يوبل لوري وپاشل(٢)﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ ﴾ بېشکه په دغه (اهلاک دعاديانوکي) خامخالويه نښه(دعبرت اوپند) ده ﴿ وَمَا كَانَ أَكۡثَرُهُم مُّؤۡمِنِينَ ﴾ اونه ووزياتره ددوی مؤمنان(سره له دې چي دقدرت نښاني يې ليدلې) ﴿ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴾ اوبېشکه رب ستا(اې محمده) هم دی ښه غالب قوي دی (په کسات اخيستلوله دښمنانو) دېررحم والادی (په مؤمنانوباندي) وروسته بيادصالح عليه السلام کيسه داسي پيل کوي فرمايې ﴿ كَذَّبَتۡ ثَمُودُ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴾ (نسبت ددروغوکړی ووثموديانورسولانوته) يعني دوی د خپل نبي صالح عليه السلام تکذيب کړی اوڅوک چي ديوپيغمبرتکذيب وکړي دګردويې کړی دی ﴿ إِذۡ قَالَ لَهُمۡ أَخُوهُمۡ صَٰلِحٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴾ کله چي وويل دوی ته(قومي) ورورددوی صالح چي اياتاسي (دالله له عذابه) نه وېرېږی؟! چي دبل چاعبادت کوی) ﴿ إِنِّي لَكُمۡ رَسُولٌ أَمِينٞ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ وَمَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ أَجۡرٍ إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴾ بېشکه زه تاسي ته

---

(١) البحر ٧/ ٣٣

(٢) مختصرابن کثيرپه لنډول ٢/ ٦٥٤

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

امانتکررسول یم نوتاسي له الله ووبرېږئ اواطاعت وکړئ زما(په شرعیه امورو کي) اونه غواړم زه له تاسي څخه پردغه (تبلیغ) هیڅ اجراونه دی اجرزمامگرپه رب العالمین دی. ددغوآیتونوپه تکرار راوړل ددې تنبیه ورکوي چي دانبیاووعلیهم السلام دعوت یودی څکه هراستازی خپل قوم دخپل رسالت له مقصد څخه خبروي چي همدادبشریت په گټه دی ﴿ أَتُتْرَكُونَ فِي مَا هَٰهُنَآ ءَامِنِينَ ﴾ آیاپرې به ښودل شی تاسي ؟ (بلکه نه پرېښودل کېږی)) په هغونعمتونوکي چي په دې دنیاکي دي (تاسي ته) په امان (له آفته) چي مرگ دی) یعني آیاستاسوپروردگاربه موپه دې دنیاکي تل ترتله په نعمتونو کي بېغمه پرېږدي ؟! نه هیڅکله نه. ابن عباس رضی الله عنه وایې چي دوی خو ازیات اوږده عمرونه لرل چي مانۍ به یې د دوی له اوږده عمرسره روغي نه پاتي کېدلې اوقرطبي وایې چي پردې ویناباندي دالله جل جلاله داقول هم شاهدي ورکوي چي ﴿ وَٱسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا ﴾ نوصالح علیه السلام دوی ته توبیخ اوترتنه ورکړه او ورته یې وویل چي آیاتاسوگمان کوی په دنیاکي به تل ترتله اوسی(١)﴿ فِي جَنَّٰتٍ وَعُيُونٍ وَزُرُوعٍ وَنَخْلٍ طَلْعُهَا هَضِيمٌ ﴾ په باغونوکي اوپه چینو کي اوپه کښتونو(فصلونو) کي اوپه خرماگانوکي چي (شگوفه مېوه) یې پسته وي ؛ آیاپدې ټولوکي به بې حسابه اوبی جزاپرېښودلی شی ؟ مفسرین کرام وایې چي دثمودیانو څمکو ډېرباغونه ،اوبه اوخرماوي درلودې نوصالح علیه السلام دوی ته ددغونعمتونویادونه وکړه (هضیم) معنانرمه اوباریکه حضرت عکرمة ښودلي ده اوابن عباس رضی الله عنه وایې چي هغه پخه اورسېدلي ته وایې (٢)﴿ وَتَنْحِتُونَ مِنَ ٱلْجِبَالِ بُيُوتًا فَٰرِهِينَ ﴾ (اوکښنئ (جوړوئ) تاسي له غرونوڅخه پدغه حال کي چي ماهران یاست په دغه توږلوسره) یعني تاسوپه غرونوکي په تکبراوغرورکورونه جوړوئ چي اوسېدلوته یې اړهم نه یاست . امام رازي رحمه الله وایې چي دآیت شریف ظاهري بڼه پدې دلالت کوي چي (دهود) علیه السلام دقوم غالب اوزیاتره دخیالي خوندونواوملذاتوپیروي وه چي هغه استعلاء ، بقاء اوزبردستي وه اودصالح علیه السلام دقوم زیاتره اوغالب دحسي خوندونو او لذتونوغوښتنه وه چي هغه دخوړلو،څښلوشیان اوښایسته دنگي اوچتي داوسېدلومانۍ وې (٣) صاوي وایې چي ددوی عمرونه اوږده وونوددوی کورونه اودهغوبامونه دېوالونه به ددوی ترمړیني دمخه ونړېدل څکه دوی هریوبه له درې سوه کاله نیولي تریوزرکاله پوري ژوند درلود(٤)﴿ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴾ نووو برېږئ تاسي له (عذابه) دالله اوزمااطاعت وکړئ (په شرعیه امورو کي چي کله زه نصحیت درته کوم) ﴿ وَلَا تُطِيعُوٓا۟ أَمْرَ ٱلْمُسْرِفِينَ ﴾ اومه منئ تاسي خبره داسراف کونکو (مجرمانو) ﴿ ٱلَّذِينَ يُفْسِدُونَ فِي ٱلْأَرْضِ وَلَا يُصْلِحُونَ ﴾ هغه مسرفان چي فساد کوي په څمکه کي او

---

(١) القرطبي ١٣ / ١٢٧

(٢) قرطبي دهضیم دمعناپه هکله دولس قوله راوړي دي ١٣ / ١٢٨

(٣) تفسیر کبیر ٢٤ / ١٥٩

(٤) حاشیة الصاوی علی الجلالین ٣ / ١٧٩

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

اصلاح نه کوي طبري وايې داهغه نه کوني تولی دي چي الله داسي ستايلي فرمايې ﴿ وَكَانَ فِي ٱلْمَدِينَةِ تِسْعَةُ رَهْطٍ يُفْسِدُونَ فِي ٱلْأَرْضِ وَلَا يُصْلِحُونَ ﴾ (١) ﴿ قَالُوٓا إِنَّمَآ أَنتَ مِنَ ٱلْمُسَحَّرِينَ ﴾ نوورويل (ثموديانو) بېشکه هم داخبره ده چي ته له (هغو کسانو څخه يې چي) ډېري کوډي ورباندي شوي وي (او عقل يې بېخي له ميښه تللی وي. مفسرين کرام وايې چي مسحّر: مسحور مبالغه ده ﴿ مَآ أَنتَ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا ﴾ نه يې ته مګر يو بشر (انسان) زموږ په شان (نو څرنګه ګمان کوې چي ته پيغمبر يې ؟) ﴿ فَأْتِ بِـَٔايَةٍ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴾ (که ته بياهم اصرارلرې دخپل رسالت) نوراوړه څه معجزه که يې له رښتياويونکو څخه ؟) ﴿ قَالَ هَٰذِهِۦ نَاقَةٌ ﴾ وويل (صالح عليه السلام) دااوښه ده (معجزه دنبوت زماستاسي له غوښتني سره سم چي دالله په قدرت له کرکني کاڼي څخه راوزي. مفسرين کرام وايې: دوی وړانديز وکړچي بلاربه اوښه دي له دې ګټي کاڼي څخه راووزي اوددوی په وړاندي دي جونګی وزېږوي نوحضرت صالح عليه السلام چورتمن (متفکر) کښېناست چي جبريل عليه السلام ورته راغی ورته ويل يې دوه رکعته لمونځ وګذاره اوبياداوښي دراوتلوسوال وکړه هغسي يې وکړل اوښه راووتله اوددوی په مخ کي يې جونګی وزېږاوواوهلته چوشوه نوصالح عليه السلام ورته وويل: دغه ده اوښه (١) ﴿ لَهَا شِرْبٌ وَلَكُمْ شِرْبُ يَوْمٍ مَّعْلُومٍ ﴾ دې ته برخه (داوبو) ده اوتاسي ته برخه (داوبوده) دورځي معلومي. قتاده وايې: کله چي به داوښي داوبو ورځ وه ګردي اوبه به يې وڅښلې اوسبابه بياد دوی داوبودڅښلو وار وودغه يوه بله معجزه وه ﴿ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوٓءٍ فَيَأْخُذَكُمْ عَذَابُ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴾ اومه رسوئ تاسي دې (اوښي) ته هيڅ ضرر (که نه) پس وبه نيسي تاسي لره عذاب دلويې ورځي (لوی عذاب) يعني هغه مه وژنئ اومه يې وهئ که نه دداسي ستري ورځي سترعذاب به درته راشي چي تعبيريې نشي کېدای. ابن کثيروايې چي دوی ته يې دالله دعذاب خبرورکړچي په اوښه دي غرض نلري اوهمداسي څه وخت اوښه واوسېدله اوبه يې څښلې، واښه اوپاڼي يې خوړلې اودوی به يې له شيدو څخه ګټه اخيستله چي دومره شيدې به يې ځيني لوشلې چي دڅښلواوبه کېدلولپاره به يې بېخي بسنه کوله ترڅوچي موده اوږده شوه اوددوی بدمرغه کسان سره يوځای اودهغې دوژلوپرېکړه يې وکړه (٣) ﴿ فَعَقَرُوهَا فَأَصْبَحُوا۟ نَٰدِمِينَ ﴾ (پس زخمي مړه کړه (ثموديانو) دا(اوښه) پس وګرزېدل پښېمانه) يعني هغه يې په غشو وويشتله اوويې وژله دغه بدمرغه قاتل (قُداربن سالف) وو چي ددوی په خوښه يې ووژله. فخررازي وايې: ددوی پښېماني دتوبې لپاره نه وه بلکه دعذاب له وېري پښېمانه ښکارېدل (٤) ﴿ فَأَخَذَهُمُ

---

(١) الطبري ١٩ / ٦٣

(٢) شيخ زاده على البيضاوي ٣ / ٤٧٧

(٣) مختصرابن كثير ٢ / ٦٥٦

(٤) الرازي ٢٤ / ٧٩

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

ٱلْعَذَابُ ﴾ پس ونيول دوی (موعود) عذاب (اوهلاک شول چي هغه چيغه وه اوددوی زړونه يې وچاودل مړه شول ځمکه ورباندي زلزله شوه له آسمانه ورباندي کاڼي واورېدل اويو مخ ايزه کرده ووژل شول ﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ﴾ بېشکه پدې کي خامخالوی (دليل د قدرت دی (چي څوک پوهه لري اوسوچ کوي) ﴿ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴾ (اونه ووزياتره ددوی مؤمنان اوبېشکه رب ستاخامخاهم دی دی ښه غالب، قوي ډېررحم والا) ددې تفسيرپخواتېرشوی دی اووروسته الله دلوط عليه السلام کيسه داسي پيلوي ﴿ كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوطٍ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴾ نسبت ددروغوکړی قوم دلوط رسولانوته(يعني دلوط عليه السلام يې تکذيب کړی وو) ﴿ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ لُوطٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴾ کله چي وويل دوی ته (نوعي) ورورددوی لوط آيانه وېرېږی تاسي (له عذابه دالله په عبادت کولودبل چا؟) ﴿ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ فَاتَّقُوا ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴾ بېشکه زه چي يم تاسي ته رسول يم امانتکرنوله الله ووېرېږئ اوزما اطاعت وکړئ (په شرعيه اموروکي) ﴿ وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ ٱلْعَالَمِينَ ﴾ اونه غواړم زه تاسي څخه پرغه تبليغ باندي هيڅ اجر، ندی اجرزما مگرپه رب العالمين دی دغه بعينه همغه پخواني کلماتي دي چي حضراتو، صالح، هوداونوح عليهم السلام ويلي دی اوداڅرگندوي چي دانبياووبلنه يوه اومقصد، موخه يې هم يوه ده اومنشاء يې آسماني وحی ده وروسته لوط عليه السلام ورته زياته کړه چي ﴿ أَتَأْتُونَ ٱلذُّكْرَانَ مِنَ ٱلْعَالَمِينَ ﴾ آياراتگ کوئ تاسي (په لواطت کولو) نارينه ووته له خلگودغه استفهام دانکار، توبيخ اوتکوني لپاره دی يعنی آياتاسودغه کارکوی اوله گردو خلگوڅخه موڅانگړتياخپله کړي؟ ﴿ وَتَذَرُونَ مَا خَلَقَ لَكُمْ رَبُّكُم مِّنْ أَزْوَاجِكُمْ ﴾ اوپرېږدی تاسي هغه چي پيداکړي دي تاسي ته رب ستاسي له ښځوستاسو. مجاهد وايې :معناداچي تاسودمېرمنو(فروج) پرې ايښي اودنارينه وو(أدبار) ته مومخه کړي ده (١)﴿ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ عَادُونَ ﴾ بلکه تاسي چي يی يوقوم له حده تېرېدونکي ياست (په جرم اوگناه کي لومړی يې د نارينه وو په لواطت کولووترټل اوبيايې ترهغه زيات وټکول چي لکه ورته وايې تاسودانسانيت له سرحدڅخه وتلي اوترحيوانيت موڅان اړولی دی چي داسي نارواکارونه کوی ځکه چي حيوان نارينه لاهم په بل نارينه حيوان باندي دغه کارنکوي ځان ترې ژغوري ﴿ قَالُوا لَئِن لَّمْ تَنتَهِ يَا لُوطُ لَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمُخْرَجِينَ ﴾ وويل (قوم دلوط) که وانه وښتې ای لوطه (له دې خبروچي دغه کارغندې) نوخامخاشې به ته له ايستل شويو (زموږله ښاره لکه چي نورموهم شړلي دي هغه ته يې په ايستلواوشړلواخطار ورکړ ﴿ قَالَ إِنِّي لِعَمَلِكُم مِّنَ ٱلْقَالِينَ ﴾ وويل (لوط) بېشکه زه له دې (بد) عمله ستاسي سره له بغض کونکيويم (اوڅني بېزاره يم) ﴿ رَبِّ نَجِّنِي وَأَهْلِي مِمَّا يَعْمَلُونَ ﴾(ای زماربه نجات راکړه ماته اوزما اهل ته له (عذابه د) هغوکارونوڅخه چي (خلگ) يې کوي)الله فرمايي: ﴿ فَنَجَّيْنَاهُ

(١) زاد المسير ٦/ ١٤٠

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

وَأَهْلَهُۥٓ أَجْمَعِينَ إِلَّا عَجُوزًا فِى ٱلْغَٰبِرِينَ ﴾ پس نجات ورکړمو ېدغه (لوط) ته او اهل دده ټولوته (مګر نجات مو ورنکړ) یوې بوډۍ ښځې ته چې په جمله دپاتې کېدونکوکې وه (په عذاب کې) ابن کثیروایې چې مرادله بوډۍ څخه دده مېرمن وه ځکه هغه ناکاره بوډۍ وه کله چې الله جل جلاله لوط علیه السلام ته دشپې دتللو امروکړ هغه ناکاره بوډۍ همداسې له کافرانوسره یوځای هلاکه شوه (١) ﴿ ثُمَّ دَمَّرْنَا ٱلْءَاخَرِينَ ﴾ بیاهلاک کړل مو ېهغه نور (په سخت هلاکت چې په ځمکه ننوتل) اوکانې تېرې وربانديې راو اورېدل ﴿ وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِم مَّطَرًا ﴾ او ومووراوو پردوی باندې باران (دکانړو) ﴿ فَسَآءَ مَطَرُ ٱلْمُنذَرِينَ ﴾ پس بدباران وو دوېرول شوو (باران ددوی، چې کله دوی خپل پیمغبرپه عذاب وېرولې ووخودوی نسبت ددروغو ورته کاوو) ﴿ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً ﴾ بېشکه پدغه کې لوی عبرت اودلیل دقدرت دی (پوهانولره) ﴿ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴾ اونه وو زیاتره ددوی مؤمنان اوبېشکه رب ستاهم خامخاهم دی ښه غالب دی دېررحم والادی. بیاورپسې الله تعالی دحضرت شعیب علیه السلام کیسه داسې شروع کوي فرمایې: ﴿ كَذَّبَ أَصْحَٰبُ لْـَٔيْكَةِ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴾ نسبت ددروغو کړی ووخاوندانودځنګل پیغمبرانوته) یعنې دمدین خلګو د شعیب علیه السلام تکذیب کړی وو. طبري وایې چې (أیکة) ګڼ ځنګل اوونوته وایې چې یوپه بل باندې تاو راتاو وي اودغه دمدین خلګ وو (٢) ﴿ إِذْ قَالَ لَهُمْ شُعَيْبٌ أَلَا تَتَّقُونَ إِنِّى لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ وَمَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِىَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ کله چې دوی ته وویل شعیب چې آیانه وېرېږی له عذابه دالله (په شرک خپل) بېشکه زه چې یم تاسې ته امانتګر رسول یم نوتاسې له الله ووېرېږئ اوزما اطاعت وکړئ (په شرعیه أمورو کې) اونه غواړم زه له تاسې څخه پردغه (تبلیغ) هیڅ مزدوري ندی اجرزمامګرپه رب العالمین دی ﴿ أَوْفُوا۟ ٱلْكَيْلَ ﴾ تاسوپېمانه پوره ورکوئ (اوتول سم کوئ) ﴿ وَلَا تَكُونُوا۟ مِنَ ٱلْمُخْسِرِينَ ﴾ اومه کېږئ له کمو ورکونکیوڅخه په تول اوپېمانه کې) ﴿ وَزِنُوا۟ بِٱلْقِسْطَاسِ ٱلْمُسْتَقِيمِ ﴾ اوتول کوئ تاسې په تله برابره ﴿ وَلَا تَبْخَسُوا۟ ٱلنَّاسَ أَشْيَآءَهُمْ ﴾ اومه کموئ خلګوته شیان ددوی (په هیڅ څیزکې ددوی حقوق مه ستنوئ چې غصب ظلم اوناروایې خورئ ﴿ وَلَا تَعْثَوْا۟ فِى ٱلْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴾ (اومه ګرزئ تاسې په ځمکه کې پداسې حال کې چې فساد کونکې یاست) یعنې په ځمکه کې ډول ډول فساد (لکه لاري وهل، شوکول، ډاکه اچول، په زوره له خلګومال دولت لوټول مه کوئ ﴿ وَٱتَّقُوا۟ ٱلَّذِى خَلَقَكُمْ وَٱلْجِبِلَّةَ ٱلْأَوَّلِينَ ﴾ او ووېرېږئ له همغه (الله) څخه چې تاسې یې پیداکړي یاست اوړومبني خلګ. مجاهدوایې چې د (الجبلة) معنامخلوق اومقصدځنې پخواني أمتونه دي (٣) ﴿ قَالُوٓا۟ إِنَّمَآ أَنتَ مِنَ

---

(١) ابن کثیر ٢ / ٦٥٧

(٢) الطبري ١٩ / ٦٥

(٣) الطبري ١٩ / ٦٦

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

ٱلْمُسَحَّرِينَ ﴾ وویل دوی (أصحاب الایکة) بېشکه هم داخبره ده چي ته یې له سحرکړی شوونه (چي له ډېره سحره دي عقل مغلوب شوی دی) ﴿ وَمَآ أَنتَ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا ﴾ اونه یې ته مګر یوبشرانسان یې زموږپه شان (پیغمبرنه یې) ﴿ وَإِن نَّظُنُّكَ لَمِنَ ٱلْكَٰذِبِينَ ﴾ اوبېشکه شان دادی چي موږپرتاګمان کوو خامخاچي ته یې (له جملې) ددروغجنانو (پخپله دعوی کي ای شعیبه! موږته دروغ وایې چي زه نبي یم) ﴿ فَأَسْقِطْ عَلَيْنَا كِسَفًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴾ پس راوغورځوه پرموږ یوه ټوټه له آسمانه که یې ته له رښتنیو (پخپله دعوی درسالت کي. امام رازي وایې دغه وړاندیزیې ځکه وکړچي دایې محال ګڼله اوګمان یې کاووچي که دغه ونشي نودروغ به یې جوت اوښکاره شي[1]) نوپدې وخت کي شعیب علیه السلام ورته وویل: ﴿ قَالَ رَبِّىٓ أَعْلَمُ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴾ وویل: (شعیب) زمارب ښه عالم دی په هغوکارونوچي تاسي یې کوی (که یی تاسي ددې وړ نوبه الله جزا درکړي اوالله به پرتاسوظالم نه وي اوکه دبل ډول عذاب مستحق یاست داهم دالله جل جلاله ترمشیت اوارادې پوري تړلي خبره ده بیا الله فرمایې ﴿ فَكَذَّبُوهُ فَأَخَذَهُمْ عَذَابُ يَوْمِ ٱلظُّلَّةِ ﴾ نونسبت ددروغوو کړدغو (دځنګل خاوندانو) هغه (شعیب) ته نوونیول دوی عذاب دورځي دسیوري (هغه وریځ وه په دوی یې سیوری وغوړاوو. مفسرین کرام وایې الله پاک سخته ګرمي اوتودوخه ورباندي راوستله چي ددوی نفس تنګ شواوله خپلو کورونوبهرراووتل صحراته یې مخه کړه نوالله یوه وریځ ورته پیداکړه چي دسایوان په شان یې له لمرڅخه ورباندي سیوری وکړنودوی څه یخني احساس کړه اویوبل ته یې دراغونډېدلونارې کړي کله چي ګردتردې وریځي لاندي راټول شول الله ورباندي اور راواستاوو اوټول یې وسوځول اودغه خوراسترعذاب ووځکه الله فرمایې ﴿ إِنَّهُۥ كَانَ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴾ بېشکه دغه (عذاب) وودورځي ډېري لویې (په شدت اوهیبت کي) ﴿ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴾ بېشکه چي په دغه (عذاب دأصحاب الأیکة) کي لوی دلیل دقدرت اوعبرت دی اونه وواکثره ددوی مؤمنان ﴿ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴾ اوبېشکه رب ستاهم دی دی ښه قوي، غالب، ډېررحم والا. تردې ځایه پوري داووکیسوپای ته رسېدل دي کومي چي الله تعالی پیغمبرصلی الله علیه وسلم ته وحی کړي ترڅوچي دخپل قوم په اسلام راوړلوکي ډېره تلوسه اوحرص ونکړي دده تمه یې ترې وشکوله اوافسوس حسرت یې دفع کړلکه چي دسورت په پیل کي یې فرمایلي وو ﴿ لَعَلَّكَ بَٰخِعٌ نَّفْسَكَ أَلَّا يَكُونُوا۟ مُؤْمِنِينَ ﴾ نوپدې کي درسول الله صلی الله علیه وسلم لپاره ډاډینه اوتسلاده او دهغه دغم اوخواشیني سپکول دي اوداچي دهري کیسې په پای کي یې په تکراري توګه داآیت شریف راوړ چي: ﴿ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ

---

(۱) التفسیرالکبیر ۲۴ / ۱۷۴

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴾ ترڅوچي دغه په عبرت کی خوراوڅاراوښکاره وي اوڅوک چي زړه اوسترګي لري دهغوی لپاره ښه آګاهي اوتنبيه شي.

بلاغت:

پدې آيتونوکي چي دبلاغت اوبديع کومي ښکلاوي شته لنډيزيې دادی:

١- دکل راوړل اواراده دجزء تري کول لکه ﴿ كَذَّبَتْ قَوْمُ نُوحٍ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴾ مرادله مرسلينوڅخه نوح اوداچي دجمع په صيغه يې ذکرکړمقصديې دهغه درناوی اوتعظيم دی اوپدې تنبيه ورکوي چي ځوک ديوه پيغمبرتکذيب وکړي ګواکي دګردوانبياووتکذيب يې کړی دی.

٢- انکاري استفهام لکه داچي ﴿ قَالُوٓاْ أَنُؤْمِنُ لَكَ وَٱتَّبَعَكَ ٱلْأَرْذَلُونَ ﴾ .

٣- لطيفه اغلی استعاره چي فرمايې ﴿ فَٱفْتَحْ بَيْنِي وَبَيْنَهُمْ فَتْحًا ﴾ يعني زمااوددوی ترمينځ عادلانه حکم صادرکړه دلته يې فتاح دحاکم لپاره استعاره کړی اوفتح خلاصون يې دحکم لپاره ځکه چي حکم هم پېچلي چاري خلاصوي اوپرانيزي نوپدې کی تبعيه استعاره ده.

٤- دطباق صنعت لکه ﴿ يُفْسِدُونَ ... وَلَا يُصْلِحُونَ ﴾ .

٥- غيرتام جناس لکه ﴿ قَالَ... ٱلْقَالِينَ ﴾ چي لومړی له قول څخه اودوهم له قلي څخه اخيستل شوی چي کرکي ، بغض اونفرت ته وايې.

٦- داطناب صنعت پدې کلام کي چي ﴿ أَوْفُواْ ٱلْكَيْلَ وَلَا تَكُونُواْ مِنَ ٱلْمُخْسِرِينَ ﴾ ځکه چي سم تول کول پخپل ذات کي له تاوان څخه منع کېدل دي اودلته داطناب ګټه زيات تحذيردی چي عدوان اودښمني بايدونکړل شي.

٧ - دمبالغې صنعت هغه هم پدې قول کي چي ﴿ إِنَّمَآ أَنتَ مِنَ ٱلْمُسَحَّرِينَ ﴾ سحرله مسحورڅخه مبالغه ده.

٨ - دفواصلوتوافق اويورنګه والی چي دآيتونودپيل مراعات وکړی شي لکه ﴿ يُفْسِدُونَ ... وَلَا يُصْلِحُونَ... ٱلْأَرْذَلُونَ ﴾ اونور.

***

الله تعالیٰ فرمايي:

﴿ وَإِنَّهُۥ لَتَنزِيلُ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٩٢﴾ نَزَلَ بِهِ ٱلرُّوحُ ٱلْأَمِينُ ﴿١٩٣﴾ عَلَىٰ قَلْبِكَ لِتَكُونَ مِنَ ٱلْمُنذِرِينَ ﴿١٩٤﴾ بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُّبِينٍ ﴿١٩٥﴾ وَإِنَّهُۥ لَفِي زُبُرِ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿١٩٦﴾ أَوَلَمْ يَكُن لَّهُمْ ءَايَةً أَن يَعْلَمَهُۥ عُلَمَٰٓؤُاْ بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿١٩٧﴾ وَلَوْ نَزَّلْنَٰهُ عَلَىٰ بَعْضِ ٱلْأَعْجَمِينَ ﴿١٩٨﴾ فَقَرَأَهُۥ عَلَيْهِم مَّا كَانُواْ بِهِۦ مُؤْمِنِينَ ﴿١٩٩﴾ كَذَٰلِكَ سَلَكْنَٰهُ فِي قُلُوبِ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴿٢٠٠﴾ لَا يُؤْمِنُونَ بِهِۦ حَتَّىٰ يَرَوُاْ ٱلْعَذَابَ ٱلْأَلِيمَ ﴿٢٠١﴾ فَيَأْتِيَهُم بَغْتَةً وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٢٠٢﴾ فَيَقُولُواْ هَلْ نَحْنُ مُنظَرُونَ ﴿٢٠٣﴾ أَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُونَ ﴿٢٠٤﴾

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

أَفَرَءَيْتَ إِن مَّتَّعْنَٰهُمْ سِنِينَ ﴿٢٠٥﴾ ثُمَّ جَآءَهُم مَّا كَانُوا۟ يُوعَدُونَ ﴿٢٠٦﴾ مَآ أَغْنَىٰ عَنْهُم مَّا كَانُوا۟ يُمَتَّعُونَ ﴿٢٠٧﴾ وَمَآ
أَهْلَكْنَا مِن قَرْيَةٍ إِلَّا لَهَا مُنذِرُونَ ﴿٢٠٨﴾ ذِكْرَىٰ وَمَا كُنَّا ظَٰلِمِينَ ﴿٢٠٩﴾ وَمَا تَنَزَّلَتْ بِهِ ٱلشَّيَٰطِينُ ﴿٢١٠﴾ وَمَا يَنۢبَغِى لَهُمْ وَمَا
يَسْتَطِيعُونَ ﴿٢١١﴾ إِنَّهُمْ عَنِ ٱلسَّمْعِ لَمَعْزُولُونَ ﴿٢١٢﴾ فَلَا تَدْعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ فَتَكُونَ مِنَ ٱلْمُعَذَّبِينَ ﴿٢١٣﴾ وَأَنذِرْ
عَشِيرَتَكَ ٱلْأَقْرَبِينَ ﴿٢١٤﴾ وَٱخْفِضْ جَنَاحَكَ لِمَنِ ٱتَّبَعَكَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٢١٥﴾ فَإِنْ عَصَوْكَ فَقُلْ إِنِّى بَرِىٓءٌ مِّمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٢١٦﴾
وَتَوَكَّلْ عَلَى ٱلْعَزِيزِ ٱلرَّحِيمِ ﴿٢١٧﴾ ٱلَّذِى يَرَىٰكَ حِينَ تَقُومُ ﴿٢١٨﴾ وَتَقَلُّبَكَ فِى ٱلسَّٰجِدِينَ ﴿٢١٩﴾ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٢٢٠﴾ هَلْ
أُنَبِّئُكُمْ عَلَىٰ مَن تَنَزَّلُ ٱلشَّيَٰطِينُ ﴿٢٢١﴾ تَنَزَّلُ عَلَىٰ كُلِّ أَفَّاكٍ أَثِيمٍ ﴿٢٢٢﴾ يُلْقُونَ ٱلسَّمْعَ وَأَكْثَرُهُمْ كَٰذِبُونَ ﴿٢٢٣﴾ وَٱلشُّعَرَآءُ
يَتَّبِعُهُمُ ٱلْغَاوُۥنَ ﴿٢٢٤﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّهُمْ فِى كُلِّ وَادٍ يَهِيمُونَ ﴿٢٢٥﴾ وَأَنَّهُمْ يَقُولُونَ مَا لَا يَفْعَلُونَ ﴿٢٢٦﴾ إِلَّا ٱلَّذِينَ
ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَذَكَرُوا۟ ٱللَّهَ كَثِيرًا وَٱنتَصَرُوا۟ مِنۢ بَعْدِ مَا ظُلِمُوا۟ وَسَيَعْلَمُ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓا۟ أَىَّ مُنقَلَبٍ يَنقَلِبُونَ
﴿٢٢٧﴾ ﴿ الشعراء: ١٩٢ ـ ٢٢٧

مناسبت اوتراو:

کله چي الله تعالی خپل پیغمبرته دانبیاو وعلیهم السلام کیسې واورولې ورپسې یې هغه څه راوړل چي دده په نبوت دلالت کوي چي هغه دهغه علیه السلام په زړه باندي ددغه معجزقرآن کریم نزول دی.

لغتونه

(زبر) دزبورجمع لکه چي (رسل)درسول جمع راځي اودزبور معنا کتاب دی (الأعجمين) دأعجمي جمع اوهغه چاته ویل کېږي چي عربي نه ورځي نوویل کېږي هغه أعجمي دی یعني فصیح عربي نشي ویلای که څه هم په خټه عرب وي او کله چي وویل شي هغه (عجمي) دی نومعناداچي هغه غیرعرب دی که څه هم فصاحت درلودونکی وي(بغتة) ناببره ناڅاپه (منظرون) مهلت ورکول شوی (أفاک) دروغجن (منقلب) مصیراودورتلوځای ته وایې.

تفسیر:

﴿ وَإِنَّهُۥ لَتَنزِيلُ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ (اوبېشکه دغه قرآن خامخانازل کړی شوی دی (له طرفه د) رب العالمین) یعني دغه معجز قرآن درب الارباب له لوري نازل کړی شوی دی ﴿ نَزَلَ بِهِ ٱلرُّوحُ ٱلْأَمِينُ ﴾ (نازل کړی شویدی په دغه قرآن سره روح امانتګر) یعني راوړی دی داقرآن دآسمان امین حضرت جبرائیل علیه السلام ﴿ عَلَىٰ قَلْبِكَ لِتَكُونَ مِنَ ٱلْمُنذِرِينَ ﴾ (په زړه ستاباندي چي شې ته له وېرېدونکیو) یعنی ستاپه زړه باندي یې نازل کړچي یادیې کړې او ورباندي مکذبین ووېروې ﴿ بِلِسَانٍ عَرَبِىٍّ مُّبِينٍ ﴾ (په ژبه ښکاره عربي سره) چي فصیح قریشي ژبه ده ترڅودوی ته کوم عذرپاتي نشي اوونه وایې چي دهغه کلام فائده اوګټه څه ده چي موږ ورباندي نه پوهېږو؟. ابن کثیروایې معناداچي ددې لپاره یې په فصیح عربي چي کامله اوشامله ژبه ده نازل کړچي څرګندا وواضح بیان اودعذرله مینځه وړونکی او دلیل قائمونکی وي

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

(١)﴿ وَإِنَّهُۥ لَفِى زُبُرِ ٱلْأَوَّلِينَ ﴾ بېشکه (یادونه د) دغه (قرآن) په کتابونو د لومړنیو کي شته ﴿ أَوَلَمْ يَكُن لَّهُمْ ءَايَةً ﴾ آیانه دی دغو (کفارو) ته دلیل (په حقانیت) دقرآن استفهام د توبیخ اوتقریع لپاره دی ﴿ أَن يَعْلَمَهُۥ عُلَمَٰٓؤُا۟ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴾ چي پوهېږي پردغه (قرآن) علمآء دبني اسرائیلو. چي دوی دقرآن په هکله پخپلو کتابونو کي مومي لکه عبدالله بن سلام اوامثال یې ﴿ وَلَوْ نَزَّلْنَٰهُ عَلَىٰ بَعْضِ ٱلْأَعْجَمِينَ ﴾ اوکه نازل کړی وای دغه قرآن موږ پربعض عجمیانو باندي(هغه چي دعربي په ګړېدلو توان نلري ﴿ فَقَرَأَهُۥ عَلَيْهِم مَّا كَانُوا۟ بِهِۦ مُؤْمِنِينَ ﴾ (پس لوستلی وای هغوی دغه (قرآن) پر دوی (کفارو) نونه به وودوی پرده باندي ایمان راوړونکي) یعني که چېري دغه معجزقرآن بیادغوخلګودمکې کفاروته په صحیح اوفصیح قرائت لوستلی وای اودقرائت اعجاز دمقرؤ له اعجاز سره یوځای شوی هم وای دوی به ورباندي ایمان نه وو راوړی ځکه چي دوی خوراسرغړونکي اومستکبرین دي(٢)﴿ كَذَٰلِكَ سَلَكْنَٰهُ فِى قُلُوبِ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴾ (همداسي ننې ایستلی دی موږ داقرآن) په زړونودمشرکانوکي) یعني دغه قرآن موږدمشرکانوپه زړونوکي ننې ایستلی دی چي هغه اوري اووربانديې پوهېږي فصاحت اوبلاغت یې پېژني اعجازیې ورته څرګنددی خوبیاهم ایمان نه راوړي اوترې انکارکوي ﴿ لَا يُؤْمِنُونَ بِهِۦ ﴾ نه راوړي دوی ایمان په دې (قرآن سره له اعجازه یې) ﴿ حَتَّىٰ يَرَوُا۟ ٱلْعَذَابَ ٱلْأَلِيمَ ﴾ ترهغه پوري چي ووینې دوی دردناک عذاب (بیابه ایمان راوړي اوهلته به ایمان راوړل ګټه نه رسوي ﴿ فَيَأْتِيَهُم بَغْتَةً ﴾ پس رابه شي دغه (عذاب) یوناڅاپه ﴿ وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴾ حال داچي دوی به نه پوهېږي (په راتلوبه یې خبرنه وي) ﴿ فَيَقُولُوا۟ هَلْ نَحْنُ مُنظَرُونَ ﴾ پس وایې به دوی آیایوموږچي انتظارراته کاوه شي ؟. دغه به دافسوس اوحسرت لپاره وایې چي ایمان یې نشته دمهلت هیله اوآرزوبه کوي ترڅوایمان راوړي ﴿ أَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُونَ ﴾ آیاپه راتلودعذاب زموږکي دوی تلوار کوي. دلته استفهام دانکاراوتوبیخ لپاره دی چي څرنګه دغه مشرکان په بېړه دعذاب غوښتنه کوي ؟ اووایې چي ﴿ ٱئْتِنَا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴾ اوحال دادی چي دعذاب دراتلوپه وخت کي بیاددېل او مهلت غوښتونکي وي ﴿ أَفَرَءَيْتَ إِن مَّتَّعْنَٰهُمْ سِنِينَ ﴾ آیاپس وینې ته خبرراکړه ماته که چېري نفع ورکړو موږدوی ته څوکاله) ﴿ ثُمَّ جَآءَهُم مَّا كَانُوا۟ يُوعَدُونَ ﴾ بیاراشی دوی ته هغه (عذاب) چي وودوی چي وعده یی کړی شوی وه (له دوی سره) ﴿ مَآ أَغْنَىٰ عَنْهُم مَّا كَانُوا۟ يُمَتَّعُونَ ﴾ نو نه

---

(١) مختصرابن کثیر٢ / ٦٩٥

(٢) په التسهیل کتاب کي وایې چي دآیت شریف معناداچي که دغه قرآن په عجمي (ګونګي)نازل شوی اوبیایې پردوی لوستلی وای دوی به له ډېره عناده ورباندي ایمان نه ووراوړی اوپدې کي درسول الله صلی الله علیه وسلم لپاره تسلیت دی چي دلیل خورابنکاره دی خودوی ایمان نه راوړي. ٣ / ٩٠

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

دفع کوی له دوی نه عذاب هغه شی چی وو دوی چی نفع ورکولی شوه دوی ته (په هغه باندی) یعني دوی ته به تېرکالونه پدغه وخت کي څه ګټه ورسوي ؟ آیاهغه خوندونه او نعمتونه به دغم لیري کولواوعذاب دفع کولولپاره ورته ګټه ورسوي؟ ﴿ وَمَآ أَهۡلَكۡنَا مِن قَرۡيَةٍ إِلَّا لَهَا مُنذِرُونَ ﴾ (اوندي هلاک کړي موږ هیڅ کلي (ښار) مګرچي لېږلي ووهغه ښارته وېرونکي) یعني هیڅ قوم اوامت موندي هلاک کړي مګر وروسته له هغه چي دلیل موورباندي درولي اوپیغمبران موورته را استولي ووچي دوی یې وېرول او زېری یې ورکاوو ﴿ ذِكۡرَىٰ ﴾ (ترڅوددوی هلاک) پنداوعبرت (شي لپاره دنوروچي ددوی په شان بیا نور سرغړونه اوعصیان ونکړي ﴿ وَمَا كُنَّا ظَٰلِمِينَ ﴾ اونه وومو ظالمان (په هلاکولوددوی کي) ځکه پردوی مودلیل درولی اوعذرورته پاتي نه وو وروسته بیاالله تبارک وتعالی کله چي دقرآن کریم اعجازاودمحمدصلی الله علیه وسلم درسالت په رښتنولي یې تنبیه وفرمایله دکفاروهغه ګمانونه یې چي دغه قرآن ګواکي دپېریانانو اوشیطانانوله خواراوړل کېږي تردید کړل چي ﴿ وَمَا تَنَزَّلَتۡ بِهِ ٱلشَّيَٰطِينُ ﴾ اونه دی راوړی داقرآن شیطانانو (بلکه روح الأمین راوړی دی) ﴿ وَمَا يَنۢبَغِي لَهُمۡ وَمَا يَسۡتَطِيعُونَ ﴾ اونه ښائېږي دوی ته دغه راوړل) اوطاقت اوقدرت نلري (هیڅکله هم چي رایې وړي) ﴿ إِنَّهُمۡ عَنِ ٱلسَّمۡعِ لَمَعۡزُولُونَ ﴾ بېشکه دغه شیطانان له اورېدلو (د پرښتودکلام نه) خامخابرطرف منع کړی شوي دي (له هغه راهیسي چی رسول الله صلی الله علیه وسلم مبعوث شوی دوی بیاله استراق السمع څخه ممنوع ګرزېدلي دي . ابن کثیروایې : الله جل جلاله داوښودله چي له درې وجوهاتودا امتناع راغلي یوداچي دوی لره نه ښایي ځکه ددوی خوی او خاصیت خوفساددی اودخلګوګمراه کول دي اودغه کلام سراسرنور، هدایت اوستربرهان دی دوهم داکه ورسره ښائېدلای هم به یې ونشوای کولای ځکه دغه کلام الله پخپل حفظ کي محفوظ اوخوندي ګرزولی دی دریم داکه ورسره ښائېدلای اوهم یې کولای شوای خوبیاهم دهغه دموندلواوراوړلو وس یې نشته چي وروررسېږي ځکه دوی له دغه کارنه بېخي بندکړی شوي اومعزول (ګوښه شوي) چي قرآن دي واوري ځکه چي آسمان په ساتندویانواو لمبې غورځونکوستورودک شوی دی نوهیڅ شیطان دیوتوري داورېدلوتوان هم نلري ترڅوچي اشتباه واقع نشي(١) ﴿ فَلَا تَدۡعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ ﴾ (پس مه بوله ته له الله سره بل معبود) خطاب رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دی اومرادځني امت دی ﴿ فَتَكُونَ مِنَ ٱلۡمُعَذَّبِينَ ﴾ (که دي داسي وکړل) پس شي به ته له عذاب ورکړل شویوڅخه . ابن عباس رضی الله عنه وایې چي الله پدې ویناسره بل څوک وېروي وایې چي ته ترټولو خلګوپرمابانديي عزتمن اواکرم یې خوکه له ماپرته دبل چاعبادت دي وکړارومروبه عذاب درکړم (٢) بیاالله تعالی رسول الله ته دتبلیغ رسولوحکم کوي چي ﴿ وَأَنذِرۡ عَشِيرَتَكَ ٱلۡأَقۡرَبِينَ ﴾ اووېروه (له عذابه ای محمده) هغه خپلوان دتاچی ډېردرته نژدې دي روایت کېږي چي کله دغه آیت نازل شوچي

---

(١) ابن کثیر ٢ / ٢٢٠

(٢) زادالمسیر ٦ / ١٤٧

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

﴿ وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ ٱلْأَقْرَبِينَ ﴾ رسول الله صلى الله عليه وسلم ودرېدواوويې ويل: ای دقريشوټولې له الله جل جلاله څخه ځان وپېرې زه له تاسو څخه هيڅ الهي عذاب نشم دفع کولای ای دعبدمناف زامنوزه له تاسو څخه دالهي عذاب هيڅ دفع نشم کولای ، ای دعبدالمطلب زويه زه له تاڅخه دالله دعذاب دفع کولای نشم ای (صفية) درسول الله تروري زه له تاڅخه هيڅ عذاب دفع کولای نشم ای فاطمې دمحمدلوري ! څه چي غواړې الله ته سوال وکړه زه له تاڅخه دالله عذاب هيڅ هم نشم ګرزولای (١) مفسرين کرام وايې اوداچي رسول الله ته يې دخپلوخپلوانوپه وېرولوترهرچارومبی امروکړددې لپاره چي څوک هسي ګمان ونکړي چي له خپلوانو سره به مهرباني اونرمي کوي کله چي پخپل ځان اوخپلوخپلوانوتېنګاروکړي نوبيابه يې خبره ګټه وره اووينابه يې پرځای وي ﴿ وَٱخْفِضْ جَنَاحَكَ لِمَنِ ٱتَّبَعَكَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ اوښکته کړه وزرخپل (نرمي وکړه هغه چاته چي ستامتابعت يې کړی دی له مؤمنانو ﴿ فَإِنْ عَصَوْكَ فَقُلْ إِنِّي بَرِيٓءٌ مِّمَّا تَعْمَلُونَ ﴾ پس که نافرماني وکړي (دوی له تانه) پس ووايه ته (ای محمده دوی ته) بېشکه زه بېزاره يم له هغه (عملونو) چي تاسي يې کوی. ابوحيان وايې څرنګه چي په وېرونه اوانذارباندي طاعت اوعصيان مرتب دی نوپردواړوويش داسي راغی چي: څوک ستامتابعت کوي مؤمنان دي وزر ورته ښکته کړه ورسره تواضع کوه اوڅوک چي دي حکم نه مني ، سرغړوي له هغه اوله اعمالوڅخه يې بېزاره شه (٢) ﴿ وَتَوَكَّلْ عَلَى ٱلْعَزِيزِ ٱلرَّحِيمِ ﴾ اوتوکل وکړه (په ټولومهماتوکي) پرښه قوي ، غالب (ذات چي دښمنان دي وځپي) ډېر رحم والا (ذات چي تاورباندي بريالی کړي) ﴿ ٱلَّذِي يَرَىٰكَ حِينَ تَقُومُ ﴾ هغه (الله) چي تاويني کله چي پاڅېږې (يوازي له ځايه ، ياله مجلسه. ابن عباس رضی الله عنه وايې چي معناداکله چي ته لمانځه ته پاڅېږې) ﴿ وَتَقَلُّبَكَ فِي ٱلسَّٰجِدِينَ ﴾ اوهم (ويني) ګرزېدل اوښتل رااوښتل ستا (په صف) دساجدينو (راکعينواوقيام کونکو) کي (٣) معناداچي الله تاهم يوازي ويني اوهم په ټولې اوجماعت کي ﴿ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴾ بېشکه دغه (الله) همدی دی ښه اوريدونکی (چي ته څه وايې) ښه علم والا (په هغه چي ته يې پټوې) ﴿ هَلْ أُنَبِّئُكُمْ عَلَىٰ مَن تَنَزَّلُ ٱلشَّيَٰطِينُ ﴾ آياخبردرکړم زه تاسي ته (ای مشرکانو) پرهغو (خلکو) چي کوزېږي شيطانان (ورباندي)؟ دغه ددوی دهغي خبري ترديددی چي ويل يې بېشکه خبره داده شيطانان ورته قرآن راوړي ﴿ تَنَزَّلُ عَلَىٰ كُلِّ أَفَّاكٍ أَثِيمٍ ﴾ کوزېږي (شيطانان) په هرډېردروغجن ډېرګنهګار (باندي نه په هغه چاچي هغه دعدنان داولادې سرداردی) ﴿ يُلْقُونَ ٱلسَّمْعَ وَأَكْثَرُهُمْ كَٰذِبُونَ ﴾ چي ږدي (دا شيطانان) غوږ خبرودپرښتوته) اواکثره ددوی دروغجنان دي په هغه ويناووکي (چی کاهنانوته يې راوړي. په حديث شريف کي راځي چي:

---

(١) أخرجه الشيخان

(٢) البحر ٧/ ٤٢

(٣) اودغه دابن جرير طبري غوره ده اوچابياويلي چي مرادخني دانبياوو په اصلابوکي دده اوښتل رااوښتل دی.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

داهسي حقه ويناده چي شيطانان بې غلاکوي اوبيايې د خپل دوست په غوږکي ورڅڅوې داسي لکه د چرګ (قرقره) نوورسره تريوسل زيات دروغ ګډ کړي (١) زمخشري وايې چي د ﴿ يُلْقُونَ ٱلسَّمْعَ ﴾ څخه هغه شيطانان مراددي چي ترپخواله ويشتلود ستوروبه دوی هغه غيبي خبري د پرښتوواورېدلې اوبيابه يې خپلوکاهنانودوستانوته رالېږدولې اوزياتره ددوی به دروغ ويونکي ووچي کاهنانوته به يې داسي څه ويل چي اورېدلي به يې نه ووبيا الله پاک دهغه ګمان چي دوی به ويل محمد شاعردی ترديدفرمايې: ﴿ وَٱلشُّعَرَآءُ يَتَّبِعُهُمُ ٱلْغَاوُۥنَ ﴾ او(کافران) شاعران متابعت کوي ددوی ناپوهان (بې لاري اوناسم خلک يې متابعت کوي) ﴿ أَلَمْ تَرَ أَنَّهُمْ فِى كُلِّ وَادٍ يَهِيمُونَ ﴾ (آيانه وينې ته چي بېشکه دوی په هري کنډي اوهري پندي د(خبري) کي سرګردانه ګرځي) يعني ای اورېدونکي هوښياره ته نه ګورې چي دوی څرنګه په مدح اوهجآء کي هره لاره لټوي يوځل ديوڅېز صفت کوي وروسته له هغه چي بدي يې ويلي وي بيا ديوچاعظمت اولوبې بيانوي وروسته له هغه چي سپک يې ګڼلی وي. طبري وايې چي داهغه متل دی چي الله ددوی لپاره بيان کړی چي دوی څرنګه په ناحقه ديوشي بووارغيبت کوي اوبيايې صفت ته ملاوتړي ديوچاپه نارواصفت کوي اودبل بيا په ناحقه بدي وايې (٢) ﴿ وَأَنَّهُمْ يَقُولُونَ مَا لَا يَفْعَلُونَ ﴾ (اوبېشکه دغه (شاعران) هغه څه وايې چي دوی يې نه کوي) يعني ځان ته دهغه شي نسبت کوي چي هيڅکله يې کړی نه وي. ابوحيان وايې چي الله دشاعرانوهغه حال ستايي چي له نبوت څخه بېل دی ځکه ددوی متابعت بې لاري کسان کوي اوددوی داخوی دی چي ديوشي غيبت اوصفت دواړه کوي اوهغه څه وايې چي کړی يې نه وي اودغه دنبوت له حاله بالکل مخالف دی ځکه نبوت هغه يوازنی لاره ده چي سم په لاره خلک يې غوره کوي (٣) وروسته الله جل جلاله استثناء داسي فرمايې: ﴿ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ ﴾ مګر(نه دي مذموم) هغه شاعران چي ايمان يې راوړی د ی اوکړي يې دي ښه عملونه ﴿ وَذَكَرُوا۟ ٱللَّهَ كَثِيرًا ﴾ اويادوي دوی الله ډېر(يعني شعراو شاعري دالله له ياده نه وي راګرزولي اونه يې ټول ژونداوخاصيت شعروي) ﴿ وَٱنتَصَرُوا۟ مِنۢ بَعْدِ مَا ظُلِمُوا۟ ﴾ اوبدل اخلي (له کفاروپه هجوه بيانولوددوی وروسته له هغه چي ظلم پردوی کړل شوی وي (يعني داسلام دنصرت لپاره اوله حق څخه په دفاع کولوتراني ليکي) ﴿ وَسَيَعْلَمُ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓا۟ ﴾ (اوژربه پوه شي هغه کسان چي ظلم يې کړی دی) دغه دهرظالم په هکله عام وعيددی چي له هيبته يې زړونه چوي يعني ژردی چي هرظالم اودالله دبلني اودعوت معانداو سرغړونکی چي پکي بې لاري شاعران هم دي وبه پوهېږي ﴿ أَىَّ مُنقَلَبٍ يَنقَلِبُونَ ﴾ چي کوم ځای ته به بېرته لاړشي د دوی هستوګنځی به چېرته جوړشي ؟ ددوی دورتلوځای عذاب اواوردی اوخورابدځای ته به لاړشي.

---

(١) رواه البخاري

(٢) الطبري ١٩/ ٧٨

(٣) البحر ٧/ ٤٩

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

بلاغت:

پدې آيتونو کې دبلاغت اوبديع محسنات شته چې داسې يې لنډوو:

١- تاکيد په (اِنّ) او(لام) سره راغلی دی چې فرمايې ﴿ وَإِنَّهُۥ لَتَنزِيلُ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ ځکه چې دلته کلام له هغومخاطبينوسره دی چې دقرآنکريم په صحت کې شک لري نوپه څومؤکداتوسره دکلام تاکيد مناسب وو.

٢-استفهام دتوبيخ اوتبکيت لپاره لکه ﴿ أَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُونَ ﴾ .

٣ -اشتقاقي جناس چې فرمايې ﴿ يَعْلَمَهُۥ عُلَمَٰٓؤُا۟ ﴾ .

٤-مرسل مجازپدې کلام کې ﴿ وَمَآ أَهْلَكْنَا مِن قَرْيَةٍ ﴾ چې مراداهل قريه ده.

٥-دپاروني اوهڅوني أسلوب لکه داچې ﴿ فَلَا تَدْعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ ﴾ خطاب رسول الله ته دی ځکه چې دهغه اخلاص اوتقوی ترهرچالوړه وه.

٦-تصريحي استعاره پدې کلام کې چې ﴿ وَٱخْفِضْ جَنَاحَكَ لِمَنِ ٱتَّبَعَكَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ تواضع اونرمي يې دمرغانوله وزره سره تشبيه کړه کله چې دکوزېدلواراده لري نويې په مشبه باندې دکښته کېدلونوم دمکنيې استعارې په ترڅ کې کښېښود ځکه يې تصريحي استعاره بللای شو.

٧-دمبالغې صيغې لکه ﴿ أَفَّاكٍ أَثِيمٍ ﴾ چې فعال اوفعيل له مبالغې څخه دی معنايې زيات دروغجن اوزيات ګنهګاردی.

٨-دطباق صنعت لکه د﴿ يَقُولُونَ ﴾ او﴿ يَفْعَلُونَ ﴾ ترمينځ اوهمداسې د﴿ وَٱنتَصَرُوا۟ ﴾ او ﴿ظُلِمُوا۟﴾ ترمينځ دی.

٩-تمثيلي ښکلي استعاره لکه چې پدې کلام کې راځي ﴿ فِى كُلِّ وَادٍ يَهِيمُونَ ﴾ دوی يې چې له سمې لارې ګوښه شوي اوپه مدح اوهجاء کې يومخ ايزه لاهوشوي لکه په صحراکې لالهاند اوسرګردان غوندې تمثيل کوي هغه چې نه پوهېږی په کومه درومي اوله کومه راځي نودغه ښکلي ، باريکه اوخوندوره استعاره ده.

١٠-اشتقاقي جناس لکه داچې ﴿ مُنقَلَبٍ .... يَنقَلِبُونَ ﴾ .

١١-دفواصلومراعات چې دکلام په جمال اوښايست کې ستررول لوبوي لکه ﴿ يَهِيمُونَ .... يَنقَلِبُونَ يَقُولُونَ .... يَفْعَلُونَ ﴾

لطيفه:

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

ویل کېږي چي عمربن عبدالعزیزبه چي سهارراپاڅېدو ډېره به یې په موت کي ونیوله اودغه آیت شریف به یې لوست ﴿ أَفَرَءَيْتَ إِن مَّتَّعْنَٰهُمْ سِنِينَ ثُمَّ جَآءَهُم مَّا كَانُوا۟ يُوعَدُونَ مَآ أَغْنَىٰ عَنْهُم مَّا كَانُوا۟ يُمَتَّعُونَ ﴾ بیابه یې وژړل.

تنبیه:

شعرله هغې جملې څخه دی چي ښه یې ښه اوبدیې بددي اوداچي الله تعالی شعرغندلی ځکه چي پکي ډېرافراط ، تفریط وي کله خوصفت په غلواوله اندازې تېرېدلوکوي اوکله بیاپه ذم کي اغراق اوتجاوز کوي آن تردې چي ترټولوبې زړه (جبان) به ترعنتره له مخي کړي اوترټولوبخیل به ترحاتم طائي په سخاکي لوړ وګني کله به په بې ګناه سړي باندي دفسق اوفجورپېټی بارکړي اوکله به بیافاسق ته دفضیلت پګړۍ ورپه سرکړي یوځل به یوځوک آسمان ته وخېژوي اوکله چي بیاورته په غصه شي له ډاګه به یې وولي اوکندي ته به یې وغورځوي دغه دډېروشاعرانوڅخه لیدلي شوي پېښي دي مګرخوهغه چي الله تعالی استثناء کړي دي.

شاعریوځل په خوږه ژبه اوسحرآمېزه کلام اودبیان په قوت دیوشي صفت اومدح کوي ، کله یې بیاغندي هغه څه چي ماپدې باب له خپلواستاذانواورېدلي ډېرباریک اوستایلي یې دادي چي شاعران دعسلوپه باب داسي وایې:

تقول هذامجاج النحل تمدحه * وان تعب قلت ذاقئ الزنابیر

وایې به چي دغه دشاتودمچۍ ښکلي ناړي دي * اوچي عیب یی کوی وایې به ،دادغومبسوقئ دی

مدحًاوذمًاوماجاوزت وصفهما * سحرالبیان یری الظلمآء کالنور

په صفت اوبدي کي چي ستاینه یې په سحري بیان له حده ووزي اوتاریکي لکه رڼاداسي بولي

لطیفه:

وایې چي فرزدق یووخت دسلیمان بن عبدالملک په وړاندي شعروایواوپه شعرکي دپېغلوصفت راغی چي فرزدق وویل: فبتن کانهن مصرعات * وبتُ أفض اغلاق الختام

هسي ویدې وې لکه چي بې هوښه وې اومابیاترلي غوټي خلاصولې. سلیمان بن عبدالملک ورته وویل: پرتاباندي حدلازم شوفرزدق ورته وویل ای امیرالمؤمنینه ! الله جل جلاله له ماڅخه حدنړولی دی چي فرمایي: ﴿ أَلَمْ تَرَ أَنَّهُمْ فِى كُلِّ وَادٍ يَهِيمُونَ وَأَنَّهُمْ يَقُولُونَ مَا لَا يَفْعَلُونَ ﴾ نویې هغه ته ښښنه وکړه (١)

دالله تعالی په مرسته دالشعرآء دسورت تفسیربشپړشو

***

(١) الکشاف ٣/ ٣٧١

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

دالنمل سورت مکي دی اودرې نوي آيتونه لري.

دسورت په وړاندي:

دالنمل سورت له مکي سورتونو څخه يودی چي دعقيدې له بنسټه لکه توحيد، رسالت اوبعث څخه غوږېږي دغه يودهغودريوسورتونو څخه دی چي پرله پسې نازل شوي اوپه مصحف شريف کي همداسي پرله پسې ايښودل شوی چي هغه: الشعرآء، النمل اوالقصص دی اونژدې ددريوسروتګلاره هم يوه وي چي درومبنيو خلګوله کيسو څخه پنداوعبرت اخيستل وي.

* پدې سورت کي دقرآنکريم دمعجزې چي ترقيامته به تلپاتي وي يادونه شوي اودايې په ډاګه کړي چي دغه کتاب دعليم، حکيم ذات له لوري نازل شوی دی اوبيايې په لنډه توګه دانبياووکيسې راوړي اوځيني يې په تفصيل هم بيان کړي دي چي پدې لړکي په لنډول دموسی عليه السلام کيسه، دصالح عليه السلام اودلوط عليه السلام کيسې راغلي اوداچي دوی ته دخپلوقومونوله لوري څومره عذابونه رسېدلي اوبيابرهغوی باندي کله چي له الهي بلني اودعوت څخه يې غاړه غړولي اودانبياووعليهم السلام تکذيب يې کړی ووڅرنګه عذابونه راغلي دي بيان شوي.

* بيابه تفصيلي ډول دداودعليه السلام اودهغه دزوی سليمان عليه السلام کيسه راوړي چي الله څومره لوړنعمتونه ورباندي لورولي اوڅرنګه يې ايمان اونبوت يوځای ورباندي پېرزوکړي وو ورپسې دسليمان عليه السلام کيسه رااخلي چي دسباله ملکه بلقيس سره يې پېژندګلوي شوي وه.

* په دې کيسه کي دزورورواودجاه اوسلطان خاوندانولره له معناډک پيغام نغښتی دی چي سليمان عليه السلام خپله پادشاهي دالهي دعوت اوبلني لپاره وسيله کړه هيڅ ظالم باچااوکافر حکمران يې پرې نښودمګرالله جل جلاله ته يې راوباله همداسي يې له بلقيس سره وکړل ترڅوچي دبتانوعبادت يې پرېښوداوله خپلولښکريانوسره دالله دعوت ته يې غاړه کښېښوده ايمان يې راووړ.

* بيابه سورت کي دالله په وجوداووحدانيت باندي دلائل راځي چي دالله په مخلوق اوعجيبه صنعت کي يې ليدلای شوهمداسي ځيني هيبت ناکي پېښي اوحيرانونکي واقعات چي خلګ به يې دقيامت په ورځ ګوري راوړي چي هلته به بياخلګ په دووډلووېشل کېږي يوه ډله نېکمرغه مؤمنان او بله بدمرغه کفارچي پرمخي به په اورکي لوېږي.

تسميه اونومول يې:

ځکه يې دالنمل سورت بولي چي دهغې ښځينه مېږي چي خپل تېرته يې دسليمان اولښکريانويادونه وکړه اوبيايې سليمان عليه السلام ته عذر وړاندي کړکيسه پکې ده نوسليمان عليه السلام دهغې په خبره وپوهېدو موسکی شواوبيايې دالله شکراداکړ چي دومره لوی نعمت يې ورباندي کړی اوپدې کي دحيوان په علم ستردليل اوداچي دغه الهي الهام دی راځي

الله تعالی فرمايي: بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ طسٓ تِلْكَ ءَايَٰتُ ٱلْقُرْءَانِ وَكِتَابٍ مُّبِينٍ ﴿١﴾ هُدًى وَبُشْرَىٰ لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿٢﴾ ٱلَّذِينَ يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤْتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَهُم بِٱلْءَاخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ ﴿٣﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْءَاخِرَةِ زَيَّنَّا لَهُمْ أَعْمَٰلَهُمْ فَهُمْ يَعْمَهُونَ ﴿٤﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

لَهُمْ سُوٓءُ ٱلْعَذَابِ وَهُمْ فِى ٱلْءَاخِرَةِ هُمُ ٱلْأَخْسَرُونَ ﴿٥﴾ وَإِنَّكَ لَتُلَقَّى ٱلْقُرْءَانَ مِن لَّدُنْ حَكِيمٍ عَلِيمٍ ﴿٦﴾ إِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِأَهْلِهِۦٓ
إِنِّىٓ ءَانَسْتُ نَارًا سَـَٔاتِيكُم مِّنْهَا بِخَبَرٍ أَوْ ءَاتِيكُم بِشِهَابٍ قَبَسٍ لَّعَلَّكُمْ تَصْطَلُونَ ﴿٧﴾ فَلَمَّا جَآءَهَا نُودِىَ أَنۢ بُورِكَ مَن فِى ٱلنَّارِ
وَمَنْ حَوْلَهَا وَسُبْحَٰنَ ٱللَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٨﴾ يَٰمُوسَىٰٓ إِنَّهُۥٓ أَنَا ٱللَّهُ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٩﴾ وَأَلْقِ عَصَاكَ فَلَمَّا رَءَاهَا تَهْتَزُّ كَأَنَّهَا جَآنٌّ
وَلَّىٰ مُدْبِرًا وَلَمْ يُعَقِّبْ يَٰمُوسَىٰ لَا تَخَفْ إِنِّى لَا يَخَافُ لَدَىَّ ٱلْمُرْسَلُونَ ﴿١٠﴾ إِلَّا مَن ظَلَمَ ثُمَّ بَدَّلَ حُسْنًۢا بَعْدَ سُوٓءٍ فَإِنِّى غَفُورٌ رَّحِيمٌ
﴿١١﴾ وَأَدْخِلْ يَدَكَ فِى جَيْبِكَ تَخْرُجْ بَيْضَآءَ مِنْ غَيْرِ سُوٓءٍ فِى تِسْعِ ءَايَٰتٍ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَقَوْمِهِۦٓ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ قَوْمًا فَٰسِقِينَ ﴿١٢﴾ فَلَمَّا
جَآءَتْهُمْ ءَايَٰتُنَا مُبْصِرَةً قَالُوا۟ هَٰذَا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿١٣﴾ وَجَحَدُوا۟ بِهَا وَٱسْتَيْقَنَتْهَآ أَنفُسُهُمْ ظُلْمًا وَعُلُوًّا فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ
عَٰقِبَةُ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿١٤﴾ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا دَاوُۥدَ وَسُلَيْمَٰنَ عِلْمًا وَقَالَا ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِى فَضَّلَنَا عَلَىٰ كَثِيرٍ مِّنْ عِبَادِهِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٥﴾
وَوَرِثَ سُلَيْمَٰنُ دَاوُۥدَ وَقَالَ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ عُلِّمْنَا مَنطِقَ ٱلطَّيْرِ وَأُوتِينَا مِن كُلِّ شَىْءٍ إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ ٱلْفَضْلُ ٱلْمُبِينُ ﴿١٦﴾
وَحُشِرَ لِسُلَيْمَٰنَ جُنُودُهُۥ مِنَ ٱلْجِنِّ وَٱلْإِنسِ وَٱلطَّيْرِ فَهُمْ يُوزَعُونَ ﴿١٧﴾ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَتَوْا۟ عَلَىٰ وَادِ ٱلنَّمْلِ قَالَتْ نَمْلَةٌ يَٰٓأَيُّهَا
ٱلنَّمْلُ ٱدْخُلُوا۟ مَسَٰكِنَكُمْ لَا يَحْطِمَنَّكُمْ سُلَيْمَٰنُ وَجُنُودُهُۥ وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿١٨﴾ فَتَبَسَّمَ ضَاحِكًا مِّن قَوْلِهَا وَقَالَ رَبِّ
أَوْزِعْنِىٓ أَنْ أَشْكُرَ نِعْمَتَكَ ٱلَّتِىٓ أَنْعَمْتَ عَلَىَّ وَعَلَىٰ وَٰلِدَىَّ وَأَنْ أَعْمَلَ صَٰلِحًا تَرْضَىٰهُ وَأَدْخِلْنِى بِرَحْمَتِكَ فِى عِبَادِكَ
ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١٩﴾ ﴾ النمل: ١ ـ ١٩

لغتونه:

(يعمهون) حيران، لالهاندهغه چي لارورکی اومترددوي(قبس) سکروټه لمبه (تصطلون) له يخني څخه ځان تودول (بورک) له برکت څخه اخيستل شوی اوپه مال ، ځان کي ودي اونماته دُعاده عرب وايي: بارک الله ، بارک فيک ، بارک لک، بارک عليک څلورلغات دي (يوزعون) دوزع اصل منع اوراګرزولوته ويل کېږي لکه چي عثمان رضی الله عنه وايي (ان الله ليزع بالسلطان مالايزع بالقرآن) الله په حکم اوپاچهي هغه څه منع کوي کوم چي په قرآن نه منع کېږي (يعني دسوتي په زورهغه څه ترسره کېږي چي په وعظ اوپند ممکن نه وي).

تفسير:

﴿ طسٓ ﴾ له مقطعاتوحروفواوتوروڅخه ګڼل کېږي چي دقرآنکريم په اعجازدلالت وکړي اوپدې هکله ويناتېره شوي ده (١)﴿ تِلْكَ ءَايَٰتُ ٱلْقُرْءَانِ ﴾ داآيتونه (نازل شوي پرتااى محمده !) آيتونه دقرآن (معجزبيان اوساطع برهان) ﴿ وَكِتَابٍ مُّبِينٍ ﴾ اوښکاره بيانونکی کتاب دی (چي څوک پکي سوچ اوفکرکوي الله پکي څرګنداحکام بيان کړي اوخلګوته يې دهدايت ذريعه ګرزولی دی ﴿ هُدًى وَبُشْرَىٰ

(١) ددغي ويناتفصيل اوڅېړنه دالبقره سورت په پيل کي لوستلای شي.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

لِلْمُؤْمِنِينَ ﴾ دغه (قرآن) سمه صافه لاره ښوونکی دی (ټول جهان ته) اوزېری ورکونکی دی مؤمنانو ته (په نعمتونو) ﴿ ٱلَّذِينَ يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤْتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ ﴾ هغه مؤمنان)چي اداکوي لمونځونه (سم له ټولو حقوقو سره) اوورکوي زکات دمالونو خپلو (پخپله خوښه) ﴿ وَهُم بِٱلْءَاخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ ﴾ اودوی په ورځي آخري (چي قیامت دی) همدوی یقین کونکي دي (چي ارومرو به راځي هیڅ شی شک اوشبه پکي نشته دغه اعتراضیه جمله ده اولکه چي داسي وايي همدغه مؤمنان چي نېک عملونه کوي همدوی دآخرت په راتلو یقین کوي نوګواکي هیچاهم دآخرت په راتلو په سمه توګه یقین نشته مګردد غو کسانو چي ایمان اوصالح اعمال یې یوله بله سره ملګري کړي ځکه دعاقبت څخه وېره دوی دتکالیفو ترسره کولو ته اړباسي (١) ابوحیان وايي څرنګه چي ﴿ يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤْتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ ﴾ هغه څه ووچي په مکرر وختونو کي به اداکېدل نوصله یی فعل راووړاوداچي ایمان مستقراوثابت وي نویې اسمیه جمله راوړه اوتاکید یې دضمیرپه تکرار وفرمایلوچي ﴿ وَهُم بِٱلْءَاخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ ﴾ اودمبتدا خبریې فعل ځکه راووړچي په تل ترتله کېدلو دلالت وکړي (٢) کله چي الله تبارک وتعالی دمؤمنانو هغوچي په آخرت یقین اوباورکونکي دي صفات راوړل وروپسې یې دمنکرانو صفات هغوی چي دآخرت تکذیب کوي هسي بیان کړل چي: ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْءَاخِرَةِ ﴾ بېشکه هغه کسان چي ایمان نه راوړي په ورځي آخري (قیامت) ﴿ زَيَّنَّا لَهُمْ أَعْمَٰلَهُمْ ﴾ ښایسته کړي دي موږدوی ته (قبیحه) عملونه ددوی (چي دوی ته ښه برېښي. امام رازي وايي چي مقصدله تزئین څخه ددوی په زړونو کي داسي پوهه پیداکول دي چي همداعملونه دي چي ګټه لري اوخوندتري اخیستل کېږي اوپدې نه پوهېدل دي چي همدغه (قبیحه) عملونه تاوان لري اوآفتونه پکې دي (٣)﴿ فَهُمْ يَعْمَهُونَ ﴾ پس دوی حیران سرګردانه دي ښه اوبدنشی سره بېلولای) ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَهُمْ سُوٓءُ ٱلْعَذَابِ ﴾ داهم هغه کسان دي چي مقرردی دوی ته ډېربدعذاب (په دنیاکي چي وژل کېږي بندیانېږي اوشړل کېږي ﴿ وَهُمْ فِي ٱلْءَاخِرَةِ هُمُ ٱلْأَخْسَرُونَ ﴾ اودوی په آخرت کي هم دوی زیانکاران دي (چي تل ترتله به په اوراوځولنو کي په دوزخ کي اوسي ﴿ وَإِنَّكَ لَتُلَقَّى ٱلْقُرْءَانَ مِن لَّدُنْ حَكِيمٍ عَلِيمٍ ﴾ اوبېشکه تاته (ای محمده !) در ښوول کېږي قرآن له نزده دښه حکمت والا، ښه علم والا ذات چي الله تعالی دی د خلګود چارو تدبیرکونکی اوپه نېکمرغي اومصلحتونو یې پوهېدونکی دی. زمخشري وايي چي پدې آیت شریف کي تمهیددی دهغه څه لپاره چي وروسته به یې الله تعالی دکیسو په ترڅ کي بیانوي اوالله دعلم دقائق اودحکمت لطائف پکي راځي (٤)﴿ إِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِأَهْلِهِۦٓ إِنِّيٓ ءَانَسْتُ نَارًا ﴾

---

(١) التفسیرالکبیر ٢٤ / ١٧٨

(٢) البحر ٧ / ٥٣

(٣) التفسیرالکبیر ٢٤ / ١٧٩

(٤) الکشاف ٣ / ٢٧٥

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

(یادکړه ای محمده!) هغه وخت چي وویل: موسی خپلي مېرمني ته بېشکه چي ما یواور ولید (له لیري مفسرین کرام وایې چي کله موسی علیه السلام له مدین څخه دمصرپه لوري لاروی ووتکه توره دیخني شپه وه لاره څني ورکه شوه اومېرمني یې دولادت (زچکي) دردونه کالل ﴿ سَأٓتِيكُم مِّنْهَا بِخَبَرٍ ﴾ ژربه راوړم (له دې ځایه (اوره) خبر (دلاري چي هلته ورسېږم) ﴿ أَوْ ءَاتِيكُم بِشِهَابٍ قَبَسٍ ﴾ یابه راوړم تاسي ته لمبه لګولي (په سردپلتې یالرګي) ﴿ لَّعَلَّكُمْ تَصْطَلُونَ ﴾ دپاره ددې چي تاسي تاوده شی (په هغه اور) ﴿ فَلَمَّا جَآءَهَا ﴾ پس کله چي راغی (دغه موسی) هغه (اورته) که ګوري دعظمت عجیبه منظردی چي په زرغونه ونه کي اوربلېږي اورلاپسي په غرغنډوکېږي اوونه لاپسي زرغونېږي تازه کېږي اوچي پاس یې وکتل نوڅلایې ترآسمانه رسېږي. ابن عباس رضی الله عنه وایې: اورنه ووبلکه ځلاوه چي وړانګي یې بلېدلې (١) نوموسی علیه السلام په تعجب کي تم شو او ودرېدوچي علوي غږوشو ﴿ نُودِيَ أَنۢ بُورِكَ مَن فِي ٱلنَّارِ وَمَنْ حَوْلَهَا ﴾ غږ وکړشوداسي چي برکتناک کړی شوی دی هغه چي په دغه اورکي دی اوهغه چي له دغه اوره چاپېردی (چي پرښتې دي) یعني دطوردغره له لوري داسي غږوشوچي ته برکتناک یې ای موسی اوستاچاپېر پرښتې برکتناکي دي. ابن عباس رضی الله عنه وایې د ﴿ بُورِكَ ﴾ معناتقدیس اوسپېڅلتیاده او ﴿ وَمَنْ حَوْلَهَا ﴾ ملائکي اوپرښتې دي. ابوحیان وایې چي په غږپیل کولودموسی علیه السلام لپاره تبشیر (د خوښي زېری) اوتأنیس (ألفت نیول) وواودغه ښائېدل چي دغه دمبارکي مراتب وړاندي شي څکه خوراستره چاره پېښېدونکي وه هغه چي دالله جل جلاله له موسی علیه السلام سره خبري کېدل اوهغه په نبوت غوره کول اوګمارل وو. (٢) ﴿ وَسُبْحَٰنَ ٱللَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ اوپاکي ده الله ته چي پالونکی دعالمیانودی (هغه ذات چي له مخلوقاتوڅخه هیڅ څېزله ده سره په صفاتو، افعالو اوذات کي مشابه نشته) ﴿ يَٰمُوسَىٰٓ إِنَّهُۥٓ أَنَا ٱللَّهُ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴾ یاموسی شان دادی چي زه یم الله ښه غالب، قوي (زورور) ښه حکمت والا (چي هرڅه په حکمت او مصلحت سره کوم) ﴿ وَأَلْقِ عَصَاكَ ﴾ اووغورځوه خپله همساپه پخواني کلام باندي عطف دي یعني اوغږ وشو چي لکړه دي واچوه ترڅوپخپله خپله معجزه ووینې او ورسره روږدی شې ﴿ فَلَمَّا رَءَاهَا تَهْتَزُّ كَأَنَّهَا جَآنٌّ ﴾ پس کله چي ولیدله (موسی همسا) خپله چي خوځېدله ګواکي دغه (همسا) سپین څغستونکی ماردی (چي ګړندی خوځېږي) ﴿ وَلَّىٰ مُدْبِرًا وَلَمْ يُعَقِّبْ ﴾ نومخ یې وګرزاووپه شاتلونکی اوبیرته را ونه ګرزېدو (چي وېرېدلی وومجاهدوایې د ﴿ وَلَمْ يُعَقِّبْ ﴾ معنا (لم یرجع) دی اوقتاده وایې چي معنا داچي بیرته یې ونه کتل اوهغه څه چي بشرته پداسي لیدلورسېږي ده ته هم ورسېدل چي خورا هیبنونکی، هیبتناک حالت یې ولیدچي له همسایې

---

(١) الکشاف ٣/ ٢٧٥

(٢) البحرالمحیط ٧/ ٥٦

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

مارجوړشوځکه نو الله تعالی ورته غږ کړ ﴿ يَٰمُوسَىٰ لَا تَخَفْ إِنِّي لَا يَخَافُ لَدَيَّ ٱلْمُرْسَلُونَ ﴾ ای موسی مه وېرېږه (ځکه ته زماپه حضورکي يې اوځوک چي زماپه وړاندي وي هغه په امن کي وي) بېشکه زه چي يم نه وېرېږي زماپه نزدمرسلان) (يعني ته زماپيغمبريې اوځوک چي زه دپيغمبري لپاره غوره کړم هغوی له ماپرته له هيڅ شي څخه نه وېرېږي. ابن جوزي وايې چي الله ورته تنبيه ورکړه چي کله الله تعالی يوځوک په نبوت باندي له عذابه په امن کړي نه ښايې چي هغه دي بياله ماره ووېرېږي(١) ﴿ إِلَّا مَن ظَلَمَ ثُمَّ بَدَّلَ حُسْنًا بَعْدَ سُوٓءٍ ﴾ لېکن هغه څوک چي ظلم يې کړی وي (په خپل ځان) بيابدل راوړي نېکي وروسته له بدي. دغه استثناء منقطع دی يعنی له مرسلانو پرته چي کله يوځوک پخپل ځان ظلم وکړي نو هغه وېرېږي مګرنه هغه چي توبه وکاږي اوبدعمل په نېک عمل باندي بدل کړي ﴿ فَإِنِّي غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ پس بېشکه زه ښه ښښونکی يم (دګناهونوزمارحمت پراخ اومغفرت مي زيات دی. ابن کثيروايې چي پدې کي دبشريت لپاره سترزېری دی هغه داچي که يوځوک بدعمل کوي اوبياتوبه ګارشي الله ته رجوع وکړي الله يې توبه مني لکه چي بل ځای فرمايې ﴿ وَإِنِّي لَغَفَّارٌ لِّمَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحًا ثُمَّ ٱهْتَدَىٰ ﴾ (طه ٨٢)(٢) ﴿ وَأَدْخِلْ يَدَكَ فِي جَيْبِكَ تَخْرُجْ بَيْضَآءَ مِنْ غَيْرِ سُوٓءٍ ﴾ اوننی باسه خپل لاس په ګرېوان خپل کی نووبه وزي تک سپين بې له کومه عيبه. دغه يوه بله معجزه وه چي الله تعالی په سترقدرت يې ګواهي ورکوله چي لاس به يې دبرېښناپه ډول ځلېدو ﴿ فِي تِسْعِ ءَايَٰتٍ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَقَوْمِهِۦٓ ﴾ (يعني دغه دوې معجزې چي همسا اولاس دی (په (ضمن د) نهو معجزاتو (ستاکي نوورشه) فرعون اوقوم دده ته ﴿ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ قَوْمًا فَٰسِقِينَ ﴾ بېشکه دوی دي يوقوم فاسقان (له طاعته اولاهوشوی په کفراوضلالت کي) ﴿ فَلَمَّا جَآءَتْهُمْ ءَايَٰتُنَا مُبْصِرَةً ﴾ نوکله چي راغلل دوی(فرعونيانو) ته آيتونه (معجزې) زموږ روښانه ﴿ قَالُوا۟ هَٰذَا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴾ نوويل دوی چي دغه ښکاره کوډي دی ﴿ وَجَحَدُوا۟ بِهَا ﴾ اومنکران شول دوی پردغو(آيتونو معجزاتو خارق العاده پېښو) ﴿ وَٱسْتَيْقَنَتْهَآ أَنفُسُهُمْ ظُلْمًا وَعُلُوًّا ﴾ حال داچي يقين کړی ووپردغومعجزاتو ځانونوددوی (چي حق اودالله له جانبه دی کوډي نه دي) ﴿ ظُلْمًا وَعُلُوًّا ﴾ (لېکن انکارترې وکړدوی) له جهته دظلم اوسرکښي. له منلودحق څخه اوتردې به لوړظلم چېرته وي ؟ چي يوځوک ټينګ باورلري چي دغه دالله له لوري راغلی معجزې دي خوبياهم له کبره اوغروره هغه په کوډو نوموي نوځکه الله فرمايې ﴿ فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴾ پس وګوره څرنګه وه آخره خاتمه دمفسدانو(چي په دنياکي غرق شول اوپه آخرت کي به په اورسوځي. ابن کثيروايې چي دکلام فحوی داسي ده لکه چي ورته ويل کېږي ای دمحمدتکذيب کونکوووېرېږئ ! چي تاسوته به هم هغه څه چي دوی ته رسېدلي ارومرو در ورسېږي ځکه

---

(١) زاد المسير ٦/ ١٥٢

(٢) مختصرابن کثير ٢/ ٢٢٧

محمد مصطفي صلى الله عليه وسلم ترموسى عليه السلام اشرف او اعظم دی او برهان يې دموسى عليه السلام تربرهان زورورد ی (١) ﴿ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا دَاوُۥدَ وَسُلَيْمَٰنَ عِلْمًا ﴾ اوخاماخاپه تحقيق ورکړی وو موږ داؤدته اوسليمان ته (پراخ) علم (اوپوهه ددنيااو دين) دغه په دې مبارک سورت کي دوهمه کيسه ده اومعناداچي قسم دی موږ داؤد اوسليما ن ته ددنيااوآخرت نېکمرغي يوځای ورکړي وې طبري وايې چي مرادله علمه څخه دمرغانواوڅارويو پّه ژبه پوهېدل اونورڅه دي چي الله دوی ته ورښودلي وو(٢) ﴿ وَقَالَا ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِى فَضَّلَنَا عَلَىٰ كَثِيرٍ مِّنْ عِبَادِهِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ اودواړوويل چي ټولي ثناوي (اوصفتونه) الله لره دي هغه چي مشرتيايې راکړي ده موږته په ډېروله (هغو) بندګانوخپلوچي مؤمنان دي) يعني دواړوالله شکراوحمدووايو:حمداً لله وشکراً لله ،په دی چي موږته يې نبوت ، علم اوتابع کېدل (تسخير) دانس اوجن راکړی اوپه نورومؤمنانويې بهترګرزولي يو ﴿ وَوَرِثَ سُلَيْمَٰنُ دَاوُۥدَ ﴾ اومېراث واخيست سليمان (نبوت ، علم اوپاچهي) له داودنه (پرته له نورو زامنويې) کلبي وايې چي دداودعليه السلام نولس زامن ووخوددوی له ډلي نبوت ، علم اوپاچهي سليمان عليه السلام ته ورسېده اوکه چېري دمال دولت مېراث وای نوګرده به پکي برابروو(٣) ﴿ وَقَالَ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ عُلِّمْنَا مَنطِقَ ٱلطَّيْرِ ﴾ (نو(سليمان) وويل: ای خلګومو ږته دالوتونکو مرغانوخبري ښودل شوي دي) دغه تحديث بالنعمة بولي چي ويې ويل: ای خلګومو ږته الله دمرغانواوڅارويوخبري راښودلي اوداکرام يې راکړی دی ﴿ وَأُوتِينَا مِن كُلِّ شَىْءٍ ﴾ اوراکړي يې دي موږته له هرڅېزڅخه (هغه چي انبياوواو پاچهانو ته ورکاوه شي) ﴿ إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ ٱلْفَضْلُ ٱلْمُبِينُ ﴾ بېشکه دغه (عطآء) همدغه ښکاره فضيلت دی (چي الله موږته رنګارنګ نعمتونه راکړي دي دغه يې دشکراوحمدپه توګه وويل لوړتيااوکبريايې مقصدنه وه ﴿ وَحُشِرَ لِسُلَيْمَٰنَ جُنُودُهُۥ مِنَ ٱلْجِنِّ وَٱلْإِنسِ وَٱلطَّيْرِ ﴾ اوجمع کړل شوې دسليمان لپاره لښکري دده له پېريانواو(له) انسانانواو(له) مرغانو) يعني دده ګردي لښکري ده ته راغونډي شوې چي ديوسترمارش په توګه پېريان، انسانان اومرغان چي ترټولودمخه سليمان عليه السلام په عظمت اوسترهيبت کي وو رهي شول ﴿ فَهُمْ يُوزَعُونَ ﴾ نودوی به له ړومبي کېدلو(پرسليمان عليه السلام باندي) منع کېدلو. ابن عباس رضی الله عنه وايې په هرټولګي يې يوکتونکی مراقب ګمارلی ووچي ړومبي په وروستي راوګرزوي ترڅوچي په مسير اوتګلاره کي ورباندي دمخه نشي لکه چي دنړۍ پاچهان همداسي کوي چي نظم اودسپلين وساتل شي ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَتَوْا عَلَىٰ وَادِ ٱلنَّمْلِ ﴾ آن ترهغه پوري چي راغلل دوی (شام ته) پرکنده دمېږيانو ﴿ قَالَتْ نَمْلَةٌ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّمْلُ ٱدْخُلُوا۟ مَسَٰكِنَكُمْ ﴾ نوويل يوې مېږي (چي مشره وه) ای

---

(١) ابن كثير مختصر ٢/ ٦٦٧

(٢) الطبري ١٩ -٨٧

(٣) القرطبي ١٣/ ١٦٤

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

مهربانو ننوزئ خپلو هستوګنځيو ته ! دوی ته يې دهوښيارانو خطاب وکړ ځکه ددې غوښتنه داسي وه چي دهوښيارانو څخه کېدلای شي ﴿ لَا يَحْطِمَنَّكُمْ سُلَيْمَٰنُ وَجُنُودُهُۥ وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴾ چي مات اوچپت پيت مونکړي هرومرو سليمان اودده لښکري حال داچي دوی به نه وي خبر (په دي پايمال کېدلو ستاسي دوی يې يوځل ووېرول اوبيايې عذروايو ځکه هغه پوهېدله چي سليمان عليه السلام مهربان پيغمبردی قصداً داسي نکوي ؛ نو سليمان عليه السلام ددې ويناواورېدله او ورباندي پوه شوويې خندل ﴿ فَتَبَسَّمَ ضَاحِكًا مِّن قَوْلِهَا ﴾ نوتبسم وکړ (سليمان) په دغه حال کي چي خنداکونکی وو (ځکه چي مېږي دده اودلښکرو صفت ثنا وويله چي ﴿ وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴾ نودغه دده تقوی اوله حيواناتو سره ترحم څرګنداوو ، بيايې وويل ﴿ وَقَالَ رَبِّ أَوْزِعْنِيٓ أَنْ أَشْكُرَ نِعْمَتَكَ ٱلَّتِيٓ أَنْعَمْتَ عَلَيَّ وَعَلَىٰ وَٰلِدَيَّ ﴾ اووويل سليمان ای زماربه الهام وکړه ماته داچي شکروکړم دنعمت ستاهغه چي انعام دي کړی پرمااوپرمور اوپلارزما ﴿ وَأَنْ أَعْمَلَ صَٰلِحًا تَرْضَىٰهُ ﴾ اوبل داچي زه نېک عمل کوم چي ته يې خوښوې) يعني الهي ماته ستاد خوښي دعمل کولو توفيق راکړه چي تاته مي نژدې کاندي ﴿ وَأَدْخِلْنِي بِرَحْمَتِكَ فِي عِبَادِكَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴾ اوګډکړه ماپخپل رحمت سره په هغو خپلو صالحو بندګانو کي) يعني ماجنت ته چي درحمت ځای دی له خپلو نېکو بندګانو سره دننه کړه.

بلاغت:

پدې آيتونو کي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي دي لنډيزيې دادی.

١- نژدې ته دليري اشاره کول لکه ﴿ تِلْكَ ءَايَٰتُ ٱلْقُرْءَانِ ﴾ لپاره ددې چي دفضل اوشرف ليري مرتبه يې څرګنده کړي.

٢- تنکيردتفخيم اوتعظيم لپاره لکه ﴿ وَكِتَابٍ مُّبِينٍ ﴾ يعني دسترشان اولوړقدرخاوند کتاب دی.

٣- مصدرداسم فاعل پرځای راوړل چي مبالغه افاده کړي لکه ﴿ هُدًى وَبُشْرَىٰ ﴾ چي په اصل کي (هاديًا ومبشرًا) دی.

٤- دضميرمکرر راوړل چي حصراوځانګړتيا (اختصاص) وښيي لکه داچي ﴿ وَهُم بِٱلْءَاخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ ﴾ بل داچي ﴿ وَهُمْ فِي ٱلْءَاخِرَةِ هُمُ ٱلْأَخْسَرُونَ ﴾ اوددي دووجملوترمينځ ډېره ښايسته مقابله هم راغلي ده.

٥- تاکيد په (اِنّ) او (لام) سره لکه ﴿ وَإِنَّكَ لَتُلَقَّى ٱلْقُرْءَانَ ﴾ ځکه چي دقرآنکريم دسموالي په هکله ښککين موجودوو.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

٦- ایجازبالحذف لکه چي فرمايي ﴿ وَأَلْقِ عَصَاكَ فَلَمَّا رَءَاهَا تَهْتَزُّ ﴾ دلته يې هغه جمله حذف کړي چي (فألقاها) ده اودغه دجملې دسياق په دلالت کولو معلومېږي.

٧- دطباق صنعت چي د ﴿ حُسْنًا بَعْدَ سُوٓءٍ ﴾ او ﴿ وَلَّىٰ مُدْبِرًا وَلَمْ يُعَقِّبْ ﴾ ترمينځ راغلی دی.

٨- استعاره چي الله فرمايي: ﴿ ءَايَٰتُنَا مُبْصِرَةً ﴾ دابصارلفظ يې دځرګندوالي اوبيان لپاره راوړی ځکه چي په دواړوسترګوانسان دشيانوليدل کتل کوي

٩- مرسله مجمله تشبيه لکه ﴿ كَأَنَّهَا جَآنٌّ ﴾ دلته يې دتشبيه توری ادات ذکرکړی اووجه دشبه يې حذف کړي نومجمله مرسله تشبيه ده.

١٠- حسن الاعتذارپدې ويناکي چي ﴿ وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴾ دی.

لطيفه:

ځيني علماء کرامودغه آيت شريف چي فرمايي ﴿ قَالَتْ نَمْلَةٌ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّمْلُ ٱدْخُلُوا۟ مَسَٰكِنَكُمْ ﴾ دقرآنکريم له عجائباتوګڼلي هغه داسي چي هغې د(يا) په لفظ نداء وکړه په (أيها) يې تنبيه وښوده اوپه ﴿ ٱلنَّمْلُ ﴾ يې تعيين وکړپه ﴿ ٱدْخُلُوا۟ ﴾ يې حکم صادرکړپه ﴿ مَسَٰكِنَكُمْ ﴾ يې هستوګن ځايونه ورپه ګوته کړل په ﴿ لَا يَحْطِمَنَّكُمْ ﴾ يې ووېرول ﴿ سُلَيْمَٰنُ ﴾ يې په تخصيص يادکړ ﴿ وَجُنُودُهُۥ ﴾ يې په تعميم اداکړپه ﴿ وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴾ يې عذروړاندي کړ. سبحان الله څومره پوهه اودذکاوت خاوند مېږی وو؟.

•••

الله تعالی فرمايي:

﴿ وَتَفَقَّدَ ٱلطَّيْرَ فَقَالَ مَا لِىَ لَآ أَرَى ٱلْهُدْهُدَ أَمْ كَانَ مِنَ ٱلْغَآئِبِينَ ﴿٢٠﴾ لَأُعَذِّبَنَّهُۥ عَذَابًا شَدِيدًا أَوْ
لَأَاْذْبَحَنَّهُۥٓ أَوْ لَيَأْتِيَنِّى بِسُلْطَٰنٍ مُّبِينٍ ﴿٢١﴾ فَمَكَثَ غَيْرَ بَعِيدٍ فَقَالَ أَحَطتُ بِمَا لَمْ تُحِطْ بِهِۦ وَجِئْتُكَ مِن سَبَإٍۭ بِنَبَإٍ
يَقِينٍ ﴿٢٢﴾ إِنِّى وَجَدتُّ ٱمْرَأَةً تَمْلِكُهُمْ وَأُوتِيَتْ مِن كُلِّ شَىْءٍ وَلَهَا عَرْشٌ عَظِيمٌ ﴿٢٣﴾ وَجَدتُّهَا وَقَوْمَهَا يَسْجُدُونَ
لِلشَّمْسِ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَزَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيْطَٰنُ أَعْمَٰلَهُمْ فَصَدَّهُمْ عَنِ ٱلسَّبِيلِ فَهُمْ لَا يَهْتَدُونَ ﴿٢٤﴾ أَلَّا يَسْجُدُوا۟ لِلَّهِ ٱلَّذِى
يُخْرِجُ ٱلْخَبْءَ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَيَعْلَمُ مَا تُخْفُونَ وَمَا تُعْلِنُونَ ﴿٢٥﴾ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ ٱلْعَرْشِ ٱلْعَظِيمِ ۩ ﴿٢٦﴾
۞ قَالَ سَنَنظُرُ أَصَدَقْتَ أَمْ كُنتَ مِنَ ٱلْكَٰذِبِينَ ﴿٢٧﴾ ٱذْهَب بِّكِتَٰبِى هَٰذَا فَأَلْقِهْ إِلَيْهِمْ ثُمَّ تَوَلَّ عَنْهُمْ فَٱنظُرْ مَاذَا
يَرْجِعُونَ ﴿٢٨﴾ قَالَتْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمَلَؤُا۟ إِنِّىٓ أُلْقِىَ إِلَىَّ كِتَٰبٌ كَرِيمٌ ﴿٢٩﴾ إِنَّهُۥ مِن سُلَيْمَٰنَ وَإِنَّهُۥ بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿٣٠﴾ أَلَّا
تَعْلُوا۟ عَلَىَّ وَأْتُونِى مُسْلِمِينَ ﴿٣١﴾ قَالَتْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمَلَؤُا۟ أَفْتُونِى فِىٓ أَمْرِى مَا كُنتُ قَاطِعَةً أَمْرًا حَتَّىٰ تَشْهَدُونِ ﴿٣٢﴾ قَالُوا۟ نَحْنُ أُو۟لُوا
قُوَّةٍ وَأُو۟لُوا۟ بَأْسٍ شَدِيدٍ وَٱلْأَمْرُ إِلَيْكِ فَٱنظُرِى مَاذَا تَأْمُرِينَ ﴿٣٣﴾ قَالَتْ إِنَّ ٱلْمُلُوكَ إِذَا دَخَلُوا۟ قَرْيَةً أَفْسَدُوهَا وَجَعَلُوٓا۟ أَعِزَّةَ

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

أَهْلِهَآ أَذِلَّةً ۖ وَكَذَٰلِكَ يَفْعَلُونَ ﴿٣٤﴾ وَإِنِّي مُرْسِلَةٌ إِلَيْهِم بِهَدِيَّةٍ فَنَاظِرَةٌۢ بِمَ يَرْجِعُ الْمُرْسَلُونَ ﴿٣٥﴾ فَلَمَّا جَآءَ سُلَيْمَٰنَ قَالَ
أَتُمِدُّونَنِ بِمَالٍ فَمَآ ءَاتَىٰنِۦَ ٱللَّهُ خَيْرٌ مِّمَّآ ءَاتَىٰكُم ۖ بَلْ أَنتُم بِهَدِيَّتِكُمْ تَفْرَحُونَ ﴿٣٦﴾ ٱرْجِعْ إِلَيْهِمْ فَلَنَأْتِيَنَّهُم بِجُنُودٍ لَّا قِبَلَ لَهُمْ
بِهَا وَلَنُخْرِجَنَّهُم مِّنْهَآ أَذِلَّةً وَهُمْ صَٰغِرُونَ ﴿٣٧﴾ قَالَ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمَلَؤُا۟ أَيُّكُمْ يَأْتِينِى بِعَرْشِهَا قَبْلَ أَن يَأْتُونِى مُسْلِمِينَ ﴿٣٨﴾ قَالَ عِفْرِيتٌ مِّنَ
ٱلْجِنِّ أَنَا۠ ءَاتِيكَ بِهِۦ قَبْلَ أَن تَقُومَ مِن مَّقَامِكَ ۖ وَإِنِّى عَلَيْهِ لَقَوِىٌّ أَمِينٌ ﴿٣٩﴾ قَالَ ٱلَّذِى عِندَهُۥ عِلْمٌ مِّنَ ٱلْكِتَٰبِ أَنَا۠ ءَاتِيكَ بِهِۦ قَبْلَ أَن
يَرْتَدَّ إِلَيْكَ طَرْفُكَ ۚ فَلَمَّا رَءَاهُ مُسْتَقِرًّا عِندَهُۥ قَالَ هَٰذَا مِن فَضْلِ رَبِّى لِيَبْلُوَنِىٓ ءَأَشْكُرُ أَمْ أَكْفُرُ ۖ وَمَن شَكَرَ فَإِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهِۦ ۖ
وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ رَبِّى غَنِىٌّ كَرِيمٌ ﴿٤٠﴾ قَالَ نَكِّرُوا۟ لَهَا عَرْشَهَا نَنظُرْ أَتَهْتَدِىٓ أَمْ تَكُونُ مِنَ ٱلَّذِينَ لَا يَهْتَدُونَ ﴿٤١﴾ فَلَمَّا جَآءَتْ قِيلَ
أَهَٰكَذَا عَرْشُكِ ۖ قَالَتْ كَأَنَّهُۥ هُوَ ۚ وَأُوتِينَا ٱلْعِلْمَ مِن قَبْلِهَا وَكُنَّا مُسْلِمِينَ ﴿٤٢﴾ وَصَدَّهَا مَا كَانَت تَّعْبُدُ مِن دُونِ ٱللَّهِ ۖ إِنَّهَا كَانَتْ مِن قَوْمٍ
كَٰفِرِينَ ﴿٤٣﴾ قِيلَ لَهَا ٱدْخُلِى ٱلصَّرْحَ ۖ فَلَمَّا رَأَتْهُ حَسِبَتْهُ لُجَّةً وَكَشَفَتْ عَن سَاقَيْهَا ۚ قَالَ إِنَّهُۥ صَرْحٌ مُّمَرَّدٌ مِّن قَوَارِيرَ ۗ قَالَتْ
رَبِّ إِنِّى ظَلَمْتُ نَفْسِى وَأَسْلَمْتُ مَعَ سُلَيْمَٰنَ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٤٤﴾ ﴾ النمل: ٢٠ ـ ٤٤

مناسبت اوتراو:

لاتراوسه پوري آيتونه دسليمان او داؤدعليهماالسلام څخه غږيږي هغه چي الله پاچهي اونبوت دواړه ورباندي لورولي ووانسانان اوپېريانان يې ورته اېل اوتابع ګرزولي وودمرغانوپه ژبه يې پوهولي وواودلته بيا آيتونه له بلقيس سره چي دسباملکه وه دهغه عليه السلام کيسه راآخلي اوهغه عجائبات (١)چي ددې کيسې په اوږدوکي پېښ شوي ذکرکوي.

لغتونه:

(تفقد) هغه چي ورک شوی وي دهغه لټول (الخبء) پټ شی (صاغرون) ذليل سپک سپانده (عفريت) هغه سرکښ اوزورور (دېو) دپېريانو اوانسانانو,پليت ناولی,دوکه باز(الصرح) مانۍ ,قصر اوهره لوړه بنا(صرح) ګنلای شي لکه چي دفرعون په هکله راځي ﴿ وَقَالَ فِرْعَوْنُ يَٰهَٰمَٰنُ ٱبْنِ لِى صَرْحًا لَّعَلِّىٓ أَبْلُغُ ٱلْأَسْبَٰبَ ﴾ (غافر٣٦) (ممرّد) ښوی اوله دې څخه امردهم دی هغه زنۍ ، زلمی چي ږېره يې نه وي راغلي اوهغه ونه چي بڼي نه لري ورته ويل کېږي (شجرة مردآء) (قوارير) د(قارورة) جمع اوښيښې ته وايې.

تفسير:

﴿ وَتَفَقَّدَ ٱلطَّيْرَ فَقَالَ مَا لِىَ لَآ أَرَى ٱلْهُدْهُدَ ﴾ اولټونه يې وکړه دمرغانو(هدهديې ونه مونده) نوويې ويل څه مانع دی مالره چي زه هُدهُدنه وينم (دلته ؟ مفسرين کرام وايې چي مرغان به په سفرکي ورسره ملګري تلل اوپخپلو وزرونو به يې په سليمان عليه السلام باندي سيوری کاوونوکله چي سليمان عليه السلام دمېږيانوله ښارڅخه روان شوپه يوه شاړه ځمکه کي ښکته شولښکريان تږي شول

(١) يوه عجيبه داچي پاچهان عادتاله نارينه ووڅخه ټاکل کېږي ښځي له پاچهي سره نه ښايې اوددې ويناتائيدپه حديث شريف کي هم راځي چي (لن يفلح القوم ولّوا أمرهم امرأة) اودغه دفطرت منطق دی.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

اوداوبوغوښتنه يې وکړه اوهُدهُد به دوی ته اوبه وربښودلې اوکله چې به يې ورته وښودلې چې دلته اوبه شته نوبه دېوانو، پېريانوهغه ځای وکيندل اوڅېری کړيا به چينې راوبهېدلې نوپه دغه ورځ يې هُدهُدولټاووغيرحاضروو بيايې وويل چې زه يې نه وينم ؟﴿ أَمْ كَانَ مِنَ ٱلْغَآئِبِينَ ﴾ بلکه دی (هغه) له غيرحاضرانو؛أم دلته منقطعه دی اود(بل)په معناراځي يعني هغه زمابې اجازې تللی دی ﴿ لَأُعَذِّبَنَّهُۥ عَذَابًا شَدِيدًا أَوْ لَأَاذْبَحَنَّهُۥٓ أَوْ لَيَأْتِيَنِّى بِسُلْطَٰنٍ مُّبِينٍ ﴾ خامخاعذاب به ورکړم زه هرومروده ته سخت عذاب(بندي به يې کړم ، يابه ښکي او وزروروشکوم) يابه يې ذبح کړم اويابه خامخادی ماته راوړې (ددې غائب کېدلو) ښکاره دليل (چې دده عذروښيي) ﴿ فَمَكَثَ غَيْرَ بَعِيدٍ ﴾ پس څنډ وکړ (هُدهُد) لږ زمانه (ژرراغی سليمان ته) ﴿ فَقَالَ أَحَطتُ بِمَا لَمْ تُحِطْ بِهِۦ ﴾ پس وويل (هدهد سليمان ته) احاطه وکړه ماپه هغه څه (پوره پرې خبرشوی يم) چې تااحاطه نه ده کړي (پرې خبرنه يې)په هغه ﴿ وَجِئْتُكَ مِن سَبَإٍۭ بِنَبَإٍ يَقِينٍ ﴾ (اوراغلی يم زه تاته له سبأڅخه په يقيني خبره سره) يعني زه تاته ديمن له سبأښارڅخه يومهم ستراوربښتونی خبردرکوم چې ﴿ إِنِّى وَجَدتُّ ٱمْرَأَةً تَمْلِكُهُمْ ﴾ : بېشکه چې ماوموندله يوه ښځه چې پاچهي يې کوله پردغه (أهل دسبأ اوهغوی ددې دحکمونومنلوته غاړه ايښي وه ﴿ وَأُوتِيَتْ مِن كُلِّ شَىْءٍ ﴾ او ورکړل شوی وودغي ښځې ته له هرڅېزڅخه (هغه چې پاچهانوته له مال ، دولت ، وسلې اواسبابولښکروورکولی شي ﴿ وَلَهَا عَرْشٌ عَظِيمٌ ﴾اوددې ډېرلوی تخت دی(چې په ملغلرواويياقوتوپوښلی دی ؛ قتاده وايې : چې عرش يې دسروزرو وو اوپښې يې دملغلروچې په لؤلؤ ښايسته کړی شوی وي. طبري وايې چې: دلته يې عظيم وستايه مقصديې دهغه قدراواهميت دی يعني خوراقدرمن اوبا اهميته تخت دی هسې نه چې پراخ اوپلن دی ځکه نوابن عباس (رضی الله عنه) وايې چې د ﴿ عَرْشٌ عَظِيمٌ ﴾ معناداچې ښايسته روغ اوقېمتي جوړدی چې عرش يې دسروزرواو پښې يې دجواهرواولؤلؤوي (١) بيايې تردې ستري چاري ته اشاره وکړه ويې ويل : ﴿ وَجَدتُّهَا وَقَوْمَهَا يَسْجُدُونَ لِلشَّمْسِ مِن دُونِ ٱللَّهِ ﴾ ومي موندله دغه ښځه اودې قوم چې لمرته به يې سجدې کولې بې له الله (دوی مجوسيان وودواحدالأحدذات عبادت يې پرې ايښی وو) ﴿ وَزَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيْطَٰنُ أَعْمَٰلَهُمْ ﴾ او ښايسته کړي دي دوی ته شيطان عملونه ددوی (چې پرته له الله لمرته سجدې لګوي) ﴿ فَصَدَّهُمْ عَنِ ٱلسَّبِيلِ ﴾ پس منع کړي دي (شيطان) دوی له سمي صافي لاري څخه (دحق اوصواب) ﴿ فَهُمْ لَا يَهْتَدُونَ ﴾ پس دوی نه مومي سمه صافه لار(ځکه چې شيطان ښويولي دي الله ته لاره نشي موندلای) وروسته بيا هُدهُد په

(١) الطبري ٩٢/١٩

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

تعجب سره وويل: ﴿ أَلَّا يَسْجُدُوا لِلَّهِ ٱلَّذِي يُخْرِجُ ٱلْخَبْءَ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ (چي دوی نه کوي سجده الله ته هغه چي راباسي (ښکاره کوي پټ څيزونه په آسمانونوکي اوپه ځمکه کي) يعني آيادوی لمرته سجده کوي اوهغه ذات چي عظيم خالق الله تعالی دی اوپټ څيزونه ښکتني اوپورتني ورته معلوم دي هغه ته سجده نه کوي؟ (١) ﴿ وَيَعْلَمُ مَا تُخْفُونَ وَمَا تُعْلِنُونَ ﴾ اوهغه (الله) چي ورمعلوم دی هرهغه څيزچي پټوی يې تاسي (په زړونوخپلو کي) اوهرهغه څيزچي ښکاروی يې تاسي (په ژبوخپلو) ﴿ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ ٱلْعَرْشِ ٱلْعَظِيمِ ﴾ الله (هغه ذات دی) چي نشته هيڅ لائق دعبادت مگريوازي هم دی دی خاونددی دعرش ډېرلوی) يعني هغه ذات چي په عظمت اوجلال کي متفرداودسترعرش خاونددی دعبادت وړدی چي ورته سجده وکړی شي اوعرش يې ځکه په ځانگړي توگه يادکړچي هغه ترگردومخلوقاتوستر دی تردې ځايه پوري دهدهد خبري پای ته ورسېدې ﴿ قَالَ سَنَنظُرُ أَصَدَقْتَ أَمْ كُنتَ مِنَ ٱلْكَٰذِبِينَ ﴾ نوويل (سليمان) ژربه وگوروآياتا رښتيا ويلي دي (ای هدهده!) اوکه ته يې له دروغ ويونکو؟!؛ ابن الجوزي وايې چي پدې سبب يې په خبره شکمن شوچي هغه نه گڼله دبل چادي هم پاچهي وي بيايې مکتوب وليکه اوپخپل مهريې ټاپه کړو هدهد ته يې ورکړاو ورته ويل يې: ﴿ ٱذْهَب بِّكِتَٰبِي هَٰذَا فَأَلْقِهْ إِلَيْهِمْ ﴾ يوسه ته (ای هدهده زمادا ليک اووغورځوه هغه دوی (ملکې اولښکرو) ته ﴿ ثُمَّ تَوَلَّ عَنْهُمْ ﴾ بيا (پټ نژدې ودرېږه) له دوی څخه مخ جارباسه ﴿ فَٱنظُرْ مَاذَا يَرْجِعُونَ ﴾ پس وگوره (له ورايه) چي په څه ځواب دوی رجوع کوي؟. مفسرين کرام وايې چي هدهد کتاب واخيست اوبلقيس اوقوم ته يې ورووړ په سريې تاوراتاوشو او بيايې مکتوب دهغې په څنگ کي وغورځاوو ﴿ قَالَتْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمَلَؤُا إِنِّيٓ أُلْقِيَ إِلَيَّ كِتَٰبٌ كَرِيمٌ إِنَّهُۥ مِن سُلَيْمَٰنَ وَإِنَّهُۥ بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴾ وويل: (بلقيس) چي ای اشرافو بېشکه زه چي يم راغورځول شوی دی ماته يومکتوب (ليک) عزتناک بېشکه دغه (ليک) دسليمان (له لوري راغلی) دی اوبېشکه (مضمون ددې ليک دادی چي پيلېږي) په نامه دالله چي خورامهربان ډېررحم والادی) يعني قوم ته يې وويل: چي ماته يوعزتمن ليک دسليمان له لوري راغلی اوچي هغه يې پرانست پکي داسي ووچي ﴿ بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴾ اودغه يوله شرافته ډکه پيلامه وه چي الله ته يې دربوبيت اعلان کاوواودالله توحيداودهغه امرمنلوته يې بلنه ورکوله ﴿ أَلَّا تَعْلُوا عَلَيَّ وَأْتُونِي مُسْلِمِينَ ﴾ (مقصدمي دادی) چي لويي (اوکبر) مخوئ پرما اوراځي تاسي ماته مسلمانان غاړه ايښودونکي (الله ته) يعني پرماباندي لويي مکوئ لکه چي پاچهان يې کوي ماته طآئعين راشئ دغه دسفيان وينا

---

(١) داهغه څه دي چي زماپه ذهن کي دآيت شريف دمعناپه هکله راځي اوښايي چي دقرآني نص دپوهېدلوروح ته هم ورنژدې وي ځکه چي ځای ،ځای دتعجب اوانکاردی يوازي اخباراوتحديث مقصدنه دی هغه چي مفسرين کرام وايې چي (لا) زائده ده اومعنادا چي دوی دالله لوري ته سجدې کولوته لاره نه مومي اوياداچي معنايې داچي ای خلگوسجده وکړئ الله ته اوياونورغيرظاهردي. والله أعلم (صابوني).

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

اوعبدالله بن عباس رضی الله عنهما وايې چي معناداده موحدين راشئ ﴿ قَالَتْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمَلَؤُا۟ أَفْتُونِى فِىٓ أَمْرِى ﴾ وويل (بلقيس) چي ای اشرافوماته مشوره راکړئ په دغه کارزماکي ﴿ مَا كُنتُ قَاطِعَةً أَمْرًا حَتَّىٰ تَشْهَدُونِ ﴾ زه فيصله کونکي نه يم دکوم کارترڅوچي حاضرشی تاسي ماته (مشوره راکړی!) ﴿ قَالُوا۟ نَحْنُ أُو۟لُوا۟ قُوَّةٍ وَأُو۟لُوا۟ بَأْسٍ شَدِيدٍ ﴾ وويل: دغو(اشرافو) چي موږخاوندان دزور يواوخاوندان يود سخت جنګ.

﴿ وَٱلْأَمْرُ إِلَيْكِ فَٱنظُرِى مَاذَا تَأْمُرِينَ ﴾ اوامر(حکم اختيار) تاته دی پس وګوره (ای ملکې) چي دڅه شي حکم کوې ته (چي موږيې ومنو) ددوی دغه خبره پدې دلالت کوي چي خورايې تابع وو. قرطبي وايې چي هغې له حسن ادب څخه کارواخيست اوله خپله قومه سره يې مشوره ګډه کړه چي په هره چاره کي ددوی خبري ته غوږ نيسي نوقوم هم داسي چلندورسره وکړچي ددې سترګي يخي اوزړه يې ډاډه شي چي ستاقوم اولښکر خودزور اوسخت جنګ ازمويل شوی دی خوبياهم تولي چاري تاته سپارل شوي اودغه له ګردوڅخه ښه مرکه وه (۱) حسن بصري رحمه الله وايې چي دوی خپلي چاري هغې پنډي ښځي ته چي غولانځي يې خوځېدلې وسپارلې اوچي کله يې خپله ويناورته وکړه نوهغه تردوی په رايه اوپوهه کي خوراغښتلي وه ﴿ قَالَتْ إِنَّ ٱلْمُلُوكَ إِذَا دَخَلُوا۟ قَرْيَةً أَفْسَدُوهَا ﴾ نوويل: (بلقيس چي په جنګ کي خيرنشته) بېشکه پاچهان هرکله چي ننوزي په کوم کلي (ښار) (په زوراوقهر) دوی هغـــه ښارخرابوي

﴿ وَجَعَلُوٓا۟ أَعِزَّةَ أَهْلِهَآ أَذِلَّةً ﴾ اوګرزوي معززمشران ددې ښارذليل (بنديان وژلي اوشړلي) ﴿ وَكَذَٰلِكَ يَفْعَلُونَ ﴾ اوهمداسي دوی کوي (نودمسالمت اوسولي لاره يې غوره کړه ويې ويل: ﴿ وَإِنِّى مُرْسِلَةٌ إِلَيْهِم بِهَدِيَّةٍ فَنَاظِرَةٌۢ بِمَ يَرْجِعُ ٱلْمُرْسَلُونَ ﴾ اوبېشکه زه دوی ته لېږونکي يم (قاصد) سره له (ستره) سوغاته پس بيازه کتونکي يم چي په څه حال بيرته راځي دغه لېږل شوی ؟ (چي آياپېشکشي مني اوکه يې بيرته ردوي. قتاده وايې: په کفراواسلام کي څومره هوښياره وه هغې ته معلومه وه چي هديه دخلګودزړونوپه اېل کولوکي څومره اغېزمنه وي ابن عباس رضی الله عنه وايې چي دې خپل قوم ته وويل: که يې هديه واخيستله نوپاچادی دنياغواړي ورسره وجنګېږئ اوکه يې هديه نه غوښتله نوبيانبي اوپيغمبردی رښتونی دی دهغه متابعت وکړئ (۲)﴿ فَلَمَّا جَآءَ سُلَيْمَٰنَ قَالَ أَتُمِدُّونَنِ بِمَالٍ ﴾ پس کله چي راغی قاصدد(بلقيس) سليمان ته نوويل (سليمان په ناخوښي) آيامددګاري (مرسته) کوی تاسي له ماسره په مال (چي تاسوپه خپل کفراوشرک کي پرېږدم ؟!) ﴿ فَمَآ ءَاتَىٰنِىَ ٱللَّهُ خَيْرٌ مِّمَّآ ءَاتَىٰكُم ﴾ پس هغه څيزچي راکړی دی ماته الله (له نبوت ، علم اوسلطنت) ډېرغوره دی له هغه څه نه چي الله تاسي ته درکړی دی (دژوندانه له زينت اوښکلاڅخه ماته ستاسودسوغات هيڅ اړتيانشته) ﴿ بَلْ أَنتُم بِهَدِيَّتِكُمْ تَفْرَحُونَ ﴾ بلکه تاسي په دې خپله هديه (پېشکشي) خوشحالېږي (څکه تاسوهغه څوک ياست چي ددنياپه مال

---

(۱) القرطبي ۱۳/۱۹۴
(۲) مختصرابن کثير۲/۲۷۱

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

دولت ډېرېدلو ويارې اوبيايې دپلاوي مشرته وويل: ﴿ ٱرۡجِعۡ إِلَيۡهِمۡ فَلَنَأۡتِيَنَّهُم بِجُنُودٖ لَّا قِبَلَ لَهُم بِهَا ﴾ (اى قاصده) بيرته ورشه دوى ته (سره له خپله سوغاته) قسم دى وربه شومو دوى سره له (داسي زورورو) لښكرو چي نه وي هيڅ طاقت دمقابلې دوى ته له هغو لښكروسره ﴿ وَلَنُخۡرِجَنَّهُم مِّنۡهَآ أَذِلَّةٗ وَهُمۡ صَٰغِرُونَ ﴾ اوخامخا(كه دوى رانشي) وبه باسودوى له دغه (ښاراوپاچهي نه) په داسې حال كي چي بې عزته اوخواربه وي ابن عباس رضى الله عنه وايې كله چي دبلقيس ايلچي (قاصد) دسليمان عليه السلام څخه بيرته هغې ته ورستون شواوهغې ته يې بشپړحال ووايونودې وويل پوه شوم چي دغه پاچانه دى اومو بې دمقابلې توان نلرو اوسليمان عليه السلام ته يې پيغام واستاووچي زه سره له خپلوقومي مشرانودرځم چي وګورم چي ته څوک اوكوم دين ته بلنه راكوې ؟ اوبيا په دوولس زره قوماندانانوكي يوځاى دغه لورته ور روانه شوه (١) ﴿ قَالَ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمَلَؤُاْ أَيُّكُمۡ يَأۡتِينِي بِعَرۡشِهَا قَبۡلَ أَن يَأۡتُونِي مُسۡلِمِينَ ﴾ وويل (سليمان) اى (زماددربار) اشرافوكوم يوله تاسي به ماته راوړي تخت ددې (بلقيسې) پخواله هغه چي راځي دوې ماته (رارسېږي) مسلمانان غاړه ايښودونكي الله ته)؟ بيضاوي وايې چي مقصديې داووهغې ته ځيني هغه عجائبات وروښيي چي الله جل جلاله هغه عليه السلام ورباندي ځانګړى كړى ووترڅوددده دنبوت په رښتنولي دلالت وكړي اودهغې پوهه وازمويي چي كله يې تخت ورته سره له څه بدلونه وښيي چي آياهغه يې پېژني اوكه نه ؟ (٢) ﴿ قَالَ عِفۡرِيتٞ مِّنَ ٱلۡجِنِّ أَنَا۠ ءَاتِيكَ بِهِۦ قَبۡلَ أَن تَقُومَ مِن مَّقَامِكَۖ ﴾ وويل يوزورور سخت قوي له قومه دپېريانوچي زه به تاته راوړم داتخت پخواله هغه چي ته له دې خپله ځايه پاڅېږې (چي هغه دحكم وخت اومجلس وو چي له سهاره به بياترماسپښين پورې هره ورځ دائرېدو مقصديې داووچي زه به يې په نيمه ورځ كي درته راورسوم ﴿ وَإِنِّي عَلَيۡهِ لَقَوِيٌّ أَمِينٞ ﴾ اوبېشكه زه پردغه راوړلوددې تخت خامخاقوي (زورور) امانتګريم (چي په جواهراتواوزېوراتو كي به يې خيانت نه كوم) ﴿ قَالَ ٱلَّذِي عِندَهُۥ عِلۡمٞ مِّنَ ٱلۡكِتَٰبِ أَنَا۠ ءَاتِيكَ بِهِۦ قَبۡلَ أَن يَرۡتَدَّ إِلَيۡكَ طَرۡفُكَۚ ﴾ وويل: هغه سړي چي دده له كتابه يوعلم وو(اسم اعظم يې زده وو) زه به راوړم داتخت پخواله هغه چي بيا را ګرزي تاته سترګه ستا(چي يوڅه ته ګورې) مفسرين كرام وايې: چي دغه سړى (آصف بن برخيا) دصديقينوله ډلي اواسم اعظم ورته معلوم ووهغه چي چاته معلوم وي او ورباندي دُعاوكړي دُعايې منل كېږي همدى ووچي دبلقيس شاهي تخت يې راحاضركړاودسترګوپه رپ كي يې دراوړلوتابيا وكړه ﴿ فَلَمَّا رَءَاهُ مُسۡتَقِرّٗا عِندَهُۥ قَالَ هَٰذَا مِن فَضۡلِ رَبِّي ﴾ نوكله چي سليمان دغه (تخت) قرارپروت په خپل نزد وليدو نوويې ويل دغه (ژرراوړل دتخت) له فضله (احسانه) درب زمادى (پرمابانديي) ﴿ لِيَبۡلُوَنِيٓ ءَأَشۡكُرُ أَمۡ أَكۡفُرُۖ ﴾ دپاره ددې چي ماوازمويي آيازه شكركوم (پرنعمتونودده) يا ناشكري (كفران) كوم ؟ (دنعمتويې) ﴿ وَمَن شَكَرَ فَإِنَّمَا

---

(١) حاشيه شيخ زاده على البيضاوي ٣ / ٤٩٣

(٢) البيضاوي ٢ / ٨٣

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

يَشْكُرُ لِنَفْسِهِۦ ﴾ اوهرڅوک چې شکرکوي پس بېشکه هم داخبره ده چې شکرکوي دخپل ځان لپاره (چې پرې دنعمتونودوام او تزئيد کېږي چې الله فرمايي ﴿ لَئِن شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ ﴾ ﴿ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ رَبِّى غَنِىٌّ كَرِيمٌ ﴾ اوهرڅوک چې ناشکري وکړي (کفران کوي)نوبېشکه چې پروردګارزمابې پروادی (له شکره اوله ده نه) کرم والادی چې سخاوت کوي کفران والاوو ته هم نعمتونه ورکوي.. اوکله چې دسبادملکې دراتلووخت نژدې شونوبې دتخت ځيني ننبي ننبانې بدلي کړې چې هغه وازمويې ﴿ قَالَ نَكِّرُوا۟ لَهَا عَرْشَهَا نَنظُرْ أَتَهْتَدِىٓ أَمْ تَكُونُ مِنَ ٱلَّذِينَ لَا يَهْتَدُونَ ﴾ وويل (سليمان) چې تاسي ناآشنا(اوپه بل شان اوشکل کړئ لکه چې انسان کله ځان ناآشناتمثيلوي) ددې تخت چې وګوروآيا پېژني بې ياکېږي له هغه چاچې نه بې پېژني ؟ پدې سره يې ددې دذکاوت اوعقل امتحان مقصدوو ﴿ فَلَمَّا جَآءَتْ قِيلَ أَهَٰكَذَا عَرْشُكِ ﴾ اوکله چې (بلقيس) راغله ورته وويل شول چې آيا ستاتخت هم داسي دی (لکه داچې وينې بې)هغې وويل لکه چې داهم هغه دی (هغې ته يې داسي ونه ويل چې آياداستاتخت دی ؟ ترڅودهغې لپاره تلقين نه شي) هغې هم په ځواب دغه له هغه سره نژدې اومشابه وګڼل اوهسي يې ونه ويل چې هودغه دی اوياداچې دغه نه دی اودغه دهغې بشپړذکاوت اوپوره پوهه څرګندوي (۱)﴿ قَالَتْ كَأَنَّهُۥ هُوَ وَأُوتِينَا ٱلْعِلْمَ مِن قَبْلِهَا وَكُنَّا مُسْلِمِينَ ﴾ (اوراکړل شوی وومورږته علم (په قدرت دالله اوالله جل جلاله باندي) ترپخواله دې ښځي اومورږمسلمانان ووترپخواله دې ښځي اومورږ مسلمانان ووترپخواله دې (نومورږتردې په علم اواسلام کي خورا مخکښ يودغه سليمان عليه السلام د(تحديث بالنعمة) په توګه وويل (۲)﴿ وَصَدَّهَا مَا كَانَت تَّعْبُدُ مِن دُونِ ٱللَّهِ ﴾ اودامنع کړه (له ايمان راوړلو) هغه څيزچې عبادت يې کاووغيرله الله (چې دسپوږمۍ اولمرعبادت وو ﴿ إِنَّهَا كَانَتْ مِن قَوْمٍ كَٰفِرِينَ ﴾ بېشکه چې داوه (پخوا) له هغه قومه چې کافران وو ﴿ قِيلَ لَهَا ٱدْخُلِى ٱلصَّرْحَ ﴾ووويل شودغي (بلقيس)ته چې ننوزه دې بنګلې ته ﴿ فَلَمَّا رَأَتْهُ حَسِبَتْهُ لُجَّةً وَكَشَفَتْ عَن سَاقَيْهَا ﴾ پس کله چې وليده (بلقيس) دا شيشه) نوګمان يې پرې وکړدژورو اوبواوپورته يې کړه(پايڅه)له دواړوپنډيوخپلو(چې پرې ګډه-شي)﴿ قَالَ إِنَّهُۥ صَرْحٌ مُّمَرَّدٌ مِّن قَوَارِيرَ ﴾ نوويل (سليمان) بېشکه (دغه اوبه نه دي) يوه بنګله ده چې په ځمکه هواره ښوی جوړه شوي (له ښيښې صافي) ﴿ قَالَتْ رَبِّ إِنِّى ظَلَمْتُ نَفْسِى وَأَسْلَمْتُ مَعَ سُلَيْمَٰنَ ﴾ وويل(بلقيس) ای زماربه بېشکه ماظلم کړی دی پرځان خپل(چې شرک مي کاووا واسلام مي راوړی دی سره له سليمانه ﴿ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ خاص هغه الله ته چې رب دعالميانودی؛ نودسليمان عليه السلام تابع شوه اوپه اسلام کي داخله مؤمنه شوه ابن

---

(۱) ابن کثير۲ / ۲۷۳

(۲) دغه دصابوني رحمه الله تفسيردی اوخينو مفسرينو دغه دبلقيس وينا ګڼلي ده اودراتلونکي ايت تفسير هم دمؤلف رايه ده (ژباړن).

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

کثیروایې چي دسلیمان علیه السلام مقصدپدې کي چي داهسي سترقصراوبنګله یې له ښیښې څخه پداسي غوره توګه جوړوله داووترڅوبلقیس ته دخپل زور اوسلطان عظمت ور وښیي اوکله چي هغې دغه جلال اوالهي ورکړه اوتمکن ولیدواودده حالت یې وکوت سمدلاسه یې دالله حکم ته غاړه کښېښوده اوپدې پوه شوه چي دغه بېشکه ستزتمن پیغمبراوسترپاچادی نویې پر الله تبارک وتعالی ایمان راووړ(١) په اسلام مشرفه شوه.

بلاغت:

پدې آیتونوکي چي دبدیع اوبیان کومي ښکلاوي شته لندیزیې په لاندي ډول دی:

١-دتعجب اُسلوب لکه ﴿ مَالِيَ لَآ أَرَى ٱلْهُدْهُدَ ﴾ ؟.

٢-مکررتاکیدلکه داچي ﴿ لَأُعَذِّبَنَّهُۥ... أَوْ لَأَاْذْبَحَنَّهُۥٓ ...أَوْ لَيَأْتِيَنِّي ﴾ دامردتینګ والي لپاره.

٣-دسلب طباق لکه ﴿ أَحَطتُ بِمَا لَمْ تُحِطْ بِهِۦ ﴾ او﴿ أَتَهْتَدِيَ ... لَا يَهْتَدُونَ ﴾ .

٤-باریک دجناس صنعت چي فرمایې ﴿ وَجِئْتُكَ مِن سَبَإٍ بِنَبَإٍ يَقِينٍ ﴾ اودې ته ناقص جناس ویل کېږي ځکه چي ځیني توري یې بدل دي(٢) .

٥-لفظي طباق لکه: ﴿ تُخْفُونَ ...تُعْلِنُونَ ﴾ اوهمداسي ﴿ ءَأَشْكُرُ أَمْ أَكْفُرُ ﴾ .

٦-معنوي طباق لکه ﴿ أَصَدَقْتَ أَمْ كُنتَ مِنَ ٱلْكَٰذِبِينَ ﴾ دبیان علماء وایې چي دغه طباق تر لفظي ډېرأبلغ اوغوره دی ځکه چي له فعل څخه اسم ته عدول پکي راغلی چي ثبات افاده کړي که چېري یې ویلي وای چي (أصدقت أم كذبت) نودغه معنابه یې نه وه اداکړي ځکه چي هغه کله ناکله پدې خبره کي دروغ وایې خوبیاپه نورو کي دروغ نه وایې اوچي داسي یې وویل: ﴿ أَمْ كُنتَ مِنَ ٱلْكَٰذِبِينَ ﴾ نوداکلام هسي افاده کوي چي که چېري ددروغجنوله ډلي څخه وي نوبیاارومرودروغجن دی اعتبارورباندي نشي کېدای.

٧-اشقاقي جناس لکه ﴿ تَقُومَ مِن مَّقَامِكَ ﴾ اوهمدارنګه ﴿ وَأَسْلَمْتُ مَعَ سُلَيْمَٰنَ ﴾ .

٨ - دتشبیه صنعت لکه ﴿ كَأَنَّهُۥ هُوَ ﴾ یعني لکه چي همدازماتخت دی په شکل اووصف کي هماغسي دی اودې ته مرسله مجمله تشبیه وایې.

٩-بدیعه استعاره چي پدې کلام کي راځي: ﴿ قَبْلَ أَن يَرْتَدَّ إِلَيْكَ طَرْفُكَ ﴾ دغه دتخت ګرندي رارسول یې دسترګوله رپ سره مشابه کړل اودغه په چسپاندي اوتلواره کي خورابنه تشبیه ده اوددې مثال لکه

---

(١) مختصر٢ / ٢٧٤

(٢) دکشاف مؤلف وایې چي داپدې شرط دکلام له ښکلاووګڼل کېږي چي یې تکلفه وي اوهغه څوک یې چي ٠کلام په جوهرپوهېږي استعمال کړي اوپه آیت کي په خورابنکلي ډول لفظااومعنی راغلي دي آیانه ګورې که چېري د(بنبأ) پرځای (بخبر) راغلی وای معنابه سمه وه لکن هغه اهمیت چي په (نبأ) کي شته هغه به نه ووراغلی چي هغه له حاله سره موافق اودمقصدتکی دی.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

﴿ وَمَآ أَمْرُ ٱلسَّاعَةِ إِلَّا كَلَمْحِ ٱلْبَصَرِ أَوْ هُوَ أَقْرَبُ ﴾ دی (النحل ٧٧) نو دزښته زيات ګرندیتوب لپاره يې دسترګورپ (سترګي رااړول) استعاره کړل (١).

١٠ – دفواصلو موافقت چي په ډېروآيتونوکي ترسترګوکېږي اودغه په اغېزکي خوراوتلی رول لري لکه ﴿ أَمْ كَانَ مِنَ ٱلْغَآئِبِينَ ... وَجِئْتُكَ مِن سَبَإٍ بِنَبَإٍ يَقِينٍ ... أَوْ لَيَأْتِيَنِّي بِسُلْطَٰنٍ مُّبِينٍ ﴾ اوداسي نور.

لطيفه:

ځيني علماوودالله جل جلاله له دې ويناځخه چي ﴿ وَتَفَقَّدَ ٱلطَّيْرَ ﴾ دی دارااېستلي چي په پاچاباندي لازم دی چي دخپل رعيت پوښتنه ,ګروېږنه,لټونه وکړي همداسي بايدملګری دملګروحال احوال واخلي.

***

ـ الله تعالی فرمايي:

﴿ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَآ إِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَٰلِحًا أَنِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ فَإِذَا هُمْ فَرِيقَانِ يَخْتَصِمُونَ ﴿٤٥﴾ قَالَ يَٰقَوْمِ لِمَ تَسْتَعْجِلُونَ بِٱلسَّيِّئَةِ قَبْلَ ٱلْحَسَنَةِ لَوْلَا تَسْتَغْفِرُونَ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿٤٦﴾ قَالُوا۟ ٱطَّيَّرْنَا بِكَ وَبِمَن مَّعَكَ قَالَ طَٰٓئِرُكُمْ عِندَ ٱللَّهِ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ تُفْتَنُونَ ﴿٤٧﴾ وَكَانَ فِى ٱلْمَدِينَةِ تِسْعَةُ رَهْطٍ يُفْسِدُونَ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَا يُصْلِحُونَ ﴿٤٨﴾ قَالُوا۟ تَقَاسَمُوا۟ بِٱللَّهِ لَنُبَيِّتَنَّهُۥ وَأَهْلَهُۥ ثُمَّ لَنَقُولَنَّ لِوَلِيِّهِۦ مَا شَهِدْنَا مَهْلِكَ أَهْلِهِۦ وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ ﴿٤٩﴾ وَمَكَرُوا۟ مَكْرًا وَمَكَرْنَا مَكْرًا وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٥٠﴾ فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ مَكْرِهِمْ أَنَّا دَمَّرْنَٰهُمْ وَقَوْمَهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٥١﴾ فَتِلْكَ بُيُوتُهُمْ خَاوِيَةًۢ بِمَا ظَلَمُوٓا۟ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً لِّقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿٥٢﴾ وَأَنجَيْنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَكَانُوا۟ يَتَّقُونَ ﴿٥٣﴾ وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦٓ أَتَأْتُونَ ٱلْفَٰحِشَةَ وَأَنتُمْ تُبْصِرُونَ ﴿٥٤﴾ أَئِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلرِّجَالَ شَهْوَةً مِّن دُونِ ٱلنِّسَآءِ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُونَ ﴿٥٥﴾ ۞ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓا۟ أَخْرِجُوٓا۟ ءَالَ لُوطٍ مِّن قَرْيَتِكُمْ إِنَّهُمْ أُنَاسٌ يَتَطَهَّرُونَ ﴿٥٦﴾ فَأَنجَيْنَٰهُ وَأَهْلَهُۥٓ إِلَّا ٱمْرَأَتَهُۥ قَدَّرْنَٰهَا مِنَ ٱلْغَٰبِرِينَ ﴿٥٧﴾ وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِم مَّطَرًا فَسَآءَ مَطَرُ ٱلْمُنذَرِينَ ﴿٥٨﴾ قُلِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ وَسَلَٰمٌ عَلَىٰ عِبَادِهِ ٱلَّذِينَ ٱصْطَفَىٰٓ ءَآللَّهُ خَيْرٌ أَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٥٩﴾ أَمَّنْ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَأَنزَلَ لَكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَنۢبَتْنَا بِهِۦ حَدَآئِقَ ذَاتَ بَهْجَةٍ مَّا كَانَ لَكُمْ أَن تُنۢبِتُوا۟ شَجَرَهَآ أَءِلَٰهٌ مَّعَ ٱللَّهِ بَلْ هُمْ قَوْمٌ يَعْدِلُونَ ﴿٦٠﴾ أَمَّن جَعَلَ ٱلْأَرْضَ قَرَارًا وَجَعَلَ خِلَٰلَهَآ أَنْهَٰرًا وَجَعَلَ لَهَا رَوَٰسِىَ وَجَعَلَ بَيْنَ ٱلْبَحْرَيْنِ حَاجِزًا أَءِلَٰهٌ مَّعَ ٱللَّهِ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٦١﴾ أَمَّن

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

يُجِيبُ ٱلْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ ٱلسُّوٓءَ وَيَجْعَلُكُمْ خُلَفَآءَ ٱلْأَرْضِ ۗ أَءِلَٰهٌ مَّعَ ٱللَّهِ ۚ قَلِيلًا مَّا تَذَكَّرُونَ
(٦٢) أَمَّن يَهْدِيكُمْ فِي ظُلُمَٰتِ ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ وَمَن يُرْسِلُ ٱلرِّيَٰحَ بُشْرًۢا بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهِۦٓ ۗ أَءِلَٰهٌ مَّعَ ٱللَّهِ ۚ تَعَٰلَى ٱللَّهُ
عَمَّا يُشْرِكُونَ (٦٣) أَمَّن يَبْدَؤُا۟ ٱلْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ وَمَن يَرْزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ ۗ أَءِلَٰهٌ مَّعَ ٱللَّهِ ۚ قُلْ هَاتُوا۟ بُرْهَٰنَكُمْ
إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ (٦٤) قُل لَّا يَعْلَمُ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ٱلْغَيْبَ إِلَّا ٱللَّهُ ۚ وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ (٦٥) بَلِ ٱدَّٰرَكَ
عِلْمُهُمْ فِي ٱلْءَاخِرَةِ ۚ بَلْ هُمْ فِي شَكٍّ مِّنْهَا ۖ بَلْ هُم مِّنْهَا عَمُونَ (٦٦) ﴾ النمل: ٤٥ ـ ٦٦

مناسبت اوتړاو:

کله چي الله دسورت په پيل کي دموسى عليه السلا م کيسه ذکرکړه اوبيايې دداؤداوسليمان عليهما السلام کيسه راوړه چي غرائب اوعجائب يې لرل نودلته يې دصالح عليه السلام اوورپسې دلوط عليه السلام کيسې راوړې چي په دې ګردوکيسوکي مقصد پند اووعظ دی اودالله دسنت بيان دی چي څرنګه يې دانبياوو دروغجن ګڼونکي هلاک کړي بياپدې پسي دالله په وحدانيت ، علم اوقدرت باندي دلائل ذکرکوي

لغتونه:

(اطيرنا) له تطيرڅخه اخيستل شوی اوبدفالي نيولوته وايې زجاج وايې چي اصل يې (تطيرنا) وواوبيايې (تا) په (طآء) کي مدغم کړه اوالف يې ددې لپاره راووړچي (طآء) ساکن وه.(خاوية) خالي اوکله چي وويل شي (خوى النجم) يعني ستورى ولوېدو (الفاحشة) ډېربدفعل (حدائق) دحديقة جمع اوهغه باغ ته ويل کېږي چي چاپېردېوال ولري فرآء وايې حديقة هغه بڼ ته وايې چي دېوال ولري اوکه دېوال يې نه لرل هغه ته بوستان وايې (١)(قرار) ځای دقراراوآرام (حاجزا)ددووڅېزونوترمينځ فاصل اوجلاکونکی.

تفسير:

﴿ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَآ إِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَٰلِحًا أَنِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ ﴾ او(قسم دی)په تحقيق لېږلی وومونږ ثموديانوته(قومي) ورودوی صالح (چي ووايه ثموديانوته) داسي چي تاسي خاص دالله عبادت کوئ ؛ دلته يې لام دمحذوف قسم ځواب دی يعني (والله لقدارسلنا) ﴿ فَإِذَا هُمْ فَرِيقَانِ يَخْتَصِمُونَ ﴾ پس ناڅاپه دوې ډلي وې (مؤمن اوکافر) چي يوله بله يې سره جګړې کولې (په دين کي. مجاهدوايې چي دغه دوې ډلي دمؤمنانواوکافرانووې چي ددين په چاروکي يوله بله په جګړو بوخت وواو ﴿ يَخْتَصِمُونَ ﴾ يې دجمعي په صيغه دمعناپه لحاظ راوړی دی ﴿ قَالَ يَٰقَوْمِ لِمَ تَسْتَعْجِلُونَ بِٱلسَّيِّئَةِ قَبْلَ ٱلْحَسَنَةِ ﴾ وويل(صالح) ای زماقومه ولي جلتي کوی تاسي په بدي (يعني نزول دعذاب) پخواله نېکي (له رحمته؟ يعني ولي په تلواره عذاب غواړی اورحمت ولي نه غواړی دغه يې په پسته ژبه اومهرباني ورته وويل:

(١) القرطبي

﴿لَوْلَا تَسْتَغْفِرُونَ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ﴾ ولي تاسي له الله مغفرت نه غواړی (په شرک چي توبه مومني) دپاره ددې چي پرتاسي رحم وشي ؛ مفسرين کرام وايې چي کافرانو به له ډېره انکاره ويل: ای صالحه! دالله عذاب راوله نو هغه ورته وويل: چي ولي دعذاب تر راتلو دمخه استغفارنه غواړی ځکه چي دخيرژرغوښتنه دبدي ترژرغوښتلو بهتره اوښه ده ﴿قَالُوا۟ ٱطَّيَّرْنَا بِكَ وَبِمَن مَّعَكَ﴾ وويل: ثموديانو چي بدفالي مونيولي پرتا اوپرهغه چاچي له تاسره دي (له مؤمنانو) ځکه چي ستاسي له شامته پرموږ باندي بلاوي راغلي دي؛ پردوی سخته کاختي اولوږه مسلطه وه ﴿قَالَ طَٰٓئِرُكُمْ عِندَ ٱللَّهِ﴾ (وويل: (صالح) چي ستاسي بدفالي دالله په نزدده) يعني ستاسي سرنوشت دالله په يددقدرت کي دی که خيراوکه شردی دغه دالله په حکم اوفيصله راځي که الله وغواړي روزي درکوي اوکه وغواړي لوږه درباندي راولي. کله چي يې په پسته ژبه اونرمه ويناله دوی سره خبري اتري وکړې هغوی په ځواب کي غلظت اوشدل والی خپل کړچي داستاله شامته او ستا دملګروراپېښه ده نودلته ورته صالح عليه السلام وويل: چي دغه ستاسودخپلوکړو وړوپايله ده زما اومؤمنانوله سببه نه ده درته رسېدلي ﴿بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ تُفْتَنُونَ﴾ بلکه يې تاسي يوقوم چي مفتون کېږی يعني تاسي ته شيطان وسوسه دراچوي اوتاسي دهغه له خوابې لاري کېږی چي هغه څه واياست چي واياست يې ﴿وَكَانَ فِى ٱلْمَدِينَةِ تِسْعَةُ رَهْطٍ﴾ اووه په ښار (دثموديانوکي چي حِجروه) نه تنه (غټ شريرددوی داشرافوزامن) ضحاک وايې چي دغه نه تنه دښارلويان اومشران وو ﴿يُفْسِدُونَ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَا يُصْلِحُونَ﴾ چي فسادبه يې کاووپه ځمکه (دحجر) کي (خلک به يې خوروول په هره وسيله اوبانه باندي. ابن عباس رضی الله عنه وايې: دوی هغه کسان دي چي اوښه يې ووژله ﴿قَالُوا۟ تَقَاسَمُوا۟ بِٱللَّهِ لَنُبَيِّتَنَّهُۥ وَأَهْلَهُۥ﴾ (وويل: (ثموديانو) حال داچي قسمونه يې په الله خوړلي ووچي خامخادشپې به ولوږوپردغه (صالح) او(أهل دده (اووژنوبه يې) يعني ځينوددوی ځينونوروته وويل: چي په الله لوړه وکړئ چي صالح اودده اهل به دشپې وژنو ﴿ثُمَّ لَنَقُولَنَّ لِوَلِيِّهِۦ مَا شَهِدْنَا مَهْلِكَ أَهْلِهِۦ﴾ بيابه خامخا ووايو: موږولي دده ته چي نه ووليدلی موږځای دهلاک دده اوداهل دده (نه يوخبرچي چاوژلی دی؟ موږ ته دده اوداهل قاتل يې معلوم نه دی ﴿وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ﴾ اوبېشکه چي موږيو خامخاله صادقانو(پخپله دعوی کي) ابن عباس رضی الله عنه وايې چي دوی دصالح عليه السلام کورته کښلي توري راغلل نوپرښتو دوی په ډبرو وويشتل اودوی يې ووژل الله فرمايې: ﴿وَمَكَرُوا۟ مَكْرًا﴾ او فريب وکړدوی په فريب کولوسره (دصالح په وژلو) ﴿وَمَكَرْنَا مَكْرًا﴾ او(جزاد) فريب ورکړه موږپه جزاء ورکولوسره چي ژرموهلاک کړل دغه ته يې دمشاکلت په توګه مکروايو(١) ﴿وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ﴾ حال داچي دوی پرې نه پوهېدل ؛ ابوحيان وايې ددوی فريب داووچي دصالح اواهل

(١) مشاکلت لفظي توافق ته وايې چي معنايې بېل وي.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

دوژلوپلان يې پټ جوړکړی وواوداالله داچي دوی يې داسي هلاک کړل چي پخپل هلاک نه پوهېدل (١)﴿ فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ مَكْرِهِمْ أَنَّا دَمَّرْنَٰهُمْ وَقَوْمَهُمْ أَجْمَعِينَ ﴾ (پس وګوره چي څرنګه ووعاقبت دمکرددوی بېشکه چي موږهلاکړل دغه (نه واړه) اوقوم ددوی ټول) يعني ددوی دفريب دانجام په هکله سوچ اوفکروکړه چي نتيجه يې څه شوه ؟ څرنګه موټول هلاک کړل ؟ ﴿ فَتِلْكَ بُيُوتُهُمْ خَاوِيَةًۢ بِمَا ظَلَمُوٓاْ ﴾ پس دغه دي کورونه ددوی وران تش پراته دي په سبب دظلم (اوکفر) چي دوی کاوو ﴿ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً لِّقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴾ بېشکه په دغه (اهلاک دثمودیانوکي) خامخالوی دليل (دقدرت اوعبرت) دی دپاره د(هغه) قوم چي پوهېږي (په قدرت دالله اوپندترې اخلي) ﴿ وَأَنجَيْنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَكَانُواْ يَتَّقُونَ ﴾ اونجات ورکړموږله دغه (عذابه) هغوکسانوته چي ايمان يې راوړی (له صالح عليه السلام سره) اووو دوی چي وېرېدل (له الله ُمتقيان وو) ﴿ وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦٓ ﴾ او(يادکړه کيسه د) لوط کله چي خپل قوم ته يې وويل : (اهل سدوم ته) ﴿ أَتَأْتُونَ ٱلْفَٰحِشَةَ وَأَنتُمْ تُبْصِرُونَ ﴾ آياراځی تاسي فاحشې (قبيح کاردلواطت) ته حال داچي وينی تاسي (چي دغه خوراناولی اومردارکار دی ؟) ﴿ أَئِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلرِّجَالَ شَهْوَةً مِّن دُونِ ٱلنِّسَآءِ ﴾ (آياتاسي خامخاسړيوته راځی له جهته دشهوته غيرله ښځو) دغه تکراريې دتوبيخ لپاره دی يعني ای قومه تاسي له ډېري ناپوهي نارينه ووته راځی اوښځي دشهوت داشباع لپاره نه غواړی ؟ پس همدغه په ناولتياکي کافي دی چي سړی په بل سړي باندي لواطت کوي ﴿ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُونَ ﴾ بلکه تاسي يوقوم ياست ناپوهان (څکه دغه نارواعمل کوی اوهغه چي پاکيزه اوالله درته رواکړي پرېږدی) ﴿ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓاْ أَخْرِجُوٓاْ ءَالَ لُوطٍ مِّن قَرْيَتِكُمْ ﴾ پس نه ووځواب دقوم ددغه (لوط) مکرهم داووچي وبه يې ويل دوی وباسئ تاسي خپلخانه دلوط له دې خپله ښاره (سدوم) څخه ﴿ إِنَّهُمْ أُنَاسٌ يَتَطَهَّرُونَ ﴾ بېشکه دوی داسي سړي دي چي ځانونه يې (له پليتي) پاک ساتلي (اوزموږ عمل ناولی ګڼي دغه دشړلولپاره علت دی ؛ قتاده وايې دوی ته يې داسي عيب ورکړچي قسم دی هغه عيب نه ووځکه دوی وويل عيب يې دادی چي له ناولي اعمالوځانونه پاک ساتي اوابن عباس رضی الله عنه وايې : چي دوی دملنډواواستهزآء په ډول داويل چي دوی دنارينه وولهلواطت څخه ځان پاک ساتي (٢)﴿ فَأَنجَيْنَٰهُ وَأَهْلَهُۥٓ إِلَّا ٱمْرَأَتَهُۥ ﴾ پس موږ نجات ورکړدغه (لوط) اواهل دده ته مګرنه ښځه دده ﴿ قَدَّرْنَٰهَا مِنَ ٱلْغَٰبِرِينَ ﴾ چي موږمقدره کړي وه (کافره په ازل کي) له باقي پاتي کېدونکو(په عذاب کي له هلاک شويو)سره ﴿ وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِم مَّطَرًا ﴾

---

(١) البحر ٧/ ٨٥

(٢) القرطبي ١٣/ ٢١٩

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

اووه وراوومو ږپر دوی باران (دتېرولهٔ آسمانه چي پرې هلاک شول ﴿ فَسَآءَ مَطَرُ ٱلْمُنذَرِينَ ﴾ پس بد باران دوېرول شويو(په عذاب سره باران ذدوی وو) اوکله چي الله تعالی دانبیاووکیسې ذکرکړې ورپسې يې دخپل قدرت او وحدانیت دلائل داسي بیان کړل ﴿ قُلِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ وَسَلَٰمٌ عَلَىٰ عِبَادِهِ ٱلَّذِينَ ٱصْطَفَىٰٓ ﴾ (ووایه (ای محمده!) چي ټولي ستاینې ثناوي خاص الله لره دي اوسلام دی پربندګانوددغه (الله) هغه (بندګان) چي الله دوی (پرخپلوټولومخلوقاتو) غوره کړي) یعني ای محمده! دالله په انعام اواحسان حمدولوله اوسلام دي پرهغه بندګانودالله چي الله يې له خپلوګردو مخلوقاتوڅخه غورچاڼ کړي دي اودبلني اودعوت درسالت لپاره يې ګمارلي دي زمخشري وايې چي الله پاک خپل رسول ته امرکړی چي دالله په وحدانیت باندي دلالت کونکي دغه آیتونه ولولي چي په قدرت اوحکمت يې ګویااو ناطق دي اوداچي پیل يې دالله په ثنا، صفت اوسلام پرانبیاوو وکړی اوپه دې کي ښایسته زده کړه ده اودښکلي ادب ورښودل دي چي هغه دالله حمداوپه انبیاوو سلام درووددی اوهمدالامل دی چي علماووخطیبانو، واعظانوهمدغه دود له لویه رانیولي ترلویه پوري خپل کړی چي لومړی دالله حمد، ورپسې دپیغمبر سلام اودرودکوي اوبیادعلم تدریس ، خطبه اویاخلګوته پند اونصیحت کوي (۱)﴿ ءَآللَّهُ خَيْرٌ أَمَّا يُشْرِكُونَ ﴾ آیاالله بهتردی که هغه بتان چي دوی يې شریکان کوي (له الله سره) ؟دغه د مشرکانو لپاره تبکیت اوپردوی باندي تهکم اواستهزاء ده چي آیاهغه خالق ،مُبدع اوحکیم ذات بهتر دی اوکه دغه کانه ، ګونګیان بتان چي نه اوري اونه ځواب درګرزوي ؟!﴿ أَمَّنْ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ ﴾ (بلکه هغه څوک (بهتردی) چي آسمانونه اوځمکه يې پیداکړي دي) دغه دالله په وحدانیت یوبل دلیل دی یعني آیاهغه ذات چي ګردکائنات يې پنځولي (پیداکړي) اودغه آسمانونه يې هسک اوچت ګرزولي ، روښانه ستوري يې پکي ټومبلي ځمکه يې پیداکړي ، غرونه اودښتي يې پکي اوچتي پلني کړي اوسیندونه ، رودونه يې پکي بهولي آیاهمدابهتردی اوکه هغه بتان چي دوی يې له (الله)سره شریکان نیسي ؟﴿ وَأَنزَلَ لَكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَنۢبَتْنَا بِهِۦ حَدَآئِقَ ذَاتَ بَهْجَةٍ ﴾ او ستاسي لپاره يې له آسمانه اوبه نازلي کړي دي پس زرغون کړل موږپه دغه اوبوسره باغونه خاوندان درونق (ښایست) ﴿ مَا كَانَ لَكُمْ أَن تُنۢبِتُوا۟ شَجَرَهَآ ﴾ ندی کېدونکی له تاسي (دغه کار) چي (یوازي) زرغونې کړي وني دهغو (څه خولامېوې دهغوونو) ﴿ أَءِلَٰهٌ مَّعَ ٱللَّهِ ۚ بَلْ هُمْ قَوْمٌ يَعْدِلُونَ ﴾ آیا شته بل معبود(له الله سره؟(نشته) بلکه دغه مشرکان یوداسي قوم دی چي (له توحیده) څنګ کوي (شرک غوره کوي اوالله لره مثال اواندول ثابتوي له خالق سره بت برابروي)﴿ أَمَّن جَعَلَ ٱلْأَرْضَ قَرَارًا ﴾ بلکه هغه څوک (بهتر) دی چي ګرزولي ده ځمکه ځای دقرار(هستوګني لپاره دانسان اوحیوان ﴿ وَجَعَلَ خِلَٰلَهَآ أَنْهَٰرًا ﴾ (اوګرزولی يې دی په مینځ ددغي ځمکي کي نهرونه) اوددې ځمکي په خوړونو اوژورو کي يې دخوږو

(۱) الکشاف ۳/ ۲۹۵

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

اوبورودونه بهولي چي ختيز، لوېديزاوشمال ، سهيل ته بهېږي روان دي) ﴿ وَجَعَلَ لَهَا رَوَاسِيَ ﴾ اوګرزولي يې دي دغي ځمکي ته محکم لوړ اوچت غرونه (چي ځمکه په قراردرېدلي وساتي ځوونه خوځېږي ﴿ وَجَعَلَ بَيْنَ الْبَحْرَيْنِ حَاجِزًا ﴾ اوګرزولی يې دی په مينځ ددوبحرونوکي (چي خواږه اوتروه دي) پرده (چي سره ګډ نشي اوتروې اوبه خوږې اوبه له کاره ونه باسي (١)﴿ أَإِلَٰهٌ مَّعَ اللَّهِ ﴾ آيا شته بل معبودله الله سره؟ (نه شته) ﴿ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ بلکه اکثره ددغو (مشرکانو) نه پوهېږي (پرحق چي له الله سره شريک نيسي) ﴿ أَمَّن يُجِيبُ الْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ السُّوءَ ﴾ بلکه هغه څوک (بهتر دی) چي قبلوي سوال دعاجز(بېکس اوبې بس اوفريادرسي يې کوي) کله چي وبولي دغه (مضطر) هغه (الله تعالی) اوليري کوي يې بدي سختي ﴿ وَيَجْعَلُكُمْ خُلَفَاءَ الْأَرْضِ أَإِلَٰهٌ مَّعَ اللَّهِ ﴾ اوګرزوي تاسي لره (الله) خليفه ګان په ځمکه کي چي يونسل وروسته له بله نسله دځمکي آبادي اوتعميرکوي ﴿ قَلِيلًا مَّا تَذَكَّرُونَ ﴾ لږشانته پند قبلوي !(په هغه څه کي چي تاسويې دسرپه سترګو وينی !) ﴿ أَمَّن يَهْدِيكُمْ فِي ظُلُمَاتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَمَن يُرْسِلُ الرِّيَاحَ بُشْرًا بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهِ ﴾ (دغه څلورم دليل دی) بلکه هغه څوک (بهتردی) چي تاسي ته لاره ښيي (په ستوريوسره) په تياروديبديا وواوپه (تيارو) دسيندکي (کله چي تاسي سفرونه کوی) اوهغه څوک(بهتردی) چي رالېږي بادونه زېری کونکي په مخ درحمت (باران) خپل کي (هغه چي دبندګانواوڅارويولپاره رحمت دی ﴿ أَإِلَٰهٌ مَّعَ اللَّهِ ﴾ آياشته بل معبودله الله سره؟ داسي څوک چي پدې شيانودي تواناوي بلکه نشته) ﴿ تَعَالَى اللَّهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴾ ډېرلوی پورته دی الله له (هغو) شيانوچي شريکوي يې دغه (مشرکان له الله سره) يعني الله لره لويې ده هغه چي خالق مقتدردی چي له داسي عاجزمخلوق سره دي ګډشي) ﴿ أَمَّن يَبْدَأُ الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ ﴾ آياهغه څوک چي ړومبی يې پيداکړي دي خلق (له نطفې په ارحاموکي) بيابه يې ژوندي کوي (وروسته له ناڅخه) زمخشري وايې چي دايې څنګه ورته وويل سره له دې چي دوی له بعث څخه منکروو؟ ځواب داچي ددوی دغه علت په دې معرفت اواقرار يې بشپړشوله مينځه لاړ نواوس يې دانکارعذرپاتي نه دی ﴿ وَمَن يَرْزُقُكُم مِّنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ ﴾ اوهغه څوک چي روزي درکوي له آسمانه (اوربښت کوي) اوله ځمکي (په محصولاتودپيداوارولهغلودانو اومېوو. أبوحيان وايې څرنګه چي دبني آدم خلقت اوايجاد يونعمت وواودغه نعمت بياله روزي پرته نه بشپړېدو ويې ويل ﴿ وَمَن يَرْزُقُكُم مِّنَ السَّمَاءِ ﴾ په اوربښت ﴿ وَالْأَرْضِ ﴾ په زرغونولو (٢)﴿ أَإِلَٰهٌ مَّعَ اللَّهِ ﴾ آياشته بل معبودله الله سره؟ (چي داسي وکړي) (بلکه نشته) ﴿ قُلْ هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴾ ووايه (ای محمده دوی ته) راوړئ تاسي برهان (سند)

---

(١) دغه دحسن بصري رحمه الله وينا اوابن کثيرغوره کړي څرګنده هم ده چابياويلي چي مرادخني دفارس او روم بحرونه دي
(٢) البحر ٧/ ٩٠

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

خپل(په هغه ګمان ستاسو چي وایاست له الله سره بل خدای شته) که چېري تاسي رښتيني یاست(پخپله دعوی کي(۱)﴿ قُل لَّا يَعْلَمُ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ الْغَيْبَ إِلَّا اللَّهُ ﴾ ووایه (ای محمده ! دوی ته) نه پوهېږي هغه څوک چي په آسمانونوکي دی اوپه ځمکه کي دي (له پرښتواوانسانانو) په غیبواُموروباندي مګر(عالم الغیب دی) الله. قرطبي وایې دغه دمشرکانوپه باره کي نازل شوی دی چي دوی له رسول الله څخه وپوښتل چي قیامت به کله وي؟ ﴿ وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ ﴾ اونه پوهېږي (خلک) چي کله به بیاژوندي را پاڅول شي دوی (وروسته له مرګه) ﴿ بَلِ ادَّارَكَ عِلْمُهُمْ فِي الْآخِرَةِ ﴾ بلکه ستړي ستومان له کاره لوېدلی دی علم ددوی (په کاردآخرت کي(چي وپوښتي قیامت به کله وي ؟ ځکه دوی خو ورباندي ایمان نلري نودځه لپاره دهغه دراتلوپوښتني کوي؟) ﴿ بَلْ هُمْ فِي شَكٍّ مِّنْهَا ﴾ بلکه دغه (کفار) په شک کي دي له دغه (قیامته) ځکه کبراوعناد کوي) ﴿ بَلْ هُم مِّنْهَا عَمُونَ ﴾ بلکه دغه (کفار) له دغه (قیامته) رانده دي (چي دهغه دراتلوپه دلائلونه پوهېږي په نفساني ملذاتواودګېډي په شهوتونوکي داسي غوپه دي لکه څاروي نه سوچ کوي اونه هم ویني ګوري. ابن کثیر وایې دوی یې په وجود شکمن دي بلکه په دې هکله یومخ ایزه رانده اوناپوهان دي

بلاغت:

پدې آیتونوکي چي دبیان اوبدیع کومي ښکلاوي شته لنډیزیې دادی:

۱-دطباق صنعت چي فرمایې: ﴿ يُفْسِدُونَ وَلَا يُصْلِحُونَ ﴾ .

۲-هڅونه اوتحضیض لکه: ﴿ لَوْلَا تَسْتَغْفِرُونَ اللَّهَ ﴾ یعني ولي دالله استغفارنه کوي !؟ .

۳-اشتقاقي جناس پدې آیت کي ﴿ اطَّيَّرْنَا بِكُمْ ﴾ .

۴-دمشاکلت صنعت: ﴿ وَمَكَرُوا.... وَمَكَرْنَا ﴾ الله تعالی ددوی هلاکول اوبربادول دمشاکلت په توګه مکرونوماوو.

۵-طباق چي پدې کلام کي دی ﴿ لِمَ تَسْتَعْجِلُونَ بِالسَّيِّئَةِ قَبْلَ الْحَسَنَةِ ﴾ ؟ .

---

(۱) په البحرکي وایې چي دهراستفهام سره مناسب کلام راوړل شوکوم چي رومبی تېرشوی وولکه کله یې دعالم علوي اوسفلي ذکر وفرمایواوهغه احسان چي دباران په اورښت یې کړی وو نویې وفرمایل ﴿ بَلْ هُمْ قَوْمٌ يَعْدِلُونَ ﴾ یعني برابروي له ده سره ماسوی چي مخلوق دی اوکله چي یې داوښوده چي ځمکه یې آرام اومستقرګرزولي ، ویالې نهرونه یې ورباندي بهولي او پدې کي تنبیه په کفر اوتعقل وه نویې وویل ﴿ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ اوکله چي دمضطرداجابت اودهغه د مصیبت لیري کول وستایل نویې پدې کلام پای ته ورساووچي ﴿ قَلِيلًا مَّا تَذَكَّرُونَ ﴾ ځکه له انسانه چي کله مشکلات پورته شي هغه حالت یې هېرېږي اوکله چي یې په تیاروکي لاربښوونه اوزېري کونکوبادونه یادکړل ویې فرمایل ﴿ تَعَالَى اللَّهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴾ .

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

٦- توبېخي استفهام لکه ﴿ أَتَأْتُونَ ٱلْفَٰحِشَةَ وَأَنتُمْ تُبْصِرُونَ ﴾.

٧- دتبکيت استهزآء او تهکم اسلوب لکه ﴿ ءَآللَّهُ خَيْرٌ أَمَّا يُشْرِكُونَ ﴾ ؟.

٨- باريکه استعاره چي فرمايي ﴿ بَيْنَ يَدَىْ رَحْمَتِهِۦٓ ﴾ يعني ترباران اورېدوله مخه دلته يې دواړه لاسونه دوړاندي اومخي لپاره استعاره راوړل

٩- دطباق بل صنعت لکه: ﴿ أَمَّن يَبْدَؤُا۟ ٱلْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ ﴾.

١٠- بله استعاره لکه: ﴿ بَلْ هُمْ مِّنْهَا عَمُونَ ﴾ دلته يې رندوالی په حق باندي دنه پوهېدلو لپاره استعاره کړاوداچي څوک دالله په نعمتونوکي سوچ نه کوي لکه روندغوندي دی.

١١- دفواصلورعايت اوپاملرنه چي دکلام په ښايست رونق اوجمال کي بشپړ رول لري لکه چي په اورېدلوکي يې اغيزه څرګنده ده هغه لکه داچي ﴿ وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ .... أَمَّن جَعَلَ ٱلْأَرْضَ قَرَارًا وَجَعَلَ خِلَٰلَهَآ أَنْهَٰرًا ﴾ اولکه داچي: ﴿ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً لِّقَوْمٍ يَعْلَمُونَ .... وَأَنجَيْنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَكَانُوا۟ يَتَّقُونَ ﴾ اونورمثالونه يې هم خورازيات دي په قرآنکريم بياني ښکلاوي دومره ډېري دي چي په ژبه دهغوی ګردوبيانول محال دی سبحان الله چي خپل پيغمبريې د دغه معجزکتاب په نزول څانګړی ونازاوو.

***

الله تعالی فرمايي:

﴿ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ أَءِذَا كُنَّا تُرَٰبًا وَءَابَآؤُنَآ أَئِنَّا لَمُخْرَجُونَ ﴿٦٧﴾ لَقَدْ وُعِدْنَا هَٰذَا نَحْنُ وَءَابَآؤُنَا مِن قَبْلُ إِنْ
هَٰذَآ إِلَّآ أَسَٰطِيرُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٦٨﴾ قُلْ سِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ فَٱنظُرُوا۟ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴿٦٩﴾ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَلَا
تَكُن فِى ضَيْقٍ مِّمَّا يَمْكُرُونَ ﴿٧٠﴾ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٧١﴾ قُلْ عَسَىٰٓ أَن يَكُونَ رَدِفَ لَكُم بَعْضُ
ٱلَّذِى تَسْتَعْجِلُونَ ﴿٧٢﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَشْكُرُونَ ﴿٧٣﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَيَعْلَمُ مَا تُكِنُّ
صُدُورُهُمْ وَمَا يُعْلِنُونَ ﴿٧٤﴾ وَمَا مِنْ غَآئِبَةٍ فِى ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ إِلَّا فِى كِتَٰبٍ مُّبِينٍ ﴿٧٥﴾ إِنَّ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانَ يَقُصُّ عَلَىٰ بَنِىٓ
إِسْرَٰٓءِيلَ أَكْثَرَ ٱلَّذِى هُمْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿٧٦﴾ وَإِنَّهُۥ لَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ ﴿٧٧﴾ إِنَّ رَبَّكَ يَقْضِى بَيْنَهُم بِحُكْمِهِۦ
وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٧٨﴾ فَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ إِنَّكَ عَلَى ٱلْحَقِّ ٱلْمُبِينِ ﴿٧٩﴾ إِنَّكَ لَا تُسْمِعُ ٱلْمَوْتَىٰ وَلَا تُسْمِعُ ٱلصُّمَّ ٱلدُّعَآءَ إِذَا وَلَّوْا۟
مُدْبِرِينَ ﴿٨٠﴾ وَمَآ أَنتَ بِهَٰدِى ٱلْعُمْىِ عَن ضَلَٰلَتِهِمْ إِن تُسْمِعُ إِلَّا مَن يُؤْمِنُ بِـَٔايَٰتِنَا فَهُم مُّسْلِمُونَ ﴿٨١﴾ ۞ وَإِذَا وَقَعَ
ٱلْقَوْلُ عَلَيْهِمْ أَخْرَجْنَا لَهُمْ دَآبَّةً مِّنَ ٱلْأَرْضِ تُكَلِّمُهُمْ أَنَّ ٱلنَّاسَ كَانُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا لَا يُوقِنُونَ ﴿٨٢﴾ وَيَوْمَ نَحْشُرُ مِن كُلِّ أُمَّةٍ
فَوْجًا مِّمَّن يُكَذِّبُ بِـَٔايَٰتِنَا فَهُمْ يُوزَعُونَ ﴿٨٣﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُو قَالَ أَكَذَّبْتُم بِـَٔايَٰتِى وَلَمْ تُحِيطُوا۟ بِهَا عِلْمًا أَمَّاذَا كُنتُمْ

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

تَعْمَلُونَ ﴿٨٤﴾ وَوَقَعَ ٱلْقَوْلُ عَلَيْهِم بِمَا ظَلَمُوا۟ فَهُمْ لَا يَنطِقُونَ ﴿٨٥﴾ أَلَمْ يَرَوْا۟ أَنَّا جَعَلْنَا ٱلَّيْلَ لِيَسْكُنُوا۟ فِيهِ وَٱلنَّهَارَ مُبْصِرًا ۚ
إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٨٦﴾ وَيَوْمَ يُنفَخُ فِى ٱلصُّورِ فَفَزِعَ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِى ٱلْأَرْضِ إِلَّا مَن شَآءَ ٱللَّهُ ۚ
وَكُلٌّ أَتَوْهُ دَٰخِرِينَ ﴿٨٧﴾ وَتَرَى ٱلْجِبَالَ تَحْسَبُهَا جَامِدَةً وَهِىَ تَمُرُّ مَرَّ ٱلسَّحَابِ ۚ صُنْعَ ٱللَّهِ ٱلَّذِىٓ أَتْقَنَ كُلَّ شَىْءٍ ۚ إِنَّهُۥ خَبِيرٌۢ بِمَا
تَفْعَلُونَ ﴿٨٨﴾ مَن جَآءَ بِٱلْحَسَنَةِ فَلَهُۥ خَيْرٌ مِّنْهَا وَهُم مِّن فَزَعٍ يَوْمَئِذٍ ءَامِنُونَ ﴿٨٩﴾ وَمَن جَآءَ بِٱلسَّيِّئَةِ فَكُبَّتْ وُجُوهُهُمْ فِى ٱلنَّارِ
هَلْ تُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٩٠﴾ إِنَّمَآ أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ رَبَّ هَٰذِهِ ٱلْبَلْدَةِ ٱلَّذِى حَرَّمَهَا وَلَهُۥ كُلُّ شَىْءٍ ۖ
وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ ٱلْمُسْلِمِينَ ﴿٩١﴾ وَأَنْ أَتْلُوَا۟ ٱلْقُرْءَانَ ۖ فَمَنِ ٱهْتَدَىٰ فَإِنَّمَا يَهْتَدِى لِنَفْسِهِۦ ۖ وَمَن ضَلَّ فَقُلْ إِنَّمَآ أَنَا۠ مِنَ
ٱلْمُنذِرِينَ ﴿٩٢﴾ وَقُلِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ سَيُرِيكُمْ ءَايَٰتِهِۦ فَتَعْرِفُونَهَا ۚ وَمَا رَبُّكَ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٩٣﴾ ﴾ النمل: ٦٧ ـ ٩٣

مناسبت اوتړاو:

کله چې الله تعالی په خپل وحدانیت دلائل اوبراهین ذکرکړل ورپسې یې دلته دمشرکانوهغه شکوک اوشبهات چې په بعث اونشوریې دایمان راوړلوپه هکله لرل راوړل بیایې دهغولپاره کوټلي دلائل بیان اودځینوهېښونکواو وېرونکوحالاتوچې دقیامت ترراتلودمخه به پېښېږي یادونه وکړه.

لغتونه:

(ردف) نږدې شو (تکن) پټوي اوخوندي ساتي (داخرین) ذلیل اوخوار(فوجا)ټولی (جامدة) نه خوځېدونکي اوساکن (أتقن) په ښه اوبشپړه توګه جوړښت ته وایې (کبت) (کب) غورځولوته وایې اوکله چې وایې (کبیت الرجل) یعني هغه مي پړمخي وغورځاوواو(کبیت الاناء) یعني لوښی مي واړاوو.

تفسیر:

﴿ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ أَءِذَا كُنَّا تُرَٰبًا وَءَابَآؤُنَآ أَئِنَّا لَمُخْرَجُونَ ﴾ اووایې هغه کسان چې کافران شوي دي (دمکې مشرکان چې (له بعثه منکردي) آیاکله چې موږ خاوري شواوپلرونه زموږ(هم خاوري شي) آیاخامخابه موږهرومروایستل کېږو (ژوندي له ځمکې دحساب اوجزاء لپاره ؟دوهم ځل) ﴿ لَقَدْ وُعِدْنَا هَٰذَا نَحْنُ وَءَابَآؤُنَا مِن قَبْلُ ﴾ خامخاپه تحقیق وعده کړی شوي ده له موږ سره ددې (بعث بعد الموت) یعني له موږسره محمدوعده کړي لکه چې پخوازموږله پلرونوسره یې هم کړي وه (نوکه چېري حق وایې هسې به شوي وو)؟﴿ إِنْ هَٰذَآ إِلَّآ أَسَٰطِيرُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴾ ندي دغه خبري مګر(لیکلي کیسي (باطلي دروغ) دي درومبنیوخلکو. دوی له بعث څخه انکارکوي اودایی هېرکړي چې دوی خوله عدم څخه پیداشوي دي اوهغه ذات چې دوی یې له عدم څخه پنځولي پدې قادردی چې دوهم ځل یې هم راپاڅوي ﴿ قُلْ سِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ فَٱنظُرُوا۟ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴾ ووایه(ای محمده !(دې کفاروته) چې ولاړشئ تاسي په ځمکه کې (وګرزئ) پس وګورئ چې څرنګه شوعاقبت (آخره) دګنهګارانو(هغوچې دانبیاووتکذیب یې

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

کاوو؟ آیادوی الله هلاک نکړل ؟ نوهغه څه چي پخوانیو مجرمینوته ورسېدل وروستنیو مجرمینوته هم رسېدونکي دي په آیت کي وعیداوتهدید نغښتی دی ﴿ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَلَا تَكُن فِي ضَيْقٍ مِّمَّا يَمْكُرُونَ ﴾ اومه خفه کېږه (ای محمده !) پردوی (که یې ایمان نه راوړ) اومه کېږه په تنګي (دزړه) کي له هغه څه چي دوی مکرکوي (له تاسره ځکه چي زه ستاحافظ او ناصریم دغه درسول الله لپاره تسلیت دی ﴿ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴾ اووایې دا (کفار) چي کله به وي دغه وعده (دنزول دعذاب) که یی تاسي رښتوني (په دغه وعدې کي ؟ دغه یې داستهزآء په ډول ویل اوپیغمبر صلی الله علیه وسلم اومؤمنانوته به یې خطاب کاوو ﴿ قُلْ عَسَىٰ أَن يَكُونَ رَدِفَ لَكُم بَعْضُ الَّذِي تَسْتَعْجِلُونَ ﴾ ووایه (ای محمده دوی ته) چي نژدې دی چي دپیوست به شي ځیني هغه (عذاب) چي تاسي یې په تلواره غواړی. مفسرین کرام وایې چي هغه ووپه بدر کي دوی ته قتل اوبندي کېدل ورسېدل ﴿ وَإِنَّ رَبَّكَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ ﴾ اوبېشکه رب ستاخامخاښتن دفضل دی پرخلکو(چي پرکفراوگناهونوژرترژره عذاب نه ورکوي ﴿ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَشْكُرُونَ ﴾ ولیکن اکثره ددوی شکرنه کوي (پدې نعمت باندي درب خپل) ﴿ وَإِنَّ رَبَّكَ لَيَعْلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُورُهُمْ وَمَا يُعْلِنُونَ ﴾ اوبېشکه ستارب ته خامخامعلوم دی هغه څه چي پټوي یې سینې (زړونه) ددغو(کفارو) اوښکاره هغه څه چي کوي یې له دښمني درسول اوفریب ورکول هغه ته ،ژردی چي الله به سزاورکړي ﴿ وَمَا مِنْ غَائِبَةٍ فِي السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُّبِينٍ ﴾ اونشته هیڅ شی پټ پناه په آسمان کي اوپه ځمکه کي مګر لیکلي دي په کتاب ښکاره (لوح محفوظ) کي (اوالله جل جلاله ورباندي علم لري هیڅ څیز ورڅخه الونیا نه دی ابن عباس رضی الله عنه وایې: معناداچي نه دی هیڅ پټ شی په آسمانونواوځمکي کي اوښکاره شی مګرالله جل جلاله ته معلوم دی (١) ﴿ إِنَّ هَٰذَا الْقُرْآنَ يَقُصُّ عَلَىٰ بَنِي إِسْرَائِيلَ أَكْثَرَ الَّذِي هُمْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴾ بېشکه دغه قرآن کیسه کوي (بیانوي) پربني اسرائیلوباندي اکثردهغو څېزونوچي دوی په هغوڅېزونوکي سره اختلاف کوي کله چي الله تعالی دنبوت اومبدأ معادپه هکله یادونه وکړه اوقرآن کریم له خوراسترودلائلوڅخه ووچي درسول الله په رښتنولي اودهغه په رسالت یې دلالت کاوونودلته یې دهمدې قرآن یاد وفرمایواوصفات یې وستایل چي دغه قرآن چي په حضرت محمد خاتم الانبیآء صلی الله علیه وسلم باندي نازل شوی هغه حق کتاب دی چي دبني اسرائیلولپاره هغه چي ددوی اختلافي مسئلې وي هم بیانوي اوله دې جملې څخه یوه هم دحضرت مسیح علیه السلام په هکله اختلاف دی چي دوی یې په ډېروټولیووېشلي ووځیني به پرځینونورو لعنت وایوکه چېري دوی انصاف درلودی نوبه یې اسلام راوړی وای ځکه چي قرآن دوی ته څرګنده رایه اوښکاره دلیل راوړی دی ﴿ وَإِنَّهُ لَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ ﴾ اوبېشکه دغه قرآن خامخاهدایت اورحمت دی لپاره دمؤمنانو(چي له ګمراهي یې ژغوري اوله عذاب څخه نجات ورکوي

---

(١) البحر ٧/٩٥

قرطبي وايي: دا مؤمنان يې په ځانګړي توګه يادکړل ځکه چي دوی ورباندي منتفع کېږي اوګټه ترې اخلي(۱)﴿ إِنَّ رَبَّكَ يَقْضِي بَيْنَهُم بِحُكْمِهِۦ ﴾ (او بېشکه ستارب به فيصله وکړي ددوی په مينځ کي په (عادلانه) حکم خپل سره) يعني ای محمده ستا رب به دبني اسرائيلوترمينځ دقيامت په ورځ په خپل عدل حکم سره فيصله صادره کړي دحق او دباطل خاوند دواړوته به جزاء ورکړي ﴿ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْعَلِيمُ ﴾ اوهم دی ښه غالب ، قوي دی (چي څوک يې حکم منع کولای نشي) ښه علم والادی (په افعالودبندګانوچي هيڅ ترې پټ نه دي ﴿ فَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ إِنَّكَ عَلَى ٱلْحَقِّ ٱلْمُبِينِ ﴾ پس توکل وکړه خاص پرالله (په تولوچاروکي) بېشکه ته چي يې په ښکاره حق يې (چي دين داسلام دی نو وروستی برى ستادی) ﴿ إِنَّكَ لَا تُسْمِعُ ٱلْمَوْتَىٰ ﴾ بېشکه ته نشې اورولی (خبره) مړوته (چي کافران دي ځکه دوی سوچ اوفکرنه چلوي لکه مړي غوندي دي عقل اواحساس نلري ﴿ وَلَا تُسْمِعُ ٱلصُّمَّ ٱلدُّعَآءَ ﴾ او (همداسي) نشې اورولای کونې غږ دنارو؛ کله چي يې دايمان لوري ته رابولې ځکه دوی لکه کاڼه غوندي دي په غوږونه يې يې دروندوالی دی غږنه اوري ﴿ إِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِينَ ﴾ (کله چي بيامخ هم درنه واړوي) اوروان شي هو کله چي کونې شاکونکی وي اوبيانارې وروهې بېخي يې نه اوري ځکه چي دمسافې زياتوالی يې په کونې والي ورزيات شي ﴿ وَمَآ أَنتَ بِهَٰدِى ٱلْعُمْيِ عَن ضَلَٰلَتِهِمْ ﴾ اونه يې ته (ای محمده) لاربښوونکی رندوته (چي راويې ګرځوې) له ګمراهي (اوکفر) ددوی نه ﴿ إِن تُسْمِعُ إِلَّا مَن يُؤْمِنُ بِـَٔايَٰتِنَا فَهُم مُّسْلِمُونَ ﴾ نه اوروې ته (په سماع دفائدې رسولو) مګرهغه چاته چي ايمان يې راوړی په آيتونو زموږ پس هم دوی مسلمانان دي غاړه ايښودونکي دي رحمان ته. دلته يې دهغه چاچي نه اوري اونه پوهېږي تشبيه له مړوسره وکړه اوبيايې له کنواوړندو سره مشابه کړل که څه هم چي حواس يې روغ رمټ وي اوددوی نه اورېدل يې په دې باندي تاکيد کړل چي ﴿ إِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِينَ ﴾ ځکه دکاڼه چي کله شاشي کنوالی يې يوپه دوه شي اومقصدله دې آيت شريف څخه دادی چي داکفارلکه مړي اوکاڼه غوندي دي نه پوهېږي نه اوري اونه ويني اونه هم په کائناتي دلائلوکي سوچ کوي اونه قرآني آيات ګوري ﴿ وَإِذَا وَقَعَ ٱلْقَوْلُ عَلَيْهِمْ ﴾ (اوکله چي ثابت شي خبردعذاب پردغو(خلکو) دادقيامت دنښانو بيان دی چي ترقيامت له مخه به پېښېږي ﴿ أَخْرَجْنَا لَهُمْ دَآبَّةً مِّنَ ٱلْأَرْضِ تُكَلِّمُهُمْ أَنَّ ٱلنَّاسَ كَانُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا لَا يُوقِنُونَ ﴾ نوراوبه باسودوی ته يوه دابه (حيوان) له ځمکي چي له دوی سره به خبري کوي چي بېشکه داخلک چي په دلائلو(دقدرت دالوهيت) زموږبه يې يقين نه کاوو. په حديث شريف کي راځي چي قيامت به ترهغونه راځي څوتاسي لس نښانې دهغه ونه ويني اوله هغې جملې څخه دلمرراختل له مغرب څخه اوراوتل

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

د(دابة الارض) دي (١) ابن كثيروايې چي دغه دابه به په آخرالزمان كي راووزي كله چي خلك په فساد كي اخته اودالله حكمونه بې پرې ايښي وي دين يې بدل كړى وي نوبه دغه دابه له دوى سره خبري كوي ابن عباس رضى الله عنه اوعطآء وايې چي دغه دابه به دوى ته خبري كوي او ورته وايي به چي ﴿ أَنَّ ٱلنَّاسَ كَانُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا لَا يُوقِنُونَ ﴾ (٢) اوروايت كاوه شي چي ددغه (دابة الارض) دراوتلووخت به هله وي كله چي امربالمعروف اونهى عن المنكرودرول شي دخيردروازې وتړل شي څوك توبه ګار اورجوع كونكى نه پيداكېږي نوبه دغه خارق العاده پېښي رادبره شي له دې نه وروسته الله جل جلاله دقيامت څيني نوري ننبي داسي بيانوي ﴿ وَيَوْمَ نَحْشُرُ مِن كُلِّ أُمَّةٍ فَوْجًا ﴾ اويادكړه هغه ورځ چي راپورته به كړو(له قبورو) دهرامت څخه يوفوج (فرقه لپاره دحساب اوعذاب) ﴿ مِّمَّن يُكَذِّبُ بِـَٔايَٰتِنَا فَهُمْ يُوزَعُونَ ﴾ له هغومنكرانوڅخه چي تكذيب كوي زموږپه آيتونوپس ددوى جماعتونه به سره يوځاى كېږي (بيابه روانېږي په زوربه بېول كېږي) ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُو قَالَ أَكَذَّبْتُم بِـَٔايَٰتِى وَلَمْ تُحِيطُوا۟ بِهَا عِلْمًا ﴾ ترهغه پوري چي دوى ټول راشي (محشرته) نو(الله به) ورته وفرمايې آياتاسي زمادآيتونوتكذيب كړى ووحال داچي تاسي احاطه نه وه كړي په هغولوجهته دعلمه (په حقيقت دربښتنولي يې) ﴿ أَمَّاذَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴾ آياڅه شى دى هغه چي تاسي به كاوو؟ دغه توبيخ اوتقريع دى چي تاسي په دنياكي څه كول؟ لومړى يې په دې وترتل چي ﴿ أَكَذَّبْتُم بِـَٔايَٰتِى ﴾ اوبيايې دتقريري استفهام لوري ته مخه كړي اودوى ته يې داسي تبكيت وركړلكه چي وايې: داخوپرېږدئ چي تاسي تكذيب كاوودااوويا ست چي تاسوپه دنياكي پرته له تكذيب څخه څه كول ؟ ﴿ وَوَقَعَ ٱلْقَوْلُ عَلَيْهِم بِمَا ظَلَمُوا۟ ﴾ (اوثابته به شي خبره(دعذاب) پردوى باندي په سبب دهغه چي ظلم يې كړى وو) يعني دوى به حيران شي څواب به نلري اودعذاب خبره به وروباندي ثابته شي په سبب دهغه ظلم ددوى چي دالله دآيتونوتكذيب يې كاوو ﴿ فَهُمْ لَا يَنطِقُونَ ﴾ پس دوى به هيڅ خبري نشي كولاى (ځكه هيڅ عذراودليل ورته پاتي نه دى په لايتناهي عذاب كي داسي پټ دي چي دڅواب وركولوتوان يې څيني وړى دى وروسته بيا الله دقيامت تكاليف اوپه حشرنشراوتوحيددلائل راوړي چي دايمان لوري تهلاربښوونه وكړي ﴿ أَلَمْ يَرَوْا۟ أَنَّا جَعَلْنَا ٱلَّيْلَ لِيَسْكُنُوا۟ فِيهِ وَٱلنَّهَارَ مُبْصِرًا ﴾ آيانه ويني دا(منكران دحشر)چي بېشكه موږ ګرزولي ده (توره تياره شپه له پاره دخوب) چي دوى پكي آرام وكړي (اودژوندانه له سترياووهوساشي اوګرزولي موده) ورځ ليدونكي (سپينه رڼاروښانه چي كسب اوكارپكي وكړي او روزي ومومي ؟ ﴿ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَـَٔايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴾ بېشكه په دغه (اوښتون دشپې

---

(١) أخرجه الامام احمدفى المسندوفى صحيح المسلم ان اول الآيات خروج طلوع الشمس من مغربهاوخروج الدابة على الناس ضحى وأيتهماكانت قبل صاحبتهافالاخرى على أثرهاقريبًا) دغه دامام احمد دمسند حديث دى اوپه صحيح مسلم كي راځي چي دقيامت دراتلولومړى ننبه له مغرب څخه دلمرراختل دي اوبيابه په څاښت كي دابة الارض راوزي هره يوه ننبه چي له مخه شوه هغه بله سمدستي وروسته ده.

(٢) مختصرابن كثير٢ / ٦٨٢

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

اوورځي چي له روښنايي څخه تاريکي ته اوړي اوله تياري روښنايي ته ،خامخادلائل (دقدرت اوعبرت) دي لپاره دهغه قوم چي ايمان راوړي (عبرت اخلي ،وروسته بيا الله په آخرت کي دخلکو حالاتوته داسي اشاره کوي ﴿ وَيَوْمَ يُنفَخُ فِي ٱلصُّورِ فَفَزِعَ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِي ٱلْأَرْضِ إِلَّا مَن شَآءَ ٱللَّهُ ﴾ اويادکړه هغه ورځ چي پوکی وکړی شي په شپېلۍ کي نوووېرېږي (له ډېره هيبته) هرهغه څوک چي په آسمانونوکي دي اوهرهغه څوک چي په ځمکه کي دي مګرهغه څوک چي الله يې اراده (دنه وېرېدلو) وفرمايي (له پرښتو، انبياوواوشهيدانوڅخه. مفسرين کرام وايي چي دغه (نفخة الفزع) ده اوبيابه ورپسې (نفخة الصعق) راځي اوهغه دمرګ شپېلۍ ده وروسته بيابه (نفخة النشور) وي چي هغه دراپاڅېدلواوداالله په وړاندي ددرېدلونفخه ده ابوهريرة رضی الله عنه وايي چي دميکائيل عليه السلام په صور(شپېلۍ) کي درې نفخې (پوکي) شته يې يوه دژوندانه ددنيا دوېري ده اوداهغه چي فزع اکبرنه ده بله يې دمرګ پوکی ، دريمه يې دراپاڅېدلواوبعث ده(۱)﴿ وَكُلٌّ أَتَوْهُ دَٰخِرِينَ ﴾ اوټول به راشي (ددغه الله په حضورکي په قيامت) عاجزان (منونکي چي يوبه هم پاتېدلی نشي ﴿ وَتَرَى ٱلْجِبَالَ تَحْسَبُهَا جَامِدَةً ﴾ اووينې به ته غرونه (په لومړۍ نفخه کي) ګمان به پرې کوې چي کلک ولاړدي (پرخپل ځای) ﴿ وَهِيَ تَمُرُّ مَرَّ ٱلسَّحَابِ ﴾ حال داچي دوی به ځي تېرېږي په شان دوريځي. امام رازي وايي چي ددوی دغه ليدل چي ته به واکلک پرځای ولاړدي له دې جهته وي چي غټ غټ اجسام کله چي په يوه شکل ګړندی تګ پيل کړي کتونکی داسي انګېري چي پرځای ولاړدي خوهغه په چټکي اوچسپاندتيا روان وي(۲)﴿ صُنْعَ ٱللَّهِ ٱلَّذِيٓ أَتْقَنَ كُلَّ شَيْءٍ ﴾ کاريګري دالله دی هغه الله چي هرڅېزيې محکم کړی دی (اوله حکمت څخه يې ډک کړی ﴿ إِنَّهُۥ خَبِيرٌۢ بِمَا تَفْعَلُونَ ﴾ بېشکه چي دغه (الله) ښه خبرداردی په هغوکارونوچي تاسي يې کوی (له خيراوشرڅخه اوپردغوبه سمه جزاء درکړي وروسته بيا الله دنېکمرغانواوبدمرغانوحال پدې ورځ داسي بيانوي ﴿ مَن جَآءَ بِٱلْحَسَنَةِ فَلَهُۥ خَيْرٌ مِّنْهَا ﴾ (هرهغه څوک چي راشي په نېکي سره پس شته ده ته جزاء غوره له هغه) يعني هرڅوک چي دقيامت په ورځ نېکي راوړي الله به يې ثواب يوپه لس ګونه ورکوي اوپه لږ عمل باندي به تل ترتله ثوابونه وروبښي ﴿ وَهُم مِّن فَزَعٍ يَوْمَئِذٍ ءَامِنُونَ ﴾ اودوی به له سختي وېري ددغي ورځي په امان وي لکه چي الله فرمايي: ﴿ لَا يَحْزُنُهُمُ ٱلْفَزَعُ ٱلْأَكْبَرُ ﴾ (الانبيآء۱۰۳) ﴿ وَمَن جَآءَ بِٱلسَّيِّئَةِ ﴾ اوهرهغه څوک چي راشي په بدي (سئية) باندي ﴿ فَكُبَّتْ وُجُوهُهُمْ فِي ٱلنَّارِ ﴾ (پس نسکوربه وغورځول شي مخونه ددوی په اورددوزخ کي) ابن عباس رضی الله عنه وايي: څوک چي دقيامت په ورځ بدي راوړي ،يامشرک وي نوهغه به په دوزخ کي پرمخي وغورځول شي اوسرپه څېړۍ به ورولوېږي ﴿ هَلْ تُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴾ آياجزا درکوله کېږي (بلکه نه درکوله کېږي مګر(جزادهغه بديو)

---

(۱) البحر۷/ ۹۹

(۲) التفسيرالکبير۲۴/ ۳۴

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

چي وی تاسي (په دنیاکي به) موکول ﴿ إِنَّمَآ أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ رَبَّ هَٰذِهِ ٱلْبَلْدَةِ ٱلَّذِى حَرَّمَهَا ﴾ (بېشکه همداخبره ده چي ماته داسي حکم کړی شوی دی چي عبادت کوم درب ددې) ښار هغه (الله)چې حرمت ورکړی دی دی (ښار دمکې ته په امن سره)یعني ای محمده دوی ته ووایه چي ماته داسي حکم شوی دی چي زه خاص دالله عبادت وکړم هغه ذات چي ددغه بلدامین پالونکی دی اومکه یې دامن حرم ګرځولي وینې پکي نه تویول کېږي اودلته هیڅوک پرچاظلم نکوي ښکاریې حرام اوزرغونه بوټي پرېکول یې لاهم حرام دي لکه چي په حدیث ښریف کي راځي ﴿ وَلَهُۥ كُلُّ شَىْءٍ ﴾ اوخاص همدغه (الله) لره دي (ټول) هرشی یعني الله یې خالق اومالک دی ﴿ وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ ٱلْمُسْلِمِينَ ﴾ اوماته داسي حکم کړی شوی دی چي زه شم له مسلمانانو(غاړه ایښودونکوالله ته حکم منونکی دهغه اوخالص توحید قبلونکی شم﴿ وَأَنْ أَتْلُوَا۟ ٱلْقُرْءَانَ ﴾ اوبل پدې (مأموریم) چي قرآن ولولم (چي خوندورحقائق یې راته سربېره شي اوخلګوته یې ورسوم) ﴿ فَمَنِ ٱهْتَدَىٰ فَإِنَّمَا يَهْتَدِى لِنَفْسِهِۦ ﴾ پس هرچاچي سمه صافه لاره وموندله پس بېشکه همداخبره ده چي سمه صافه لاره یې دځان لپاره وموندله) یعني چاچي په قرآنکریم لاره وموندله زړه یې په ایمان روښانه شونودهدایت ثمره اوګټه یې ځان ته راجع ده ﴿ وَمَن ضَلَّ فَقُلْ إِنَّمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلْمُنذِرِينَ ﴾ اوهرڅوک چي ګمراه شوپس ووایه ای محمده دوی ته) بېشکه همداخبره ده چي زه له وېرونکیوڅخه یم (تاسوته مي الهي رسالت ورساوو اونشته په رسولانومګرتبلیغ درسالت دی ﴿ وَقُلِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ﴾ اووایه (ای محمده) چي ټولي ثناوي خاص الله لره دي (چي زه یې دنبوت په مقام او درسالت په لوړه مرتبه نازولی یم ﴿ سَيُرِيكُمْ ءَايَٰتِهِۦ فَتَعْرِفُونَهَا ﴾ ژربه وښیي (الله) تاسي ته دلائل (دقدرت خپل) پس تاسي به وپېژنی هغه دلائل (په سترقدرت اوسلطان دالله پخپلوځانونو اواطرافوکي مګر هغه وخت به بیادغه پېژندل تاسوته کومه ګټه نه رسوي ﴿ وَمَا رَبُّكَ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴾ اونه دی رب (پالونکي) دتاببخبره له هغوعملونوچي تاسي یې کوی ای بندګانو) الله په هرڅه خبرداردی په دې کي وعداووعیدراغلی دی.

بلاغت:

پدې آیتونوکي چي دبدیع اوبیان کومي ښکلاوي شته لنډون یې په دې ډول دی:

١-انکاري استفهام لکه: ﴿ أَءِذَا كُنَّا تُرَٰبًا وَءَابَآؤُنَآ أَئِنَّا لَمُخْرَجُونَ ﴾ اوپدې کلمه کي چي (أَئِنَّا) ده همزه ددې لپاره مکرراوړل شوی چي په تعجب اوانکاردلالت وکړي.

٢-وعیداوتهدید کله چي فرمایي: ﴿ قُلْ سِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ فَٱنظُرُوا۟ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴾.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

٣ – تاکید په (ان) او(لام) سره پدې کلام کي ﴿ وَإِنَّ رَبَّكَ لَذُو فَضْلٍ ﴾ اوهمدارنګه په ﴿ وَإِنَّ رَبَّكَ لَيَعْلَمُ ﴾ او ﴿ وَإِنَّهُۥ لَهُدًى ﴾ کي چي راغلي دي.

٤ – دطباق صنعت چي: ﴿ مَا تُكِنُّ صُدُورُهُمْ وَمَا يُعْلِنُونَ ﴾ ځکه چي د ﴿ تُكِنُّ ﴾ معنا پټول دي.

٥ – بدیعه استعاره چي کله فرمايي: ﴿ إِنَّ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانَ يَقُصُّ ﴾ ځکه کیسه کونکي خوهغه ګرېدونکی ناطق شخص ته وايي خوځرنګه چي قرآنکریم دپخوانیوامتونوکیسې لري لکه هغه څوک داسي يې وګڼل چي خلګوته کیسې کوي نودلته تبعیه استعاره راغلي ده.

٦ – مبالغه چي دالله جل جلاله په نومونوکي ده ﴿ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْعَلِيمُ ﴾ ځکه فعیل دمبالغې صیغه ده.

٧ – تمثیلي استعاره لکه ﴿ إِنَّكَ لَا تُسْمِعُ ٱلْمَوْتَىٰ ﴾ دلته تعبیرپه مړو، کنو اوړندوتول ځایونه داستعارې په توګه دی اودغه دکفارودهغه حالت چي په ایمان باندي ګټه نشي اخیستلای تمثیل دی چي دوی لکه مړي کانه اوړانده غوندي دي.

٨ – دتوبیخ اوترتني اسلوب چي وايي ﴿ أَمَّاذَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴾.

٩ – دطباق صنعت لکه ﴿ مَن جَآءَ بِٱلْحَسَنَةِ ... وَمَن جَآءَ بِٱلسَّيِّئَةِ ﴾.

١٠ – بلیغه تشبیه چي فرمايي ﴿ وَهِيَ تَمُرُّ مَرَّ ٱلسَّحَابِ ﴾ دلته يې دتشبیه ادات اودشبه وجه حذف کړي نوبلیغه تشبیه ګڼل کېږي لکه چي ووايي (محمد سپوږمی ده).

١١ – داحتباک صنعت چي فرمايي ﴿ أَلَمْ يَرَوْا۟ أَنَّا جَعَلْنَا ٱلَّيْلَ لِيَسْكُنُوا۟ فِيهِ وَٱلنَّهَارَ مُبْصِرًا ﴾ له لومړی جملې څخه يې هغه حذف کړل کوم چي وروستی ته يې ثابت کړل اوبرعکس چي اصل يې داسي ووشپه موتیاره ګرزولي چي څوپکي آرام وکړی او ورځ مورنا ګرزولي چي کارپکي وکړی نوهلته يې د(تیارې) کلمه حذف کړه چي (رڼا) ورباندي دلالت کوي اوهمداسي يې په دوهم ځای کي (کارکول) حذف کړل چي دلومړی جملې ﴿ لِيَسْكُنُوا۟ فِيهِ ﴾ ورباندي دلالت کوي اودغه ډول صنعت ته احتباک وايي چي دبدیعي محسناتو څخه ګڼل کېږي.

دالله جل جلاله په مرسته دالنمل سورت تفسیربشپړشو.

***

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

دالقصص سورت مکي دی اواته اتیاآیتونه لري

دسورت په وړاندي:

دالقصص سورت لکه نورمکي سورتونه دتوحید، رسالت اوبعث څخه ږغېږي اوداسورت له دوونوروسورتونوسره چي د(النمل) او(الشعرآء) سورتونه دي لکه چي په نزول کي ورسره موافق راغلي په خپله تکلاره اوموخه کي هم یورنګه دي نودغه سورت دتېرو دووتفصیل اوبشپړوالی ترسترګو کوي.

• دسورت محور دحق اوباطل سپیناوی کوي اودایمان اوطغیان منطق څېړي اوهمداسي دالهي اوشیطاني لښکرودجګړې انځورکاږي چي پدې هکله یې دوې کیسې راوړي لومړی هغه دطغیان کیسه چي په زور اوسلطان ولاړه اودفرعون سرکښه هغه چي بني اسرائیلوته یې ډول ډول عذابونه ورکول زامن یې ورذبح کول اوښځمني یې دځان دچوپړوهلولپاره پرې ښودل په الله جل جلاله دومره ور زړورشوي ووچي آن دالوهیت دعوی یې کړي وه ﴿ مَا عَلِمْتُ لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرِي ﴾ به یې ویل دوهمه هغه کیسه چي دمال، دولت په نتیجه کي دقارون په شخصیت کي څرګنده شوي اودادواړه کیسې دانسان سرغړوني ته چي پدغه فاني ژوندانه کي ځني پېښېږي اشاره کوي هغه که دمال ثروت په نتیجه کي وي اوکه دجاه، دبدبې اوسلطان په سبب.

• سورت دفرعون په طغیان بیانولوپیلېږي دهغه لوړتیااوفسادبلکه په هرزمان اومکان کي دطغیان منطق په ګوته کوي.

• وروسته له دې خبره دموسی علیه السلام له زېږېدلواوبیادهغه په ژوندي پاتي کېدلوبې دمور وېره چي څرنګه به له فرعون څخه ژوندی وژغورل شي اوهغې ته دالله له لوري داسي الهام چي په دریاب کي یې وغورځوه ترڅوبیا وروسته دفرعون په انګړکي په عزت اودرنښت داسی لوی شی لکه خوشبویه ګلاب چي دازغیوپه مینځ اوډنډکي ولاړوي او وده ومومي.

• وروسته دموسی علیه السلام بلوغ ته رسېدل اوبیایې له لاسه دقبطي وژل کېدل همداسي دهغه هجرت مدین ته اودشعیب علیه السلام له لور سره نکاح تړل اوبیادالله جل جلاله له لوري دده مکلفیت دوره پیل کېدل چي مصرته راستون شي اودطغیان علمبردارفرعون ته دالله لوري ته بلنه ورکړي اودغه دفرعون اوموسی علیه السلام شخړي په تفصیل سره څېړي ترڅوچي الله فرعون غرق کړي اوهمداسي دمکې دکفارو څخه خبرراوړي چي دمحمدي رسالت په وړاندي په مخالفت درېږي اودانبیي چي دګمراهانوتکلاره هرچېري یوشانته وي

• سورت بیادقارون کیسه راوړي اوپدې کي هغه ستروانن اومسافه چي دایمان اوطغیان ترمینځ دي په ډاګه کېږي.

• په پای کي سورت دنېکمرغي لاري ته ښوونه او ارشادکوي هغه چي دایمان لاره ده اودانبیاء کراموبلنه تل هغې لاری ته وي.

تسمیه اونومول یې:

دې سورت ته ځکه سورة القصص وایې چي الله پاک پکي دموسی علیه السلام کیسه په تفصیل سره دولادت اوزېږېدلوڅخه ونیسه بیاتررسالته پوري راوړي ده اوپدې کي عجیبه اونادرې پېښي

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

راغلي چي له ورايه پکي دالله جل جلاله له خپلواولياووسره عنايت اودخپلودښمنانوتکول اوخذلان ځرګند دي.

الله تعالی فرمايي:

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ طسٓمٓ ۝١ تِلْكَ ءَايَٰتُ ٱلْكِتَٰبِ ٱلْمُبِينِ ۝٢ نَتْلُوا۟ عَلَيْكَ مِن نَّبَإِ مُوسَىٰ وَفِرْعَوْنَ بِٱلْحَقِّ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ
۝٣ إِنَّ فِرْعَوْنَ عَلَا فِى ٱلْأَرْضِ وَجَعَلَ أَهْلَهَا شِيَعًا يَسْتَضْعِفُ طَآئِفَةً مِّنْهُمْ يُذَبِّحُ أَبْنَآءَهُمْ وَيَسْتَحْىِۦ نِسَآءَهُمْ
إِنَّهُۥ كَانَ مِنَ ٱلْمُفْسِدِينَ ۝٤ وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى ٱلَّذِينَ ٱسْتُضْعِفُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ
ٱلْوَٰرِثِينَ ۝٥ وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِى ٱلْأَرْضِ وَنُرِىَ فِرْعَوْنَ وَهَٰمَٰنَ وَجُنُودَهُمَا مِنْهُم مَّا كَانُوا۟ يَحْذَرُونَ ۝٦
وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰٓ أُمِّ مُوسَىٰٓ أَنْ أَرْضِعِيهِ ۖ فَإِذَا خِفْتِ عَلَيْهِ فَأَلْقِيهِ فِى ٱلْيَمِّ وَلَا تَخَافِى وَلَا تَحْزَنِىٓ ۖ إِنَّا رَآدُّوهُ إِلَيْكِ وَجَاعِلُوهُ
مِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ۝٧ فَٱلْتَقَطَهُۥٓ ءَالُ فِرْعَوْنَ لِيَكُونَ لَهُمْ عَدُوًّا وَحَزَنًا ۗ إِنَّ فِرْعَوْنَ وَهَٰمَٰنَ وَجُنُودَهُمَا
كَانُوا۟ خَٰطِـِٔينَ ۝٨ وَقَالَتِ ٱمْرَأَتُ فِرْعَوْنَ قُرَّتُ عَيْنٍ لِّى وَلَكَ ۖ لَا تَقْتُلُوهُ عَسَىٰٓ أَن يَنفَعَنَآ أَوْ نَتَّخِذَهُۥ وَلَدًا وَهُمْ
لَا يَشْعُرُونَ ۝٩ وَأَصْبَحَ فُؤَادُ أُمِّ مُوسَىٰ فَٰرِغًا ۖ إِن كَادَتْ لَتُبْدِى بِهِۦ لَوْلَآ أَن رَّبَطْنَا عَلَىٰ قَلْبِهَا لِتَكُونَ مِنَ
ٱلْمُؤْمِنِينَ ۝١٠ وَقَالَتْ لِأُخْتِهِۦ قُصِّيهِ ۖ فَبَصُرَتْ بِهِۦ عَن جُنُبٍ وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ۝١١ ۞ وَحَرَّمْنَا عَلَيْهِ ٱلْمَرَاضِعَ
مِن قَبْلُ فَقَالَتْ هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَىٰٓ أَهْلِ بَيْتٍ يَكْفُلُونَهُۥ لَكُمْ وَهُمْ لَهُۥ نَٰصِحُونَ ۝١٢ فَرَدَدْنَٰهُ إِلَىٰٓ أُمِّهِۦ كَىْ تَقَرَّ
عَيْنُهَا وَلَا تَحْزَنَ وَلِتَعْلَمَ أَنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ۝١٣ وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُۥ وَٱسْتَوَىٰٓ
ءَاتَيْنَٰهُ حُكْمًا وَعِلْمًا ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُحْسِنِينَ ۝١٤ وَدَخَلَ ٱلْمَدِينَةَ عَلَىٰ حِينِ غَفْلَةٍ مِّنْ أَهْلِهَا فَوَجَدَ فِيهَا رَجُلَيْنِ
يَقْتَتِلَانِ هَٰذَا مِن شِيعَتِهِۦ وَهَٰذَا مِنْ عَدُوِّهِۦ ۖ فَٱسْتَغَٰثَهُ ٱلَّذِى مِن شِيعَتِهِۦ عَلَى ٱلَّذِى مِنْ عَدُوِّهِۦ فَوَكَزَهُۥ مُوسَىٰ فَقَضَىٰ عَلَيْهِ ۖ قَالَ
هَٰذَا مِنْ عَمَلِ ٱلشَّيْطَٰنِ ۖ إِنَّهُۥ عَدُوٌّ مُّضِلٌّ مُّبِينٌ ۝١٥ قَالَ رَبِّ إِنِّى ظَلَمْتُ نَفْسِى فَٱغْفِرْ لِى فَغَفَرَ لَهُۥٓ ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْغَفُورُ
ٱلرَّحِيمُ ۝١٦ قَالَ رَبِّ بِمَآ أَنْعَمْتَ عَلَىَّ فَلَنْ أَكُونَ ظَهِيرًا لِّلْمُجْرِمِينَ ۝١٧ فَأَصْبَحَ فِى ٱلْمَدِينَةِ خَآئِفًا يَتَرَقَّبُ فَإِذَا ٱلَّذِى
ٱسْتَنصَرَهُۥ بِٱلْأَمْسِ يَسْتَصْرِخُهُۥ ۚ قَالَ لَهُۥ مُوسَىٰٓ إِنَّكَ لَغَوِىٌّ مُّبِينٌ ۝١٨ فَلَمَّآ أَنْ أَرَادَ أَن يَبْطِشَ بِٱلَّذِى هُوَ عَدُوٌّ لَّهُمَا قَالَ
يَٰمُوسَىٰٓ أَتُرِيدُ أَن تَقْتُلَنِى كَمَا قَتَلْتَ نَفْسًۢا بِٱلْأَمْسِ ۖ إِن تُرِيدُ إِلَّآ أَن تَكُونَ جَبَّارًا فِى ٱلْأَرْضِ وَمَا تُرِيدُ أَن تَكُونَ مِنَ ٱلْمُصْلِحِينَ
۝١٩ ﴾ القصص: ۱ ـ ۱۹

لغتونه:

(شيعا) ټولی اوټولنه (يستحي) ژوندي يې پرېښودی نه يې وژلي (ثمن) موږ احسان کوو (اليم) بحر (المراضع) تی ورکونکي (عن جنب) له ليري ,اواجنبي ته هم له دې سببه وايې چي ليري وي (وکزه) وکزپه سوک

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

وهلوته وايې دلغت علماء وايې چي (وكز) او(لكز) دواړه په يوه معناراځي چي په سينه كي په سوك وهلوته وايې اوچابياويلي چي (وكز) په سينه كي او(لكز) په شاباندي په سوك وهلوته وايې (ظهرا) مرستندوی (يستصرخه) ده ته يې چيغي ناري وهلې (استصراخ) مرسته غوښتلوته وايې اوڅوك چي مرسته غواړي ارومروغږ هم اوچتوي (يطش) په كلكه نيولوته ويل كېږي اومكسور العين اومضموم العين دواړه راځي

تفسير:

﴿ طسٓمٓ ﴾ له مقطعاتو حروفو څخه دی اودقرآن كريم په اعجازباندي تنبيه پكي شته اودې ته اشاره كوي چي دغه په فصاحت اوبيان كي معجزكتاب له همدې توروڅخه جوړشوی دی (۱)﴿ تِلْكَ ءَايَٰتُ ٱلْكِتَٰبِ ٱلْمُبِينِ ﴾ داآيتونه دمبين كتاب دي (هغه چي ښكاره په اعجازاو واضح په تشريع اواحكاموكي دي ﴿ نَتْلُوا۟ عَلَيْكَ مِن نَّبَإِ مُوسَىٰ وَفِرْعَوْنَ بِٱلْحَقِّ ﴾ (لولومو ږ پرتا(ای محمده!) له ځينو خبرو دموسی اوفرعون څخه په حقه (رښتيا) سره) يعني ای محمده! موږپرتاباندي دروح الامين په وسيله مهم خبرونه دموسی اوفرعون لولوچي حق دي باطل پكي نشته رښتيادي دروغ اوشك ورسره ګډنه دي ﴿ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴾ دپاره دهغه قوم چي ايمان راوړي (په قرآن او ورباندي نفع اخلي ، اوس د سركښه فرعون كيسه پيلوي چي ﴿ إِنَّ فِرْعَوْنَ عَلَا فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ بېشكه چي فرعون لويې (تكبر) غوره كړی ووپه ځمكه كي(دمصر) ﴿ وَجَعَلَ أَهْلَهَا شِيَعًا ﴾ اوګرزولی يې وواهل ددغه (مصر)ټولی ټولی (په چوپړوهلواوحكمونوترسره كولوكي) ﴿ يَسْتَضْعِفُ طَآئِفَةً مِّنْهُمْ ﴾ چي ضعيفه (مقهوره) كړي يې وه يوه طائفه له دوی څخه (چي بني اسرائيل وو اوډول ډول عذابونه يې ورڅكل) ﴿ يُذَبِّحُ أَبْنَآءَهُمْ وَيَسْتَحْىِۦ نِسَآءَهُمْ ﴾ وژل به يې زامن ددوی اوژوندي به يې پرېښودې ښځي ددوی (چي دده اونوروقبطيانوچوپړووهي. مفسرين كرام وايې چي دنارينه وو دوژلو سبب داووچي فرعون په خوب كي وليدل چي دبيت المقدس له لوري ستر اور راشي اوپه مصركي قبطيان ټول وسوځي اوبني اسرائيل خوندي پاتي شي نويې له منجمينو(ستورپېژندونكو) څخه وپوښتل اوله كاهنانويې تپوس وكړهغوی ورته وويل چي: په بني اسرائيلوكي يوماشوم زېږېدونكی دی چي ستاپاچهي به دهغه له لاسه زوال مومي اوته به هم هلاكېږي نويې حكم صادركړچي په بني اسرائيلوكي چي نارينه ماشوم زېږي هغه دي ارو مروووژل شي ﴿ إِنَّهُۥ كَانَ مِنَ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴾ بېشكه وو دغه (فرعون) له مفسدانو (جابرانوڅكه يې نودالوهيت دعوی وكړه او(دبني اسرائيلو) نارينه يې وژل اوښځمني يې په چوپړ ګمارلې) ﴿ وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى ٱلَّذِينَ ٱسْتُضْعِفُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ اواراده وكړه موږددې چي احسان كنبېږدوپرهغوكسانوچي

(۱) هغه چي دالبقره سورت په پيل كي موږليكلي ولوله.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

ضعيفان کړی شوي وو په ځمکه (دمصر) کي ؛ چي بني اسرائيل وو نوموړ دوی دفرعون له ظلم اوتېري ځخه ژغورو ﴿ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً ﴾ اوګرزوو موږدوی امامان (دخير وروسته له هغه چي ذليل اوسپک وو. ابن عباس رضی الله عنه وايې چي امامان دخيراوقتاده وايې چي: امامان يعني حاکمان، واليان ﴿ وَنَجْعَلَهُمُ الْوَارِثِينَ ﴾ اوګرزوومورږدوی وارثان (دپاچهي دده چي په هستوګنځيوکي واوسي وروسته له هغه چي قبطيان پکي باداران اوعزتمن وو ﴿ وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِي الْأَرْضِ ﴾ اوچي قدرت ورکړومورږدوی ته په ځمکه (دمصراوشام) کي (چي ددوی په خوښه پکي تصرف کوي بيضاوي وايې چي: تمکين په اصل کي ځای په ځای کولوته وايې، بيايې دتسليط لپاره استعاره کړچي هغه دخپلواکي په معنادی[1] ﴿ وَنُرِيَ فِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَجُنُودَهُمَا مِنْهُم مَّا كَانُوا يَحْذَرُونَ ﴾ اوچي وښيوفرعون اوهامان (وزېرته يې) اونورو قبطيانو) اولښکروددغو دواړوته له دغو(بني اسرائيلونه) هغه چي وو دوی وېرېدل به (ترې چي پاچهي به يې دبنی اسرائيلو ديوماشوم په لاس له مينځه ځي اودوی به هلاکېږي ﴿ وَأَوْحَيْنَا إِلَىٰ أُمِّ مُوسَىٰ أَنْ أَرْضِعِيهِ ﴾ اووحی (الهام) وکړموږ موردموسی ته داسي چي تی ورکوه ته دغه (موسی) ته. ابن عباس رضی الله عنه وايې چي: مرادله وحی ځخه الهام دی اومقاتل وايې چي جبريل عليه السلام ورته دغسي وويل قرطبي وايې چي: دمقاتل په وينادغه وحی اعلام وه الهام نه وه اوپدې دګردواتفاق دی چي هغه (موريې) پيغمبره نه وه بلکه دپرښتې راتلل ورته داسي وولکه چي پرښتې پک، پيس، اوړانده ته خبر ورکړی وي لکه چي په مشهورحديث شريف کي راغلي دي اوهمداسي پرښتې خلګوته خبري کوي خونبيان نه وي اوعمران بن حصين ته هم پرښتې سلام وراچولی وواوهغه پيغمبرنه وو[2] ﴿ فَإِذَا خِفْتِ عَلَيْهِ فَأَلْقِيهِ فِي الْيَمِّ ﴾ نوکله چي ته په ده ووېرېدې پس وغورځوه ته دغه (موسی سره له تابوته) په سيندکي يعني کله چي له فرعونه پرده باندي وېرېدې نوپه صندوق کې يی واچوه اوپه نيل سيندکي يې وغورځوه ﴿ وَلَا تَخَافِي وَلَا تَحْزَنِي ﴾ اومه وېرېږه ته (په هلاکت يې اومه (يې په بېلتون) خواشيني کېږه !) ﴿ إِنَّا رَادُّوهُ إِلَيْكِ وَجَاعِلُوهُ مِنَ الْمُرْسَلِينَ ﴾ بېشکه موږبيرته راوستونکي يوددغه (موسی) تاته (او(بيا) ګرزونکي يوددغه (موسی) له پيغمبرانو(چي دغه سرکښه فرعون ته يې ورواستوو ترڅو بني اسرائيل دده له شرځخه وژغوري) ﴿ فَالْتَقَطَهُ آلُ فِرْعَوْنَ لِيَكُونَ لَهُمْ عَدُوًّا وَحَزَنًا ﴾ پس وموندده غه (تابوت دموسی) کورنۍ دفرعون دپاره ددې چي شي دغو(فرعونيانو) ته دښمن او(سبب) دغمګيني. قرطبي وايې چي لام په (ليکون)کي لام دعاقبت دی اودغه ته (لام الصيرورة) هم ويل کېږي ځکه دوی خوددې لپاره واخيست چي دسترګويخ والی اود نېکمرغي سبب شي خوهغه يې دښمن اودغم سبب شو نوذکردحال په مآل دی ﴿ إِنَّ فِرْعَوْنَ وَهَامَانَ

---

(١) البيضاوي ٢/ ٨٨

(٢) القرطبي ١٣/ ٢٥٠

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

وَجُنُودَهُمَا كَانُوا خَاطِئِينَ ﴾ بېشکه چي فرعون اوهامان او لښکري ددوی دواړودا (ټول) خطاکاران وو. (خاطئ) هغه چاته وايې چي په قصد ګناه وکړي او (مخطئ) بیاهغه ته وايې چي بې له قصده ګناه ورڅخه صادره شي ﴿ وَقَالَتِ امْرَأَتُ فِرْعَوْنَ قُرَّتُ عَيْنٍ لِّي وَلَكَ ﴾ او وویل ښځي دفرعون (فرعون ته چي دغه هلک) یخوالی دسترګودی مااوتاته. طبري وايې چي کله هغې دغه وینا وکړه نوفرعون ورته وویل چي: ستا لپاره هوکي، اوزمالپاره دسترګویخوالی نه دی (١) ابن عباس رضی الله عنه وايې: که چېري یې یې ویلي وای چي زمالپاره هم دی نوبه الله هدایت ورته کړی اوایمان به یې راوړی وای مګرخوهغه ونه منله ﴿ لَا تَقْتُلُوهُ ﴾ مه وژنئ دغه (هلک) هغې دجمعي په کلمه فرعون ته خطاب وکړلکه چي جبابره کسانوته تعظیماًهمداسي خطاب کېږي ترڅویې غوښتنه ومنل شي ﴿ عَسَىٰ أَن يَنفَعَنَا أَوْ نَتَّخِذَهُ وَلَدًا ﴾ ښايي چي موږ ته به ګټه راورسوي (په بوډاتوب کي) اویابه دی (په) زوی ونیسو (متبنی) مفسرین کرام وايې: چي دهغې اولادنه کېدونویې موسی له فرعون څخه وغوښت اوهغه ورکړ الله فرمايې ﴿ وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴾ حال داچي دوی نه پوهېدل (چي هلاک دفرعون اودهغه دتالی ځتوبه دده په لاس وي ﴿ وَأَصْبَحَ فُؤَادُ أُمِّ مُوسَىٰ فَارِغًا ﴾ اووګرزېدوزړه دموردموسی تش (له هرڅه چي په دنیاکي دې پرته له موسی) (٢) اوځینوویلي چي دهغې زړه له دې غمه چي زوی یې دفرعون په لاس کېووت له صبره تش شواوعقل یې والوت ﴿ إِن كَادَتْ لَتُبْدِي بِهِ ﴾ بېشکه چي نژدې وه چي اظهاروکړي په دې (موسی سره چي زوی مي دی) ابن عباس رضی الله عنه وايې: نژدې ووچي کله خبره شوه زوی یې دفرعون په لاس کېوتلی داسي چېغي ئارې دي ووهي چي: های زمازویه! ﴿ لَوْلَا أَن رَّبَطْنَا عَلَىٰ قَلْبِهَا ﴾ که چېري موږمحکم کړی نه وای (صبراوزغم) پرزړه ددې ﴿ لِتَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴾ چي شي داله باورکونکو (په وعده دالله چي بیرته به یې دې ته راستنوي) ﴿ وَقَالَتْ لِأُخْتِهِ قُصِّيهِ ﴾ اوویل (مور دموسی) خورددغه (موسی) ته چي څه برابره ورپسې (دورور حال دې راوړه!) مجاهدوايي: معنادا چي دهغه لټه وکړه ویې ګوره چي څه ورباندي کوي؟ ﴿ فَبَصُرَتْ بِهِ عَن جُنُبٍ وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴾ پس کتل به یې دغه (موسی ته له لیري ځایه حال داچي دوی به نه پوهېدل (په دې چي دغه یې خورده اوحال یې اخلي ځکه هغه دسیندپه غاړه روانه وه څوصندوق د فرعون انګړته دننه شو هغې څارل) ﴿ وَحَرَّمْنَا عَلَيْهِ الْمَرَاضِعَ مِن قَبْلُ ﴾ اومنع کړی وومو ږپردغه (موسی تی رودل د) دایه ګانو (هغه چي ده ته یې راغوښتي وې) ترپخوا (له راتګه دموریې) مفسرین کرام وايې: څو ورځي وشوې چي کومه تی ورکونکي به یې

---

(١) الطبري.

(٢) دغه دابن عباس، مجاهد، ضحاک اوجمهورو وینا ده اودوهم قول قرطبي راوړی چي ابن قاسم له مالک څخه اخیستی اوښايي چي هغه زیات څرګندوي.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

راوستله ده به تی نه رودل نوپردوی دغه ګرانه شوه اوله قصرڅخه بهرېې دتي ورکونکو مېرمنولتونه پیل کړه نوبې دده خورولیده ﴿ فَقَالَتْ هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَىٰٓ أَهْلِ بَيْتٍ يَكْفُلُونَهُۥ لَكُمْ ﴾ نوورویل (خوردموسی) آیاخبرکړم زه تاسي په اهل دداسي کاله چي واخلي وساتي داهلک تاسي ته ﴿ وَهُمْ لَهُۥ نَٰصِحُونَ ﴾ اودوی به ده ته له خیر غوښتونکو وي (په تي ورکولواوروزنه کي. سدي وايې چي دوی ته يې دموسی مور وروښودله اوهغه يې راوستله ماشوم دفرعون په غیږکي ووچي ژړل يې تی يې غوښتل اوفرعون يې آرامولوهڅه کوله خوکله چي يې دخپلي مور بوی ورباندي ولګېدوځان يې ورپوري ونښلاوو اوتی رودل يې پیل کړل فرعون ورته وویل: ته څوک يې چي دهیچاتی يې نه رودل اوستاتي روي؟ هغې په ځواب کي ورته وویل: زه یوه داسي مېرمن یم چي پاکیزه بوی اوشیدې لرم هرهلک چي زه تی ورکولوته راوبولم هغه منع نه کوي نوبې دې ته ورکړ اوهغه هم سمدستي خپل کورته راستنه شوه دفرعون له خپلوانوهیڅوک پاتي نشول مګرهغې ته يې سوغات او تحفه ورکړه ملغلري يې ورته ډالۍ کړې همدغه دالله ویناده چي فرمايې: ﴿ فَرَدَدْنَٰهُ إِلَىٰٓ أُمِّهِۦ كَىْ تَقَرَّ عَيْنُهَا وَلَا تَحْزَنَ ﴾ پس بیرته راووست موږدغه (موسی) خپلې مورته دپاره ددې چي یخي (اورنې) شي سترګي ددې اوچي نشي غم جنه (په بېلتون يې لکه چي موږ ورسره ژمنه اووعده کړي وه) ﴿ وَلِتَعْلَمَ أَنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ ﴾ اولپاره ددې چي وپوهېږي پدې چي دالله وعده حقه ده (چي بیرته يې راستنوي اودفرعون له شرڅخه يې ژغوري) ﴿ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ ولیکن اکثرد دوی پردې نه پوهېږي (چي حقه ده اومترددوي) ﴿ وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُۥ وَٱسْتَوَىٰٓ ﴾ اوکله چي ورسېدوموسی زور (قوت دځواني خپلي ته) اوبرابرشو (عقل دده اوپوهه يې) مجاهدوايې چي دغه دځلوېښت کلني عمردی ﴿ ءَاتَيْنَٰهُ حُكْمًا وَعِلْمًا ﴾ نوورکړموږده ته حکمت (نبوت) اوعلم (پوهه) په دین کي ﴿ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُحْسِنِينَ ﴾ اوهم داسي جزاورکوومو ږنېکي کونکوته (په نېکي ددوی باندي لکه چي په موسی اوموريې موږمهرباني وکړه) ﴿ وَدَخَلَ ٱلْمَدِينَةَ عَلَىٰ حِينِ غَفْلَةٍ مِّنْ أَهْلِهَا ﴾ اوننوت موسی ښار (د مصر) ته په وخت دغفلت (قیلولې) تکندي غرمې) داهل دهغه کي ﴿ فَوَجَدَ فِيهَا رَجُلَيْنِ يَقْتَتِلَانِ هَٰذَا مِن شِيعَتِهِۦ وَهَٰذَا مِنْ عَدُوِّهِۦ ﴾ پس ويې موندل په دغه (ښار) کي دوه سړي چي جګړه يې سره کوله دغه یوله تابعانوددغه (موسی) وواوهغه بل له دښمنانوددغه (موسی) وو (یوسبطي اوبل قبطي وو) ﴿ فَٱسْتَغَٰثَهُ ٱلَّذِى مِن شِيعَتِهِۦ عَلَى ٱلَّذِى مِنْ عَدُوِّهِۦ ﴾ پس مرسته وغوښته دغه چي له تابعانودده ووپه هغه (قبطي) چي له دښمنانوددغه (موسی) وو (چي شریي ځني دفع کړي) ﴿ فَوَكَزَهُۥ مُوسَىٰ فَقَضَىٰ عَلَيْهِ ﴾ پس په سوک وواهوموسی هغه (قبطي) لره پس ويې واژه هغه. قرطبي وايې چي: موسی دده دوژلواراده نلرله هغه يې پوري وهل خودغه سوک مرګونی شو[1] ﴿ قَالَ هَٰذَا مِنْ عَمَلِ ٱلشَّيْطَٰنِ ﴾ وویل: (موسی) چي

---

[1] القرطبي ١٣/ ٣٦١

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

دغه کارله عمله د شیطان دی (ځکه هغه زماغضب اوغصه راوپاروله اومابیادغه قبطي په سوک وواهو ﴿ إِنَّهُۥ عَدُوٌّ مُّضِلٌّ مُّبِينٌ ﴾ بېشکه چي دغه (شیطان) دښمن دی (دانسانانو ښویونکی ښکاره دی (چي له سمي لاري بنیادمان اړوي. صاوي وايې چي: نسبت يې پدې شیطان ته وکړچي ده ته معلومه شوه چي دغه وژل خوښه کارونشوځکه فتنې ځینی پېښېږي اوشیطان په فتنو خوشحاله کېږي ځکه نو پخپله دې کړن چاره پښېمانه شو(١)﴿ قَالَ رَبِّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي فَاغْفِرْ لِي فَغَفَرَ لَهُۥٓ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴾ وویل(موسی) ای زماربه بېشکه زه چي یم ظلم مي کړی دی په ځان خپل(په وژلوددغه قبطي) پس مغفرت وکړه ماته ددغه ګناه زما)پس مغفرت وکړ(الله) دغه (موسی) ته بېشکه چي الله همدی دی خامخابښه ښښونکی (دګناهونو) ډېررحم والا(په بندګانو) ﴿ قَالَ رَبِّ بِمَآ أَنْعَمْتَ عَلَيَّ فَلَنْ أَكُونَ ظَهِيرًا لِّلْمُجْرِمِينَ ﴾ وویل: (موسی) ای زماربه په حق دانعام، احسان (ستا) پرما(چي جاه او عزت دي راکړ) پس له سره به هیچېري نشم مددګارلپاره دګناهګارانو(٢)داهغه معاهده اوترون دی چي موسی علیه السلام يې له خپل پرودګارسره کوي چابیاویلي چي دغه قسم اولوړه ده مګرهغه کمزوری او ضعیف قول دی ﴿ فَأَصْبَحَ فِي ٱلْمَدِينَةِ خَآئِفًا يَتَرَقَّبُ ﴾ پس صباپاڅېدو(وګرزېدوموسی) په دغه ښارکي (چي قبطي يې پکي وژلی وو) په داسي حال کي چي وېروېدونکی وو(پرځان خپل اودبدو عواقبوانتظاريې کاووچي یوڅوک به يې په همدې ګناه ونیسي) ﴿ فَإِذَا ٱلَّذِي ٱسْتَنصَرَهُۥ بِٱلْأَمْسِ يَسْتَصْرِخُهُۥ ﴾ پس ناڅاپه هغه (اسرائیلي) چي مددیې غوښتی ووله دغه (موسی) څخه پرون اوس بیا ناري وهي دغه (موسی) ته اومرسته ترې غواړي چي له دښمن څخه يې وژغوري ﴿ قَالَ لَهُۥ مُوسَىٰٓ إِنَّكَ لَغَوِيٌّ مُّبِينٌ ﴾ پس وویل(موسی) دغه اسرائیلي ته) چي بېشکه ته خامخابښکاره بې لاري يې (زه پرون ستاله لاسه په قتل واوښتم نن بیاغواړې په بله لانجه مي واړوې) ﴿ فَلَمَّآ أَنْ أَرَادَ أَن يَبْطِشَ بِٱلَّذِي هُوَ عَدُوٌّ لَّهُمَا ﴾ پس کله چي اراده وکړه (موسی) چي ونیسي (قبطي) هغه چي وودښمن ددغو دواړو(دموسی اواسرائیلي) ﴿ قَالَ يَٰمُوسَىٰٓ أَتُرِيدُ أَن تَقْتُلَنِي كَمَا قَتَلْتَ نَفْسًۢا بِٱلْأَمْسِ ﴾ نوویل يې: ای موسی! آیااراده لرې ددې چي ووژنې ما(نن) لکه چي وژلی دی وویوتن (قبطي) پرون(٣)﴿ إِن تُرِيدُ إِلَّآ أَن تَكُونَ جَبَّارًا فِي ٱلْأَرْضِ وَمَا تُرِيدُ أَن تَكُونَ مِنَ ٱلْمُصْلِحِينَ ﴾ اراده نلرې ته (دهیڅ شي مګرددې چي شې (ای موسی) زورورپه ځمکه (دمصر) کي اواراده نلرې چي شې ته له اصلاح کونکوڅخه (دخلکوترمینځ).

بلاغت:

---

(١) حاشیة الصاوي علی الجلالین ٣ / ١١٢

(٢) امام رازي وايې چي په آیت شریف کي دادلیل شته چي دظالمانومرسته کول روانه دي

(٣) څرګنده خبره داده چي دغه دي دقبطي ویناوي ځکه داسي ویناچي ﴿ إِن تُرِيدُ إِلَّآ أَن تَكُونَ جَبَّارًا فِي ٱلْأَرْضِ ﴾ له مسلمان اسرائیلي څخه نه صادرېږي

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

پدې آیتونوکي چې دبدیع اوبیان کومې ښکلاوې شته لنډیزیې دادی:

١- نژدې ته دلیري اشاره کولوپه بڼه ددې لپاره چې دمرتبې لوړوالی یې څرګندشي لکه چې فرمایې ﴿ تِلْكَ ءَايَٰتُ ٱلْقُرْءَانِ وَكِتَابٍ مُّبِينٍ ﴾.

٢- تېرحالت حکایت کول په ذهن کې داستحضارلپاره لکه داچې: ﴿ وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ ﴾.

٣- اسمیه جمله په فعلیه باندې ددې لپاره غوره کول چې هغه ثبوت اواستمرارافاده کوي لکه په دې آیت کې چې ﴿ إِنَّا رَآدُّوهُ إِلَيْكِ وَجَاعِلُوهُ مِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴾ داسې یې ونه فرمایل چې (ونجعله رسولا) ترڅودزېرې اوبشارت په هکله اعتناء اوپاملرنه وشي.

٤- استعاره چې پدې کلام کې شته ﴿ لَوْلَآ أَن رَّبَطْنَا عَلَىٰ قَلْبِهَا ﴾ دلته یې هغه صبرچې پدې ګډه کې یې اچولی وله یوداسې څېزسره چې په خوښې پرېښودلویې سړی له ضائع کېدلووېرېږي له تړلوسره مشابه کړاودصبرلپاره یې تړل استعاره کړل.

٥- دتعظیم صیغه هلته چې وایې: ﴿ لَا تَقْتُلُوهُ ﴾ پدې کلمه له فرعون سره مخاطبه کېږي اوداسې یې ورته ونه ویل چې (لاتقتله) ترڅوتعظیم یې پرځای کړي.

٦- دمبالغې صیغې لکه (جبار، غوي، مبین،) ﴿ جَبَّارًا ....لَغَوِيٌّ .... مُّبِينٌ ﴾ چې فعال اوفعیل مبالغې صیغې دي.

٧- معنوي طباق لکه ﴿ جَبَّارًا فِي ٱلْأَرْضِ وَمَا تُرِيدُ أَن تَكُونَ مِنَ ٱلْمُصْلِحِينَ ﴾ څکه چې جبارمفسد، مخرب اووینې تویونکي وژونکي ته وایې او پدې کې معنوي طباق شته

٨- استعطاف (په رحم توجه راړول) لکه د ﴿ فَلَنْ أَكُونَ ظَهِيرًا لِّلْمُجْرِمِينَ ﴾ په آیت شریف کې چې راغلې ده

٩- دفواصلوتوافق چې په ډېروآیتونوکي راغلی دی لکه داچې: ﴿ وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ....وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ اودغه هم له بدیعي محسناتو څخه ګڼل کېږي.

لطیفه:

علامه قرطبي له اصمعي څخه روایت کوي چې یوه کوچې نجلۍ مې ولیدله چې دغه بیتونه یې ویل: استغفرالله لذنبی کله * قتلت انسانًابغیرحله * مثل الغزال ناعمًابدله * انتصف اللین ولم أصله)ماورته وویل: الله دې مړه کړه څومره فصاحت لرې؟ هغې راته ویل: افسوس دې پرتاوې آیادې ته هم فصاحت ویلای شي فصاحت خودالله په کلام کې دی چې فرمایې ﴿ وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰٓ أُمِّ مُوسَىٰٓ أَنْ أَرْضِعِيهِ فَإِذَا خِفْتِ عَلَيْهِ فَأَلْقِيهِ فِي ٱلْيَمِّ وَلَا تَخَافِي وَلَا تَحْزَنِيٓ إِنَّا رَآدُّوهُ إِلَيْكِ وَجَاعِلُوهُ مِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴾ چې په یوه آیت شریف کې دوه امرونه، دوې نهې، دوه خبرې، اودوه، زېرې یې راوړې دي(١)

(١) القرطبي ١٣/٢٥٢

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

الله تعالى فرمايي:

﴿ وَجَآءَ رَجُلٌ مِّنْ أَقْصَا ٱلْمَدِينَةِ يَسْعَىٰ قَالَ يَٰمُوسَىٰٓ إِنَّ ٱلْمَلَأَ يَأْتَمِرُونَ بِكَ لِيَقْتُلُوكَ فَٱخْرُجْ إِنِّى لَكَ مِنَ
ٱلنَّٰصِحِينَ ﴿٢٠﴾ فَخَرَجَ مِنْهَا خَآئِفًا يَتَرَقَّبُ قَالَ رَبِّ نَجِّنِى مِنَ ٱلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٢١﴾ وَلَمَّا تَوَجَّهَ تِلْقَآءَ مَدْيَنَ قَالَ عَسَىٰ
رَبِّىٓ أَن يَهْدِيَنِى سَوَآءَ ٱلسَّبِيلِ ﴿٢٢﴾ وَلَمَّا وَرَدَ مَآءَ مَدْيَنَ وَجَدَ عَلَيْهِ أُمَّةً مِّنَ ٱلنَّاسِ يَسْقُونَ وَوَجَدَ مِن
دُونِهِمُ ٱمْرَأَتَيْنِ تَذُودَانِ قَالَ مَا خَطْبُكُمَا قَالَتَا لَا نَسْقِى حَتَّىٰ يُصْدِرَ ٱلرِّعَآءُ وَأَبُونَا شَيْخٌ كَبِيرٌ ﴿٢٣﴾ فَسَقَىٰ لَهُمَا
ثُمَّ تَوَلَّىٰٓ إِلَى ٱلظِّلِّ فَقَالَ رَبِّ إِنِّى لِمَآ أَنزَلْتَ إِلَىَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيرٌ ﴿٢٤﴾ فَجَآءَتْهُ إِحْدَىٰهُمَا تَمْشِى عَلَى ٱسْتِحْيَآءٍ قَالَتْ
إِنَّ أَبِى يَدْعُوكَ لِيَجْزِيَكَ أَجْرَ مَا سَقَيْتَ لَنَا فَلَمَّا جَآءَهُۥ وَقَصَّ عَلَيْهِ ٱلْقَصَصَ قَالَ لَا تَخَفْ نَجَوْتَ مِنَ ٱلْقَوْمِ
ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٢٥﴾ قَالَتْ إِحْدَىٰهُمَا يَٰٓأَبَتِ ٱسْتَـْٔجِرْهُ إِنَّ خَيْرَ مَنِ ٱسْتَـْٔجَرْتَ ٱلْقَوِىُّ ٱلْأَمِينُ ﴿٢٦﴾ قَالَ إِنِّىٓ أُرِيدُ أَنْ
أُنكِحَكَ إِحْدَى ٱبْنَتَىَّ هَٰتَيْنِ عَلَىٰٓ أَن تَأْجُرَنِى ثَمَٰنِىَ حِجَجٍ فَإِنْ أَتْمَمْتَ عَشْرًا فَمِنْ عِندِكَ وَمَآ أُرِيدُ أَنْ أَشُقَّ
عَلَيْكَ سَتَجِدُنِىٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٢٧﴾ قَالَ ذَٰلِكَ بَيْنِى وَبَيْنَكَ أَيَّمَا ٱلْأَجَلَيْنِ قَضَيْتُ فَلَا
عُدْوَٰنَ عَلَىَّ وَٱللَّهُ عَلَىٰ مَا نَقُولُ وَكِيلٌ ﴿٢٨﴾ ۞ فَلَمَّا قَضَىٰ مُوسَى ٱلْأَجَلَ وَسَارَ بِأَهْلِهِۦٓ ءَانَسَ مِن جَانِبِ ٱلطُّورِ نَارًا
قَالَ لِأَهْلِهِ ٱمْكُثُوٓا۟ إِنِّىٓ ءَانَسْتُ نَارًا لَّعَلِّىٓ ءَاتِيكُم مِّنْهَا بِخَبَرٍ أَوْ جَذْوَةٍ مِّنَ ٱلنَّارِ لَعَلَّكُمْ تَصْطَلُونَ ﴿٢٩﴾ فَلَمَّآ
أَتَىٰهَا نُودِىَ مِن شَٰطِئِ ٱلْوَادِ ٱلْأَيْمَنِ فِى ٱلْبُقْعَةِ ٱلْمُبَٰرَكَةِ مِنَ ٱلشَّجَرَةِ أَن يَٰمُوسَىٰٓ إِنِّىٓ أَنَا ٱللَّهُ رَبُّ
ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٣٠﴾ وَأَنْ أَلْقِ عَصَاكَ فَلَمَّا رَءَاهَا تَهْتَزُّ كَأَنَّهَا جَآنٌّ وَلَّىٰ مُدْبِرًا وَلَمْ يُعَقِّبْ يَٰمُوسَىٰٓ أَقْبِلْ وَلَا تَخَفْ إِنَّكَ
مِنَ ٱلْءَامِنِينَ ﴿٣١﴾ ٱسْلُكْ يَدَكَ فِى جَيْبِكَ تَخْرُجْ بَيْضَآءَ مِنْ غَيْرِ سُوٓءٍ وَٱضْمُمْ إِلَيْكَ جَنَاحَكَ مِنَ ٱلرَّهْبِ فَذَٰنِكَ
بُرْهَٰنَانِ مِن رَّبِّكَ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَإِيْهِۦٓ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ قَوْمًا فَٰسِقِينَ ﴿٣٢﴾ قَالَ رَبِّ إِنِّى قَتَلْتُ مِنْهُمْ نَفْسًا فَأَخَافُ
أَن يَقْتُلُونِ ﴿٣٣﴾ وَأَخِى هَٰرُونُ هُوَ أَفْصَحُ مِنِّى لِسَانًا فَأَرْسِلْهُ مَعِىَ رِدْءًا يُصَدِّقُنِىٓ إِنِّىٓ أَخَافُ أَن يُكَذِّبُونِ ﴿٣٤﴾
قَالَ سَنَشُدُّ عَضُدَكَ بِأَخِيكَ وَنَجْعَلُ لَكُمَا سُلْطَٰنًا فَلَا يَصِلُونَ إِلَيْكُمَا بِـَٔايَٰتِنَآ أَنتُمَا وَمَنِ ٱتَّبَعَكُمَا ٱلْغَٰلِبُونَ ﴿٣٥﴾
فَلَمَّا جَآءَهُم مُّوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَا بَيِّنَٰتٍ قَالُوا۟ مَا هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّفْتَرًى وَمَا سَمِعْنَا بِهَٰذَا فِىٓ ءَابَآئِنَا ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٣٦﴾ وَقَالَ
مُوسَىٰ رَبِّىٓ أَعْلَمُ بِمَن جَآءَ بِٱلْهُدَىٰ مِنْ عِندِهِۦ وَمَن تَكُونُ لَهُۥ عَٰقِبَةُ ٱلدَّارِ إِنَّهُۥ لَا يُفْلِحُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٣٧﴾ وَقَالَ فِرْعَوْنُ
يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمَلَأُ مَا عَلِمْتُ لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرِى فَأَوْقِدْ لِى يَٰهَٰمَٰنُ عَلَى ٱلطِّينِ فَٱجْعَل لِّى صَرْحًا لَّعَلِّىٓ أَطَّلِعُ إِلَىٰٓ
إِلَٰهِ مُوسَىٰ وَإِنِّى لَأَظُنُّهُۥ مِنَ ٱلْكَٰذِبِينَ ﴿٣٨﴾ وَٱسْتَكْبَرَ هُوَ وَجُنُودُهُۥ فِى ٱلْأَرْضِ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ وَظَنُّوٓا۟ أَنَّهُمْ إِلَيْنَا
لَا يُرْجَعُونَ ﴿٣٩﴾ فَأَخَذْنَٰهُ وَجُنُودَهُۥ فَنَبَذْنَٰهُمْ فِى ٱلْيَمِّ فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤٠﴾

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

وَجَعَلْنَٰهُمْ أَئِمَّةً يَدْعُونَ إِلَى ٱلنَّارِ وَيَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ لَا يُنصَرُونَ ﴿٤١﴾ وَأَتْبَعْنَٰهُمْ فِى هَٰذِهِ ٱلدُّنْيَا لَعْنَةً وَيَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ هُم مِّنَ ٱلْمَقْبُوحِينَ ﴿٤٢﴾ ﴾ القصص: ٢٠ ـ ٤٢

مناسبت:

همداسي آيتونه دموسى عليه السلام كيسه بيانوي په تېروآيتونوكي دهغه دولادت اوتي رودلو دوخت پېښي څېړلي چي څرنګه دفرعون په انګړكي وروزل شوآن تردې چي ځوان زلمى شودبلوغ او پوهي مرحلې ته ورسېدواوبيايې له لاسه ديوفرعوني قتل پېښ شودلته آيتونه دهغه عليه السلام دهجرت كيسه چي څرنګه مدين ته لاړاوهلته يې دحضرت شعيب عليه السلام له لورسره دكوزدې او واده مراسم ترسره شول اوبيرته مصرته دراستنېدلوپه وخت كي دنبوت سوغات وركول شواوبيادده په لاس فرعون هلاک شو بيانوي

لغتونه:

(يأتمرون) مشوره كونكي دي ازهري وايې چي (ائتمرالقوم) ددې معنادادى چي دقوم ځني خلكو ځيني نوروته امرحكم وكړ(تذودان) (ذاد ،يذود)منع كولوته وايې اوشړل يې معنادى (خطبكما) شان ستاسودواړو (الرعآء) د(راعي) جمع اوهغه شپون (شپانه) ته وايې (حجج) دحاء په كسره سره (حجة) اوكال ته وايې (جذوة) لګولى سكروټي (ردأ) مرستندوى جوهري وايې چي ددې كلمې چي (ردأته) معنادادى چي ماورسره مرسته وكړه (المقبوحين) هلاک شوى اوله رحمته ليري شوي كسانوته وايې ياپه صورت كي بدرنګه اونازېباته ويل كېږي لكه چى وايې (قبحه الله) كله چي الله يې سپک كړي.

تفسير:

﴿ وَجَآءَ رَجُلٌ مِّنْ أَقْصَا ٱلْمَدِينَةِ يَسْعَىٰ ﴾ اوراغى يوسړى له آخره دښاره پداسي حال كي چي منډې يې وهلې يعني دفرعون له خپلوانو يوتن چي ايمان يې پټ ساتل دښارله ليري پېځي په منډه منډه راغى.

ابن عباس رضى الله عنه وايې دغه دفرعون له آل څخه يومؤمن وو ﴿ قَالَ يَٰمُوسَىٰٓ إِنَّ ٱلْمَلَأَ يَأْتَمِرُونَ بِكَ لِيَقْتُلُوكَ ﴾ ويې ويل: اى موسى! بېشكه چي مشران ستادوژلوپه هكله مشوره كوي ﴿ فَٱخْرُجْ إِنِّى لَكَ مِنَ ٱلنَّٰصِحِينَ ﴾ پس ووزه ته (له مصره) بېشكه زه يم تاته له نصحيت كونكو(خيرغوښتنونكو) څخه ﴿ فَخَرَجَ مِنْهَا خَآئِفًا يَتَرَقَّبُ ﴾ پس ووت موسى له دغه (مصره څخه) پدې حال كي چي وېرېدونكى ووكتل (څارل به يې هرلوري ته چي وبه نيول شي بيايې الله ته په مناجات اوزاري كولوپيل وكړځكه هغه پوهېدوچي له الله پرته بل دپناه ځاى هډونشته ﴿ قَالَ رَبِّ نَجِّنِى مِنَ ٱلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ وويل(موسى) اى زماربه! ماته نجات راكړه له قومه ظالمانو(چي فرعون اومشران يې مقصدووچي له شرڅخه يې وژغوري ﴿ وَلَمَّا تَوَجَّهَ تِلْقَآءَ مَدْيَنَ ﴾ اوكله چي متوجه شو(موسى) په لوري دمدين (چي دشعيب عليه السلام ښارو) ﴿ قَالَ عَسَىٰ رَبِّىٓ أَن يَهْدِيَنِى سَوَآءَ ٱلسَّبِيلِ ﴾ ويې ويل هيله ده زماله ربه ددې چي وښيي ماته

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

سمه (صافه) لاره (چي مقصودته مي ورسوي) مفسرين كرام وايې چي هغه پرته له كومي توښې اونكولې سورلۍ (مركب) څخه له ښاره راووت اودمصراومدين ترمينځ داتوشواروزو مزل ووهغه پرته له دې چي په الله جل جلاله يې نېک باور وونوره لاره بېخي ورته معلومه نه وه نوالله پرښته راواستوله اولاره يې وروښوده. روايت كېږي كله چي مدين ته ورسېدو دوښوشين والى يې له ډېره ډنكرتوبه په لړمون سربېره معلومېدو څكه هغه گرده لاره دونوپاڼي خوړلې وي ﴿ وَلَمَّا وَرَدَ مَآءَ مَدْيَنَ وَجَدَ عَلَيْهِ أُمَّةً مِّنَ ٱلنَّاسِ يَسْقُونَ ﴾ اوكلُه چي ورسېدو (موسى) اوبودمدين ته نو ويې موندله په هغه كوهي يوه ډله دخلكوچي اوبه يې وركولې (خپلو مېږوپسوته) ﴿ وَوَجَدَ مِن دُونِهِمُ ٱمْرَأَتَيْنِ تَذُودَانِ ﴾ اوله دوى څخه رابيرته يې دوه ښځي وموندلې چي خپلي مېږي يې (له اوبو) رامنع كولې ﴿ قَالَ مَا خَطْبُكُمَا ﴾ نوويل (موسى) دغوښځوته (ستاسي څه حال دئ؟ (چي خپلي گډي له اوبومنع كوي) ﴿ قَالَتَا لَا نَسْقِي حَتَّىٰ يُصْدِرَ ٱلرِّعَآءُ وَأَبُونَا شَيْخٌ كَبِيرٌ ﴾ وويل: هغودواړوچي اوبه نه وركوومو(خپلومېږوته) څوبېرته لاړشي دغه شپانه، اوپلار زموږ ډېرزوړدى چي كاريې له لاسه نه كېږي) يعني زموږعادت دادى چي څوشپانه اورمې يې له دې ځايه ستانه شوي نه وي موږخپلومېږو وزوته اوبه نه وركوونه موله دې زوروروسره وس رسېږي اونه له نارينه وو سره اختلاط اوگډون خوښوو پلارموبوډاسړى دى له ډېري كمزوري پسونه اوبه ولاى نشي له مجبوري څخه يې موږپخپله اوبوو. ابوحيان وايې چي دغه ددوى له لوري موسى عليه السلام ته داوبولوپه هكله خپل عذر وړاندي كول وواوداچي پلارې دپسونوداوبولو توان نلري همداسي دهغه پاملرنه اومهرباني يې هم رااړوله چي ورسره مرسته وكړي(١) ﴿ فَسَقَىٰ لَهُمَا ثُمَّ تَوَلَّىٰٓ إِلَى ٱلظِّلِّ ﴾ پس اوبه كړه موسى له مهرباني رمه) ددغو دواړوبيايې شا وگرزوله (ښځوته اولاړ) سيوري ته ﴿ فَقَالَ رَبِّ إِنِّي لِمَآ أَنزَلْتَ إِلَيَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيرٌ ﴾ نوويې ويل اى زماربه بېشكه زه هرڅيزته چي ويې لېږي ته ماته له خيره محتاج (اړ) يم) يعني اى الله! زه ستافضل اواحسان ته محتاج اواړيم مړه ډوډۍ راكړه چي لوږه پرې ليري كړم زه داهيله لرم سخت وږى شوى وو له الله څخه يې دلوږي دليري كولولپاره خواړه وغوښتل. ضحاک وايې چي اوه ورځي شوي وې چي دخوړوخوندې هم نه ووكتلى اوپه وښو اونباتاتويې گذاره كوله (٢) ابن عباس رضى الله عنه وايې چي موسى عليه السلام له مصرڅخه مدين ته په لاري هيڅ خواړه اوتوښه نه درلوده دونوپاڼي اودځمكي گياه به يې خوړله ييلي (لوڅي) پښې ووكله چي مدين ته ورسېدودپښوتلي يې ولوېدل (اوداهغه دالله نازولى مخلوق ووچي لړمون يې له لوږي له شاسره ننښتى ووخورالوږه يې تېره كړي وه دوښودرنگ شين والى يې په بدن كي څرگندوو يوه ،نيمه خرماته يې لا اړتياوه (٣) ﴿ فَجَآءَتْهُ إِحْدَىٰهُمَا تَمْشِي عَلَى ٱسْتِحْيَآءٍ ﴾ پس راغله دغه (موسى) ته يوه له

---

(١) البحر ٧/ ١١٣

(٢) الرازي ٢٤/ ٢٤٠

(٣) مختصرابن كثير ٣/ ١٠

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

دواړوچي تګ يې کاووپه (طريقه د) حيا. په کلام کي لنډون راغلی يعني دوی دواړه نن خپل پلارته ژر ورغلې اوعادت به يې داووچي نورکله به ځنډېدلې نودغه دسړي مرسته يې ورته بيان کړه نوپلارې يوې ته وويل چي ورشه هغه راوبوله پس راغله.. اوداسي راغله چي داصيلو ښځو حيآء اوسترې درلود خپل مخ يې په ټکري پوښلی وو. عمررضی الله عنه وايې چي: داهسي سپين سترګي وتونکي ننوتونکي نه وې (١)(لم تكن بسلفع من النسآء خرّاجة ولاّجة) ﴿ قَالَتْ إِنَّ أَبِي يَدْعُوكَ لِيَجْزِيَكَ أَجْرَ مَا سَقَيْتَ لَنَا ﴾ نووې ويل دې (موسی ته) چي بېشکه پلارزماتابولي ددې لپاره چي درکړي تاته اجردحق داوبوکولوستا(ګډو) زموږته. ابن کثيروايې چي دغه په خبرو اترو کي دادب مراعاتول دي مطلقاًيې هسي ورته ونه ويل چي زماپلاردي غواړي ترڅوچي په زړه کي يې څه شک اوشبه پيدانشي (٢)﴿ فَلَمَّا جَآءَهُۥ وَقَصَّ عَلَيْهِ ٱلْقَصَصَ قَالَ لَا تَخَفْ نَجَوْتَ مِنَ ٱلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ پس کله چي راغی (موسی عليه السلام (شعيب عليه السلام ته) اوبيان يې کړه (پردغه شعيب) کيسه خپله وويل: (شعيب عليه السلام) موسی عليه السلام ته مه وېرېږه چي نجات دي وموند له قومه ظالمانو(فرعونيانو) نه ؛ دلته دفرعون پاچهي نشته ته اوس دامان په ښارکي اوسې ﴿ قَالَتْ إِحْدَىٰهُمَا يَٰٓأَبَتِ ٱسْتَـْٔجِرْهُ ﴾ وويل يوې له دغودواړواى زماپلاره دی مزدورکړه (لپاره دشپني اورمې اوبولو) ﴿ إِنَّ خَيْرَ مَنِ ٱسْتَـْٔجَرْتَ ٱلْقَوِىُّ ٱلْأَمِينُ ﴾ بېشکه چي غوره دهرهغه چاچي مزدوريې نيسې هغه څوک دی چي قوتناک اوامانتکروي ابوحيان وايې چي ددې ويناډېره حکيمانه اوبشپړه ده ځکه کله چي قوت اوامانت دواړه په کوم چارواکي کي يوځای شي نومقصدترسره شو(٣) روايت کېږي چی شعيب عليه السلام له هغې څخه وپوښتل چي دده قوت اوامانت څرنګه درته معلوم شول هغې ورته ويل: چي هغه تېره چي لس تنه يې په متې پورته کولای شي ده يوازي پورته کړه اوکله چي زه ورسره رارهي وم زه يې دمخه وم راته ويل چي ته زماله شاپسي رادرومه اولاره راوښيه اوکله چي ورته راغلم ښکته يې کتل اوماته يې نه کتلونودلته شعيب عليه السلام دخپلولونودورکولولپاره رغبت پيداکړ ﴿ قَالَ إِنِّىٓ أُرِيدُ أَنْ أُنكِحَكَ إِحْدَى ٱبْنَتَىَّ هَٰتَيْنِ ﴾ وويل: (شعيب موسی ته) بېشکه زه غواړم داچي په نکاح درکړم تاته يوه له دغودوولونوخپلو، (مشره ياکشره) ﴿ عَلَىٰٓ أَن تَأْجُرَنِى ثَمَٰنِىَ حِجَجٍ ﴾ پدې چي مزدوري وکړې ته زمالپاره اته کاله (مېږي وزې راته څروې)﴿ فَإِنْ أَتْمَمْتَ عَشْرًا ﴾ پس که پوره کړوتالس کاله ﴿ فَمِنْ عِندِكَ ﴾ نوهغه به ستاله طرفه (احسان) وي زموږله خوادرباندی لزوم نشته ﴿ وَمَآ أُرِيدُ أَنْ أَشُقَّ عَلَيْكَ ﴾ اوزه اراده نلرم چي پرتامشقت واچوم (چي لس کاله درباندي وتړم) ﴿ سَتَجِدُنِىٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴾ ژربه ته

---

(١) الطبري ٢٠/ ٣٩
(٢) ابن کثير ٣/ ١١
(٣) البحر ٧/ ١١٤

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

ماومومې که دالله اراده وه له صالحانو (نېکانوچې په وعده وفاکونکی نرم خویه اوښه معامله کونکی یم) قرطبي وايې چې په آیت شریف کې ددې دلیل شته چې دلورپلاراوولي کولای شي خپله لوردنکاح کولولپاره یوچاته وړاندیز کړي لکه چې حضرت شعیب علیه السلام موسی علیه السلام ته اوعمر رضی الله عنه خپله لور حفصه ابوبکر اوعثمان ته وړاندیزکړه اویوې مېرمني خپل ځان رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وباښونوله ښیګنو څخه داده چې سړی خپله خور اولورنېکانوته عرض کړي اوپه سلف صالحینوپسې اقتداء وکړي (١) ﴿ قَالَ ذَٰلِكَ بَيْنِي وَبَيْنَكَ أَيَّمَا الْأَجَلَيْنِ قَضَيْتُ فَلَا عُدْوَانَ عَلَيَّ ﴾ وویل (موسی شعیب ته) چې همدا (عهد) مقررشوپه مینځ زما اوستاکې چې هره یوه له دې دواړو نېټو(چې اته، یالس کاله ده چې) کله بشپړه کړه پرمابه زیادت نه وي ﴿ وَاللَّهُ عَلَىٰ مَا نَقُولُ وَكِيلٌ ﴾ اوالله پردغه چې موږ یې وایو (تعهدکوو اوترون وشو) شاهدساتونکی دی ﴿ فَلَمَّا قَضَىٰ مُوسَى الْأَجَلَ ﴾ پس کله چې پوره کړه موسی نېټه خپله دهغه چې پرې اتفاق شوی وو؛ ابن عباس رضی الله عنه وایې :چې هغه بشپړه اولویه نېټه یې سرته ورسوله چې لس کاله وو ﴿ وَسَارَ بِأَهْلِهِ ﴾ اورهي شوسره له خپله عیاله (مېرمني مسافردمصرپه لور) ﴿ آنَسَ مِن جَانِبِ الطُّورِ نَارًا ﴾ ولید(موسی) له لوري (دغره) دطوریو اور(چې ځلېږي ﴿ قَالَ لِأَهْلِهِ امْكُثُوا إِنِّي آنَسْتُ نَارًا ﴾ ویې ویل: خپل اهل ته چې مداروکړئ تاسي (دلته) بېشکه مایواور ولید. مفسرین کرام وایې: سخته دیخني شپه وه لاره ترې ورکه وه طوفاني سېلۍ اوبادچلېدو رمه یې تیت اوپرک شوه مېرمني یې دلنګون دردونه ګالل چې موسی علیه السلام دغه اورله لیري ولیدنو هلته ورغی چې ﴿ لَعَلِّي آتِيكُم مِّنْهَا بِخَبَرٍ ﴾ ښایې مالره داچې راتله وکړم تاسي ته له دې اوره په خبردلاري ورکي (له یوچاڅخه) ﴿ أَوْ جَذْوَةٍ مِّنَ النَّارِ لَعَلَّكُمْ تَصْطَلُونَ ﴾ یاپه بڅري (سکروټي شغلې) له هغه اوره لپاره ددې چې (تاسي) پرې تاوده شی! ﴿ فَلَمَّا أَتَاهَا نُودِيَ مِن شَاطِئِ الْوَادِ الْأَيْمَنِ فِي الْبُقْعَةِ الْمُبَارَكَةِ مِنَ الشَّجَرَةِ ﴾ پس کله چې (موسی) دغه اورته راغی نوغږ وکړشو (ورته) له غاړې دهغې کندي چې دموسی په ښي اړخ کې وه(دغه غاړه وه) په هغه ټوټه مبارکه کړی شوي کې له هغې ونې ﴿ أَن يَا مُوسَىٰ إِنِّي أَنَا اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ ﴾ (داسي چې ای موسی بېشکه زه هم دازه الله رب دعالمیانویم) یعني ورته غږکړشوچې ای موسی له تاسره خطاب اوکلام درب العالمین دی هغه چې دنقص اوعیب له ګردوصفاتوڅخه پاک دی دانسانانو اوپېریانانواوټولو مخلوقاتو پالونکی دی ﴿ وَأَنْ أَلْقِ عَصَاكَ ﴾ (اوبل داچې وغورځوه همساخپله(چې په لاس کې دې ده) ﴿ فَلَمَّا رَآهَا تَهْتَزُّ كَأَنَّهَا جَانٌّ وَلَّىٰ مُدْبِرًا وَلَمْ يُعَقِّبْ ﴾ (پس ویې غورځوله) نوکله چې یې ولیده چې خوځېدله یومارټوپ وهونکی دی نویې شاکړه مخ یې واړاوو پداسي حال کې چې تښتېدونکی وو(له وېرې) بیرته نه راوګرزېدو.

---

(١) القرطبي ١٣/ ٣٧١

ابن کثیروایې چې له همساڅخه داسې مارجوړشوته به واپېرې دی له ډېرلوی وجود سره سره ډېرګړندی روان ووستره خوله یې درلوده ، غاښونه اوداړې یې یوله بله لګېدلې غټې تېرې به یې ترستونې تېرولې اوپه وازکومې چې به یې تېرولې ته به واپه کنده کې رغړې نوپدې وخت کې موسی علیه السلام شاوروارولهاوله وېرې ځنې رهې شوځکه دغه دبشري طبیعت فطرت دی(١) ﴿ يَٰمُوسَىٰٓ أَقۡبِلۡ وَلَا تَخَفۡۖ إِنَّكَ إِنَّكَ مِنَ ٱلۡأٓمِنِينَ ﴾ (بیاالله غږپرې وکړ) ای موسی مخ راواړوه او مه ویریږه ته له آمنینو څخه یې (نوهغه راوګرزېدو او لاس یې دمارپه خوله کې کښېښودچې هغه بیرته همساشو) ﴿ ٱسۡلُكۡ يَدَكَ فِي جَيۡبِكَ تَخۡرُجۡ بَيۡضَآءَ مِنۡ غَيۡرِ سُوٓءٖ ﴾ ننې باسه (ښی) لاس دې خپل ګرېوان کې (بیایې راوباسه) حال داچې راوزې به تک سپین (لکه دسپوږمۍ) ټوټه) بې له کوم عیب ، بدې ، ناجوړې ﴿ وَٱضۡمُمۡ إِلَيۡكَ جَنَاحَكَ مِنَ ٱلرَّهۡبِۖ ﴾ اوپیوست کړه (سینې) خپلې ته څنګ (لاس) دې له جهته دوېرې: ابن عباس رضی الله عنه وایې: معناداچې لاس دې تخرګ سینې ته نژدې کړه چې وېره دې لیرې شي . مفسرین کرام وایې: چې مرادله وزر(جناح) څخه لاس دی ځکه دانسان لاسونه دمرغانودوزروپه شان دې اوکله چې ښی لاس په چپ تخرګ کې دننه کړې نو وزریې پیوسته کړاوپدې سره دماروېره اودبل هرڅه وېره ولاړه ترې تم او ورکه شوه ﴿ فَذَٰنِكَ بُرۡهَٰنَانِ مِن رَّبِّكَ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ وَمَلَإِيْهِۦٓۚ ﴾ نودغه دواړه (عصااویدبیضآء) دوه برهانه (کوټلې دلائل) اوسندونه دې چې ستاپه رښتنولې) رانازل شوې له لورې درب ستاطرف دفرعون اوقوم دده ته (هغه مشرانوسرغړونکوکبرجنوکسانوته) ﴿ إِنَّهُمۡ كَانُواْ قَوۡمٗا فَٰسِقِينَ ﴾ بېشکه چې دوی دې قوم فاسقان(وتلې له طاعت دالله نه اومخالف له حکمه دهغه څخه) ﴿ قَالَ رَبِّ إِنِّي قَتَلۡتُ مِنۡهُمۡ نَفۡسٗا فَأَخَافُ أَن يَقۡتُلُونِِ ﴾ وویل(موسی) ای زماربه بېشکه ماله دغوقبطیانوڅخه یوتن وژلی دی پس وېرېږم چې دوی به ماووژني) (دهغه په قصاص کې) مفسرین کرام وایې چې مرادله دغه مړې څخه هغه قبطي دی چې موسی علیه السلام په سوک وواهواومړشونودلته له الله څخه غواړې چې نورقوت ورکړې اودفرعون دمقابلې لپاره یې هارون علیه السلام ورورهم ورسره واستوې ﴿ وَأَخِي هَٰرُونُ هُوَ أَفۡصَحُ

---

(١) شهید سید قطب رحمه الله وایې: چې موسی دخپل مولاپه امرهمساوغورځوله څه پېښه شوه؟ نورنوهغه همسانه وه چې دېروخت یې ګرزولې وه اوپېژندله یې هغه اوس ښاماردی چې چسپانده تاوېږې لکه واړه ماران غوندې سره له دې چې خوراغټ دی دایوناڅاپه پېښه ده چې موسی علیه السلام ورته تیاری نه دی نیولی نوځکه یې ورته شاکړه اوراستون نه شو ددې سوچ یې نه کاووچې دغه ستره عجیبه پېښه وڅېړې چې الله ته یې غوږشو ﴿ يَٰمُوسَىٰٓ أَقۡبِلۡ وَلَا تَخَفۡۖ إِنَّكَ مِنَ ٱلۡأٓمِنِينَ ﴾ اوهغه څوک به ولې په امن نه وي چې دالله سترګې اورحمت یې ځاري اوبل ځل ورته غږراځي چې ﴿ ٱسۡلُكۡ يَدَكَ فِي جَيۡبِكَ تَخۡرُجۡ بَيۡضَآءَ مِنۡ غَيۡرِ سُوٓءٖ ﴾ اوموسی دحکم مننه کوي لاس په ګرېوان کې دننه کوي اوچې کله یې رابهرکړې په یوه شېبه کې بله ناڅاپې پېښه وینې چې لاس یې خلېږې هغه چې پخواغنم رنګه وودغه دحق ځلااورونښانه معجزه ښکاري.
فی ظلال القرآن

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

مِنِّي لِسَانًا ﴾ اوزما ورورهارون هغه له ماڅه پرفصيح دی له جهته دژبي (ځکه چي دموسی عليه السلام په ژبه کي لکنت ووچي په ماشومتوب کي يې سکروټه خولې ته اچولي وه ﴿ فَأَرْسِلْهُ مَعِيَ رِدْءًا يُصَدِّقُنِيٓ ﴾ (پس ولېږه هغه هم له ماسره يارمددګارچي زماتصديق کوي) يعني هغه زما مرستندوی راسره واستوه چي زماخبري دوی ته بيان کړي اودلائل ورباندي تېرکړي ﴿ إِنِّيٓ أَخَافُ أَن يُكَذِّبُونِ ﴾ بېشکه زه په دې وېرېږم چي دوی به مادروغجن کړي ؛ ځکه دوی به زماپه خبرونه پوهېږي . امام رازي رحمه الله وايې معناداچي : زماورور هارون له ماسره مرسته کونکی واستوه چي زمادبيان اودليل څرګندونه وکړي دايې مقصدنه دی چي زه څه وايم اودی ووايې چي ته رښتياوايې اوياخلګوته ووايې چي موسی رښتياوايې بلکه مطلب يې دادی چي دهغه ژبه ښه چلېږي چي په فصيحه اوبليغه ژبه ورته زمادلائل ووايې اومرام روښانه کړي ددوی دشبهاتوځواب ووايې اوله کفاروسره بحث وکړي (١)﴿ قَالَ سَنَشُدُّ عَضُدَكَ بِأَخِيكَ وَنَجْعَلُ لَكُمَا سُلْطَٰنًا ﴾ وفرمايل: (الله) ژربه قوي کړوموږستامټ ستاپه ورور اوموږبه تاسي ته غلبه درکړو (پردښمنانوستاسي) ﴿ فَلَا يَصِلُونَ إِلَيْكُمَا بِـَٔايَٰتِنَآ ﴾ پس وبه نه رسېږي دوی تاسي دواړوته (په ضرر رسولو) په سبب دمعجزوزموږ (چي څرګندي دي) ﴿ أَنتُمَا وَمَنِ ٱتَّبَعَكُمَا ٱلْغَٰلِبُونَ ﴾ (تاسي دواړه اوهغه څوک چي متابعت وکړي ستاسي دواړوغالبان به اوسئ) يعني عاقبت برى په دنيااوآخرت کي ستاسواوستاسوداتباعودی تاسوپه مجرمانوارومروغالبه کېږئ لکه چي الله بل ځای فرمايې: ﴿ كَتَبَ ٱللَّهُ لَأَغْلِبَنَّ أَنَا۠ وَرُسُلِيٓ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٌ ﴾ (المجادله٢١) ﴿ فَلَمَّا جَآءَهُم مُّوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَا بَيِّنَٰتٍ ﴾ پس کله چي راغی دوی ته موسی سره له معجزوزموږچي ښکاره وې (دده درسالت درښتنولي يې شاهدي ورکوله) ﴿ قَالُوا۟ مَا هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّفْتَرًى ﴾ وويل (فرعونيانو) چي نه دی داخومګر کوډي دي په دروغوسره تړل شوي) يعني چي تاراوړي لکه همسا اويدبيضاء دغه سحردی له ځانه دي جوړکړی اوالله ته يې نسبت کوې ﴿ وَمَا سَمِعْنَا بِهَٰذَا فِيٓ ءَابَآئِنَا ٱلْأَوَّلِينَ ﴾ ندی اوريدلی موږداد توحيددعوی) په (زمانو)دپلرونوزموږ چي پخواني تېرشوي ﴿ وَقَالَ مُوسَىٰ رَبِّيٓ أَعْلَمُ بِمَن جَآءَ بِٱلْهُدَىٰ مِنْ عِندِهِۦ وَمَن تَكُونُ لَهُۥ عَٰقِبَةُ ٱلدَّارِ ﴾ اوويل: موسی چي زمارب ښه عالم دانادی په هغه چاچي په هدايت راغلی (راوړی يې دی) له طرفه دهغه (رب) اوپه هغه چاباندي چي شته هغه ته ښه خاتمه) موسی عليه السلام دښکلي ځواب ورکولوتياری ونيواوپه تبليغ کي يې احسن الوجوه ته مخه کړه ويې ويل هغه څه چي ماراوړي کوډي نه بلکه حق دي اوزماپالونکی رب په دې ښه خبرداراوپوه دی چي زه برحق اوتاسوپرباطل ياست اوالله په هغه چاهم ښه خبرداردی چي آخره خاتمه يې ښه وي ﴿ إِنَّهُۥ لَا يُفْلِحُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴾ بېشکه چي ظالمان برى نه مومي) هغه څوک چي په الله باندي دروغ تړي ﴿ وَقَالَ فِرْعَوْنُ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمَلَأُ مَا عَلِمْتُ

(١) التفسيرالكبير٢٤ / ٣٤٩

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرِي ﴾ اوووبل فرعون ای دمشرانو ټولی (دمصرخلکو) زه تاسي ته پرته له ځانه بل خدای نه پېژنم (چي عبادت ورته وکړی) ابن عباس رضی الله عنه وايي چي ددې وينا اوهغه بلي چي ويلي وو ﴿ أَنَا رَبُّكُمُ الْأَعْلَىٰ ﴾ ترمينځ څلوېښت کاله موده وه اوداالله دښمن دروغ ويلي ووبلکه پدې پوهېدوچي پالونکی رب لري چي خالق دده اودقوم يې دی (١) ﴿ فَأَوْقِدْ لِي يَا هَامَانُ عَلَى الطِّينِ فَاجْعَل لِّي صَرْحًا ﴾ پس بل کړه اورزمالپاره ای هامانه په ختي باندي (خښتي راته پخې کړه) پس جوړه کړه زمالپاره لوړه اوچته مانۍ ﴿ لَّعَلِّي أَطَّلِعُ إِلَىٰ إِلَٰهِ مُوسَىٰ ﴾ ښايي ماته چي دموسی خدای ته وخېژم (اوويې وينم هغه چي دی يې دراستونکي ګمان کوي دغه يې داستهزآء په ډول وويل ځکه يې پسي زياته کړه ﴿ وَإِنِّي لَأَظُنُّهُ مِنَ الْكَاذِبِينَ ﴾ اوبېشکه خامخا زه ګمان کوم پرموسی له دروغجنانو څخه (پدې کي چي وايي دآسمانونورب شته) ﴿ وَاسْتَكْبَرَ هُوَ وَجُنُودُهُ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ ﴾ اوکبروکړ دغه فرعون اولښکرودد غه (فرعون) په ځمکه (دمصر) کي په ناحقه سره (چي په موسی عليه السلام يې ايمان نه راووړاودمصر خاوره يې په ظلم اوباطل په سراخيستي وه) ﴿ وَظَنُّوا أَنَّهُمْ إِلَيْنَا لَا يُرْجَعُونَ ﴾ اودوی ددې ګمان وکړچي بېشکه دوی به موږته نه راګرزول کېږي (په قيامت کي نه بعث اونه حساب کتاب شته) ﴿ فَأَخَذْنَاهُ وَجُنُودَهُ فَنَبَذْنَاهُمْ فِي الْيَمِّ ﴾ پس راونيومو ږهمدغه (فرعون) او(هم) لښکردده پس وموغورځول دوی ټول په درياب کي (اوګردغرق شول يوهم ژوندی پاتي نشو) ﴿ فَانظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الظَّالِمِينَ ﴾ نووګوره (ته ای محمده دپند په نظر) چي څرنګه ده آخره خاتمه دظالمانو (هغوی چي په کفراوطغيان کي وروستي سرحدته رسېدلي وو؟ ﴿ وَجَعَلْنَاهُمْ أَئِمَّةً يَدْعُونَ إِلَى النَّارِ ﴾ اوګرزولي وومو ږدوی پېشوايان (دکفرچي نورو ورپسي اقتداء کوله) چي بولي دوی (خپل تابعان) اورته ﴿ وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ لَا يُنصَرُونَ ﴾ اوپه ورځ دقيامت کي به ورسره مدد ونکړی شي (چي عذاب ترې دفع کړي) ﴿ وَأَتْبَعْنَاهُمْ فِي هَٰذِهِ الدُّنْيَا لَعْنَةً وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ هُم مِّنَ الْمَقْبُوحِينَ ﴾ اولازم کړمو ږله دوی سره په دغه (ژوند) ددنياکي لعنت (دالله ملائکواومؤمنانوله خوا) اوپه ورځ دقيامت کي به دوی وي له قبيح کړل شويوڅخه (بدڅېره به وي دالله له رحمته به شړل شوي وي).

بلاغت:

پدې آيتونوکي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته لنډيزيې دادی:

١- تاکيد په ان اولام باندي لکه ﴿ إِنَّ الْمَلَأَ يَأْتَمِرُونَ بِكَ لِيَقْتُلُوكَ ﴾.

---

(١) القرطبي ١٣/ ٢٨٨

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

٢-استعطاف لکه چي فرمايي: ﴿ رَبِّ إِنِّي لِمَآ أَنزَلْتَ إِلَيَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيرٌ ﴾.

٣-اشتقاقي جناس داسي ﴿ وَقَصَّ عَلَيْهِ ٱلْقَصَصَ ﴾.

٤-مرسله مجمله تشبيه چي فرمايي ﴿ تَهْتَزُّ كَأَنَّهَا جَآنٌّ ﴾.

٥-طباق چي د ﴿ يُصَدِّقُنِيٓ... يُكَذِّبُونِ ﴾ ترمينځ راغلی دی.

٦-کنايه چي فرمايي ﴿ وَٱضْمُمْ إِلَيْكَ جَنَاحَكَ ﴾ له لاسه څخه يې په وزرکنايه راوړي ده ځکه لاس دانسان لپاره لکه دمرغه وزرغوندي دی،

٧-مرسل مجازپدې کلام کي ﴿ سَنَشُدُّ عَضُدَكَ بِأَخِيكَ ﴾ چي اطلاق دسبب اومراد ځني مسبب دی ځکه دمټ ټينګول دلاس دټينګولومستلزم وي شهاب وايې چي امکان لري دغه دي استعاره وي چي دموسی حال يې دورورپه تقويت سره داسي بللی لکه چي ديوچالاس دمټ په ټينګولوټينګېږي

لطيفه:

زمخشري وايې چي کله يې وويل: ﴿ فَأَوْقِدْ لِي يَٰهَٰمَٰنُ عَلَى ٱلطِّينِ ﴾ يعني اورپه ختې بل کړه چي خښتي پخې شي داسي يې ونه ويل چي (أطبخ لی الآجر) ځکه لومړنی عبارت دقرآن لپاره په فصاحت کي برابردی اود جابرانومتکبرانوله لهجې سره هم زښته زيات مشابه دی هامان دفرعون وزير اود رعيت تدبير سمبالونکی وو.

الله تعالی فرمايي:

﴿ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ مِنۢ بَعْدِ مَآ أَهْلَكْنَا ٱلْقُرُونَ ٱلْأُولَىٰ بَصَآئِرَ لِلنَّاسِ وَهُدًى وَرَحْمَةً لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٤٣﴾ وَمَا كُنتَ بِجَانِبِ ٱلْغَرْبِيِّ إِذْ قَضَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَى ٱلْأَمْرَ وَمَا كُنتَ مِنَ ٱلشَّٰهِدِينَ ﴿٤٤﴾ وَلَٰكِنَّآ أَنشَأْنَا قُرُونًا فَتَطَاوَلَ عَلَيْهِمُ ٱلْعُمُرُ وَمَا كُنتَ ثَاوِيًا فِيٓ أَهْلِ مَدْيَنَ تَتْلُوا۟ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتِنَا وَلَٰكِنَّا كُنَّا مُرْسِلِينَ ﴿٤٥﴾ وَمَا كُنتَ بِجَانِبِ ٱلطُّورِ إِذْ نَادَيْنَا وَلَٰكِن رَّحْمَةً مِّن رَّبِّكَ لِتُنذِرَ قَوْمًا مَّآ أَتَىٰهُم مِّن نَّذِيرٍ مِّن قَبْلِكَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٤٦﴾ وَلَوْلَآ أَن تُصِيبَهُم مُّصِيبَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ فَيَقُولُوا۟ رَبَّنَا لَوْلَآ أَرْسَلْتَ إِلَيْنَا رَسُولًا فَنَتَّبِعَ ءَايَٰتِكَ وَنَكُونَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٤٧﴾ فَلَمَّا جَآءَهُمُ ٱلْحَقُّ مِنْ عِندِنَا قَالُوا۟ لَوْلَآ أُوتِيَ مِثْلَ مَآ أُوتِيَ مُوسَىٰٓ أَوَلَمْ يَكْفُرُوا۟ بِمَآ أُوتِيَ مُوسَىٰ مِن قَبْلُ قَالُوا۟ سِحْرَانِ تَظَٰهَرَا وَقَالُوٓا۟ إِنَّا بِكُلٍّ كَٰفِرُونَ ﴿٤٨﴾ قُلْ فَأْتُوا۟ بِكِتَٰبٍ مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ هُوَ أَهْدَىٰ مِنْهُمَآ أَتَّبِعْهُ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٤٩﴾ فَإِن لَّمْ يَسْتَجِيبُوا۟ لَكَ فَٱعْلَمْ أَنَّمَا يَتَّبِعُونَ أَهْوَآءَهُمْ وَمَنْ أَضَلُّ مِمَّنِ ٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ بِغَيْرِ هُدًى مِّنَ ٱللَّهِ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥٠﴾ ۞ وَلَقَدْ وَصَّلْنَا لَهُمُ ٱلْقَوْلَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٥١﴾ ٱلَّذِينَ ءَاتَيْنَٰهُمُ ٱلْكِتَٰبَ مِن قَبْلِهِۦ هُم بِهِۦ يُؤْمِنُونَ ﴿٥٢﴾ وَإِذَا يُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ قَالُوٓا۟ ءَامَنَّا بِهِۦٓ إِنَّهُ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّنَآ إِنَّا كُنَّا مِن قَبْلِهِۦ مُسْلِمِينَ ﴿٥٣﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ يُؤْتَوْنَ أَجْرَهُم مَّرَّتَيْنِ بِمَا صَبَرُوا۟ وَيَدْرَءُونَ بِٱلْحَسَنَةِ ٱلسَّيِّئَةَ وَمِمَّا

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

رَزَقْنَٰهُمْ يُنفِقُونَ ﴿٥٤﴾ وَإِذَا سَمِعُوا۟ ٱللَّغْوَ أَعْرَضُوا۟ عَنْهُ وَقَالُوا۟ لَنَآ أَعْمَٰلُنَا وَلَكُمْ أَعْمَٰلُكُمْ سَلَٰمٌ عَلَيْكُمْ لَا نَبْتَغِى
ٱلْجَٰهِلِينَ ﴿٥٥﴾ إِنَّكَ لَا تَهْدِى مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَهْدِى مَن يَشَآءُ ۚ وَهُوَ أَعْلَمُ بِٱلْمُهْتَدِينَ ﴿٥٦﴾ وَقَالُوٓا۟ إِن نَّتَّبِعِ
ٱلْهُدَىٰ مَعَكَ نُتَخَطَّفْ مِنْ أَرْضِنَآ ۚ أَوَلَمْ نُمَكِّن لَّهُمْ حَرَمًا ءَامِنًا يُجْبَىٰٓ إِلَيْهِ ثَمَرَٰتُ كُلِّ شَىْءٍ رِّزْقًا مِّن لَّدُنَّا وَلَٰكِنَّ
أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٥٧﴾ وَكَمْ أَهْلَكْنَا مِن قَرْيَةٍۭ بَطِرَتْ مَعِيشَتَهَا ۖ فَتِلْكَ مَسَٰكِنُهُمْ لَمْ تُسْكَن مِّنۢ بَعْدِهِمْ
إِلَّا قَلِيلًا ۖ وَكُنَّا نَحْنُ ٱلْوَٰرِثِينَ ﴿٥٨﴾ وَمَا كَانَ رَبُّكَ مُهْلِكَ ٱلْقُرَىٰ حَتَّىٰ يَبْعَثَ فِىٓ أُمِّهَا رَسُولًا يَتْلُوا۟ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتِنَا ۚ وَمَا
كُنَّا مُهْلِكِى ٱلْقُرَىٰٓ إِلَّا وَأَهْلُهَا ظَٰلِمُونَ ﴿٥٩﴾ وَمَآ أُوتِيتُم مِّن شَىْءٍ فَمَتَٰعُ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَزِينَتُهَا ۚ وَمَا عِندَ
ٱللَّهِ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰٓ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٦٠﴾ أَفَمَن وَعَدْنَٰهُ وَعْدًا حَسَنًا فَهُوَ لَٰقِيهِ كَمَن مَّتَّعْنَٰهُ مَتَٰعَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ثُمَّ هُوَ يَوْمَ
ٱلْقِيَٰمَةِ مِنَ ٱلْمُحْضَرِينَ ﴿٦١﴾ وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ فَيَقُولُ أَيْنَ شُرَكَآءِىَ ٱلَّذِينَ كُنتُمْ تَزْعُمُونَ ﴿٦٢﴾ قَالَ ٱلَّذِينَ حَقَّ عَلَيْهِمُ ٱلْقَوْلُ رَبَّنَا
هَٰٓؤُلَآءِ ٱلَّذِينَ أَغْوَيْنَآ أَغْوَيْنَٰهُمْ كَمَا غَوَيْنَا ۖ تَبَرَّأْنَآ إِلَيْكَ ۖ مَا كَانُوٓا۟ إِيَّانَا يَعْبُدُونَ ﴿٦٣﴾ وَقِيلَ ٱدْعُوا۟ شُرَكَآءَكُمْ فَدَعَوْهُمْ فَلَمْ
يَسْتَجِيبُوا۟ لَهُمْ وَرَأَوُا۟ ٱلْعَذَابَ ۚ لَوْ أَنَّهُمْ كَانُوا۟ يَهْتَدُونَ ﴿٦٤﴾ وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ فَيَقُولُ مَاذَآ أَجَبْتُمُ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿٦٥﴾ فَعَمِيَتْ
عَلَيْهِمُ ٱلْأَنۢبَآءُ يَوْمَئِذٍ فَهُمْ لَا يَتَسَآءَلُونَ ﴿٦٦﴾ فَأَمَّا مَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحًا فَعَسَىٰٓ أَن يَكُونَ مِنَ ٱلْمُفْلِحِينَ
﴿٦٧﴾ وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ وَيَخْتَارُ ۗ مَا كَانَ لَهُمُ ٱلْخِيَرَةُ ۚ سُبْحَٰنَ ٱللَّهِ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٦٨﴾ وَرَبُّكَ
يَعْلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُورُهُمْ وَمَا يُعْلِنُونَ ﴿٦٩﴾ وَهُوَ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ لَهُ ٱلْحَمْدُ فِى ٱلْأُولَىٰ وَٱلْءَاخِرَةِ ۖ وَلَهُ ٱلْحُكْمُ وَإِلَيْهِ
تُرْجَعُونَ ﴿٧٠﴾ القصص: ٤٣ – ٧٠

مناسبت او تړاو:

وروسته له هغه چي الله جل جلاله دخپل هغه نعمت يادونه وکړه چي په بني اسرائيلويې پېرزوکړي ووهغه چي دفرعون جابرچي دطغيان مخ کښې ووغرقېدل اودوی يې له شرڅخه ژغورلي وونودلته د يوبل سترنعمت يادونه کوي چي هغه دتورات نزول دی کوم کتاب چي په هغه کي هدايات اوروښنايې شته لکه چي په عربويې قرآنکريم نازل کړی اوددې نعمت يادونه يې هم کړي ده.

لغتونه : (ناويا) اقامت اوهستوګنه کول (يدرؤن) دفع کوي په حديث شريف کي راځي : (ادرءوا الحدود بالشبهات) حدود په شبهاتومات کړی (دفع کړی) (يجبى) جمع کاووشي (الجابية) سترتالاب اوحوض ته وايې (بطرت) په نعمت کي طغيان ته بطروايې (أنباء) أخبارته وايې د(نبأ) جمع اومهم خبرته ويل کېږي

دنزول سبب

کله چي ابوطالب دځنکندن په حال کي وورسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل: ای اکا! لااله الاالله ووايه زه به په قيامت کي ستا (دايمان) شاهدی ووايم نوهغه په ځواب کي ورته وويل: که زه پدې نه وېرېدلای چي قريش به پېغور راکړي او وبه وايې: دمرګ له وېري يې داسي وکړل نومابه ويلي وای

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

اوستاسترګي به مي له خوښي يخي کړي وای نو الله جل جلاله دا آيت نازل کړ ﴿ إِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَهْدِي مَن يَشَآءُ وَهُوَ أَعْلَمُ بِٱلْمُهْتَدِينَ ﴾.

تفسير:

﴿ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ مِنۢ بَعْدِ مَآ أَهْلَكْنَا ٱلْقُرُونَ ٱلْأُولَىٰ ﴾ (اوخامخا په تحقيق ورکړی ورموږ موسی ته کتاب (تورات) وروسته له هغه چي موږ هلاک کړي وو (اهل د) زمانوړومبنيو) لام دقسم لپاره توطئه ده يعني قسم دی چي موږ موسی ته تورات ورکړی وو وروسته له هلاکته دنورو اُمتونو لکه دنوح، عاد، ثمود اولوط عليهم السلام قومونه چي دخپلو انبياوو تکذيب يې کړی وو ﴿ بَصَآئِرَ لِلنَّاسِ وَهُدًى وَرَحْمَةً لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴾ حال داچي سبب دانوارو وو دزړونو لپاره دخلکو (دوی ته به حقائق وربانديي معلومېدل) اوسمه لاره ښوونکی وو لپاره دمؤمنانو اورحمت ووښايې چي وربانديي پندواخلي (اوالهي ارشادات واوري) ﴿ وَمَا كُنتَ بِجَانِبِ ٱلْغَرْبِيِّ إِذْ قَضَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَى ٱلْأَمْرَ ﴾ اونه وې ته (ای محمده حاضرله موسی سره) په جانب دهغه (غره) چي غربي وو (له موسی څخه دمناجات په وخت کي هغه ځای چي هلته الله له موسی سره خبري کولې) هغه وخت چي ولېږه موږ موسی ته حکم (درسالت چي فرعون اودهغه قوم ته دي ورشي) ﴿ وَمَا كُنتَ مِنَ ٱلشَّٰهِدِينَ ﴾ اونه وې ته له حاضرينو (هلته خوالله درته وحی کړي چي ستادرښتنولي دليل اوبرهان وي. ابن کثيروايي چي دلته الله درسول الله په نبوت باندي دبرهان راوړلوتنبيه فرمايلي چي دتېروزمانوپټ رازونه داسي بيانوي لکه چي پخپلوسترګويې ليدلي وي هغه خويونالوستی (أمی) ووچي هيڅ ليکلي يی نه وو لوستلي پداسي تېرکي لوی شوی ووچيَ هغوی له دې ليک اولوست څخه هيڅ خبرنه وو، معناداچي ته هلته حاضرنه وې خوالله درته وحی وکړه ترڅودوی ته ددغومغيباتوخبرورکړې(١) ﴿ وَلَٰكِنَّآ أَنشَأْنَا قُرُونًا فَتَطَاوَلَ عَلَيْهِمُ ٱلْعُمُرُ ﴾ ولکن موږ پيداکړل اهل دزمانو (وروسته له موسی) پس اوږده شول پردوی) عمرونه (مو دې) چي دالله يادېې له ياده وايست اوپه شريعتونوکي يې تحريف اوتبديل وکړنوته موراواستولې (ای محمده ترڅوچي دين ژوندی کړې. ابوالسعودوايې معناداچي: موږستا اودموسی دزمانې ترمينځ ډېري پېړۍ پيداکړې چي موده وربانديي اوږده شوه اودشريعت حکمونه يې بدل کړل اوپټ شوپردوی خبرونه ددينې چارونو ته مو راواستولې (٢) ﴿ وَمَا كُنتَ ثَاوِيًا فِىٓ أَهْلِ مَدْيَنَ ﴾ اونه وې ته (ای محمده!) اوسېدونکی په اهل دمدين کي ﴿ تَتْلُوا۟ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتِنَا ﴾ چي لوستل به دي پردوی باندي زموږ آيتونه (اودوی (دمکې خلګوته) به دي دموسی، شعيب اودهغه ددوولونو خبري وربښودلې) ﴿ وَلَٰكِنَّا كُنَّا مُرْسِلِينَ ﴾ ولېکن موږچي يولېږونکي يو (تالره دمکې په خلګوکي چي دغه خبرونه مو درته وحی

---

(١) ابن کثيرالمختصر ٣ / ٢٥

(٢) ابوالسعود ٤ / ١٥٥

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

کړي اوکه داسي نه وای نوتاته به هم معلوم نه وو) ﴿ وَمَا كُنتَ بِجَانِبِ ٱلطُّورِ إِذْ نَادَيْنَا ﴾ اونه وې ته (ای محمده!) په جانب دطورکله چي غږ وکړموږ(موسی ته اوورسره خبري موکولې) ﴿ وَلَٰكِن رَّحْمَةً مِّن رَّبِّكَ لِتُنذِرَ قَوْمًا مَّآ أَتَىٰهُم مِّن نَّذِيرٍ مِّن قَبْلِكَ ﴾ ولېکن(درښودلي یې دي اووحی کړي یې دي دغه کیسې) رحمت له طرفه درب ستالپاره ددې چي ووېروې ته هغه قوم چي ندی راغلی دوی ته هیڅ وېرونکی ترپخواله تانه ﴿ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴾ دپاره ددې چي دوی پرې پندواخلي (اوستاپه دین کې دننه شي مفسرین کرام وایې چي مرادله قوم څخه هغه کسان دي چي دعیسی اومحمدعلیهما السلام ترمینځ زمانه کي چي دفترت زمانه یې بولي اوسېدل اودغه نژدې شپږسوه کاله موده وه ﴿ وَلَوْلَآ أَن تُصِيبَهُم مُّصِيبَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ ﴾ اوکه چېري نه وای داچي وبه رسېږي دوی ته مصیبت(عذاب،غم) په سبب دهغوګناهونوچي پخوا لېږلي وولاسونو ددوی ﴿ فَيَقُولُوا۟ رَبَّنَا لَوْلَآ أَرْسَلْتَ إِلَيْنَا رَسُولًا فَنَتَّبِعَ ءَايَٰتِكَ وَنَكُونَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ پس وبه وایې دغه (کفار) ای زموږربه ولي دي نه رالېږه موږته کوم پیغمبر(چي احکام یې موږته راوړي وای پس موږبه ستادآیتونومتابعت کړی وواوشوي به وومو ږله مؤمنانو(پرتااوهغه رسول) قرطبي وایې چي دلولاځواب حذف شوی هغه داچي (لمابعثناالرسل) یعني مابه استازی نه وورالېږلی(١) په التسهیل کي وایې چي لومړی (لولا)دامتناع توری دی اودوهمه (لولا) (لولا) دتحضیض ,معنادا که داسی نه وای چی دوی ته به ددوی دکفر په سبب مصیبت و رسېږی نوموږ به دوی ته پیغمبران نه وورااستولي خوموږپیغمبران ورته راواستول چي ددوی عذرپاتي نشي اوپردوی دلیل راوړل شي دوی بیاهسي ونه وایې چي ﴿ لَوْلَآ أَرْسَلْتَ إِلَيْنَا رَسُولًا فَنَتَّبِعَ ءَايَٰتِكَ وَنَكُونَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ (٢)بیاالله تعالی دمشرکانوعناد دحق په وړاندي داسي بیانوي ﴿ فَلَمَّا جَآءَهُمُ ٱلْحَقُّ مِنْ عِندِنَا قَالُوا۟ لَوْلَآ أُوتِىَ مِثْلَ مَآ أُوتِىَ مُوسَىٰٓ ﴾ پس کله چي راغی دغو(کفارو) ته حق (قرآن دمحمدپه نبوت) زموږله جانبه نووې ویل دغوکفاروپه سرکښي اوتعنت سره) ولي نه دي ورکړی شوي (محمدته معجزې) لکه چي ورکړی شوي وې موسی علیه السلام ته (لکه همسااوید بیضاء غوندي) الله ددوی په تردیدکي فرمایې: ﴿ أَوَلَمْ يَكْفُرُوا۟ بِمَآ أُوتِىَ مُوسَىٰ مِن قَبْلُ ﴾ آیانه ووکافران شوي په هغو(معجزو) چي موسی ته پخواورکول شوي وې؟ مجاهدوایې چي یهودانوقریشوته وویل : محمدته وواياست چي دموسی په شان معجزې درته راوړي نوالله ددوی تردیدوفرمایوچي دوی خودموسی په معجزاتوکافران شوي وونوپدې روایت د ﴿ أَوَلَمْ يَكْفُرُوا۟ ﴾ ضمیر یهودانو ته راجع دی اودغه دابن جریرغوره کړي ده ابوحیان وایې چي ماته داسي ښکاري چي ضمیربه قریشوته راجع وي هغوی چي ویل یې: ولي محمدته

(١) القرطبي ١٣/ ٢٩٣
(٢) البحر٧/ ١٢٣

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

داسي معجزې نه دې ورکړی شوي لکه چي موسی ته ورکول شوي وې اوداپدې چي ددوی تکذیب چي دمحمدرسول الله یې کاوو دموسی تکذیب هم دی اوداچي دوی رسول الله ته دسحر(کوډو) نسبت کاووهمدغه موسی ته دکوډونسبت دی خکه نبیان خوګرددیوه آسماني رسالت اوچتونکي دي اوچي څوک یوه نبي ته نامناسب نسبت وکړي لکه چي ټولوته یې کړی وي دلته به نوټول ضمائرولګیږي(١)﴿ قَالُوا سِحْرَانِ تَظَاهَرَا ﴾ وویل: (منکرانو چي تورات اوقرآن) سحردی دواړه چي مددکوي یوله بله (په تصدیق کولویودبل. سدي وایې چي یودبل تصدیق کوي. ابوالسعودوایې چي همدغه ددوی په کفرباندي تصریح ده چي دوی په خپل کفراوطغیان کي وروستي سرحدته رسېدلي دي(٢)﴿ وَقَالُوا إِنَّا بِكُلٍّ كَافِرُونَ ﴾ دآیت معناداچي: دوی ویل چي بېشکه موږپه هر یوددوې دواړو(تورات) او(قرآن) کافران یو ﴿ قُلْ فَأْتُوا بِكِتَابٍ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ هُوَ أَهْدَى مِنْهُمَا أَتَّبِعْهُ ﴾ ووایه (ای محمده ادوی ته) پس راوړئ تاسي یوداسي کتاب له جانبه دالله چي هغه ښه لاره ښوونکی وي له دغو دواړو کتابونوچي زه دهغه (کتاب) متابعت وکړم. دغه دتعجیزپه توګه یوامردی چي تاسی چي پدې دووکتابونوسره له دې چي په شریعتونوحکمونواو مکارم الاخلاقو) مشتمل دي کافریاست نوتردې یوښه کتاب چي دالله له لوري رااستول شوی وي راوړئ چي زه یې پیروي وکړم﴿ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ﴾ که چېري تاسي رښتوني یاست (چي داکوډي دي) ابن کثیروایې چي داخوله ورایه هوښیارانوته معلومه ده چي الله پاک له آسمانه تردې قرآنکریم ښه بشپړ، فصیح اوسترکتاب چي په محمدرسول الله یې نازل کړی بل ندی رااستولی اوله هغه وروسته بیاتورات دی چي الله یې په شان کي فرمایلي ﴿ إِنَّا أَنْزَلْنَا التَّوْرَاةَ فِيهَا هُدًى وَنُورٌ ﴾ اوانجیل خودتورات لپاره بشپړونکی اودځینوهغو شیانوچي په بني اسرائیلو حرام شوي وودحلال ګڼلولپاره راغلی دی(٣)﴿ فَإِنْ لَمْ يَسْتَجِيبُوا لَكَ فَاعْلَمْ أَنَّمَا يَتَّبِعُونَ أَهْوَاءَهُمْ ﴾ پس که چېري دوی ستاخبره ونه منله پس پوه شه چي بېشکه همداخبره ده دوی دخپلوخواهشاتومتابعت کوي (کوم سنداوبرهان نلري ﴿ وَمَنْ أَضَلُّ مِمَّنِ اتَّبَعَ هَوَاهُ بِغَيْرِ هُدًى مِنَ اللَّهِ ﴾ اوڅوک دی ډېرګمراه له هغه چاچي متابعت کوي دخپل خواهش بې هدایته له ښوولو دلاري له طرفه دالله (بلکه نشته) ﴿ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴾ (بېشکه چي الله نه ښیي سمه لارقوم ظالمانوته) یعني الله هغوظالمانوته چي پخپلو نفسي خواهشاتوکي غوپه وي اوله سمي لاري څخه یې څنګ کړی وي دحق توفیق نه ورکوي ﴿ وَلَقَدْ وَصَّلْنَا لَهُمُ الْقَوْلَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴾ او خامخاپه تحقیق پرله پسې موږدوی ته خبره لېږلي ده (چي قرآنکریم ځیني په ځیني نورپسي وعد، وعید، کیسې، پندونه اونصیحتونه) دپاره ددې چي دوی

---

(١) البحر٧/ ١٢٣

(٢) تفسیرابوالسعود٤/ ١٥٢

(٣) مختصرابن کثیر٣/ ١٧

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

پندواخلي ﴿ ٱلَّذِينَ ءَاتَيْنَٰهُمُ ٱلْكِتَٰبَ مِن قَبْلِهِۦ هُم بِهِۦ يُؤْمِنُونَ ﴾ هغه کسان چي موږ دوی ته پخواله دغه قرآنه کتاب ورکړی دی (تورات اوانجیل) دوی په دغه (قرآن) ایمان راوړي؛ ابن عباس رضی الله عنه وایي: معناداچي هغه کسان داهل کتابو چي په محمدصلی الله علیه وسلم یې ایمان راوړی (١) ﴿ وَإِذَا يُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ قَالُوٓا۟ ءَامَنَّا بِهِۦٓ إِنَّهُ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّنَآ ﴾ (اوکله چي ولوست شي (دغه قرآن) پردوی باندي وایې دوی چي موږایمان راوړی په دغه (قرآن) چي حق دی (راغلی دی) له لوري درب (پالونکي) زموږ) یعني چي کله دوی ته قرآن ولوستل شي دوی وایې هغه چي پدې کي دي زموږ ورباندي باوردئ موږیې تصدیق کوو ﴿ إِنَّا كُنَّا مِن قَبْلِهِۦ مُسْلِمِينَ ﴾ بېشکه چي وومو پخواله (نزوله) دقرآن مسلمانان (موحدین غاړه ایښودونکي حکمونوته یې ورباندی باور لرونکي چي الله جل جلاله به محمدصلی الله علیه وسلم رااستوي اوقرآن کریم به ورباندي نازلوي) ﴿ أُو۟لَٰٓئِكَ يُؤْتَوْنَ أَجْرَهُم مَّرَّتَيْنِ ﴾ دغه (موصوف شوي پدې ښایسته صفتونو) وربه کړی شي دوی ته اجرددوی دوه کرته (یوځل په خپل کتاب دایمان راوړلواوبل ځل په قرآن عظیم باندي په ایمان راوړلوپه حدیث شریف کي راځي چي: درې تنه دي چي دوه ځلي به اجرورکول کېږي یوهغه اهل کتاب مؤمن چي پخپل پیغمبریې ایمان راوړی اوبیاپرماایمان راوړي (٢) دحدیث ترپایه ﴿ بِمَا صَبَرُوا۟ ﴾ په سبب ددې چي دوی صبرکړی وو (دحق په اتباع) اودالله په لاري کي دکړاوونوګاللو، قتاده وایې چي دادهغواهل کتابوپه شان کي نازل شوی دی چي دوی دحق شریعت پابندووترڅوچي محمدرسول الله رااستول کېدوبیایې پرهغه ایمان راوړ اورښتونی یې وبالوالله ورته دوه ځلي اجرورکړاوله دوی څخه دسلمان فارسي اوعبدالله بن سلام رضی الله عنه یادونه شوي ده ﴿ وَيَدْرَءُونَ بِٱلْحَسَنَةِ ٱلسَّيِّئَةَ ﴾ اودفع کوي په نېکي سره بدي) یعني دښکنځلوځواب په ښکلي پاکیزه خبره ورګرزوي . ابن کثیروایې : معناداچي بدي په بدي باندي نه ورتلي بلکه عفوه اوښښنه کوي (٣) ﴿ وَمِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ يُنفِقُونَ ﴾ اوله ځینوهغومالونوچي موږدوی ته ورکړي لګوي یې (په لاره دالله کي) ﴿ وَإِذَا سَمِعُوا۟ ٱللَّغْوَ أَعْرَضُوا۟ عَنْهُ ﴾ (اوکله چي واوري دوی کومه چتي بېکاره خبره نودوی له هغې نه څنګ کوي) یعني کله چي له کفاروکومه ناسمه خبره ، یاښکنځل واوري دهغې ځواب نه ورکوي اوله پامه یې غورځوي ﴿ وَقَالُوا۟ لَنَآ أَعْمَٰلُنَا وَلَكُمْ أَعْمَٰلُكُمْ سَلَٰمٌ عَلَيْكُمْ لَا نَبْتَغِى ٱلْجَٰهِلِينَ ﴾ اووایې هغوی (چتي ویناکونکوته) موږته زموږخپل عملونه دي اوتاسي ته ستاسي عملونه دي سلام دي وي پرتاسو (نه درسره ګډېږو) نه غواړوموږ (مجلس) دجاهلانو. زجاج وایې چي دسلام معناتعظیم نه بلکه پرېکړه ده چي له تاسوسره موږ مقاطعه (شلون) کوو. صاوي وایې چي: مشرکانوبه داهل کتاب مؤمنانوته ښکنځل کول ورته ویل به یې هلاکت دي تاسوته وي تاسوخپل دین پرېښودنودوی به ترې څنګ کاوو ورته ویل

---

(١) الطبري ٢٠ / ٥٦

(٢) أخرجه مسلم

(٣) مختصرابن کثیر

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

به يې ستاسي خپل عملونه اوزموږ خپل (١) الله ددوی لومړی صفت ايمان دوهم بيااحسان وروسته بياعفوله دښمنانو وفرمايله بيا الله خپل پيغمبرته خطاب فرمايې ﴿ إِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَن يَشَاءُ ﴾ بېشکه ته (ای محمده!) نشې ښودلي (حقه لاره) هغه چاته چي ستاخوښ وي وليکن الله سمه صافه لاره ښيي هغه چاته چي اراده وفرمايي (دسمي لاري يې) نوالله ته دخپلي چاري سپارښتنه وکړه چي الله په نېکمرغانو اوبدمرغانو ښه خبردار دی چي څوک سعيد اوڅوک شقي دی؟ ﴿ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ ﴾ اوهم دغه الله ښه عالم دی په سمه صافه لاره موندونکو باندي (چي دچادهدايت استعدادشته نوورته هدايت کوي. مفسرين کرام وايې داآيت درسول الله صلى الله عليه وسلم دتره ابوطالب په شان کي نازل شوی چي کله دځنکندن په وخت کي ورته رسول الله صلى الله عليه وسلم اسلام وړاندي کړخوهغه ونه مانو. ابوحيان وايې چي: ددې کلام چي ﴿ إِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ ﴾ معناداچي ستاپه واک کي دهدايت پيدا ايښت نشته اوبياوايې چي دنوموړي کلام اوداچي فرمايې ﴿ وَإِنَّكَ لَتَهْدِي إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴾ ترمينځ منافات نشته ځکه چي دلته يې معنالاره ښودنه ده اووايي چي پدې اجماع راغلي چي پورتنی آيت دابوطالب په هکله راغلی دی (٢) بيا الله تعالى دمشرکانويوه شبه ذکرکوي اوپه څرګندبيان يې تردیدفرمايې: ﴿ وَقَالُوا إِن نَّتَّبِعِ الْهُدَىٰ مَعَكَ نُتَخَطَّفْ مِنْ أَرْضِنَا ﴾ اووايې (دمکې کفار) که چېري متابعت وکړو موږ هدايت له تاسره (اوايمان راوړو) وابه الوزول شوله خپلي ځمکي نه (دعربانوله لوري مبردوايې چي (تخطف) په زوره څېزپورته کول اووړلوته وايې الله جل جلاله ددوی هسي تردید کوي: ﴿ أَوَلَمْ نُمَكِّن لَّهُمْ حَرَمًا آمِنًا ﴾ (آياندی ورکړی ځای موږدوی ته داسي حرم چي په امان دي) يعني آياددوی ځای مودغه دامن حرم ندی ټاکلی چي دبيت العتيق د حرمت په سبب ددوی ويني خوندي دی نوکله چي په کفرکي دوی دلته په امن دي آياپه اسلام کي به نه وي؟ ﴿ يُجْبَىٰ إِلَيْهِ ثَمَرَاتُ كُلِّ شَيْءٍ رِّزْقًا مِّن لَّدُنَّا ﴾ را چلولي شوي دي (حرم ته) مېوې دهرڅېزروزي ددوی زموږله لوري (سره له دې چي دغه داسي وادی (ناوه) ده چي کښت کرونده پکي نشته) ﴿ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ وليکن اکثره ددوی نه پوهېږي (پدي کي سوچ نکوي اونه ورته پاملرنه کوي. ابوحيان وايي چي الله تعالى پدې څرګندبيان سره ددوی دليل غوڅ کړهغه داچي سره ددوی له کفره اوبت پرستي بياهم الله امن اوسوکالي ورکړي هرډول مېوې ورته راچلول شوي نوچي ايمان راوړي لابه څرنګه وي؟ ﴿ وَكَمْ أَهْلَكْنَا مِن قَرْيَةٍ بَطِرَتْ مَعِيشَتَهَا ﴾ اوڅومره (ډېر) هلاک کړي دي موږله اهل دکليو (اوښارونوچي پخپل معاش کي يې سرکښي کړي وه (دنعمتونو کفران يې کړی وونوالله خراب کړل) ﴿ فَتِلْكَ مَسَاكِنُهُمْ لَمْ تُسْكَن مِّن بَعْدِهِمْ إِلَّا

---

(١) الصاوي على الجلالين ٣ / ٢٢١

(٢) البحر اسباب النزول وګوره ٧ / ١٣٢

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

قَلِيلًا ﴾ پس دادي کورونه ددوی چي هستوګنه نده پکي کړی شوي پس له (هلاکته) ددوی مګرلږ وخت (چي مسافران هلته دمه کوي يوه ورځ ياشپه تېروي) ﴿ وَكُنَّا نَحْنُ ٱلْوَٰرِثِينَ ﴾ اويومورږدامورږوارثان (دمالونواوښارونوددوی په البحرکي وايې چي په آيت شريف کي دمکې داهل لپاره تخويف دی چي هغوی هم ددوی په شان په امن اوسوکالي کي ژوندتېرول خوالله دنعمتونوکفران يې وکړغرور اوتکبرته يې ملاوتړله نوالله هلاک کړل اوښارونه يې وران ويجاړشول(١) ﴿ وَمَا كَانَ رَبُّكَ مُهْلِكَ ٱلْقُرَىٰ ﴾ اوندی ستارب (عادتًا) هلاکونکی (دکافراهل ددې) قريو ﴿ حَتَّىٰ يَبْعَثَ فِىٓ أُمِّهَا رَسُولًا يَتْلُوا۟ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتِنَا ﴾ ترهغه پوري چي ولېږي په مور(لويه قريه ياښار) دهغوکي يوپيغمبرچي لولي پردوی آيتونه زموږ(چي عذريې پاتي نشي) ﴿ وَمَا كُنَّا مُهْلِكِى ٱلْقُرَىٰٓ إِلَّا وَأَهْلُهَا ظَٰلِمُونَ ﴾ (اونه يو موږ هلاکونکي خرابوونکي دکليوښارونومګرپه هغه وخت کي چي اهل دهغو ظالمان وي) يعني موږتر هغوپوري ښارونه کلي نه هلاکوو ترڅويې اهل دهلاکت مستحق نه وي چي دانبياووله ورتګه وروسته هم دوی په کفرباندي اصرارکوي قرطبي وايې معناداچي الله يې نه هلاکوي ترڅويې دخپل ظلم په نتيجه کي ځان دهلاکت وړنه وي ګرزولی اوپدي کي دالله دعدل اوله ظلم څخه دتقدس اوسپېڅلتيا بيان دی چي الله يې ددوی له ظلم سره سره بياهم نه هلاکوي ترڅويې دانبياووپه رالېږلوپردوی حجت اودليل درولی نه وي اودالله جل جلاله علم يې ددوی پراحوالودليل نه وي ګرزولی (٢) ﴿ وَمَآ أُوتِيتُم مِّن شَىْءٍ فَمَتَٰعُ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَزِينَتُهَا ﴾ اوهرهغه څه چي تاسي ته درکړل شوي دي له کوم څېزه پس هغه معاشي نفع ددغه ژوندانه ددنيادی (چي فاني کېږي. ابن کثيروايې چي الله پاک ددنياد سپکتياخواري اولږوالي څخه اخبارکوي چي داهرڅه ښکلااوښايست چي پکې دي فاني دی اوهغه چي الله په آخرت کي دخپلوصالحانوبندګانولپاره تيارکړي هغه تل پاتي اودائم نعمتونه دي(٣) ﴿ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰٓ ﴾ اوهرهغه چي دالله په نزددي خيرغوره اوتلپاتي دي (تردې فاني نعمتونوددنيا) ﴿ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴾ ايابس تاسي عقل نه چلوئ ؟ چي باقي ترفاني بهتردی دغه استفهام دتوبيخ لپاره دی امام فخررازي وايې چي الله دابيان کړل چي دنيوي نعمتونوپه ضررونوباندي ککړاوګډوي بلکه زيانونه يې زيات وي اودآخرت ګټي تلپاتي د دنياشلېدونکي اوفاني دي کله چي متناهي له غيرمتناهي سره پرتله شي لکه چي متناهي هيڅ هم نه وي په دنياکي دهرچابرخه لکه ځاځکي له درياب څخه ده نوڅوک چي دآخرت ګټي اونعمتونه تردنيا لوړاوشېوه ونه ګڼي هغه لکه چي دعقل له دائرې وتلي دي(٤) ﴿ أَفَمَن وَعَدْنَٰهُ وَعْدًا حَسَنًا فَهُوَ

---

(١) البحرالمحيط ٧/ ١٣٢

(٢) القرطبي ١٣/ ١٣٢

(٣) مختصرابن كثير ٣/ ٢٠

(٤) التفسيرالكبير ٢٥/ ٣٢

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

لَقِيهِ ﴾ آیا پس هغه څوک چي موږ ورسره وعده کړي ده ښه وعده (د جنت) پس دی موندونکی دی هغي وعدې (خامخا) څکه چي الله تعالی دوعدې مخالفت نه کوي) ﴿كَمَن مَّتَّعْنَٰهُ مَتَٰعَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ﴾ (داسي دی) لکه هغه څوک چي معاش ورکړی وي موږ ده ته معاش د دنیا (فاني له ضرره ډک له کړاوونو سره سره هغه چي په فنايي خامخا غمجن کېږي)؟ ﴿ثُمَّ هُوَ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ مِنَ ٱلْمُحْضَرِينَ ﴾ بیادي په ورځ د قیامت کي له حاضرکړی شوودی (اورته ؟ عذاب ته آیا هوښیارسړی دغه دواړه سره برابرګني؟ ابن جزي وايي چي ددې دواړو ترمینځ خوراوږدواتن دی مراد له ﴿أَفَمَن وَعَدْنَٰهُ وَعْدًا ﴾ څخه مؤمنان اوله ﴿كَمَن مَّتَّعْنَٰهُ ﴾ څخه کافران دي(١) ﴿وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ فَيَقُولُ أَيْنَ شُرَكَآءِىَ ٱلَّذِينَ كُنتُمْ تَزْعُمُونَ ﴾ اویاد کړه هغه ورځ چي غږبه وکړي دوی ته الله پس وبه وايي الله جل جلاله چېرته دي زماهغه شریکان چي تاسوبه (پرې) ګمان کاوو(چي دازماشریکان دی) ؟ دغه دتوبیخ اوتقریع په ډول دي یعني الله به دوی ته ووايي چي هغه بُتان اوشریکان چي له ماپرته موددوی عبادت کاوونن چېري دي ؟ چي تاسوپرې ګمان کاووچي هغوی به ستاسي مرسته اوشفاعت کوي ﴿قَالَ ٱلَّذِينَ حَقَّ عَلَيْهِمُ ٱلْقَوْلُ ﴾ وبه وايي هغه کسان (مشران اولویان یې) چي حقه ثابته شوي پردوی خبره (دعذاب په سبب د ګمراهي اوطغیان ددوی) ﴿رَبَّنَا هَٰٓؤُلَآءِ ٱلَّذِينَ أَغْوَيْنَآ أَغْوَيْنَٰهُمْ كَمَا غَوَيْنَا ﴾ ای زموږ ربه دا(ضعیفان تابعان) هغه کسان دي چي ګمراه کړي وو موږ دوی لکه چي موږ ګمراه کړی شوي وو؛ دغه په زوراو جبرسره نه بلکه دوسوسې اوتزئین په نتیجه کي لکه چي موږ هم دغسي ګمراه کړی شوي وو ﴿تَبَرَّأْنَآ إِلَيْكَ مَا كَانُوٓا۟ إِيَّانَا يَعْبُدُونَ ﴾ بېزاره یوموږ تاته (له دوی اوله کفره یې) نه وودوی چي زموږ عبادت به یې کاوو (بلکه دنفسي خواهشاتوعبادت یې کاوو. ﴿وَقِيلَ ٱدْعُوا۟ شُرَكَآءَكُمْ ﴾ اووبه ویلی شي (کفارو ته) چي وغواړئ تاسي شریکان ستاسي چي په دنیاکي یې تاسوعبادت کاوترڅومولہ عذابه وژغوري دغه به دتهکم په ډول ورته ویل کېږي ﴿فَدَعَوْهُمْ فَلَمْ يَسْتَجِيبُوا۟ لَهُمْ ﴾ پس راوبه غواړي دا(کفار) هغه بُتان) پس هیڅ ځواب به ورنکړي (دابُتان) هغوته(اونه به ترې کومه ګټه ترلاسه کړي دغه ددوی دعقلونوکمزوري ښیي)﴿وَرَأَوُا۟ ٱلْعَذَابَ لَوْ أَنَّهُمْ كَانُوا۟ يَهْتَدُونَ ﴾اووبه ویني دغه (دواړه تابعان او متبوعان) عذاب (تمنابه کوي) چي کاشکي دوی سمه صافه لاره نیولي وای (نوبه نه معذب کېدل. طبري وايي نودوی به چي کله عذاب ووینې هیله څرګنده کړي چي کاشکي خویې په دنیاکي دحق لاره نیولي وای(٢) ﴿وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ فَيَقُولُ مَاذَآ أَجَبْتُمُ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴾ اویاد کړه هغه ورځ چي غږبه وکړي دوی ته (الله) پس وبه وايي چي څه ځواب ورکړی ووتاسي رسولانوته ؟

---

(١) التسهيل لعلوم التنزيل.

(٢) الطبري ٢٠ /٧٣ داپه هغه صورت کي چي (لو) دتمنا لپاره شي هغه چي موږغوره کړی اوزجاج وايي چي د(لو)ځواب محذوف دی که چېري یې سمه صافه لاره نیولي وای نوبه یې ددوی متابعت نه کاووواوس به یې عذاب نه لیدلو.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

دادمشرکانولپاره یوبل توبیخ دی چي آیاتاسوزمادرسولانو تصدیق وکړاوکه تکذیب ؟ ﴿ فَعَمِيَتْ عَلَيْهِمُ الْأَنْبَاءُ يَوْمَئِذٍ فَهُمْ لَا يَتَسَاءَلُونَ ﴾ پس پټ به شي پردوی خبرونه (دلائل به نلري تولي چاري به یې تکي توري شي) پدې ورځ پس دوی به پوښتنه نه کوي یوتربله (له ډېره دهشته اوحیرانتیاځخه) ﴿ فَأَمَّا مَنْ تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَعَسَىٰ أَنْ يَكُونَ مِنَ الْمُفْلِحِينَ ﴾ پس هرهغه څوک چي توبه وباسي (له شرکه) اوایمان راوړي (په الله اورسول) اوعمل وکړي دنېکیوپس ښایي چي وي به دی له خلاصېدونکو(برې موندونکوپه جنت کي) صاوي وایې چي په قرآن کریم کي دترجی کلمه دتحقق اوثابت شوي په معناده ځکه دغه دکریم ذات وعده ده اوله شانه سره یې دالازم دی چي په وعده کي خلاف نه کوي (١) ﴿ وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ وَيَخْتَارُ ﴾ اورب ستاپیداکوي هغه څه چي اراده وفرمایي (دپیدایښت یې) اوغوره کوي یې) یعني الله متصرف مختاردی چي څه پیداکوي اوڅه کوي څوک ورباندي اعتراض نشي کولای چي حکم یې ردکړي مقاتل وایې دغه دولیدبن مغیره په هکله نازل شوي چي ویل یې ﴿ وَقَالُوا لَوْلَا نُزِّلَ هَٰذَا الْقُرْآنُ عَلَىٰ رَجُلٍ مِنَ الْقَرْيَتَيْنِ عَظِيمٍ ﴾ (الزخرف ٣١) ﴿ مَا كَانَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ ﴾ نشته دوی ته هیڅ اختیار (اختیاراوارادہ یوازي دالله ده) ﴿ سُبْحَانَ اللَّهِ وَتَعَالَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴾ پاکي ده الله لره اولوی پورته دی له هغه څه چي دوی یې ورسره شریکوي قرطبي وایې معناداچي الله هغه څه چي وغواړي پیداکوي یې اوچي وغواړي نبوت ته یې غوره کوي اختیارگردسره دالله تعالی دی اوهغه یې په حکمت ښه پوهېدونکی دی هیڅوک واک نلري چي ده ته غوراوی اواختیار وروښیي ﴿ وَرَبُّكَ يَعْلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُورُهُمْ وَمَا يُعْلِنُونَ ﴾ اورب ستاته معلوم دي هرهغه چي پټوي یې سینې ددوی (له کفراودرسول اومؤمنانوله عداوت نه) اوهرهغه چی ښکاروی یې (پخپلوژبوله پېغور ورکولورسول الله ته چي وایې الله دابوطالب په یتیم باندي وحی نه دی رالیږلي ﴿ وَهُوَ اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ﴾ اوهمدی دی الله نشته بل لائق دعبادت مگرهم دی دی ﴿ لَهُ الْحَمْدُ فِي الْأُولَىٰ وَالْآخِرَةِ ﴾ خاص همده ته ټوله ثنادي په دنیااوآخرت کي (ځکه الله دی چي په بندگانویې ددواړو دارینونعمتونه لورولي دي) ﴿ وَلَهُ الْحُكْمُ ﴾ اوخاص ده ته حکم (قضااوفیصله دبندگانو) ﴿ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴾ اوده ته به تاسي وروستلی شي (په قیامت کي اوهرچاته به بیاپخپل عمل باندي جزاء ورکول شي).

بلاغت:

پدې آیتونوکي چي دبدیع اوبیان کومي ښکلاوي شته لنډیزیې دادی:

---

(١) صاوي ٣ / ٢٢٣

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

١- بليغه تشبيه چي ﴿ بَصَآئِرَ لِلنَّاسِ ﴾ يعني تورات موورکړی لکه دزړونورڼاڅکه هغه زړونه چي دتورات نور پکي نه وي لکه ړانده داسي دي چي حق له باطل څخه بېلولای نشي (١) دتشبيه ادات اودشبه وجه حذف شوي نوبليغه تشبيه ده.

٢- عقلي مجازلکه ﴿ أَنشَأْنَا قُرُونًا ﴾ مرادځني اُمتونه دي ځکه هغوی په دغوزمانوکي پيداکېږي نودوی ته دپېړيونسبت دعقلي مجازپه توګه شوی دی.

٣- اشتقاقي جناس لکه ﴿ تُصِيبَهُم مُّصِيبَةٌ ﴾.

٤- مرسل مجازلکه داچي ﴿ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ ﴾ مرادځني کسب دی چي دلته اطلاق دجزء اومرادځني کل دی زمخشري وايي چي ځرنګه چي دهرکارونه په لاسونوترسره کېږي ځکه يې نودهرعمل نسبت لاسونوته وکړ(٢)

٥- دځواب حذف چي دکلام سياق ورباندي دلالت کوي لکه ﴿ وَلَوْلَآ أَن تُصِيبَهُم مُّصِيبَةٌ ﴾ ځواب يې حذف شوی هغه داچي ای محمده! مابه ته دوی ته نه وې رااستولی اودغه ايجاز بالحذف دی.

٦- تحضيض اوهڅونه لکه ﴿ لَوْلَآ أُوتِيَ مِثْلَ مَآ أُوتِيَ مُوسَىٰٓ ﴾ يعني ولي نه دی ورکول شوی دغه (لو) دامتناع لپاره نه دی.

٧- تعجيزلکه چي وايي ﴿ قُلْ فَأْتُوا بِكِتَٰبٍ ﴾ امرله خپله حقيقته تعجيزته وتلی دی.

٨- سلبي طباق چي دادی ﴿ إِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَهْدِي ﴾.

٩- عقلي مجاز ﴿ حَرَمًا ءَامِنًا ﴾ دامن نسبت يې حرم ته وکړخوپه امن يې اهل دی.

١٠- دتهکم اواستهزاء اسلوب لکه داچي ﴿ أَيْنَ شُرَكَآءِيَ ٱلَّذِينَ كُنتُمْ تَزْعُمُونَ ﴾.

١١- مرسله تشبيه لکه ﴿ أَغْوَيْنَٰهُمْ كَمَا غَوَيْنَا ﴾.

١٢- تصريحي تبعيه استعاره چي فرمايې ﴿ فَعَمِيَتْ عَلَيْهِمُ ٱلْأَنۢبَآءُ ﴾ شهاب وايې چي: دنه لاربنوونې لپاره يې (عمی) استعاره کړه نودوی خبروته لاره نشي موندلای بيا يې پدې کي اوښتون(قلب) راووست چي خبرونه دوی ته لاره نشي موندلای اواصل ځوداسي دی (چي دوی له خبرونوڅخه نالیدونکي دي اوځرنګه چي د(خفاء)معناپکې وه نويې په (علی) سره متعدي کړچي دبلاغت ځوډولونه پکي شته استعاره، قلب اوتضمين درې سره پکي نغښتي دي.

١٣- دطباق صنعت چي د﴿ تُكِنُّ . . يُعْلِنُونَ ﴾ ترمينځ اود﴿ ٱلْأُولَىٰ . وَٱلْآخِرَةِ ﴾ ترمينځ شتون لري اودا له بديعي محسناتو څخه ګڼل کېږي.

---

(١) حاشيه شيخ زاده على البيضاوي ٣/ ٥١٥

(٢) الكشاف ٣/ ٣٢٠

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

تنبيه:

داچي وايي: ابو طالب په کفر کي مړشوی دی صحيح دی او قرآن او حديث دواړه وربانديي دلالت کوي ځيني متصوفين چي وايي هغه ترمرګ له مخه په اسلام مشرف شوی له نصوصو سره په ټکر کي دی بنايي چي دوی به دابو طالب اسلام دهغه له دې شعرونو څخه اخيستی وي چي وايي:

ولقد علمت بأن دين محمد من خير اديان البرية دينا والله لن يصلوا اليک بجمعهم حتى اوسد في التراب دفينا.

يعني په خدای قسم چي زه په دې وپوهېدم چي دمحمد دين ترګردو اديانو بهتر او غوره دی زمادي په الله سوګندوي که به کفار ټول تاته هيڅ تاوان درورسوي مګر که زه په خاورو کي ښخ شوم

زه وايم چي وروسته له هغه ممانعته چي له اسلامه يې وکړ بيا دا شعر څه معنا لري؟.

***

الله تعالى فرمايي:

قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِن جَعَلَ ٱللَّهُ عَلَيْكُمُ ٱلَّيْلَ سَرْمَدًا إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ مَنْ إِلَٰهٌ غَيْرُ ٱللَّهِ يَأْتِيكُم بِضِيَآءٍ ۖ أَفَلَا تَسْمَعُونَ
(٧١) قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِن جَعَلَ ٱللَّهُ عَلَيْكُمُ ٱلنَّهَارَ سَرْمَدًا إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ مَنْ إِلَٰهٌ غَيْرُ ٱللَّهِ يَأْتِيكُم بِلَيْلٍ
تَسْكُنُونَ فِيهِ ۖ أَفَلَا تُبْصِرُونَ (٧٢) وَمِن رَّحْمَتِهِۦ جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ لِتَسْكُنُوا۟ فِيهِ وَلِتَبْتَغُوا۟ مِن فَضْلِهِۦ وَلَعَلَّكُمْ
تَشْكُرُونَ (٧٣) وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ فَيَقُولُ أَيْنَ شُرَكَآءِىَ ٱلَّذِينَ كُنتُمْ تَزْعُمُونَ (٧٤) وَنَزَعْنَا مِن كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا
فَقُلْنَا هَاتُوا۟ بُرْهَٰنَكُمْ فَعَلِمُوٓا۟ أَنَّ ٱلْحَقَّ لِلَّهِ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا۟ يَفْتَرُونَ (٧٥) ۞ إِنَّ قَٰرُونَ كَانَ مِن قَوْمِ مُوسَىٰ
فَبَغَىٰ عَلَيْهِمْ ۖ وَءَاتَيْنَٰهُ مِنَ ٱلْكُنُوزِ مَآ إِنَّ مَفَاتِحَهُۥ لَتَنُوٓأُ بِٱلْعُصْبَةِ أُو۟لِى ٱلْقُوَّةِ إِذْ قَالَ لَهُۥ قَوْمُهُۥ لَا تَفْرَحْ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ
ٱلْفَرِحِينَ (٧٦) وَٱبْتَغِ فِيمَآ ءَاتَىٰكَ ٱللَّهُ ٱلدَّارَ ٱلْءَاخِرَةَ ۖ وَلَا تَنسَ نَصِيبَكَ مِنَ ٱلدُّنْيَا ۖ وَأَحْسِن كَمَآ أَحْسَنَ ٱللَّهُ
إِلَيْكَ ۖ وَلَا تَبْغِ ٱلْفَسَادَ فِى ٱلْأَرْضِ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلْمُفْسِدِينَ (٧٧) قَالَ إِنَّمَآ أُوتِيتُهُۥ عَلَىٰ عِلْمٍ عِندِىٓ ۚ أَوَلَمْ يَعْلَمْ أَنَّ ٱللَّهَ قَدْ
أَهْلَكَ مِن قَبْلِهِۦ مِنَ ٱلْقُرُونِ مَنْ هُوَ أَشَدُّ مِنْهُ قُوَّةً وَأَكْثَرُ جَمْعًا ۚ وَلَا يُسْـَٔلُ عَن ذُنُوبِهِمُ ٱلْمُجْرِمُونَ (٧٨) فَخَرَجَ عَلَىٰ
قَوْمِهِۦ فِى زِينَتِهِۦ ۖ قَالَ ٱلَّذِينَ يُرِيدُونَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا يَٰلَيْتَ لَنَا مِثْلَ مَآ أُوتِىَ قَٰرُونُ إِنَّهُۥ لَذُو حَظٍّ عَظِيمٍ (٧٩)
وَقَالَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ وَيْلَكُمْ ثَوَابُ ٱللَّهِ خَيْرٌ لِّمَنْ ءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحًا وَلَا يُلَقَّىٰهَآ إِلَّا ٱلصَّٰبِرُونَ (٨٠)
فَخَسَفْنَا بِهِۦ وَبِدَارِهِ ٱلْأَرْضَ فَمَا كَانَ لَهُۥ مِن فِئَةٍ يَنصُرُونَهُۥ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلْمُنتَصِرِينَ (٨١) وَأَصْبَحَ
ٱلَّذِينَ تَمَنَّوْا۟ مَكَانَهُۥ بِٱلْأَمْسِ يَقُولُونَ وَيْكَأَنَّ ٱللَّهَ يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ وَيَقْدِرُ ۖ لَوْلَآ أَن مَّنَّ ٱللَّهُ عَلَيْنَا
لَخَسَفَ بِنَا ۖ وَيْكَأَنَّهُۥ لَا يُفْلِحُ ٱلْكَٰفِرُونَ (٨٢) تِلْكَ ٱلدَّارُ ٱلْءَاخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِينَ لَا يُرِيدُونَ عُلُوًّا فِى ٱلْأَرْضِ وَلَا فَسَادًا ۚ
وَٱلْعَٰقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ (٨٣) مَن جَآءَ بِٱلْحَسَنَةِ فَلَهُۥ خَيْرٌ مِّنْهَا ۖ وَمَن جَآءَ بِٱلسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزَى ٱلَّذِينَ عَمِلُوا۟ ٱلسَّيِّـَٔاتِ إِلَّا مَا كَانُوا۟

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

يَعْمَلُونَ ﴿٨٤﴾ إِنَّ الَّذِي فَرَضَ عَلَيْكَ الْقُرْآنَ لَرَادُّكَ إِلَىٰ مَعَادٍ ۚ قُل رَّبِّي أَعْلَمُ مَن جَاءَ بِالْهُدَىٰ وَمَنْ هُوَ فِي ضَلَالٍ
مُّبِينٍ ﴿٨٥﴾ وَمَا كُنتَ تَرْجُو أَن يُلْقَىٰ إِلَيْكَ الْكِتَابُ إِلَّا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ ۖ فَلَا تَكُونَنَّ ظَهِيرًا لِّلْكَافِرِينَ ﴿٨٦﴾ وَلَا
يَصُدُّنَّكَ عَنْ آيَاتِ اللَّهِ بَعْدَ إِذْ أُنزِلَتْ إِلَيْكَ ۖ وَادْعُ إِلَىٰ رَبِّكَ ۖ وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿٨٧﴾ وَلَا تَدْعُ مَعَ اللَّهِ
إِلَٰهًا آخَرَ ۘ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُ ۚ لَهُ الْحُكْمُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٨٨﴾ ﴾ القصص ٧١ـ ٨٨

مناسبت:

کله چي الله ددې یادونه وکړه چي هغه خالق مختاردی اومشرکان ناپوهان دي چي له الله څخه پرته دبل چاعبادت کوي ورپسي یې دالله په عظمت اوسلطان دلائل راوړي ترڅوبندګان دالله جل جلاله دنعمتونوشکرته متوجه کړي بیایې دقارون کیسه هغه چي دمال دولت په سبب یې طغیان غوره کړی وو راوړه اودهغه بدمرغه برخه لیک چي په ده اوخزانویې څمکه وچودله دوی پکي ننوتل وښودچي همدغه دغرور اواستعلاء نتیجه ده.

لغتونه:

(سرمدًا) تلپاتي همیشه (مفاتحه) دمفتح جمع اوهغه څه ته وایې چي ورباندي بل څیزخلاصیږي اودمفتاح جمع مفاتیح راځي (تنوء) دروندوالي ته وایې چي سړی کږوي (العصبة) ټولی اوهمداسي ده (عصابة) اوله دې څخه دالله تعالی ویناده (ونحن عصبة) ټولی ته یې ځکه عصبه وویل: چي ځیني دځیني نورو ټینګول کوي (ویکأن) جوهري وایې چي (وی) دتعجب کلمه ده اوکله کله په (کأن) داخلیږي نوویلای شي (ویکأن) اوچابیاویلي دي دغه دخطا دتدارک په وخت کي ویل کیږي چي سړی پښیماني څرګندوي خلیل وایې چي: قوم متوجه شواوپخپل کړو وړو پښیمانه شو ویې ویل: (وَی) (١)

تفسیر:

﴿ قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِن جَعَلَ اللَّهُ عَلَيْكُمُ اللَّيْلَ سَرْمَدًا إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ ﴾ ووایه (ای محمده ! دغودمکې منکرینو کفاروته آیاوینی (څرنګه درته ښکاري؟) که چیري وګرزوي الله پرتاسودغه شپه اوږده تروروځي دقیامته پوري ﴿ مَنْ إِلَٰهٌ غَيْرُ اللَّهِ يَأْتِيكُم بِضِيَاءٍ ﴾ نوڅوک دی هغه (معبود) بې له الله چي تاسي ته رڼاراوړي (اوتاسي دژوندانه اړتیاوي پکي بشپړي کړی) ﴿ أَفَلَا تَسْمَعُونَ ﴾ آیاپس تاسي دغه خبره نه اوری ؟ (دزړه په غوږونو چي ویې منی اودالله په وحدانیت یې دلیل وګرزوی) ﴿ قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِن جَعَلَ اللَّهُ عَلَيْكُمُ النَّهَارَ سَرْمَدًا إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ ﴾ ووایه (ای محمده دوی ته !) آیاوینی تاسي (څرنګه درته ښکاري) که چیري الله وګرزوي پرتاسي ورځ اوږده همیشه تر ورځي دقیامته ﴿ مَنْ إِلَٰهٌ غَيْرُ اللَّهِ يَأْتِيكُم بِلَيْلٍ تَسْكُنُونَ فِيهِ ﴾ نوڅوک دی (معبود) بې له الله چي راوړي تاسي ته شپه چي تاسي پکي آرام وکړی

(١) تفسیر کبیر ٢٥ / ١٩ * په پښتو کي هم د (وَی) کلمه دافسوس اوپښیماني په وخت کي ویل کیږي (ژباړن).

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

؟ ستوماني ليري کړی ﴿أَفَلَا تُبْصِرُونَ﴾ آيا نه وينی تاسي ؟ (دغه دالهي قدرت ننباني، چي تاسي په ضلالت اوګمراهي کي اوسی بيا وروسته الله په بندګانو دخپل بشپړ رحمت دپېرزويني داسي يادونه کوي ﴿وَمِن رَّحْمَتِهِۦ جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ﴾ اوخاص له رحمته مهرباني خپلي يې پيداکړي ده تاسي شپه او ورځ (چي په خورادقت اوباريکي يوپه بل پسي رادرومي) ﴿لِتَسْكُنُوا۟ فِيهِ وَلِتَبْتَغُوا۟ مِن فَضْلِهِۦ﴾ دپاره ددې چي آرام وکړی تاسي په هغه (شپه) کي اوچي ولټوی تاسي په دغه ورځ کي له فضله ددغه (الله) معاش اوکسب کار) ﴿وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ﴾ اولپاره ددې چي تاسي شکروکړی (دنعمتونو) دالله چي هيڅ شمېريې نشته اودهغو له ډلي څخه يونعمت هم شپه او ورځ دي امام رازي رحمه الله وايې چي الله تبارک وتعالی پدې آيت شريف کي پدې تنبيه وفرمايله چي دغه شپه او ورځ دالله نعمتونه دي چي يوپه بل پسي راځي ځکه انسان په دنياکي دې ته اړدی چي دخپلو ضروريا توپه ترلاسه کولو کي به ستومانه کېږي اودغه بې دورځي له رڼاڅخه ممکنه نده اونه هم دشپې راحت اوآرام څخه پرته کېدونکي ده نودوی دواړه نهايت ضروري دي او په جنت کي خوستوماني اوربړونه نشته نوځکه روښنايې اوخوندونه تل ترتله وي (١) ﴿وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ فَيَقُولُ أَيْنَ شُرَكَآءِىَ ٱلَّذِينَ كُنتُمْ تَزْعُمُونَ﴾ (اويادکړه هغه ورځ چي غږيه وکړي دوی ته (الله) پس وبه فرمايې (الله) چېري دي شريکان زماهغه چي تاسوبه پرې د (شريکانو) ګمان کاوو؟) ابن کثيروايې دغه د هغه نداء (غږ) دی چي دتوبيخ لپاره هغه چاته چي له الله سره يې شريکان نيولي دخلکوپه وړاندي کېږي (٢) ﴿وَنَزَعْنَا مِن كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا﴾ اوراوبه باسوله هرامت څخه يو شاهد (چي ګواهي ورکړي په عملونوددوی هغه به ددوی نبي وي ﴿فَقُلْنَا هَاتُوا۟ بُرْهَٰنَكُمْ﴾ (پس موږبه دوی ته ووايوراوړئ تاسي برهان خپل) يعني خپل دليل راوړئ چي له څه کبله موکفرغوره کړی وو دغه ددوی دتوبيخ او تعجيزلپاره دی ﴿فَعَلِمُوٓا۟ أَنَّ ٱلْحَقَّ لِلَّهِ﴾ پس (هلته) به دوی پوه شي چي حق (په الوهيت) يوازي الله لره دی (بې له الله بل دعبادت لائق څوک نشته) ﴿وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا۟ يَفْتَرُونَ﴾ او ورک به شي له دوی نه هغه څه چي دوی به دروغ جوړول، له الله سره به يې شريکان نيول بيادقارون کيسه اودغرور اوطغيان پايله اونتيجه داسي بيانېږي ﴿إِنَّ قَٰرُونَ كَانَ مِن قَوْمِ مُوسَىٰ﴾ بېشکه چي قارون وو له قومه دموسی ؛ ابن عباس ﷺ وايې چي دتره زوی يې وو ﴿فَبَغَىٰ عَلَيْهِمْ﴾ پس سرکشي وکړه (قارون) پردوی (بني اسرائيلوچي ده ته الله خزاني اومال دولت ورکړی ووطبري وايې معناداچي: له حدڅخه يې تجاوز وکړ اوپردوی يې ځان لوړ اوجابرګانه (٣) ﴿وَءَاتَيْنَٰهُ مِنَ ٱلْكُنُوزِ مَآ إِنَّ مَفَاتِحَهُۥ لَتَنُوٓأُ بِٱلْعُصْبَةِ أُو۟لِى ٱلْقُوَّةِ﴾ او ورکړی وومو ږده ته له خزانو دومره قدرچي بېشکه کليګاني دهغوبه خامخا

---

(١) تفسيرکبيرامام رازي ٢٥/ ١١

(٢) مختصرابن کثير ٣/ ٢٢

(٣) الطبري ٢٠/ ٧٧

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

درنېدلې پرداسي تولى چي خاوندان دقوت به وو؛ چي خورا ډېري اودرنې به وې مالونه اوخزانې يې لاڅه کوې، دغه په آيت شريف کي دقارن دډېرو مالونو ، دولتونو اوخزانوانځور (تصوير) دی ﴿ إِذْ قَالَ لَهُۥ قَوْمُهُۥ لَا تَفْرَحْ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلْفَرِحِينَ ﴾ (يادکړه) هغه وخت چي وويل دغه (قارون) ته قوم دده (چي مسلمانان وو) مه خوشحالېږه (په کبراوغرور) بېشکه چي الله نه خوښوي خوشحالېدونکي (په مال اودولت ددنياهغوی چي دالله دنعماووشکرنه اداکوي اودالله په بندګانوباندي دمال لرلو په ويار تکبر اوغرور کوي ﴿ وَٱبْتَغِ فِيمَآ ءَاتَىٰكَ ٱللَّهُ ٱلدَّارَ ٱلْءَاخِرَةَ ﴾ او وغواړه په هغه (دولت) چي الله تاته درکړی دی کور دآخرت ، نېکي اوصالحات ترسره کړه صدقې ورکړه اومال دطاعاتوپه لاره کي ولګوه ﴿ وَلَا تَنسَ نَصِيبَكَ مِنَ ٱلدُّنْيَا ﴾ اومه هېروه برخه خپله له (ماله د) دنيا ، حسن بصري رحمه الله وايې چی معناداچي خپله دنيايې برخه دي هم پدې لاره کي مه هېروه (١)﴿ وَأَحْسِن كَمَآ أَحْسَنَ ٱللَّهُ إِلَيْكَ ﴾ اواحسان کوه (له بندګانودالله سره په ورکولودمال) لکه چي الله له تاسره احسان کړی دی (چي ډېر دولت يې درکړی) ﴿ وَلَا تَبْغِ ٱلْفَسَادَ فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ مه غواړه (ای قارونه) فساد (په تکبراوظلم کولوسره) په ځمکه کي) يعني په دغه ډېرمال او دولت سره په خلګو لويې مه کوه اوپه عصيان کولوپه ځمکه کي فسادمه جوړوه ! ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴾ بېشکه چي الله نه خوښوي فسادکونکي (باغيان په ځمکه کي) ﴿ قَالَ إِنَّمَآ أُوتِيتُهُۥ عَلَىٰ عِلْمٍ عِندِىٓ ﴾ وويل:(قارون خپل قوم ته کله چي يې ده ته نصيحت وکړ) بېشکه همداخبره ده چي راکړی شوی دی ماته دغه مال په هغه پوهه چي له ماسره ده (دمال موندلواوکسب اوکار)که الله له ماخوښ نه وای اوزمااستحقاق يې نه ګڼلای بيابه يې نه راکاوو الله ﷻ يې داسي ترديدفرمايې: ﴿ أَوَلَمْ يَعْلَمْ أَنَّ ٱللَّهَ قَدْ أَهْلَكَ مِن قَبْلِهِۦ مِنَ ٱلْقُرُونِ مَنْ هُوَ أَشَدُّ مِنْهُ قُوَّةً وَأَكْثَرُ جَمْعًا ﴾ آيانه پوهېدو(قارون) چي بېشکه (الله) په تحقيق هلاک کړي دي پخواله دغه (قارون) څخه له (اهل د) زمانوهرهغه څوک چي دی ډېرسخت وواله دغه (قارون) څخه له جهته دزور ، قوت اوله سببه دمال راټولولو. بيضاوي وايې چي: په آيت شريف کي دده په غرور، تعجب اوده ته توبيخ شته چي دی څرنګه پخپل زور اوبډايې غره دی سره له علمه دده چي تورات يې لوستلی اوله تاريخ پوهانوڅخه يې هم اورېدلي دي (٢)﴿ وَلَا يُسْـَٔلُ عَن ذُنُوبِهِمُ ٱلْمُجْرِمُونَ ﴾ (اونه به شي پوښتلی له خپلو ګناهونوڅخه کافران) يعني الله به دوی دخپلوګناهونوله څرنګوالي اوڅووالي نه پوښتي هغه په هرڅه عالم دی نود دوی هلاکت ددوی ترپوښتلو اړه نلري اوکله چي دالله ورته عذاب اراده شي نابېره يې هلاکوي وروسته بياالله دې ته اشاره کوي چي قارون دخپل ټبرپه نصيحت کولوپندنه واخيست بلکه لانورپخپل جبروت

---

(١) چابياويلی معناداچي عمردي په پرېښودلودنېکواعمالوکي مه ضائع کوه دغه دابن عباس اومجاهدويناده خوهغه چي حسن بصري اوقتاده ويلي څرګنده اوابن کثيرغوره کړي ده.

(٢) البيضاوي ٣ / ٩٥

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

اوتکبرکي وغزېدو ﴿ فَخَرَجَ عَلَىٰ قَوْمِهِۦ فِى زِينَتِهِۦ ﴾ پس راووت (قارون) پرخپل قوم په (پوره) ښايست خپل کي. مفسرين کرام وايې هغه يوه ورځ په پوره ښايست اودبدبه کي له خپلو پلويانوسره پداسي حال کي چي وربښميني جامې يې اغوستي اودزروکمی يي نه ووپه سمبالو آسانو سپاره راووتل چي نجوني اوهلکان هم ورسره وو هيښوونکی کاروان يې روان وو ﴿ قَالَ ٱلَّذِينَ يُرِيدُونَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا يَٰلَيْتَ لَنَا مِثْلَ مَآ أُوتِىَ قَٰرُونُ ﴾ (وويل هغوچي غوښت يې دغه ژوندون ددنيا ای کاشکي چي وای موږته هم (له ثروته) په شان دهغو(اموالو) چي قارون ته ورکړی شويدي) يعني کله چي ضعيف الايمانه خلکوهغه چي ددنياد ژوندانه په ځلاغولېږي وليدنويې دغه افسوس وکړ ﴿ إِنَّهُۥ لَذُو حَظٍّ عَظِيمٍ ﴾ بيشکه دا قارون دلويي برخي خاوند دي (له دنيا څخه)﴿ وَقَالَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ ﴾ اوويل(دوی ته) هغوکسانو چي دوی ته علم ورکړل شوی وو(پوهان وواواستقامت يې په برخه وو) ﴿ وَيْلَكُمْ ثَوَابُ ٱللَّهِ خَيْرٌ لِّمَنْ ءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحًا ﴾ (افسوس دی تاسي ته(ای دنياغوښتونکو) ثواب دالله ډېرغوره دی هغه چاته چي ايمان يې راوړی وي (په الله اورسول) اوعمل يې کړی وی دنېکيو) يعني له دې خبرو لاس واخلئ هغه ثواب چي الله يې نېکانوته ورکوي تردې ډېرښه دی. زمخشري وايې چي: د(ويلک) اصلی معنانښېراده اوبياوروسته په زجر اوترتنه کي استعمال شوه چي هسي مکوه !(١) ﴿ وَلَا يُلَقَّىٰهَآ إِلَّا ٱلصَّٰبِرُونَ ﴾ اونشي ښوولي دغه(خبره) مګر صبرکونکيوته(په امرالله ﷻ وروسته بيادده دبدمرغه برخه ليک تنبيه الله تعالی داسي فرمايې: ﴿ فَخَسَفْنَا بِهِۦ وَبِدَارِهِ ٱلْأَرْضَ ﴾ (پس ننې يوست موږ دغه (قارون) اوکورددده په ځمکه کي) يعني موږځمکه وچودله او هغه موسره له کوره اوخزانوپکي ښخ کړاودغه دهغه دتکبراوغرور سزاوه ﴿ فَمَا كَانَ لَهُۥ مِن فِئَةٍ يَنصُرُونَهُۥ مِن دُونِ ٱللَّهِ ﴾ پس څه نه وو ده ته(په دغه وخت کي) هيڅ ډله (ددوستانو) چي مددګاري يې کړي وي له ده سره غيرله الله څخه (څوچي له عذابه يې وژغوري) ﴿ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلْمُنتَصِرِينَ ﴾ اونه وو (قارون) پخپله له بدل اخيستونکوڅخه(چي ځان دي وژغوري بلکه هلاک شو) ﴿ وَأَصْبَحَ ٱلَّذِينَ تَمَنَّوْا۟ مَكَانَهُۥ بِٱلْأَمْسِ ﴾ او وګرزېدل هغه کسان چي آرزوبه يې کوله دمرتبې ددغه (قارون) بېګاه (وروسته له ليدلودډوبېدودده په ځمکه کي) ﴿ يَقُولُونَ وَيْكَأَنَّ ٱللَّهَ يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ وَيَقْدِرُ ﴾ (ويل به يې (يوبل ته) افسوس دی چي بېشکه الله پراخوي روزي هرهغه چاته چي اراده وفرمايې له خپلوبندګانواوتنګوي (الله دغه روزي چي هرچاته اراده وفرمايې دتنګولويې) يعني دوی به دافسوس په توګه يوبل ته ويل چي دوی پرون کومه تمناکوله هغه دپښېماني ده وګورئ ای خلګوالله ته چي څرنګه پراخوي روزي اوتنګوي يې له خپل حکمت اومشيت سره سم نه د روزي پراخوالی په کرامت پسي اړه لري اونه خواري بېوزلي په سپکتياپوري

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

بلکه دایو ازمویښت دی. زمخشري وایې چې (ویکأن) دوې کلمې دي یوه یې (وَی) چې له کأن څخه جلاکړی شوي اوپه خطاباندي دتنبیه معنا ورکوي معناداچې ای خلګو په خپله خطاپوه شئ چې دقارون دمنزلت غوښتنه موکوله پښېمانه شئ (١) اوویل یې ﴿ لَوْلَآ أَن مَّنَّ ٱللَّهُ عَلَيْنَا لَخَسَفَ بِنَا ﴾ که چېري دالله احسان په موږ نه وای نو خامخا موږبه یې په مځکه کي ډوب کړي وو(لکه چې قارون یې ډوب کړ) ﴿ وَيْكَأَنَّهُۥ لَا يُفْلِحُ ٱلْكَٰفِرُونَ ﴾ افسوس دی ته نه پوهېږي نه وینې چې نه خلاصېږي کافران (له عذابه) نه په دنیااونه په آخرت کي اوتردې ځایه دقارون کیسه پای ته رسېږي هغه چې دمال اودولت دطغیان کیسه وه وروسته له هغه راغله چې دهغه دجاه اوسلطان طغیان وو اودموسی علیه السلام او فرعون په کیسه کي نغښتي وه ورپسې سمدستي دالله داکلام راځي چې: ﴿ تِلْكَ ٱلدَّارُ ٱلْءَاخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِينَ لَا يُرِيدُونَ عُلُوًّا فِى ٱلْأَرْضِ وَلَا فَسَادًا ﴾ (دغه کورِدآخرت (چې جنت دی) ورکوو موږ دادپاره دهغو کسانوچې دلویې اوفساداراده په ځمکه کي نلري اونه فسادظلم کوي (پرخلګو) (تِلْكَ)اشاره دتفخیم او تعظیم لپاره ده یعني دغه لوړ اوچت کورچې تایې خبر واورېدو اوصفت یې درته ورسېدودغه تلپاتي جنت دی چې داسي نعمتونه پکي خوندي دي نه سترګولیدلی ، نه غوږو اورېدلي اونه دچاپه زړه اورېدلي دي دادهغوپرهېزګارانولپاره دي چې تکبر نه کوي، طغیان اوعدوان نه خوښوي اونه په دنیاکي دفساداراده لري ﴿ وَٱلْعَٰقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ ﴾ اوعاقبت ښه خاتمه لپاره دپرهېزګارانودی (هغوی چې له الله وېرېږي اودالله خوښي اورضاغواړي ﴿ مَن جَآءَ بِٱلْحَسَنَةِ فَلَهُۥ خَيْرٌ مِّنْهَا ﴾ هرچاچې وکړه کومه نېکي پس شته ده ته جزاء غوره چې الله یې څوچنده ثواب ورکوي په قیامت کي﴿ وَمَن جَآءَ بِٱلسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزَى ٱلَّذِينَ عَمِلُوا۟ ٱلسَّيِّـَٔاتِ إِلَّا مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴾ اوهرچاچې وکړه کومه بدي پس نشي ورکولای جزاهغو کسانوته چې کړی یې دی (عمل د)بدي مګر(جزاء دهغه شي) چې دوی به کاوو اودغه دالله فضل او احسان دی چې دبندګانونېکي څوچنده کوي اوبدي یې پخپل حال پرېږدي ﴿ إِنَّ ٱلَّذِى فَرَضَ عَلَيْكَ ٱلْقُرْءَانَ لَرَآدُّكَ إِلَىٰ مَعَادٍ ﴾ بېشکه هغه (الله) چې فرض (نازل) کړي یې دي پرتا(احکام د) قرآن (او عمل کول پرهغه ای محمده !) خامخابېرته بېوونکی دی دتاهغه ځای دوعدې (مکې) ته (لکه چې یې ځني راایستلی یې دغه دالله هغه وعده ده چې دمکې دفتحي په هکله یې له رسول الله ﷺ سره فرمایلي وه وروسته له هغه چې رسول الله ځني هجرت وکړ. ابن عباس وایې معنادا چې بیرته بېوونکی ستادی مکې ته اوضحاک وایې کله چې رسول الله ﷺ له مکې څخه بهرراووت اوچې د(جحفة) مقام ته راورسېدومکه شریفه یې ویادېدله نوالله ﷻ داپورتنۍ ایت نازل کړ(٢)﴿ قُل رَّبِّىٓ أَعْلَمُ مَن جَآءَ بِٱلْهُدَىٰ وَمَنْ هُوَ فِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴾ ووایه

---

(١) الکشاف ٣ / ٢٤٢ هودغه دخلیل اوسیبویه مذهب هم دی اوجمهوروغوره کړی په جلالین تفسیرکي وایې (وی) اسم فعل دی چې معنایې زه تعجب کوم او(ک) دلام په معناچې په مجموع کي یې معناداسي راځي (أعجب لأن الله یبسط) اوطبري بیاله قتاده څخه روایت راوړي چې د(ویکأن) معنی (ألم ترأن) اودغه یوه کلمه ده دطبري همداغوره ده والله اعلم

(٢) تفسیرابن الجوزي ٦ / ٢٣٩

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

(ای محمده دوی ته!) زمارب ته هغه څوک ښه معلوم دی چي راوړي يې ده سمه لاره اوهغه څوک چي په ښکاره ګمراهي کي دی (زه يم اوکه تاسو؟ الله ته نېکوکارله بدکاره ښه معلوم دی اوهريوه ته پخپل عمل سزا ورکوي دا دمکې دکفارو دهغي خبري ځواب دی چي دوی به ويل: (انک يامحمدفی ضلال مبين)

ای محمده بېشکه ته په ښکاره ګمراهي کي يې! ﴿ وَمَا كُنتَ تَرْجُوٓا۟ أَن يُلْقَىٰٓ إِلَيْكَ ٱلْكِتَٰبُ إِلَّا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ ﴾ اونه وې ته چي هيله دي درلوده ددې چي راوبه لېږلی شي تاته کتاب (قرآن) ليکن (راولېږل شو) په رحمت مهرباني له(جانبه) درب ستا. فراء وايې دغه استثناء منقطع ده معناداچي ستاپالونکی دربانديي مهربان شو اوکتاب يې درته راواستاوو ﴿ فَلَا تَكُونَنَّ ظَهِيرًا لِّلْكَٰفِرِينَ ﴾ پس مه کېږه ته خامخا مددګارلپاره دکافرانو(په دين ددوی کي چي له دوی سره مدارات وکړي اوپه ګمراهي کي يې مرستندوی شي بلکه ددوی مخالفت وکړه! مفسرين کرام وايې چي: مشرکانورسول الله دخپلو پلرونو دين ته وروبالونوالله ورته امروفرمايوچي له دوی څخه ځان ګوره اوهغوی په ډاګه دحق لوري ته راوبوله خطاب پدې آيت اوهمداسي نورو آيتونوکي پيغمبر عليه السلام ته دی اومقصديې امت دی څوچي له کفاروسره موافقه ونکړي اودبې ديني په لاره کي يې مددګار ثابت نشي ﴿ وَلَا يَصُدُّنَّكَ عَنْ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ بَعْدَ إِذْ أُنزِلَتْ إِلَيْكَ ﴾ (چي وادي نه ړوي (کفار) خامخاتا(په مکراو فريب) له آيتونود الله پس له هغه چي تاته نازل کړل شول) يعني دغومشرکانوته التفات مکوه اومه ورته غوږ نيسه نودوی به تاله نازل کړی شوي ښکاره آيتونو څخه واړوي ﴿ وَٱدْعُ إِلَىٰ رَبِّكَ ﴾ اووبوله خلک (توحيد اوعبادت د) رب خپل ته ﴿ وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴾ اومه کېږه ته خامخاله مشرکانوڅخه(چي ددوی په غاړه ورسره ځي ځکه څوک چي ديوچاپه طورطريقه خوښ وي هغه دهغوي له ډلي څخه دی ﴿ وَلَا تَدْعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ ﴾ اومه بوله ته له الله سره بل معبود ﴿ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ﴾ نشته هيڅ لائق دبللو بل هيڅوک مګرهم دی دی. بيضاوي وايې چي: دغه اوهغه پخوانی حکم دهڅوني لپاره دی اوداچي دمشرکانوتمه وخېژي چي رسول الله به يې مرسته وکړي (١) ﴿ كُلُّ شَىْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُۥ ﴾ هرڅيزفاني کېدونکی دی مګرذات دده (چي تل باقي دی) دلته يې (وجه) ذکرکړي اومرادځني مقدس ذات دالله تعالی دی. ابن کثيروايې چي دغه ددې اخباردی چي الله تل ترتله -الحي القيوم- دی چي خلک به مري اوالله به تل باقي وي نوتعبيرپه (وجه) سره له ذات نه راغلی لکه داقول دالله چي فرمايې: ﴿ كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ وَيَبْقَىٰ وَجْهُ رَبِّكَ ذُو ٱلْجَلَٰلِ وَٱلْإِكْرَامِ ﴾ الرحمن: ٢٦ - ٢٧ ﴿ لَهُ ٱلْحُكْمُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴾ هم ده ته حکم (نافذه قضاء) اوهم ده ته به بيرته بوتلی شی تاسي (لپاره دجزاء په ورځ دقيامت کي نه بل چاته).

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

بلاغت:

پدې آیتونو کې چې دبدیع او بیان کومې ښکلاوې شته لنډیزیې دادی.

١- تبکیت او توبیخ لکه: ﴿ مَنْ إِلَٰهٌ غَيْرُ ٱللَّهِ يَأْتِيكُم بِضِيَآءٍ ﴾ او پدې ډول ﴿ يَأْتِيكُم بِلَيْلٍ ﴾ ؟

٢- کله چې مرتب لف او نشر راوړي ﴿ وَمِن رَّحْمَتِهِۦ جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ ﴾ شپه اوورځ یې یوځای کړه ورپسې یې وفرمایل ﴿ لِتَسْكُنُوا۟ فِيهِ وَلِتَبْتَغُوا۟ مِن فَضْلِهِۦ ﴾ نو سکون یې دشپې لپاره راوړ او دمعاش لټول دورځې لپاره اودغه دبدیع دعلماوو او پوهانو په نظر لف او نشر مرتب بولي ځکه لومړی دلومړي لپاره او دوهم ددوهم لپاره راوګرزېدو او دغه له بدیعي محسناتو څخه ګڼل کېږي.....

٣- اشتقاقي جناس لکه: ﴿ لَا تَفْرَحْ ... ٱلْفَرِحِينَ ﴾ او همداسې ﴿ ٱلْفَسَادَ ... ٱلْمُفْسِدِينَ ﴾.

٤- دجملې تاکید په (ان) او (لام) سره چې کله فرمایې: ﴿ إِنَّهُۥ لَذُو حَظٍّ عَظِيمٍ ﴾ ځکه چې اورېدونکي شکمن او متردد دي.

٥- کنایه لکه داچې: ﴿ تَمَنَّوْا۟ مَكَانَهُۥ بِٱلْأَمْسِ ﴾ له قریب ماضي زمانې څخه یې په بېګاه باندې کنایه راوړه.

٦- دطباق صنعت لکه: ﴿ يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ وَيَقْدِرُ ﴾.

٧- لطیفه مقابله چې فرمایې: ﴿ مَن جَآءَ بِٱلْحَسَنَةِ فَلَهُۥ خَيْرٌ مِّنْهَا ۖ وَمَن جَآءَ بِٱلسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزَى ﴾ دآیت ترپایه.

٨- مرسل مجاز لکه داسې ﴿ إِلَّا وَجْهَهُۥ ﴾ جزء یې راوړی او راده یې دکل ده یعني مقدس ذات دالله تعالی او پدې کې مرسل مجاز دی.

دالله په مرسته دالقصص سورت تفسیر بشپړ شو.

***

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

دالعنكبوت سورت مكي اونه شپېته آياتونه لري

دسورت په وړاندي:

دالعنكبوت سورت مكي اوموضوع يې پخپلواساسي تكوكي چي وحدانيت ، رسالت اوبعث اوجزآء دى دعقيدې موضوع ده دسورت محور ايمان دى اودهغه په شاو خواراگرزي او دازموينبت سنت چي په ژوندانه كي ار ومروشته څېړي لكه چي مسلمانانوداسلام په لومړيوكي په مكه مكرمه كي ډول ډول كړاوونه اوستونزي وگاللي نوځكه دازموينى په هكله سورت خوراپه تفصيل سره بيان كوي په ځانگړي توگه كله چي دانبياووعليهم السلام كيسې رااخلي.

* سورت پدې څرگندو اوښكاره تكوپيلېږي چي ﴿ الٓمٓ أَحَسِبَ ٱلنَّاسُ أَن يُتْرَكُوٓا أَن يَقُولُوٓا ءَامَنَّا وَهُمْ لَا يُفْتَنُونَ ﴾ همداسي سورت دهغوخلگوبيان كوي چي ايمان يوازي په خوله باندي دكلمې لوستل گني اوچي كله ورباندي سختي اوكړاوونه راشي نوهله بيا سمدستي دگمراهي دوزخ ته درومي اومرتدكېږي څوچي له دنيوي مشكلاتو اوتكليفونوځان وژغوري ته به وا گواكي چي دآخرت عذاب ددنياتر عذاب سپك اوآسانه وي ﴿ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَقُولُ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ فَإِذَآ أُوذِىَ فِى ٱللَّهِ جَعَلَ فِتْنَةَ ٱلنَّاسِ كَعَذَابِ ٱللَّهِ ﴾ دآيتونوترپايه.

* سورت په تلوتلوكي دانبياووعليهم السلام تكليفونه اوهغه سختي بيانوي چي دوى دتبليغ په لاره كي گاللي اودنوح ﷺ كيسه پيل كوي وروسته ابراهيم ، بيالوط وروسته شعيب عليهم السلام راوړي اودځينوسرغړونكومتجبرينولكه عاد، ثمود، قارون، اوهامان دهلاكت پېښي بيانوي چي: ﴿ فَكُلًّا أَخَذْنَا بِذَنۢبِهِۦ ۖ فَمِنْهُم مَّنْ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِ حَاصِبًا ﴾ اودانبياووپه كيسوكي دابتلاء اوازموينبت درسونه دي چي څومره دتبليغ زيارونه يې گالل اوپه لاس به هيڅ نه ورتلل دغه نوح ﷺ دى چي دنه سوه پنځوس كلونوپه اوږده موده كي يې قوم دالله لاري ته بالو، خوډېرلږ كسانوله ده سره ايمان راووړ چي فرمايي: ﴿ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِۦ فَلَبِثَ فِيهِمْ أَلْفَ سَنَةٍ إِلَّا خَمْسِينَ عَامًا فَأَخَذَهُمُ ٱلطُّوفَانُ وَهُمْ ظَٰلِمُونَ ﴾ اودغه دانبياوو پلار ابراهيم ﷺ دى چي پرهره وسيله غواړي خپل قوم دالله لوري ته راوبولي اوپه دليلونواوعلمي سندونوهغوى ته قناعت وركړي خودغه گردي هلي ځلي هغوى ته پرته له طغيان بل څه نه ورزياتوي اووايي: ﴿ قَالُوا۟ ٱقْتُلُوهُ أَوْ حَرِّقُوهُ فَأَنجَىٰهُ ٱللَّهُ مِنَ ٱلنَّارِ ﴾ .

* همداسي دلوط ﷺ په كيسه كي دهغه دقوم هغه درذالت اوبې حيايې ښكاره مثال دى چي الله فرمايي: ﴿ وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦٓ إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلْفَٰحِشَةَ مَا سَبَقَكُم بِهَا مِنْ أَحَدٍ مِّنَ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ دآيتونوترپايه او وروسته له دغه څغلنده كتني چي دانبياووپه هكله يې كوي سورت دمحمدي رسالت رښتنولي بيانوي چي هغه يوأمي سړى دى هغه ليك اولوست نلري خودوى ته يې دغه

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

معجز کتاب راوړی چي دغه له خوراسترو دلائلو څخه دی دغه درب العالمین کتاب دی ﴿ وَمَا كُنتَ تَتْلُوا مِن قَبْلِهِۦ مِن كِتَٰبٍ وَلَا تَخُطُّهُۥ بِيَمِينِكَ إِذًا لَّٱرْتَابَ ٱلْمُبْطِلُونَ ﴾.

• اوبیاسورت له دې دلائلواو براهینو څخه دالله قدرت اووحدانیت ته لېږدي کوم چي په دغه پراخ څمکه آسمان اوکائناتوکي لیدل کېږي وروسته بیادهغوکسانوثوابونه رااخلي چي دازمویبنتونوپه وړاندي یې ټینګارکړی وي اوپدې لاره کي یې په مال اونفس جهاداوهلي څلي سرته رسولي وي فرمایي:

﴿ وَٱلَّذِينَ جَٰهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا ۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَمَعَ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴾.

نومول اوتسمیه:

څکه دې سورت ته دالعنکبوت سورت ویلای شي چي الله پکي هغوسکنبتل شوروتوږل شووبتانوته چي مشرکانوپه الوهیت نیولي وو د العنکبوت دکور (جال) مثال ورکړی الله فرمایي: ﴿ مَثَلُ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُوا مِن دُونِ ٱللَّهِ أَوْلِيَآءَ كَمَثَلِ ٱلْعَنكَبُوتِ ٱتَّخَذَتْ بَيْتًا ﴾ دآیتونوترپایه.

الله تعالی فرمایي:

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ الٓمٓ ﴿١﴾ أَحَسِبَ ٱلنَّاسُ أَن يُتْرَكُوٓا۟ أَن يَقُولُوٓا۟ ءَامَنَّا وَهُمْ لَا يُفْتَنُونَ ﴿٢﴾ وَلَقَدْ فَتَنَّا ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۖ فَلَيَعْلَمَنَّ ٱللَّهُ
ٱلَّذِينَ صَدَقُوا۟ وَلَيَعْلَمَنَّ ٱلْكَٰذِبِينَ ﴿٣﴾ أَمْ حَسِبَ ٱلَّذِينَ يَعْمَلُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ أَن يَسْبِقُونَا ۚ سَآءَ مَا يَحْكُمُونَ ﴿٤﴾ مَن كَانَ
يَرْجُوا۟ لِقَآءَ ٱللَّهِ فَإِنَّ أَجَلَ ٱللَّهِ لَءَاتٍ ۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٥﴾ وَمَن جَٰهَدَ فَإِنَّمَا يُجَٰهِدُ لِنَفْسِهِۦٓ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَغَنِىٌّ عَنِ
ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٦﴾ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَنُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّـَٔاتِهِمْ وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَحْسَنَ ٱلَّذِى كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿٧﴾
وَوَصَّيْنَا ٱلْإِنسَٰنَ بِوَٰلِدَيْهِ حُسْنًا ۖ وَإِن جَٰهَدَاكَ لِتُشْرِكَ بِى مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَآ ۚ إِلَىَّ مَرْجِعُكُمْ فَأُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ
تَعْمَلُونَ ﴿٨﴾ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَنُدْخِلَنَّهُمْ فِى ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٩﴾ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَقُولُ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ فَإِذَآ أُوذِىَ
فِى ٱللَّهِ جَعَلَ فِتْنَةَ ٱلنَّاسِ كَعَذَابِ ٱللَّهِ ۖ وَلَئِن جَآءَ نَصْرٌ مِّن رَّبِّكَ لَيَقُولُنَّ إِنَّا كُنَّا مَعَكُمْ ۚ أَوَلَيْسَ ٱللَّهُ بِأَعْلَمَ بِمَا فِى
صُدُورِ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٠﴾ وَلَيَعْلَمَنَّ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَلَيَعْلَمَنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ ﴿١١﴾ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لِلَّذِينَ ءَامَنُوا۟
ٱتَّبِعُوا۟ سَبِيلَنَا وَلْنَحْمِلْ خَطَٰيَٰكُمْ وَمَا هُم بِحَٰمِلِينَ مِنْ خَطَٰيَٰهُم مِّن شَىْءٍ ۖ إِنَّهُمْ لَكَٰذِبُونَ ﴿١٢﴾ وَلَيَحْمِلُنَّ
أَثْقَالَهُمْ وَأَثْقَالًا مَّعَ أَثْقَالِهِمْ ۖ وَلَيُسْـَٔلُنَّ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ عَمَّا كَانُوا۟ يَفْتَرُونَ ﴿١٣﴾ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِۦ فَلَبِثَ
فِيهِمْ أَلْفَ سَنَةٍ إِلَّا خَمْسِينَ عَامًا فَأَخَذَهُمُ ٱلطُّوفَانُ وَهُمْ ظَٰلِمُونَ ﴿١٤﴾ فَأَنجَيْنَٰهُ وَأَصْحَٰبَ ٱلسَّفِينَةِ وَجَعَلْنَٰهَآ
ءَايَةً لِّلْعَٰلَمِينَ ﴿١٥﴾ وَإِبْرَٰهِيمَ إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ وَٱتَّقُوهُ ۖ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿١٦﴾

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

إِنَّمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَوْثَٰنًا وَتَخْلُقُونَ إِفْكًا ۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَا يَمْلِكُونَ لَكُمْ رِزْقًا
فَٱبْتَغُوا۟ عِندَ ٱللَّهِ ٱلرِّزْقَ وَٱعْبُدُوهُ وَٱشْكُرُوا۟ لَهُۥٓ ۖ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿١٧﴾ وَإِن تُكَذِّبُوا۟ فَقَدْ كَذَّبَ أُمَمٌ مِّن قَبْلِكُمْ ۖ وَمَا
عَلَى ٱلرَّسُولِ إِلَّا ٱلْبَلَٰغُ ٱلْمُبِينُ ﴿١٨﴾ أَوَلَمْ يَرَوْا۟ كَيْفَ يُبْدِئُ ٱللَّهُ ٱلْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥٓ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٌ ﴿١٩﴾
قُلْ سِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ فَٱنظُرُوا۟ كَيْفَ بَدَأَ ٱلْخَلْقَ ثُمَّ ٱللَّهُ يُنشِئُ ٱلنَّشْأَةَ ٱلْءَاخِرَةَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٠﴾
يُعَذِّبُ مَن يَشَآءُ وَيَرْحَمُ مَن يَشَآءُ ۖ وَإِلَيْهِ تُقْلَبُونَ ﴿٢١﴾ وَمَآ أَنتُم بِمُعْجِزِينَ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَا فِى ٱلسَّمَآءِ ۖ وَمَا لَكُم
مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِن وَلِىٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴿٢٢﴾ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَلِقَآئِهِۦٓ أُو۟لَٰٓئِكَ يَئِسُوا۟ مِن رَّحْمَتِى وَأُو۟لَٰٓئِكَ
لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٢٣﴾ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُوا۟ ٱقْتُلُوهُ أَوْ حَرِّقُوهُ فَأَنجَىٰهُ ٱللَّهُ مِنَ ٱلنَّارِ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ
لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٢٤﴾ وَقَالَ إِنَّمَا ٱتَّخَذْتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ أَوْثَٰنًا مَّوَدَّةَ بَيْنِكُمْ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ ثُمَّ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ
يَكْفُرُ بَعْضُكُم بِبَعْضٍ وَيَلْعَنُ بَعْضُكُم بَعْضًا وَمَأْوَىٰكُمُ ٱلنَّارُ وَمَا لَكُم مِّن نَّٰصِرِينَ ﴿٢٥﴾ ۞
فَـَٔامَنَ لَهُۥ لُوطٌ ۘ وَقَالَ إِنِّى مُهَاجِرٌ إِلَىٰ رَبِّىٓ ۖ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٢٦﴾ وَوَهَبْنَا لَهُۥٓ إِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ وَجَعَلْنَا فِى
ذُرِّيَّتِهِ ٱلنُّبُوَّةَ وَٱلْكِتَٰبَ وَءَاتَيْنَٰهُ أَجْرَهُۥ فِى ٱلدُّنْيَا ۖ وَإِنَّهُۥ فِى ٱلْءَاخِرَةِ لَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٢٧﴾ ﴾ العنكبوت: ١ ـ ٢٧

لغتونه: (فتنة) ابتلآء ازمويښت (اثقالهم) دثقل جمع اودرانه پېټي ته وايې چې په انسان تکليف راوړي اودلته مرادځني ګناهونه دي (لبث) درنګ کولو اومېشته کېدلوته وايې (افکا) دروغ اوله ځانه ترلوته ويل کېږي (تقلبون) تاسوستنېدونکي ياست.

دنزول سبب يې:

سعدبن ابي وقاص رضي الله عنه وايې: مادخپلي موربښه خبره منله اوچې کله مسلمان شوم نويې راته ويل: اى سعده داڅه دين دى چې تامنلى ؟ ! يابه دغه دين پرېږدې که نه بيا زه نه خوراک کوم اونه څښاک څو ومرم نوبه خلګ تاته زماپه سبب پېغور درکوي چې دغه دمورقاتل (وژونکى) دى ماورته ويل: موري هسې مکوه زه دغه خپل دين دهيڅ شي لپاره پرېښودلاى نشم وايې چې يوه ورځ اوشپه مي وکتل چې هيڅ خوراک ، څښاک يې ونکړل دوهمه شپه او ورځ يې هم دغسې يې دنه خوړلواعتصاب جاري وساتلو نومي ورته وويل: اى موركى ! زمادي په الله تعالى سوګندوي که ستاسل ساوي وي اويوه يوه سادي وار په وار خېژي زه به خپل دين دهيڅ څيزلپاره پرې نه ږدم که غواړې خوراک وکړه اوکه دي خوښه وي مه يې کوه او وږي تږي اوسه کله چې زمادغه ټينګ عزم اواراده يې وليدله نويې په خوړلو پيل وکړ اوالله ﷻ داآيت شريف نازل کړ: ﴿ وَوَصَّيْنَا ٱلْإِنسَٰنَ بِوَٰلِدَيْهِ حُسْنًا ۖ وَإِن جَٰهَدَاكَ لِتُشْرِكَ بِى مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَآ ﴾ داآيت ترپايه (١)

(١) اسباب النزول للواحدي ١٩٥ اوپه څينو روايتونوکي راغلي چې زامنو کله چې به يې وغوښتل هغې ته مړه ډوډۍ ورکړې نوبه يې په زوره په خوله کې لرګى وردننه کړ څوخوله پرانيزي اوخوراک ، څښاک وکړي.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

تفسير:

﴿ الٓمٓ ﴾ دغه له مقطعاتو حروفو څخه دی چي دقرآنکريم په اعجازباندي تنبيه ورکړي ﴿ أَحَسِبَ ٱلنَّاسُ أَن يُتْرَكُوٓاْ أَن يَقُولُوٓاْ ءَامَنَّا وَهُمْ لَا يُفْتَنُونَ ﴾ آياگمان کوي داخلک چي دوی به پرېښودی شي يوازي پردې چي ووايي موږ ايمان راوړی دی اودوی به وانه ازمويل شي ؟ همزه دانکاري استفهام لپاره دی يعني همداسي نه ده لکه چي دوی گمان کوي بلکه خامخا به ازمويښت راځي څو منافق او مخلص سره بېل شي. ابن جزي وايې: دغه ديومسلمان ټولگي په هکله چي په بېوزلي سره په مکه کي اوسېدل نازل شوی چي ددوی له ډلي څخه عماربن ياسر اونور کسان وو اودقريشوکفاروبه هغوی په ډول ډول کړاوونو څورول اوعذاب ازار به يې ورکاووچي ولي يې اسلام راوړی دی اودوی به زړه تنگي شو نوالله تعالی ددوی دلاسايني لپاره پدې آيت کي ورته پند واستاووچي دغه ازموينه ده ترڅودوی په تکاليفوباندي زغم ومومي اوپه خپل ايمان ثبات وکړي اوپدې يې وپوهول چي دغه دالله تعالی تېره شوي لاره ده چي کفارپه مؤمنانوباندي مسلط کوي چي دوی وازمويې اوپه ايمان کي صادق اوکاذب سره جلاکړي(١)﴿ وَلَقَدْ فَتَنَّا ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ﴾ اوخامخاپه تحقيق موږ ازمويلي وو هغه کسان چي له دوی نه ړومبي وو (په ډول ډول ربړونواو تکاليفوباندي بيضاوي وايې: معناداچي دغه دالله پخوانی سنت دی چي په گردوامتونوکي ترسره شوی اوددې په خلاف هيله اوتوقع نشي کېدای(٢)﴿ فَلَيَعْلَمَنَّ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ صَدَقُواْ وَلَيَعْلَمَنَّ ٱلْكَٰذِبِينَ ﴾ پس خامخامعلوم به کړي هرو مرو الله تعالی).(په ظاهري علم سره هم) هغه کسان چي رښتوني دي د(ايمان په دعوی کي) اوخامخامعلوم به کړي الله هرومرو هغه دروغجنان (په ظاهري علم سره هم) دلته يې له صادقينوڅخه په لفظ اوفعل باندي تعبير وفرمايو چي﴿ ٱلَّذِينَ صَدَقُواْ ﴾ اوله دروغجنانوڅخه يې داسم فاعل په لفظ ﴿ ٱلْكَٰذِبِينَ ﴾ باندي ترڅو وښيي چي دروغجنان پخپل وصف کي همېشني دي اودروغ يې په زړونوکي ځای نيولی دی برخلاف د صاقانو څکه چي فعل تجددمومي. امام فخر رازي وايې چي: اسم فاعل په ډېروځايونوکي دمصدرپه رسوخ اوثبوت باندي دلالت کوي خو دماضي فعل ورباندي دلالت نه کوي لکه وويل شي: (فلان شرب الخمر) پلاني سړي شراب څښلي اويادا چي (فلان شارب الخمر) پلانی سړی شراب څښونکی دی څکه په لومړی ويناکي ثبوت اوتل ترتله والی نشته(٣)﴿ أَمْ حَسِبَ ٱلَّذِينَ يَعْمَلُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ أَن يَسْبِقُونَا ﴾ آياگمان کوي هغه کسان چي دوی عمل کوي دبديو(لکه شرک اوگناوي) ددې چي ړومبی به شي دوی پرموږ(انتقام به څني ونشواخيستی؟﴿ سَآءَ مَا يَحْكُمُونَ ﴾ بددی هغه حکم چي دوی يې کوي. صاوي وايې: په آيت شريف کي له يوه توبيخ څخه بل سخت توبيخ ته انتقال اولېږدېدل دي لومړی توبيخ دخلکوهغه گمان دی چي

---

(١) التسهيل ٣ / ١١٣

(٢) البيضاوي ٢ / ٩٧

(٣) التفسيرالکبير ٢٥ / ٢٩

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

دوی به دالله له عذابه وتښتي سره له دې چي په کفربه تل ټينګ ولاړوي (١) ﴿ مَن كَانَ يَرْجُوا لِقَآءَ ٱللَّهِ فَإِنَّ أَجَلَ ٱللَّهِ لَآتٍ ﴾ هرڅوک چي وي دالله دملاقات اميدلري (په جنت کي) پس بېشکه نېټه دالله دملاقات راتلونکي ده) کله چي داوښودل شوچي بنده په دنياکي خوشی نه پرېښودل کېږي نودلته يې دابيان کړل چي کله څوک په آخرت ايمان ولري اودهغه لپاره عمل وکړي الله يې عمل هيڅکله نه ضائع کوي اوهيله به يې نيمه خوانشي معناداچي که چېري څوک دالله له لوري دثواب ورکولوپه تمه وي نوپه دنياکي دي په طاعتونوکولو زغم اوصبرکوي په دې لاره کي دي کړاوونه وګالي ترڅوچي له الله سره يوځای شي دالله ملاقات راتلونکی دی اوهر راتلونکی نژدې دی په آيت شريف کي دمسلمانانولپاره تسلااوداډينه ده بل داچي له دوی سره په دارالنعيم (جنت) کي د نېکيوژمنه اووعده ده ﴿ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴾ اوهمدی ښه اورېدونکی (دبندګانوداقوالو) ښه عالم دی (پرټولواحوالويې چي ظاهردي اوکه باطن) ﴿ وَمَن جَٰهَدَ فَإِنَّمَا يُجَٰهِدُ لِنَفْسِهِۦٓ ﴾ اوهرڅوک چي جهادکوي (له نفسه سره صبرپه طاعاتوکوي اوله شهواتوځان راګرزوي) پس بېشکه همداخبره ده چي جهادکوي لپاره (دګټي) دځان خپل ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَغَنِىٌّ عَنِ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ بېشکه چي الله خامخاپې پروادی له ټولو عالميانوڅخه نه الله ته دخلکوطاعت ګټه رسوي اونه دګنهګاروګناوي هغه ته تاوان رسولای شي ﴿ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ ﴾ اوهغه کسان چي ايمان يې راوړی دی اوکړي يې دي ښه عملونه (ايمان اونېک عملونه يې يوځای کړي دي) ﴿ لَنُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّـَٔاتِهِمْ ﴾ خامخاوبه رژوو موږ ارو مروله دوی نه ګناهونه ددوی (په سبب دايمان اوصالح اعمالوددوی ﴿ وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَحْسَنَ ٱلَّذِى كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴾ اوخامخاجزابه ورکړو موږ دوی ته جزاء دهغه (عمل) چي وو دوی چي کاووبه يې (په اسلام کي) ﴿ وَوَصَّيْنَا ٱلْإِنسَٰنَ بِوَٰلِدَيْهِ حُسْنًا ﴾ او(مؤکد) امرکړی دی موږپرانسان دنېکي کول له خپل مور او پلارسره ځکه چي هغوی دده دوجودسبب شوی اوپرده يې نهايته زيات فضل اواحسان پوردی چي پلاربه ورته نفقه رسوله اومور به ورباندي شفقت لوراوو . صاوي وايې چي الله پاک ځکه اولادونو ته دنېکي کولو امر وفرمايوچي دوی په نافرماني اوقسوت روږدي دي نوالله په داسي څه مکلف کړل چي ددوی له طبيعت څخه مخالف وو اومورواوپلارخوداولادلپاره درحمت اوشفقت سرچينه دي ځکه نوالله هغوی ته له اولادونوسره دنېکي کولومارېينه نه ده کړي اوپنخپل حال يې پرې ايښي دي (٢) ﴿ وَإِن جَٰهَدَاكَ لِتُشْرِكَ بِى مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا ﴾ اوکه چېري کوښښ کوي (دوی دواړه) له تاسره چي شريک ونيسي ته له ماسره هغه څيزچي نشته تاته (په الوهيت د) هغه کي هيڅ علم پس ته اطاعت ددوی دواړومکوه ، ځکه چي (لاطاعة لمخلوق فی معصية الخالق) ﴿ إِلَىَّ مَرْجِعُكُمْ

---

(١) حاشية الصاوي على الجلالين ٣ / ٢٣٠

(٢) حاشية الصاوي على الجلالين ٣ / ٢٣١

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

فَأُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴾ خاص ماته دی بیاراتله ستاسي(ټولو) پس زه به تاسي خبرکړم (جزابه درکړم) پر(هغو) اعمالوچي تاسي به کول ، یعني ماته دګردوخلګوکه مؤمنان دي که کافران نېکان دي که فاجران هرچا ته به دهغه له کړو وړوسره سمه جزاورکړم اوپدې کي دهغه چالپاره چي دمور اوپلارسره یې احسان کړی وي اودهدایت متابعت یې کړی او غوره کړی وي دنېکي وعده ده اوهغه لپاره چي دمور اوپلاره آزارګټي اوکږه لاره یې نیولی وي تهدید اواخطاردی ﴿ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَنُدْخِلَنَّهُمْ فِي ٱلصَّٰلِحِينَ ﴾ اوهغه کسان چي ایمان یې راوړی دی اوکړي یې دي ښه (عملونه) خامخا داخل به کړو موږدوی (په ټولی د) صالحانوکي په جنت کي. قرطبي وایې چي الله تعالی دعمل کونکومؤمنانوپه حال تمثیل ځکه تکرار راوړ چي ددوی خپلو مرتبوته هڅونه وکړي اوپه ﴿ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴾ کي مبالغه شته یعني هغوی چي په نهایت صلحیت او وروستي پړاو کي اوسي کله چي الله دمؤمنانومخلصانو حال وستایو ورپسې یې دمذبذبومنافقانوحال داسي بیان کړچي: ﴿ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَقُولُ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ فَإِذَآ أُوذِيَ فِي ٱللَّهِ جَعَلَ فِتْنَةَ ٱلنَّاسِ كَعَذَابِ ٱللَّهِ ﴾ (اوځیني له خلګوهغه څوک دي چي (تش په خوله) وایې ایمان راوړی دی موږ(هم) په الله پس کله چي دوی ته سختي ورسوله شي (په لاره د) الله کي نوګرزوي فتنه سختي دخلګوپه شان دعذاب دالله) یعني کله چي ورته سختي ورسول شي نوله ایمانه مرتد اووګرزي اودغه سختي دده له ایمانه د ښ ؛روولو سبب شي اودغه لکه دالله عذاب غوندي ګڼي هغه عذاب چي انسان له کفرڅخه راګرزوي. مفسرین کرام وایې چي دغه تشبیه چي فرمایې: ﴿ كَعَذَابِ ٱللَّهِ ﴾ ددې لپاره دی چي دالله عذاب د مؤمنانوله کفرڅخه مانع کېږي نو دغسي منافقان دکوم تکلیف په رسېدلوایمان پرېږدي اودایمان مانع یې ګرزي دایمان مقتضا او غوښتنه خوداده چي صبریې درلودي او مېړانه یې ښکاره کړي وای اوپه دغسي عذاب کي یې خوندونه احساسولای اوپه محنت کي یې انعام ګڼلای ځکه چي دنېکي خاتمې خاوندان متقیان دي. امام فخر رازي وایې چي دمکلفینوډلي درې دي یوه ډله مؤمنان چي نېک اعتقادیې څرګند وي بله کافران چي کفریې ښکاره وي دریمه ډله هغه منافقان دي چي په خوله دایمان نارې وهي خوپه زړه کي یې کفر خوندي وي نوکله چي الله تعالی لومړنی دوه ډلي پدې آیت شریف کي یادي کړې چي: ﴿ فَلَيَعْلَمَنَّ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ صَدَقُواْ وَلَيَعْلَمَنَّ ٱلْكَٰذِبِينَ ﴾ نویې دریمه ډله داسي وستایله چي ﴿ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَقُولُ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ ﴾ اوپه آیت شریف کي باریکي اولطیفه داده چي الله تعالی دصبرکونکي مؤمن دشرافت او دکافرمنافق دسپکتیادښکاره کولواراده کړي هلته یې وویل چي مسلمان مؤمن ته تکالیف ورسېږي چي دین پرېږدي مګرهغه دین نه پرېږدي اوچي منافق ته کومه سختي ورسېږي نو هغه پخپله الله پرېږدي او کفر غوره کوي داامکان یې درلوده چي په خوله یې دهغوی موافقت کړی وای اوزړه یې په ایمان مطمئن وای خوهسي یې ونکړل یومخ ایزه یې ایمان اوالله ته شاکړه (١) ﴿ وَلَئِن جَآءَ نَصْرٌ مِّن

(١) التفسیرالکبیر ٢٥ / ٣٧

رَبِّكَ لَيَقُولُنَّ إِنَّا كُنَّا مَعَكُمْ ﴾ اوقسم دی که چېري راشي مددګاري (دمؤمنانو) له (لوري) درب ستا(چي فتح او غنيمت راشي) نومخامخا دغه (منافقان) به ووايې خامخابېشکه موږهم له تاسي سره يو(نوموږ هم په غنيمت کي شريک کړئ) يعني کله چي الله تعالی مؤمنانوته فتح اونصرت نصيب کړي نودغه منافقان وايې چي موږهم ستاسي ملګرتياکوله اوپه دښمنانومو درسره يوځای ګذارونه کول اوس نودغه ولجې او غنيمتونه موږته هم راووېشئ الله تعالی ددوی ترديد داسي فرمايې: ﴿ أَوَلَيْسَ ٱللَّهُ بِأَعْلَمَ بِمَا فِي صُدُورِ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ آيانه دی الله ښه عالم په هغه (اخلاص اونفاق) چي په سينو(زړونو) دخلګوکي دي؟ (بلکه په هرڅه باندي الله ښه عالم دی ورپسې الله داسي تاکيدفرمايې: ﴿ وَلَيَعْلَمَنَّ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَلَيَعْلَمَنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ ﴾ (اوخامخامعلوم دی هرومرو الله ته هغه څوک چي ايمان يې راوړی دی اوخامخامعلوم دي الله ته منافقان) يعني الله به ددوی حال بندګانوته ښکاره کړي ترڅودوی سره بېل شي ، منافق رسواشي اودصادق مؤمن شرافت ښکاره شي. مفسرين کرام وايې چي مرادله ﴿ وَلَيَعْلَمَنَّ ٱللَّهُ ﴾ څخه اظهاردعلم دې لپاره دخلګوترڅودوی ته معلوم شي الله ته خومعلوم دی هرهغه څه چي شوي اويا کېدونکي دي هيڅ څيزله الله څخه پټ اوالونيا نه دی نودلته له علم څخه په نسبت دالله تعالی کي څرګندونه اوښکارونه مراددده نه هغه علم دغيب اوخفاء اوابن عباس ﷺ دلته دعلم تفسيرپه رؤيت سره کړی دی (١)﴿ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لِلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱتَّبِعُوا۟ سَبِيلَنَا وَلْنَحْمِلْ خَطَٰيَٰكُمْ ﴾ اووايې هغه کسان چي کافران شوي دي هغوکسانوته چي ايمان يې راوړی دی تاسي زموږ دلاري متابعت وکړي (په دنياګي) اوباربه کړو موږ پرځانونوخپلوستاسي ګناوي (اوعذاب که چېري هلته عذاب وو) ابن کثيروايې ددې مثال داسي دی لکه څوک چي چاته وايې: دغه کار وکړه ګناه يې زماپه غاړه ! که چاپوښتنه وکړه چي (ولنحمل) دامرصيغه ده نوڅرنګه يوتن پخپل ځان دامرصيغه کارولی شي؟ ځواب داچي که څه هم دامرصيغه ده خومعنايې دشرط اوجزاء ده يعني که تاسوزموږ متابعت وکړ نوبه موږ ستاسي ګناوي په خپله اوږه باركړو ﴿ وَمَا هُم بِحَٰمِلِينَ مِنْ خَطَٰيَٰهُم مِّن شَىْءٍ ﴾ حال داچي نه دي دوی پخپل ځان اخيستونکي له ګناهونوددوی هيڅ شی(څکه چي هيڅوک دبل چاپېټی نه وړي) ﴿ إِنَّهُمْ لَكَٰذِبُونَ ﴾ بېشکه دوی خامخادروغجنان دي (پدې وعده کي) الله وروسته فرمايې ﴿ وَلَيَحْمِلُنَّ أَثْقَالَهُمْ وَأَثْقَالًا مَّعَ أَثْقَالِهِمْ ﴾ اوخامخاباربه کړی هرو مرودغه (کفار) بارونه درانه دګناهونوخپلو اونوردرانه بارونه هم (دهغه چاچي دوی ګمراه کړي) سره له بارونوخپلو (بې له دې چي دهغوی له درنوپېټوڅخه دي څه کم شوي وي لکه چي په حديث شريف کي راځي کله چي څوک يوبل څوک ګمراهي اوضلالت ته راوبولي نوپه بلونکي هغه ټولي ګناوي کوم چي تابع يې کړي دي راځي بې له دې چي دهغه له ګناهونودي څه کم

(١) وګوره هغه چي علامه ابن کثيرپدې هکله ليکلي مختصرابن کثير ٣ / ٢٨

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

شوي وي (١) ﴿ وَلَيُسْـَٔلُنَّ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ ﴾ اوخامخابه وپوښتېدلی شي دوی هرومرو دقيامت په ورځ (په پوښتنه دتوبيخ اوترتني) ﴿ عَمَّا كَانُوا۟ يَفْتَرُونَ ﴾ له هغودروغو چي دوی به له ځانه جوړول (اوپه الله به يې تړل) بيا الله تعالی خپل پيغمبرته دنوح ﷺ کيسه دتسليت په ډول بيانوي چي هغه عليه السلام له خپله تېره (قومه) ډېرتکليفونه وګالل ﴿ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِۦ فَلَبِثَ فِيهِمْ أَلْفَ سَنَةٍ إِلَّا خَمْسِينَ عَامًا ﴾ اوخامخاپه تحقيق موږ نوح لېږلی ووقوم دده ته پس موده يې تېره کړه په دوی کي زرکاله (لپاره دتوحيددبلني) مګرپنځوس کاله کم (له زرونه يعني نه نيم سوه کاله) چي هغوی دبتانوعبادت کاوودنوح ﷺ يې تکذيب وکړ ﴿ فَأَخَذَهُمُ ٱلطُّوفَانُ وَهُمْ ظَـٰلِمُونَ ﴾ پس ونيول دوی طوفان (غرق شول) حال داچي دوی ظالمان وو(په کفراوضلالت کي غوپه وو. ابوالسعودوايې چي طوفان هرهغه څه ته وايې چي په شدت اوډېروالي په يوشي راچارپېراوڅرخېږي هغه که بادوي ، که اوبه اوکه تاريکه خوداوبوپه سيل کي غالب استعمالېږي (٢) امام رازي وايې چي: دالله تعالی په دې ويناکي چي فرمايې ﴿ وَهُمْ ظَـٰلِمُونَ ﴾ يوې باريکي ته اشاره ده هغه داچي الله تعالی په يوازي ظلم پيل کولوباندي څوک نه نيسي بلکه کله چي په ظلم کولوباندي اصرارکوي هغه وخت يې هلاکوي څکه يې وويل ﴿ وَهُمْ ظَـٰلِمُونَ ﴾يعني دوی يې هله هلاک کړل چي په ظلم کي بوخت ول (٣)﴿ فَأَنجَيْنَـٰهُ وَأَصْحَـٰبَ ٱلسَّفِينَةِ ﴾نو نجات مو ورکړده ته اوخاوندانودبېړۍ ته (چي له ده سره وو له اهل اولاده اومؤمنانو) ﴿ وَجَعَلْنَـٰهَآ ءَايَةً لِّلْعَـٰلَمِينَ ﴾ اوومو ګرزوله دغه (کيسه يوه لويه) نښه لپاره (دعبرت) عالميانوته (چي پندترې واخلي) ﴿ وَإِبْرَٰهِيمَ إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ وَٱتَّقُوهُ ﴾ او(يادکړه کيسه د) ابراهيم کله چي خپل قوم ته يې وويل: چي تاسي عبادت دالله کوئ او ووېرېږئ (له عذابه) ددغه (الله) ابن کثيروايې چي الله تعالی له خپل بنده پيغمبراوخليل څخه اخبارکوي هغه چي دحنفاوو امام وواوخپل قوم يې دالله وحدانيت ته راوبالواو ورته يې وويل چي يوازي دهمدغه ذات دنعمتونوشکر کوی بل څوک له ده پرته دنعمت بخښونکی نشته (٤)﴿ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴾ دغه (عبادت اوويره) غوره ده تاسي ته (له کفره) که چېري يې تاسي چي پوهېږی ؟ (په خپل خيرباندي له خپله شره څخه اوخيراوشر بېلولای شی ؟) ﴿ إِنَّمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَوْثَـٰنًا وَتَخْلُقُونَ إِفْكًا ﴾ بېشکه همداخبره ده چي عبادت کوئ تاسي بې له الله نه دبُتانو(چي نه ګټه رسولای شي اونه ضرر دفع کولای شي تاسوپخپلو لاسونو توږلي اوجوړکړي دي)

---

(١) دا حديث شريف په صحيحينو کي راځي.
(٢) ابوالسعود ٤ / ١٢٢
(٣) التفسيرالکبير ٢٥ / ٤٢
(٤) مختصرابن کثير ٣ / ٣٢

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

اوجوړوی دروغ له ځانه (چي خدایان یې بولی) ابن عباس وایې معناداچي تاسي دوی پخپل لاس جوړوی اود دروغو تصویرکوی (١)﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَا يَمْلِكُونَ لَكُمْ رِزْقًا ﴾ بېشکه هغه کسان چي تاسي یې عبادت کوي بې له الله نه نه دي مالکان دوی تاسي ته دروزي (رزق) ﴿ فَٱبْتَغُوا۟ عِندَ ٱللَّهِ ٱلرِّزْقَ ﴾ پس دالله په نزد روزي طلب کړئ ﴿ وَٱعْبُدُوهُ وَٱشْكُرُوا۟ لَهُۥٓ ﴾ اوعبادت کوئ دهمغه (الله یوازي) اوشکروباسئ همغه (الله) ته (په هغونعمتونویې چي تاسوته یې درکړي دي ﴿ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴾ همدغه (الله) ته به بیرته بېولی کېږئ تاسي (دقیامت په ورځ اوهرچاته به په خپل عمل جزاورکړي)﴿ وَإِن تُكَذِّبُوا۟ فَقَدْ كَذَّبَ أُمَمٌ مِّن قَبْلِكُمْ ﴾ (اوکه نسبت ددروغو وکړ تاسي (ای کفارو رسول الله ته) نوپه تحقیق نسبت ددروغو کړی وو (خپلونبیانوته) ډېرو قومونوپخواله تاسي) کله چي دتوحیدله بیان څخه وزګاراوفارغ شونودتهدیدځرګندونه یې وکړه چي که چېري تاسي زماتکذیب وکړ ستاسي تکذیب ماته زیان نه رارسوي بلکه تاسوخپلوځانونوته ور باندي زیان رسوئ پخواهم امتونو دخپلوانبیاووتکذیب کړی وواو دالله په عذاب اخته شوي وو پرتاسوبه هم هغه څه راشي کوم چي پرهغوی راغلي وو (٢)﴿ وَمَا عَلَى ٱلرَّسُولِ إِلَّا ٱلْبَلَٰغُ ٱلْمُبِينُ ﴾ اونشته پررسول باندي مګررسونه (دپیغام)ښکاره (خلګوته هدایت کول دهغه کار نه دی)طبري وایې چي ﴿ ٱلْبَلَٰغُ ٱلْمُبِينُ ﴾ معناهغه پیغام دی چي اورېدونکي ته یې مقصد روښانه ښکاره وي اوپه هغه څه چي دمبلغ (رسونکي)مرادوي پوهېدلای شي (٣)﴿ أَوَلَمْ يَرَوْا۟ كَيْفَ يُبْدِئُ ٱللَّهُ ٱلْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥٓ ﴾ آیانه ویني (دغه منکران له بعثه) چي څرنګه الله پیداکوي اول داخلک بیابه یې دوهم ځلي هم پیداکړي (نودوی دي له لمړي ځل پیدایښت څخه په حشراواعاده استدلال وکړي قتاده وایې معناداچي آیادوی ولي په نظر اواستدلال دانه ګوري چي څرنګه به الله اجسام له مرګه وروسته را ګرزوي ؟ ﴿ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٌ ﴾ بېشکه دغه (اعاده) پرالله آسانه ده نودوی ولي له بعث او نشور څخه منکرېږي؟ هغه څوک چي په لمړي پیدایښت قدرت لري هغه بیاپه اعاده قدرت لري. قتاده وایې دآیت معنادځینو له خولې داچي دوی ولي نه ګوري چي الله تعالی مېوې څرنګه لومړی پیداکوي او بیاورسېږي وروسته بیافاني شي بیایې تل ترتله راپیداکوي همداسي دانسان پیدایښت

---

(١) څرګنده دادی چي دغه دي له خلقت (پیدایښت)څخه اخیستل شوی وی اودغه دمجاهداوحسن رحمهما الله ویناده ابن جریرغوره کړي چابیاویلي چي له اختلاق څخه اخیستل شوی چي دروغ یې معناده.

(٢) ابن کثیروایې چي له سیاقه ظاهره داده چي دادي دابراهیم خلیل الله کلام وي چي دمعادلپاره ورباندي دلیل وایې ځکه چي وروسته له دې تولوبیاوایې ﴿ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِۦٓ ﴾ اوامام طبري بیادې لوري ته تللی چي دغه دالله تعالی کلام دی چي دمکې کفاروته وایې اودرسول الله دلاسینه کوي دابراهیم علیه السلام کلام نه دی هغه چي ابن کثیروایې څرګنددی والله اعلم.

(٣) الطبري ٢٠ ٨٩

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

کېږي وروسته يې اولادونه وشي اوبيادي ومري اوداولادونو اولادونه يې پيداشي همداسي تول ساکښ حيوانات دي نوکله چي تاسو دالله قدرت په ابدآء اوايجادپه سترگووينې همدغه (الله) په بيرته راژوندي کولوهم قادردي اوچي ديوشي اراده وکړي ورته ووايې موجودشه (کن) (فيکون) نو موجودشي (١)﴿ قُلْ سِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانظُرُوا كَيْفَ بَدَأَ الْخَلْقَ ﴾ (ووايه (اى محمده دوى ته!) چي وگرزئ تاسي په ځمکه کي پس وگورئ چي څرنگه الله شروع کړي دي پيدا ايښت له نشتوالي څخه) يعني اى محمده! دغومنکرانوته ووايه چي ولاړشئ دځمکي گوټ گوټ ته وگورئ چي عظيم او قدير الله څرنگه مخلوق پيدا کړى سره له ډېروالي دهغوى اومختلف والي د هيئاتوددوى همداسي ددوى رنگونه ژبې اوطبيعتونه سره څومره توپيرلري؟ اووگورئ ددوى پخوانيوهستوگن ځايونوته چي هغوى الله څنگه هلاک کړي دي څودالله تعالى بشپړقدرت درته معلوم شي ﴿ ثُمَّ اللَّهُ يُنشِئُ النَّشْأَةَ الْآخِرَةَ ﴾ بيابه الله پيداکړي پيداکول وروستني هم (په بعث بعد الموت کي) ﴿ إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴾ بېشکه الله په هرشي باندي ښه قادردى (چي ځيني يى ابدأ اوعاده ده) ﴿ يُعَذِّبُ مَن يَشَاءُ وَيَرْحَمُ مَن يَشَاءُ ﴾ عذاب ورکوي هرهغه چاته چي اراده و فرمايې (د تعذيب يې) اورحم کوي په هغه چاچي اراده وفرمايې (درحمت يې) يعني الله پاک تصرف کونکى حاکم ذات دى هغه څه چي خوښه يې شي هغه کوي الله لره پيدا ايښت اوالله لره حکم دى هيڅوک له الله څخه دهغه دکړوپوښتنه نه کوي اوله مخلوقاتوڅخه پوښتنه کول کېږي ﴿ وَإِلَيْهِ تُقْلَبُونَ ﴾ اوخاص همدغه (الله) ته تاسي بېرته بېول کېږى (په ورځ دقيامت) ﴿ وَمَا أَنتُم بِمُعْجِزِينَ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ ﴾ اونه يى تاسي (اى خلگو) عاجزونکي (دالله) په ځمکه کي اونه په آسمان کي (يعني له الهي عذاب څخه نه په ځمکي کي خلاصون شته اونه هم په آسمان کي قرطبي وايې معناداچي که تاسي په آسمان کي هم ياست الله جل جلاله عاجزولاى نشى لکه چي الله فرمايې ﴿ وَلَوْ كُنتُمْ فِي بُرُوجٍ مُّشَيَّدَةٍ ﴾ النسآء ٧٨) (٢)﴿ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ اللَّهِ مِن وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴾ اونشته تاسي ته غيرله الله هيڅ دوست (چي تاسي دده له عذابه وساتي) اونه هيڅ مددگار (چي ستاسي مرسته وکړي په دفع دعذاب کي) ﴿ وَالَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِ اللَّهِ وَلِقَائِهِ ﴾ اوهغه کسان چي کافران شوي دي په آيتونودالله اوپه ملاقات ددغه (الله) يعني کافران دي په قرآن اوبعث ﴿ أُولَٰئِكَ يَئِسُوا مِن رَّحْمَتِي ﴾ دغه (منکر) کسان ناامیده دي زماله رحمته. ابن جريروايې چي دغه به په آخرت کي هغه وخت وي کله چي عذاب ووينې (٣)﴿ وَأُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴾ اودغه کسان مقرردى دوى ته ډېردردناک عذاب ﴿ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِ إِلَّا أَن قَالُوا اقْتُلُوهُ أَوْ حَرِّقُوهُ ﴾ (پس نه وو ځواب دقوم ددغه (ابراهيم) مگردا

---

(١) القرطبي ١٣/ ٣٣٦
(٢) قرطبي ١٣/ ٣٣٧
(٣) الطبري ٢٠/ ٩٠

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

وو چي وويل دوی ووژنئ دغه (ابراهيم) يايې وسوځوئ) يعني کله چي ابراهيم عليه السلام دوی دالله لوري ته دعوت کړل اوله بتانويې منع کړل نوددوی مشرانو مجرمانوهمداسي وويل چي ويې وژنئ ، يايې وسوځوئ چي له غمه يې ببغمه شی ﴿ فَأَنجَىٰهُ ٱللَّهُ مِنَ ٱلنَّارِ ﴾ (پس نجات ورکړدغه (ابراهيم) ته الله له اوره) يعني دوی په اورکي وغورځاوو خوالله تعالی هغه ورته (بردًا وسلامًا) وګرزاوو ﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَٰتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴾ بېشکه په دغه (نجات ورکولوابراهيم ته له اوره) کي خامخاډېر دلائل دي (دقدرت (دالله) دپاره دهغه قوم چي ايمان يې راوړی دی (په وجوددالله اوبشپړقدرت اوجلال دده) ﴿ وَقَالَ إِنَّمَا ٱتَّخَذْتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ أَوْثَٰنًا مَّوَدَّةَ بَيْنِكُمْ فِي ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ﴾ (وويل (ابراهيم خپل قوم ته دتوبيخ په توګه) بېشکه همداخبره ده چي تاسي نيولي دي غيرله الله بتان (په خدايې سره) دپاره ددوستي ستاسي په مينځ کي په دغه ژوند ددنياکي (چي په عبادت يې راټول ياست) ﴿ ثُمَّ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ يَكْفُرُ بَعْضُكُم بِبَعْضٍ ﴾ بيا په ورځ دقيامت کي بېزاره (منکر) به شي ځيني ستاسي له ځينو نورو سره (دغه دوستي به موپه دښمني بدله شي) ﴿ وَيَلْعَنُ بَعْضُكُم بَعْضًا ﴾ اولعنت به وايي ځيني ستاسي (چي تابعان دي) پرځينونورو (چي متبوعان دي) ځکه چي په دنياکي دوستي يې دالله لپاره نه وه) ﴿ وَمَأْوَىٰكُمُ ٱلنَّارُ وَمَا لَكُم مِّن نَّٰصِرِينَ ﴾ اوستاسي دهستوګني ځای اوردی اونه به وي تاسي ته (په قيامت کي) هيڅوک له مددګارانو(چي ځني وموژغوري) ﴿ فَـَٔامَنَ لَهُۥ لُوطٌ وَقَالَ إِنِّي مُهَاجِرٌ إِلَىٰ رَبِّيٓ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴾ پس ايمان راوړ (اوتصديق يې وکړ) دغه (ابراهيم) ته لوط (چي وراره يې وو اوکله چي يې څرګندي نښاني وليدې لومړی تن وو چي ورباندي ايمان يې راوړ) اوويل (ابراهيم)بېشکه زه هجرت کونکی يم (له خپله هيواده دالله درضالپاره) رب زماته بېشکه چي همدی ښه غالب دی (چي څوک ورباندي اعتمادوکړي نه يې ذليل کوي) ښه خاونددحکمت دی (چي هرکارپه تدبيراومصلحت سره کوي) مفسرين کرام وايې چي ابراهيم عليه السلام دعراق له کليودشام په لور ولېږدېدوترڅو د دين په خپراوي اوڅرګندولوکي پرمختګ وکړي ﴿ وَوَهَبْنَا لَهُۥٓ إِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ وَجَعَلْنَا فِي ذُرِّيَّتِهِ ٱلنُّبُوَّةَ وَٱلْكِتَٰبَ ﴾ اووبانښه موږدغه (ابراهيم) ته زوی اسحاق او(لمسي) يعقوب اوګرزولی وو موږپه اولاده ددغه (ابراهيم) کي نبوت اوکتاب (يعني دوی موپه دغه فضل اواحسان ځانګړي کړل چي ګرد انبياء دده له نسله اوآسماني کتابونه يي دده په زامنونازل کړل ابن کثيروايې چي: دغه يوستر خصلت دی سره له دې چي الله هغه خپل خليل غوره کړی اودخلګولپاره يې پېشواټاکلی له ده وروسته هيڅ پيغمبر نشته مګرهغه دده له اولادې څخه دی دبني اسرائيلوګردانبياء دده دزوی يعقوب عليه السلام له اولادې څخه دي اوداسماعيل عليه السلام له اولادې څخه پرته له رسول الله محمد عليه افضل التحية والتسليم نه بل څوک نشته ﴿ وَءَاتَيْنَٰهُ أَجْرَهُۥ فِي ٱلدُّنْيَا ﴾ او ورکړی موو دغه ابراهيم) ته اجر

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

دده په دنیا کي (چي ټول ادیان یې په نېکه ثنایادونه کوي) ﴿ وَإِنَّهُۥ فِى ٱلْءَاخِرَةِ لَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴾ او بېشکه هغه په آخرت کي له صالحانو څخه دی (دغه په ابو الانبیاء (دانبیاوو په پلار) باندي غټه ثناده).

بلاغت:

پدې آیتونو کي چي دبدیع اوبیان کومي ښکلاوي شته لنډیزیې دادی:

۱- استفهام دتوبیخ، تقریع اوانکارلپاره دی لکه داچي: ﴿ أَحَسِبَ ٱلنَّاسُ أَن يُتْرَكُوٓا۟ أَن يَقُولُوٓا۟ ءَامَنَّا ﴾.

۲- دطباق صنعت چي د ﴿ صَدَقُوا۟ .... ٱلْكَٰذِبِينَ ﴾ او ﴿ ءَامَنُوا۟ .... ٱلْمُنَٰفِقِينَ ﴾ او ﴿ يُعَذِّبُ .... وَيَرْحَمُ ﴾ او ﴿ يُبْدِئُ .... يُعِيدُهُۥ ﴾ ترمینځ راغلی دی.

۳- تاکید په ان اولام سره لکه چي فرمایي: ﴿ فَإِنَّ أَجَلَ ٱللَّهِ لَءَاتٍ ﴾ څکه مخاطب منکردی.

۴- دمبالغې صیغه لکه ﴿ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴾.

۵- غیرتام دجناس صنعت چي په ﴿ يَسِيرٌ .... سِيرُوا۟ ﴾ کي شته.

۶- مرسله مجمله تشبیه لکه ﴿ فِتْنَةَ ٱلنَّاسِ كَعَذَابِ ٱللَّهِ ﴾ وجه دشبه حذف شوي نومجمله بلل کېږي.

۷- په تعبیرکي تفنن لکه چي فرمایي: ﴿ أَلْفَ سَنَةٍ إِلَّا خَمْسِينَ عَامًا ﴾ هسي یې ونه ویل چي (الاخمسین سنة) څکه په یوه کلام کي تکرار دبلاغت مخالف دی مگرهغه وخت بیادامخالفت نشته چي دکوم مقصدلپاره لکه تفخیم اویاتهویل راوړل شي لکه ﴿ ٱلْقَارِعَةُ مَا ٱلْقَارِعَةُ ﴾.

۸- داطناب اسلوب پدې آیت کي ﴿ إِنَّمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَوْثَٰنًا وَتَخْلُقُونَ إِفْكًا ۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ ﴾ دغه دبتانودعبادت دبدي اوشناعت لپاره راغلی دی.

۹- دایجاز اسلوب چي ﴿ ٱقْتُلُوهُ .... حَرِّقُوهُ ﴾ بیاوروسته فرمایي: ﴿ فَأَنجَىٰهُ ٱللَّهُ مِنَ ٱلنَّارِ ﴾ یعني دوی اورته وغورځاوو اوبیاالله نجات ورکړدغه ددوی اورته غورځول په آیت شریف دایجاز لپاره حذف شوی دی.

۱۰- لطیفه اوباریکه استعاره چي ﴿ وَلَيَحْمِلُنَّ أَثْقَالَهُمْ ﴾ گناهونه یې له درنوبارونوسره تشبیه کړي څکه هغه هم دانسان اوږې درنوي.

***

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

الله تعالی فرمايي:

﴿ وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦٓ إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلْفَٰحِشَةَ مَا سَبَقَكُم بِهَا مِنْ أَحَدٍ مِّنَ ٱلْعَٰلَمِينَ
(٢٨) أَئِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلرِّجَالَ وَتَقْطَعُونَ ٱلسَّبِيلَ وَتَأْتُونَ فِى نَادِيكُمُ ٱلْمُنكَرَ ۖ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِۦٓ
إِلَّآ أَن قَالُوا۟ ٱئْتِنَا بِعَذَابِ ٱللَّهِ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ (٢٩) قَالَ رَبِّ ٱنصُرْنِى عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْمُفْسِدِينَ
(٣٠) وَلَمَّا جَآءَتْ رُسُلُنَآ إِبْرَٰهِيمَ بِٱلْبُشْرَىٰ قَالُوٓا۟ إِنَّا مُهْلِكُوٓا۟ أَهْلِ هَٰذِهِ ٱلْقَرْيَةِ ۖ إِنَّ أَهْلَهَا كَانُوا۟ ظَٰلِمِينَ
(٣١) قَالَ إِنَّ فِيهَا لُوطًا ۚ قَالُوا۟ نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَن فِيهَا ۖ لَنُنَجِّيَنَّهُۥ وَأَهْلَهُۥٓ إِلَّا ٱمْرَأَتَهُۥ كَانَتْ مِنَ ٱلْغَٰبِرِينَ (٣٢)
وَلَمَّآ أَن جَآءَتْ رُسُلُنَا لُوطًا سِىٓءَ بِهِمْ وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا وَقَالُوا۟ لَا تَخَفْ وَلَا تَحْزَنْ ۖ إِنَّا مُنَجُّوكَ وَأَهْلَكَ إِلَّا
ٱمْرَأَتَكَ كَانَتْ مِنَ ٱلْغَٰبِرِينَ (٣٣) إِنَّا مُنزِلُونَ عَلَىٰٓ أَهْلِ هَٰذِهِ ٱلْقَرْيَةِ رِجْزًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ بِمَا كَانُوا۟
يَفْسُقُونَ (٣٤) وَلَقَد تَّرَكْنَا مِنْهَآ ءَايَةًۢ بَيِّنَةً لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ (٣٥) وَإِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا فَقَالَ
يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ وَٱرْجُوا۟ ٱلْيَوْمَ ٱلْءَاخِرَ وَلَا تَعْثَوْا۟ فِى ٱلْأَرْضِ مُفْسِدِينَ (٣٦) فَكَذَّبُوهُ فَأَخَذَتْهُمُ ٱلرَّجْفَةُ
فَأَصْبَحُوا۟ فِى دَارِهِمْ جَٰثِمِينَ (٣٧) وَعَادًا وَثَمُودَا۟ وَقَد تَّبَيَّنَ لَكُم مِّن مَّسَٰكِنِهِمْ ۖ وَزَيَّنَ
لَهُمُ ٱلشَّيْطَٰنُ أَعْمَٰلَهُمْ فَصَدَّهُمْ عَنِ ٱلسَّبِيلِ وَكَانُوا۟ مُسْتَبْصِرِينَ (٣٨) وَقَٰرُونَ وَفِرْعَوْنَ وَهَٰمَٰنَ ۖ وَلَقَدْ
جَآءَهُم مُّوسَىٰ بِٱلْبَيِّنَٰتِ فَٱسْتَكْبَرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ وَمَا كَانُوا۟ سَٰبِقِينَ (٣٩) فَكُلًّا أَخَذْنَا بِذَنۢبِهِۦ ۖ فَمِنْهُم مَّنْ
أَرْسَلْنَا عَلَيْهِ حَاصِبًا وَمِنْهُم مَّنْ أَخَذَتْهُ ٱلصَّيْحَةُ وَمِنْهُم مَّنْ خَسَفْنَا بِهِ ٱلْأَرْضَ وَمِنْهُم مَّنْ أَغْرَقْنَا ۚ وَمَا
كَانَ ٱللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلَٰكِن كَانُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ (٤٠) مَثَلُ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُوا۟ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَوْلِيَآءَ
كَمَثَلِ ٱلْعَنكَبُوتِ ٱتَّخَذَتْ بَيْتًا ۖ وَإِنَّ أَوْهَنَ ٱلْبُيُوتِ لَبَيْتُ ٱلْعَنكَبُوتِ ۖ لَوْ كَانُوا۟ يَعْلَمُونَ (٤١) إِنَّ
ٱللَّهَ يَعْلَمُ مَا يَدْعُونَ مِن دُونِهِۦ مِن شَىْءٍ ۚ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ (٤٢) وَتِلْكَ ٱلْأَمْثَٰلُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ ۖ
وَمَا يَعْقِلُهَآ إِلَّا ٱلْعَٰلِمُونَ (٤٣) خَلَقَ ٱللَّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ بِٱلْحَقِّ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً لِّلْمُؤْمِنِينَ (٤٤)
ٱتْلُ مَآ أُوحِىَ إِلَيْكَ مِنَ ٱلْكِتَٰبِ وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ ۖ إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ تَنْهَىٰ عَنِ ٱلْفَحْشَآءِ وَٱلْمُنكَرِ ۗ وَلَذِكْرُ ٱللَّهِ
أَكْبَرُ ۗ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ مَا تَصْنَعُونَ (٤٥) ﴾ العنكبوت: ٢٨ ـ ٤٥

مناسبت:

کله چي الله تعالی دنوح اوابراهيم عليهماالسلام کيسې راوړې اوهغه دپنداوعبرت ځايونه يې يکې وښودل ورپسې بيادلته دنوروانبياوو لکه لوط، شعيب ، هوداوصالح عليهم السلام دکيسو يادونه کوي چي آخره خاتمه ددروغجنانوپه لنډه توګه بيانوي اودغه ټول دهغه څه لپاره چي دسورت په

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

پيل کي راغلي تکرار اوتاکيد دی چي ازمويښت دژوندانه سنت اولاره ده اودپېريو په اوږدوکي همدغه ازمويښتونه راغلي اولا پسی راځي به

لغتونه:

(الفاحشة) په بدي اوقبح کي نهايت ته رسېدلي فاحشه بولي هغه کارچي قباحت يې له ورايه څرګندوي فاحش دی (تاديكم) مجلس دناستي ځای هغه چي خلک دمشورې کولو، ګپ شپ اومرکه کولوهلته کښېني (تعلوا) عشی سخت فسادته ويل کېږي (رجزا) عذاب(جائين) په ګونډو (سابقين) تښتيدونکی خلاصېدونکي له عذابه (اوهن) دېرکمزوری اوسست ته وايي.

تفسير:

﴿ وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦٓ ﴾ او(يادکړه ای محمده کيسه د) لوط کله چي خپل قوم ته يې وويل ﴿إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلْفَٰحِشَةَ ﴾ بېشکه تاسي خامخا بدکارته راځی (دلواطت لپاره) ﴿ مَا سَبَقَكُم بِهَا مِنْ أَحَدٍ مِّنَ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ (ندی رومبی شوی پرتاسي (په دغه قبيح کارکي) هيڅوک (له تېرو) عالميانو) يعني په دغه ناولي کار(لواطت کي هيڅوک ترتاسودمخه شوی نه دی اوبيايې دغه بدکارداسي تفسيرکړچي: ﴿ أَئِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلرِّجَالَ ﴾ آياتاسي خامخاراځی سړيوته (دلواطت لپاره)؟ اودغه نهايت ناولی اوپليت کاردی هيچاهم دغه پدې سبب چي له دېره تاولتياطبيعت ځني کرکه کوي نه دی کړی آن تردې چي هيڅ نارينه په بل نارينه دلوط ﷺ دقوم ترمخه په هيڅ قوم کي ندی ختلی (١)﴿وَتَقْطَعُونَ ٱلسَّبِيلَ ﴾ اوشوکوی لاري (دخلګومالونه ترې اخلی) ابن کثيروايې دوی به دخلګوپه لاروکي دربدل هغوی به يې وژل اومالونه به يې ترې اخيستل (٢)﴿وَتَأْتُونَ فِى نَادِيكُمُ ٱلْمُنكَرَ ﴾ اوراځی تاسي پخلومجلسونوکي ناکاره کارونوته (په ښکاره) دغه موبس نه دی چي ناولي کارونه کوی ؟ بلکه په سپين سيدان اودخلګوپه وړاندي يې کوی؟ مجاهدوايې: دوی به دنورو په وړاندي لواطت کاوو ځينوبه ځينو نوروته کتل. ابن عباس ﷺ وايې: چي دوی به چي کله څوک ورباندي تېرېدل هغه تېرېدونکي به يې په دېرو ويشتل، توکي به يې کولې، پرتګونه به يې واګي پرانيستي وو، شپېلکی به يې کاوو اوداسي نورناروا خويونه يې لرل ﴿فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُوا۟ ٱئْتِنَا بِعَذَابِ ٱللَّهِ ﴾ پس نه وو جواب دقوم ددغه لوط چي کله يې دوی ته نصيحت اووعظ وکړ او دوی يې ووېرول مګرداچي: (راوړه موږ ته عذاب دالله (دغه به يې په ملنډواواستهزآء ويل ﴿إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴾ که چېري يې ته له صادقانوربښتيني ويونکو(په هغه تهديدکي چي موږته دي دعذاب راکاوو. امام فخر رازي وايې چي که چاپوښتنه کوله چي الله پاک دلته فرمايې ﴿ إِلَّآ أَن قَالُوا۟ ٱئْتِنَا ﴾ اوبل ځای فرمايې

(١) البحرالمحيط ٧/ ١٤٩

(٢) مختصرابن کثير ٣/ ٣٥

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

﴿ إِلَّآ أَن قَالُوٓا۟ أَخْرِجُوٓا۟ ءَالَ لُوطٍ مِّن قَرْيَتِكُمْ ۖ إِنَّهُمْ أُنَاسٌ يَتَطَهَّرُونَ ﴾ نودا دواړه څرنګه یو ځای کېدای شي ؟ موږ وایو چي لوط ﷺ پخپل ارشاد تېینګ ولاړ وو او په مکرر ډول یې خلکو ته امر او نهي بیانوله نو دوی لومړی ځل ورته وویل: ﴿ ٱئْتِنَا بِعَذَابِ ٱللَّهِ ﴾ اوچي دهغه بلنه او دعوت په پرله پسې توګه دوام وموند اوله خپلي لاري څخه نه واوښت نو بیا هغوی وویل: ﴿ أَخْرِجُوٓا۟ ءَالَ لُوطٍ ﴾ (١) اوچي کله لوط ﷺ له دوی څخه ناامیده (ناهیلی) شونو یې دالله مرسته وغوښتله چي ﴿ قَالَ رَبِّ ٱنصُرْنِى عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴾ (وویل(لوط) ای زماربه له ماسره مدد وکړه (په لېږلو دعذاب) پردغه قوم مفسدانو) یعني دغه هسي ناپوهان فسادکونکي دي چي دسمي لاري هیله هدوځني کېدای نشي تول سرترپایه په سرکشي اوطغیان کي ډوب دي . امام رازي وایې چي: هیڅ نبي هم دخپل قوم هلاکت ترهغونه دی غوښتی ترڅوچي یومخ ایزه یې له هدایت څخه ناهیلی شوی نه وي اوپدې پوهېدلی نه وي چي ددې قوم تر وجود عدم بهتردی نوح ﷺ ویلي ﴿ إِنَّكَ إِن تَذَرْهُمْ يُضِلُّوا۟ عِبَادَكَ ﴾ همدارنګه لوط ﷺ کله چي ولیدل دوی په فسادکي اوس داسي غوپه اولاهودي په راتلونکي هم ورڅخه دسمي لاري هیلي نشي کېدای نو یې ددوی لپاره عذاب وغوښت(٢)﴿ وَلَمَّا جَآءَتْ رُسُلُنَآ إِبْرَٰهِيمَ بِٱلْبُشْرَىٰ ﴾ اوکله چي راغلل رسولان زموږ ابراهیم ته (په زېري دزوی ورکېدلو) ﴿ قَالُوٓا۟ إِنَّا مُهْلِكُوٓا۟ أَهْلِ هَٰذِهِ ٱلْقَرْيَةِ ﴾ نوویل: دغو(پرښتو) بېشکه موږ هلاکونکي یو داهل ددې کلي (ښار دلوط) ﴿ إِنَّ أَهْلَهَا كَانُوا۟ ظَٰلِمِينَ ﴾ (بېشکه چي اهل ددغو ځایونو وو دوی ظالمان) یعني په ظلم اوفسادکي بېخي غرق وو طبیعت اوخته یې په بغی اوفساد اخېږوه مفسرین کرام وایې کله چي لوط ﷺ دعاوکړه دعایې ومنل شوه اوالله ملائک راواستول ابراهیم ﷺ دخپل وراره لوط په هکله ورته وویل: ﴿ قَالَ إِنَّ فِيهَا لُوطًا ﴾ (وویل ابراهیم ملکو ته چي بېشکه په هغه ښارکي لوط (هم) دی) یعني آیا څرنګه هغه ښار هلاکوی چي په هغه کي صالح پیغمبر حضرت لوط هم دی ؟ ﴿ قَالُوا۟ نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَن فِيهَا ﴾ وویل: دغو ملائکو موږ ښه پوه یو په هرهغه چاچي په دغه ښارکي دي(له مؤمنانو څخه صاوي وایې چي دغه یې وروسته له هغي شخړي ورته وویل: کوم چي په سوره هود کي تېره شوي چي: ﴿ يُجَٰدِلُنَا فِى قَوْمِ لُوطٍ ﴾ چي هلته یې ورته وویل چي آیا هغه ښار هلاکوی چي درې سوه تنه پکي مسلمانان اوسي !؟ ملائکو وویل: نه، بیایې ورته وویل چي که یو تن مؤمن پکي اوسي بیایې هلاکوئ؟ هغوی وویل: نه،نو یې ورته وویل ﴿ إِنَّ فِيهَا لُوطًا ﴾ هغوی ځواب ورکړ﴿ نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَن فِيهَا ﴾ (٣) اوبیایې دلوط ﷺ اود مؤمنانو دنجات په هکله زېری ورکړ﴿ لَنُنَجِّيَنَّهُۥ

---

(١) التفسیر الکبیر ٢٥ / ٥٩

(٢) نفس المرجع.

(٣) حاشیة الصاوي ٣ / ٢٣٦

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

وَأَهْلَهُۥٓ إِلَّا ٱمْرَأَتَهُۥ كَانَتْ مِنَ ٱلْغَٰبِرِينَ ﴾ خامخا به موږ نجات ورکړو هرومرو ده ته هم اهل دده ته مګر ښځه دده چې ده له پاتې کېدونکو (په عذاب کې ځکه چې هغې د کفر لپاره چوپړ واهو بیا هغوی د لوط ﷺ کاله ته د ښو ښایسته ځوانانو په بڼه ورغلل ﴿ وَلَمَّآ أَن جَآءَتْ رُسُلُنَا لُوطًا سِيٓءَ بِهِمْ وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا ﴾ او کله چې راغلل رسولان زموږ لوط ته نو خپه شو لوط په (سبب د) دوی او تنګ شو په دی له جهته د زړه (چې دوی خورا ښایسته مېلمانه دي منکران به یې راځخه بوزي نو هغوی ورته وویل چې دوی دالله استازي دي ﴿ وَقَالُوا۟ لَا تَخَفْ وَلَا تَحْزَنْ ﴾ او وویل: دغو (ملائکو لوط ته) مه وېرېږه او مه خفه کېږه ا (زموږ په سبب دغه مجرمان موږ ته نشي رارسېدلای ﴿ إِنَّا مُنَجُّوكَ وَأَهْلَكَ إِلَّا ٱمْرَأَتَكَ كَانَتْ مِنَ ٱلْغَٰبِرِينَ ﴾ بېشکه موږ نجات درکونکي یو تاته او ستا اهل ته (له عذابه) مګر ښځه ستاده هغه له پاتې کېدونکي (په عذاب کې) ﴿ إِنَّا مُنزِلُونَ عَلَىٰٓ أَهْلِ هَٰذِهِ ٱلْقَرْيَةِ رِجْزًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ بِمَا كَانُوا۟ يَفْسُقُونَ ﴾

بېشکه موږ نازلونکي یو پر اهل د دې کلي (ښار د سدوم) باندې عذاب له آسمانه په سبب د دې چې دوی وو فسق او بدکاري به یې کوله (پرله پسې همېشه) ابن کثیر وایې چې دغه عذاب داسې وو چې جبریل ﷺ یې کلي د ځمکې را وایستل آسمان ته یې لوړ وخېژول او بیا یې سرچپه راوغورځول او د ډبرینو ګاټو باران یې ورباندې و اوراوو او پرځای یې الله یوه بحیره ناولې او بدبویه پرېښوده او د قیامت تر ورځې پورې یې د خلګو د عبرت لپاره سبق کړل دوی به په آخرت کې هم تر ګرد و خلګو په سخت عذاب کې اخته وي (١) ﴿ وَلَقَد تَّرَكْنَا مِنْهَآ ءَايَةًۢ بَيِّنَةً ﴾ او خامخا په تحقیق موږ پرېښوده له هغه (کلي ښار) نه یوه نښه ښکاره (چې د هغوی کنډوالې دي) ﴿ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴾ د پاره د هغه قوم چې عقل لري) او د عقل په چلولو عبرت ترې اخلي بیا ورپسې الله تعالی د حضرت شعیب ﷺ کیسه راوړي وایې: ﴿ وَإِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا ﴾ او لېږلی موږ (اهل د) مدین ته ورور د دوی شعیب ﴿ فَقَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ وَٱرْجُوا۟ ٱلْيَوْمَ ٱلْءَاخِرَ ﴾ (پس وویل دغه (شعیب) ای زما قومه یوازې دالله عبادت کوئ او امید لرئ (د ثواب) وروستۍ ورځې) یعنې خپل قوم ته یې د نصیحت په توګه داسې یادونه وکړه چې دالله توحید ومنئ او د آخرت د ورځې له عذابه ووېرېږئ! ﴿ وَلَا تَعْثَوْا۟ فِى ٱلْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴾ او مه ګرزئ تاسې په ځمکه کې پداسې حال کې چې فساد کونکي یاست (ډول ډول د ښمنۍ او بغاوتونه کوی) ﴿ فَكَذَّبُوهُ فَأَخَذَتْهُمُ ٱلرَّجْفَةُ ﴾ پس دوی د روغجن وبالو دغه شعیب پس ونیول دوی لره سختې زلزلې (لویې) حیرانونکې دهشت ناکې چیغې چې زړونه یې له وېرې ترستونې را ایستل ﴿ فَأَصْبَحُوا۟ فِى دَارِهِمْ جَٰثِمِينَ ﴾ پس وګرزېدل دوی په کورونو خپلو کې (مړه) پرمخې پراته نسکور پر زنګنونو.

---

(١) مختصر ابن کثیر ٣ / ٣٦

﴿ وَعَادًا وَثَمُودَاْ وَقَد تَّبَيَّنَ لَكُم مِّن مَّسَٰكِنِهِمْ ﴾ اوهلاک کړی وو موږ قوم دعاد اوثمود اوپه تحقیق ښکاره شوی دی تاسي ته (ای دمکې خلکو) (هلاکت ددوی) له کورونو ددوی (چي وران ویجاړ پاتي دي (نوآیاتاسي پند نه اخلی؟) ﴿ وَزَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيْطَٰنُ أَعْمَٰلَهُمْ ﴾ اوښایسته کړي وو دوی ته شیطان (بد) عملونه ددوی (له کفر اوګناهونوڅخه) ﴿ فَصَدَّهُمْ عَنِ ٱلسَّبِيلِ وَكَانُواْ مُسْتَبْصِرِينَ ﴾ پس اړولي وو دوی دغه (شیطان) له لاري دحق او وودوی بېنایان (هوښیاران) یعني دوی یې دحق له لاري څخه وګرزول حال داچي دوی پوهېدل اوداستدلال اونظرد پوهي خاوندان وو خودعناداوتکبر له مخي یې دشیطان ملګرتیاوکړه ﴿ وَقَٰرُونَ وَفِرْعَوْنَ وَهَٰمَٰنَ ﴾ (او(هلاک کړي موو) قارون اوفرعون (اووزیریې) هامان یعني او موږ نور جابران او ظالمان هم هلاک کړي وو لکه قارون چي دزیات مال او بډایې خاوند وو فرعون چي دسلطان اوواکمني څښتن وو اوهغه وزیریې هامان چي ده ته یې دظلم په لاروکي مرستي ورکولې ﴿ وَلَقَدْ جَآءَهُم مُّوسَىٰ بِٱلْبَيِّنَٰتِ ﴾ په تحقیق راغلی وو دوی ته موسی په ښکاره معجزاتو سره ﴿ فَٱسْتَكْبَرُواْ فِى ٱلْأَرْضِ وَمَا كَانُواْ سَٰبِقِينَ ﴾ پس تکبر وکړدوی په ځمکه د(مصر) کي اونه وو دوی رومبي کېدونکي (چي زموږ له عذابه خلاص شي. طبري وایې معناداچي دوی نشوکولای له موږ نه وتښتي بلکه زموږ ورباندي قدرت وو(١) ﴿ فَكُلًّا أَخَذْنَا بِذَنۢبِهِۦ ﴾ پس هریوله دغو مذکورینو موږ ونیول (په سبب) دګناه خپلي یې (اوسزا موورکړه ابن کثیروایې چي عذاب یې له ګناه سره مناسب وو(٢) ﴿ فَمِنْهُم مَّنْ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِ حَاصِبًا ﴾ پس ځیني ددوی هغه څوک دی چي ولېږل موږ پرې سخت (عذاب (کاڼي اورونکی) باد(لکه دلوط قوم) ﴿ وَمِنْهُم مَّنْ أَخَذَتْهُ ٱلصَّيْحَةُ ﴾ او ځیني له دوی هغه څوک دي چي دوی چیغي ونیول (سره له زلزلې لکه ثمودیان چي زړونه یې وچاودل) ﴿ وَمِنْهُم مَّنْ خَسَفْنَا بِهِ ٱلْأَرْضَ ﴾ اوځیني له دوی هغه څوک دي چي ښکته ننې ایستل موږدوی پرځمکه (لکه قارون اوملګري یې ﴿ وَمِنْهُم مَّنْ أَغْرَقْنَا ﴾ اوځیني له دوی هغه څوک دي چي موږغرق کړل لکه قوم دنوح، فرعون اولښکریې ﴿ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴾ (اونه ووالله چي ظلم یې کړی وي پرهغوولکن وودوی چي پرخپلوځانونو به یې ظلم کاوو) یعني الله دوی بېګناه نه دي آزارکړي چي ورباندي یې ظلم کړی وي لیکن دوی پرخپلوځانونوظلم کړی وو نودعذاب وړ اومستحق وګرزېدل بیاالله دمشرکانومثال داسي بیانوي هغوی چي له الله پرته یې بل څوک بتان دځان فریادرس اوچاره جوړونکي بللي لکه دجولاګي خونه چي نه دژمي یخني ترې دفع کولای شي اونه ددوبي تودوخه اونه باداوباران ځني ګرزوي قرطبي وایې دادهغه چامثال دی چي له الله تعالی پرته

(١) الطبري ٢٠/ ٩٦
(٢) مختصرابن کثیر ٣/ ٣٧

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

څوک بل خدای نیسي اوهغه ورته نه ګټه رسوي اونه ورڅخه تاوان دفع کوي لکه دجولاګي کوټه چي نه یخ دفع کوي اونه ګرمي ﴿ مَثَلُ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُوا۟ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَوْلِيَآءَ كَمَثَلِ ٱلْعَنكَبُوتِ ٱتَّخَذَتْ بَيْتًا ۖ وَإِنَّ أَوْهَنَ ٱلْبُيُوتِ لَبَيْتُ ٱلْعَنكَبُوتِ ﴾ مثل حال داهغو کسانو چي نیولي یې دي بې له الله دوستان (معبودان) لکه مثل حال دعنکبوت غني جولاګي داسي دی چي جوړ کړي یو کور (له تارونو خپلو څخه) اوبېشکه چي دېرضعیف کمزوری دټولو کورونو خامخا کورد غني دی (چي خوراسپک بې اعتباره دی) ﴿ لَوْ كَانُوا۟ يَعْلَمُونَ ﴾ که چېري وای دوی چي پوهېدلای (نو دغیرالله عبادت به یې نه کاوو) ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ مَا يَدْعُونَ مِن دُونِهِۦ مِن شَىْءٍ ﴾ بېشکه چي الله ته معلوم دی هرهغه چي بولي یې (عبادت یې کوي) دوی غیرله الله له هرڅېزه چي وي (نوالله به ددوی دکفرسزاورکړي) ﴿ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴾ اوهم دی دېرغالب قوي (پخپله پاچهي کي) دېرحکمت والا (په خپل صنعت کي چي هرکارپه تدبیرسره کوي ﴿ وَتِلْكَ ٱلْأَمْثَٰلُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ ﴾ اودغه (مذکوره) مثالونه (په قرآنکریم کي) بیانوومو ږلپاره دخلکو (چي ذهنونوته نژدې شي) ﴿ وَمَا يَعْقِلُهَآ إِلَّا ٱلْعَٰلِمُونَ ﴾ اونه پوهېږي پردغو (مثالونو) مګرپوهیالي (چي راسخ دي په علم کي اود الله په مراد پوهېږي) ﴿ خَلَقَ ٱللَّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ بِٱلْحَقِّ ﴾ پیداکړي دي الله آسمانونه اوځمکه پرحق سره (نه چتي اوبېکاره) ﴿ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً لِّلْمُؤْمِنِينَ ﴾ بېشکه په دغه (تخلیق په بدیع شکل اومحکم والي کي) خامخالوی دلیل (دوجود اووحدانیت دالله دی) لپاره دمؤمنانو ﴿ ٱتْلُ مَآ أُوحِىَ إِلَيْكَ مِنَ ٱلْكِتَٰبِ ﴾ ولوله (ای محمده) هغه چي وحی کړل شوي ده تاته له کتاب (دغه قرآن مجیدنه اودهغه په تلاوت کولو اوګردان سره الله ته نژدې شه ځکه چي محاسن الاداب اومکارم الاخلاق پکې دي) ﴿ وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ ﴾ اوقائموه (سم اداکوه سره له ټولو حقوقو، شرائطو اوآدابو) لمونځ (چي ددین ستني ده او ورباندي دوام کوه ﴿ إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ تَنْهَىٰ عَنِ ٱلْفَحْشَآءِ وَٱلْمُنكَرِ ﴾ (بېشکه لمونځ منع کونکی دلمونځ کونکي) له بېحیایي اوله بده کاره څخه) یعني هغه لمونځ چي ګرد اداب شروط اوحقوق سره له خشوع او نورو احکاموپکې وي او لمونځ کونکی یې اداکړي دالله ﷻ عظمت اولویې په یاد ولري هغه څه چي په لمانځه کي لولي په هغوکي سوچ کوي نودغه لمونځ بیالمونځ کونکی له بدوکارونو راګرزوي ﴿ وَلَذِكْرُ ٱللَّهِ أَكْبَرُ ﴾ (اوخامخا یادول دالله دېرلوی دی) یعني دغه لمونځ ددې خبري په یادونکی دی چي الله له ټولو هغوڅېزونوچي په دنیاکي دي لوی دی اودغه دالله عظمت و جلال به په لمانځه کي په تجارت اوسوداګري کي دژوندپه نورو چارو کي په یادلري اوهیڅ کله به څني غافل کېږي نه ﴿ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ مَا تَصْنَعُونَ ﴾ اوالله ته معلوم دی هرهغه (عمل) چي تاسي یې کوی (نوجزابه درکړي په ښه جزاسره) ابوالعالیة وایې: په لمانځه کي درې خویونه دي اخلاص، خشیت (ویره) اودالله یادونه اخلاص ورته دښوکارونو ماربینه کوي اوخشیت یې له

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

بدوکارونوڅخه راګرزوي اودالله ذکرقرآنکریم دی چي امر اونهي پکې وي اوهرلمونځ چي دغه درې ګوني څېزونه پکي نه وي نوهغه لمونځ نه دی(۱).

بلاغت:

پدې آیتونوکي چي دبدیع اوبیان کومي ښکلاوي شته لنډیزیې دادی:

۱ – تاکید په څومؤکداتوباندي اوهمدارنګه اطناب دفعل په تکرار سره چي ددوی دفعل شناعت اوبدي وښیي لکه: ﴿ إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلْفَٰحِشَةَ .....أَئِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلرِّجَالَ ﴾ دآیت ترپایه.

۲ – استهزآء اوسخریه لکه داچي ﴿ ٱئْتِنَا بِعَذَابِ ٱللَّهِ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴾ ځواب دشرط محذوف دی چي پخوانی کلام ورباندي دلالت کوي یعني که چېري ته پدې وعده دعذاب راتلوکي رښتونی یې نویې راوړه.

۳ – تنکیردهیبت اوهول لپاره لکه: ﴿ رِجْزًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ ﴾ یعني سترعذاب هیبتناک.

۴ – دمفعول رومبی راوړل چي په هکله یې پاملرنه اواهتمام وشي لکه: ﴿ فَكُلًّا أَخَذْنَا بِذَنۢبِهِۦ ﴾ بیا وروسته له اجماله دتفصیل راوړل لکه ﴿ فَمِنْهُم مَّنْ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِ حَاصِبًا وَمِنْهُم مَّنْ أَخَذَتْهُ ٱلصَّيْحَةُ ﴾ ترپایه پوري (چي دادوه ډوله صنائع دي).

۵ – تمثیلي تشبیه لکه ﴿ مَثَلُ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُوا۟ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَوْلِيَآءَ كَمَثَلِ ٱلْعَنكَبُوتِ ٱتَّخَذَتْ بَيْتًا ۖ وَإِنَّ أَوْهَنَ ٱلْبُيُوتِ لَبَيْتُ ٱلْعَنكَبُوتِ ﴾ الله تعالی دلته کافران په خپل عبادت کولو بتانوته له جولاګي سره مشابه کړل چي څرنګه ناکاره اوکمزوري خونه یې جوړه کړي چي له نري شماله سره اوپه پوکي خوځېږي اودغه ته تمثیلي ځکه وایوچي دمشابهت وجه له متعددوڅخه راکښل شوي ده.

۶ – دفواصلو موافقت په وروستیوتوروکي چي په دې کي خوندور آهنګ اوآزانګه وي لکه ﴿ قَالَ رَبِّ ٱنصُرْنِى عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴾، ﴿ إِنَّ أَهْلَهَا كَانُوا۟ ظَٰلِمِينَ ﴾، ﴿ وَإِنَّ أَوْهَنَ ٱلْبُيُوتِ لَبَيْتُ ٱلْعَنكَبُوتِ ﴾ او ﴿ بِمَا كَانُوا۟ يَفْسُقُونَ ﴾ ..... ﴿ ءَايَةً بَيِّنَةً لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴾ ترآخره پوري او همدغه قرآني ځانګړتیاده.

تنبیه:

په آیت شریف کي داافاده راغلي چي لمونځ سړی له بدو کارونو راګرزوي اوپه احادیثوکي راغلي چي رسول الله ﷺ ته یوچاوویل: چي پلانی دشپې لمونځ کوي خوچي سهار پاڅي بیاغلاکوي نورسول الله ﷺ ورته وفرمایل: ژربه یې دغه لمونځ له غلاڅخه راوګرزوي (بزار یې روایت کړیدی) درسول الله ﷺ مقصدداوو چي که چېري لمونځ په بشپړه توګه اداء شي نولمونځ کونکی به له بدوکارونو څخه را وګرزوي لمونځ سړی الله ته نژدې کوي لیري کوي یې نه.

---

(۱) مختصرابن کثیر ۳ / ۲۸

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

د الکهف سورت تفسير له ۵۴-آيته بيا تر ۸۲ پوري ..... ۱۰۴۵ مخ
د الکهف سورت تفسير له ۸۳-آيته بيا تر ۱۱۰ پوري ..... ۱۰۵۵ مخ
د مريم سورت ..... ۱۰۶۲ مخ
د مريم سورت تفسير له ۱-آيته بيا تر ۴۰ پوري ..... ۱۰۶۴ مخ
د مريم سورت تفسير له ۴۱-آيته بيا تر ۶۵ پوري ..... ۱۰۷۲ مخ
د مريم سورت تفسير له ۶۶-آيته بيا تر ۹۸ پوري ..... ۱۰۸۰ مخ
د طه سورت ..... ۱۰۸۶ مخ
د طه سورت تفسير له ۱-آيته بيا تر ۴۰ پوري ..... ۱۰۸۸ مخ
د طه سورت تفسير له ۴۱-آيته بيا تر ۷۶ پوري ..... ۱۰۹۶ مخ
د طه سورت تفسير له ۷۷-آيته بيا تر ۹۸ پوري ..... ۱۱۰۴ مخ
د طه سورت تفسير له ۹۹-آيته بيا تر ۱۳۵ پوري ..... ۱۱۱۰ مخ
د الأنبياء سورت ..... ۱۱۱۹ مخ
د الأنبياء سورت تفسير له ۱-آيته بيا تر ۲۴ پوري ..... ۱۱۲۰ مخ
د الأنبياء سورت تفسير له ۲۵-آيته بيا تر ۵۰ پوري ..... ۱۱۲۷ مخ
د الأنبياء سورت تفسير له ۵۱-آيته بيا تر ۸۲ پوري ..... ۱۱۳۵ مخ
د الأنبياء سورت تفسير له ۸۳-آيته بيا تر ۱۱۲ پوري ..... ۱۱۴۳ مخ
د الحج سورت ..... ۱۱۵۲ مخ
د الحج سورت تفسير له ۱-آيته بيا تر ۱۸ پوري ..... ۱۱۵۴ مخ
د الحج سورت تفسير له ۱۹-آيته بيا تر ۳۷ پوري ..... ۱۱۶۲ مخ
د الحج سورت تفسير له ۳۸-آيته بيا تر ۶۲ پوري ..... ۱۱۶۹ مخ
د الحج سورت تفسير له ۶۳-آيته بيا تر ۷۸ پوري ..... ۱۱۷۸ مخ
د المؤمنون سورت ..... ۱۱۸۳ مخ
د المؤمنون سورت تفسير له ۱-آيته بيا تر ۲۲ پوري ..... ۱۱۸۴ مخ
د المؤمنون سورت تفسير له ۲۳-آيته بيا تر ۵۲ پوري ..... ۱۱۹۰ مخ
د المؤمنون سورت تفسير له ۵۳-آيته بيا تر ۷۴ پوري ..... ۱۱۹۶ مخ
د المؤمنون سورت تفسير له ۷۵-آيته بيا تر ۱۱۸ پوري ..... ۱۲۰۲ مخ
د النور سورت ..... ۱۲۱۱ مخ
د النور سورت تفسير له ۱-آيته بيا تر ۲۰ پوري ..... ۱۲۱۲ مخ
د النور سورت تفسير له ۲۱-آيته بيا تر ۳۴ پوري ..... ۱۲۲۱ مخ
د النور سورت تفسير له ۳۵-آيته بيا تر ۵۲ پوري ..... ۱۲۳۲ مخ
د النور سورت تفسير له ۵۳-آيته بيا تر ۶۴ پوري ..... ۱۲۴۲ مخ

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner

دالفرقان سورت ۱۲۵۰مخ

د الفرقان سورت تفسير له۱-آيته بيا تر۲۰ پوري ۱۲۵۲مخ

د الفرقان سورت تفسير له۲۱-آيته بيا تر۴۱ پوري ۱۲۵۸مخ

د الفرقان سورت تفسير له۴۲-آيته بيا تر۶۰ پوري ۱۲۶۵مخ

د الفرقان سورت تفسير له۶۱-آيته بيا تر ۷۷پوري ۱۲۷۲مخ

دالشعراء سورت ۱۲۷۶مخ

د الشعراء سورت تفسير له۱-آيته بيا تر۵۱ پوري ۱۲۷۸مخ

د الشعراء سورت تفسير له۵۲-آيته بيا تر۱۰۴پوري ۱۲۸۸مخ

د الشعراء سورت تفسير له۱۰۵-آيته بيا تر۱۹۱پوري ۱۲۹۶مخ

د الشعراء سورت تفسير له۱۹۲-آيته بيا تر ۲۲۷پوري ۱۳۰۶مخ

دالنمل سورت ۱۳۱۳مخ

د النمل سورت تفسير له۱-آيته بيا تر۱۹ پوري ۱۳۱۴مخ

د النمل سورت تفسير له۲۰-آيته بيا تر۴۴ پوري ۱۳۲۱مخ

د النمل سورت تفسير له ۴۵-آيته بياتر۶۶ پوري ۱۳۲۹مخ

د النمل سورت تفسير له۶۷-آيته بيا تر۹۳پوري ۱۳۳۶مخ

دالقصص سورت ۱۳۴۳مخ

د القصص سورت تفسير له۱-آيته بيا تر۱۹پوري ۱۳۴۴مخ

د القصص سورت تفسير له۲۰-آيته بيا تر۴۲پوري ۱۳۵۲مخ

د القصص سورت تفسير له ۴۳-آيته بيا تر۷۰پوري ۱۳۶۰مخ

د القصص سورت تفسير له۷۰-آيته بيا تر۸۸پوري ۱۳۷۱مخ

دالعنکبوت سورت ۱۳۷۸مخ

د العنکبوت سورت تفسير له۱-آيته بيا تر۲۷ پوري ۱۳۸۰مخ

د العنکبوت سورت تفسير له ۲۸-آيته بيا تر۴۵پوري ۱۳۹۰مخ

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

صفوة التفاسير 4 ټوک

د نصیراحمد احمدي

لخوا سکین او pdf سو

تاریخ. ۲۶-۱۱-۱۳۹۸

واتساپ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

د دعا محتاج احمدي!

Scanned by CamScanner

Scanned with CamScanner